# نړیوالي ټولنې

لیکوال: احسان الله آرینزی


۱۴۰۰ هـ.ش

سي ډي سره

نړیوالي ټولنې

لیکوال: احسان الله آرینزی


**Ehsanullah Aryanzai**

Shaikh Zayed University
Khost, Law Faculty

# International Organizations


Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

افغانیک
Afghanic
2021

ISBN 978-9936-633-78-0

# نړیوالې ټولنې

## احسان الله آریانزی

Shaikh Zayed University, Khost, Law Faculty

حقوق پوهنځی

Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

Pashto PDF
2021

افغانیک
Afghanic

# International Organizations

Ehsanullah Aryanzai

Download:
www.kitabona.com
www.ecampus-afghanistan.org

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# نړیوالې ټولنې

## احسان الله آرینزی

لومړی چاپ

دغه کتاب په پي ډي ایف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:

د کتاب نوم نړیوالې ټولنې
لیکوال احسان الله آرینزی
خپرندوی شیخ زاید پوهنتون، خوست، حقوق پوهنځی
وېب پاڼه www.szu.edu.af
د چاپ کال ۱۴۰۰، لومړی چاپ
چاپ شمېر ۱۰۰۰
مسلسل نمبر ۳۴۱
ډاونلوډ www.ecampus-afghanistan.org
www.kitabona.org

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
موبایل ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴
ایمېل textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۰-۷۸-۰

# د لوړو زده‌کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده‌کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه لیکلي او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې ادا کړی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم چې په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته ګرانو محصلینو ته په واک کې ورکړل شي او د زده‌کړو د کیفیت په لوړولو او د پوهې د انتقال پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده‌کړو وزارت خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي کچې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو څانګو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه کوم چې د دې کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړې ده.

هیله‌من یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي چې په نژدې راتلونکي کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزي

د لوړو زده‌کړو وزارت علمي معین

کابل، ۱۴۰۰ ل

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او گرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه گڼل کېږي. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه گټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننگرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون او د کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳۴۲ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالېزم او کرهنې پوهنځیو لپاره چاپ کړي دي. ۹٦ طبي کتابونه د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۲۱۰ طبي او غیر طبي کتابونه د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan)، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شریف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولگری، ۴ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۲ کتابونه د سلواک اېډ، ۸ کتابونه د کنراد ادناور شټیفټونگ بنسټ (KAS) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړیا توگه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.kitabona.com او www.afghanistan-ecampus.org ویب پاڼې څخه ډانلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ - ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي، د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انگریزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دغو امکاناتو پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی نه شي پیدا کولای."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره اړینه ده چې د افغانستان پوهنتونونو لپاره هر کال لږ تر لږه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**لـه ټولـو درنـو اسـتادانو څخـه هیلـه کـوو، چـې پـه خپلـو مسـلکي برخـو کـې نـوي کتابونـه ولیکـي، ویـې ژبـاړي او یـا هـم خپـل پخـواني لیکـل شـوي کتابونـه، لکچرنوټونـه او چپټرونـه ایـډېټ او د چـاپ لپـاره تیـار کـړي، زمـوږ پـه واک کـې یـې راکـړي چـې پـه ښـه کیفیـت چـاپ او وروسـته یـې د اړونـد پوهنځیـو، اسـتادانو او محصـلینو تـه پـه واک کـې ورکـړو. همدارنګـه د یـادو ټکـو پـه اړه خپـل وړاندیزونـه او نظریات له موږ سره شریک کړي، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

د لیکوالانـو او خپروونکـو لـه خـوا پـوره زیـار ایسـتل شـوی دی، چـې د کتـابونو محتویـات د نړیوالـو علمـي معیـارونو پـر اسـاس برابـر شي، خـو بیـا هـم کېـدای شي د کتـاب پـه محتـوا کـې ځینـې تېروتنـې او سـتونزې ولیـدل شي، نـو لـه درنـو لوسـتونکو څخـه هیلـه لـرو چـې خپـل نظریـات او نیـوکې لیکوتـل او یـا موږ ته په لیکلې بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۲۱۰ عنوانه طبي او غیر طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د جـــي آی زیـــټ (GIZ) لـــه دفـــتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخـــه، چـــې زمـا لپـاره یـې لـه ۲۰۱۰ نـه تـر ۲۰۱٦ زېږدیـز کالـه پـورې پـه افغانسـتان کـې د کـار امکانـات برابـر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لـوړو زده‌کـړو لـه علمـي معـین پوهنمـل دیپلـوم انجنیـر عبـدالتواب بـالاکرزي، د مـالي او اداري معـین ښـاغلې نـور احمـد درویـش، د لـوړو زده‌کـړو وزارت سـلاکار ډاکـتر ګـل رحـیم صـافي، د پوهنتونونـو رییسـانو، د پوهنځیـو رییسـانو او اسـتادانو څخـه مننـه کـوم چـې د کتـابونو د چـاپ لـړۍ یـې هڅـولې او مرسـته یـې ورسره کـړې ده. د دغـه کتـاب لـه لیکـوال څخـه ډېـر مننـدوی یـم او سـتاینه یـې کـوم، چـې خپـل د کلونـو - کلونـو زیـار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګـه د دفـتر لـه همکـارانو هـر یـو؛ ښـاغلي حکمـت اللـه عزیـز او ښـاغلي فهـیم حبیبـي څخـه هـم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار
کابل، مې ۲۰۲۱
د دفتر ټیلیفون: ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰٦۳۲۰۸۴۴
ایمیل: textbooks@afghanic.org

# لړ( مندرجات)


**سریزه**

- د پیل خبری
- لومړی تقریظ – پوهاند محمد بشیر دودیال

**د نړیوالو ټولنو پیل**

- الف: نړېوالې خصوصي ټولنې
- ب: نړېوالې عمومي ټولنې
- ج: نړېوالې ټولنې څه شی دي؟

**هغه نړیوالی ټولنی چی عام واکونه لری**

**الف -- د ولسونو ټولنه**

- د جوړیدو اړتیا
- د ولسونو ټولنی د جوړیدو له پاره طرحی
- د ولسونو ټولنې جوړیدل
- د ولسونو ټولنې اهداف
- د ولسونو ټولنې غړیتوب
- د ولسونو ټولنه او افغانستان
- له ټولنې څخه وتل،
- له ټولنی څخه د غړو ایستل،
- د ولسونو ټولنې جوړښت (تشکیل) او واکونه
- اصلي اداره کوونکي ارګانونه
- عمومي ټولنه
- اجراییه شوری
- دارالانشا
- بیلی څانګې

- د ولسونو ټولنی تخصصی بنسټونه
- د ولسونو ټولنې نیمګړتیاوې
- د ولسونو ټولنې بریالیتوبونه

**ب -- د ملګرو ملتونو ټولنه**

- د جوړیدو لومړنې هڅې
- د ملګرو ملتونو کړنلاره
- د ملګرو ملتونو غړیتوب
- اصلي غړي
- نوي غړي
- ځانګړي غړیتوبونه
- د کوچنیو هېوادونو غړیتوب
- له غړیتوب څخه وتل
- ایستل او تعلیق
- د ملګرو ملتونو ژبې
- د ملګرو ملتونو ودانۍ
- د ملګرو ملتونو بودجه
- د ملګرو ملتونو جوړښت

**۱ – د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه**

- د عمومي ټولنې د کار څرنګوالی
- د عمومي ټولنې دندې او واکونه
- د عمومي ټولنې غونډې
- د عمومي ټولنې انحصاری مسوولیتونه (دندی)
- د عمومي ټولنې غیرانحصاری مسوولیتونه (دندی)

**۲ – د ملګرو ملتونو د امنیت شوری**

- رایه ورکول
- د (ویتو) حق

- د امنیت شوری دندی او واکونه
- د امنیت شوری ژبی
- د امنیت شوری کمیسیونونه
- د امنیت شوری رییس

**۳ –اقتصادی او ټولنیزه شوری**

- جوړښت
- غونډې
- اړوند بنسټونه
- له نادولتی ټولنو سره د اقتصادی او ټولنیزه شوری اړیکی

**۴– د قیمومیت شوری**

- د قیمومیت شوری جوړښت
- د قیمومیت شوری واکونه
- د قیمومیت شوری دندی

**۵ – دعدالت نړېواله محکمه**

- قانونی واک (صلاحیت)
- جوړښت اوغړیتوب
- د دعوی موضوع
- د دولتونو رضایت
- د محکمی د واک منل

**٦ – دارالانشا**

- دملگروملتونوسرمنشی
- د سرمنشی ټاکنه
- د سرمنشی دندی
- په افغانستان کې د UN ماموریت
- د ملگرو ملتونو ارگانونه

## ۱- د عمومی ټولنی ارګانونه

### الف -- ترلی ارګانونه

- د بېوسلې کولو کمیسیون UNDC
- د بشري حقونو شوری UNHRC
- د حقوقو نړیوال کمیسیون UNILC
- د ملګرو ملتونو د نظام د ګډې پلټنې دفترUNJIU

### ب -- پروګرامونه او صندوقونه

- د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرامUNDP
- د ملګرو ملتونو د پانګې د پراختیا صندوقUNCDF
- د ملګرو ملتونو داوطلبانUNV
- د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې پروګرامUNEP
- د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوقUNFPA
- د ملګرو ملتونو د انساني اسکان پروګرامUN-HABITAT
- د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو صدوقUNICEF
- د خوړو نړیوال پروګرامWFP

### ج -- زده کړې او څېړنې:

- د بېوسلې کولو د څېړنو له پاره د ملګرو ملتونو انستیتوتUNIDIR
- د زده کړو او څېړنو له پاره د ملګرو ملتونو انستیتوتUNITAR
- د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالجUNSSC
- د ملګرو ملتونو پوهنتونUNU

### نور بنسټونه

- د سوداګرئ نړیوال مرکزITC
- د سوداګرئ او پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو کنفرانسUNCTAD
- د کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کمیساريUNHCR

- د ملګرو ملتونو د پروژې خدماتو دفترUNOPS
- په نژدې ختیځ کې د فلسطیني کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کار غونډې دفتر UNRWA،
- د جندرمساواتو او د ښځو پیاوړتیا له پاره د مم دفترUN-WOMEN
- د اړونده بنسټونه/دفترونه چې له امنیت شوری په ګډه اداره کیږی.
- د ملګرو ملتونو د اتومي چاودنو د هراړخیزه مخنیوی تړون کمیسیونCTBTO،
- د اتومي انرژي نړیواله ټولنه IAEA
- نړیواله جنایي محکمه ICC
- د مهاجرت نړیواله ادارهIOM
- د سمندرونو د تل نړیواله ادارهISA
- د سمندرونو د قانون له پاره نړیواله مجکمه ITLOS
- د کیمیاوي وسلو د بندولو کمېټه OPCW
- د سوداګرۍ نړیواله ټولنهWTO

**۲- د امنیت شوری ارګانونه**

- اوږدمهاله کمیټی
- د ترهګرۍ ضد کمیټه
- د اتومی وسلو د مخنیوی کمیټه
- د پوځیانو کمیټه
- د بندیزونو کمیټه
- اوږدمهاله او لنډمهاله کمیټی
- سوله ساتی عملیات او سیاسی ماموریت
- نړیوالی محکمی
- یوګوسلاویا
- رواندا
- د سولی جوړونی کمیسیون
- لنډمهاله کمیسیونونه
- د اقتصادی او ټولنیزی شوری ارګانونه
- فعال کمیسیونونه
- د جرایمو د مخنیوی او د جنایی عدالت کمیسیونCCPCJ

- د نشه یی توکو کمیسیونCND
- د نفوس او پراختیا کمیسیون CPD
- د پرمختیا له پاره د علومو او تکنالوژئ کمیسیون CSTD
- د ټولنیز پرمختګ کمیسیون CSocD
- د ملګرو ملتونود احصاییی کمیسیون UNSC
- د ښځو د وضعیت کمیسیون CSW
- د ځنګلونو له پاره د ملګرو ملتونو دفترUNFF

**۳. د اقتصادی او ټولنیزه شوری سیمه ییزه کمیسیونونه**

- اقتصادی کمیسیونونه
- دافریقا اقتصادی کمیسیون ECA
- داروپا اقتصادی کمیسیون ECE
- دلاتینی امریکا او کارابین اقتصادی کمیسیون ECLAC
- د اسیا–پاسفیک اقتصادی کمیسیون ESCAP
- د لویدیځی اسیا اقتصادی کمیسیون ESCWA
- اساسی کمیسیونونه
- فرعی کمیسیونونه

**نوری څانګی**

- د تګلارو د پرمختیاوو کمیټهCDP
- د عامه اداری د متخصصینو کمیته CEPA
- د انجوګانو کمیټه CNGO
- د بومی مسایلو کمیټه UNPFII
- د HIV/AIDS په هکله د ملګرو ملتونو ګډ پروګرامUNAIDS
- د جغرافیایی نومونو له پاره د ملګرو ملتونو د متخصصینو ډلهUNGEGN
- د نړیړالو جغرافیایی اطلاعاتو د مدیریت په برخه کی د ملګرو ملتونو د متخصصینو دلهUNGGIM
- زده کړه او روزنه
- د بین المنطقوی جرایمو او عدالت له پاره د ملګرو ملتونو څیړنیز انستتیوتUNICRI
- د ټولنیزی پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو څیړنیز انستتیوتUNRISD

**تخصصی بنسټونه**

لومړی- د تخصصی بنسټونو پیژندنه او ځانګړتیاوی

دویم- د تخصصی بنسټونو غړیتوب

درییم- د تخصصی بنسټونو ارګانونه

- عمومی ټولنه
- جوړښت او بحثونه
- د تخصصی بنسټونو غونډی
- د رایی ورکولو څرنګوالی
- اجراییه ارګان
- دارالانشا

څلورم: د تخصصی بنسټونو ویش

- د خوراکي توکو او کرنې ټولنهFAO
- د ملکي هوایي چلند نړیواله اداره ICAO
- د کرنې پراختیا نړیوال صندوقIFAD
- د کار نړېواله ټولنهILO
- د پیسو نړېوال صندوق IMF
- د نړیوالی بېړی چلونې ټولنه IMO
- د مخابراتو نړیواله ټولنه ITU
- د ملګرو ملتونو علمي، فرهنګي او زده کړنیزه ټولنه UNESCO
- د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیاټولنه UNIDO
- دسیلانیانونړیواله ټولنه UNWTO
- د پوسټ نړیواله ټولنهUPU
- د روغتیا نړیوال ټولنهWHO
- د معنوي مالکیت نړیواله ټولنه WIPO
- د هواپېژندنې نړیواله ټولنه WMO
- د نړیوال بانک ډله WB Group
- د بیارغونې او پراختیا بانکIBRD
- د پراختیا نړیواله موسسه IDA
- نړیوال مالي شرکت IFC
- دپانګونودستونزود حل نړیوال مرکز ICSID

- د پانګونو د تضمین څو اړخیزه آژانسMIGA

**د دارالانشا ارګانونه**

**دفترونه:**

- د سرمنشي اجراییه دفتر EOSG
- د کورنیو خدماتو د څاردفتر OIOS
- د سیاسی چارو دفتر DPA
- د حقوقی چارو دفتر OLA
- د سوله ساتو عملیاتو دفتر DPO
- د بېوسلې کولو د چارو دفتر ODA
- د انسانی چارو د همغږی دفتر OCHA
- د تباهیو د خطرونو د کمولو دفتر UNDRR
- د بشری حقونو له پاره عالی کمیشنر OHCHR
- د نشه یی توکو او جرایمو دفتر UNODC
- د لږ پرمختللو هیوادونو، په وچه پوری د تړلو پرمختیایی هیوادونو او د کمکیو ټاپوییزه پرمختیایی هیوادونو له پاره د استازی دفتر OHRLLS
- د بهرنی فضا د چارو دفترUNOOSA

**څانګی:**

- د ملګرو ملتونو د سیاست او سولې جوړونې چارې UNDPPA
- د ملګروملتونو د اقتصادی او ټولنیزو چارو څانګهUNDESA
- د ملګرو ملتونو د عملی ملاتړ دفتر DFS
- د ملګرو ملتونو د مدیریت څانګه UNDM
- دم م د عمومی ټولنی او کنفرانسونو د مدیریت څانګهUNDGACS
- د عمومی اطلاعاتو دفتر DPI
- د ملګرو ملتونو د امنیت د همغږی دفتر SCO

## هغه نړیوالی ټولنی چی ځانګړی واکونه لری

- ناتو( شمالی اتلانتیک) تړونNATO
- د ناپییلتوب غورځنګNAM
- د ناپییلواو پرمختیایی هیوادونو دعلومو او تکنالوژی مرکزNAM S and T center

- د اسلامی هیوادونو کنفرانسOIC
- د تیلوصادرونکوهیوادونو ټولنهOPEC
- دعلمی او تکنالوژیکی همکاریو په برخه کی د اسلامی کنفرانس دایمی کمیټهCOMSTECH
- د اقتصادی همکاریواوپراختیا ټولنهOECD
- د مالی اقدام ځانګړی ډلهFATF
- جی–اته ډله G8
- دی–اته ډله D8
- د ښښنی نړیواله ټولنهAI
- د بریښنایی تکنالوژی نړیوال کمیسیونIEC
- لابراتوارونوته د اعتبارورکولو نړیواله کمیټهILAC
- د اعتبارورکولونړیواله ټولنهIAF
- د سره صلیب نړیواله کمیتهICRC
- د ژورنالیستانو نړیوال فدراسیونIFJ
- د بشری حقونود څار دلهHRW
- د ستندرد جوړولو نړیواله ادارهISO
- د اسلامی هیوادونو د مترولوژی او ستندردونو انستتیوتSIMIC
- د حقوقی مترولوژی نړیواله ټولنهOIML
- د صنعتی اوتکنالوژیکی څیړنو د مراکزو نړیوال بنسټWAITRO
- د فوتبال نړیوال فدراسیونFIFA
- د کرکت نړیواله شوریICC

## سیمه ییزه ټولنې

د سیمه ییزه ټولنو لنډه پیژندګلوی

د اروپا او اتلانتیک سیمه ییزه ټولنې

- د اروپا شوری Council of Europe
- د ازادی سوداګرئ اروپایی ټولنه FETA
- اروپایی ټولنهEuropean Union
- اروپایی شوری Eurioean Council
- د وزیرانو شوری
- اروپایی کمیسیون

- اروپایی پارلمان
- د اروپا د عدالت محکمه
- د تمییز محکمه
- د بشری حقونو اروپایی محکمه
- د آسیا د همکاری خبرې اترې (دیالوګ) ACD

**د اسیا سیمه ییزه ټولنې**

- د جنوبی اسیا د سیمه ییزه همکاریو ټولنه SAARC
- د اقتصادي همکاریو ټولنه ECO
- د جنوب ختیځی اسیا د ستندرد سیمه ییزه ټولنه SARCO
- د عربو د همکاریو شوری ACC
- د شانګهای همکاریو شوری SCO
- د اسیا د سویل( جنوب) ختیځو ولسونو ټولنه ASEAN
- د خلیج د همکاری شوری GCC
- د اسیا پاسفیک اقتصادی همکاریو شوری APEC
- د اسیا پاسفیک د تکنالوژی د لیږد مرکز APCTT
- کولمبو پلان CP
- د جنوب د تلپاته پراختیا له پاره د علومو او تکنالوزی کمیسیون COMSATS

**دافریقا سیمه ییزه ټولنې**

- د افریقا یووالي ټولنه (افریقایی ټولنه)OAU
- جوړښت
- مشرتابه شوری
- پان افریقایی پارلمان
- اجراییه شوری
- افریقایی کمیسیون
- د عدالت محکمه
- د سولی او امنیت شوری
- د افریقا اقتصادی، ټولنیزه او فرهنګی شوری
- د منځګړیتوب او جوړی کمیسیون
- فنی او تخصصی کمیتی

- فعالیتونه

**د امریکا سیمه ییزه ټولنی،**

- د امریکایي هېوادونو ټولنه OAS
- د منځنی امریکا د هېوادونو ټولنهODECA
- د لاتینی امریکا د ازادی سوداګرئ ټولنه LAFTA
- د لاتینی امریکا د اقتصادی پیوستون ټولنه ALADI
- اندین ډله Andin Group
- د کارابین سیمې د هېوادونو ټولنه ACS
- د کارابین د ازادی سوداګرئ ټولنه CFTA
- د کارابین ګډ بازارCommonwealth Caribbean
- د کارابین د ختیځو هیوادونو ټولنهOECS
- د شمالی امریکا د ازادی سوداګرئ ټولنهNAFTA
- د جنوب ګډ بازار Merco Sur

**هغه ټولنی چی اوس فعالی نه دی**

- د ملګرو ملتونو د اتومی انرژی کمیسیون UNAEC
- د دبرو سکرو او پولادو اروپایی ټولنهECEC
- د ښځو له پاره د ملګرو ملتونود زده کړو او څېړنو نړیوال انستتیوت INSTRAW

## ضمایم

- د ملګرو ملتونو کړنلاره (منشور)
- د عدالت د نړیوالی ټولنی اساسنامه
- د بشری حقونو نړیواله اعلامیه
- د بشری حقونو اسلامی اعلامیه
- دسمندرونو په هکله د ملګروملتونو کنوانسیون UNCLOS
- د لیکوال لنډ ژوندلیک
- د لیکوال (مولف) نور اثار

# د پیل خبرې

د نړیوالو ټولنو د پیل، پرمختګ، ارزښت، دندو او بریاوو په هکله، په دې کتاب کې ډېرې خبرې شته، چې دلته یې نه راوړم؛ خو دومره ویلای شم چې نړیوالې ټولنې زموږ د عصر د نړیوال نظام، له خورا مهمو برخو څخه شمېرل کېږي. ښکاره خبره ده چې د دې ټولنې پېژندګلوي له لوستونکو سره مرسته کوي چې د اوسني نړیوال نظام د کار په څرنګوالي، نیمګړتیاوو او بریالیتوبونو ډېر پوه شي.

داسې ویل کېږي چې په اوسنۍ نړۍ کې، له ٦٧٠٠٠ ډېرې پوځي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې، علمي، تخصصي، مذهبي، فرهنګي، ورزشي او ... نړیوالې او سیمه ییزه لویې یا کمکي ټولنې شته، چې په ډېره لویه جغرافیه یا یوه کمکۍ سیمه کې فعاله دي او کار کوي.

له ما سره د داسې یو کتاب د لیکلو فکر ٧ – ٨ کاله مخکې پیدا شوی و او داسې یو نوم (نړیوالې ټولنې) مې په څو کتابونو کې، د لیکوال د هغه کتابونو په لست کې راوړی و، چې په راتلونکي کې به چمتو کېده او ١٠٠ – ١٥٠ مخه کار مې هم کړی و.

په کال ٢٠٢٠ کې په نړۍ او ګران افغانستان کې د کرونا ځانګړو شرایطو، زه دې ته اړ کړم چې په همدې کتاب کار پیل کړم. زه د کال ٢٠٢٠ د مارچ په پیل کې، د اروپا څخه کابل ته ستون شوم. هغه وخت په چین، اسپانیا او ایتالیا کې دا وبا لګیدلې او داسې ویره وه چې ټولې نړۍ ته به خپره شي. زه به داسې حال کې کابل ته ورسېدم چې له دوبۍ څخه مې ماسکونه او نور وقایوي مواد هم اخستي و. په کابل کې مو لا د سفر سترړیا نه وه وتلی چې بندیزونه ولګېدل، له ٥٨ کلنو پورته دفترونو ته بند شول، له کورونو څخه کارونه پیل او خلکو ته وویل شول چې په کورونو پاته شي!

ما فکر کاوه چې د دې وبا، یوازیتوب او د ګران وطن په هکله د غمجنو او خونړیو خبرونو په شرایطو کې، داسې یو کار باید پیل کړم چې ما شپه او ورځ بوخت وساتي او دا (د نړیوالې ټولنې) د کتاب بشپړول و!

اخځونه مې غونډ کړل، انترنت مې درلود. بس کار مې پیل کړ. هره ورځ ٦ – ٨ ساعته پرله پسې کار. د کوره وتل نه و، میلمانه نه راتلل، ودونه بند وو او بل هېڅ داسې مصروفیت هم نه و چې زما د کار مخه ونیسي. هیله مې دا وه چې د افغانستان ځوان نسل ته به ان شاالله داسې یو کتاب تالیف شي، چې د یو شمېر نړیوالو ټولنو په پېژندګلوی کې مرسته ورسره وکړي.

پخوا به په پښتو ژبه کی یوازی کلاسیک ادبیات، فولکلوری مجموعی، شعرونه او دینی کتابونه یا کتابګوټی چاپیدل، او د علمی، فنی، مسلکی او هنری کتابونو ځای به تش وو؛ خو په تیرو شلو کلونو کی په دی برخه کی،

یو لوی بدلون راغی او د علومو او فنونو او هنرونو په برخو کی، په سلگونو کتابونه خپاره شول، د کتابونو د چاپ دفترونه جوړ شول، مطبعی راغلی، ځوانان فعاله شول او یو لوی تحرک پیل شو چی ټول مثبت بدلونونه حسابیږی. هغه وخت چی ما د نړیوالو ټولنو کار پیل کړ، په اکسوس کتاب پلورنځی کی می دا کتابونه وموندل: نړیوال سازمانونه د محترم محمد جعفر هاند ژباړه او لیکنه؛ نړیوال سازمانونه، د محترم محمد نظیم سمون ژباړه؛ د ملگرو ملتونو منشور کمکی کتاب، د محترم صفی الله ناصری ژباړه چی ما د خپل کتاب په لیکلو کی له دی دریو کتابونو څخه دیره استفاده کړی ده.

د ملگرو ملتونو کړنلاره( منشور) او د عدالت د نړیوال محکمی اساسنامه ما د ناصری له کتاب څخه اخیستی؛ خو ډیر په دقت می له اصلی منابعو سره پرتله کړی او له سمونونو وروسته می په دی کتاب کی راوړی. د بشری حقونو نړیواله اعلامیه او د بشری حقونو اسلامی اعلامیه هم له نوموړی کتاب څخه کټ نقل شوی دی.

د ۲۰۲۰ په دسمبر کې زه دوبی ته لاړم او دوه میاشتې هلته پاته شوم. هلته هم یوازیتوب و، د کرونا وبره او بندیزونه او له گران وطن څخه د وینو او باروتو خبرونه. نو هلته مې هم ځان په همدې کتاب مصروف وساتو. د کال ۲۰۲۱ په مارچ کې هالند ته راغلم؛ خو د کتاب کار مې معطل نه کړ؛ ځکه د افغان ماشومانو د مرستی له پاره د جرمني دفتر استازی، محترم داکتر یحیی وردک زیری را کړی و چې دا کتاب به چاپ کړي.

داکتر یحیی وردک په تېرو پنځلسو کلونو کې، د افغانستان د پوهنتونونو ځوان کهول ته لوی خدمت کړی او تر اوسه یې په طب، فارمسي، ریاضیاتو، کیمیا، فزیک او نورو برخو کې، په پښتو او فارسي دري ژبو، په سلگونو ارزښتمن ژباړلي یا لیکلي، کتابونه له CD گانو سره یو ځای، خپاره کړي او د افغانستان په پوهنتونونو ویشلی، چی ځوان نسل یی ولولی او ځانونه د یوویشتی بیړئ د غوښتنو او اړتیاوو سره سم عیار کاندی.

په هر صورت دا دی د کال ۲۰۲۱ په نیمایي کې، دا کتاب بشپړ شو. هسې خو نړیوالې ټولنې له شپیتو زره هم اوړي، چې د ټولو پېژندگلوي د (برتانیکا انسکلوپیدیا) په شان کتابونه غواړي؛ خو ما په دې کتاب کې ملگرو ملتونو د شپږگونو اساسي څانگو، دفاترو، اړونده ارگانونو او تخصصي بنسټونو او یو شمېر نړیوالو او سیمه ییزه ټولنو اکتفا کړې ده. هیله ده چې په راتلونکي وخت کې به، ځوان افغان مولفین او ژباړونکي دا دنده په غاړه واخلي او د ډېرو هغه نړیوالو ټولنو پېژندگلوي په بشپړه کړي، چې په یو ډول له افغانستان سره اړیکې لري.

زه دا اوسنی کار هم پوره نه بولم. د کرونا او مسافرتونو ستونزو او له گران وطنه لیریتوب، هرومرو خپل دروند اغېز لري. ما هیله درلوده چې په دې هره نړیواله ټولنه یا بنسټ لکه FAO، SAARC، ECO، UNESCO کې، د افغانستان په غړیتوب ډېرې خبرې وموم؛ خو کله چې په کابل کې وم، د بهرنیو چارو وزارت اړونده دفتر مینه ونه ښوده او زما پرله پسې غوښتنو ته یې مثبت ځواب رانکړ!

که زه د خپل واک وای، په دی کتاب می دری میاشتی نور هم کار کاوه ، چی ښه بډایه شوی وای؛ خو د کتاب د خپروونکی محترم داکتر یحیی وردک، غوښتنو دا ارمان نیمگړی پریښود. داکتر صاحب ځکه بیړه کوله چی ما نه مخکی ځنډ بیښ شوی و او کتاب باید د پلان مطابق چاپ شوی وای.

په هر صورت دا دی دا کتاب، چې د کرونا، یوازیتوب او مسافرت په ورځو کې، د افغانستان ځوان کهول ته، د عمومي معلوماتو د بډاینې په درنه هیله لیکل شوی، ستاسو خدمت ته وړاندې کوم. هیله ده چې لوستل او که ممکنه وه علمي او مسلکي کره کتنه او حتی انتقاد به یې، د مولف د زړه هغه هیله لږ پوره کړي، چې د گران افغانستان د هر اړخیز خدمت او ځوان نسل ته د فرهنگی کار له پاره یې په ځان پور گڼي.

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې کله ما تیر کال، په کابل کې د دې کتاب د لیکلو کار پیل کړ، لاس لیکلي پاڼې به مې د کمپوز له پاره، ښاغلي سمیع الله مومند ته د یو دریور په لاس استولې چې په لوگر کې ایسار و. سمیع الله به کمپوز شوې پاڼې بیرته په برېښنا لیک رااستولی چې بیا وکتل شي او بډایه شي. داسې پاڼې به مې له دوبۍ او هالند څخه، په واتساپ ورته استولی او ده به بېرته په برېښنا لیک رالیږلی او ما به بیا – بیا کتلې او د نورو اخځونو په مرسته به مې بډایه کولی.

د ښاغلو سمیع الله مومند او محمد عبدالحق صمیمي کورونه دې ودان وي. صمیمي د دې کتاب د وروستي متن او پشتنی ډیزاین جوړ کړی او کتاب یې چاپ ته چمتو کړی دی. صمیمی له پنځلسو کلونو دا خدمت کړی او زما د نژدی ټولو کتابونو د وروستی دیزاین کارونه یی سر ته رسولی دی. د ښاغلي داکتر یحیی وردک او د ماشومانو له پاره د جرمني د مرستو دفتر منندوی یم، چې د دې کتاب د چاپ لگښت یې په غاړه واخست او دا نیمگړی زیار یې، ستاسو تر لاسونو او کورونو پوری ورساوه.

له خپلی کورنۍ څخه هم نړۍ مننه کوم چی ما ته یی، په هالند کی دا شرایط برابر کړل چی په اونۍ کی پنځه شپږ ورځی، د هارنم ښار، کورنبورخ کتابتون، ته لاړ شم او هلته په دی کتاب کار وکړم.

د داسې ورځې په هیله چې کتاب لوستل، په گران وطن کې په یو (فرض) بدل شوی او په ښوونځیو، پوهنتونونو، مدارسو، ښارونو، ولسوالیو، کلیو او کورونو کې، کتابونه او کتابتونونه ولرو او دا کتابتونونه په تنکیو زلمیو، ځوانانو او بوډاگانو نارینه وو او ښځو لوستونکو ډک وي او خپلواک افغانستان د پرمختگ، ځان بسیاینې او نیکمرغیو په لور، گړندی په مخ روان دی او په په ژمنو او مسلکي کادرونو ډک !

په مینه

ستاسو آرینزی

اگست ۲۰۲۱ هالند

تقریظ

پوهاند محمد بشیر دودیال

**د نړیوالو موسساتو او منطقوی سازمانو اوټو لنو د پېژندنې ارزښت**

دا مو اورېدلې چې؛ نړۍ په یوه کلي بدله شوې ده، نو چې داسې ده، دغه کلی او د هغه کورونه یو بل سره ډیره ښه راکړه - ورکړه او راز راز مناسبات، ژمنې او تعلقات لري. په کلي کې دیره، حجره، چوتره، میرآب(میراو)، مشر او ملک او مشورې او مرکې وي. همدا د کلی دستونزو د حل او یو بل سره د زړه خوږي، یو د بل د پیاوړی کولو، مرستو او ډاډ ورکولو لارې- چارې دي. داسې فکر وکړئ چې نړۍ هم همدا لار نیولی ده او دا ډیره غوره پریکړه ده.

اوس په نړۍ کې بیلابیل بین المللی، منطقوی او فرامنطقوی او د براعظمونو په کچه سازمانونه او ټولنې تشکیل شوي دي، چې شمیر یې زرګرنو ته رسیږي. دا ټول هم په عُرف او هم مدونو قوانینو سره د لازم هدف، تشکیل، آدرس او دفتر په لرلو سره فعالیت کوي. د دغو ټولنو او سازمانو جوړیدل چې له حکومتونو جلا؛ د یوه سازمان په بڼه فعالیت کوي، یوه قانونی کړنه ده چې د نړیوالو حقوقو، ځانګړې اساسنامې او توافق شویو قراردادونو سره سم جوړیږي. په هغو کې غړیتوب اختیاري شکل لري، کله چې دغه ډول ټولنه/سازمان او موسسه جوړه شي، بیا نو د حقوقی اهلیت لرونکې کیږي. دغه ټولنې د یوه دولت په شان عمل نه کوي، بلکې غړی هیوادونه د ټولنې د اساسنامی مطابق مشخصو برخو کې یو بل سره همکاری او تعاملات په مخ بیایي. هر غړی خپلو سیاسی او مالی چارو کې استقلالیت لري، د دوی حقوقی سرچینې د دوی ترمنځ لاسلیک شوي توافقات، د دوی اساسنامه(منشور)، دوه اړخیز او څو اړخیز تړونونه او نړیواله قضایي رویه ده. دوی په شریکه دیپلوماتیک اساسات او آداب هم رعایتوي. اوس دا ټولنی او سازمانونه د پراختیا په حال کې دي او د متقابلو- دوستانه او مساویانه اړیکو په لرلو سره یې، په ډیرو حساسو او حیاتی شیبو کې د مهمو او حیاتی ستونزو حل ته لاره موندلې ده.

نړیوال موسسات ، منطقوی سازمانونه او ټولنې هغه د غوره اهدافو لرونکي جوړښتونه دي، چې په یوه فضایی بُعد(spatial dispersion) کې د ځانګړو اصولو او موخو له مخې فعالیت کوي. ځینی د ټولې نړۍ په سطح (لکه د ملګرو ملتونو سازمان/UN)، ځینی یې د یوه براعظم په کچه ( لکه اروپایی ټولنه/EU) او ځینی یې یواځې د څو هیوادو په غړیتوب (لکه ایکو سازمان/ECO) جوړې او د غړو په ژمن(متعهدانه) غړیتوب سره، د ګډو موخو په ترلاسه کولو او د لازیات تفاهم لپاره کار کوي. دملتونو له ټولنی نیولی بیا د ملګرو ملتونو تر اوسنۍ لویې نړیوالې موسسې او تر منطقوی سازمانو پورې؛ ټولو خپل ګټور موثریت اثبات کړی دی، په همدې خاطر دغه سازمانونه او ټولنې نور هم د پراختیا او تکامل په حال کې دي. دنړۍ پرمخ هیڅ داسې هیواد نشته چې په یو له دی سازمانونو، ټولنو یا موسساتو کې غړیتوب ونه لري(افغانستان همدا اوس د سیمی یو شمیر منطقه یی

جوړښتونو لکه ECO, SCO او SAARC کی فعال گډون لری او د ملگرو ملتونو د سازمان له لومړنیو غړیو څخه دی او په WTOکې هم خپل استازی لري او داسې نور).

نن ورځ په دی سازمانو کې غړیتوب د یوه هیواد د پرستیژ او لوړ نړیوال اعتبار ښودنه کوي، په همدې خاطر ډیر داسې هیوادونه شته چې څو څو بیلابیلو سازمانو او موسسو کې غړیتوب لري او وربانديې ویاړي. هیوادونه په دی موسساتواو ټولنو کې خپل استازی لري او په غونډو او بحثونو کې یې برخه اخلي. په دی سازمانو کې د خپل هیواد د استازیتوب او په لابی کې، د چمتو کیدو لپاره باید پوهه موجوده وي، پوهه په مطالعې سره ترلاسه کیږي، د مطالعې لپاره کتاب او اخځ ته اړتیا لرو.

دا دی له نیکه مرغه دافغانستان نامتو لیکوال، فرهنگې څیرې او د میډیا او ژورنالیزم د پوره تجربو لرونکي ورور، ښاغلی احسان الله آرینزی، له خوا داسی یو معتبر اخځ چمتو شو. قدرمن آرینزی صاحب تقریباً یونیم کال د دې کتاب د لیکلو په هوډ خبر کړی وم، ډیر ورته خوشحاله شوم؛ خو دا کار راته ډیرستونزمن ښکاره شو. هغه وخت آرینزی صاحب په کابل کې و، دا دی اوس یی دغه ښکلی او گټور اثر په هالند کې په پوره زیار او دقت سره بشپړ کړی.

نړیوال موسسات، منطقوی سازمانونه، منطقوی اقتصاد او بین المللی ټولنې د افغانستان د پوهنتونو د درسی نصاب برخې دي، محصلان باید د هغو په برخه کې پوهه ولري؛ نو ځکه دا اثر د دوی لپاره یوه ډیره معتبره مرجع ده. له دې برعلاوه د موسساتو د کارکوونکو، د بین المللی ټولنو د متخصصینو او د بهرنیو چارو، تجارت، مخابراتو، عامې روغتیا د وزارتونو د ځوانو او نویو فارغ شویو کارکوونکو، د پوهې او معلوماتو لپاره یو په زړه پورې کتاب دی. د بهرینو چارو د وزارت د دپلوماسی دانستیتیوت کارکوونکی هم دې کتاب ته اړتیا لري.

کتاب مې مخکې له چاپ څخه وکوت. د نړۍ یو شمیر لوی موسسات، لویې او کوچنۍ ټولنې او منطقوي سازمانونه پکې راغلي دي، په یو شمیر داسی سازمانو او ټولنو کې افغانستان غړی، ځینو کی ناظر او ځینو کې خپل سفیر(استازی) لری اوغونډو ته یې وربلل کیږی. متاسفانه موږ ډیر کم داسې وتلي او د مطالعې لرونکي کدرونه لرو چې په دی سازمانو کی وړ استازیتوب وکولای شی، علت یې د دوی عدم شناخت او دی برخه کې لږ مطالعه ده. زیاتره هیوادونه په خپل هیواد کې د دې موسساتو او ټولنو دفترونه او خپل محلی کارکوونکي لري. افغانستان او ځوانانو ه بویه چې دې برخه کې پوهه ولري او د هغو په ماهیت، هدفونو، تشکیلاتو، تاریخچې او فعالیتونو ځان وپوهوي.

باید ووایم چې تر دې مخکې ښاغلی آرینزي (د نړۍ هینداره) کتاب ( په پنځو ټوکونوکې) لیکلی او خپور کړی و، چې د هیواوالو له ډیر تاوده هرکلي سره مخامخ او په لوړ تیراژ سره څو ځله خپور شو. په دی کتاب کې د نړۍ ټول هیوادونه معرفی شوی دی، دا دی تر دې مهم کتاب څخه وروسته ( نړیوالی ټولنی ) کتاب یو بل لوی علمی خدمت دی، چی لیکوال ترسره کړ. د کتاب د چاپ له امله؛ لومړی دروند او پیاوړی لیکوال، آرینزي صاحب ته او بیا ټولو هیوادوالو ته مبارکي وایم.

کتاب په ډیره روانه اوسلیسه ژبه لیکل شوی، چې په پیل کې سریزه او عمومیات دی. ورپسې د نړیوالو ټولنو پیژندنه، بیا عمومی ټولنې او په ترتیب سره، مربوطه کمیسیونونه، دفترونه، د موسساتو څانګې، سیمه ییزې ټولنی، د هغو واک اودندې او دې ته ورته نور ضروری معلومات راغلي دي. د کتاب یوه غوره ښېګڼه دا ده چې مسایل یې سیستماتیک دي، د هرې ټولنی تاریخچه، تشکیل او جوړښت، اهداف، غړی هیوادونه، او د افغانستان غړیتوب پکې راغلي دي. د کتاب په لیدو سره هرچا ته د هغه د لوستلو تنده او لیوالتیا پیدا کیږی. په تیره بیا د آسیا سیمه ییز سازمانونه د افغانانو لپاره ډیر ضرور دي.

زه هیله لرم چې ځوانان؛ په تیره د حقوقو او سیاسی علومو، اقتصاد، عامه ادارې او پالیسی د پوهنځیو محصلان له دی کتاب څخه پوره ګټه واخلي، همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت د دیپلوماسی د انستیتتوت لپاره یی ډیر ضرور بولم. ډیره به غوره وی چی د یوه معتبر اخځ په توګه د هیواد ټولو کتابتونو کې د اړوندانو د استفادې لپاره موجود وي. د کتاب د ناشرانو ښاغلی داکتر یحیی وردک او د کتابونو د چاپ جرمنی اړخ ( د افغان ماشومانو له پاره جرمنی ټولنه)، د زیار او عالی ذوق څخه مننه کوم چې کتاب یې په عالی سکښت او ډیزاین کمپوز او چمتو کړی دی. په راتلونکی کې قدرمن ارینزی صاحب ته په فرهنګی او علمی چارو کې د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله او دُعا کوم.

په درناوی

پوهاند محمد بشیر دودیال

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد

**تقریظ**

# دا علمی اثر

د بین المللی حقوقو په بحث کی او نړیواله سطحه د دولتونو تر څنگ د نړیواله ټولنو او سازمانونو تشکیلاتی جوړښت، د دندو او واکونوڅرنگوالي او رول د نړۍ د هیوادونو او وگړو ترمنځ د سیاسی، اقتصادی او فرهنگی پراختیا اوسمبالتیا په موخه، ډیر مبتارز او د توجو وړ دي. نړیوالي ټولني چه په واقعیت کی د نړۍ په سطحه کوم ذاتی جوړښت نلری بلکی د نړۍ د هیوادونو د اتحاد او اعتبار ورکولو وروسته رامنځ کیږی چی د عمر او دندو د ماهیت له لحاظه یو د بل څخه متمایز او توپیر لری.

دا سازمانونه د ماهیت له لحاظه د بین المللی حقوقو د عمده، متحرکو او موثر غړو څخه شمیرل کیږی چی د نړی په کچه د حیاتی ارزښتونو لکه نړیواله سوله، اقتصادی پراختیا، چاپیریال ساتنه، بشری حقونه او داسی نورو څخه نظارت او ساتنه کوی.

د پورته ذکر شویو بنسټونو او د هغو د دندو، کاری صلاحیتونو او ساحو د پیژندلو او دقیقو سیاسی او حقوقی معلوماتو راغونډولو، منسجمولو او د یوه علمی اثر په چوکاټ کی داسی یوه بستی ترتیبول، تنظیمول او خلکو ته وړاندی کول، لوی همت او علمی توان او تکل غواړی. یقیناً چی داسی لوی او بنسټیز کارونه چی د زمانی، ماهوی او کیفی لحاظه ډیره لویه حوصله، کاری استعداد اوعلمی ظرفیت ته اړتیا لري، چی د دی اثر لیکونکی دا ټول ارزښتونه د خپل کار په نتیجه کار کی ثابت کړی دي.

محترم افغان لیکوال احسان الله «آرینزی» ته په خاص ډول او ټولو همکارانو ته یی په عام ډول د لوی رب څخه د لا ډیرو بریاوو غوښتنه او د کار او زیار څخه یی اصالتاً قدردانی کوم.

هیله لرم د دی علمی اثر، چی په خپل ډول کی په افغانستان او پښتو ژبه کی نوی او بی سابقی کار دی، د محتویاتو په مطالعی سره چی یو علمی لارښود گڼل کیدای شی، د حقوقو او نړیوال سیاست د زدکونکو او علاقمندانو علمی تنده ماته او ترڅنگ به یی د علمی تحقیقاتو لپاره د پښتو ژبی یو ښه او موثره حقوقی او سیاسی منبع شمیرل کیدای شي، چی ویاړ یی محترم لیکونکي او تخنیکی همکارانو ته ورپه برخه کیږی.

څارنمل غلام دستگیر«هدایت»

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون پخوانی کمیشنر

# لومړی څپرکی

## د نړیوالو ټولنو پیل

له هغه وخته چې خلک، کورنۍ، ټبرونه او طوایف سره نژدې شول او هېوادونه او دولتونه یې جوړ کړل، په خپلو شااوخواوو کې یې له نورو جوړښتونو سره، راکړې ورکړې او تګ راتګ پېل کړ. ښکاره خبره ده چې دا اړیکې به کله د ملګرتوب او ګاونډیتوب او کله هم د دښه توب (دښمني) وې او وروستی پرېکړه یا غوڅه به د جګړې په ډګر کې، ژوبله ورو یا جګړه مارو کوله او یا سپین ږیرو او مشرانو په جرګو او مرکو کې!

شخړې او جګړې د انسانانو د ژوند په څو زره یا څو ملیون کلن بهیر کې، د دوی له بنسټیزه ستونزو څخه بلل کېږي چې تر اوسه یې له ټولو علمي، ټولنیزه او فرهنګي پرمختګونو سره – سره سمه حللار نه ده موندلی. داسې ښکاري چې په یوه اوږده موده کې، همدا جګړ ه وه چې د کلي، ولس، هېواد، سیمې او نړۍ ستونزو ته یې د پای لنډمهاله ټکي اېښود، یوه به وګټله او بل به بایلوله؛ خو د ستونزې جرړې به په ځای پاته وې او ژر یا ځنډ به بلې جګړې ته لار اواره شوه.

د هغه ستونزو په هکله چې جګړې یې زېږولې، ډېر څه ویل کېدای شي؛ خو لنډه به یې دا وي چې په ځمکو، اوبو او لارو برلاسي، د افرادو او ټولنو د اړیکو څرنګوالی، قومي یا مذهبی سونزی، اقتصادي ګټې، د ژمنو او ملګرتیاوو پالل، د وېرې یا خطر مخنیوی او ډېر نور، له هغه عواملو څخه باله شي چې خلک یې د تاریخ په اوږدو کې جګړو او د وینو سیلاوونو ته اړ کړي یا هڅولي دي.

د دې جګړو په پایله کې به حق او عدالت تر پښو لاندې شو، پیاوړې او ځواکمنې ډلې یا دولت به هغه بل لوري ته ماتې ورکړه او د لنډې یا اوږدې مودې له پاره به یې سر اېښودو ته اړ کړ او یا به یې له بیخه ویست! په منځنیو پېړیو کې ځینو واکمنو دولتونو او ډلو دې جګړو ته (مشروع جګړې) ویلی.[1]

د تېرو څو پېړیو ترخو واقعیتونو وښوده، له بده مرغه چې د وخت په تېرېدو او د علومو، فنونو او هنرونو د پرمختګ سره جوخت، دښنه توب د هېوادونو او دولتونو په اړیکو کې خورا پیاوړی شوی او د پخوانیو غشو، لیندو، مچنوغزو (غولک)، تورې، سپر او ډال ځای؛ باروتو، ټوپکو، بمونو، توغندیو، شوبلو، الوتکو او اتوم نیولی!

د دښنه توب ډېروالي، د دولتونو تر منځ د اړیکو پېچلتیاوو او استخباراتي توب خلک، کړۍ، ټولنې، پرګنې او سیاسي مشران دې ته وهڅول چې د ستونزو د حل له پاره، د شخړو او جګړو په ځای نورې لارې ومومي او د

[1] . سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ۱۳۸۶ هـ ش، تهران، ص ۶۳ – ۶۴.

وینو او اور په پرتله خبرې اترې غوره وبولي. له همدې امله هم دولتونو او هم غیردولتي ټولنو او بنسټونو داسې هڅې پیل کړې چې سره نژدې شي او هر راز ستونزې د خبرو له لارې پای ته ورسوي.

د لرغوني یونان، هند او چین د ځینو فلاسفه وو په لیکنو کې داسې نښې شته چې په دې برخه کې، د ځینو لومړنیو تشکیلاتو په شتون شاهدي ورکوي. د مثال په توګه موتيMoti، چینایي فیلسوف په پنځمه ق-م پېړۍ کې جګړه غندلې او فردي او ټولنیزې آزادي ګانې یې، په سوله او امنیت پورې تړلي دي. ښکاره خبره ده چې داسې پخوانې او لرغونې لیکنې او اندونه، د راوروسته سیمه ییزه یا نړیوالو اندونو او ټولنو د جوړښت لومړنې ډبرې بلل کېږي.[۲]

د همدې هڅو په پیل کې پرګنې او مشران دې ته اړ شول چې د جرګو، مرکو او غونډو په هکله فکر وکړي. ښکاره خبره ده چې د جګړو په ځای د خبرو او جرګو غوره بلل، په هغه وخت کې چې د بېلابېلو جغرافیایي سیمو د انساني پرګنو تر منځ اړیکې او تګ راتګ کم و، د پېړیو خبره وه؛ خو حتی د همدې فکر پیدا کېدل او د لومړنیو ګامونو اوچتول یو بریالیتوب باله شي چې خلکو، سیاسي کړیو او دولتونو، د جګړو، تلفاتو او ورانیو په ځای، د ستونزو سوله ییزه حللارې غوره وبللې او داسې هڅې یې پیل کړې چې د جګړو د بندولو، د تلپاته سولې د ټینګولو، د سیاسي برخلیکونو د ټاکلو، د منځګړیتوب له لارې د ستونزو د حل، د جګړه مارو دولتونو د پوځي یا اقتصادي مجازاتو؛ د سراسري سولې د ټینګښت له پاره د ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي بنسټونو د برابرولو او د ګډو پوځونو د جوړولو له لارې، د خطرونو د مخنیوي له پاره، داسې سیمه ییزه یا نړیوالې ټولنې جوړې کړي چې لږ یا ډېر اجرایي واکونه ولري او د احتمالي ستونزو او جګړو مخه ونیسي.[۳]

له همدې امله دولتونو یو بل ته لنډمهاله او بیا اوږدمهاله استازي او مامورین واستول او بیا د داسې ټولنو اړتیا ولیدل شوه چې د دوو یا څو دولتونو تر منځ، د ګاونډیتوب او سیمه ییزو سوداګریزه، سیاسي، پوځي او ټولنیزو اړیکو له پاره اصول جوړ کاندي او نظم راولي.[٤]

د مثال په توګه په لرغونو روم او یونان کې (قونسل بنسټ)، د بهرنیو هېوادونو په بندرونو کې د خپلو خلکو فردي او سوداګریزې ګټې پاللې؛ خو سیاسي مسوولیت یې نه درلود. ورو – ورو هېوادونو یو بل ته سفیران واستول چې د نوښت وړاندیز یې د ایتالیا په سیاسیونو پورې اړه لري.

د وخت تېرېدو وښوده چې سفارتونه ټولې ستونزې نه شي حل کولای؛ ځکه داسې ستونزې وې چې په څو یا ډېرو هېوادونو پورې به یې اړه درلوده. د داسې ستونزو حل څواړخیزه خبرې غوښتې چې د حللارو د موندلو له پاره سره جرګه شي او د ستونزو د اوږدمهاله حل له پاره لارې ومومي.

په کال ۱٦۴۸ کې د ویستفالي غونډه، د همدې هڅو پېلامه بلل کېږي چې د سولې په ټینګېدو او دوام یې بحثونه وکړل. په کال ۱۸۱۵ کې له ناپلیوني جګړو، سوبو او ماتو وروسته، د ویانا غونډه د یادولو وړ ده چې د

---

[۲] . سازمانهای بین المللی، دکتر محمد غفوری، ص ۳

[۳] . سازمانهای بین المللی، دکتر محمد غفوری، ص ۲

[٤] کارگزاری های تخصصی سازمان ملل متحد، ص ۱

اروپايي هېوادونو تر منځ د سولې له پاره جوړه شوه. په کال ۱۸۱۹ کې له لومړې نړېوالې جګړې وروسته، د پاريس غونډې ښه پايله درلوده او په يوه تړون پای ته ورسېده.

په کال ۱۸۵٦ کې د تور سمندرګي د اوبو او زېرمو د وېش د څرنګوالي په هکله د پاريس غونډه جوړه شوه. په ۱۸۵۷ کې د پاريس پرېکړو د څار او ملاتړ له پاره، د روسيې په نوښت د برلين کنګره جوړه شوه.

په کال ۱۸۸۴ کې په افريقا کې د اروپايي هېوادونو د سياسي او سوداګريزو فعاليتونو د ښه والي ناسته جوړه شوه. په ۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ کلونو کې د ځمکنيو او سمندري جګړو د حقوقو او مقرراتو د تدوين غونډې جوړې شوې.

دا هغه بېلګې وې چې د نړيوالو يا سيمه ييزو ستونزو د حل له پاره، د څو يا ډېرو هېوادونو د هڅو او غونډو ارځښت څرګندوي. د سيمه ييزه او نړيوالو ټولنو جوړېدو او پراختيا، ورو – ورو د پخوانيو دوه اړخيزه سياسي تګلارو په ځای، د څواړخيزه او نړيوالو تګلارود بريااليتوب سره مرسته وکړه او په سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او پوځي برخو کې يې د راز – راز ټولنو جوړېدو ته لار پرانسته چې په ځينو کې، د دولتونو استازو برخه درلوده او ځينې بيا خصوصي وي.

## الف – نړيوالې خصوصي ټولنې:

دا غيردولتي ټولنې د افرادو او صنفي ډلو له خوا، د خپلو ګټو خوندي ساتلو له پاره جوړې شوې. دې خلکو هغه وخت دا خبره کوله چې نړېوالې ګټې د ولسونو او ډلو په پرتله، ډېر ارځښت لري او بايد داسې اصول جوړ شي چې هم د افرادو او صنفي ډلو ګټې وساتي او هم د ولسونو او نړيوالو حقوق خوندي کاندي. دولتونو په دې ټولنو کې غړيتوب نه درلود؛ خو د علمي، ټولنيزه، فرهنګي او مذهبي برخو صنفي ډلی په دې کار کې خورا فعاله وې. د همدې ټولنو اصولو او جوړښتونو وروسته د بين الدولتي نړيوالو ټولنو جوړېدو ته لار پرانسته.[٥] په داسې حال کې چې پخوا د نړيوالو ټولنو جوړېدن ځانګړی اصول نه درلودل؛ خو د نويو خصوصي ټولنو په جوړېدو ځينې اصول منځ ته راغلل، د مثال په توګه دا ټولنې د اوږدې مودې له پاره جوړېدې، ثابته دارالانشا يې درلوده، غونډې يې منظمې وې، خپلمنځي ګډ کار پکې پياوړی و او حتی کله نا کله يې چارواکو، شخصيتونو او حتی عادي خلکو ته هم د ګډون اجازه ورکوله.

په کال ۱۸۴۰ کې د مرېيتوب (غلامي) په ضد د مبارزې په نړيواله غونډه کې، يو کمېسيون تصويب شو او د مرېيو د خرڅلاو ضد نړيواله ټولنه The World Anti Slavery Organization جوړه شوه چې دا د بشري حقونو د ملاتړ په برخه کې، د خصوصي ټولنو لويه لاس ته راوړنه شمېرل کېږي.

له دې وروسته تر کال ۱۹۱۴ يا د لومړی نړېوالې جګړې تر پيله پورې، څه باندې ۴۰۰ خصوصي ټولنې او بنسټونه جوړ شول چې هر يو خپل ځانګړي اهداف درلودل، لکه:

- د سره صليب نړيواله کمېټهIntl. Committee of Red Cross ، ۱۸٦۳،

---

[٥] . سازمانهای بين المللی، کتور محمد غفوری، ص ۲۰ – ۲۱

- بین الپارلمانی ټولنهInter-Parliamentary Union ، ۱۸۷۳،
- د کرنیزه توکو د مولدینو نړیوال فدراسیون،
- د کار د خاوندانو نړیواله ټولنه،
- د سوداګریزه ټولنو نړیوال فدراسیونIntl.Federation of Commerce Unions ،
- د آزادو سوداګریزه ټولنو نړیوال کنفدراسیونIntl.Federation of Free Trade Unions ،
- د مدافع وکیلانو نړیواله ټولنه،
- د ادبیاتو او هنرونو ټولنهIntl. Literary and Artists Association ،
- د سوداګرۍ نړیواله خونهIntl. Chamber of Commerce ، ۱۹۱۹،

د دې ټولنو چټک پرمختګ په کال ۱۹۱۰ کې، د هغه عمومي ټولنې جوړېدو ته لار اواره کړه چې د نورو سیمه ییزه او نړیوالو ټولنو د فعالیتونو د همغږۍ او د چارو د سمون مسوولیت یې په غاړه واخست او هغه کمکیو یا منځنیو سیمه ییزه یا نړیوالو خصوصي ټولنو ته یې، غړیتوب ورکاوه چې لاندې شرایط یې درلودای:

۱. د یو دایمي ارګان شتون،
۲. عمومي ګټو ته پاملرنه،
۳. ټولو هېوادونو او اشخاصو ته د غړیتوب ورکول.

له دې وروسته د دولتونو او پاسنۍ عمومي ټولنې د ګډ کار له امله، داسې نورې ټولنې جوړې شوې:

- د علمي ټولنو نړیواله شوریInternational Council of Scientific unions ،
- د مدیترانې سمندرګي د علمي پلټنو نړیوال کمېسیون International Commission for the Scientific Exploration of the Mediterranean Sea،
- د احصائیې نړیوال انستیتوتInternational Statistical Institute ،
- د روغتونونو نړیوال فدراسیونInternational Hospitals Federation ،

پوهان لیکي چې هغه وخت د خصوصي ټولنو بریاوې د دولتونو په ملاتړ پورې تړلې وې، او د داسې کارونو په هکله به هوکړې کېدې، چې ګټه یې خلکو او دولتونو دواړو ته رسېده. د مثال په توګه د سره صلیب نړیواله کمېټه چې د ژنیو کنوانسیون له مخې یې کار کاوه، یا د سمندري چارو نړیواله کمېټه چې په سمندرونو کې د خوندي ژوند د کنوانسیون په بنسټ جوړه شوې وه، ځینې خصوصي ټولنو خو حتی د دولتي ټولنو له جوړېدا سره هم مرسته وکړه لکه

- د اوزانو نړیواله کنګره، پاریس، ۱۸۷۵. دی کنګری د اوزانو او اندازو نړیواله بیرو Intl.Bureau of weights and measures( BIPM) جوړه کوه.
- متریک ټولنهMetric Union ، ۱۸٦۷،
- له کارګرو څخه د ملاتړ قانوني ټولنهAssociation of the legal protection of labour ،
- د کار نړیواله ټولنهInternational Labour Organization ،

- د هنرونو او ادبیاتو نړیواله ټولنهIntl. Literary and Artist's Association
- د ادبي او هنري مالکیت نړیوال دفتر International Bureau of Library and Artistic Property .[٦]
-

## ب - نړیوالې عمومي ټولنې:

د دولتونو تر منځ د همکاریو ډېرښت او د نړیوالو خصوصي ټولنو بریالیتوبونو، په نړیوالو مسایلو کې د دولتي ټولنو اړتیا ډیره کړه. هغه مسایل چې پخوا به د خصوصي ټولنو په چوکاټ کې مطرح کېدل، وروسته د دې ټولنو په فعالیتونو کې شامل شول. دا هغه ټولنې وې چې د یو شمېر هېوادونو او دولتي کړیو په ګډه مرسته، د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو له مخې جوړې شوې.[٧]

د ۱۹ پېړۍ په دویمه نیمایي کې، د اطلاعاتو د خپرېدا له پرمختګ سره جوخت، په بېلابېلو ډګرونو کې ډېرې غونډې جوړې او ګڼ شمیر تړونونه لاسلیک شول او ډېرې داسې نړېوالې ټولنې منځ ته راغلې چې مسلکي او دایمي وې. له دې وروسته نړیوالو ټولنو په نړیوالو اړیکو کې خپل وړ ځای او دریځ وموند او ډېر هغه مسایل به چې پخو،ا د خصوصي ټولنو له خوا په مخ وړل کېدل، د نړیوالو ټولنو په کړنلارو کې ځای په ځای شول.

په کال ۱۸۱۵ کې د دې اړیکو د ډېرې پراختیا او ټینګښت له پاره، د ویانا کنګرې د راین کمېسیون Rhine Commissionجوړ کړ، چې هم یې تقنیني واک درلود او هم یو قضایي ارګان و.

د دانیوب سیند اروپایي کمېسیون European Commission for Danube هم د راین کمېسیون په شان، اداري او تقنیني څانګې درلودې چې مالي لګښتونه یې د دانیوب سیند د حق العبور له عوایدو څخه برابریدل او کارکوونکو یې ډیپلوماتیک خوندیتوب درلود.

له کال ۱۸۱۹ څخه وروسته د مسوولیتونو له پراخېدو سره سم، د کمېسیون واک تر بر دانیوب پورې وغځېد او د (دانیوب نړیوال کمېسیون) ونومول شو.

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې له دې مخکې البElbe ، دورو Dourou ، پو Po او پروت Pruth نړیوال کمېسیونونه جوړ شوي وو چې محدود واکونه یې درلودل.

په کال ۱۸۴۰ کې په برتانیا کې پستي تکت دود (رایج) شو. وروسته – وروسته نورو هېوادونو هم پستي ټکتونه خپاره کړل. په کال ۱۸۷۸ کې د پست نړیواله ټولنه Universal Postal Union جوړه شوه چې یو ډول سمبولیک نړیوال پیوستون یې ښوده. دې ټولنې یو دایمي دفتر درلود او په هرو پنځو کلونو کې یې یو ځل خپله کنګره بلله.

د اورګاډو د لیکو غځول هم د نړیوالو او سیمه ییزو همکاریو یو مهم عامل دی او په دې برخه کې ګڼ کنفرانسونه جوړ شول.

---

[٦] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۵ – ۶.
[٧] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲.

په کال ۱۸۹۰ کې د اورګادی د لېږد- رالېږد نړیواله ټولنه جوړه شوه چې یوه اجراییوي څانګه یې درلوده. دی ټولنی د قانون جوړولو واک نه درلود او ټولې پرېکړې یې د منظمو کنفرانسونو له لارې کېدې[۸].

په کال ۱۹۰۳ په پاریس کې د عامې روغتیا نړیوال دفتر پرانیستل شو چې د اوسني WHO په څېر یې ډېر واکونه درلودل.

په اقتصاد کې د چاپ، شکرې او کرنې نړیوالی ټولنی یادولای شو.

پورتنې ټولنې او جوړښتونه له تاریخي پلوه، د اوسنیو نړیوالو ټولنو د جوړېدو پیلامه ګڼل کېږي، لکه د ملتونو ټولنه چې د نړۍ ډېر هېوادونه یې غړي وو او د سترو اهدافو له پاره جوړه شوه[۹].

په دې توګه تر کال ۱۹۱۴ پورې ۵۰ ټولنې منځ ته راغلې. د ځمکني او سمندري ترانسپورت پراختیا دا راز اړیکې نورې هم ژورې کړې او د رښتیانیو نړیوالو ټولنو یعنې لویو ټولنو جوړېدا ته لار اواره شوه؛ خو له دې ټولو سره – سره تر هغه وخته پورې، داسې نړیوالې ټولنې نه وې جوړې شوې چې د ډیرو یا ټولو ولسونو یا هېوادونو یا دولتونو موخې، په یوه کړنلاره کې غونډې کړي. د ټولو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي ګټې په مساوي توګه په پام کې ونیسي، خپل ناپېیلتوب وساتي، خپلواکه څېړنې وکړي، د منځګړیتوب واک ولري، نړېوالې مرستې وهڅوي، نړیواله همغږي پیاوړي کړي او د شخړو او احتمالي جګړو مخه ونیسي.

په شلمه پېړۍ کې دا هیله پوره شوه او د یوې لویې نړیوالې ټولنې د جوړېدا له پاره، اساسي ګامونه پورته شول. د لومړی نړیوالې جګړې درنو انساني او مادي زیانونو، د ولسونو ټولنې League of Nations جوړېدو ته لار پرانسته چې د نړیوالو جوړښتونو په تاریخ کې د عطف یو پړاو باله شي او لومړنې خپلواکه نړیواله ټولنه ده.[۱۰]

## ج: نړیوالې ټولنې څه شی دي؟

نړیوالې ټولنې هغه جوړښتونه دي چې د ټولو نړیوالو ستونزو د حل له پاره، د نړۍ د ټولو هېوادونو د ټولېدو او جرګې وړتیا لري. داسې ټولنې ډېر واکونه لري او له همدې امله د هغه ټولنو څخه جلا کېږي چې تخصصي وی. په دې توګه نړیوالې ټولنې په دوو برخو وېشل کېږي: هغه ټولنې چې عام واکونه لري او هغه ټولنې چې ځانګړي واکونه لري.

د داسې نړېوالو ټولنو د جوړېدو لومړنې هڅې، د لومړی نړېوالې جګړې په پای کې پیل او د ولسونو ټولنه جوړه شوه. له دې مخکې هېڅ داسې ټولنه نه وه چې په رښتیانی مانا دې نړیواله او د بشپړ حقوقي شخصیت خاونده وي[۱۱]

---

[۸] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۶.
[۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۷.
[۱۰] سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۲۱ – ۲۳.
[۱۱] سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۶۳.

**هغه نړېوالې ټولنې چې عام واکونه لري:**

# دویم څپرکی

## الف - د ولسونو ټولنه

**د جوړېدو اړتیا:**

د ځواکونو د انډول سیستم، چې په ۱۷ پېړۍ کې، (وستفالې) تړون منځ ته راووست، د نړیوالو اړیکو په تاریخ کې یو نوی گام و چې دری پېړۍ په اروپا واکمن پاته شو؛ خو په همدې موده کې هم، اروپایي هېوادونو خپلې بهرنۍ گټې د سیاسي ډلگیو د جوړولو او تړونونو له لارې، په کمزوره هېوادونو تپلې. له همدې امله د ځواک انډول یا په بله ژبه په داسې یوه فدراسیون کې د ټولو دولتونو یووالی، چې مشرتوب یې د سترو ځواکونو په غاړه وي؛ له ستونزو او وینو پرته خوندي نه پاته کېده. په تېره بیا هغه وخت چې د ځواک انډول نوی مانا ومونده او ځواکمنو هېوادونو پراختیا غوښتنه روا وبلله، په پولنډ یې یرغل وکړ او هغه یې پخپلو مینځونو کې ووېشه، په نړۍ کې نوی سیاسي ستونزې وزېږېدې او د لومړې نړیوالې جگړې توپان په خوځیدو شو[۱۲].

په هر صورت له کال ۱۹۱۴ څخه مخکې هم، داسې هڅې شوې وې چې د نړیوالو لانجو د سوله ییز حل اصول پیاوړي کاندی. لکه چې د (لاهه) د سولې په غونډه کې د جگړې د مخنیوي له پاره، د ډله ییزه همکاریو امید منځ ته راغی. ځینې کسان همدا هڅه د یوې نړېوالې ټولنې د جوړېدو بنسټ بولي؛ خو پخوانیو غونډو د سیاسي مسایلو د حل دنده نه درلوده او د سترو ځواکونو تر مینځ د یوې نړیوالې ټولنې د جوړېدو له پاره هېڅ هوکړه نه وه شوې. ان تر دې چې د (قضاوت نړېواله محکمه) چې په کال ۱۸۹۹ کې، د نړېوالو لانجو د سوله ییز حل له پاره جوړه شوی وه او څو قاضیان یې درلودل چې د اړتیا په وخت کې به، د منځگړیتوب (حکمیت) له پاره غونډېدل، هیڅکله په یوه رښتیانی محکمه بدله نه شوه.

که څه هم چې (لاهه) غونډې ته د یو سوله ییز ارمان په سترگه کتل کېږي؛ خو د وروستیو غونډو بهیر او تړونونو وښوده چې هېوادونو، د اړتیا په وخت کې د جگړې حق ځان ته خوندي ساته او د لانجو حل د دواړو خواوو موافقی یا هوکړی ته اړتیا درلوده (د دریمگړي هېواد د حکمیت په وخت کې)، له همدې امله د (لاهه) د سولې ژمنلیک، په کال ۱۹۱۴ کې د بحران مخه ونه نیوه او لومړي نړېواله جگړه پیل شوه.

همدا شان د ویانا کنگرې او د اروپا د همغږی سیستم، په نړۍ کې د سولې د ساتلو وس نه درلود. دې دواړو تر کال ۱۹۱۴ پورې د نړیوالو جگړو د پېښېدو مخه نیولې وه؛ خو د لومړې نړیوالې جگړې پېل د کنگرې ماته په ډاگه کړه. د جگړې په څلور کلنه موده کې د برتانیا او فرانسې په شان هېوادونو، چې د جگړې اور ډېر زیانمن

---

[۱۲] سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۶۴-۶۳.

کړی وو، هم د جګړې د پای ته رسولو هڅه کوله او هم یې په نړۍ کې د بلې جګړې د پېښېدو له پاره د محدودیتونو په وضع کولو ټینګار کاوه[۱۳].

په کال ۱۹۱۵ کې په فلادلفیا (امریکا) کې، د League to Inforce Peace یا سولې ته د هڅونې ډلې کار پېل کړ چې د امریکا متحده ایالاتو پخوانی ولسمشر ویلیم هوارد تافت William Howard Taft یې شا ته ولاړ و.[۱۴]

په کال ۱۹۱۸ کې لومړې نړېواله جګړه پای ته ورسېده. له همدې امله امریکا متحده ایالاتو او یو شمېر اروپایي هېوادونو، هغه لومړنۍ هڅې بیا پېل کړې چې د نړیوالې سولې د ټینګښت او د امن د خوندیتابه له پاره، یو څه عملي اقدامات وکړي. د (ورسای) او په ۱۹۱۹ او ۱۹۲۰ کلونو کې د سولې نور تړونونه لاسلیک شول. د پاریس د ۱۹۱۹ غونډې څخه دوه میاشتې وروسته، د ولسونو ټولنې کړنلاره (میثاق) تصویب شوه چې د (ورسای) ژمنلیک په لومړې برخه کې یې یادونه شوې وه.

**د ولسونو ټولنې د جوړېدو له پاره طرحې:**

د ولسونو ټولنې د جوړېدو په درشل کې امریکا، برتانیا، فرانسې او جنوبي افریقا خپلې طرحې وړاندې کړې چې لنډیزونه یې دلته وړاندې کیږي:

**۱ – امریکا:**

په امریکا کې د ټولنیزو مصلحانو ټولنې، په کال ۱۹۱۵ کې د سولې کلکې هڅې پېل کړې. دوی ځانونه د سولې د پلویانو ټولنه بلله او طرحه یې سولې ته هڅونه نومېده. د امریکا متحده ایالاتو پخوانی ولسمشر ویلیام هوارد تافت په دې سیاسي خوځښت کې ستره ونډه درلوده. دې طرحې څلور برخې درلودې:

- د نړېوالې محکمې له خوا د حقوقي لانجو حل،
- منځګړیتوب شوری ته د غیرحقوقي مسایلو وړاندې کول،
- د نړېوالې محکمې او د منځګړیتوب شوری د پرېکړو د عملیتوب له پاره اجراییوي ضمانتونه،
- د نړیوالو حقوقو په برخه کې د قانون جوړولو او بیا کتنې د کنګرې جوړېدل .[۱۵]

د امریکا متحده ایالاتو د وخت ولسمشر، وودرو ویلسن Woodrow Wilso ، په لومړي سر کې له دې بهیر سره د ګډ کار لیواله نه و؛ خو د کال ۱۹۱۷ په جنوري کې یې، د امریکا سنا ته په خپله وینا کې د ګډ امنیتي نظام د جوړولو له پاره، سولې ته د هڅونې ډلې ننګه وکړه او د کال ۱۹۱۸ په جنوري کې یې کنګرې ته خپل ۱۴ ماده ییز وړاندیزونهمخکې کړل. ویلسن د دې وړاندیزونو په څوارلسمه ماده کې، د ولسونو د یوې عمومي ټولنې د جوړېدو یادون کړی و چې د لویو او کوچنیو هېوادونو ځمکني او سیاسي خپلواکي وساتي.

---

[۱۳] سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۶۵.
[۱۴] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۴۵ او نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۲۸
[۱۵] سازمانهای بین المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۶۵ – ۶۶.

دا ماده وايي: بايد د رسمي تړونونو له مخې، د ولسونو داسې يوه ټولنه جوړه شي چې هدف يې د سترو او کوچنيو هېوادونو د سياسي خپلواکئ او ځمکنئ بشپړتيا ساتل او تضمين وي.[١٦]

د متفقينو مشرانو د ښاغلي ويلسن اصول، له کمکيو سمونونو او بدلونونو وروسته ومنل او ژمنه يې وکړه چې د نړېوالې سولې او امنيت د ټينګښت له پاره، د يوې نړېوالې ټولنې جوړول، په خپلو لومړيتوبونو کې ونيسي. [١٧]

**٢ – برتانيا:**

بريتانيا لومړنی دولت و چې په کال ١٩١٨ کې يې د ولسونو ټولنې د طرحې د جوړلو له پاره، د لارد فيليمور Lord Phillimoreپه مشری د مورخينو، حقوق پوهانو او ديپلوماتانو يوه ډله جوړه کړه. د لارد فليمورد ډلې د امريکا متحده ايالاتو هغه طرحه بډايه کړه چې د ولسمشر ويلسن لوی سلاکار E.M.House برابره کړې وه. د نوې طرحې له مخې ( د ولسونو د يووالی ټولنه League of Nations Society ) ، يوازی د لومړې نړېوالې جګړې بريالیو دولتونو، د دې ټولنې په جوړولو کې برخه اخستې شوای او د بريالیو هېوادونو د سفيرانو دايمي کنفرانس بلل کېده.

د امريکا ولسمشر وودرو ويلسن د همدې کال په وروستنې مياشت کې، لومړی فرانسې او بيا نورو اروپايي هېوادونو ته لاړ او د يوې ټولنې د جوړېدو په هکله يې، د دې هېوادونو له مشرانو سره د امريکا او برتانيا د طرحو په هکله خبرې کړې . [١٨]

**٣ – فرانسه:**

فرانسې په کال ١٨٧٠ کې له جرمني څخه د جګړې ماته او زيانونه، ځان ته تاريخي پېغورونه بلل او غوښتل چې د جرمني پوځي ځواکمني محدوده او د فرانسې ملي ګټې خوندي کړي.

**۴ – جنوبي افريقا:**

فرانسې او اروپا ته د امريکا متحده ايالاتو د ولسمشر ښاغلي ويلسن له سفر څخه لږ وروسته، د جنوبي افريقا جنرال جان کريستن اسموت Jan Christin Smoth په خپل وړانديز کې، د فرانسې او برتانيا په خلاف د داسې يوې ټولنې د جوړېدو وړانديز وکړ، چې د ټولو دولتونو له خوا جوړه شي او ټول هېوادونه پکې غړيتوب ولري. که څه هم چې دې نظر ډېر پلويان وموندل؛ خو د سولې په غونډه کې د امريکا متحده ايالاتو وړانديز، چې د برتانيا د پروګرام له مخې برابر شوی و، د ولسونو ټولنی د ميثاق په توګه مطرح شو(١٩١٩ د جنوري د ١٨). دا وړانديز د اپريل په ٢٨ د سولې د غونډې په وروستی ناسته کې تصويب شو او په دې توګه د ولسونو ټولنه مينځ ته راغله.[١٩]

---

[١٦] سازمانهای بين المللی، دکتور محمد غفوری، ص ۶۶.
[١٧] نړيوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ٢٨.
[١٨] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۴۵
[١٩] سازمان های بين المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۶٨

**د ولسونو ټولنی جوړیدل:**

هغه وخت چې د ولسونو ټولنې جوړېدل تصویب شول، یوه اونۍ وروسته، جوړونکي ډلې یا کمېټې، اریک دراموند Eric Drummond د ټولنې د لومړني منشي په توګه وټاکه. له هغه ځایه چې د ولسونو ټولنې کړنلاره او تړون د وارسا تړون یوه برخه وه، د ولسونو ټولنې رسمي پرانیسته اته میاشتې وځنډیده او د کال ۱۹۲۰ د جنورئ په لسمه اجرایي شوه .[۲۰]

**د ولسونو ټولنی اهداف:**

د ولسونو ټولنې کړنلارې (میثاق) د دې ټولنې له پاره دا اهداف په پام کې نیولې وو:

۱. د نړېوالې همکاری پراختیا،
۲. د نړېوالې سولې او امنیت ټینګول،
۳. د دولتونو ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي ته درناوی،
۴. د بې وسلې کولو په برخه کې اقدام،
۵. د دولتونو تر مینځ د حقوقي لانجو د غوڅولو له پاره، د نړېوالې محکمې جوړېدل،
٦. د عثماني او جرمني دولتونو د پخوانیو سیمو او مستعمراتو د چارو له پاره د قیمومیت سیستم برابرول،
۷. د نړېوالې سولې له ټینګولو سره د مرستې د پاره، د نړېوالو ټولنو تر مینځ د همغږۍ رامینځ ته کول،
۸. د مذهبي او نژادي لړکیو د حقوقو خوندیتوب،
۹. د روغتیا، مالي چارو، اقتصاد او اړیکو په برخه کې د بېلابېلو ټولنو جوړول،
۱۰. له هغه هېوادونو سره مرسته چې په یرغلونو کې زیانمن شوي دي[۲۱].

**د ولسونو ټولنی غړیتوب:**

دا ټولنه د ټولو خپلواکه دولتونو د استازو نړېواله ټولنه وه؛ خو د اساسنامې له مخې هر دولت، دومنیون او کورواکه مستعمرې غړیتوب تر لاسه کولای شوای. له همدې امله د کامنویلت هغه هېوادونه، چې نړېوال حقوقي شخصیت یې نه درلود، لکه کانادا، استرالیا، نیوزیلند، جنوبي افریقا او هندوستان (کورواکه مستعمره) په بېل نامه؛ خو د اصلي غړو په توګه ومنل شول. د دې هېوادونو د غړیتوب له پاره، د ټولنې د عمومي غونډې د ٦٦.٦%غړو خوښه ضروري وه او دې هېوادونو هم باید دا په روښانه ټکو منلې وای چې نړېوال تړونونه به د زړه د نیته عملي کوي او د سمندري، هوایي او ځمکنیو پوځونو او وسلو په برخه کې به د ټولنې مقررات مني .[۲۲]

سلطنتي ایرلند هم د دې ټولنې غړی شو. په ځینو مواردو کې ټولنې نویو غړو ته شرطونه ایښودل. لکه هنګري ته یې وویل چې نور به د هابسبورګ کورنۍ ته په پاچایي کې ونډه نه ورکوي او د وسلو سوداګرۍ به بندوي او یا یې په ایتوپیا (حبشه) شرط کېښود چې مریيتوب (غلامي) لغو اعلان کړي.

---

[۲۰] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۳۰-۲۹
[۲۱] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۶۸
[۲۲] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۶۸

د ولسونو ټولنې همداراز ځینې کمکي هېوادونه لکه موناکو، سان مارینو او لیختن شتاین د غړو په توګه ونه منل.

د ولسونو ټولنې په همغه لومړي پېل کې دوه ډوله غړي درلودل:

لومړی بنسټ اېښودونکي غړي: دا د جګړې ملګري ګډون وال یا متففقین وو چې د سولې ژمنلیکونه یې لاسلیک او تصویب کړل. له همدې امله امریکا متحده ایالات، د (ورسای) سولې تړون د نه تصویب له امله، د ولسونو ټولنې غړي نه شو او یا د (ورسای) تړون په منلو کې ځنډ، د ځینو هېوادونو د غړیتوب د خنډ عامل وګرځید لکه چین (د ۱۹۲۰ د جون ١٦) او اکوادور (د ۱۹۳۴ د سپتمبر ۲۸).

دویم په جګړه کې ناپېیلی هېوادونه چې (ورسای) تړون یې نه و لاسلیک کړي؛ خو نومونه یې د کړنلارې په ضمیمه کې راغلي وو. دې هېوادونه ته دوه میاشتې وخت ورکړ شوی و چې د غړیتوب غوښتنلیک وړاندې کړي. د ولسونو ټولنې په کال ۱۹۲۰ کې د ۴۱ غړو په درلودلو سره کار پېل کړ.[۲۳]

دا شمېره د دوهمې نړېوالې جګړې په پېل کې ۵۴ شوه او نور هېوادونه هم د ولسونو ټولنې غړي شول:

په کال ۱۹۲۰ کې البانیا، استریا، بلغاریا، فنلند، کوستاریکا، لوکزامبورګ راغلل. یو کال وروسته استونیا، لاتویا او لیتوانیا غړیتوب واخیست او دا لړۍ داسې اوږده شوه: هنګري (۱۹۲۲)، حبشه (وروسته ایتوپیا) او ایرلند (۱۹۲۴)، دومینیکن (۱۹۲۴)، جرمني (١٩٢٦)، مکسیکو (۱۹۳۱)، ترکیه او عراق (۱۹۳۲)، افغانستان، شوروي اتحاد او اکوادور (۱۹۳۴) او مصر (۱۹۳۷) .[۲٤]

تر کال ۱۹۳۹ پورې ځینې هېوادونه له ټولنې څخه ووتل. لکه جاپان چې په ۱۹۳۳ کې له منچوریا څخه، د پوځونو د ایستلو په هکله د ولسونو ټولنې د عمومي غونډې پرېکړه ونه منله او ټولنه یې پرېښوده، یا نازي جرمني چې د همدې کال په اکتوبر کې، له نورو هېوادونو سره د خپلو حقونو د نه برابروالي په توسن، د ولسونو ټولنه او د بې وسلې کولو نړیواله دواړه غونډه پرېښودل. په کال ۱۹۳۴ کې د ولسونو ټولنې، په حبشه (ایتوپیا) باندې د ایتالیا د یرغل په وخت کې خوله پټه ونیوه او همداراز شوروي اتحاد د دسمبر په میاشت کې، په فنلنډ باندې د یرغل په توسن خپل غړیتوب له لاسه ورکړ؛ له همدې امله د ټولنې د ټولو غړو شمېر ۴۴ ته ټیټ شو[۲۵].

---

[۲۳] دا هېوادونه په الفبایي ترتیب دادي: ارجنتاین، اسپانیا، د جنوبي افریقا اتحاد، السلوادور، لویه برتانیا، استرالیا، یوروګوای، ایتالیا، برازیل، بلجیم، بولیویا؛ د صربانو، کرواتانو او سلووینیانو پادشاهی چې وروسته یوګوسلاویا ونومول شوه، پاراګوای، پارس (وروسته ایران)، پانامه، پرتګال، پیرو، چین، چکوسلواکیا، دنمارک، رومانیا، نیوزیلند، جاپان، سویدن، سویتزرلند، سیام (وروسته تایلند)، چیلی، فرانسه (د خپلواکه فرانسې غورځنګ)، کانادا، کولمبیا، ګواتیمالا، پولند، لایبریا، ناروی، نیکاراګوا، ونزویلا، هایتی، هالند، هند (په هغه وخت کې د پاکستان او بنګله دیش په ګډون)، هاندوراس او یونان.

[۲٤] fa.wikipedia.org

[۲۵] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۶۹

**نوي غړي:**

د ولسونو ټولنې کړنلارې د لومړۍ مادې په دویمه فقره کې راغلي و چې هر هېواد، دومینیون او مستعمره چې خپلواک حکومتونه ولري او په کړنلاره کې یې نومونه نه دي راغلي، کولای شي چې د کړنلارې په منلو سره غړیتوب ترلاسه کړي.

**د ولسونو ټولنه او افغانستان:**

د افغانستان او برتانیا تر منځ د ستونزو، شخړو او جګړو له امله، افغانستان د ولسونو ټولنې جوړونکې غونډې ته نه و بلل شوی. د کال ۱۹۲۱ د نومبر په ۲۲ برتانیا، په هند کې د برتانوي واکمنۍ له لارې د افغانستان بشپړه خپلواکي په رسمیت وپېژندله. په ۱۹۳۴ کې د افغانستان ځوان ټولواک، اعلحضرت محمد ظاهر شاه، په لندن کې افغان سفیر ته لارښوونه وکړه چې په دې ټولنه کې د خپل هېواد د غړیتوب له پاره هڅې پیل کاندي. د دې سفارت د زیار په پای کې، د ولسونو ټولنې د عمومي غونډې، د دسمبر په ۲٦ د افغانستان غړیتوب په ۴۷ رایو تصویب کړ. هېڅ هېواد منفي رایه نه وه ورکړې.[۲٦]

**د ولسونو ټولنی څخه وتل:**

د ولسونو ټولنې د کړنلارې له مخې غړیتوب په خپله خوښه و. کړنلارې د هېوادونو د وتلو په هکله هم فکر کړی و. د کړنلارې د لومړی مادې د دریمې فقرې سره سم، د ټولنې هر غړي هېواد کولای شوای چې د خپلو نړیوالو ژمنو د پوره کېدو په صورت کې له ټولنې څخه ووځي. داسې هېواد باید له وتو څخه دوه کاله مخکې ټولنې ته اطلاع ورکړې وای. هغه هېواد به چې د ټولنې غړیتوب له لاسه ورکاوه، ټول امتیازات یې سلب کېدل او د ولسونو ټولنې په وړاندې یې، د دریمګړي هېواد بڼه غوره کوله. هر وتلي هېواد بېرته د ټولنې غړیتوب ترلاسه کولای شوای. تر کال ۱۹۴۰ پوری برازیل، ایتالیا او چین د ولسونو له ټولنې څخه ووتل؛ خو دې هېوادونو کولای شوای چې له نورو نړېوالو ټولنو (د کار نړېواله ټولنه او د عدالت نړېواله محکمې) سره همکاري ولري.

داسې هېوادونه هم وو چې د ټولنې په غونډو کې یې ګډون نه کاوه. ځینو ګډون ونډې نه شوای ورکولای، لکه د لاتینې امریکا څو هېوادونه. له ټولنې څخه وتلو د دې ټولنې د عمومي غونډې تایید ته اړتیا درلوده؛ خو شل ځله داسې پېښ شول چې ناخوښ یا معترض هېواد به، د عمومي ټولنې له پرېکړې پرته له ټولنې څخه ووت[27].

**د ولسونو ټولنې څخه د غړو ایستل:**

د ټولنې د کړنلارې د ۱٦ مادې د ۳ فقرې له مخې، هر هغه هېواد چې نړیوال مقررات یې تر پښو لاندې کول، د ټولنې له غړیتوب څخه ایستل کیدای شوای. لکه شوروي اتحاد چې په کال ۱۹۳۹ کې په فنلند باندې د تیري له امله، د ټولنې له غړیتوب څخه وویستل شو؛ خو کله چې په کال ۱۹۳۵ کې ایتالیا په ایتوپیا (هغه وخت

---

[۲٦] fa.wikipedia.org

[27] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۴۸

حبشه) یرغل وکړ، د ولسونو ټولنې جدي غبرگون ونه ښود او ځان یې غلی ونیو. دې سیاست په نړیوالو مسایلو کې د ولسونو ټولنې دوه مخیتوب ښکاره کړ.[۲۸]

په نړیواله محکمه کې د غړیتوب شرایط بل ډول وو. د محکمې له اساسنامې سره سم، د غړیتوب پرېښودلو له محکمې څخه د وتلو مانا نه درلوده؛ خو که کوم هېواد پرېکړه کړې وای چې د محکمې غړیتوب پرېږدي، باید دا مسله یې په ډاگه اعلان کړې وای.

**چې خبره لنډه کړو:**

- هغه هېوادونه چې د ولسونو ټولنې له غړیتوب څخه وتلي وو، په نړیواله محکمه کې یې د نړیوالو حقونو او تړونونو سره سم، د دعوی د جوړولو حق درلود،
- دې هېوادونو په حقوقي دعواوو کې، د نړیوالې محکمې په مقرراتو استناد کولای شوای،
- داسی هېوادونو که د دوه اړخیزه هوکړو له مخې، په نړیواله محکمه کې د دعوی په اقامه مجبور شوي وای، کولای شوای چې د نوې هوکړې سره سم، د دعوی اقامې ته بدلون ورکړي .[۲۹]

**جوړښت (تشکیل) او واکونه:**

د ولسونو ټولنې درې اصلي اداره کوونکي ارگانونه، دوه بېلې څانگې او څو تخصصي بنسټونه او کمیسیونونه درلودل. اصلی اداره کوونکی ارگانونه:

**۱- عمومي ټولنه (مجمع) General Assembly**

عمومي ټولنه د ټولو غړو دولتونو له استازو څخه جوړه وه. هر هېواد دری اصلي استازي درلودل چې ټولو د یوی رایې حق درلود. ډېرو هېوادونو کار پوهان هم درلودل چې د ځانگړو مسایلو په څېړلو به بوخت وو. په ټولنه کې حقوقي مساوات و او ټول هېوادونه لکه په یو نړیواله شوری کې چې ټول شوي وي؛ خو ځینو سترو ځواکونو د خپل پوځي، سیاسي او اقتصادي ځواک په مټ له دریو ډېر استازي درلودل، د نړۍ د یو شمېر کوچنیو او منځنیو دولتونو په رایو یې واکمني کوله او د پرېکړو له پاره د آراوو اتفاق ته اړتیا وه.

ټولنې دوه ډوله غونډې درلودې: عادي او فوق العاده. عادي غونډې د هر کال د هر سپتمبر په لومړنی دوشنبه، یو ځلې جوړېدې او یوه میاشت وخت یې نیوه. هر هېواد باید کلنیو عادي غونډو ته ۳ – ۳ استازې استولي وای؛ خو ځواکمنو دولتونو به په دریو اصلي استازو سربېره د دریو علی البدل غړو، دریو مرستیالانو او یو شمېر کارپوهانو په استولو سره، د ولسونو ټولنې اصول تر پښو لاندې کول. فوق العاده غونډې په ځینو ځانگړي حالاتو کې جوړېدې[۳۰].

---

[۲۸] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۷۲

[۲۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۴۹

[۳۰] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۵۰ او fa.wikipedia.org

د ټولنې عادي او فوق العاده غونډې په ژنیو کې جوړېدې او چارې یې د رییسه هیات له خوا په مخ وړل کېدې. په رییسه هیات کې د ټولنې رییس، شپږو مرستیالانو او د شپږګونو کمیسونونو (حقوقي، مالي او اداري، ټولنیز او انساني، سیاسي، فني او وسلې) مشرانو برخه اخسته. هر هېواد په هر کمیسیون کې یو استازی درلود. د هر کمېسیون راپور به په علني غونډو کې وړاندې او د آراوو په اکثریت تصویب کېده. د خبرو ژبې انګلیسي او فرانسوي وې. دې عمومې ټولنې د خپل کار په وخت کې، د نړۍ څلور سترې ستونزې حل کړې:

- د چین او چاپان ستونزه، ۱۹۳۱ – ۱۹۳۳،
- د ایتالیا او حبشې لانجه، ۱۹۳۵ – ۱۹۳٦،
- د بولیویا او پاراګوای شخړه، ۱۹۲۸ – ۱۹۳۵،
- د روسیې او فنلند جګړه، ۱۹۳۹،

د عمومې ټولنې واکونه: د ولسونو ټولنې دې ارګان درې ډوله واکونه درلودل:

الف -- له شوری سره ګډ واکونه: د دې اصل له مخې ټولنې او شوری هر یو دا دندې په خپلواکه او جلا توګه سرته رسولی شوای:

- د نړېوال امنیت خوندیتوب او د سولې ساتنه،
- د عدالت له نړېوالې محکمې څخه د مشورتي نظر غوښتنه،

ب -- له شوری سره تړلي واکونه (د شوری او عمومي ټولنې هغه پرېکړې چې په ګډه کېدې):

- د کړنلارې (میثاق) سمون(اصلاح)،
- د شوری پراختیا،
- د عمومي منشي ټاکنه،
- د نړېوالې محکمې د قاضیانو ټاکنه،

ج -- ځانګړي واکونه:

- د ولسونو ټولنې له پاره د نویو غړو منل،
- د شوری د غیردایمي غړو ټاکنه،
- د نړیوالو تړونونو څار او ارزونه،
- د ټولنې د بودجې تصویب.

## ۲- اجرائیه شوریExecutive Council

د ولسونو ټولنې د کړنلارې له مخې، شوری د متفقینو او نورو هېوادونو څخه ۹ غړي درلودل. متفقین یا د لومړې نړیوالې جګړې ګټونکي (امریکا متحده ایالات، فرانسه، ایتالیا، برتانیا او جاپان) او څلور نور هېوادونه چې استازي یې د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېدل چې لومړې ډلې ته دایمي او دوهمو څلورو ته غیردایمي غړي

ویل کېدل؛ خو دا پرېکړه عملي نه شوه او د امریکا متحده ایالاتو کانګرس، په دې شوری کې د امریکا له دایمي غړیتوب سره مخالفت وښوده او په دې توګه د دایمي او غیردایمي غړو تر مینځ مساوات راغی. له کال ۱۹۲۱ څخه وروسته د شوری د غړو په شمېر کې بدلونونه راغلل. په شوری کې د غیردایمي غړو شمېر تر کال ۱۹۳٦ پوری ۱۱ ته ورسېد او د دایمي غړو په پرتله اکثریت شول. په دایمي غړو کې هم بدلونونه راغلل. جرمني په ۱۹۲٦ کې د ولسونو ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ؛ خو د ۱۹۳۳ په اکتوبر کې یې استعفی وکړه او په ۱۹۳۴ کې یې شوروي اتحاد ځای ونیو.

کله چې جاپان په ۱۹۳۵ او ایټالیا په ۱۹۳۹ کې استعفاوې وکړې، د شوری د دایمي غړو شمېر فرانسې او برتانیا ته محدود شو؛ له همدې امله د اسپانیا، پولند او برازیل په شان هېوادونو ته د بیا ټاکنې نیمه دایمي څوکۍ جوړې شوې، چې په هرو دریو کلونو کې یو ځل ټاکل کېدل. د پاسنیو دریو هېوادونو د بیا ټاکنې حق، دوی ته داسې دریځ ورکړ لکه دایمي چې وي. له دې وروسته د شوری د غړو شمېر ۱۵ ته ورسېد چې ستر ځواکونه پکې دایمي وو. شوری د ټولو له خوښې پرته هېڅ پرېکړه نه شي کولای او ټولو هېوادونو برابر حقوق او امتیازات لرل.

د شوری د کال ۱۹۲۰ د دسمبر د ۲۸، د پرېکړې له مخې د شوری د غړو هېوادونو نومونه د الفبې په ترتیب ولیکل شول او د هر هېواد استازی یو کال د شوری مشرتوب کاوه. مشر به یو نایب هم درلود.[۳۱]

د شوری دندې:

شوری د نړیوالې سولې د خوندیتابه په برخه کې، عمومي ټولنې یا مجمع ته ورته (مشابه) دندې درلودې؛ خو دا ځانګړې واکونه یې هم درلودل:

- د غیر دایمي غړو ټاکنه،
- د بې وسلې کولو عملي کول او د وسلو د کمولو طرحه،
- د قیمومت په سیستم څار،
- د نړېوالو لانجو سپړل او د مناسبو راپورونو برابرول،
- د نړېوالو لانجو په هکله سیاسي پرېکړې،
- د ډله ییز منځګړیتوب له لارې، د غړو او ناغړو هېوادونو تر مینځ د لانجو حل،
- د نړېوال قضاوت د سم اجرأ له پاره د لازمي تصامیمو نیول،
- د قضایي احکامو د مناسبې اجرأ له پاره، د سمو حلارو وړاندې کول،
- د کړنلارې د ۱٦ مادې له مخې د تنبیهاتو منظوري او اجرا،
- د لږکیو (اقلیت) ننګه (حمایت)،
- له نړیوالو دفترونو او کمیسیونونو سره مرسته،

[۳۱] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۷۴

- له ټولنې څخه د سرغړونکو هېوادونو ایستل .[۳۲]

د دې شورى لویې ځانګړتیاوې دا وې:

- د هېوادونو برابر دریځ،
- د ویتو حق نه و او د شورى ټولو غړو هېوادونو بشپړه حقوقي برابري درلوده،
- ټولو غړو ته له شورى څخه د وتلو لار پرانستې وه،
- له کړنلارې سره سم شورى د هېوادونو په کورنیو چارو کې د لاسوهنې حق نه درلود،
- هغه هېوادونو چې د دې شورى غړیتوب نه درلود، کولای شوای د اړتیا په وخت کې د شورى په غونډو کې برخه واخلي .[۳۳]

## ۳ -- دارالانشا:

د کړنلارې د ٦ مادې له مخې، دارالانشا د ولسونو ټولنې دایمي اداره وه چې مرکز یې په ژنیو کې و او دا دندې یې درلودې:

- د ټولو نړیوالو مسایلو په هکله د اطلاعات ټولول، چاپ او په ټولو دولتونو د هغه وېش،
- د عمومي ټولنې یا مجمع او شورى د غونډو د کړنلارو برابرول،
- د دولتونو تر مینځ د ژمنو ټولول او د ولسونو ټولنې غړو ته د هغو استول.

د ولسونو ټولنې لومړنی منشي برتانوي سر اریک دروموند Sir Eric Drummond و چې د کړنلارې د لاسلیک کوونکو هېوادونو په خوښه په دې دنده ټاکل شوي و. دی تر کال ۱۹۳۲ پورى په دې دنده پاته شو. بیا شورى د ده مرستیال فرانسوى جوزف اونول Joseph Avenol د لسو کلونو له پاره په دې دنده وګوماره. راتلونکي منشیان به چې په عین حال کې د عمومي ټولنې یا مجمع او دې شورى مشري یې هم کوله، د شورى له خوا د اکثریت په خوښه ټاکل کېدل. منشي جوزف اونول د کال ۱۹۴۰ د اګست په ١٦ د جرمني لخوا د فرانسې د نیولو په اعتراض کې، استعفى وکړه او ځای یې ایرلنډي شون لسټر Sean Lester ونیوه چې د ولسونو د ټولنې تر ړنګېدو پورې د منشي په توګه پاته شو)١٩٤٦(

د ولسونو ټولنې منشي یو نایب، درى مرستیالان او د پنځلس ګونو اداري څانګو له پاره مشران درلودل او بودجه به دارالانشا برابروله .[۳٤]

---

[۳۲] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۷۵
[۳۳] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۵۲
[۳٤] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۵۲

## ۴- بېلې څانګې:

هغه اداري چې د ولسونو ټولنې له کړنلارې څخه بهر جوړې شوې وې؛ خو خپلې چارې یې خپله سرته رسولیاو وروسته له ټولنې سره یو ځای شوې، لکه د کار نړېواله ټولنه او د عدالت نړېواله محکمه.

د عدالت نړیواله محکمې چې په کال ۱۹۲۲ کې په (لاهه) کې جوړه شوه، ۱۵ قاضیان درلودل چې په وار د غړو هېوادونو د قاضیانو له مینځه، د نهو کلونو له پاره ټاکل کېدل. دې قاضیانو دیپلوماتیک خوندیتوب (مصؤنیت) او امتیازونه درلودل. دې محکمې له هېوادونو څخه خپلواکه کار کاوه؛ خو هېوادنو ته یې د قضایي واک منل حتمي نه و. هغه هېوادونو چې د محکمې غړیتوب نه درلود، هم دې محکمې ته مراجعه کولای شوای؛ خو شرط یې دا و چې د محکمې پرېکړه به مني. محکمې د هېوادونو تر مینځ لانجې څېړلې؛ خو د دولتونو د موافقې په صورت کې یې د اتباعو لانجې هم غوڅولې.

په هغه وخت کې چې دا محکمه فعاله وه، اروپایي هېوادونو خپلې لانجې ورته وړاندې کولې. کله چې د ولسونو ټولنه ړنګه شوه، د ملګرو ملتونو United Nations عمومي ټولنې، د ولسونو ټولنه لغو وبلله او د خپل کړنلارې (منشور) د ۹۲ مادې له مخې یې یوه نوی محکمه جوړه کړه (۱۹۴٦ د اپریل ۱۸) .[۳۵]

## ۵-- تخصصي بنسټونه او کمیسیونونه:

دا هغه دایمي یا لنډمهاله اداري دي چې د شوری تر پاملرنه لاندې یې کار کاوه، لکه: د روغتیا ټولنه، د قیمومیتونو کمیسیون، د نړیوالو فرهنګي همکاریو کمېټه(وروستهUNESCO )، د تریاکو دفتر، د پناه غوښتونکو کمیساري، د مرییو( غلام- برده) کمېټه او د ښځو د قانوني دریځ د مطالعې کمېټه.

**د ولسونو ټولنې نېمګړتیاوې:**

الف – د بشپړ عدالت نشتوالی. له جرمني سره (ورسای) تړون او د سولې نورو ژمنلیکونو، لومړی نړېواله جګړه پای ته ورسوله. په دې ژمنو کې د ولسونو ټولنې د کړنلارې یادونه شوې وه؛ خو په عمل کې د جګړې بریالیو ځواکونو، له جرمني سره ډېره بې عدالتي وکړه.

ب – د عمومي ټولنې او شوری په واکونو کې ناڅرګندوالی (ابهام). د سولې او نړېوال امنیت په برخه کې د عمومي ټولنې او شوری واک (اختیار) څرګند نه و (دا د دواړو ګډ صلاحیت بلل کېده) او په کړنلاره کې هم د عمومي ټولنې او شوری واکونو ډېر وضاحت نه درلود.

ج – د رایې ستونزه. په عمومي ټولنه او شوری کې د پرېکړو په وخت کې، د آراوو اتفاق نړېوالې سولې ته ستونزې پېښولای شوای او د ولسونو ټولنه یې د پرېکړو په وخت کې عملاً فلج کړې وه. د (ویتو) حق هر پرېکړه له ناکامې سره مخامخ کوله؛ ځکه (ویتو) د واک او ځواک د خاوندانو (حق) بلل شوی و!

---

[۳۵] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۷۷

د – د نړۍ لوی ځواکونه لکه امریکا تر پایه او شوروي اتحاد او جرمني، تر یو وخته د ولسونو ټولنې غړي نه وو؛ خو په نړۍ کې مطرح ځواکونه بلل کېدل او د دوی له شتون پرته، ډېرې سیمه ییزه یا نړېوالې ستونزې نه شوای حل کېدای.

ذ – د غړو آسانه وتل. د ولسونو ټولنې هر غړی هېواد هر وخت له ټولنې څخه وتلای شوای.

ر – د ولسونو ټولنې پرېکړو اجرایي ضمانت نه درلود. دولتونو یا ولسونو دې ټولنې ته بشپړ اجرایي ځواک نه و ورکړی او پرېکړې یې سپارښتنو ته ورته (مشابه) وې. په کال ۱۹۳۰ کې ایتالیا د یونان (کورنو) ټاپو ونیو، په ۱۹۳۲ کې جاپان په منچوریا (چین) یرغل وکړ، په ۱۹۳٦ کې ایتالیا په ایتوپیا برید وکړ او جرمني په ۱۹۳۸ کې استریا او په ۱۹۳۹ چکوسکواکیا ونیول؛ خو د ولسونو ټولنې د خپلې اساسنامې د ۱۰ او ۱٦ موادو له مخې، د دې یرغلونو مخه ونه نیوه او یرغلګرو دولتونو ته یې اقتصادي یا پوځي سزاوې ور نه کړې.

ز – د زور مشروعیت. د ولسونو ټولنې په کړنلاره کې د جګړې تحریم نه و راغلی او زور د بشر په وړاندې عمومي خیانت نه بلل کېده. د کړنلارې په ۱۲ ماده کې راغلی و چې د نړېوالو لانجو د حل له پاره دری میاشتې مهلت په کار دی. له دې مودې وروسته جګړه پېل کېدای شوای او تر ټولو غټه خبره دا وه چې د ولسونو ټولنې د یوې نړیوالې جګړې مخه ونه شوای نیولی. له همدې امله د جګړې ګټونکو هېوادونو یا متفقینو په کال ۱۹۴٦ کې، پرېکړه وکړه چې دا ټولنه ړنګه او په ځای یې یوه بله نړیواله ځواکمنه ټولنه جوړه شي .[۳٦]

**د ولسونو ټولنې بریالیتوبونه:**

د ولسونو ټولنې د سیاسي نابریالیتوبونو تر څنګ، د پاملرنې وړ ګامونه هم واخستل. په ټوله نړۍ کې د واکمنیو پیاوړتیا، د ډله ییز امنیت د مفهوم پراخېدل؛ د ماشومانو د کار، مرییتوب او ساري ناروغیو سره مبارزه؛ د استعماري ځواکونو د زورزیاتي پای ته رسول او د پناه غوښتونکو د حقوقو درناوی په دې برخه کې د یادولو وړ بریالیتوبونه بلل کېدای شي.[۳۷]

د ولسونو ټولنې د اقتصاد، ټولنیز ژوند، انساني اړیکو، روغتیا، مخابراتو او ترانسپورټ په برخه کې ګټور کارونه وکړل. د قیمومت د نظام جوړېدلو د کوچنیو او کمزوره سیاسي واحدونو په وړاندې، د سترو هېوادونو مسوولیتونه روښانه کړل. د کار نړېواله ټولنه جوړه شوه چې په ډېرو هېوادونو کې یې د کار شرایط سم کړل او د کارګرانو ژوند ورسره ښه شو. په لاهه کې د نړېوال عدالت محکمې جوړېدو، د نړېوالو ستونزو د سوله ییز حل له پاره، د قانوني کړنلارو تدوین ته لاره پرانسته. که څه هم چې دا قضایي ارګان ډېر ځواکمن نه و؛ خو بیا یې هم د ۱۹۲۲ – ۱۹۴۰ تر مینځ ٦۰ نړېوالې ستونزې وځېړلې.

د ولسونو ټولنې په مشرتوب د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو تر مینځ د ګډ کار بریالې تجربې وښوده چې د نژاد، جغرافیایي لیری والی او یو د بل په فکر باندې د نه پوهېدو په صورت کې هم، ګډې بشري ګټې ترلاسه کېدای

---

[۳٦] کارگزاری های تخصصی سازمان ملل متحد، ص ۱۴.

[۳۷] fa.wikipedia.org

شي. د ولسونو ټولنې د نړۍ کوچنیو هېوادونو او ولسونو ته د داسې درناوي بنسټ کېښود چې د نړۍ د ټولنیزو او اقتصادي مسایلو په تفاهم کې ګډون وکړي او د سترو مسایلو په خبرو کې حضور ولري.

ولسونو ټولنې پخپل شل کلن یون کې، داسې لاره اواره کړه چې هغه موسسې چې د ګډ کار فکر درلود، د نړۍ په سیاسي ډګر کې ستر ځای ومومي .[۳۸]

اوس ډېر پوهان او سیاسیون په دې آند دي، که څه هم چې ولسونو ټولنې د نړېوالې سولې په ساتنه کې ماته وخوړه؛ خو بېلابېلو کمېټو او کمیسیونونو یې دا لارې پرانیستې: په ټوله نړۍ کې د قانون واکمني، د ډله ییز امنیت پیاوړتیا، د کمکیو هېوادونو د غړ اورېدل؛ د ماشومانو د کار، مریيړتوب او ساري ناروغیو په هکله د پوهاوي لوړېدل؛ د استعمار مظالم، د کارګرانو حال، پناه غوښتونکي او د قیمومیت له لارې په استعماري ځواکونو د څار پیل.[۳۹]

د ولسونو ټولنې وروستې ناسته، د ټولنې د انحلال له پاره د کال ۱۹۴٦ د اپریل په ۱۸ په ژنیو کې جوړه شوه. په هغه وخت کې دې ټولنې ۲۲ ملیون $ (د ولسونو ماڼۍ او نوره شتمني) درلودل چې د ټولنې د پورونو او د غړو هېوادونو د زېرمو له ورکولو وروسته، د ملګرو ملتونو حساب ته لاړل .[٤٠]

---

[۳۸] کارگزاری های تخصصی سازمان ملل متحد، ص ۱۶.

[۳۹] fa.wikipedia.org

[٤٠] fa.wikipedia.org

# دریيم څيرکی

## ب – د ملګرو ملتونو ټولنه

### د جوړېدو لومړنې هڅې:

د ملګرو ملتونو ټولنې د جوړېدو هڅې، د دوهمې نړېوالې جګړې کلونو او څو نړېوالو غونډو ته رسي. کله چې د ملګرو ملتونو کړنلاره د کال ۱۹۴۵ د جون په ۲٦ په سانفرانسسکو کې تصویب شوه، دوهمه جګړه په اروپا کې پای ته رسېدلې وه؛ خو په آرام سمندر کې لا هم د جګړې لوخړې جګېوې. که څه هم چې دوهمې جګړې د ولسونو ټولنه پای ته ورسوله؛ خو په نړۍ کې د سولې د یوې ساتونکېټولنې فکر مات نه شو او انساني هڅو په دې برخه کې دوام وموند.

د یوې ځواکمنې نړیوالې ټولنې د جوړېدو د فکر بنسټ، د کال ۱۹۴۱ د اګست په ۱۴ د (اتلانتیک سمندر کړنلاره) له خوا کېښودل شو چې د امریکا ولسمشر فرانکلین دولاند روزولت او د برتانیا لومړی وزیر وینستون چرچېل په اتلانتیک( اتلس) سمندر کې په یوه بېړۍ کې اعلان کړ. په هغه وخت کې نازي جرمني په لندن هومره بمونه غورځول، چې د برتانیا د کابینې او د وسله والو ځواکونود قوماندانې غونډې په بېړیو کې کېدې.

په دې کړنلاره کې لاندېټکو ته پام شوی و: د بشري حقونو په پام کې نیول (رعایت)؛ د ژبې، مذهب، نژاد او جنس د توپیرونو پرته د ټولو ولسونو د اساسي خپلواکیو درناوی؛ د نړېوالې راکړې – ورکړې آزادي، په نړېوالو اړیکو کې د ځمکنې پراختیا غوښتنې او جګړې مخنیوی، د دولتونو په اړیکو کې د ښه اعتماد ټینګول، د وسلو کمول، د ولسونو د برخلیک ټاکلو حق، د تولو ولسونو د برابرو حقونو رعایت او لومړنیو موادو ته د جګړې د بریالیو او بایللو هېوادونو یو شان لاسرسی.[٤١]

که څه هم چې د روزولت او چرچېل په اعلامیه کې، د سولې او امنیت د ټینګولو له پاره د کومې نړېوالې ټولنې جوړېدو ته ښکاره اشاره نه وه شوې؛ خو د ۱۹۴۲ د جنوری په لومړۍ نیټه، متفقینو په لندن کې د اتلانتیک کړنلارې ننګه وکړه او پرېکړه وشوه چې هیڅوک به له محور هېوادونو (جرمني، ایتالیا، جاپان او ملګري) سره جلا سوله نه کوي. د جنوري په دوهمه هغه ۲٦ هېوادونو چې له محور هېوادونو سره جنګېدل، د برتانیا د لندن ښار د سنت جیمز په ماڼۍ کې د ملګرو ملتونو اعلامیه لاسلیک کړه. استرالیا، برتانیا، کانادا، نیوزیلند، جنوبي افریقا، چکوسلواکیا،یوګوسلاویا،یونان، فرانسه، هالند، بلجیم، ناروی او لوکزامبورګ او ۱۳ نور هېوادونه د دې اعلامیې په لاسلیک کوونکو کې وو. ځینې دا دولتونه هغه وخت جلاوطنه بلل کېدل.

د کال ۱۹۴۳ د اکتوبر په ۳۰ په ماسکو کې د امریکا، برتانیا، شوروي اتحاد او چین د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې چې (د نړۍ عمومي امنیت) نومېده، له جګړېڅخه وروسته د داسېیوې نړېوالېټولنې

---

[٤١] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۸۲

په جوړېدو ټینګار وشو، چې د ټولو دولتونو د حاکمیت اصل پکې مساوی وي او د ټولو هېوادونو په مخ پرانستی وي. دا غونډه په داسې وخت کې جوړه شوه چې هټلري پوځونه، د شوروي اتحاد په خاوره کې د ننه جنګېدل.

د دې غونډې په وروستنی اعلامیه کې، د جګړې د ګټونکو هېوادونو (متفقین) په یووالي او د داسې یوی ټولنې په جوړولو ټینګار وشو، چې د سولې او امنیت ضمانت وکړي.

د امریکا د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر (کورد هلل)، وروسته په خپلو خاطراتو کې ولیکل چې (ماسکو) په اصل کې، د ملګرو ملتونو ټولنې د زېږېدوځای دی[۴۲].

د همدې کال د دسمبر په لومړې نېټه، په تهران کې د جګړې د ګټونکو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې، بیا د ماسکو د اعلامیې ملاتړ وشو. د ۱۹۴۴ په اګست کې د واشنګټن DC د دامبارتن اوکس Dumbarton Oaks په نامتو ودانۍ کې، د شوروي اتحاد، برتانیا، امریکا او وروسته چین استازو، د جوړېدونکې نړېوالې ټولنې په اهدافو، اصولو، جوړښت او غړیتوب هوکړه وکړه. په دې غونډه کې چې د اکتوبر تر ۱۷ پورې روانه وه، د سولې ساتنې له پاره د امنیت په شورى کې د نړۍ پنځو سترو ځواکونو ته دایمي استازیتوب ومنل شو؛ خو د رایوځرنګوالی معلق پاته شو.

یو کال وروسته (۱۹۴۵ – فبروری ۴ – ۱۱) د روسیې د کریمیا ټاپووزمې، د توری بحیرې په یالتا کې، د امریکا، برتانیا او شوروي اتحاد استازو، د دوهمې نړېوالې جګړې پنځو متفقو هېوادونو ته د (ویتو) حق ومانه چې د جوړېدونکي ملګرو ملتونو د ټولنې د منشور په ۲۷ ماده کې ځای په ځای شو او د یوې نړېوالې غونډې د جوړېدو بلنه صادره شوه.

دا غونډه د کال ۱۹۴۵ د اپریل له ۲۵ څخه د جون تر ۲٦ پورې، د ۵۳ هېوادونو د استازو په ګډون، په سانفرانسسکو (امریکا متحده ایالات) کې جوړه شوه او تمه وه چې د (دامبارتن اوکس) د وړاندیزونو له مخې، د ملګرو ملتونو ټولنې کړنلاره (منشور) ولیکي او د عدالت د نړېوالې محکمې اساسنامه پای ته ورسوي. غونډې ته د فرانسې او چین د بللو پرېکړه هم وشوه؛ خو ستونزه دا وه چې فرانسې د (دامبارتن اوکس) وړاندیزونه نیمګړي بلل او غړیتوبیې ونه مانه. په دې غونډه کې د نړۍ کمزوره هېوادونو هم خپلې غوښتنې وړاندې کړې. د لاتینې امریکې یو شمېر هېوادونو په مکسیکو سیټي کې، د (ویتو) حق د هېوادونو د برابري له اصل سره مخالف وباله؛ خو له دې سره – سره د ملګرو ملتونو کړنلاره، د هغه اصولو له مخې چې د جګړې ګټونکو هېوادونو مخکې برابر کړي وو، د کال ۱۹۴۵ د جون په ۲٦، د امنیت شورى د دایمي غړو او ۵۰ نورو هېوادونو لخوا لاسلیک، او په دې توګه د ولسونو د پخواني ټولنې په ځای، چې د ۱۹۴۵ د جون په ۳۱ ړنګه شوې وه، د ملګرو ملتونو نویټولنه جوړه شوه او ډېرو هېوادونو غړیتوب ترلاسه کړ. پولند چې په دې غونډه کې استازی نه درلود، لږ وروسته کړنلاره لاسلیک کړه او په دې توګه د هغه ۵۱ هېوادونو په لست کې راغی چې د ملګرو ملتونو لومړني غړي بلل کېږي[۴۳].

---

[۴۲] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۸۳

[۴۳] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۸۶-۸۵

## د ملګرو ملتونو کړنلاره (منشور):

کړنلاره د ملګرو ملتونو جوړونکی سند دی، چې د غړو هېوادونو حقوق او ژمنې، اداري او عملياتي ارګانونه او د کار ډولونه ټاکي. کړنلاره د يو نړيوال ټرون په توګه د نړيوالو اړيکو غټ او بنسټيز اصول برابروي. په دې اصولو کې د هېوادونو د حاکميت له برابرۍ نيولې، په نړيوالو اړيکو کې د زور تر کارولو پورې ټول راځي. هغه زور چې د ملګرو ملتونو له اهدافو سره په ټکر کې وي.

دا کړنلاره يوه سريزه، ۱۹ فصلونه او ۱۱۱ مادې لري چې اصلي نسخه يې د امريکا متحده ايالاتو په آرشيف کې ساتل کېږي. د عدالت د نړېوالې محکمې جلا اساسنامه ۷۰ مادې لري، چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې نه بېلدونکې برخه ده او په دې توګه د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد د دې محکمې غړيتوب لري.

د ملګرو ملتونو کړنلاره وايي چې موږ د نړۍ خلک، دا په ډاګه وايو چې دا يوه نړيواله ټولنه ده. د دې کړنلارې نورې لومړنۍ کرښې د ټولو هغه ولسونو ګډې هيلې، ارمانونه او اهداف بيانوي چې ملګرو ملتونو د جوړيدن له پاره يې، د خپلو دولتونو له لارې وړاندې کړې دي. له هغه ځايه چې دا کړنلاره ډېر لوړ ارزښت لری، بشپړ متن يې په ضميمه کې شته.

که خبره لنډه کړو د کړنلارې له مخې، د ملګرو ملتونو غټې دندې دا دي:

۱ – د يرغليزه اعمالو او د سولې د نقض د نورو مواردو د مخنيوی له پاره، د ډله ييزه او اغېزمنو کړنو له لارې، د نړېوالې سولې او امنيت خوندیتوب، د سوله غوښتونکو اړيکو برابرول او د نړېوال نياو (عدالت) او حقونو په سيوري کې د نړېوالو لانجو غوڅول،

۲ – د حقوقو د برابري اصل ته د درناوی او د خلکو د برخليک د ټاکنې د حق له مخې، د ولسونو تر مينځ د دوستانه اړيکو پراختيا،

۳ – د اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي او بشرپاله نړېوالو مسايلو د حل له پاره، نړېواله همکاري او د بشري حقوقو، نژاد، جنس، ژبې او مذهب له توپيره پرته، ټولو ته د بنسټيزه خپلواکيو (آزادي) د درناوی هڅول او پراختيا،

۴ – ګډو اهدافو ته د رسېدو له پاره، د ولسونو د کړنو د همغږی د يو مرکز شتون،

ملګري ملتونه او غړي هېوادونه خپلو اهدافو ته د رسېدو له پاره، لاندې اصول په پام کې نيسي:

۱ – ملګري ملتونه د ټولو غړو هېوادونو د مساوي اصل له مخې جوړ شوي،

۲ – غړي هېوادونو د ملګرو ملتونو د غړيتوب د ښېګڼو د ترلاسه کولو او د حقوقو د تضمين له پاره، خپلې هغه ژمنې په ښه نيت سرته رسوي چې په کړنلاره کې راغلي،

۳ – ټول غړي خپلې ستونزې په سوله ييزه توګه پای ته رسوي، چې نياو او نړېواله سوله او امنيت له ګواښ سره مخامخ نه شي،

۴ – ټول غړي هېوادونه د بل هر هېواد له بېرولو، يا د هغه د سياسي خپلواکۍ يا ځمکنې بشپړتيا په ضد د زور له کارولو څخه ډډه کوي،

۵ – ټول غړي له ملګرو ملتونو سره، د هغه پرېکړو د عملي کولو په برخه کې مرسته کوي چې د کړنلارې له مخې شوې وي او له هغه هېواد سره همکاري نه کوي چې ملګرو ملتونو د هغه په ضد، د احتیاطي یا قهري کړنو پرېکړه کړې وي.

٦ – ملګري ملتونه هڅه کوي هغه دولتونه چې غړیتوب هم نه لري، دې ته وهڅوي چې تر کومه ځایه چې د نړېوالې سولې او امنیت اړتیا وي، دا اصول په پام کې ونیسي،

۷ – په دې کړنلاره کې هېڅ مندرج قانون، ملګرو ملتونو ته اجازه نه ورکوي چې د هېوادونو په کورنیو چارو یا قانوني واکونو کې لاس ووهي. غړي هم مجبور نه دي چې دا مسایل د کړنلارې د قوانینو تابع وبولي؛ خو دا اصل د هغه پوځي اقداماتو مخه نه شي نیولای چې د کړنلارې په اووم فصل کې راغلي دي.[٤٤]

## غړیتوب:

ټول سوله خوښونکي هېوادونه چې د ملګرو ملتونو کړنلاره مني او غواړي چې هغه عملي کړي، د دې ټولنې په غړیتوب منل کېږي.

ملګري ملتونه یوه نړېواله ټولنه ده، چې د نړۍ د هر خپلواک هېواد د غړیتوب غوښتنلیک، د امنیت شورى په سپارښتنه د عمومي تولنې له خوا منی. هومره چې په نړۍ کې خپلواکه هېوادونه ډېرېږي، د ملګرو ملتونو د غړو شمېر هم لوړځي. دا شمېر په لومړي سر کې ۵۱، په ۲۰۰۲ کې ۱۸۹ او اوس ۱۹۳ دي .[٤٥]

**د ملګرو ملتونو اصلي غړي:**

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د درېیمې مادې له مخې، اصلي غړي هغه هېوادونه دي چې د کال ۱۹۴۲ د جنوري اعلامیه یې لاسلیک کړي او یا یې په سانفرانسسکو کې، د ملګرو ملتونو د جوړېدو په نړېواله غونډه کې برخه اخستی او کړنلاره یې تصویب کړی وي.

د سانفرانسسکو د غونډې ۵۰ ګډون کوونکي هېوادونه (د اوکراین او بیلاروس په ګډون)، د کړنلارې لومړني تصویب کوونکي، د ملګرو ملتونو اصلي غړي دي. پولند وروسته په دې لست کې راغلی دی. دا هغه هېوادونه دي چې په دوهمه نړېواله جګړه کې د جرمني، جاپان او ایتالیا په ضد جنګېدلي وو.

اوکراین او بیلاروس د یالتا په غونډه کې، د ملګرو ملتونو د اصلي غړو په توګه ومنل شول. دا غوښتنه استالین مطرح او روزولت ومنله او د یوی سیاسي معاملې په توګه یې، شوروي اتحاد ته دا چانس ورکړ چې درې رایې ولري .[٤٦]

---

[٤٤] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد ص ۳-۵

[٤٥] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد ص۵ او غفوری ص ۸۷

[٤٦] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۸۸

**د ملګرو ملتونو نوي غړي:**

د ملګرو ملتونو دوهمه ډله غړي هغه هېوادونه دي چې وروسته په غړیتوب منل شوی. دا هېوادونه باید خپلواکه وي، سوله وغواړي، د اساسنامې ژمنې ومني او د خپلو ژمنو د عملي کولو لېوالتیا او وس ولري .[٤٧]

د ملګرو ملتونو له جوړېدوڅخه تر کال ۱۹۵۰ پوری، نهـ نور هېوادونه هم د غړو په توګه ومنل شول چې یو پکې افغانستان و.

د غړیتوب غوښتونکي هېواد ملګرو ملتونو ته لیکلی غوښتنلیک وړاندې کوي، د منلو کمیټه دا پاڼه ګوري، د امنیت شوری یې سپارښتنه کوي او د عمومي ټولنې ٦٦.٦% غړي باید مثبته رایه ورکړي. د هر هېواد د غړیتوب د منلو له پاره د امنیت شوری د پنځو دایمي غړو موافقه شرط ده. دوی دلته هم د ویتو له حق څخه کار اخستلی شي .[٤٨]

تر کال ۱۹۵۵ پوری شوروي اتحاد، د هغه هېوادونو د غړیتوبونو منل چې لویدیځ ډوله ولسواکي یې درلوده، د بلغاریا، رومانیا او البانیا له غړیتوب سره تړلي و؛ خو لویدیځو هېوادونو د جګړې د وخت د دښمنانو، له منلو څخه مخالفت کاوه. وروسته له دې چې امریکا په نړېوال نظام کېد شوروي ونډه ومنله، د ملګرو ملتونو له پاره د نویو غړو په منلو کې، آسانتیا راغله او ګڼ هېوادونه د غړو په توګه ومنل شول.

**ځانګړي غړیتوبونه:**

۱. تانګانیکا او زنګبار په لومړی سر کې د ملګرو ملتونو جلا غړي وو؛ خو کله چې دوی د کال ۱۹٦۴ د اپریل په ۲۲ د تانزانیا هېواد جوړ کړ، د ملګرو ملتونو یو غړی هېواد وبلل شو.
۲. د یمن خلکو دموکراتیک جمهوریت او د یمن عربي جمهوریت هم د کال ۱۹۹۰ د دسمبر په ۲۱ سره یوځای شول او د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، دا یووالی د یمن د جمهوریت په نامه ومانه.
۳. د کال ۱۹۹۳ د اکتوبر په درېیمه، ختیځه یا دموکراتیکه جرمنی له لویدیځی یا فدرالي جرمني سره یو ځای شوه او دواړو یو هېواد جوړ کړ.
۴. د چین ولسي جمهوریت په کال ۱۹۴۹ کې جوړ شو. چین پخوا د ملګرو ملتونو اعلامیه لاسلیک کړی او د سانفرانسسکو په غونډه کې برخه اخستې وه؛ خو کله چې جنرال چیان کایشک د چین د کمونستانو په وړاندې ماته وخوړه او فارموسا ټاپو (تایوان) ته وتښتېد، په ملګرو ملتونو کې د چین استازیتوب هم دې دولت ته وسپارل شو. امریکا متحده ایالاتو په لومړي سر کې، په ملګرو ملتونو کې د چین د ولسي جمهوریت له غړیتوب سره مخالفت کاوه؛ خو دا ستونزه په ۱۹۷۱ کې حل شوه او چین د ۷٦ موافقو، ۳۵ مخالفو او ۱۷ ممتنع رایو په ګټلو سره، د ملګرو ملتونو او امنیت شوری غړیتوب ترلاسه او تایوان خپل غړیتوب له لاسه ورکړ.[٤٩]

---

[٤٧] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد ص ۶
[٤٨] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۸۹
[٤٩] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۹۴-۹۵

**د کوچنیو هېوادونو غړیتوب:**

کوچني هېوادونه د کړنلارې د څلورمې مادې له مخې، د خپلې ځمکنې بشپړتیا او سیاسي خپلواکي د ساتلو او د خپلو ژمنو د عملي کولو وس نه لري. د ولسونو ټولنې د کړنلارې د لومړې مادې د دوهمې فقرې له مخې، د کوچنیو هېوادونو غړیتوب منع و، لکه چې دې ټولنې د سان مارینو، موناکو او لیختن شتاین غړیتوبونه نه وو منلی؛ خو ملګرو ملتونو پراخوالی (مساحت) او نفوس، د هېوادونو له پاره د شاخصونو په توګه په رسمیت ونه پېژندل او له همدې امله یې ان په همغه لومړنیو کلونو کې، ډېرو کوچنیو هېوادونو لکه باربادوس، مالدیپ او وروسته استواییګ ینې او وروسته بیا کریباتي، ناورو، اندورا، تونګا، ختیځ تیمور او جنوبي سودان ته غړیتوبونه ورکړل.

که څه هم چې د امریکا متحده ایالاتو او برتانیا د کوچنیو هېوادونو Micro States په هکله څه وړاندیزونه درلودل؛ خو عمومي ټولنې د کړنلارې له اصولو سره سم، د ټولو حق ته درناوی وکړ او نژدې ټول نوی خپلواکه یا کوچني هېوادونه یې، د داسې غړو په توګه ومنل، چې هم لږ حق السهم ورکوي او هم د رایې حق لري.

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲ او ۳۵ موادو له مخې، هغه هېوادونه چې په ملګرو ملتونو کې غړیتوب نه لري، له خپلو ملي منافقو څخه د دفاع له پاره، د عمومي ټولنې په غونډو کې،د رایې څخه پرته ګډون کولای شي.

ملګرو ملتونو څارونکي یا ناظر غړي هم لري لکه د فلسطین خپلواکي غوښتونکي غورځنګ (۱۹۷۴) او د جنوب لویدیځې افریقا د خلکو ټولنه (۱۹۷٦)[۵۰]

**له غړیتوب څخه وتل:**

د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد په خپله خوښه خپل غړیتوب پرېښودلی شي. اندونیزیا په کال ۱۹٦۵ کې د ملګرو ملتونو غړیتوب پرېښود؛ ځکه د امنیت په شورى کې یې د غیردایمي غړي په توګه، د مالیزیا په ټاکلو نیوکه درلوده؛ خو یو کال وروسته یې بېرته خپل غړیتوب ترلاسه کړ.

**ایستل (اخراج) او د غړیتوب تعلیق:**

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦ مادې له مخې، که کوم هېواد د ټولنې اساسنامه پرله پسې او یا عمدي تر پښو لاندې کړي، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه د امنیت شورى په وړاندیز، په ٦٦.٦٦% رایه له غړیتوب څخه ایستل کېدای شي. همدا راز د کړنلارې د ۴۱ او ۴۲ موادو له مخې، امنیت شورى کولای شي چې یو هېواد تنبیه او غړیتوب یې تعلیق کړي.

---

[۵۰] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۹۶-۹۷

**د ملګرو ملتونو ژبې:**

ملګرو ملتونو هغه ژبې رسمي منلي چې په نړېوالو اړيکو او اسنادو کې ډېره ونډه لري. سمدلاسه انګليسي، اسپانوي، چينايي، روسي، فرانسوي او عربي د ملګرو ملتونو ژبې دي.

**د ملګرو ملتونو ودانی:**

کله چې د ملګرو ملتونو د جوړېدو له پاره، د نړۍ په بېلابېلو برخو کې غونډې کېدې، د ملګرو ملتونو له پاره د دايمي دفتر د جوړولو اړتيا جدي شوه. په لومړي سر کې د ملګرو ملتونو له پاره په لندن کېيو لنډمهاله وړوکی دفتر جوړ شو. په کال ۱۹۴۱ کې دا دفتر نيويارک ته ولېږدول شو. په ۱۹۴۲ کې د امريکا کنګرې پرېکړه وکړه چې ملګرو ملتونو دې، خپل دايمي دفتر په نيويارک کې جوړ کړي. ملګرو ملتونو د کال ۱۹۴٦ د فبروري په ۱۴ دا غوښتنه ومنله او د استرالیا، بلژيک، کانادا، چين، فرانسې، سويدن، برتانيا، يوروګواى او روسيې انجينرانو ته يې بلنه ورکړه چې د امريکايي انجينر هاريسون په مشري، په دې طرحه کار پېل کړي. د دې ودانۍ د جوړولو کار د کال ۱۹۴۹ د اکتوبر په ۲۴ پېل شو. په دې مراسمو کې ۱٦۰۰۰ کسانو برخه اخستی وه او اټکل کېده چې ۸۴ مليون $ پرى ولګول شي. دا ودانۍ د ۱۹۵۱ د جون په لومړی نېټه د ٦۵ مليون $ په لګښت بشپړه شوه.

**د ملګرو ملتونو بودجه:**

د ملګرو ملتونو ټولنيزې، اقتصادي، سياسي، تخنيکي، پوځي، کلتوري او عمومي دندې بودجې ته اړتيا لري. د ملګرو ملتونو ټول ارګانونه (عمومي ټولنه، امنيت شورى، قيموميت شورى، نړېواله محکمه، دارالانشا، کميټې، کميسيونونه او ځانګړي بنسټونه) خپلې بودجې لري. د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد د ټولنې يوه برخه بودجه ورکوي چې اندازه يې د هر هېواد له اقتصادي وس سره سم، د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي.

پخوا به د ملګرو ملتونو بودجه د دوهمې نړيوالې جګړې په پای کې، د هېوادونو د اقتصادي وضعې، کلني سړي سر عايد او يا د بهرنيو اسعارو د زيرمو له مخې ټاکل کېده؛ خو د عمومي ټولنې د ۷۳/۲۷۱ پرېکړې له مخې، د ۲۰۱۹ – ۲۰۲۱ کلونو له پاره دا شاخصونه په پام کې ونيول شول:

- نفوس،
- ټول شوي ماليات،
- اټکلي غيرخالص کورنی توليد،
- د تېرو دريو او شپږو کلونو احصائيوي ارقام،
- په ۲۰۱٦ – ۲۰۱۸ کې بهرني پورونه،
- سړي سر کلنی عايد،

- انفلاسیون او اقتصادي بحران[۵۱].

د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه د بودجې په ونډه سربېره، په خپله خوښه مرسته هم کولای شي او ټولنه د پور د اخستلو واک هم لري.

## د ملګرو ملتونو جوړښت:

د ملګرو ملتونو کړنلارې په لومړي سر کې دا شپږ څانګې ټاکلي دي: عمومي ټولنه، امنیت شورى، اقتصادي او ټولنیزه شورى، قیمومیت شورى، د عدالت نړېواله محکمه او دارالانشا. ملګري ملتونو د دې په څنګ کې ۱۵ څانګړي دفترونه او څو پروګرامونه هم لري.

### ۱ – عمومي ټولنه General Assembly:

عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو اصلي مشورتي ارګان دي، چې ټول غړي هېوادونه پکې غړیتوب لري او د ملګرو ملتونو پارلمان باله شي چې د خلکو د استازو په ځای، د دولتونو استازي پکې حضور لري. له هغه ځایه چې په عمومي ټولنه کې، د نړېوالې ټولنې فعال غړي برخه اخلي او دا خلک د ملګرو ملتونو د کړنلارې په رڼا کې، د نړېوالې سولې او امنیت په هکله د خبرو وړتیا لري، له همدې امله دا په نړېوال نظام باندې د واکمنو سیاستونو او سیاسي مذاکراتو په برخه کې، د نړېوالې اجماع تر ټولو مهم ځای بلل کېږي .[۵۲]

د عمومي ټولنې په غونډو کې د سولې او امنیت، د نویو غړو د منلو او بودجې له پاره ٦٦.٦٦%رایو ته اړتیا ده؛ خو عادي ورځني مسایل په ساده اکثریت تصویب کېږي[۵۳].

**د عمومي ټولنې د کار څرنګوالی :**

په عمومي ټولنه کې د UN ټول غړي هېوادونه برابر حقونه لري. د ټولنې په کلنیو غونډو کې هر غړی تر پنځو پوری استازي لېږلی شي، چې یوازی د یوی رایې حق لري. هر غړي هېواد کولای شي چې کارپوهان هم له خپلو پلاوو سره د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته واستوي. د دې پلاوو مشري د هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران کوي؛ خو کله د دولتونو مشران هم دا دنده په غاړه اخلي.

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنهیو مشر (سرمنشي)، ۲۱ مرستیالان او د شپږګونو کمیټو مشران لري. د عمومي ټولنې د مشر ټاکنه د ملګرو ملتونو د غړو په رایه پوری اړه لري.

د جغرافیایي عدالت د تامین له پاره، د عمومي ټولنې سرمنشي هر کال له دې پنځو حوزو څخه ټاکل کېږي: افریقا، آسیا، ختیځه اروپا، لویدیځه اروپا او جنوبي او مرکزي امریکا او کارابین.

---

[۵۱] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۹۷-۹۸
[۵۲] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۶
[۵۳] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۶

د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په کلنیو غونډو کې، لومړی د دولتونو مشران د نړۍ د خورا مهمو او بېړنیو پېښو په هکله ویناوې کوي او بیا د ټولنې د شپږګونو کمیټو غونډې پېل کېږي:

- لومړی کمیټه، نړېوال امنیت او بې وسله کول،
- دوهم کمیټه، اقتصادي او مالي چارې،
- درېیمه کمیټه، ټولنیز، فرهنګي او بشرپاله چاری،
- څلورمه کمیټه، د استعمار محو کول او سیاست،
- پنځمه کمیټه، اداري او بودجه،
- شپږمه کمیټه، حقوقي.

ملګری ملتونه یوځانګړی سیاسي کمیسیون هم لري، چې د نړېوال امنیت او بی وسلو کولو کمیټې په غونډو کې برخه اخلي او ورسره مرسته کوي .[٥٤]

په ملګرو ملتونو کې په ځینو مسایلو په عمومي غونډو کې بحث کېږي؛ خو تفصیلي خبرې کمیټو ته سپارل کېږي. د کمیټو پرېکړې هم باید په عمومي غونډو کې تصویب شي. په داسې حال کې چې دولتونو ته، د عمومي ټولنې د پرېکړو منل له قانوني او حقوقي پلوه الزامي نه دي؛ خو دا پرېکړې د نړۍ د عمومي افکارو او د نړېولې ټولنې د اخلاقي اقتدار د ښکارندوی په توګه د پام وړ دریځ لري[٥٥].

**د عمومي ټولنې دندې او واکونه:**

د ملګرو ملتونو کړنلارې له مخې، د عمومي ټولنې دندې او واکونه دا دي:

- د نړېوالې سولې او امنیت د ساتنې له پاره، د همکاریو د اصولو په برخه کې، د سپارښتنو څېړنه او وړاندیزونه او د وسلو د لرلو او ساتلو او بې وسلو کولو مقررات،
- د نړېوالې سولې او امنیت په هره مسله خبرې او سپارښتنې؛ له هغه ستونزې یا شخړې پرته چې په امنیت شوری کې خبرې پرې روانې وي،
- په ټولو هغه مسایلو بحث او سپارښتنې، چې د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې راغلي وي او یا د ملګرو ملتونو د هر ارګان په دندو او واکونو کې وي (د دوهمې مادې قید دلته هم شته)،
- د نړېوال ګډ سیاسي کار د ترویج، د نړېوالو حقوقو د تدوین او پراختیا، د بشري حقونو د خوندیتابه، ټولو ته بنسټیزی خپلواکی او په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، تعلیمي او روغتیایي برخو کې د نړېوالو راکړو ورکړو مطالعه او سپارښتنې،
- د هرې هغه ستونزې د سوله ییز حل له پاره سپارښتنې، چې کېدای شي د ولسونو اړیکو ته زیان ورسوي، پرته له دې چې د ستونزې یا موقعیت منشا ته پام وشي،
- د امنیت شوری او د ملګرو ملتونو د نورو ارګانونو د راپورونو ټولول او اجرأات،

---

[٥٤] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۷

[٥٥] د ملګرو ملتونو تاریخی بهیر او بشپړتیا، ګلاب شاه سبحانی، مومند خپرندویه ټولنه، ص ۵۵

- د ملګرو ملتونو د کلنۍ بودجې څېړنه او تصویب او د غړو د ونډوټاکل،
- د امنیت شورى د غیردایمي غړو، د اقتصادي او ټولنیزې شورى د غړو، د اړتیا په وخت کې د قیمومیت شورى د اضافي غړو، د عدالت د نړېوالې محکمې د قاضیانو (د امنیت شورى په موافقه) او د امنیت شورى په سپارښتنه د سرمنشي ټاکل[٥٦].

**د عمومي ټولنې غونډې:**

د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې کلنۍ عادي غونډې، هر کال د سپتمبر د میاشتې په لومړې اونۍ کې جوړېږي. د عمومي ټولنې سرمنشي، ۲۱ مرستیالان او د شپږګونو کمیټو مشران، له عادي کلنیو غونډوڅخه درې میاشتې مخکې، په هغه ترکیب چې مخکې یاد شوي، ټاکل کېږي.

عمومي ټولنه کولای شي چې د امنیت شورى په خوښه (موافقه)، د ډېرو غړو هېوادونو یا یو هېواد په غوښتنه (چې ډېر نور هېوادونه ورسره موافق وي) ځانګړې غونډې هم جوړې کړي. د عمومي ټولنې بېړنې غونډې په ۲۴ ساعتونو هم جوړېدی شي .[٥٧]

**په عمومي ټولنه کې د پرېکړو طریقه:**

**الف – اجرایي پرېکړې:**

په لاندې برخو کې پرېکړې اجرایي دي او ټول غړي هېوادونه یې باید په پام کې ونیسي. دا دندې د ملګرو ملتونو په کورنیو چارو پورې اړه لري.

۱ – د امنیت شورى د غیردایمي غړوټاکنه،

۲ – د قیمومیت شورى د غړوټاکنه،

۳ – د ټولنیزې او اقتصادي شورى د غړوټاکنه،

۴ – د ملګرو ملتونو د سرمنشي ټاکنه،

۵ – د نړېوالو حقوقو د کمیسیون د غړوټاکنه،

٦ – د عدالت د نړېوالې محکمې د قاضیانوټاکنه،

۷ – د بودجې تصویب او د ملګرو ملتونو د مالي چارو اداره،

۸ – ملګرو ملتونو ته د نوي غړي هېواد منل یا د پخواني غړي ویستل (اخراج)،

۹ – د ملګرو ملتونو د دارالانشا او کارکوونکو د کارونو څارنه.

---

[٥٦] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد ص ۶-۷

[٥٧] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۷

**ب – سپارښتنې (توصیه):**

د عمومي ټولنې دا پرېکړې حقوقي اعتبار نه لري او غړي هېوادونه یا اصلي ارکان (اورګانونه) د دې پرېکړو د منلو په برخه کې خپلې خوښې ته ګوري؛ خو پرېکړې اخلاقي اغېز لري؛ ځکه چې غړو هېوادونو رایه ورکړې وي.[۵۸]

د ملګرو ملتونو په عمومي ټولنه کې د رایې ورکولو طریقه:

هر وړاندیز په عمومي ټولنه کې د غړو رایو ته اړتیا لري. د کړنلارې د ۱۸ مادې له مخې، د ملګرو ملتونو هر غړی د یوی رایې حق لري او وړاندیزونه دوه ډوله دي:

الف – مهم وړاندیزونه چې د حاضرو غړو٦٦.٦٦% رایې غواړي، لکه:

- د امنیت شورى د غیردایمي غړوټاکنه،
- د قیمومیت شورى د غړوټاکنه،
- د ټولنیزې او اقتصادي شورى د غړوټاکنه،
- د نویو غړو منل،
- د پخوانیو غړو ویستل،
- د غړو د حقوقو ځنډول،
- تر قیمومیت لاندې سیمو کې، د قیمومیت د اصولو اجرا،
- د نړېوالې سولې او امنیت د ساتنې په برخه کې سپارښتنې،
- مالي چارې او بودجه.

ب – عادي مسایل چې نسبي اکثریت (د حاضرو غړو ۵۰ + ۱) غواړي.

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه دوه ډوله پرېکړې او دندې لري:

## د عمومي ټولنې انحصاري مسوولیتونه (دندې):

الف – د ملګرو ملتونو د کورنیو مسئلو لکه د ټولنې د کلنۍ بودجې څېړنه او تصویب، د هر غړي هېواد د مالي وندې ټاکنه او د لګښتونو څرنګوالی، د ملګرو ملتونو د څانګیزو موسساتو د بودجې څېړنه او تصویب، د امنیت شورى او نورو شوریګانو د رپوټونو څېړل، د قواعدو جوړول، د امنیت شورى د غیردایمي غړو ټاکل او د ټولنیزې - اقتصادي او قیمومیت شورى ګانو د غړو ټاکنه .[۵۹]

ب – د فرعي څانګو جوړول. د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه د اړتیا په وخت کې، د یوه پرېکړه لیک په صادرولو سره فرعي رکن یاڅانګه جوړولای شي. لکه: ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (UNICEF) ،

---

[۵۸] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص۶-۸

[۵۹] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۰۷

د ملگرو ملتونو د سوداگرۍ او پراختیا کنفرانس UN Conference on trade and Development (UNCTAD)،

د کډوالو له پاره د ملگرو ملتونو کمیساري UN High Commission for Refugee (UNHCR) ،

د روغتیا نړېواله ټولنه World Health Organization (WHO) او نورې[٦٠].

د ملگرو ملتونو د کړنلارې ۷ مادې، د ملگرو ملتونو اصلي څانگو ته دا واک ورکړی چې فرعي څانگې جوړه کړي. د ملگرو ملتونو د فرعي څانگو او تخصصي بنسټونو توپیر په دې کې دی چې تخصصي بنسټونه د یوه تړون له مخې له ملگرو ملتونو سره یوځای (الحاق) کېږي، نه د کومې اصلي څانگې په مصوبه، په داسې حال کې چې د ملگرو ملتونو هره اصلي څانگه د اړتیا په وخت کې فرعي څانگه یا رکن جوړولای شي.

ج – د نړېوالو حقوقو د تدریجي پراختیا او تدوین واک. د ملگرو ملتونو د کړنلارې په ۱۳ ماده کې، د نړېوالو حقوقو د تدوین په برخه کې صریح مقررات شته. د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې د کال ۱۹۴۷ د نومبر په ۲۱، د نړېوالو حقوقو د کمیسیون اساسنامه تصویب کړه چې اوس ۳۴ غړي (د نړېوالو حقوقو متخصصین) لري چې د سیمه ییزه ډلو له لستونو څخه د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي.

د –په نړۍ کې د بشري حقونو د پراختیا او هڅونې په برخه کې د پرېکړې واک. د ملگرو ملتونو ټولنیزه - اقتصادي شورى د کال ۱۹۴٦ د جون په ۲۱ د ۱۸ هېوادونو په گډون، د بشري حقونو کمیسیون جوړ کړ. دې شورى د بشري حقونو نړېواله اعلامیه برابره کړه، چې د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې د ۱۹۴۸ د دسمبر په ۱۰ تصویب کړه. عمومي ټولنې د ۱۹٦٦ د دسمبر په ۱٦ دا ژمنلیکونه هم تصویب کړل: د سیاسي او مدني حقونو میثاق او د فرهنگي،ټولنیزو او اقتصادي حقونو میثاق .[٦١]

ذ – تر قیمومیت لاندې سیمو څار. د غیراسترتیژیکو سیمو له پاره د قیمومیت د تړونونو تصویب، د ملگرو ملتونو د عمومي ټولنې کار دی. دا ټولنه د داسې سیمو د ادارې د شرایطو او عملي مدیریت او خپلواکۍ په برخه کې بشپړ واک لري.

ر – د ملگرو ملتونو د مالي مدیریت له پاره د مقرراتو د جوړولو واک. د ملگرو ملتونو د کلنۍ بودجې جوړول، تصویب او د غړو هېوادونو د ونډو ټاکنه د عمومي ټولنې له واکونو څخه دي. همداراز ټولې هغه پرېکړې چې د لگښتونو په هکله کېږي، د تصویب له پاره عمومي ټولنې ته ځي. ښکاره خبره ده چې د ملگرو ملتونو بودجه د غړو هېوادونو له خوا په هغه ډول چې مخکې شرح شوه، برابرېږي.

ملگري ملتونو په پاسنیو عوایدو سربېره، د خپلو پستي ټکټونو او د خپلې ودانۍ د پلورنځیو د نفیسو شیانو د خرڅلاو او گټې څخه هم پیسې برابروي .[٦٢]

---

[٦٠] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۰۷

[٦١] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۰۸-۱۰۹

[٦٢] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص۶-۸

## د عمومي ټولنې غیرانحصاري مسوولیتونه (دندې)

دا هغه دندې دي چې د پرېکړو له پاره یې، د ملګرو ملتونو د امنیت شورى مشارکت هم اړین وي. د ملګرو ملتونو د کړنلارې له مخې، د عمومي ټولنې او امنیت شورى ګډ واکونه دا دي:

- الف – په ملګرو ملتونو کې د نوی غړي منل،
- ب – د یو غړي د عضویت ځنډول او له غړیتوب څخه ویستل،
- ج – د ملګرو ملتونو د سرمنشي ټاکل،
- د – د عدالت د نړېوالې محکمې د قاضیانو ټاکل.

په پاسنیو مواردو کې عمومي ټولنه د امنیت شورى سپارښتنې (توصیه) په پام کې نیسي. د نړېوال امنیت او د سولې د ساتنې په برخه کې د امنیت شورى واکونه ډېر دي او عمومي ټولنه الزامي پرېکړه نه شي کولای. د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۱۰ او ۱۴ موادو له مخې، عمومي ټولنه په نړۍ کې د سولې په هکله خبرې او سپارښت کولای شي؛ خو د سولې او نړېوال امنیت د هغه مسایلو په برخه کې چې د امنیت شورى په اجندا کې وي، عمومي ټولنه سپارښت هم نه شي کولای. عمومي ټولنه د کړنلارې د ۱۰ او ۱۱ موادو له مخې د پرېکړه لیکونو د صادرولو له لارې، د نړۍ په عامه افکارو اغېز کولای شي او بس .[۶۳]

چې دا خبره لنډه کړو، عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو هغه چارې چې، د دې ټولنې د اکثریت غړو رایه او اراده د پرېکړه لیکونو له لارې له ځانه سره ولري، داسې سرته رسوي:

-د هغه کمیټو او بنسټونو له لارې چې عمومي ټولنې د بېوسلې کولو، سوله ساتنې، پرمختګ او د بشري حقونو د پراختیا په شان د ځانګړو مسایلو په هکله جوړ کړي دي،

-د هغه نړیوالو غونډو له لارې چې عمومي ټولنه یې د جوړېدو غوښتونکی وي،

-د ملګرو ملتونو د دارالانشا (سرمنشي او کاري ډله) له لارې[۶۴].

## ۲ – امنیت شورى Security Council:

د ملګرو ملتونو د کړنلارې پنځم فصل په امنیت شورى پورې اړه لري. د دې کړنلارې د ۲۴ مادې له مخې، امنیت شورى د نړېوالې سولې او امنیت د ساتلو اصلي مسوولیت په غاړه لري. دا مسوولیت هغه هېوادونو دې شورى ته ورکړی، چې له دویمی نړېوالې جګړې څخه وروسته یې، په نړۍ کې د یوی تلپاته سولې له پاره د ملګرو ملتونو ټولنې د جوړېدو وړاندیز وکړ.

په هغه وړاندیز کې چې لومړی د دامبارتن اوکس په غونډه کې وشو، داسې ویل شوي و هغه وخت چې په نړیوال امنیت یرغل کېږي، ملګري ملتونه باید په یوه کمکی شورى کې، د بېړني غبرګون وس ولري. امنیت شورى د

---

[۶۳] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۱۱-۱۱۲

[۶۴] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص۸

ملگرو ملتونو یوازنی ارگان دی چې د قهریه اعمالو په هکله د پرېکړو او اجراتو واک او ځواک لري. ویل کېږي چې د ملگرو ملتونو د کړنلارې لیکونکو حقوق پوهانو او سیاسیونو؛ځکه دې شوری ته ډېر واک ورکړ چې د ولسونو ټولنې د آراوو د اتفاق د اصل له مخې، د لومړئ نړیوالې جگړې او نورو غټو نړیوالو ستونزو مخه ونه شوای نیولای او نړۍ له لویو ناورینونو سره مخامخ شوه.

امنیت شوری ۱۵ غړي لري چې ۵ یې دایمي دي: امریکا متحده ایالات، د روسیې فدراسیون، فرانسه، برتانیا او شمالي ایرلنډ او چین چیټول د (ویتو) حق لری. دا (چین) په لومړي سر کې د چین د خلکو جمهوریت نه و. هغه وخت ملي چین یا تایوان (فارموسا ټاپو) د امریکا په ملاتړ، د ملگرو ملتونو د امنیت شوری دایمي غړی و او ملگرو ملتونو ته یې د چین د خلکو جمهوریت د ورتگ مخه نیوله. د ملگرو ملتونو د عمومي ټولنې د کال ۱۹۷۱ په کلنۍ غونډه کې، د نړۍ ۷٦ هېوادونو د رومانیا په وړاندیز رایه ورکړه چې په ملگرو ملتونو او ټولو اړونده ارگانونو کې دې، د چین د خلکو جمهوریت د ملي چین (تایوان یا فارموسا) ځای ونیسي. هغه وخت ۳۵ هېوادونو منفي او ۷ ممتنع رایي کارولي وې .[٦٥]

د دې په څنگ کې ۱۰ غیردایمي غړي راځي، چې د ملگرو ملتونو عمومي ټولنه یې د دوو کلونو له پاره ټاکي او د ویتو حق نه لري؛ خو د عدالت د تامین او د نړیوالې سولې او امنیت له ساتنې سره د مرستې د پاره په بېلابېلو جغرافیایي سیمو پورې اړه لري: آسیا او افریقا – ۵؛ لاتینه امریکا او کارابین – ۲؛ ختیځه اروپا – ۱؛ لویدیځه اروپا او نور – ۲؛ اوقیانوسیه او نور ټول هېوادونه .

پاسنیو پنځو هېوادونو ته د ویتو حق ځکه ورکړ شوی، چې د سیاست پوهانو په اند د نړېوالې سولې او امنیت ډېر مسوولیت په غاړه لري. دا د دویمې نړېوالې جگړې گټونکي هېوادونه هم دی چې د ملگرو ملتونو د جوړیدو په وخت کې یې، پوره واک او ځواک او امکانات درلودل. د دایمي غړو هېوادونو لوړپوړي استازي، د دی هیوادونو د ولسمشرانو یا د بهرنیو چارو وزیرانو په لاسلیک، د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې ته پېژندل کېږي، په داسې حال کې چې غیردایمي هېوادونه د عمومي ټولنې له خوا په ٦٦.٦٦% موافقو رایو ټاکل کېږي. د شوری ریاست په نوبت دی او هر غړي هېواد ته رسي. په امنیت شوری کې د دایمي غړو هېوادونو د استازو د کار موده نه ده ټاکل شوې او دوام یې په هر غړي هېواد پورې اړه لري؛ خو د غیردایمي هېوادونو د استازو د کار موده دوه کاله ده .[٦٦]

### په امنیت شوری کې رایه ورکول:

د امنیت شوری هر غړی د یوی رایې حق لري. د قوانینو او کاري څرنگوالي په هکله پرېکړې ۹ رایو ته اړتیا لري. که څه هم چې د اساسي مسایلو په هکله پرېکړې هم ۹ رایي غواړي؛ خو توپیر دا دی چې دلته به د هېڅ دایمي غړیهیواد رایه منفي نه وي. یو دایمي غړی حق لري چې وړاندیز(ویتو) کړي. هغه اساسي مسایل چې د امنیت شوری د ټولو پنځو دایمي غړو موافقه رایه غواړي، دا دي: د کړکیچونو سوله ییز حل، تنبیهي او انظباطي گامونه،

---

[٦٥] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۱۹

[٦٦] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۴۹ – ۵۰

د ملګرو ملتونو د کوم غړي هېواد ایستل یا تعلیق، له عمومي ټولنې سره د امنیت شورى اړیکې او د ملګرو ملتونو د سرمنشي ټاکنه.

که یو دایمي غړی د ویتو رایه استعمال نه کړي او ممتنع رایه وکاروي، مانا دا ده چې که وړاندیز ۹ موافقې رایې وګټي، تصویب شوی حسابېږي. د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲۵ مادې له مخې، د دې ټولنې ټول غړي موافق دي چې د امنیت شورى پرېکړې به ضرور مني. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو نور ارګانونه یوازی سپارښتنې کوي. د امنیت شورى دا واک لري چې پرېکړې به یې ټول غړي هېوادونه مني او اجرا کوي .[٦٧]

په لنډه د امنیت شورى ارځښت په دې کې دی چې:

- د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو دنده لري،
- د نړۍ لوی ځواکونه پکې غړیتوب لري،
- د (ویتو) له حق څخه استفاده د نړۍ په عمومي وضعیت ډېره اغېزه شیندلای شي،

-او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې لویې پرېکړې لکه د غړیتوب منل، ایستل او تعلیق؛ د سرمنشي ټاکل او داسې نور د امنیت شورى له پرېکړې وروسته اجرایي کېږي .[٦٨]

**په امنیت شورى کې د (ویتو) حق**

دا د ملګرو ملتونو د امنیت شورى د ۵ دایمي غړو انحصاري حق دی. د کړنلارې د ۲۷ مادې د ۳ فقرې له مخې، دا پنځه هېوادونه کولای شي چې په خپله منفي رایه، د امنیت شورى د هر راز پرېکړې مخه ونیسي. د پاسنیو ۵ دولتونو ویتو، د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۷ فصل د اجرایي اقداماتو په برخه کې عملي کېږي. په دې مانا چې امنیت شورى، د دې پنځو غړو له (هو) پرته د هېڅ ډول قهري اقداماتو په برخه کې اقدام نه شي کولای.

د ویتو پلویان وایي چې دا قانونی حق، ټولو هېوادونو د امنیت شورى د پنځو دایمي غړو هېوادونو له پاره منلی. دوی فکر کوي له هغه ځایه چې دا پنځه ځواکونه، هر یو خپل لیدلوری او بېلې ګټې لري او د نړۍ نور هېوادونه په یوډول له دې لیدلورو او ګټو سره تړلي یا نژدې دي؛ نو کله چې دا پنځه لوی هېوادونه په یوه خبره سلا کېږي، د نړۍ نور هېوادونه به ډاډه اوسي چې حللاره له نړیوال او سیاسي اړخه پوره، سمه او معقوله ده. دوی فکر کوي چې ویتو نړیوال انډول برابر کړی دی؛ځکه د ملګرو ملتونو په عمومي ټولنه کې هر لوی یا کوچنی غړی هېواد یوه–یوه رایه لري؛ خو په امنیت شورى کې رایه د ځواک له مخې ټاکل شوی ده.

د ویتو د حق پلویان همداراز وایي چې ویتو، د امنیت شورى د اجرااتو د تعلیق یاځنډ باعث نه دی؛ځکه که دا حق هم نه وای؛ نو لویوځواکونو به د خپلو غوښتنو د پوره کېدو له پاره، له نورو لارو چارو کار اخست. د دوی په اند ویتو د دې لویو پنځو ځواکونو تر منځ د جګړو مخه نیولې او که دا (حق) نه وای. کېدای شوای چې ځینې هېوادونه به له ملګرو ملتونو څخه وتلی وای.

---

[٦٧] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۹۸

[٦٨] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۹۵-۹۶

د ویتو مخالفین فکر کوي چې دې حق د امنیت شورى هر غړي هېواد په وړاندې، د امنیت شورى د هر ډول اقدام مخه نیولې ده. د مثال په توګه امریکا متحده ایالاتو درى ځلې د اسراییلو په ضد پرېکړې ویتو کړې او شوروى اتحاد هم په افغانستان باندې د یرغل په وخت کې، د امنیت شوریه هر راز پرېکړه لیکونه ویتو کول. د ویتو مخالفین دا هم وایي چې دا حق د ملګرو ملتونو د ټولو غړو هېوادونو د ملي حاکمیتونو د برابرئ له اصل سره په ټکر کې دى.

ویتو د بحران په وخت کې د نړیوالې سولې او امنیت بهیر فلج کولاى شي او د ټولو هغه لارو چارو (میکانیزم) مخه ونیسي چې د نړیوالو بحرانونو د حل او فصل له پاره، د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې په پام کې نیول شوي دي.

هغه وخت چې یو ویتو لرونکى هېواد د شخړې یا ستونزې یو پلو وي او خپله ویتو رایه وکاروي، د امنیت شورى پرېکړه اجرایي کېداى نه شي. په حقیقت کې د ویتو لرونکى یو هېواد رایه، د هر ډول لویې اجماع مخه نیولاى شي. ویل کېږي چې دا په نړیوالو سیاستونو کې، تر ټولو ناعادلانه پرېکړه ده چې د نړۍ له ۱۹٦ هېوادونوڅخه دې یوازې ۵ د ویتو حق ولري!

کره کتونکي وایي چې دا لکه د اضدادو جمع ده. یو پلو د ملګرو ملتونو کړنلاره د غړو هېوادونو د مساوي حاکمیت خبره کوي؛ خو په عین وخت کې د امنیت شورى ۵ دایمي غړي دا انکار نه منونکي امتیاز لري. په امنیت شورى کې دا ښکاره توپیري چلند د دې ښکارندوى دى، چې ملګري ملتونه د نړۍ د لویوځواکونو نړیوال حکومت دى او دا نړیواله ټولنه په ډېرو مواردو کې، د خپل کړنلارې له مخې نه؛ بلکه د ۵ زبرځواکونو په سیوري کې په مخ روانه ده[٦٩].

له تېروڅو کلونو څخه راپدیخوا، په نړۍ او د ملګرو ملتونو په عمومي ټولنه کې، د دې ټولنې د اغېزمنتیا د ډېرولو له پاره دوه بحثونه روان دي. یو دا چې د (ویتو حق) دې لغو شي او که دا عملي نه وي؛ نو د امنیت شورى د دایمي غړو په شمېر او جوړښت کې دې بدلون راشي.

متنفذین وایي چې د ویتو حق د کال ۱۹۴۵ د حالاتو او د دویمې نړیوالې د پېښېدو او ناوړه پایلو په نتیجه کې منل شوې، په داسې حال کې چې اوس په نړۍ کې نوي ځواکونه منځ ته راغلي، شرایط بدل شوي، د نړۍ نفوس له ۲.۵ بلیون څخه ۷.٦ بلیون ته رسېدلى، له هغه وخته تر اوسه ۱۳۰ هېوادونه خپلواکه شوي او دومره ستر بدلونونه راغلي چې په تېرو دریو پېړیو کې ساری نه لري.

د ملګرو ملتونو په ۴۸ کلنئ غونډه کې داسې وړاندیزونه وشول چې د امنیت شورى دایمي غړي دې تر ۷، ۱۹ او حتى ۲۵ پورېډېر شي چې هېڅیو د ویتو حق ونه لري. په اوسني جوړښت کې د افریقا او اقیانوسیه استازي نشته چې دا په غړیتوب کې د جغرافیایي عنصر نیمګړتیا بلل کېږي، یا ټول وروسته پاته او پرمختیایي هېوادونه په امنیت شورى کې استازي نه لري. ځینې ځواکمن هېوادونه لکه هند، جرمني، برازیل او جاپان هم په امنیت

---

[٦٩] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۹۷-۹۸

شورى کې د دايمي غړيتوب خبره کوي او په اسلامي هېوادونو کې هم داسې خوځښت پيداوړى کېږي چې ولې ۵۷ اسلامي هېوادونه په امنيت شورى کېيو استازى نه لري[70]!

**د امنيت شورى دندې او واکونه:**

د ملگرو ملتونو د کړنلارې له مخې، د امنيت شورى دندې او واکونه دا دي:

- -د ملگرو ملتونو له اهدافو (موخه) او اصولو سره سم، د نړېوالې سولې او امنيت ساتل،
- -د وسلو د څار د نظام د جوړولو د پروگرامونو برابرول،
- -له بېلابېلو اړخونو څخه، د شخړو د سوله ييز حل غوښتنه،
- -د هرې هغه شخړې يا ځاى (موقعيت) په اړه څېړنه، چې کېداى شي په نړېواله ستونزه واوړي، د روغې جوړې لټول او يا د حل او فصل د شرايطو برابرول،
- سولې ته د تهديد د شتون ټاکل او يا د يرغليز گام په وخت کې د وړ اقداماتو سپارښتنه،
- داسې لنډمهاله اقداماتو ته د بېلابېلو اړخونو بلل، چې د اوضاع د خرابيدو له پاره غوره وبلل شي او يا اړين وي،
- د امنيت شورى د پرېکړو د عملي کولو له پاره، داسې اقداماتو ته د ملگرو ملتونو د غړو هېوادونو بلل، چې زور پکې نه وي مطرح، لکه بنديزونه (تحريم)
- د نړېوالې سولې او امنيت د اعادېيا ساتنې له پاره، د زور روا گڼل او يا له زوره کار اخستل.
- په سيمه ييزه لارو چارو د محلي شخړو د سوله ييز حل هڅونه،
- د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې ته، د عمومي منشي او يا د عدالت د نړېوالې محکمې د قاضيانو د داسې انتصاب او انتخاب په هکله سپارښتنې چې په اتفاق وشي،
- د هرې حقوقې مسلې په هکله، د عدالت د نړېوالې محکمې د مشورتي نظر غوښتنه.
- ملگرو ملتونو ته د نويو غړيو هېوادونو د منلو په وخت کې، عمومي ټولنې ته سپارښتنې[۷۱].

د امنيت شورى ټولې دندې او واکونه په لاندې دوو ډلو وېشل کېږي:

۱ – د نړيوالې سولې او امنيت ساتنې په برخه کې واکونه:

۱/۱ – د کړکيچونو (اختلاف) سوله ييز حل: د نړيوالو کړکيچونو د سوله ييز حل مقررات د کړنلارې په ٦ فصل کې راغلي. په داسې حال کې چې د ملگرو ملتونو عمومي ټولنه عادي ستونزې او کړکيچونه څېړي، امنيت شورى په هغه کړکيچونو کار کوي چې نړيوالې سولې او امنيت ته گواښ گڼل کېږي.

۱/۲ – تنبيهي او انظباطي گامونه: دا گامونه د ملگرو ملتونو د کړنلارې په ۷ فصل کې راغلي.

---

70 سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۹۶-۹۷

۷۱ حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص۹

۲ – د ټاکلو، جزا او قانون جوړولو په برخه کې واکونه.

۲/۱ – د ټاکلو واک: امنیت شوری، عمومي ټولنی ته د ملګرو ملتونو د نویو غړو د منلو، د سرمنشی او د عدالت د نړېوالې محکمې د قاضیانو د ټاکنې سپارښت کوي. له دې وروسته د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه د امنیت شوری د سپارښت په اړه چې ضروري ګڼل کېږي، په ٦٦.٦٦%رایو پرېکړه کوي.

۲/۲ – جزایي واک: عمومي ټولنه د امنیت شوری په سپارښت، د کومي غړي هېواد د لنډمهاله یا دایمي تعلیق یا ایستلو په هکله په ٦٦.٦٦%رایو پرېکړه کوي. دلته د امنیت شوری سپارښت اړین دی.

۲/۳ – د قانون جوړولو واک: د کړنلارې د ۱۰۹ مادې له مخې، امنیت شوری کولای شي چې له عمومي ټولنې سره یوځای، د هغه غونډې په هکله پرېکړه وکړي چې ټول غړي هېوادونه پکې حضور ولري او د ملګرو متلونو په کړنلاره بیا کتنه وکړي.

همداراز امنیت شوری د کړنلارې د ۹۴ مادې سره سم، د دعوی هغه پلو (طرف) ته چې د عدالت د نړېوالې محکمې د پرېکړې له مخې یې ژمنې کړې وې او بیا ځینې سر غړوي، سپارښتنې واستوي[۷۲].

**د امنیت شوری ژبې:**

چینایي، انګلیسي، روسي، اسپانوي او فرانسوي د امنیت شوری رسمي ژبې دي؛ خو کار یوازې په انګلیسي، فرانسوي او اسپانوي ژبو کېږي.

**د امنیت شوری کمیسیونونه:**

امنیت شوری د خپلو دندو له پاره، د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲۹ مادې له مخې، دوه ډوله کمسیونونه جوړ کړي:

الف: اوږدمهاله (دایمي) کمیسیونه: امنیت شوری ۵ دایمي کمسیونونه لري: د بې وسلې کولو کمیسیون، د کارپوهانو یا متخصصینو کمیسیون، د نویو غړو د منلو کمسیون، د نړیوال امنیت د چارو کمیسیون او ارکان حرب.

ب – لنډمهاله (موقت) کمسیونونه: دا هغه کمسیونونه دي چې د ځانګړو دندو له پاره جوړېږي. لکه په فلسطین کې د اوربند له پاره، د ملګرو ملتونو ځانګړی کمسیون چې د کار تر اجرا وروسته بیرته ړنګېږي .[۷۳]

امنیت شوری د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲۸ مادې له مخې، باید تل خپلو دندو ته چمتو اوسي. له همدې امله د امنیت شوری استازي باید تل په ملګرو ملتونو کې حضور ولري. له هغه ځایه چې امنیت شوری د نړیوالې سولې او امنیت دروند مسوولیت په غاړه لري؛ ځکه نو د اړتیا په وخت کې غونډې جوړولای شي. د امنیت شوری کورنیو تګلارو دا غونډې په دوو برخو وېشلي:

---

[۷۲] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۹۷-۹۸

[۷۳] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۱۰۰-۱۰۱

الف – عادي غونډې :

د ملګرو ملتونو د کړنلارې له ۲۸ مادې سره سم، امنیت شورى په کال کې دوه ځله غونډې کوي چې وختونه یې هم دوی خپله ټاکي،

ب – بیړنۍ یا استثنایي غونډې :

دا غونډې د اړتیا په وخت کې جوړېدی شي.

**څوک نړیوال کړکیچونه او ستونزې امنیت شورى ته وړاندې کولای شي؟**

۱ – د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۳۵ مادې لومړې فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه،

۲ – د کړنلارې د ۳۵ مادې د دوهمې فقرې له مخې، هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړي نه دي،

۳ – د کړنلارې د ۳۵ مادې د دریېمې فقرې له مخې، عمومي ټولنه،

۴ – د کړنلارې د ۹۹ مادې له مخې، سرمنشي،

۵ – د کړنلارې د ۳۴ مادې له مخې، خپله د امنیت شورى (که چیرته یوه ستونزه نړیوالې سولې او امنیت ته جدي ګواښ وېولي).

د امنیت شورى غونډې معمولاً د ملګرو ملتونو په مقر، نیویارک، کې کېږي؛ خو خپلې غونډې بل ځای هم جوړولای شي، لکه په کال ۱۹۷۲ کې په ادیسه بابا (ایتوپیا)، په ۱۹۷۳ کې په پانامه (پانامه) او په ۱۹۹۰ کې په ژنیو (سویتزرلند) کې[۷۴].

که چیرته سوله له تهدید سره مخامخ وي، شورى لومړی د سوله ییز حل سپارښتنې کوي، یا د منځګړیتوب له پاره استازي لېږي یا له عمومي منشي څخه غواړي چې مرسته وکړي او خپل اغېز وکاروي؛ خو که جګړه پېښه شي، شورى د اوربند له پاره مټې نغاړي، پوځي څارونکي یا سوله ساتي ډلې استوي، اقتصادي، پوځي، مالي او سفري بندیزونه لګوي. په سفرونو بندیزونه او مالي او تسلیحاتي بندیزونه یعنی مطلوب هېواد ته د وسلو په صادرولو بندیز ډېر کارول کېږي. دا بندیزونه داسې طراحې کېږي چې عامو خلکو او نړیوالې سوداګرۍ ته زیان ونه رسوي او که دې هڅو نتیجه ورنکړه پوځي اقدام ته ملا تړي .[۷۵]

**د امنیت شورى رییس:**

امنیت شورى د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۳۰ مادې له مخې خپله کورنۍ تګلاره جوده کړې ده. د دې تګلارې د ۲۱۸ مادې سره سم، د دې شورى ریاست د غړو هېوادونو د نومونو په انګلیسي ترتیب برابر شوې او هر څوک یوه میاشت دا دنده په غاړه اخلي .

---

[۷۴] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۵۲

[۷۵] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۱۰

## ۳ – اقتصادي او ټولنیزه شوری(Economical and Social Council (ECOSOC

د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۱۰ فصل اقتصادي او ټولنیزه شوری ته ځانګړی شوی دی. د شوری اتحاد، امریکا متحده ایالاتو او برتانیا مشرانو، د یالتا په غونډه کې، د داسې یوې شوری په شتون خبرې وکړي؛ خو د سانفرانسسکو په غونډه کې هوکړې ته ورسېدل او دا شوری یې تصویب کړه. که څه هم چې ملګري ملتونه د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګولو او ساتلو له پاره جوړه شوې؛ خو په کړنلاره کې یې د شخړو او جګړو د مخنیوي له پاره، د اقتصادي او ټولنیزه ستونزو د حلاری په توګه نړیواله مرسته او ګډ کار هم په پام کې نیول شوی، هغه څه چې د ولسونو ټولنې په کړنلاره کې نه و!

اوس اقتصادي او ټولنیزه شوری د ملګرو ملتونو درېیم رکن دی چې د خپلې اساسنامې د ٦٠ مادې له مخې د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې تر نظر لاندې کار کوي. د دې اساسنامې ٦٦ ماده اقتصادي او ټولنیزه شوری ته دنده سپاري چې د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې سپارښتنې ومني. په دېتوګه وینو که څه هم چې اقتصادي او ټولنیزه شوری خپلواکه ده؛ خو د ملګرو ملتونو د سرمنشي او عمومي ټولنې تر نظر لاندې کار کوي. د ملګرو ملتونو کړنلارې دا شوری، د دې ټولنې او تخصصي بنسټونو او کمیټو یا د ملګرو ملتونو د کورنۍ، د اقتصادي او ټولنیزو چارو د همغږۍ له پاره جوړه کړې ده. د ملګرو ملتونو د منشور نهم او لسم فصلونه، نړیوالو اقتصادي او ټولنیزه همکاریو ته ځانګړې شوې او د اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، روزنیزو او روغتیایي مسایلو په هکله څېړنې او بشري حقونه او بنسټیزه آزادي ګاني، د اقتصادي او ټولنیزه شوری دندې بلل شوې دي .[٧٦].

اقتصادي او ټولنیزه شوری خپلې دندې له دې لارو په مخ بیایي:

الف- څېړنې: د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦٢ مادې د لومړۍ فقرې له مخې، اقتصادي او ټولنیزه شوری باید د نړۍ اقتصادي، فرهنګي،ټولنیز، زده کړنیز، روغتیایي او نور نړیوال مسایل وڅېړي او راپورونه وکاږي او په دې برخو کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو او اړونده تخصصي بنسټونو ته سپارښتنې واستوي. ډېرځله لیدل شوي چې غړي هېوادونه او عمومي ټولنه دا څېړنې لولي او لازم تدابیر نیسي.

ب- سپارښتنې: اقتصادي او ټولنیزه شوری د دولتونو له پاره پرېکړه نه شي کولای؛ خو د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦٢ مادې د دوهمې فقرې له مخې، دا حق لري چې بشري حقونو ته د رښتیانې درناوي او ټولو ته د بنسټیزه خپلواکیو (آزادی ګانې) د هڅولو له پاره سپارښتنې وکړي.

ج - د هوکړه لیکونو او کنوانسیونونو د مسودو برابرول: د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦٢ مادې د ۳ فقرې له مخې، اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د هغه چارو په برخه کې، چې د دوی په دندو او واکونو کې راځي، د هوکړه لیکونو او کنوانسیونونو مسودې جوړې او عمومي ټولنې ته وړاندې کړي.

---

[٧٦] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۵۱-۱۵۲

ځینې داسې کنوانسیونونه همدا شوری خپله جوړوي، لکه د ډله ییزو وژنو د مخنیوي کنوانسیون چې اقتصادي او ټولنیزې شوری برابر او عمومي ټولنې تصویب کړ او بیا له هېوادونو څخه وغوښتل شول چې په رسمي توګه یې تصویب کاندي.

خوځینې نور د ژورو څېړنو له پاره نړیوالو غونډو ته استول کېږي. لکه د بې تابعیته افرادو د وضعیت پروتوکول چې مسوده یې یو نړیوال کنفرانس برابره کړه (۱۹۵۴) او بیایې اقتصادي او ټولنیزې شوری ته واستوله چې خپل نور پړاوونه ووهي.

د – غونډې (کنوانسیونونه): اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦٢ د ۴ فقرې سره سم، د هغه چارو په هکله چې د دوی په دندو او واکونو کې راځي، د ملګرو ملتونو له خوا نړیوالې یا سیمه ییزه غونډې جوړې کړي چې په هغو کې دولتونه یا پوهان او مسلکي خلک برخه اخلي. د مثال په توګه د نړۍ د نفوسو په هغه غونډه کې چې په کال ۱۹۵۴ کې جوړه شوه، متخصیصنو، پوهانو او مسلکي کسانو برخه اخستې وه .[۷۷]

**د اقتصادي او ټولنیزې شوری جوړښت:**

اقتصادی او ټولنیزی شوری په لومړی سر کی ۱۸غړی درلودل؛ خو دا شمیر د ملګروملتونو د غړو په ډیریدو سره، په کال۱۹٦۵ کی ۲۷ او په ۱۹۷۳ کی ۵۴ ته لوړ شو چې د عمومي ټولنې له خوا د جغرافیایي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري معیارونو له مخې (په هر کال کې اتلس هېوادونه) د دریو کلنونو له پاره ټاکل کېږي. یو غړی دوهم ځل هم ټاکل کېدای شي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شوری ۵ دایمي غړي،ټول د اقتصادي او ټولنیزی شوری غړیتوب لري او پاته ۴۹ باید د نورو هېوادونو داسې استازیتوب وکړي: افریقایي ۱۴، آسیایي ۱۱، لاتینه امریکا ۱۰، ختیځه اروپا ٦ او لویدیځه اروپا او پاته هېوادونه ۱۳ استازي (دولتونه). له هغه ځایه چې ملګري ملتونه د هېوادونو په کورنیو چارو کې لاس نه وهي؛ له همدې امله د اقتصادي او ټولنیزی شوری پرېکړې د سپارښتنو بڼه لري او الزامي نه دي.

د اقتصادي او ټولنیزې شوری په کلنیو غونډو کې، ناغړي هېوادونه او یا هغه جوړښتونه چې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په رسمیت پېژندلي لکه خپلواکي غوښتونکي غورځنګونه، هم له رایي څخه پرته ګډون کولای شي. دا شوری هېڅ دایمي غړي نه لري[۷۸].

---

[۷۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص ۱۱۶-۱۱۷

[۷۸] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۵۲-۱۵۳

**د اقتصادي او ټولنیزې شورى دندې او واکونه:**

د اقتصادي او ټولنیزې شورى دندې او واکونه، د ملګرو ملتونو د کړنلارې په ٦١ – ٧٢ موادو کې راغلي دي. له سیاسي، حقوقي او اداري مسایلو پرته، په نورو ټولو مسایلو په دې شورى بحث کېږي. د دې دندو او واکونو لنډیز دا دی:

- د نړېوالو اقتصادي او ټولنیزه مسایلو په هکله، د بحث او د ملګرو ملتونو د نظام او غړو هېوادونو په نامه د کړنلارې د سپارښتنو تنظیم،
- د روغتیا، زده کړو، کلتور، ټولنې، اقتصاد، نړیوالو چارو او نورو ورته مسایلو په هکله، د راپورونو د لیکلو او یا مطالعاتو د ابتکار سر ته رسول،
- د بشري حقونو او بنسټیزه خپلواکیو (آزادي) د ملاتړ رواجول او د هغوي رعایت،
- د اقتصادي او ټولنیزه مسایلو په برخه کې، د سترو نړېوالو کنفرانسونو له جوړولو سره مرسته او د پرېکړو ملاتړ،
- د تخصصي بنسټونو د فعالیتونو همغږي او عمومي ټولنې ته د هغوی په اړه د سپارښتنو وړاندې کول.[٧٩]

د اقتصادي او ټولنیزې شورى غونډې:

شورى د خپل کار له پاره د مدني ټولنو له غړو سره ګردې میزونه، تدارکاتي غونډې، ډله ییز بحثونه او جلسې جوړوي. شورى د هر کال په جولای کې، څلور اونۍ متناوباً په نیویارک او ژنیو کې اساسي غونډې جوړوي چې په یوه برخه کې یې د لویو اقتصادي، ټولنیزه او بشرپاله مسایلو په هکله، د وزیرانو او نورو لوړپوړو چارواکو په ګډون خبري کېږي.

د اقتصادي او ټولنیزې شورى اړوند بنسټونه:

دا شورى ٩ ترلي مشورتي څانګې لري چې هره یوه په خپله برخه کې په څېړنو او سپارښتنو بوخته ده: د سرشمېرنو (احصائیه) کمیسیون، د نفوس او پراختیا کمیسیون، د ټولنیزې پراختیا کمیسیون، د بشري حقونو کمیسیون، د ښځو د دریځ کمیسیون، د نشه یي توکو کمیسیون، د جرایمو د مخنیوي او د جزایي عدالت کمیسیون، د پرمختیا له پاره د علومو او تکنالوژۍ کمیسیون او د اوږدمهاله (پایدار) پراختیا کمیسیون.

اقتصادي او ټولنیزه شورى پنځه سیمه ییز کمیسیونونه لري:

- د اروپا اقتصادي کمیسیون، ژنیو - سویتزرلند، ١٩٤٧،
- د آسیاپاسفیک اقتصادي کمیسیون، بنکاک - تایلند، ١٩٤٧،
- د افریقا اقتصادي کمیسیون، ادیسه بابا - ایتوپیا، ١٩٥٨،
- د لاتینې امریکا او کارابین اقتصادي کمیسیون، سانتیاګو - چیلي، ١٩٤٨،
- د لویدیځې آسیا اقتصادي کمیسیون، بیروت – لبنان، ١٩٧٣،

---

[٧٩] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ١١

دا شورى د کارپوهانو ٦ دايمي کمېسيونونه لري:

- د پروګرامونو او همغږئ کمېسيون،
- د بشري حقوقو کمېټه،
- د نادولتي ټولنو کمېسيون،
- د انرژي او طبيعي زيرمو کمېسيون،
- څو ملتيزه شرکتونه،
- د عمومي ادارې کمېسيون.

اقتصادي او ټولنيزه شورى دوې دايمې کمېټې لري:

- د ستراتيژيکو تدابيرو او پروګرامونو کمېټه،
- د جرايمو د کنترول او مخنيوي کمېټه،

دا شورى همداراز د پروګرام جوړولو، پراختيا، طبيعي زيرمو او د بومي خلکو د اقتصادي،ټولنيزه او کلتوري حقونو په برخه کېڅو تخصصي بنسټونه لري.

دا شورى د ملګرو ملتونو له پروګرامونو (لکه د ملګرو ملتونو د پراختيا پروګرام، چاپېريال، بشري اسکان او د نفوسو صندوق) او تخصصي بنسټونو(لکهFAO ، WHO، UNESCOاو د ILO) سره همکاري او همغږي لري؛ ځکه هغوي ټول دې شورى ته راپورونه استوي او د لويو غونډو له پاره يې سپارښتنې برابروي .[٨٠]

**له نادولتي ټولنو سره د اقتصادي او ټولنيزى شورى اړيکې:**

اقتصادي او ټولنيزه شورى، له نادولتي ټولنو سره د هغه مسايلو په هکله چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې له مخې، د دې شورى په واکونو کې راځي مشوره کوي. سمدلاسه دا شورى له ۲۱۰۰ داسې ټولنو سره چې ځانګړي مسلکي پوهه يا تجربه لري او بايد د خپلو ليدلورو د ښکارولو امکانات ولري، په اړيکو کې ده. دا نادولتي ټولنې دريډوله دي:

- هغه چې د شورى له ډېره فعاليتونو سره اړيکې لري،
- دويم هغه چې په ځانګړو برخو کې کار کوي،
- دريم هغه چې کله کله له شورى سره مشورتي مرستې کوي.

هغه نادولتي ټولنې چې مشورتي دريځ لري، د اقتصادي او ټولنيزې شورى غونډو يا ترليو مشورتي ځانګو ته استازي استوي.

---

[٨٠] حقايق اساسى درباره سازمان ملل متحد ص ١٢-١٣

په تېرو کلونو کې د اقتصادي او ټولنیزه شورى او نادولتي ټولنو ترمینځ اړیکې خورا پیاوړې شوي دي؛ ځکه شورى له دوى سره د خپلو پروګرامونو په هکله مشورې کوي او خبرو ته یې غوږ نیسي .[۸۱]

اقتصادي او ټولنیزه شورى د هغه چارو په اړه چې په دوى پورې اړه لري، د عمومي ټولنې له قواعدو او اصولو سره سم، نړیوالې غونډې جوړوي، لکه په کال ۱۹۴۸ کې په ژنیو کې د اطلاعاتو د ټولولو د حق غونډه او بیا په کال ۱۹٦۴ کې بیا هم په ژنیو کې د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا غونډه.

د ملګرو ملتونو د کړنلارې له ٦۳ مادې سره سم، اقتصادي او ټولنیزه شورى له تخصصي بنسټونو سره داسې ترونونه لري چې د ملګرو ملتونو او دې تخصصي ټولنو د همکاریو او اړیکو حدود ټاکي. تخصصي بنسټونه دې شورى ته د خپل کلني راپورونه استوي.

نادولتي نړیوالې ټولنې له اقتصادي او ټولنیزه شورى سره مشورتي اړیکې لري؛ خو د شورى د سپارښتنو منلو ته اړ نه دي. دا ټولنې دوه ډوله دي: لومړى هغه چې شمېر یې ډېر دي او د شورى د فعالیت په حوزه کې اساسي ګټې لري. دویم هغه چې شمېر یې لږ دى او د شورى په ځینو کارونو کې ځانګړې واکونه لري.

د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزى شورى د کال ۱۹٦٦ په دسمبر کې ۱٦ نړیوال ترونونه نافذ کړل چې له مخې یې، د نړۍ هېوادونه د بشري حقونو د رعایت له پاره، د سیاسي ګوندونو په جوړولو مکلف شول.

خو له دې ټولو سره – سره دا شورى رښتیاني اقتصادي او ټولنیز واک او ځواک او د حتمي او تطبیق کېدونکو پرېکړو حق نه لري او د ملګرو ملتونو او عمومي ټولنې څخه جلا یا خپلواکه حرکت نه شي کولاى. له همدې امله یې ځینې پروګرامونه ځنډېدلى او د سانفرانسیسکو د غونډې ژمنې یې عملي کړى نه دى.[۸۲]

د دې شورى هغه یوازنى پرېکړې چې عملي کېدونکي دي، د ملګرو ملتونو د کورنیو جوړښتونو او مقرراتو په برخه کې دي. البته په ځینو نړیوالو مسایلو کې مثبت کارونه هم لري، لکه د بشري حقونو د پراختیا او ستندرد کولو په برخه کې د دې شورى د بشري حقونو د کمېسیون زیار، د جزایي حقوقو ژوندي کول او داسې نور.

یا د مثال په توګه اقتصادي او ټولنیزه شورى، په اقتصادي برخه کې د ملګرو ملتونو له خورا فعالو ارګانونوڅخه شمېرل کېږي چې دا ادارې ورسره کار کوي: د سوداګرۍ او تعرفو عمومي هوکړه، د بیارغاونې او پراختیا بانک، د پراختیا نړیوال صندوق، د ملګرو ملتونو اقتصادي کمېسیونونه او د سوداګرۍ او پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو نړیوال کنفرانس یاUNCTAD.

اقتصادي او ټولنیزه شورى له ملګرو ملتونو څخه بېله بودجه لري، هر غړى هېوادیوه رایه لري او پرېکړې د حاضرو غړو په اکثریت آراوو کېږي.[۸۳] د اکثریت کلمه د دې شورى په کورنیو لوایحو کې تشریح لري. هغه استازي چې د یوې موضوع په ګټه رایه ورکوي او یا منفي رایه ورکوي. که څوک ممتنع رایه وکاروي، ناسوب (غیرحاضر) ګڼل کېږي.

---

[۸۱] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۱۲

[۸۲] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۵۴-۱۵۵

[۸۳] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۲۳

## ۴- د قیمومیت شوری Trusteeship Council:

قیمومیت شوری د ملګرو ملتونو له شپږګونو اصلي څانګویا بنسټونوڅخه ده چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۱۲ فصل سره سم، د تر قیمومیت لاندې سیمو د اداري څار له پاره جوړه شوې ده. داسې نظام د ولسونو په ټولنه کې هم و چې په ځینو سیمو تطبیق کېده. په هغه وخت کې د ځینو سیمو اداره د جګړې ګټوونکو هېوادونو ته وسپارل شوه او دې هېوادونو د قیمومیت لاندې سیمو/هېوادونو د ادارې د څرنګوالي په برخه کې د ولسونو ټولنې ته مسوولیت درلود. د ملګرو ملتونو د جوړښت په وخت کې، په سانفرانسسکو کې د قیمومیت شوری Trusteeship Council جوړه شوه چې د ولسونو ټولنې د ورته (مشابه) جوړښت ځای یې ونیو.[۸۴]

دا هغه سیمې وې چې له قیمو هېوادونو سره یې جلا – جلا تړونونه درلودل. د قیمومیت نظام هدف دا و چې دا سیمې/هېوادونه په اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي برخو کې پرمختګ وکړي او د خپل برخلیک د ټاکلو او په ځان د حکومت وس ومومي.

په کال ۱۹۴٦ کې د ملګرو ملتونو له جوړېدو وروسته، ټولې هغه سیمې چې د ولسونو ټولنې په قیمومیت کې وې او تر هغه وخته خپلواکه شوي نه وې، له جنوبي افریقا څخه پرته، په تر قیمومیت لاندې سیمو کې راغلي .[۸۵]

قیمومیت نظام د څه له پاره جوړ شو؟

د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې د قیمومیت شوری اهداف شته چې دلته به په لنډیز وړاندې شي.

الف – د نړیوالې سولې او امنیت ټینګلتیا،

ب – د تر قیمومیت لاندې سیمو د خلکو/ اوسېدونکو له سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او تعلیمي پرمختګ سره مرسته او د کورواکئ یا خپلواکئ له پاره د هرې سیمې د خلکو له غوښتنو سره سم ګام په ګام وړاندې تګ،

ج – بې له نژادي، جنسي، ژبني او مذهبي توپیره، اساسي آزادي ګانو او بشري حقونو ته د درناوي هڅول او د دې خبرې منل چې د نړۍ ټول ولسونه یو بل ته اړتیا لري،

د – د ملګرو ملتونو له ټولو غړو هېوادونو سره په ټولنیز، اقتصادي او سوداګریزه چارو او همداراز د دې هېوادونو له خلکو سره د عدالت د عملي کولو په برخه کې یو شان چلند.[۸٦]

**د قیمومیت شوری جوړښت:**

د ملګرو ملتونو د منشور د ۸٦ مادې له مخې د قیمومیت شوری جوړښت په پېل کې داسې و:

۱ – د قیمومیت لاندې سیمو قیم یا اداره کوونکي هېوادونه،

۲ – د امنیت شوری هغه دایمي غړي چې تر قیمومیت لاندې سیمې نه لري،

---

[۸۴] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۵۸-۱۵۹

[۸۵] سازمانهای بین المللی، دوکتور رضا موسی زاده ص ۱۷۵، او world Almanac ۲۰۱۹p. ۱۷۴

[۸٦] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ص۱۱۹

۳ – نور انتخابي غړي چې د قیمومیت لاندې سیمو د اداره کوونکو او غیراداره کوونکو هېوادونو تر منځ، د منځګړو په توګه ټاکل کېږي.

په کال ۱۹٦۸ کې چې د قیمومیت شوری فعالیتونه اوج ته ورسېدل. چین، فرانسه، شوروي اتحاد، استرالیا، برتانیا، د امریکا متحده ایالات او نیوزیلند د قیمومیت لاندې سیمو اداره کوونکي هېوادونه وو. په کال ۱۹۸۷ کال کې دا شمېر ۵ شو. د امنیت شوری ۵ دایمي غړي چې چین په غونډو کې برخه نه اخیسسته.

**د قیمومیت شوری واکونه:**

قیمومیت شوری په خپلو چارو کې د ټولنیزې او اقتصادي شوری په شان، خپلواکي نه لري او د استراتیژیکو سیمو په برخه کې د عمومي ټولنې یا امنیت شوری تر نظر لاندې کار کوي. له دې سره – سره د قیمومیت شوری واکونه دا دي:

الف – شوری د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۸۸ مادې له مخې، د تر قیمومیت لاندې هرې سیمې د خلکو د اقتصادي – سیاسي پرمختګ په هکله یو پوښتنلیک برابروي. قیم یا اداره کوونکی هېواد باید په دې برخه کې بشپړ راپور وړاندې کړي. قیمومیت شوری کولای شي چې دا راپور وڅېړي او په دې برخه کې خپل نظر ورکړي،

ب – شوری د تر قیمومیت لاندې سیمو د ډلو او افرادو شکایتونه اوري او څېړي (د کړنلارې د ۸۷ مادې لومړې فقره)،

ج – شوری تر قیمومیت لاندې سیمو ته په هغه وخت/وختونو کې سفر کوی چې قیم هېواد موافق وي (۸۷ – ۲)،

د – قیمومیت شوری خپل کلنی راپور د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته لېږي. قیمومیت شوری همداشان کولای شي چې په دې برخه کې عمومي ټولنې، امنیت شوری او یا غړو دولتونو ته ځانګړي سپارښتنې وکړي. د قیمومیت شوری پرېکړې الزامي نه دي او د سپارښتنو دریځ لري[۸۷].

**د قیمومیت شوری دندې:**

- -د ملګرو ملتونو عمومي ټولنېد سپارښتنو عملی کول،
- -د قیمومیت لاندې سیمو د خلکو د شکایتونو اورېدل،
- -د کلنیو او ځانګړو راپورونو برابرول، او د قیمومیت لاندې سیمو د څارنې او لیدلو له پاره د پلاوو لېږل.

د ملګرو ملتونو د قیمومیت شوری د جوړېدو په هماغه لومړنیو کلونو کې،یوولس سیمې تر قیمومیت لاندې راغلې چې وروسته ځینې خپلواکه شوې او ځینې له نورو هېوادونو سره یوځای شوې. په دې کې پالوو وروستنی

[۸۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد. ص ۱۲۰

هېواد و چې په کال ۱۹۹۱ کې خپلواکه شو او نور نو داسې سیمه پاته نه شوه چې تر قیمومیت لاندې دې وي [۸۸].

د ملګرو ملتونو کړنلارې هغه ناکورواکه سیمې هم نه وې هېرې کړې چې په قیمومیت کې نه وې راغلې. د ملګرو ملتونو هغه غړو هېوادونو چې داسې سیمېیې اداره کولې چې لا کورواکه نه وې، دا خبره منله چې د دا ډول سیمو د خلکو ګټې خورا ارځښت لري او د هغوی د هوسایني پلویتوب د دوی ماموریت دی.

دې هېوادونو ژمنه کوله چې د ناکورواکه سیمو د خلکو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او زده کړنیز پرمختګ به تضمین کاندي او له دوی سره به د ولسواکه (دموکراتیک) سیاسي بنسټونو په جوړولو او کورواکي ته په رسېدوکی مرسته وکړي.

استرالیا، بلجیم، دنمارک، فرانسې، هالند، نیوزیلند، برتانیا او امریکا متحده ایالاتو په کال ۱۹۴۶ کې خپلې هغه سیمې په ګوته کړې چې ناکورواکه وې. دا ۷۲ سیمې وې چې ۸ یې له ۱۹۵۹ مخکې خپلواکه شوې. د کال ۱۹۶۰ د دسمبر په ۱۴ د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د تر استعمار لاندې خلکو او هېوادونو تاریخي اعلامیه صادره کړه چې درې برخېیې درلودې.

الف – له یوه خپلواک هېواد سره یوځای کېدل،

ب – په یوه خپلواک هېواد کې مدغم کېدل،

ج – خپلواکي.

د هغه سیمو شمېر چې وروسته خپلواکه شوې، ژر ۶۰ ته ورسېد. په اعلامیه کې راغلي وو چې قیم هېوادونه دې، ژر تر ژره خپلې پوځي اډې له دې سیمو څخه وباسي او هسې اقتصادي فعالیتونه دې نه کوي چې د ملګرو ملتونو د اعلامیې د تطبیق مخه ونیسي[۸۹].

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹۶۳ کې د هغه ۶۴ سیمو لړ (فهرست) بیا تایید کړ چې د کال ۱۹۶۰ د استعمار د امحا په اعلامیه کې راتلې. اوس په نړۍ کې تر قیمومیت لاندې سیمې نشته، قیمومیت شوری خپله کړنلاره بدله کړې او یوازې د اړتیا په وخت کې غونډې کوي . [۹۰]

په کال ۲۰۰۳ کې په نړۍ کی یوازې ۱۶ ناخپلواکه سیمې وې:

۱ – لویدیځه صحرا، افریقا،

۲ – امریکایی ساموا، اسیا،پاسفیک یا آرام سمندر، امریکا متحده ایالات،

۳ – ګوام، آسیا، آرام سمندر، امریکا متحده ایالات،

۴ – نیو کالیدونیا، آسیا، آرام سمندر، فرانسه،

۵ – پیت کرن، آسیا، آرام سمندر، برتانیا،

---

[۸۸] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۱۳۸-۱۴۰

[۸۹] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۳۱۵-۳۱۶

[۹۰] حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد، ص ۳۱۳-۳۱۴

٦ – توکیلاو، آسیا، آرام سمندر، نیوزیلند،

۷ – انگوییلا، اتلس سمندر، برتانیا،

۸ – برمودا، اتلس سمندر، برتانیا،

۹ – ویرجن ټاپوګان، اتلس سمندر، برتانیا،

۱۰ – کایمن ټاپوګان، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

۱۱ – فالکلند (مارینوس) ټاپوګان، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

۱۲ – جبل الطارق، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

۱۳ – مونتسرات، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

۱۴ – سنت هلینا، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

۱۵ – ترک او کایکو، کارابین او مدیترانه، برتانیا،

١٦ – د امریکا ویرجن تاپوګان، کارابین او مدیترانه، امریکا متحده ایالات.

**کومې سیمې په قیمومیت نظام کې راځي:**

په نړۍ کې دوه ډوله ناخپلواکه سیمه شته، ستراتیژیکي او غیرستراتیژیکي سیمې. په دې دواړو باندې د قیمومیت څار عملي کېدای شي.

د غیرستراتېژیکو سیمو څار د عمومي اسامبلې په پرېکړو پورې اړه لري، په داسې حال کې چې د ستراتېژیکو سیموڅار د قیمومیت شوری کار دی. په بله ژبه عمومي ټولنه په خپل ځای کی او امنیت شوری په خپل ځای کې د ملګرو ملتونو دندې، لکه د قیمومیت تړون او په هغه کې بدلونونه او سمونونه سرته رسوي.

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۷۷ مادې له مخې، قیمومیت شوری د لاندې درې ډوله سیمو د ادارې مسوولیت درلود:

الف هغه سیمې چې د لومړې نړیوالې جګړې په پای کې، د ولسونو ټولنې له خوا تر قیمومیت لاندې راغلې،

ب – هغه سیمې چې د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې له دښمنو هېوادونوڅخه جلا شوې،

ج – هغه سیمې چې قیمو هېوادونو په خپله خوښه، قیمومیت شوری سپاري[91].

---

91 حقایق اساسی درباره سازمان ملل متحد ص ۳۱۶-۳۱۷

## ۵ - د عدالت نړیواله محکمه International Court of Justice (ICJ)

له لومړی نړیوالې جګړې وروسته، ډېر هېوادونه په دې پوه شول چې د قانون واکمني د جګړې ځای نیولی شي. له همدې امله ځینو هېوادونو د یوې نړیوالی قضایي مرجع په جوړېدو موافقه وکړه او دا موضوع د ولسونو ټولنې د کړنلارې په ۱۴ ماده ځای په ځای شوه.

په کال ۱۹۲۰ کې د دې محکمې اساسنامه ولیکل شوه چې د ولسونو ټولنې عمومي ټولنې د دسمبر په ۱۳ نېټه تصویب او د ولسونو ټولنې ډېرو غړو لاسلیک کړه او د کال ۱۹۲۱ په سپتمبر کې نافذه شوه. دې محکمې د کال ۱۹۲۲ په فبروری کې په لاهه (هالند) کې په کار پیل وکړ[۹۲].

د دویمی نړیوالې جګړې له پیله وروسته، د پاسنۍ محکمې کارونه په ټپه ودریدل (۱۹۴۰)؛ خو د سانفرانسیسکو په غونډه کې بیا د یوې ځواکمنې نړیوالې محکمې په شتون خبرې وشوې. په هغه غونډه کې دوه وړاندیزونه په میز پراته وو: لومړی وړاندیز د دومبارتن اوکس د غونډې و، چې پخوانې محکمه یې بېرته فعاله غوښته، په داسې حال کې چې د واشګنتن د حقوق پوهانو په وړاندیز کې د یوې نوې محکمې په جوړېدو ټینګار شوی و.

که څه هم چې د دویم وړاندیز پلویان ډېر وو؛ خو پرېکړه داسې وه چې د دې محکمې د کار ډول باید د پخوانې محکمې په شان وي، حقیقت دا دی چې د ولسونو ټولنو د وخت محکمه، په عمل کې د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد له لاسه، له ستونزو سره مخامخ شوه. په نوی پرېکړه کې ویل شوی و چې اوسنۍ محکمه به د پخوانیو قضایاوو څېړلو ته دوام ورکوي او د پخوانې محکمې ټول ترونونه به د اعتبار وړ وي. نوې محکمه د کال ۱۹۴٦ په جنوری کې، د عمومي ټولنې له خوا په لندن کې پرانستل شوه.

د دواړو محکمو ګډ ټکي او توپیرونه:

د نړیوالې دایمي محکمې (ولسونو ټولنه) او د عدالت د نړیوالې محکمې (ملګري ملتونه) ګډ او اختلافي ټکي داسې دي:

الف – ګډ ټکي:

-دواړه محکمې له دوو نړیوالو جګړو وروسته، د دولتونو تر منځ د حقوقي ستونزو او شخړو د سوله ییز حل له پاره جوړې شوې. له همدې امله یوازې دولتونو په دې محاکمو کې د دعواوو د وړاندې کولو حق درلود/لري،

-دواړه محکمې قضایي ماهیت لري. د دولتونو تر منځ حقوقي ستونزې او شخړې څېړي او مشوره یې ورکولی/ورکوي،

-دواړو محکمو د نړیوالو ټولنو د غوښتنې له مخې مشورتي نظر ورکولای شوای/شي، په داسې حال کې چې دولتونو دا حق نه درلود/ نه لري.

ب – اختلافي ټکي:

---

[۹۲] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۲۳

- د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو له اصلي ارکانو څخه ده؛ په داسې حال کې چې دایمي محکمه په ولسونو ټولنه پوری تړلی ارګان و او اصلي نه شمېرل کېده،
- د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد د عدالت نړیوالې محکمې غړی حسابېږي، په داسې حال کې چې د ولسونو ټولنې غړیتوب، د دایمي محکمې د غړیتوب په مانا نه و،
- په دایمي محکمه کې یوازې غړو دولتونو او هغه دولتونو چې په کړنلاره ذکر شوي وو، غړیتوب اخستلای شوای؛ په داسې حال کې چې د عدالت په نړیواله محکمه کې، ټول دولتونه د ملګرو ملتونو له کړنلارې سره سم غړیتوب ترلاسه کولای شي،
- له دایمي محکمې څخه یوازې د ولسونو ټولنې عمومي ټولنې او شوری، مشورتي رایه غوښتلای شوای؛ په داسې حال کې چې د عدالت له نړیوالې محکمې څخه، عمومي ټولنه، د امنیت شوری، تخصصي بنسټونه او د ملګرو ملتونو نوری څانګی چې عمومي ټولنې اجازه ورکړي وي، مشورتي رایه اخستلای شي،
- د دایمي محکمې د احکامو تطبیق د محکوم له یا محکوم علیه دولتونو په ښه نیت پورې اړه درلوده؛ په داسې حال کې چې که کوم دولت د عدالت د نړیوالې محکمې له احکامو څخه سر وغوړوي، موضوع امنیت شوری ته ځي[93].

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۹۲ مادې له مخې، د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو له اصلي ارکانو څخه ده چې اساسنامه یې ملګرو ملتونو د کړنلارې نه بېلېدونکی برخه شمېرل کېږي او دا په ډاګه کوي چې د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه دا اساسنامه په بشپړه توګه مني.

په کال ۱۹۷۲ کې د دې محکمې په اساسنامه کې د دویم ځل له پاره لږ بدلونونه په پام کې ونیول شول چې د کال ۱۹۷۸ د جولای په لومړې نافذ شول[94].

د محکمې مقر د لاهه (هالند) د سولې په ماڼۍ کې دی او د ملګرو ملتونو د ټولو غړو دولتونو په مخ پرانستې دی؛ خو د افرادو، خصوصي موسساتو او نړېوالو ټولنو غوښتنې مستقیماً نه اوري. دا محکمه د هېوادونو تر منځ قانوني ستونزې او لانجې څېړي چې دی ته ترافعي واک وایي؛ خو که نړیوالو ټولنو، د ملګرو ملتونو تخصصي بنسټونو او د عمومي ټولنې حقوقي پوښتنو ته مشوره ورکړي، دې ته مشورتي واک وایي[95].

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه او امنیت شوری کولای شي چې د هرې حقوقي مسلې په برخه کې، د محکمې مشوره وغواړي؛ خو د ملګرو ملتونو تخصصي بنسټونه او نورې څانګې د عمومي ټولنې په موافقه، د خپلو حقوقي مسایلو په هکله د محکمې مشوره اخستلای شي.

---

93 سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۲۶

94 نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۱۲

95 fa.wikikpedia.org

**قانوني واک (صلاحیت):**

د عدالت نړیواله محکمه په بشپړه توګه ۴یوه خپلواکه او ناپېیلې اداره ده او د ټولو هغه مسایلو د څېړلو واک لري چې هېوادونه یې ورته وړاندې کوي او یا ټول هغه څه چې د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې راغلي او یا په نړېوالو تړونونو او کنوانسیونونو کې په پام کې نیول شوي دي. عارض دولتونه باید د محکمې د پرېکړو د منلو له پاره بشپړ چمتوالی ولري.

محکمه د دعواوو د څېړلو په وخت کې دا اسناد په پام کې نیسي:

- هغه نړېوال کنوانسیونونه چې مدعي او مدعي الیه دولتونو منلي او لاسلیک کړي دي،
- نړېوال عرف چې د قانون په توګه منل شوی،
- عمومي قانونی اصول چې ولسونو منلي وي،
- قضایي پرېکړې او د بېلابېلو هېوادونو د صالحه څېړونکو تعالیم[96].
-

**جوړښت او غړیتوب:**

محکمه ۱۵ قاضیان لري چې له هر راز توپیر پرته، پوهې او مسلک ته په کتو، د عمومي ټولنې او امنیت شوری له خوا په داسې ډول ټاکل کېږي چې د نړۍ اصلي قضایي نظامونه په محکمه کې حضور پیدا کړي.

هغه کسان چې د دې محکمې د قاضیانو په توګه په پام کې نیول کېږي، باید د بشري لویو تمدنونو او سترو قضایي نظامونو استازیتوب وکړي. د ملګرو ملتونو سرمنشي، له ټاکنوڅخه دری میاشتې مخکی په ملي بنسټونو غړ کوي چې وړ کسان وروپېژني. دا قاضیان چې د خپلو هېوادونو استازي نه ګڼل کېږي او د خپل هېواد په ګټه هېڅ کار هم نه شي کولای؛ د امنیت شوری او عمومي ټولنې په غوڅ اکثریت رایو غوره کېږي او دلته د امنیت شوری د دایمي او غیردایمي غړو په رایو کې هېڅ توپیر نشته. د دې محکمې د اساسنامې د ۳۵ مادې له ۳ فقرې سره سم، په هره قضایي غونډه کې باید ۹ قاضیان حضور ولري.

یو هېواد په یو وخت کې دوه قاضیان نه شي لرلای. د قاضیانو د کار موده ۹ کاله ده او دویم ځل هم ټاکل کېدای شي. هر دری کاله وروسته ۵ څوکی تشېږي چې نوي کسان ورته راځي او دندې اخلي. قاضیان به د قضاوت په موده کې بله دنده نه لري او د دعوی په وخت کې د کوم پلو وکالت یا استازیتوب نه شي کولای. که چېرته یو قاضي د داسې هېواد تبعه وي چې په محکمه کې دعوی لري، مقابل لوری د لنډمهال له پاره محکمې ته بل قاضي معرفي کوي چې (ځانګړی قاضی) بلل کېږي. د دې محکمې قاضیان دیپلوماتیک مصونیت لري. ټول لګښتونه یې ملګري ملتونه ورکوي او یو قاضي هغه وخت له کاره ګوښه کېدای شي چې نور قاضیان یې د کار وړ ونه بولي[97].

---

[96] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۱۴

[97] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۶۱

که چېرته د دعوی دواړه خواوې د محکمې په کوم قاضي راضي نه وي، بیا هم (ځانګړی قاضي) راځي. د دې قاضیانو دنده د دعوی له خلاصون وروسته پای ته رسي[98].

محکمه خپلې معمولي غونډې لري؛ خو د دعوی د دواړو خواوو په غوښتنه، د څېړنې کمکی واحد جوړولای شي چې پرېکړه یې د محکمې پرېکړه بلل کېږي[99].

محکمه د جبر او الزام واک نه لري. یعنې فقط هغه دعواوې څېړي چې دولتونو وړاندې کړې وي او خپله هېڅ تشبث نه کوي.

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۹۳ مادې له مخې، د دې ټولنې ټول غړي هېوادونه مکلف دي چې د نړیوالې محکمې اساسنامه ومني (د محکمې د اساسنامې ۳۴ ماده). هغه دولتونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري؛ خو د دې محکمې اساسنامه مني (د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۹۲ ماده) او هغه دولتونه چې نه د ملګرو ملتونو غړیتوب لري او نه د دې محکمې، هم کولای شي چې خپلې دعواوې د عدالت نړېوالې محکمې ته وړاندې کړي (د ملګرو ملتونو د امنیت شورى ۹ پرېکړه لیک – ۱۹۴٦). په درېیم حالت کې دا دولتونه هغه وخت دې محکمې ته عارض کېدای شي چې د امنیت شورى له خوا وضع شوو شرایطو ته غاړه کېږدي. نړېوالې ټولنې له دې محکمې څخه مشورتي رایه غوښتلی شي.[100]

د ملګرو ملتونو غړي دولتونه چې د عدالت نړیوالې محکمې اساسنامه مني، د اړتیا په وخت کې محکمې ته مراجعه کولای شي. هغه دولتونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، باید خپلې دعوی په وخت کې د محکمې اساسنامه ومني او دا شرایط هم ولري: د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۹۴ مادې منل او د محکمې فیس.

د مثل په توګه سویتزرلند د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري؛ خو د کال ۱۹۴۸ د اکتوبر په ۵ یې د عدالت د نړیوالې محکمې غړیتوب ترلاسه کړ او درېیم هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو او نړیوالې محکمې غړیتوب نه لري، باید لومړی د یوې اعلامیې په ترڅ کې، د عدالت د نړیوالې محکمې واک ومني او پرېکړو ته یې غاړه کېږدي. که دا اعلامیه خصوصي وي، یعنی مطلوب هېواد په یوڅو قضیو کې د محکمې واک مني؛ خو که اعلامیه عمومي وي، مطلوب هېواد په ټولو قضایاوو کې د محکمې واکونه مني.

په دولتونو سربېره افراد او نړیوالې ټولنی هم محکمې ته ورتلای شي؛ خو په دې شرط:

افراد: د نړیوالې محکمې د اساسنامې د ۳۴ مادې سره سم، افراد او نړیوالې ټولنې د خپلو متبوعه دولتونو له لارې محکمې ته ورتلای شي. په دې صورت کې په حقوقي قضیو کې ښکېل افراد، حق لري چې ځان ته مدافع وکیلان او حقوقي سلاکاران وټاکي او دعوی په مخ بوځي.

نړیوالې ټولنې: که څه هم د نړیوالی محکمې د اساسنامې ۳۴ ماده په څرګنده دا حکم کوي چې محکمه یوازې د دولتونو تر منځ د حقوقي قضیو د څېړلو واک لري؛ خو د همدې مادې ۲ او ۳ فقرې د محکمې او نړیوالو ټولنو

---

[98] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۱۸

[99] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۱۸

[100] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری ، ص ۱۶۸-۱۶۷

تر منځ همکاری ته اشاره کړې ده. یعنې نړیوالې ټولنې کولای شي چې له نړیوالې محکمې څخه یوازې مشورتي رایه وغواړي.

**د دعوی موضوع:**

نړیواله محکمه یو حقوقي بنسټ دی او له هر ډول مشروع اقدام څخه وړاندې باید له حقوقي پلوه د دعوی شتون او خپل واک ثبیت کړي.

نړیواله محکمه یوازې حقوقي مسایلڅېړي، سیاسي او جنایي قضیې د دې محکمې په واک کې نه راځي.

د نړیوالې محکمې د اساسنامې د ۳٦ مادې د ۲ فقرې له مخې، دا موضوعات د نړیوالې محکمې په صلاحیتونو کې راځي:

الف – د نړیوالو تړونونو تفسیر،

ب – په نړیوالو حقوقو پورې اړوند مسایل،

ج – له نړیوالو ژمنو (تعهدات) څخه سرغړونی،

د – نړیواله محکمه له نړیوالې ژمنې څخه د سرغړونې په صورت کې، باید د تاوان (غرامت) کچه او ډول وټاکي.

اوس دلته پوښتنه پېدا کېږي چې ایا نړیواله محکمه دا واک لري چې هغه قضیه وڅېړي چې په عین وخت کې حقوقي او سیاسي اړخونه هم لري؟

نړیواله محکمه په دې هکله د حقوقي مسایلویو پراخ تعریف وړاندې کوي او لیکي: هغه مسایل چې په یو وخت کې حقوقي او سیاسي اړخونه ولري، محکمه یوازې د قضیې حقوقي اړخ څېړي. لکه نیکاراگوا چې د امریکا متحده ایالاتو په ضد نړیوالې محکمې ته شکایت وکړ؛ خو امریکا استدلال کاوه چې د نیکاراگوا قضیه سیاسي اړخ لري او دا مسله باید په امنیت شوری او یا د امریکایي هېوادونوټولنې ته وړاندې شي او نړیواله محکمه د دې ډول قضیو د څېړلوځای نه شي کېدای؛ خو نړیوالې محکمې اسدلال کاوه چی دا محکمه د ملگرو ملتونو د سیستم یوه برخه ده او په دې اند ده چې په امنیت شوری کې، د قضیې څېړل په عین وخت کې په محکمه کې هم ترسره کېدای شي. د امنیت شوری دندې سیاسي او د محکمې دندې حقوقي ماهیت لري او دواړه یو د بل د دندو بشپړونکي ارگانونه دي او دواړه کولای شي چې په جلا – جلا ډول موضوعات وڅېړي.

**د دولتونو رضایت:**

محکمه یوازې د مدعي او مدعي علیه د رضایت په صورت کې کولای شي چې حقوقي قضیې وڅېړي. د دعوی له طرفینو څخه هېڅ یو نه شي کولای چې په یوازې توگه د خپلې دعوی د اقامې له پاره محکمې ته ورشي. دا کار هغه وخت کېدای شي چې د قضیې دواړه اړخونه، له څېړلو مخکې او یا وروسته د محکمې واک ومني.

**د محکمې د واک منل:**

لکه څنگه چې مخکې وویل شول یو دولت د بل دولت له خوښې پرته، خپله دعوی محکمې ته نه شي وړای او محکمه داسې قضیې نه څېړي. د دولتونو له لوري محکمې ته د قضیې د څېړلو د رضایت اعلان دوه ډوله کېږي:

- د محکمی د واکونو اختیاری منل: د دولتونه تر منځ د اختلاف تر پیدا کېدو وروسته یوه ځانګړي هوکړه لاسلیک کېږي. په هوکړه کې دواړه لوري ژمنه کوي چې د ستونزې یا شخړې د هواري له پاره به نړیوالې محکمې ته ځي، چې دې ته د (محکمې د صلاحیتونو اختیاري منل) وایي. دولتونه د ځانګړو هوکړو تر لاسلیک وروسته د محکمې دارالانشا ته خبر ورکوي.
- د اجباري واک په حالت کې دولتونه له اختلاف څخه وړاندې، د محکمې واک ته غاړه ږدي او ژمنه کوي چې که په راتلونکې کې د دوی تر منځ کوم اختلاف رامنځ ته کېږي، د څېړلو له پاره به یې نړیوالې محکمې ته ورځي او پرېکړې به یې مني.

د محکمې اجباري واک په لاندې دوو طریقو منل کېدای شي:

الف -- د نړیوالو هوکړو له مخې د محکمې اجباري واک منل: د محکمې د اساسنامې د ۳٦ مادې له مخې، محکمه د ټولو هغه قضایاوو د څېړلو واک لري چې دوه خواوېیی وروړي او یا د ملګرو ملتونو د کړنلارې او نورو تړونونو او هوکړه لیکونو له مخی منل شوي وي،

ډېری نړیوالی هوکړی د محکمې د اجباري واک د منلو له امله لاسلیک کېږي او د دې هوکړو له مخې دولتونه ژمنه کوي، چې د اختلاف د رامنځ ته کېدو په وخت کې به نړیوالې محکمې ته مراجعه کوي.

قضیه د مدعي له لوري باید د یوه لیک په ترڅ کې محکمې ته وړاندې شي او مدعي علیه مکلف دی چې محکمې ته حاضر شی. محکمې ته د مدعي علیه حاضرېدل الزامي دي؛ ځکه د هوکړې له مخې دواړه هېوادونه مکلف دي چې د اختلاف د رامنځ ته کېدو په وخت کې، د محکمې پرېکړو او واکونه ته غاړې کېږدي.

په دوه اړخیزه او څواړخیزه هوکړه لیکونو سربېره، نوری داسې هوکړی هم شته چې نړیوالې محکمې ته د حقوقي قضیو د څېړلو واک ورکوي، لکه د ډله ییزې وژنې د مخنیوي د کنوانسیون نهمه ماده چی وایی: د غړو د سرغړونې، د کنوانسیون د نه عملي کولو، ابهام او د اختلاف په صورت کې دواړه خواوې یی کولای شي چې د قضیې د څېړلو له پاره نړیوالې محکمې ته ورسي.

د نړیوالې محکمې د اساسنامې په ۳۷ ماده کې راغلي چی په هر هغه هوکړه یا کنوانسیون کې چې د غړو تر منځ د قضایي پېښو د څېړلو مرجع په کې نړیواله محکمه ښودل شوي وي، قضیه همدا محکمې ته باید وړاندې شي.

په دې توګه نړیواله محکمه د ټولو هغو قضایاوو د څېړلو واک لري چې د دعوی د دواړوياڅو اړخونو پرې مخکې توافق کړی وي.

ب -- د یو اړخیزه اعلامیو له مخې د محکمې د واک منل: د داسې اعلامیو خپرول اختیاري دي. یعنې دولتونه د دې اعلامیو په خپرولو او نه خپرولو کې خپلواک دي او کولای شي هر وخت چې لازمه وګڼي دا ډول اعلامیې خپرې کړي او یایې ببرته واخلي.

دولتونه همداراز کولای شي چې په دې اعلامیو کې، سمونونه راولي او یا د خپرې شوې اعلامیې په ځای بله اعلامیه خپره کړي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي ته د اعلامیې له سپارلو وروسته، دولتونه ژمنه کوي چې د دې اعلامیې له مخې به د اختلاف په وخت کې د ملګرو ملتونو نړیوالې محکمې ته مرجعه کوي.

د یادونې ده چې داسې اعلامیې کېدای شي مشروط او یا بی شرطه خپرې شي. د اعلامیې شرطونه دا دي:

- د اعلامیې د اعتبار موده،
- د متقابلې معاملې شرط: دا شرط تر ډېره د محکمې د اجباري واک د منلو په اعلامیه کې ټاکل کېږي او دا شرط دوې پایلې لرلای شي:
- لومړی دا چې هر هېواد دا حق لري، په محکمه کې یوازې هغه وخت دعوی اقامه کړي چې په مقابل لوري هم د اقامې وړ وي او دویم دا چې محکمه به هم د خپل واک یا نه واک له پېژندلو وروسته په قضیه کار کوي،
- د کورنیو محاکمو د واک شرایط: یو شمېر هېوادونه په خپلو اعلامیو کې، په کورنیو محاکمو پورې اړونده دعوی ګانې د نړیوالې محکمې له واکونو څخه بېلوي. د دې ډول شرطونو اصلي سرچینه د ولسونو ټولنې د کړنلارې د ۱۵ مادې ۸ فقری او د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲ مادې ۷ فقرې ته ورګرځي.
- د شخړو د سوله ییز حل لارې چارې: یو شمېر هېوادونو په خپلو اعلامیو کې ځینې شرایط ټاکلي وی. د دې شرایطو له مخې که چېرې د یوې قضیې د څېړلوپه نورو طریقو هوکړه شوې وي، نو د محکمې له اجباري واک څخه وځي.
- دځو اړخیزه هوکړه لیکونو شرایط: دا ډول شرایط په لومړي ځل په کال ۱۹۴٦ کې، د امریکا له لوري په یوه اعلامیه کې وټاکل شول. دځو اړخیزه هوکړه لیکونو له امله رامنځ ته شوې ستونزې، په محکمه کې هغه وخت څېړل کېدای شي، چې د هوکړه لیک ټولې خواوې توافق وکړي.
- د نه پېژندګلوی شرایط: ځینو هېوادونو په خپلو اعلامیو کې د نه پېژندنې شرط ځای کړی دی.اسراییلو د کال ۱۹۵۰ په اعلامیه کې په ډاګه کړې وه چې هغه هېوادونه چې اسراییل په رسمیت نه پېژني، د اختلاف په صورت کې محکمه نه شي کولای چې په قضیه کې مداخله وکړي.
- د جګړې شرایط: دا شرایط چې له لومړی نړیوالې جګړې وروسته دود شول، د جګړې په اړه اختلافونه د محکمې واک نه بولي،
- د مشترک المنافعو هېوادونو تر منځ د اختلاف په اړه شرایط: برتانیا په کال ۱۹۳۰ کې د یوې اعلامیې له مخې، د مشترک المنافعو هېوادونو تر منځ د اختلاف د حل مرجع نړیوالې محکمه نه ده ټاکلې،
- ځانګړی شرط: کله کله په ځینو اعلامیو کې داسې اختلافات را منځ ته کېږي، چې د هماغه هېواد په ځانګړو شرایطو پورې اړه لري، چې دا شرایط هم د نړیوالې محکمې له واکونو څخه بهر دي. لکه د مصر له لوري د کال ۱۹٦۲ اعلامیه، چې د سویز کانال ټول مسایل یې د محکمې له واکونو څخه بېل

کړي وو. په ځینو اعلامیو کې د محکمې واکونه، چې د اعلامیې له صادرولو وروسته کوم اختلاف رامنځ ته کېږي، محدود شوي دي.

- د محکمې مشورتي واک: د نړیوالې محکمې مشورتي واک هغه حقوقي او قضایي پرېکړې ته وایي، چې د نړیوالوټولنو د حقوقي قضایاوو د څېړلو په اړه یې کوي. د نړیوالې محکمې دا مشورتي واک د هغو اصولو او قواعدو سرچینه ده چې په انګلوساکسون هېوادونو کې دود دي.

په کال ۱۹۲۰ کې په امریکا او برتانیا کې د ځینو نړیوالو حقوقي مسایلو په هکله، د عدالت د نړیوالې محکمې په اساسنامه کې د مشورتي واک وړاندیزونه وشول.د اساسنامې د ٦٥ مادې له مخې، د ملګرو ملتونو ټولې اصلي او فرعي څانګې کولای شي چې د خپلو حقوقي قضایاوو د حل له پاره، د نړیوالې محکمې مشورتي رایه وغواړي.

د هغه ارګانونو نومونه چې د مشورتي رایې د غوښتنې حق لري، د ملګرو ملتونو په کړنلاره راغلي دي.

هغه ټولنې او ارګانونه چې په کړنلاره کې نه دي یاد شوي، کولای شي چې د عمومي ټولنې په مرسته، له نړیوالې محکمې څخه د خپلو حقوقي مسایلو په اړه مشورتي رایه وغواړي.

عمومي ټولنه او امنیت شوری هم کولای شي چې له نړیوالې محکمې څخه مشورتي نظر واخلي او همداراز د کړنلارې له مخې د قیمومیت شوری او اقتصادي او ټولنیزې شوری هم دا حق لري.

همداراز یو شمېر نورو فرعي ټولنو هم د هغو هوکړه لیکونو له مخې، چې له ملګرو ملتونو سره یې لاسلیک کړي، دا حق ترلاسه کړی دی. د ملګرو ملتونو کړنلاره ټول حقوقي مسایل د محکمې د مشورتي نظر وړګڼلي دي: لکه: جوړښت یا تشکیلات، دندې او د ټولنې کړنلاره، د ټولنو خپلمنځي ستونزې، د ټولنې د غړو او ناغړو هېوادونو تر منځ ستونزې، د ټولنو د اساسنامو او په نړیوالو حقوقو پورې د اړونده تړونونو تفسیر.

له حقوقي پلوه د نړیوالې محمکې مشورتي رایه الزامي نه ده؛ خو که په نړیوالو تړونونو او یا په ځینو ځانګړو مسایلو کې الزامي پېژندل شوي وي، الزامي بلل کېږي. د مثال په توګه د ملګرو ملتونو د خوندیتوبونو (مصونیت) او همدارنګه د ملګرو ملتونو او دولتونو تر منځ د ستونزو په اړه د محکمې رایې الزامي او قطعي دي.

له دې سره سره چې د نړیوالې محکمې مشورتي رایه الزامي نه ده؛ خو په ځینو برخو کې، په تېره بیا د ټولنو او دولتونو تر منځ د ستونزو او کړکیچونو په حل کې اغېزمنه تمامه شوې ده. د مثال په توګه ملګرو ملتونو په کال ۱۹٥٦ کې کانګو ته نړیوال سوله ساتې ځواکونه واستول او محکمې د ۱۹٦۲ د جولای په ۲۰ د دې ماموریت په اړه مشورتي رایه ورکړه، چې د پوځي ماموریت لګښتونه د ملګرو ملتونو د بودیجې یوه برخه ده او ټول غړي اړ دي چې ټولنې ته خپلې وندې ورکړي.

فرانسې او پخواني شوروي اتحاد په دې دریځ ټینګار کاوه چې د پوځي ماموریت لګښتونه، د ملګرو ملتونو د عادي بودجې له لګښتونوڅخه جلا دی او د خپلو وندو له ورکړې څخه یې انکار وکړ؛ خو نړیوالې محکمې مشورتي رایه ورکړه، چې دا لګښتونه د ملګرو ملتونو له عادي شمېرل کېږي او غړي دولتونه باید خپله وندې ورکړي.

## ٦ – دارالانشا Secretariat

دارالانشا د ملگرو ملتونو په جوړښت کی شپږم مهم ځای لری. د ملگرو ملتونو د کړنلارې د ۷ مادې له مخې، دارالانشا د دې ټولنې له اصلي څانگوڅخه او د سرمنشي، مرستیالانو او هغه کارکوونکو څخه جوړه ده چې په ټوله نړۍ کې دندې سرته رسوي او د ټولنې ورځنې چارې په مخ بیايي[۱۰۱].

د ملگرو ملتونو په لومړنی ناسته کی(۱۹۴٦د فبروری۱۳) کی پریکړه وشوه چی دارالانشا جوړه شی. دارالانشا د ملگرو ملتونو نورو اصلي ارگانونو ته کار کوي او د هغوی تگلارې او پروگرامونه عملي کوي. لکه د سولې ساتنې عملیات، په نړېوالو کړکیچونو کې منځگړیتوب، د اقتصادي او ټولنیزه بهیرونو څېړنه، د بشري حقونو په برخه کې کار، تلپاته پرمختیا، نړېوالې غونډې او کنفرانسونه، له رسنیو سره اړیکي، د ملگرو ملتونو په ژبو د ټولو اسنادو او پرېکړو ژباړه او داسې نور.

ملگري ملتونه د خپلو مامورینو د ټاکنو په وخت کې، جغرافیايي وېش او د غړو هېوادونو مالي مشارکت په پام کې نیسي. د دې مامورینو گومارنی او موقوفي، د سرمنشي په دندو کې راځي. دا مامورین همغسې چې له ملگرو ملتونو څخه معاش اخلي، همدې ټولنې ته مسوولیت لري او باید د ملگرو ملتونو په یوه رسمي ژبه پوه وي[۱۰۲].

د ملگرو ملتونو دارالانشا اوس۲۰۲۱په عادي بودجه کې۳۷۰۰۰ مامورین لري چې له ۱۹۳ هېوادونوڅخه غوره شوي. هر مامور د کار په پېل کې لوړه کوي چې دلته به د هېڅ دولت یا بل بنسټ گټې نه پالي او د ملگرو ملتونو کړنلارې او کاري هداياتو ته به ژمن وی.

د ملگرو ملتونو اصلي دفتر په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې دی؛ خو په ادیسه بابا، بنکاک، بیروت، ژنیو، نایروبي، سانتیاگو او ویانا کې ستر دفترونه او په ټوله نړۍ کې څانگې لري چی د ژنیو، ویانا او نایروبی خورا مهم دی. د ژنیو دفتر د خبرواترو، دیپلوماسی، د بشری حقونو د ساتنی او بیوسلی کولو کارونه مخ ته وړی. د ویانا دفتر د نشه یی توکو او جرایمو د مخنیوی، د جزایی عدالت د پراختیا، د نړیوالی سوداگری د حقوقو د درناوی او له جو څخه د سوله ییزه استفادی دندی په غاړه لری او په نایروبی کی د بشری اسکان او د چاپیریال ساتنی په مسایلو بحثونه کیږی.

**ملگروملتونو سرمنشي :**

د کړنلارې د ۹۷ مادې له مخې، سرمنشي د ملگرو ملتونو تر ټولو لوړ چارواکي دی چې باید دیپلوماتیک مهارت، شهامت، ابتکار او ډېر حقیقت ولري. سرمنشي باید د معقولو حللارو د طراح په توگه، د دولتونو خصوصي گټو ته په نه کتو، په بشپړ ناپېیلتوب د هېڅ هېواد ننگه ونه کړي او د انسانانو سیاسي ارمانونه په پآم کې ونیسي. سرمنشي د نړېوالو مسایلو د حل په وخت کې دوه ښیگڼې لري: یو د ده خپل شخصیت او له خلکو او هېوادونو

---

[۱۰۱] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۳۹-۱۳۷

[۱۰۲] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۳۸

سره چلند چې د ملګرو ملتونو په فضا اغېزه شیندي او بل د سرمنشي توب دریځ او په دولتونو باندې د فشار انحصاري امکانات.

**د سرمنشي ټاکنه:**

د ملګرو ملتونو سرمنشي له پاره نوماندان، د امنیت شورى له خوا عمومي ټولنې ته پېژندل کېږي. امنیت شورى په یوځانګړى غونډه کې، نوماندان ارزوي او که اړتیا وي، له رایي وروسته یو نوماند د یوې اعلامیې په ترڅ کې، عمومي ټولنې ته استوي. عمومي ټولنه ژر په خپلو ځانګړو غونډو کې وړاندیز څېړي او په عمومي غونډه کې د پټو رایو له لارې پرېکړه کوي[۱۰۳].

که داسې نوماند رأیي وانخلي، امنیت شورى بل نوماند ورپېژني. تېرو تجاربو ښودلې چې دا د امنیت شورى پنځه دایمي غړي دي چې د سرمنشي د ټاکنې په برخه کې پرېکړه کوي. سرمنشي د عمومي تولنې د کال ۱۹۴٦ د پرېکړې له مخې د ۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.

د ملګرو ملتونو له جوړېدوڅخه تر اوسه، دى حضراتو د سرمنشي په توګه دندې اخستې:

۱ – تریګولیTrygve Lie ، زده کړه حقوق، مخکې د ناروې د بهرنیو چارو وزیر، د کال ۱۹۴٦ له فبروري څخه د ۱۹۵۲ تر نومبر پورى،

۲ – داګ هامر شولدDag Hammer Sholد ، د اقتصاد دکتورا، مخکې د سویډن د بهرنیو چارو د وزارت کفیل، د کال ۱۹۵۳ له اپریلڅخه د ۱۹٦۱ تر سپتمبر پورى،

۳ – اوتانتU.Thant ، د رنګون پوهنتون دیپلوماسی څانګه، مخکې د میانمار (برما) د لومړى وزیر مشاور، د کال ۱۹٦۱ له نومبر څخه د ۱۹۷۱ تر دسمبر پورى،

۴ – کورت والدهایمKort Waldheim ، د حقوقو دکتورا، سویټزرلند، د کال ۱۹۷۲ له جنوري څخه د ۱۹۸۱ تر ډسمبر پورى،

۵ – خاویر پریز دو کویلارJanvier Perez De Cueller ، حقوق او سیاسي علوم، مخکې د پیرو د بهرنیو چارو وزارت لوړپورى دیپلومات، د ۱۹۸۲ له جنوري څخه د ۱۹۹۱ تر ډسمبر پورى،

٦ – بطروس غالیBoutros – Ghali ، د حقوقو دکتورا، مخکې د مصر د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر، د ۱۹۹۲ له جنوري څخه د ۱۹۹٦ تر ډسمبر پورى،

۷ – کوفي عنانKufi Annan ، د اداری لیسانس،ګانا، مخکې د سولې ساتنې په کار کې د بطروس غالي مرستیال، د کال ۱۹۹۷ له جنوري څخه د ۲۰۰٦ تر ډسمبر پورى،

۸ – بانکي مونBan Ki-Moon ، د حقوقو دوکتورا، مخکې د جنوبي کوریا د بهرنیو چارو وزیر ،د ۲۰۰۷ له جنورئ څخه د ۲۰۱٦ تر ډسمبر پورى،

---

[۱۰۳] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۶۳

۹ – انتونیوگوترسAntonio Guterres ، د فزیک او بریښنا انجنییرماستر، مخکې د پرتګال لومړی وزیر، د کال ۲۰۱۷ له جنورئ څخه تراوسه[۱۰۴].

**د سرمنشي دندې:**

د ملګرو ملتونو د سرمنشي دندې د کړنلارې په ۹۷ – ۱۰۱ موادو کې راغلي چې د مرستیالانو، مشاورینو او مدیرانو په مرسته یې مخ ته وړي. په بله ژبه دا خلک د ملګرو ملتونو لوی سیاستونه او تګلارې ټاکي او مدیریت کوي. دا دندې درې ډوله دي: اداري، اجراییوی او سیاسي.

الف – اداري دندې: د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۹۸ ماده د سرمنشي د ادارې دندو په اړه لیکي: (سرمنشي د عمومي ټولنې، امنیت شورى، اقتصادي او ټولنیزې شورى او قیمومیت شورى په غونډو کې برخه اخلي او ټولې هغه دندې سرته رسوي، چې ملګري ملتونه یې ورسپاري او د ملګرو ملتونو د کار کلنی راپور عمومي ټولنې ته وړاندې کوي). په بله ژبه سرمنشي د ملګرو ملتونو د ټولو چارو د تنظیم او همغږي، د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ارګانونو او تخصصي بنسټونو د کارونو د تلفیق، د ملګرو ملتونو د پرېکړو او سپارښتنو د اجرا او د ملګرو ملتونو د ننیو (داخلي) اداري کارونو مسوولیت په غاړه لري.

په دې توګه سرمنشي له نړېوالې محکمې پرته، د ملګرو ملتونو اجرائیه مشر دی او ټول مامورین د ده یا د ده د استازو (نیویارک، اروپایي مرکز یا په نوره نړۍ کې د ملګرو ملتونو دفاتر) تر پاملرنې لاندې کار کوي. په نړۍ کې د ملګرو ملتونو د پوځیانو او په نیویارک او ژنیو کې د ملګرو ملتونو کتابتونونه اداره هم د سرمنشي په غاړه ده.

د سرمنشي مرستیالان د یوې – یوې څانګې مسوولیت لري: سیاسي، ټولنیز، نړېواله سوله او امنیت او د اروپا دفتر. سرمنشي خپل اداري سیاست د ملګرو ملتونو د کړنلارې او د عمومي ټولنې د پرېکړو په رڼا کې مخ ته وړي.

د سرمنشي لویې اداري دندې دا دي:

- د ملګرو ملتونو د غونډو جوړول او د وخت او ځای او اجندا په اړه یې د غړو خبرول،
- د غونډو (کنفرانسونو، سیمینارونو او نورو ناستو) د څرنګوالي او تګلارو په اړه وړاندیزونه،
- د مطروحه اسنادو د چمتو کولو په هکله فني او حقوقي مشورې،
- له دارالانشا سره د تخصصي بنسټونو همغږي،
- د ملګرو ملتونو د کلنۍ بودیجې جوړول او عمومي ټولنې ته وړاندې کول،
- د نړیوالو تړونونو ثبت او خپراوی،

[104] www.un.org

- عمومي ټولنې ته د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په هکله کلنۍ راپور. په دې راپور کې په فني، اداري، مالي، اقتصادي او سیاسي برخو کې پرمختګونه او په حقوقي، ښوونیزه او ټولنیزه برخو کې ټول پروګرامونه راځي.
- د عمومي ټولنې د تګلارو سره سم، د ملګرو ملتونو د پرېکړو ژباړه او ابلاغ [105].

ب – اجرائیوی دندې:

د ملګرو ملتونو د کړنلارې په ۹۷ ماده کې راغلي چې: (سرمنشي د ملګرو ملتونو تر ټولو لوړ اداري مقام دی). دا جمله وایي چې سرمنشي مکلف دی چې د عمومي ټولنې او امنیت شوری او د ملګرو ملتونو د نورو ارکانو د پرېکړو او سپارښتنو د انفاذ او تطبیق چارې په غاړه واخلي او که اړتیا وي، د دې انفاذ او تطبیق له پاره اجرائیوي پرېکړې وکړي. لکه چې لیدل کېږي د عمومي ټولنې او امنیت شوری په ډېرو پرېکړو او سپارښتنو کې، له سرمنشي څخه غوښتل کېږي چې په غړو دولتونو کې دې د دې پرېکړو او سپارښتنو د انفاذ او تطبیق له پاره ګامونه واخلي.

د سرمنشي لویې اجرائیوي دندې دا دي:

- د امنیت شوری او عمومي ټولنې په شان، د ملګرو ملتونو د اصلي ارګانونو د پرېکړو او سپارښتنو تطبیق،
- د ملګرو ملتونو د اصلي ارګانونو د پرېکړو او سپارښتنو د تطبیق له پاره د اجرائیویګامونو اخستل،
- د حقوقي دعواوو تعقیبول او په محاکمو او نورو بنسټونو کې د ملګرو ملتونو استازیتوب،
- د تړونونو د لاسلیک په وخت کې د ملګرو ملتونو استازیتوب (دولتونه او د استخدام په وخت کې استخدام).

ج – سیاسي دندې:

سرمنشي سیاسي دندې هم لري. د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۹۹ ماده وایي: (سرمنشي کولای شي چې هرې هغه موضوع ته چې امنیت شوریې، نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ وبولي، پام واړوي). دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې په سیاسي برخه کې د سرمنشي واکونه لږ دي؛ ځکه چې دا چارې امنیت شوری ته سپارل شوي دي.

د سرمنشي لویې سیاسي دندې دا دي:

- نړیوالې سولې او د امنیت ساتلو ته د امنیت شوری پام اړول،
- د دولتونو تر منځ منځګړیتوب،

[105] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۳۲

- د ملګرو ملتونو د ارګانونو په استازیتوب اقدامات. د کال ۱۹۵۸ د اګست په ۲۱ د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، له سرمنشي څخه وغوښتل چې په اردن او لبنان کې د ملګرو ملتونو د کړنلارې د اهدافو د تحقق له پاره ګامونه واخلي.
- د ملګرو ملتونو د اصلي ارګانونو په اجنداوو کې د غټو سیاسي مسایلو ځایول،
- په خپلو کلنیو راپورونو کې د سیاسي مسایلو یادول[106].

د دې دندو د اجرا له پاره سرمنشي دا کارونه سرته رسوي:

الف – له امنیت شورى سره د سرمنشي اړیکې: سرمنشي باید امنیت شورى په هر هغه څه خبره کړي، چې د ده په فکر نړېواله سوله او امنیت له ګواښ سره مخامخ کولای شي. هغه اقتصادي او ټولنیز بدلونونه چې سیاسي پایلې لرلای شي، هم په دې دنده کې راځي.

سرمنشي باید په بشپړه توګه ناپېیلې وي. له همدې امله د هرې هغه څېړنې حق لري چې دیې اړینه بولي. سرمنشي کولای شي چې د خپلې سیاسي نظریې، د درنښت او د نړېوالو د عمومي افکارو د جلب له پاره، د امنیت شورى له لارې غږ وباسي.

ب – له عمومي ټولنې سره د سرمنشي اړیکې: سرمنشي هر کال په سیاسي، حقوقي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې، د ملګرو ملتونو د یو کلن کار راپور وړاندې کوي چې د دارالانشا رسمي دریځ بلل کېږي او د نړېوالو ستونزو په هکله په عمومي ټولنه کې د نظریاتو د بیانولو زمینه برابروي.

د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې نژدې نیمې پریکړې، د دارالانشا له خوا جوړېږي او د نورو پرېکړو په لیکلو کې هم، دارالانشا ستره ونډه لري چې سرمنشي یې په سر کې ځای او سیاسي واک لري.

د عمومي ټولنې د کورنیو لوایحو له مخې، هره مسله چې د سرمنشي له خوا مهمه وبلل شي، عمومي ټولنې ته وړاندې کېږي.

ج- منځګړیتوب: سرمنشي حق لري چې د هېوادونو په شخړو کې، له خبرو او څېړنو وروسته منځګړیتوب وکړي. سرمنشي کله نا کله دا کار په خپل ابتکار هم کولای شي. سرمنشي باید په خپلو ټولو کارونو کې د ملګرو ملتونو کړنلاره په پام کې ونیسي .

## په افغانستان کې د UN ماموریت:

افغانستان د ۱۹۴٦ د نومبر په ۱۹ نیټه د ملګرو ملتونو غړی شو. په دې ټولنه کې د افغانستان لومړی استازی ډاکټر عبدالرحمن پژواک و. هسې خو ملګرو ملتونو له همغه لومړنی پیله د افغانستان سره مرسته کوله؛ خو دغه مرسته هغه وخت ډېره شوه چې شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ. په هغه کلونو کې د ملګرو ملتونو عمومي

---

[106] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۳۹-۱۳۷

ټولنې، هر کال د شوروي اتحاد په ضد پرېکړې کولې او له هغه هېواد څخه یې غوښتل چې خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي.[۱۰۷]

ملګرو ملتونو په کال ۱۹۸۸ کې د شوروي اتحاد او امریکا (متحده ایالات) تر منځ، د یو تړون د لاسلیک په کار کې منځګړیتوب وکاوه او په اسلام آباد کې یې یوه عملیاتي ډله وګومارله. د ډاکټر نجیب الله د حکومت له نسکوریدو وروسته ملګرو ملتونو په افغانستان کې فعال و او په کابل کې یې یو ځانګړی استازی درلود. په کال ۱۹۹۵ کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کار نوی پړاو پېل شو. طالبانو کابل ونیو او استاد رباني شمال ته لاړ. د ملګرو ملتونو امنیت شوری د کال ۱۹۹٦ په اکتوبر کې، په کابل کې د دوی له دفتر څخه د پخواني ولسمشر ډاکټر نجیب الله او د هغه د ورور، تښتول او وژل په کلکه وغندل[۱۰۸].

ملګرو ملتونو د کال ۱۹۹۷ په جولای کې، د الجزایر د بهرنیو چارو پخوانی وزیر او نامتو دیپلومات اخضر ابراهیمي، د افغانستان له پاره خپل ځانګړي استازي وټاکه.

ابراهیمي ژر له ٦ (د افغانستان ګاونډیان یعنی چین، ایران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان) + ۲ (روسیه او امریکا متحده ایالات) سره، د لیدنو او خبرو لرۍ پېل کړه چې پای یې ډېر روښانه نه ښکارېده.

د کال ۱۹۹۸ په اګست کې د کینیا په نایروبي او د تانزانیا په دارالسلام کې، د امریکا متحده ایالاتو په سفارتونو یرغلونه وشول چې سلګونو کسانو ته یې مرګ ژوبله واړوله. د ملګرو ملتونو امنیت شوری په خپله ۱۱۹۳ پرېکړه لیک کې، یو ځل بیا په افغانستان کې د ترهګرو په شتون وېره ښکاره کړه او د دسمبر په ۱۲۱۴ پرېکړه لیک کې یې، له طالبانو وغوښتل چې د نړیوالو ترهګرو ډلو له ساتلو او روزلو څخه ډډه وکړي او د افغانستان ټول اړخونه یې د ترهګرو د محاکمې له پاره ګډ کار ته وهڅول.

د کال ۱۹۹۹ په اکتوبر کې، د ملګرو ملتونو امنیت شوری په طالبانو بندیزونه ولګول او امریکایانو عرب شتمن اسامه بن لادن، د امریکا په سفارتونو په یرغل تورن کړ او له طالبانو یې وغوښتل چې هغه دې د محاکمې له پاره امریکا ته وسپاري. امنیت شوری یوه اونۍ وروسته په طالبانو تور پوری کړ چې ډېر پردي جنګیالي او وطني تنکي زلمیان، د دوی په لیکو کې شته، طالبان ملکي خلک له خپلو سیمو څخه بېځایه کوي، له ملکي خلکو سره بد چلند کوي، ډېر کسان یې بندیان کړي، اعدامونه ډېر شوي، له نجونو او ښځو سره تاوتریخوالی ډېر دی، ړانده بمونه غورځوي، ایراني دیپلوماتان یې وژلي؛ د نشه یي توکو کر، تولید او سوداګرۍ ډېره شوې او په طالبانو یې غږ وکړ چې په خپلو تګلارو بیا کتنه وکړي.

طالبانو د کال ۲۰۰۱ په مارچ کې، په بامیان کې دوه ډېر لرغوني او نامتو بوتان، صلصال او شمامه په بمونو والوځول. د بشرپاله ټولنو په بهرنیو استازو یې تورونه وتړل، هندوانو او سیکانو ته د جلا جامو د اغوستلو امر وکړ او ځینې نړیوال مرسته رسونکي یې د مسیحیت د خپرولو په تور بندیان کړل.

---

[۱۰۷] سازمان های بین المللی، دکتر نور محمد غفوری، ص ۱۱۱-۱۰۹

[۱۰۸] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۴۷-۴۶

د همدې کال د سپتمبر په نهمه، د امریکا په پنتاگون او د سوداگرۍ په نړیوال مرکز بریدونه وشول چې ۳۰۰۰ کسان یې ووژل او امریکا ته یې درانه مالي او حیثیتي زیانونه واړول. په ځواب کې امریکا طالبان گرم (ملامت) وبلل او په هغوی یې غږ وکړ چې یا اسامه بن لادن ور ته وسپاري او یا پوځي برید ته چمتو اوسي.

امریکا او برتانیا د همغه کال نومبر په ۷، د طالبانو په اډو او د اسامه بن لادن په روزنځایونو هوایي یرغلونه پېل کړل. دوه اونۍ وروسته د امریکا ځمکني سرتیري افغانستان ته ورسېدل او د طالبانو د پخوانیو مخالفینو یا په اصطلاح شمالي ټلوالې په مرسته یې، هغوی له صحنې څخه ویستل او د ملگرو ملتونو سرمنشي د ۷.۵ ملیون ملکي بېوزله افغانانو له پاره د ۵۸۴ ملیون $ بېړنې مرستې غوښتنه وکړه.

ملگرو ملتونو همدا شان خپل پخوانی ځانگړی استازي، احضر ابراهیمي چې تېر ځل یې کوم بریالیتوب نه درلود، بیا په دنده وگوماره چې بېلابېلې افغاني ډلې، د یو پراخ بنسټه دولت د جوړولو له پاره سره جرگه کړي.

د نومبر په ۱۲، (٦+۲) ډلې د ملگرو ملتونو د سرمنشي په مشری غونډه وکړه او د افغانستان له پاره یې، د ټاکنو له لارې د یو پراخ بنسټه دولت د جوړولو پرېکړه اعلان کړه. په اسلام آباد کې د آسیایي بانک، نړیوال بانک او د ملگرو ملتونو د بیارغاونې د پروگرام په مرسته، افغانستان د بیارغاونې کنفرانس جوړ شو او د دسمبر په لومړیو کې، په برلین کې مرسته کوونکي هېوادونه سره جرگه شول.

د نومبر په پای کې د جرمني په بن کې، د افغانستان له پاره د یو لنډمهاله دولت د جوړېدو نړیوال کنفرانس پېل شو چې له نهو ورځو وروسته یې ښاغلی حامد کرزی د لنډمهاله مشر په توگه وټاکه.

د دسمبر په شلمه، د ملگرو ملتونو امنیت شوری، په افغانستان کې د امنیت د ټینگولو او ټیکاو له پاره، د یو نړیوال پوځ جوړښت تصویب کړ. استاد رباني د دسمبر په ۲۲ واک نوی لنډمهاله دولت ته وسپاره.

د کال ۲۰۰۲ په جنوري کې په توکیو (جاپان) کې، د افغانستان د بیارغاونې لومړنی نړیوال کنفرانس جوړ شو. د ملگرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان په دې غونډه کې، په راتلونکو لسو کلونو کې، د افغانستان له پاره لس بلیون $ مرسته وغوښته.

هغه وخت د افغانستان بنسټیزه اړتیاوې دا وې:

د ماینونو ټولول، د میندو او ماشومانو د مړینې د مخنیوي یا کمولو له پاره لومړنی روغتیایي آسانتیاوې، ښوونځیو ته د یو ملیون نجونو او هلکانو تگ، د خوراکي توکو ډېر تولید، د څښاک پاکې اوبه، د راستنیدونکو له پاره د کورونو جوړول، د ښاري مدیریت د ملي ظرفیت پراختیا، د برېښنا تولید فابریکو عاجله رغونه او د نورې برېښنا برابرول، په کلیو او ښارونو کې کار موندنه، سیمه ییزه بیارغاونه او د مهاجرینو د بېرته راتگ له پاره د اقتصادي – ټولنیز مناسب چاپېریال برابرول.

د بن د پرېکړو له مخې، ژر په کابل کې د بېړنې لویې جرگې کارونه پېل شول چې د انتقالي پړاو مشر وټاکي او لنډمهاله اساسي قانون ومني.

په همدې میاشت کې د UN امنیت شوری، په افغانستان کې شوي کارونه مثبت وارزول او له القاعده او ملگرو سره یې د اغېزمنې مبارزې له پاره، په افغانستان خپل پخواني بندیزونه تعدیل کړل.

د مارچ په ۲۸ د امنیت شورى، له افغانستان سره د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوى جوړ کړ چې هغه دندې په سمه توګه اجرأ شي چې د بن، پرېکړو ملګرو ملتونو ته سپارلې وې. لکه بشري حقونه، د قانون واکمني، جندر او ملي پخلاینه او داسې نور. د دې پلاوي مشري د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي په غاړه و. پلاوي دنده درلوده چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو بشرپاله فعالیتونه، له لنډمهاله دولت سره په همغږى کې په سمه توګه اداره کاندي.

د کال ۲۰۰۲ په جون کې په کابل کې، لویه جرګه د پخواني پاچا محمد ظاهر په وینا پېل شوه. جرګې د پادشاه د وخت اساسي قانون (د پادشاه له فصل څخه پرته) د لنډمهال له پاره ومانه او حامد کرزى یې تر ټاکنو پورى د مشر په توګه وټاکه.

د کال ۲۰۰۳ په اپریل کې، د نوي اساسي قانون د تسوید ۳۵ کسیزه ډلې په کار پېل وکړ. د دسمبر لویې جرګې دا قانون د بل کال د جنوري په څلورمه تصویب کړه چې ژر د حامد کرزي له خوا توشیح شو.

له دې سره جوخت داسې هڅې پېل شوې وې، چې د افغانستان دولت او د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوې دې، په ګډه د ډایاک پروګرام له لارې، له غیر مسووله وسلوالو ډلو څخه وسلې ټولې کړي؛ د نشه یي توکو د کر، تولید، سوداګرۍ او ترانزیت مخه دې ونیسي، افغانستان دې له څه باندى ۹.۷ ملیونه ځمکنیو ماینونو څخه پاک کړي او په بېلابېلو برخو کې دې د بیارغاونې او پرمختګ کارونه پېل کاندي.

له دې مخکې د ملګرو ملتونو امنیت شورى، پرېکړه کړې وه چې د ښه امنیت د نیولو له پاره دې، نړیوال پوځونه له کابله بهر په نورو سیمو کې هم ځاى په ځاى شي. دې پوځونو چې په بېلابېلو هېوادونو پورې اړه درلوده، په خپلو - خپلو ولایتونو کې د بیارغاونې ولایتي ټیمونه هم جوړ کړل چې تر کال ۲۰۱۴ پورى فعال وو او ځینو د خپلو سیمو په پرمختیایي کارونو کې رغنده برخه واخیسته.[۱۰۹]

ملګرى ملتونه او ډیرى اړونده تولنى او تخصصى بنسټونه یى اوس هم، په افغانستان کى حضور لرى او په بیلابیلو بشرپاله، پرمختایى، سیاسى او رغنیزو چارو بوخت دى.

[109] www.un.org

# د ملګرو ملتونو ارګانونه

ملګري ملتونه په ٦ اصلي ارګانونو (امنیت شوری، عمومي ټولنه، اقتصادي او ټولنیزه شوری، قیمومیت شوری، د عدالت نړیواله محکمه او دارالانشا) سربېره، یو شمیر نور یا فرعي ارګانونه هم لري چی هر یو د ملګرو ملتونو په یو اصلي ارګان پورې تړلي دي او په یوه ځانګړي نړیواله برخه کې کار کوي.

دا ارګانونه معمولاً د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د پرېکړه لیکونو له مخې جوړېږي. کله نا کله عمومي ټولنه هم د ملګرو ملتونو له سرمنشي څخه د داسې ارګانونو د جوړولو غوښتنه کوي. د دې ارګانونو ځانګړتیاوې دا دي:

الف – دا ارګانونه معمولاً فني او تخنیکي کارونو ته جوړېږي او په سیاسي او پوځي مسایلو غرض نه لري،

ب – سره له دې چې هر فرعي ارګان د ملګرو ملتونو د یوه اصلي ارګان سره یو ډول اړیکې لري؛ خو په خپلواکه توګه کار کوي،

ج – د ملګرو ملتونو ځینې فرعي ارګانونه پرله پسې کار کوي لکه UNITAR، په داسې حال کې چې ځینې نور د لنډمهال له پاره جوړېږي، لکه په قبرس او لبنان کې د ملګرو ملتونو ځواکونه.

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه، اقتصادي او ټولنیزه شوری او امنیت شوری جلا او ګډ ارګانونه لري.

## ۱ -- د عمومی ټولنی ارګانونه

عمومی ټولنه په خپل جوړښت کی څلور ډوله ارګانونه لری:

**الف -- تړلی ارګانونه Subsidairy Organs**

- د بېوسلې کولو کمیسیونUNDC
- د بشري حقونو شوریHRC
- د قوانینو نړیوال کمیسیونILC
- دملګرو ملتونو د نظام د ګډې پلټنې دفترJIU
- اساسي کمېټېMain Committees
- دایمي کمېټې او موقتي ادارې

**ب-- پروګرامونه او صندوقونه:**

- د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرامUNDP ،
- د ملګرو ملتونو د پانګې د پراختیا صندوقUNCDF ،
- د ملګرو ملتونو داوطلبانUNV ،
- د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې پروګرامUNEP ،

- د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوقUNPF،
- د ملګرو ملتونو د انساني اسکان پروګرامUN-HABITAT ،
- د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو صدوقUNICEF ،
- د خوړو نړیوال پروګرامWFP ،
-

**ج -- زده کړې او څېړنې:**

- د بېوسلې کولو د څېړنو له پاره د ملګرو ملتونو انستیتوتUNIDIR ،
- د زده کړو او څېړنو له پاره د ملګرو ملتونو انستیتوتUNITAR ،
- د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالجUNSSC
- د ملګرو ملتونو پوهنتون.UNU

**نور بنسټونه:**

- د سوداګرۍ نړیوال مرکزITC
- د سوداګرۍ او پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو کنفرانسUNCTAD
- د کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کمیساريUNHCR
- د ملګرو ملتونو د پروژې خدماتو دفترUNOPS
- په نژدې ختیځ کې د فلسطیني کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کار غونډې دفترUNRWA
- د جندر د مساواتو او د ښځو د پیاوړتیا له پاره د ملګرو ملتونو دفترUN-WOMEN ،

د --اړونده بنسټونه/دفترونه:چې له امنیت شورى په ګډه اداره کیږي.

- د ملګرو ملتونو اتومي انرژي کمیسیونCTBTO،
- د اتومي انرژي نړیواله ټولنه IAEA ،
- نړیواله جنایي محکمه ICC،
- د مهاجرت نړیواله ادارهIOM ،
- د سمندرونو د تل نړیواله ادارهISA ،
- د سمندرونو د قانون له پاره نړیواله مجکمه ITLOS ،
- د کیمیاوي وسلو د بندولو کمېټه OPCW،
- د سوداګرۍ نړیواله ټولنهWTO ،

**لومړی - تړلی ارګانونه Subsidairy Organs**

**۱ -- د ملګرو ملتونو د بېوسلې کولو کمیسیون United Nations Disarmament Commission (UNDC)**

**( عمومی ټولنه)**

د دوو نړیوالو جګړو درنو زیانونو او د جګړې په مخنیوي کې د بشري ټولنې نه بریالیتوب، نړیواله ټولنه دې ته اړ ایسته چې د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې، د وسلو د کنترول او بېوسلې کولو له مسایلو سره نوی چلند غوره کړي. که د یوې خوا د ملګرو ملتونو د جوړیدو اصلي هدف، د سولې او نړیوال امنیت ساتنه بلل کېږي، له بله پلوه پخوا د وسلو د کنترول او بېوسلې کولو په برخه کې د ملګرو ملتونو د کړنلارې تفسیر دوه ګونی کېده.

ملګرو ملتونو له همغه لومړي پیله، د بېوسلې کولو له پاره لاندې کارونه کړي دي:

الف – د اتومي انرژي کمیسیون: وروسته له دې چې امریکا متحده ایالاتو په کال ۱۹۴۵ کې په جاپان اتومي بمونه وغورځول، ملګرو ملتونو په ۱۹۴٦ کې د داسې فجایعو د مخنیوي له پاره، د اتومي انرژي کمیسیون جوړ کړ. دې کمیسیون دنده درلوده چې:

- اتومي توکي وڅاري،
- اتومي انرژي د سوله ییزه اهدافو له پاره وکاروي،
- د اتومي انرژي د پراختیا په هکله څېړنې وکړي،
- او د اتومي انرژی په اړه نورې چارې سرته ورسوي.

دا کمیسیون په کال ۱۹۴۷ کې بېرته ړنګ شو.

ب – د متعارفه وسلو کمیسیون: له هغه ځایه چې د اتومي انرژي کمیسیون په خپل یو کلن ژوند کې، د غیراتومي یا متعارفه وسلو په هکله د بحث وخت ونه موند، امنیت شوری د عمومي ټولنې په وړاندیز، په کال ۱۹۴۷ کې د خپلو دایمي غړو په ګډون د متعارفه وسلو کمیسیون جوړ کړ. دې کمیسیون دنده درلوده چې متعارفه وسلې په اندول توګه کمې او د دې کار له پاره یو مناسب نظام جوړ کاندي. دا کمیسیون هم په کال ۱۹۵۰ کې د ړنګیدو له ګواښ سره مخامخ شو.

ج – د پاسنیو دوو کمیسیونونو ړنګیدا، د کوریا جګړې او د شوروي اتحاد اتومي کیدو، د بېوسلې کولو کمیسیون یا UNDCجوړولو ته لار پرانسته.[۱۱۰]

په کال ۱۹۵۲ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د امنیت شوری په چوکاټ کېد UNDC د جوړولو پرېکړه وکړه(IV۵۰۲ – / جنوری ۱۹۵۲) او دنده یې ورته وسپارله، چې د وسلو او وسله والو ځواکونو او په تېره بیا د ډله

[110] pujuesh.irc,ir

ییزه وژنو د وسایلو د حدودو د ټاکلو او مقرراتو او د وسلو د انډول کمولو په برخه کې وړاندیزونه چمتو کاندي [111].

دې کمیسیون په پیل کې دوه کمېټې درلودې: لومړی د وسلو د کمولو او کنترول کمېټه او دویم د بېوسلو کولو د څار د وسایلوکمیټه. UNDC تر کال ۱۹۵۷ پورې په دې ۷ ټکو لګیا و: د وسلو څار،څېړنه، کنترول او د اتومي وسلو حذف؛ د اتومي خولیو او توغندیو ازمویل، د بېوسلې کولو د سیمو د حدودو ټاکنه او د بېوسلې کولو په اړوند نورېخبری. UNDC .په دې کلونو کې د ختیځ (شوروي اتحاد او ملګري) او لویدیځ (امریکا او ملګري هېوادونه) تر منځ د ښه نیت د جوړولو له پاره،ډېر وړاندیزونه وکړل چې د سړې جګړې د وخت، د نړیوالو اړیکو د اغېز له امله بریالي نه شول. د دې کمېټې کار بیا وروسته په ټپه ودرید ۱۹٦۰.

د – له دی ستونزو سره-سره د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، پرېکړه وکړه چې د بېوسلې کولو کمیسیون دې، دملګرو ملتونو د ټولو غړو هیوادونو په ګډون خپل کار ته دوام ورکړی. دې کمیسیون په کال ۱۹۵۹ غونډه وکړه او د بېوسلې کولو په برخه کېیې د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو په وړاندیزونو بحث وکاوه. له دې وروسته د شوروي اتحاد، امریکا، فرانسی او برتانیا د بهرنیو چارو وزیران، د ژنیو په لانجمنه غونډه کې سلا شول چې د ملګرو ملتونو څخه د باندې به، د بېوسلې کولو یوه کمېټه جوړه کړي.له کال ۱۹٦۰ وروستهد بېوسلې کولو خبرې هغه ډلې په مخ وړلې چې په پیل کېیې ۱۰ غړي درلودل. په ۱۹٦۲ کې د دې هېوادونو شمېر ۱۸ ته ورسېد چې په ۱۹٦۹ او ۱۹۷۸ کېیې دوه ځلې غونډې وکړې.

ذ – د بېوسلې کولو اتلس کسیزه کمېټې: د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹٦۱ کې، د امریکا او شوروي اتحاد د ستونزو د ډېرېدو له امله، پرېکړه وکړه چې دا دوه لوی ځواکونه دې، د بېوسلې کولو په برخه کې د نورو او ډېرو خبرو له پاره، په یو بل پلاوي هوکړه وکړي. په دسمبر کې عمومي ټولنې د شوروي اتحاد او امریکا د هوکړې له مخې،یوه اتلس کسیزه کمېټه جوړه کړه چې اتو پکی د اتومي وسلو لرونکو هېوادونو او ۱۰ د غیراتومي هېوادونو استازیتوب کاوه. د دې کمېټې د درانه کار له امله امریکا، شوروي اتحاد او برتانیا په کال ۱۹٦۳ کې، په ماسکو کې د اتومي وسلو د آزمایلو د کمولو تړون لاسلیک کړ. دا کمیټه په ټوله شپیتمه لسیزه کې د بېوسلې کولو د خبرو اصلي ځای بلل کېده.

ر – د ملګرو ملتونو د بېوسلې کولو کنفرانس په کال ۱۹۷۰ کې په ژنیو کې جوړ شو، چې اوس د UNCD په نامه فعال دی. دا کمیسیون زیار باسي چې د اتومي وسلو د خپریدو او ډېرېدو مخه ونیسي .[112]

UNDCهر کال د ملګرو ملتونو د ټولو غړو هېوادونو په ګډون، درې اونۍ پرله پسې غونډې کوي. په کال ۱۹۹۸ د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې پرېکړه وکړه چې د مسایلو د سم مدیریت له پاره به، هر کال یوازې په څلورو مواردو بحث کوي چې یوه به یې د اتومي وسلو په هکله وي[113] دا شمېر په کال ۲۰۰۰ کې دوو ته ټیټ شو .[114]

---

[111] UN.org/disarmament institute
[112] pujuesh.irc,ir
[113] en.wikipedia.org/undc
[114] un.org/disarmament institute

## ۲ - د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورى(United Nations Human Rights Council( UNHRC

**( عمومی ټولنه)**

UNHRC د کال ۲۰۰٦ د مارچ په ۱۵ د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې له خوا (۶۰/۲۵۱ پرېکړه لیک) جوړه شوه. شورى ۴۷ غړي لري چې د دریو کلونو له پاره، د عمومي ټولنې په بشپړ اکثریت غوره کېږي: افریقا ۱۳، آسیا ۱۳، ختیځه اروپا ٦، لویدیځه اروپا ۷ او لاتینه امریکا او کارابین ۸ هېوادونه.

د شورى دندې:

- د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو له خوا د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د تطبیق څار،
- د بنسټیزه آزادیو او بشري حقونو د ملاتړ له پاره د نړیوال درناوی لوړول،
- د بشري بنسټیزه حقونو د نقص څېړنه،
- غړو هېوادونو ته د بشري حقونو په اړه سپارښتنې.

دا شورى په دریو برخو کې لګیا دی:

- نړیواله څېړنه .دا کار په ۴ کلونو کې یوځل کېږي. هر کال په دریو ناستو کې ۴۵ هېوادونه څېړل کېږي. د دې څېړنو پایلې د سپارښتنو په بڼه اعلانېږي. د دا رنګه څېړنو له پاره دې اطلاعاتو او معلوماتو ته اړتیا ده:

  د هغه دولت معلومات چې تر څېړنې لاندې وي،

  د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیساري اطلاعات او د ملګرو ملتونو نور رسمي اسناد،

  د نورو ملي او نړیوالو کړیو کره او موثق اطلاعات،

  د بشري حقونو د ملي بنسټونو معلومات او راپورونه.
- ځانګړي راپورتران/ استازي. ځانګړي استازي باید دا شرایط ولري: تخصص، د بشري حقونو په حوزه کې تجربه، خپلواکي، ناپېیلتوب، صداقت او انساني ژمنه. دا خلک ٦ کاله کار کوي او په مطلوب هېواد د بشري حقونو په هکله له څېړنو وروسته، خپل راپور د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورى ته سپاري،
- د فردي شکایتونو اورېدل، په دې شرط چې دولت یې موافق وي. یو فرد یا ډله چې ځان/ځانونه د بشري حقونو د نقض قرباني/قربانیان بولي، کولای شي چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورى ته شکایت وکړي؛ خو په دې شرط چې:

  شکایت به د بشري حقونو د نقض او د انسانانو د بنسټیزو آزادیو د سلب په اړه وي،

  شکایت به د ملګرو ملتونو له کړنلارې، د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې او د بشري حقونو د نورو نافذه قوانینو سره برابر وي،

  د شکایت ژبه باید سپکه نه وي،

  د رسنیو د راپورونو له مخې شکایت نه اورېدل کېږي،

شکایت به د ملګرو ملتونو په نورو ارګانونو کې نه وي ثبت شوي او په جریان کې به نه وي، د بشري حقونو د ملي بنسټونو حل لارې به اغېزمنې نه وي .[۱۱۵]

**په UNHRC کی د افغانستان غړیتوب:**

د افغانستان دولت په دوو لسیزو کې، دوه ځلې د بشري حقونو شورى (۲۰۰۹ او ۲۰۱۴) له خوا تر څېړنې لاندې راغلې. شورى د دې څېړنو له مخې افغانستان ته ۴۰۰ سپارښتنې استولې دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم دوه ځلې د ملګرو ملتونو شورى ته راپورونه استولي.[۱۱۶]

**۳ – د حقوقو نړیوال کمېسیون(International Law Comission (ILC**

**( عمومی ټولنه)**

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹۴۷ کې، د حقوقو نړیوال کمېسیونیا ILC په دې هیله جوړ کړ چې د نړیوالو حقوقو د تدوین چارې ورته وسپاري ILC. ټول ۳۴ پیاوړي حقوقپوهان لري چې عمومي ټولنه یې د پنځو کلونو له پاره ټاکي او هر کال یوځل غونډه کوي. دا کسان د خپلو هېوادونو استازي نه؛ بلکه د علمي وړتیاوو له مخېټ اکل کېږي.

اهداف: د ILC د اساسنامې لومړۍ ماده وایي چې ILC د نړیوالو حقوقو د تدوین او پراختیا له پاره جوړ شوی او د عمومي ټولنې په غوښتنه، د نړیوالو تړونونو په مسودو کار کوي او د بیا کتنې له پاره یې عمومي ټولنې ته سپاري. داسې ویل کېږي چې د اوسنۍ نړۍ خورا مهم تړونونه د ILC په زیار جوړ شوي دي.[۱۱۷]

ILC باید د هرې موضوع د تدوین په وخت کې، د عمومي ټولنې غوښتنو او وړاندیزونو ته لومړیتوب ورکړي . ILCد نړیوالو حقوقو د تدوین او پراختیا په کار کې، له یو ډول تګلارې څخه کار اخلي او د هرې موضوع له پاره یو ځانګړی راپورتر ټاکي ILC .د کار له پاره یوه مناسبه طرحه هم چمتو کوي او له دولتونو څخه غواړي چې د مطرح شوې موضوع په اړه قوانین، فرمانونه، قضایي پرېکړې، تړونونه او ډیپلوماتیک مکتوبونه ورته سپاري.

ILC د ځانګړي راپورتر د موقتي طرحې له مخې، خپله لنډمهاله طرحه تصویبوي او عمومي ټولنې ته یې وړاندې کوي. دا طرحه د کتنې له پاره غړو هېوادونو ته وړاندې کېږي چې په یو کال کې یې وګوري او خپل نظر په لیکلې توګه ILC ته وړاندې کړي.

ځانګړی راپورتر راغلي نظریات ګوري او کمېسیون ته داسې طرحه ورکوي چې له تصویب وروسته عمومي ټولنې ته ځي.

د نړیوالو حقوقو کمېسیون تر اوسه دا کنوانسیونونه تنظیم او چمتو کړي دي:

---

[۱۱۵] سازمان های بین المللی، نامزد دکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۳

[116] fa.wikipedis.org

[117] fa.wikipedis.org

- د سمندري حقوقو په اړه د ژنیو څلورګوني کنوانسیونونه، ۱۹۵۸،
- د تابعیت کنوانسیون، ۱۹٦۱،
- د ډیپلوماتیکو اړیکو په اړه د ویانا کنوانسیون، ۱۹٦۱،
- د کنسولي اړیکو او اختیاري پروتوکول په اړه د ویانا کنوانسیون، ۱۹٦۳،
- د ستونزو د جبري حل په اړه د ځانګړو پلاوو کمېسیون، ۱۹٦۹،
- د تړونونو د حقوقو کنوانسیون، ۱۹٦۹،
- د ډیپلوماتانو د قضایي مصونیت کنوانسیون، ۱۹۷۳،
- له نړیوالو ټولنو سره د دولتونو د استازو د اړیکو په اړه د ویانا کنوانسیون، ۱۹۷۵،
- د نړیوالو تړونونو په اړه د ویانا کنوانسیون، ۱۹۷۸،
- د دولتي دیوان، آرشیف او اموالو په اړه د دولتونو د ځایناستي کنوانسیون، ویانا، ۱۹۸۳،
- د نړیوالو ټولنو او دولتونو ترمنځ د تړونونو کنوانسیون، ۱۹۸٦.[۱۱۸]

**۴ – د ملګرو ملتونو د نظام د ګډې پلټنې دفتر**

**Joint Inspection Unit of the UN System (JIU)**

**( عمومی ټولنه)**

JIU یوازنې بهرنې خپلواک دفتر دی چې د ملګرو ملتونو نظام څېړي، ارزوي او پلټي.

JIUهڅه کوي چې د ملګرو ملتونو اداري او مدیریت اغېزمنتوب لوړ وساتي او د دېټولنې د ټولو بنسټونو د څانګو او دفاترو تر منځ همغږي او ګډ کار وهڅوي.

په تیرو ۵۰ کلونو کې JIU هڅه کړې چې د ملګرو ملتونو د بېلابېلو برخو حقوقي او قانوني څانګې، خپل مسوولیتونه سم سرته ورسوي او له دوی سره مرسته کوي چې په خپلو چارو کې د انساني، مالي او نورو سرچینو اغېزمنتوب او اړتیا په پام کې ونیسي.

JIU په خپلو راپورونو او لیکنو کې د اداري او مدیریت نوې او ګټورې تګلارې، د ملګرو ملتونو د نظام په واک کې ورکوي چې په ښه والي کې یې هېڅ شک نه وي.

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې JIU د ملګرو ملتونو د هغه بنسټونو،څانګو او دفاترو له پاره کار کوي چې JIU مقررات یې منلي او اوس یې شمېر ۲۸ ته رسي .[۱۱۹]

## دویم – صندوقونه او پروګرامونه:

---

[۱۱۸] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۹

[119] unjiu.org

**۱ -- د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام(United Nation Development Program (UNDP**

( عمومی ټولنه)

د ملګرو ملتونو نړیوال پرمختیايي پروګرام د نړۍ له وروسته پاته او پرمختیايي هېوادونو سره غټ مرسته کوونکی ارګان بلل کېږي.

د ملګرو ملتونو له جوړیدوڅخه دوه لسیزې وروسته، د داسېیو بنسټ نشتون احساس شو چې له وروسته پاته هېوادونو سره مرسته وکړي، چې پرمختګ او بدلون ته چمتو شي. په هغه وخت کې دا فکر هم کېده چې پرمختګ یوازې اقتصادي مفهوم نه دی، مدني خپلواکئ، په ټولنیزه چارو کې د ښځوګډون، د ساري ناروغیو مخنیوی، د بشري حقونو درناوی، د ښوونې او رزونې پراختیا، عامه روغتیا او داسې نور ټول په پرمختګ کې راځي.[۱۲۰]

دا ټولنه له دولتونو سره په ګډه کار کوي چې د ځمکې کره روغه پاته شي، له بېوزلتیا سره مبارزه وکړي او د بیوزله هیوادونو له پرمختیايي پلانونو سره فني او مسلکي مرستې کوی. UNDP د هېوادونو تر منځ تخنیکي ګډ کار او پانګونه هڅوي او هېوادونو ته مشوره ورکوي چې د خپلو سرچینو، ملګرتیا، بنسټونو، تجاربو او پوهې په مرسته، ځانونه بدل کاندي او د پرمختګ نویو پوړیو ته ورسي.[۱۲۱]

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹٦۵ کې، د اقتصادي او ټولنیزې شورى په وړاندېز د (ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام) یا UNDP جوړ او د کال ۱۹٦٦ په جنوري کې پرانست.

په کال ۲۰۰۰ کې د نړۍ د ۱۸۹ هېوادونو مشرانو د زریزې د پراختیا پلان Millenniom Development Goals (MDGs)تصویب کړ. په دې پلان کې هېوادونو ژمنه وکړه چې تر کال ۲۰۱۵ به مطروحه اهدافو ته ځان رسوي. د زریزې د پلان تصویب د ملګرو ملتونو په تاریخ کې ستر اعتبار لرونکی کار بلل کېږي او دا یې وښوده چې هېوادونه د نړیوالو ستونزو په وړاندې څومره ګډ نظر لرلای شي.[۱۲۲]

د زریزې اهداف دا دي:

- د فقر ورکاوی او د لوږې او بېوزلتیا مخنیوی،
- په ټوله نړۍ کې د لومړنیو زده کړو برابرول،
- جنسیتي برابري او د ښځوځواکمنتیا،
- د ماشومانو د مړینې کمول،
- د زېږیدنو د روغتیا پرمختیا او د میندو د حالت ښه کول،
- له ملاریا، ایدز او نورو ناروغتیاوو سره مبارزه،
- د ژوند چاپېریال د ساتنې ډاډ،

---

[120] undp.org/content
[121] diplomatist.blogfa.com
[122] united nations development programme

- د پراختیا له پاره نړیوال ګډون[۱۲۳]

**جوړښت:**

الف --مشرتابه شوری Executive Board : د UNDP تر ټولوځواکمن ارګان چې د دې پروګرام ټول کارونه اداره کوي. دا شوری ۳٦ غړي لري چې د دریو کلونو له پاره، د اقتصادي او ټولنیزې شوری له خوا د جغرافیایي وېش له مخې ټاکل کېږي.

-- پرمختیایي هېوادونو ۲۷ څوکۍ لري چې ۱۱ افریقایي هېوادونو، ۹ اسیایي او ۷ د لاتینې امریکا هېوادونو ته ځانګړې شوې دي.

– پرمختللي هېوادونه ۲۱ څوکۍ لري چې ۱۷ د لویدیځې اروپا او ۴ د ختیځې اروپا دي.

ب – اجراییه مدیر: د UNDP اجراییه مدیر د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیز او د مشرتابه شوری په خوښه د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي.

د UNDP اجراییه مدیر د ملګرو ملتونو له سرمنشي او د هغه له ځایناستي وروسته، د ملګرو ملتونو په لویه کورنۍ کې دریم لوړپوړی چارواکی شمارل کېږي.[۱۲٤]

ج --فرعي دفترونه UNDP :یو شمېرځانګړي صندوقونه لري:

- په وچه کې د ایسارو پرمختیایي هېوادونو له پاره د ملګرو ملتونو ځانګړی صندوق UN Fund for Landlocked Developing Countries،
- د پرمختیا او پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو د علومو او ټکنالوژۍ صندوق(UNFSTD) ،
- د نفوسو له پاره د ملګرو ملتونو صندوق(UNPF) ،
- د ښځو له پاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق(WNIFEM) ،
- د مستعمره هېوادونو د مرستې صندوق،
- د طبیعي زېرمو د مطالعې او څېړنې صندوق،
- د خپلواکۍ غوښتونکو غورځنګونو له پاره، د ملګرو ملتونو د مرستې صندوق،
- له پرمختیایي هېوادونو سره د فني مرستو نړیواله کاري ډله،
- -د ملګرو ملتونو د داوطلبانو دفتر(United Nations Volunteers (UNV .[۱۲۵]

دا پروګرام چې په ۱۷۰ هېوادونو کې فعال دی، د پراختیا په وړاندې د هغه ملي او نړیوالو ستونزو په حل کار کوي چې د همدې هېوادونو خلکو پېدا کړې دي. دا هېوادونه ورو – ورو د خپل وس او ځواک په چوکاټ کې، د UNDP او ملګرو له تخصصي مرستو څخه کار اخلي.

---

123 diplomatist.blogfa.com

124 undp.org

۱۲۵ نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص۱۴۹

د نړۍ مشرانو ژمنه کړې چې د بېوزلتیا او لوږۍ د ورکاوي له پاره به زیار باسي. UNDP د همدې هدف د تحقق له پاره، د ملي او نړیوالو هڅو د همغږي هڅه کوي چې حکومتونه په دې برخو کې د حللارو په موندلو کې برخو اخلي: ښه حکومتولي، د بېوزلتیا کمول، د بحرانونو مخنیوی او د بحرانونو په اغېزو برلاسي، ژوند چاپېریال او انرژي، اطلاعات او معلوماتي ټکنالوژي او د HIV او AIDS ناروغۍ مخنیوي.

فعالیتونه: UNDP د نړۍ دې ستونزو ته د حللارو په لټولو کار کوي:

الف -- ولسواکه واکمنۍ :د مشورو او سیاسي سپارښتنو، تخنیکي ملاتړ او زده کړو له لارې هېوادونه ولسواکه یا دیموکراتیکو اصلاحاتو ته هڅوي UNDP . په دې هېوادونو د خبرو اترو ننګه کوي او له سیاسي ګوندونو سره مرسته کوي چې له خپلو ولسواکه دولتونو سره د ملي پروګرامونو د بریالیتوب له پاره ګډ کار وکړي،

ب -- د بېوزلتیا کمول او د زریزی (۱۰۰۰) د پلان عملي کول UNDP :له هېوادونو سره مرسته کوي چې له فقر سره د مبارزې عملي تګلاره یا ستراتیژی جوړه او په دې برخه کې د پرمختللو هېوادونو له تجاربو څخه کار واخلي UNDP . زیار باسي چې بهرني پانګوال په مطلوبو هېوادونو کې کار ته وهڅوي، سوداګریز اصلاحات غواړي او داسې مالیاتي معافیتونه اړین بولي چې د بېوزلتیا په ورکاوي یا کمولو کې ګټور بلل کېږي،

ج --د چارو اصلاح او بیا جوړونه: UNDP له هغه هېوادونو سره چې نوي له جګړې څخه راوتلي، په دې برخو کې مرسته او ګډ کار کوي. بیوسلې کول، د سولې د تلپاته کېدو هڅې، د ماینونو شنډول، اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ، د بېځایه شوو خلکو بیا ځای په ځای کول، د خدماتو ښووالی، د قضایي سیستم ژر سمون او داسې نور.

د –د اوږدمهاله پرمختګ له پاره ژوند چاپېریال او انرژي: له هغه ځایه چې د وروسته پاته هېوادونو ژوند چاپېریال له ډېرو ستونزو سره مخامخ دی، UNDPهڅه کوي چې له دې هېوادونو سره مرسته وکړي چې د ژوند چاپېریال د رغولو له پاره خپل ظرفیتونه داسې لوړ کاندي چې د بېوزله خلکو عمر پکې اوږد او ژوند یېښه شي.

UNDP له وروسته پاته هېوادونو سره په ګډه کار کوي چې د خپلو اوبو مدیریت پیاوړی کړي، له ځمکې سمه ګټه واخلي، ډېره انرژي تولید کړي، د ژوند تنوع ومني او اوزن لایې ته زیان رسونکي مواد مصرف نه کړي.[۱۲۶]

ذ --د AIDS په شان د ساری ناروغیو مخنیوی.

مقر: د UNDP مرکزي دفتر په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې دی.

**UNDP او افغانستان:**

دا ټولنه کابو ۵۰ کاله کیږی چی په افغانستان کی کار کوي. د اقلیم بدلون، resilience، جندر، حکومتولي، روغتیا، د قانون واکمني او داسې نور.

[126] fa.wikipedia.org

UNDP دا کارونه د افغانستان له حکومت سره په همغږۍ، د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ کې او د ملګرو ملتونو له نورو ارګانونو سره په ګډه تر سره کوي.

UNDP د افغانستان خلک او دولت له هغه معلوماتو او سرچینو سره نښلوي چې دوی د خپلو لومړیتوبونو د ټاکلو او پرمختګ له پاره ورته اړتیا لري UNDP . همداراز د افغانستان له خلکو او دولت سره مرسته کوي چې خپلو اوږدمهاله پراختیایي اهدافو ته ورسي.[۱۲۷]

**۲-- د ملګرو ملتونو د پانګې د پراختیا صندوق**

**UN Capital Development Fund (UNCDF)**

( عمومی ټولنه)

د ۴۷ ډېرو وروسته پاته هېوادونو د عامه او خصوصي سکتورونو د تمویل په برخه کې لګیا دی.

UNCDF هڅه کوي چې د خصوصي سرچینو په مرسته، بېوزلتیا لږ او کورنی اقتصادي پرمختګ وهڅوي.

UNCDF چې د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې تر نظر لاندې کار کوي، په کال ۱۹٦٦ ځکه جوړ شو چې د نړۍ په ډېرو بېوزله هېوادونو کې له کمکیو پانګونو سره مرسته وکړي؛ خو په دې وروستیو کلونو کې د UNCDF په کار کېڅه پرمختګونه او بدلونونه راغلل او دنده ورکړ شوه چې په وروسته پاتې هېوادونو کې فقر، د کورنۍ پرمختیا او د کمکیو پانګونو له لارې لږ کاندي. دا کړنلاره په کال ۱۹۹۹ کې د صندوق د اجرائیه شورى له خوا تصویب شوه.

UNCDFد ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرامیا UNDP یو غړییاځانګیز جوړښت دی او خپل کلني کاري راپورونه هم د همدې پروګرام مشرتابه شورى ته لېږي.

**اهداف:** د UNCDF اهداف دا دي:

- داسې مدیریت چې سمې پایلې وزېږوي،
- معقول مالي مدیریت او عملي پلان جوړونه،
- له فقیرو هېوادونو سره د ګډو پانګونو له لارې د فقر کمول،
- په فقیرو هېوادونو کې د اقتصادي بنسټونو د جوړولو او د اساسي خدماتو د وړاندې کولو د لارې، له تولیدي ځان بسیاینې او ظرفیت جوړولو سره مرسته،
- په فقیرو ټولنو کې د اقتصادي او ټولنیزو پانګونو له لارې د خلکو په ژوندانه باندې مثبته اغېزه.

UNCDF د پاسنیو اهدافو د حصول له پاره داسې تګلارى جوړې کړي:

۱ – مالکیت،

۲ – د ظرفیت لوړاوی،

۳ – ګډون،

[127] af.undp.org

۴ – نوښت،

۵ – د مطلوبو هېوادونو په سیاست جوړونه اغېز،

٦ – د نوښتونو یو شان کول،

۷ – په مطلوبو هېوادونو کې د اغېزمنو پرېکړو د قابلیت لوړتیا،

۸ – د پروګرامونو دوام او ثبات،

۹ – له دولتونو، نړیوالو ټولنو، خصوصي برخې، غیردولتي او مدني ټولنو سره ګډ کار.

UNCDF له وروسته پاته هېوادونو سره مرسته کوي چې د خپلو طبیعي زېرمو د ښه مدیریت او د خپلو اقتصادي بنسټونو رغولو، پلان جوړونې او مالي کنترول د پیاوړتیا له پاره، د ګډ کار او پانګونې ظرفیت ومومي.

UNCDF وروسته پاته هېوادونه دې ته هڅوي چې دولتونه یا خصوصي سکتور، په کمکیو پانګو د اوږدمهاله پروګرامونو (تولید او خدمات) د جوړولو له لارې، د بېوزلې مخه ونیسي او د خلکو په ژوندانه مثتبې اغېزې وشیندي.

UNCDF یو شمېر تکړه مسلکي متخصصین لري چې د هغوي له لارې، بیوزلي هېوادونه دې ته هڅوي چې خپلې پانګې جوړې کړي او دا پانګې بیا په یوازې سر، یا له نورو نړیوالو ټولنو او UNCDF په شان ټولنو سره یو ځای، په داسې ځای کې په کار واچوي چې د تولیداتو یا خدماتو په بڼه، د فقر په ورکاوي یا کمولو کې اغېزمن تمام شي.[۱۲۸]

**۳- د ملګرو ملتونو په خپله خوښه ملګري (داوطلبان)(UN Volunteers(UNV**

( عمومی ټولنه)

دا د نړیوالې سولې او پراختیا د ملاتړ په برخه کې، د خپلې خوښې کار د فرهنګ د عاملو پروګرام دی.

په خپله خوښه آنلاین خلک، هغه حقیقي یا حقوقي کسان دي، چې خپل وخت او امکانات، په ټوله نړۍ کې د انترنت له لارې، وړیا د نورو په واک کې ورکوي. د ملګرو ملتونو دا ډول ملګري د خپلو هغه فردي او ډله ییزو فعالیتونو د ډېرې اغېزمنتیا له پاره، چې انساني ژوند ته ګټه رسوي په ګډه کار کوي. د پروژو مدیریت او پراختیا، د کار روزګارتیا د مودلونو طراحي، د اړیکو آسانتیا، د اطلاعاتي تکنالوژي پراختیا،څېړنې، زده کړې او مشورې په دې کارونو کې وتلي ځایونه لري.[۱۲۹]

د ملګرو ملتونو یو لوی هدف دا دی چې د انساني ژوندانه د پرمختیا له پاره، په خپله خوښه کارونه او فعالیتونه وهڅوي. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام یا UNDP د UNV د کارونو مدیریت په غاړه لري او د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه د دواړو په سر کې ځای لري UNDP .دا واقعیت مني چې په خپله خوښه کارونه، دوه اړخیزه اعتماد جوړونې او په سیاسي او اقتصادي چارو کې اغېزمن مشارکت ته لار اواروي.

---

[۱۲۸] سازمان های بین المللی، نامزد دکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۵-۱۵۴

[129] adsgroup.org

وروستی شمېرې وايي چې هر کال له ۱۵۰ بېلابېلو انساني ډلو کابو پنځه زره کسان، د ملګرو ملتونو د پروګرامونو مادي او معنوي ملاتړ ته دانګي. د UNV دنده دا ده چې همدې خلکو ته هرکلی ووايي او تنظيميې کړي.

که په لنډه ووايو UNV د ملګرو ملتونو هغه بنسټ دی چې په ټوله نړۍ کې د هغه کسانو په مرسته چې په خپله خوښه کار کوي او د فعال مشارکت له لارې، د انسانانو په ژوندانه کې د بدلانه له پاره زيار باسي.

تجاربو ښودلې چې په ډېرو وختونو کې دولتونه يا د اقتصاد خصوصي برخه، د دې کسانو ملاتړ کوي چې په خپله خوښه کارونو او فعاليتونو ته مخ اړوي. تجربې همداراز وايي چې په خپله خوښه کارونه پياوړي ټولنې منځ ته راوړي، له پرمختګ سره مرسته کوي، يو د بل د منلو او اعتماد روحيه پياوړي کوي.[۱۳۰]

## ۴ -- د ملګرو ملتونو د چاپېريال ساتنې پروګرام

**United Nations Environment Programme( UNEP)**

( عمومی ټولنه)

د ۲۰ پيړۍ په دوهمه نيمايي کې، نړيوال د زرګونو لويو، منځنيو او کوچنيو صنعتي تاسيساتو د جوړېدو له امله، د ژوند چاپېريال د ساتنې ارځښت ته ځېر شول.

په کال ۱۹٦۸ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د لومړيځل له پاره، د هغه ستونزو په هکله غونډه جوړه کړه چې د نويو تکنالوژيو د پرمختګ له امله په ژوند چاپېريال کې منځ ته راغلی وو. په کال ۱۹۷۲ کې د نړۍ ۱۱۰ هېوادونه د ملګرو ملتونو په يوه بله غونډه کې سره جرګه شول، چې د همدې موضوع له پاره په ستاکهولم (سويدن) کې جوړ شوې وه.

دا غونډه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د ژوند چاپېريال د ساتنې له پاره، د يوې نړيواله ټولنې په جوړېدو هوکړې ته ورسېده. په ځواب کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د کال ۱۹۷۲ د دسمبر په ۱۵ او ۲۹۹۷ نمبر پرېکړه ليک په ترڅ کې د UNEP جوړېدل تصويب کړل چې مقر يې په نايروبي (کينيا) کې دی.

د ستاکهولم د غونډې د هڅو په پای کې، د بشر د ژوند چاپېريال اعلاميه په ۱۰٦ موادو کې تصويب شوه چې د انساني ژوند د ساتنې په برخه کې د لومړنيو نړيوالو اصولو مجموعه بلل کيږي. په اعلاميه کې راغلي چې دولتونه بايد د ژوند چاپېريال د ساتنې په برخه کېيو له بل سره لاس ورکړي او داسې لارې چارې ومومي چې د دوی فعاليتونه، د نورو هېوادونو ژوند چاپېريال ته زيان ونه رسوي او د خپلو زيان رسوونکو کارونو مسوولیت په غاړه واخلي.

اهداف: د UNEP ټول ارمان دا دی چې په ښارونو او د انسانانو د استوګنې په نورو ګڼ مشته ځايونو کې، د چاپېريال د ککړتيا مخه په دې توګه ونيسي:

---

[130] www.insar.ir

۱ – د ژوند چاپېریال په برخه کې د نړیوالې همکارئ پیاوړتیا، چېډاډ ترلاسه شي چې هېوادونه د ژوند چاپېریال ستونزو ته ځیر دي،

۲ – د نړۍ د ژوند چاپېریال وضعیت کتنه او په دې برخه کې د معلوماتو خپراوی،

۳ – د ژوند چاپېریال د ثبات او ټینګښت (پایداری) له پاره، د سیمه ییزه پروګرامونو پراختیا،

۴ – د پرمختیایي هېوادونو په غوښتنه د هغوي د ژوند چاپېریالیزه دوایرو یا وزارتونو سره، د ژوند چاپېریالي سیاستونو او تګلارو د تطبیق په برخه کې مرسته،

۵ – د ژوند چاپېریالي ظرفیتونو لوړاوی او د تکنالوژیکي مرستو او ملاتړو پیاوړتیا،

٦ – د ژوند چاپېریالي نړیوالو قوانینو او حقوقو د برابرولو په برخه کېیو تر بله مرسته.

جوړښت:

۱ – مشرتابه شوری: دا شوری د ۵۸ غړو هېوادونو له داسې استازو څخه جوړه ده چې عمومي ټولنه یې، د جغرافیایي انډول له مخې د درېو کلونو له پاره ټاکي. مشرتابه شوری په کال کې یو ځل غونډه کوي او د خپلو فعالیتونو او راتلونکو پروګرامونو راپور، د اقتصادي او ټولنیزه شوری له لارې، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته وړاندې کوي.

افریقایي هېوادونه ١٦ غړي، آسیایي ۱۳، ختیځه اروپا ٦، لاتینه امریکا ۱۰ او لویدیځه اروپا ۱۳ غړي.

د چاپېریال ساتنې په برخه کې د نړیوال ګډ کار پراختیا، د چاپېریال ساتنې د پروګرامونو همغږي کول او د بودجې او عوایدو او لګښتونو تصویب، د مشرتابه شوری له اصلي دندو څخه دي.

۲ – دارالانشا: د UNEP مشر د ملګرو ملتونو د سرمنشي، په وړاندیز د عمومي ټولنې له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي.

منشي دنده لري چې د سمندري ساحلي سیمو د ساتنې، د هوا د ککړتیا او اقلیمي بدلون په برخو کې، د هېوادونو طرحې او پروګرامونه مشرتابه حکامو شوری ته وړاندې کړي.

۳ – د چاپېریال ساتنې صندوق: دا د UNEP د مالي اړتیاوو د پوره کولو له پاره داسېیو صندوق دی چې خلک، ټولنې او دولتونه په خپله خوښه مرستې وراستوي. دا مرستې د مشرتابه د حکامو شوری له خوا، د پروګرامونو په عملي کولو او تطبیق لګي. که څه هم چې دا صندوق یوه مالي سرچینه ده؛ خو د UNEP یوه برخه بودجه له ملګرو ملتونو څخه هم راځي.[۱۳۱]

فعالیتونه:

UNEP دنده لري چې د چاپېریال د ساتنې له پاره هغه ګډون (مشارکت) او ګډ کار وهڅوي چې خلکو او ملتونو ته دا وس ورکوي چې د خپل ژوند کیفیت، پرته له دې چې د راتلونکو نسلونو ژوند ته ګواښ پېښ کړي،ښه او خوندور کاندي.

---

[۱۳۱] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۱۵۱-۱۵۰

UNEP د ژوند چاپېریال ساتنې نړیواله کړنلاره جوړوي، د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې، د تلپاته پراختیا او پرمختیا په بهیر کې، د چاپېریال ساتنې د اصولو د ساتنې ننګه کوي او د روغ نړیوال ژوند چاپېریال کلک پلوی دی.

د UNEP د کار لومړیتوبونه دا دي:

د اقلیم بدلون، د تازه اوبو سرچینې، د ځنګلونو پرې کول، د وحشي څارویو او بوټو ساتنه، د زهري کیمیاوي موادو زیانونه، د سمندر او سواحلو خوندیتوب، د انسانانو په روغتیا باندې د ژوند چاپېریال ناوړه اغېزې او د ځمکې تودښت او د اوزون لایې نازک کېدل.

UNEP تر اوسه پاسنیو اهدافو ته د رسېدو او د خپلو کارونو د څېړنو له پاره، څو نړیوالې غونډې جوړې کړې دي او د خپلو کارونو د اغېزمنتیا له پاره دا څانګې لري:

الف – د ژوند چاپېریال د نړیوالځار سیستم:(Global Environmental Monitoring System (GEMS

دا سیستم په کال ۱۹۷۵ کې د نړۍ د ژوند چاپېریال، اقلیمي بدلونونو، د اوبو او ځنګلونو د ککړتیا په برخو کې، د معلوماتو د ټولولو له پاره جوړ شو.

ب – د نړیوالو سرچینو معلوماتي بانک:(Global Resource Infromation Database (GRID

دا معلوماتي بانک په کال ۱۹۸۵ کې جوړ شوی دی.[۱۳۲]

## ۵-- د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق

**The United Nations Population Fund (UNPF)**

( عمومی ټولنه)

په کال ۱۹٦۵ کې په هغه نړیوال کنفرانس کې، چې د نفوسو په هکله جوړ شوی و، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې له اقتصادي او ټولنیزې شوریځخه وغوښتل، چې د ملګرو ملتونو د نورو ارګانونو په مرسته، د نفوسو د پراختیا او اقتصادي ودې مسایل وڅېړي. یو کال وروسته سرمنشي د نفوسو د چارو د تنظیم له پاره د ملګرو ملتونو د مرستې صندوقThe UN Fund for Population ActivitiesیاUNFPAجوړ کړ. په کال ۱۹٦۹ کې سرمنشي د دې صندوق چارې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام یا UNDP مشر ته وسپارلی او نوم یې د نفوسو د فعالیتونو له پاره د ملګرو ملتونو صندوق شو. د ۱۹۷۲ د دسمبر په ۱۸ د دې صندوق په حقوقي جوړښت کې بیا لږ بدلونونه راغلل او په ۱۹۸۷ کې عمومي ټولنې دا صندوق د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوقUNPF ونوماوه او خپل فرعي ارګان یې وباله.[۱۳۳]

---

[۱۳۲] سازمان های بین المللی، نامزد دکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۵-۱۵۴

[۱۳۳] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۱۴۷

UNPF د ماشوم زېږونې، د کورنۍ د جوړښت او د نفوسو د پروګرامونو له پاره، ستره نړیواله مالي زېرمه ده چې په لاندې څلورو سیمو کې دفترونه لري: عربي نړۍ او اروپا، آسیا او آرام سمندر، لاتینه امریکا او کارابین او افریقا.

اهداف: اقتصادي او ټولنیزې شوری په کال ۱۹۷۳ کې د نفوسو صندوق ته لاندې اهداف وټاکل چې یویشت کاله وروسته د نړۍ ۱۷۹هیوادونو نوی نظر پری وکاوه او دی ټولنی ته یی د عملی کار پروګرام جوړ کړ جی غټ ټکی یی دا دی:

۱- تر کال ۲۰۱۵ پورې په ټوله نړۍ کې، روغتیایي خدماتو ته لاسرسی،

۲ – تر ۲۰۱۵ پورې په ټوله نړۍ کې، د لومړنیو زده کړو پراختیا او د کمیت او کیفیت له پلوه د جینکو او هلکانو په رده کړو کې د توپیرونو کمول،

۳ – تر کال ۲۰۱۵ پورې د حمل په موده کې د میندو د مړینې۷۵% کمول،

۴ – د نویو ماشومانو د مړینې کمول،

۵ – په کال ۱۹۹۹ کې دا خبره هم وشوه چې باید ۱۵ – ۲۴ کلنو ځوانانو په شمېر کې تر ۲۰۰۵ پورې۲۵% کمې راشي او د عمر د اوږدوالي له پاره هڅې ګړندې شي،

UNPF له ډېرو وروسته پاته هېوادونو سره مرسته کوي چې د سم او پرله پسې پرمختګ له پاره، خپلې هغه تګلارې منظمې کړي چې په نفوسو پورې اړه لري.

جوړښت:

۱ – مشرتابه شوری: دا دUNPF تر ټولو لوړ اجراییه ارګان دی چې د اقتصادي او ټولنیزې شوری تر نظر لاندې کار کوي، دا شوری د صندوق د مدیریت، د تګلارو د جوړولو، د مالي مقرراتو د ټاکلو، د کلنۍ بودجې د تصویب، د افرادو د انتخاب په بنسټ د کورنیو د جوړښت (تنظیم) او د بلاربتوب د وخت د روغتیایي خدماتو د برابرولو مسوولیتونه په غاړه لري او خپل کلنۍ راپور د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شوری ته وړاندې کوي.

۲ – اجراییه مدیریت: د UNPF اجراییه مدیر د مشرتابه شوری په خوښه، د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي.[۱۳٤]

فعالیتونه: په ډېرو پرمختیایي هېوادونو کې، د کورنیو د جوړښت د سمون هڅو او پروګرامونو ښه نتیجه ورکړې ده. پخوا به یوې میرمنې په منځني توګه ٦ ماشومان زېږدول؛ خو له نن څخه ۵ کاله مخکې د پرمختیایي هېوادونو٦٠% مېرمنو د حمل ضد درمل کارول، په داسې حال کې چې د UNPF د جوړېدو په لومړنیو کلونو کې ۱۰ – ۱۵% مېرمنې په داسې درملو پوهېدې!

ویل کېږي چې هر کال نژدې پنځه سوه زره میندې د زېږون په وخت کې مري. له همدې امله د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق په دې تګلارو سلا شوي دی:

---

[۱۳٤] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۳۷

۱ – د حمل د مخنیوي مشورتي خدمات او د دېرې سلامتیا له پاره هڅې،

۲ – د ټولو له پاره د زېږون څخه مخکې یا وروسته روغتیایي آسانتیاوې،

۳ – د AIDS د خپراوي کلک مخنیوی،

۴-- UNPF زیار باسي چې په بېلابېلو ټولنو کې، د فقر په کمولو یا ورکاوي او اوږدمهاله پرمختیا کې غټه برخه ولري او که چېرته ښځې د زده کړو او روغتیا خاوندانې وي، د دوی کورنۍ، ټولنې او هېوادونه به هم پرمختګ وکړي.

UNPF همداراز له پرمختیایي هېوادونو سره ګډ کار کوي چې د خپلو نفوسو احصائیې، په خپل وخت ټولې، تجزیه او تحلیل کړي.

دا ټولنه د خپل عملي کار د پروګرام سره سم او د فقر او بېوزلتیا د کمولو له پاره د زریرې د اهدافو مطابق، ډېر ملاتړ ترلاسه کړ او بریالي په مخ روان دي .[۱۳۵]

UNPF او افغانستان: افغانستان د دی ټولنی غړی هیواد دی. په کال ۱۹۷۹ کی د افغانستان لومړنی سرشمیرنه، د همدی ټولنی په مالی او تخنیکی مرسته ترسره شوه او د حامدکرزی د واکمنی له پیله تر اوسه، د افغانستان د احصایی او معلوماتو د دفتر یوه مرستندویه ټولنه شمیرل کیږی.[۱۳۶]

**٦ -- د ملګرو ملتونو د انساني اسکان پروګرام**

**The United Nations Human Settlements Program (UN-HABITAT)**

( عمومی ټولنه)

HABITAT د انساني استوګنځیو د پرله پسې پراختیا له پاره، د تګلارو د جوړولو، ټولنیز پرمختګ، ظرفیت جوړونې، د پوهې د ایجاد او د دولتونو او مدني ټولنو د ګډ کار مسوولیت په غاړه لري.

HABITAT چې په کال ۱۹۷۸ کې جوړ شوی، د ټولو له پاره د استوګنځیو او پرله پسې ښاري پراختیا په دوو برخو کې، د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې د انساني استوګنځیو د پراختیا د فعالیتونو د همغږی ځای دی. دا پروګرام همداراز هڅه کوي چې له نړۍ سره مرسته وکړي چې د کال ۲۰۲۰ تر نیمایي پورې، د هغه سل ملیونه بېوزله انسانانو د ژوندانه د ښه والي له پاره خپلې ژمني پوره کړي چې په کوډلو کې اوسي او د څښلو پاکې اوبه نه لري چې د زریزې د پراختیا په پلان کې په پام کې نیول شوی وو.

HABITAT له دولتونو، سیمه ییزه چارواکو، غیردولتي ټولنو او خصوصي برخې سره په ګډه کار کوي چې خپلو اهدافو ته ورسي.

اهداف: HABITAT څلور اوږدمهاله هدفونه لري:

- له ښارونو سره مرسته چې نړیوالو ستندردونو ته ورسي،

---

[۱۳۵] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۰

[۱۳۶] پوهاند محمد بشیر دودیال، UNFPA، تاند ویبپاڼه

- د اطلاعاتو تجزیه او تحلیل،
- ښاري مالیات،
- د ښاري ستونزو حللاري.

HABITAT د پاسنیو اهدافو د حصول له پاره، د نړۍ د ولسمشرانو د پرېکړو له مخې په لاندې برخو کې لګیا دی:

- د هغه بېوزله کسانو او کورنیو د ژوندانه ښه کول چې په کوډلو کې اوسي،
- له طبیعي پېښو یا فجایعو څخه وروسته بیا جوړونه،
- د څښلو د اوبو موندل او د ښاري خیرنو اوبو ویستل،
- د استوګنځیو د جوړولو له پاره د مالي سرچینو لټون.[137]
-

**دفترونه:**

HABITAT د سیمه ییزه فني مرستو له پاره دری لوی دفترونه لري:

- د عربي هېوادونو او افریقا دفتر (ROAAS) چې مرکز یې په نایروبي کې دی،
- آسیا – اوقیانوسیه دفتر (ROAP) چې مرکز یې په فوکوکا (جاپان) کې دی،
- د مرکزي او لاتینې امریکا دفتر (ROLAC) چې په ریودوژنیرو (برازیل) کې دفتر لري.

HABITAT په بېلابېلو هېوادونو کې ۴۰ سیمه ییز دفترونه هم لري چې زده کړنیز، علمي او مرستندویه خدمات وړاندې کوی. HABITAT په نیویارک، بروکسل، ژنیو، ماسکو، بیجینګ، چنای (هند)، عمان (اردن) او بوداپست د اطلاع رسونې څانګې لري.

د ښاري مدیریت پروګرام:UMP

د HABITAT د ښاري مدیریت پروګرام په ۱۹۸٦ کې، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام یا UNDP په څنګ کې ځکه جوړ شو، چې په پرمختیایي هېوادونو کې، د فقر د ورکاوي له پاره، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ وهڅوي . UMP په تېرو ۳۴ کلونو کې دا کارونه کړي: د همکارو ښاروالیو د شبکې جوړیدل، د ښاري مدیریت او تګلارو په برخه کې د نویو تجاربو شریکول او د ښاروالیو له پاره د بېلابېلو پروګرامونو جوړول. په دې موده کې د ښاري مدیریت پروګرام د نړۍ د ۸۵ هېوادونو په ۱۴۰ ښارونو کې ۴۰ ښاري شبکې، د دې دفاترو له لارې جوړې کړې دي:

- د افریقا د ښاري مدیریت د مراکزو شبکهANUMI ، ابیجان (د عاج ساحل)،
- د افریقا د شمال او د اروپا د ختیځ د ښاري چارو مرکزNENA ، رباط (مراکش)،
- د آسیا – پاسفیک د ښاري سرچینو مرکزURCAP ، بنکاک (تایلند)،

[137] yic.ir

- د مرکزي او جنوبي امریکا د ښاري سرچینو مرکز، کوایتو (اکوادور).

UMPدری دفترونه نور هم لري چې یو د مالي سرچینو د موندلو کار کوي، بل هڅه کوي چې هغه ښاریانو ته چې تر اوسه د څښلو پاکې اوبه نه لري، اوبه ومومي او له ښاروالیو سره مرسته وکړي چې څنګه خپلې خیرنې اوبه وباسي او دریېم د هغه کورنیو له پاره کار کوي چې تراوسه په ښارونو کې؛ خو په کوډلو او ځالګیو کې اوسي.[۱۳۸]

## ۷ – د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو صندوق

**United Nations International Children's Emergency Fund (UNICEF)**

(عمومی ټولنه)

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹۴٦ کې، دا صندوق (UNICEF) د اقتصادي او ټولنیزې شورى په وړاندیز، له دویمې نړېوالې جګړېڅخه وروسته، د هغه ماشومانو سره د مرستې له پاره جوړ کړ چې تاوتریخوالی، خونړیو جګړو، بېوزلیو، ناروغیو او تبعیض ځپلي او ځورولي وو؛ خو د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹۵۰ کې په وروسته پاته او پرمختیایي هېوادونو کې، د ملیونونو بیکوره، یتیمو او لالهانده ماشومانو رواني، اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په کتو، د UNICEF ماموریت وغځاوه، تر څو چې UNICEF په کال ۱۹۵۳ کې د ملګرو ملتونو د دریمي ارګان په توګه ومنل شو او نوم یې چې پخوا د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو نړیوال بېړنی (اضطراری) صندوق و، د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو صندوق شو.

UNICEF د ماشومانو د حقوقو د کنوانسیون د موادو له مخې، چې په نړۍ کې تر ټولو منلی تړون دی، کار کوي او په دې اند دی چې د ماشومانو پالنه او د هغوي د حقوقو ملاتړ، د انساني پرمختګ بنسټ بلل کېږي.[۱۳۹]

اهداف:

- په وروسته پاته او پرمختیایي هېوادونو کې، د ماشومانو د روغتیابنه کول،
- د ماشومانو له هوساینې سره مرسته،
- په ماشومانو د زور کار (بیګار) او استثمار مخنیوی،
- د بشري حقونو د ملاتړ په چوکاټ کې، د ماشومانو د ځورونې مخنیوی او د ماشومانو د حقونو دفاع،
- د مور او ماشوم د روغتیا او د ماشومانو د ټولنیزې هوساینې او ښوونې او روزنې د پرمختګ له پاره هڅې.

جوړښت:

---

138 ensari.ir

۱۳۹ نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۴۸

۱ – اجراییه مدیره هیات: د ۳٦ هېوادونو استازي چې ټولنیزه او اقتصادي شوری یې، د جغرافیایي وېش او مالي مرستو ته په پام سره د دریو کلونو له پاره ټاکي.

۲ – دارالانشا: د UNICEF دارالانشا د اجراییه مدیره هیات په خوښه، د ملګرو ملتونو سرمنشي له خوا ټاکل کېږي. دارالانشا د اداري چارو او د اجراییه مدیره هیات د پروګرامونو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري.

۳ – سیمه ییز دفترونه: د UNICEF لاندې سیمه ییز دفترونه د پروګرامونو په عملي کولو کې مرسته کوي.

ختیځه او سویلي افریقا (نایروبي – کینیا)، لویدیځه او مرکزي افریقا (ابیجان – د عاج ساحل)، امریکایي هېوادونه او د کارابین سیمه (بوګوتا – کولمبیا)، ختیځه آسیا او پاکستان (بنکاک – تایلند)، منځني ختیځ او شمالي افریقا (عمان – اردن) او مرکزي او جنوبي اسیا (نوی دیلی –هند)[۱٤۰]

فعالیتونه: UNICEF د ماشومانو د روغتیا او سلامتیا په کار کې، له زېږېدو څخه تر نوی زلمیتوب پوری، برخه لري او هڅه کوي چې ماشومان د کوچنیوالي د ناروغتیاوو په وړاندې خوندي کاندي او د میندو او ماشومانو ته سم خواړه ورسي.

UNICEF، زیار باسي چې په HIV او AIDS باندې د ځوانانو د اخته کېدو مخه ونیسي او له هغه کورنیو او ماشومانو سره چې په دې ناروغی اخته دي، مرسته وکړي چې په ښه حیثیت او شرافت ژوند وکړي.

UNICEF، د نجونو د ښوونې او روزنې ملاتړی دی او زده کړه دا د ماشومانو په ګټه بولي. دا صندوق د هغه ماشومانو لاس نیسي چې په بېړنیو پېښو کې زیان ویني او یا له تاوتریخوالي او ناوړه جنسي سلوک سره مخامخ وي.

UNICEF، د ماشومانو له پاره د یو نړیوال خوځښت د غړي په توګه،ځوانان دې ته هڅوي چې خپل غږ وباسي او د هغه پرېکړو په بهیر کې ګډون وکړي چې د دوی په ژوند باندې اغېزه پریباسي. دا صندوق په خپلو ټولو کارونو کې د ماشومانو او تنکیو زلمیانو ګډون هڅوي او د خپلو هڅو له امله یې په کال ۱۹٦۵ کې، د نوبل د سولې جایزه هم ترلاسه کړې ده.[۱٤۱]

UNICEF د ماشومانو له پاره د ملګرو ملتونو یوازنی بنسټ دی، چې د ماشومانو په هکله ډېر اطلاعات ټولوي او د ماشومانو د ژوند چاپېریال، سلامتیا، خوړو او روغتیا په برخو کې په کار بوخت دی.

که څه چې UNICEF په ټوله نړۍ فکر کوي؛ خو ډېر بوخت په افریقا کې دی او دېټکو ته ډېر پام ساتي:

- د ماشومانو ژوند او وده،
- زده کړه،
- جنسیتي برابري،
- د تاوتریخوالي مخنیوی،

---

[۱٤۰] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۴۸

[۱٤۱] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۷-۴۸

- د ناوړه استفادې او تجاوز مخنیوی.

مقر: د UNICEF مرکزي دفتر په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې دی. په ۱۹۰ هېوادونو کې نژدې ۷۰۰۰ کارکوونکي لري، کلنۍ بودجه یې څه باندې یو بلیون $ ده چې دولتونه او خصوصي برخه یې ورکوي. په خصوصي برخه کې UNICEF نژدې ٦ ملیونه ملګري لري چې په شتمنو هېوادونو کې اوسي او د خپلو ملي بنسټونو له لارې، له UNICEF مرستې استوي.

**۸ -- د خوړو نړیوال پروګرام(World Food Program (WFP**

(عمومی ټولنه)

د خوراکي توکو د مرستو په برخه کې، د یو بنسټ د رامنځ ته کولو هڅې په کال ۱۹۳۰ کې پېل شوې دي. هغه وخت د ځینو شتمنو او پرمختللو هېوادونو کرنیز توکي دومره ډېر شوي وو چې خرڅلاویې ستونزې درلودې. له همدې امله یو شمېر هېوادونو د بېوزلتیا او لوږې سره د مبارزې هڅې پېل کړې.

WFPد کال ۱۹٦۱ په نومبر کې، د ملګرو ملتونو او د خوراکي توکو او کرنې نړیواله ټولنې (FAO) په مرسته جوړ شو.

**جوړښت:**

WFP دوه اداري برخې لري:

۱ - د خوراکي مرستو د پروګرامونو او پلان جوړونې کمېټه چې د مدیره هیات تر مشرۍ لاندې کار کوي. دا کمېټه ۳۰ غړي لری چې د اقتصادي او ټولنیزې شوری او د خوراکي توکو او کرنې د نړیوالې ټولنې له خوا، د درې کلونو له پاره ټاکل کېږي او په کال کې دوه ځلې په روم (ایتالیا) کې غونډې کوي.

د دې کمېټې اصلي دنده د WFP پراختیا او له کډوالو سره د بېړنیو مرستو له پاره د لازمو طرحو او پروګرامونو جوړول دي.

۲ – اجراییوي مدیریت: د WFP مدیره هیات د هېوادونو ۳٦ استازي غړي لري چې نیم د اقتصادي او ټولنیزې شوری او نیم د FAO له خوا د ۴ کلونو له پاره ټاکل کېږي. د WFP مشر یا اجراییه مدیر په همدې ترتیب یعنی د دواړو په خوښه ټاکل کېږي. اجراییه مدیر دنده لري چې د UNDP پروګرامونه وڅاري او ورځني کارونه مخ ته ویسي.[۱٤۲]

WFP دنده لري چې د لوږې او بېوزلتیا سره په مبارزه کې، له پرمختیایي هېوادونو مرسته وکړي او د خوړو د وېش له لارې، اقتصادي او ټولنیزه پراختیا وهڅوي او په مخ ویسي.

WFPپه ښوونځیو کې د ماشومانو د تغذیې، د هغه نړېوالې هڅې ملاتړ کوي چې غواړي ۳۰۰ ملیون خوارځواکه او ډېر بېوزله ماشومانو ته خواړه ورسي چې خپلې زده کړې بشپړې کړي.

---

[۱٤۲] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۷-۴۸

WFP په بېړنیو حالاتو کې، د جګړې، طبیعي پېښو او یا انساني فجایعو په وخت کې، اړو خلکو ته بیړنۍ مرستې رسوي.[۱۴۳]

مقر: د WFP مرکزي دفتر په روم (ایتالیا) کې موقعیت لري او نژدې ۹۰۰۰ مامورین لري چې ډېر په بېلابېلو سیمو کې په کار بوخت دي WFP .په کال کې نژدې ۴ ملیون ټن خوراکي توکي، په څه باندې اتیا هېوادونو کې په څه باندې سل ملیون اړو خلکو ویشي.

**دریم -- زده کړې او څېړنې:**

**۱–د بې وسلې کولو په برخه کې د څېړنو نړیوال انستیتوت United Nations Institute for Disarmament Research(UNIDIR)**

UNIDIR د ملګرو ملتونو یوه فرعي څانګه ده چې په کال ۱۹۸۰ کې، د UN د عمومي ټولنې له خوا، د بې وسلې کولو او نړیوال امنیت په برخه کې، د څېړنو له پاره جوړه شوه. د UNIDIR مقر په ژنیو (سویتزرلند) کې دی.[۱۴۴]

**۲ --د زده کړو او څېړنو له پاره د ملګرو متلونو انستیتوت**

**United Nations Institute for Training and Research(UNITAR)**

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د کال ۱۹۶۳ د دسمبر په ۱۱ پرېکړه وکړه چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو او د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا له پاره، د زده کړو او څېړنو له لارې، د ملګرو ملتونو د ټولنې د کاري اغېزمنتیا د لوړولو له پاره UNITAR جوړ کړي.

UNITAR په ټوله نړۍ کې د ملګرو ملتونو د مامورینو، او هغه دیپلوماتانو د ظرفیت د لوړاوي له پاره کار کوي چې په یو ډول نه یوډول، له ملګرو ملتونو سره کار لري. په دې زده کړو کې څو اړخیزه دیپلوماسي، اقتصادي پراختیا، نړیوال حقوق او د ملګرو ملتونو مصوب اسناد، وتلی ځایونه لري.

جوړښت: UNITAR د ملګرو ملتونو د یو فرعي ارګان په توګه داسې جوړښت لري:

- مدیره هیات: د UNITAR مدیره هیات ۱۱ – ۳۰ غړي لري چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا، د عمومي ټولنې او د اقتصادي او ټولنیزه شورى د مشرانو په خوښه، د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي.

د نوموړي مدیره هیات مشر ته د UNITAR اجراییه مشر یا رییس ویل کېږي. د UNITAR کلني لګښتونه هېوادونه، بین الحکومتي ټولنې او غیرحکومتي سرچینې ورکوي)[۱۴۵]

---

[۱۴۳] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۷-۴۸

[۱۴۴] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۸

[۱۴۵] سازمان های بین المللی، نلمزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۵ او www.unitar.org/the institute

### ۳ -- د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج(UN System Staff College (UNSSC

د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج د جوړېدو فکر هغه وخت پیاوړی شو، چې د نړیوالو مدني خدماتو د اغېزمنتیا د ډېرېدو اوږدمهاله اړتیا ولیدل شوه. په کال ۱۹٦۹ کې د داسې یو روزنیز کالج د پرانستلو لومړني ګامونه پورته شول. په کال ۱۹۷۱ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د کارکوونکو د روزنې د کالج لومړنې منظوري ورکړه.

په ۱۹۹۳ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي هیله څرګنده کړه چې ملګري ملتونه او ILO دې په ګډه د دې کالج په وړاندیز کار وکړي. دا وړاندیز دوه کاله وروسته ومنل شو او کالج په ۱۹۹٦ کې عملاً په کار پیل وکړ.

د کال ۲۰۰۰ په اګست کې یو خپلواکه پلاوی د UNSSC د کار او زده کړو بهیر وڅاره او څه سپارښتنې یې وکړې. د کال ۲۰۰۱ په جولای کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج منظور کړ. په دې منظوري کې راغلي و چې دا کالج به د ملګرو ملتونو ټولې لویې کورنۍ ته لوړې پوهې او مدیریت، اوږدمهاله مشرتوب، د مدیریت د اغېزمنتوب، د عملیاتو د ګټورتوب، د مدیریت د کلتور او دې ته ورته نوي مسلکي زده کړې برابروي.[۱٤٦]

جوړښت:

-مدیره پلاوی: دا پلاوی د UNSSC ټولې تګلارې، تدریسي پروګرامونونه، راتلونکي پراختیایي پلانونه، مالي سرچینې او کلنۍ بودجه ګوري او منظوري ورکوي.

د دې پلاوي ۱۱ غړي د پروګرامونو د عالي کمېټې (High – Level Committee on Programs (HLCP او د مدیریت د عالي کمېټې (High – Level Committee on Management (HLCM له منځه ټاکل کېږي او دنده لري چې د کالج د اغېزمنتیا د ډېرولو، او د ملګرو ملتونو د ټولې کورنۍ د بریالیتوبونو له پاره کار وکړي.

مقر: د UNSSC مرکزي دفتر او لوست ځای د ایتالیا په تورین کې موقعیت لري؛ خو په اوسنیو Online شرایطو کې د ملګرو ملتونو هر مستعد کارکوونکی د شرایطو مطابق برخه اخستلای شي.[۱٤۷]

### ۴- د ملګرو ملتونو پوهنتون (UN University (UNU

دا پوهنتون د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د کال ۱۹۷۲ د دسمبر د ۱۱ نیټې د پرېکړې له مخې په توکیو کې جوړشو. UNU د بشري ژوند د بقا، ښه ژوندانه، ټولنیزه هوساینې او پرمختیا او پراختیا په برخو کې،ځوانان او د UN کادرونه روزي او څېړنې کوي.

اوس UNU د ملګرو ملتونو یو علمي او څېړنیز بنسټ بلل کېږي، چې له کال ۲۰۲۰ څخه را پدیخوا، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په مسوولیت د فراغت اسناد ورکوي.

---

146 unssc.org/board
147 unssc.org/board

جوړښت: UNU د هغه شورى له خوا اداره کېږي چې د بېلابېلو هېوادونو له ۲۴ پوهانو څخه جوړه ده او د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د UNESCO د لوى رييس يا مشر له خوا په ګډه، د ٦ کلونو له پاره ټاکل کېږي.

رييس د پوهنتون تر ټولو لوړ اداري او علمي مشر دى چې د پاسنۍ شورى غړيتوب هم لري. دا پوهنتون څو مشورتي کمېټې لري چې په دې برخو کې کار کوي: نړيوال لوړه، بشري او ټولنيزه پراختيا او د طبيعي زېرمو يا سرچينو مديريت او استفاده.

فعاليتونه: د UNU استادان په دې موضوعاتو په څېړنو بوخت دي: سوله، له لانجو او کړکيچونو څخه خلاصون، نړيوال اقتصاد، خوراکي توکي او بشري او ټولنيزه پراختيا.

UNU څلور جلا څانګې هم لري:

الف – د اقتصادي څېړنو د پراختيا له پاره نړيوال انستيتوت (WIDER) چې په کال ۱۹۸۵ کې، په فنلند کې جوړ شو او په لاندې مسايلو کار کوي: لوړه، بيوزلي، سوداګريز، مالي او تکنالوژيکي معلومات،

ب – په افريقا کې د طبيعي زېرمو او سرچينو انستيتوت (INRA) چې په کال ۱۹۸۹ کې په اکرا (ګانا) جوړ شو او په افريقا کې د علمي او تکنالوژيکي ظرفيتونو د لوړاوي په کار بوخت دي،

ج – د نوي تکنالوژۍ انستيتوت (INTECH) چې په کال ۱۹۹۰ کې، په ماستريخت (هالند) کې پرانستل شو،

د – د سافت وير تکنالوژي نړيوال انستيتوت (IIST) چې په ۱۹۹۲ کې په بماکو ( مالی ) کې جوړ شوى دى. همغه وخت په توکيو (جاپان) کې د پرمختللو مطالعاتو انستيتوت هم پرانستل شو.[۱۴۸]

---

[۱۴۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۵۸

## څلورم- نور بنسټونه:

### ۱ -- د نړیوالې سوداګرئ مرکز(International Trade Center (ITC

( عمومی ټولنه)

ITC یوازنی پراختیایي مرکز دی چې غواړي کمکي او منځني سوداګرئ لویې او نړیوالې شي. په بله ژبه د پرمختیایي او هغه اقتصادونو د خصوصي سکتور ملاتړي چې له یوه پړاوه بل پرمختللي پړاو ته د اوښتو په درشل کې وي. په دې ملاتړ کې د وارداتو د عملیاتو د ښه والي او د صادراتو په پراختیا کار کېږي. د ITC کارونه دا دی:

- د تولید او بازار پراختیا،
- د سوداګری د حمایې د خدماتو پراختیا،
- د سوداګریزه اطلاع رسونه،
- د انساني سرچنیو (منابع) پراختیا،
- د نړېوالې عرضې او غوښتنې (تقاضا) مدیریت،
- د اړتیاوو ارزونه او د سوداګرئ د ښه والي له پاره د پروګرامونو جوړول.

ITCد غړو هېوادونو د ملي ظرفیت جوړونې له پاره، په دریو برخو کې فني مرستې کوي:

- د هېوادونو له سوداګرئ سره مرسته چې هغه قوانینو درک کړي او ځان ورسره منطبق کړي چې په WTOیا د سوداګرئ په نړیواله ټولنه واکمن دي،
- د ملي واحدونو د سوداګرئ او ټول اقتصاد رقابتي کېدل،
- د نویو سوداګریزه لارو چارو پراختیا.

ITC چې د WTO او UNCTAD (د ملګرو ملتونو د سوداګرئ او پراختیا کنفرانس) تر نظر لاندې کار کوي. د پرمختیایي هېوادونو د سوداګریزه ظرفیتونو د لوړاوي د پاره، د ملګرو ملتونو د فني مرستو اصلي مرکز دی.[۱۴۹]

ITC په کال ۱۹٦۴ کې د سوداګرئ او تعرفې د عمومي هوکړې یا GATT له خوا جوړ شو او له کال ۱۹٦۸ څخه تراوسه، د GATT (چی په ۱۹۹۴ کې په WTO واوښت) له خوا په مخ وړل کېږي.

ITC په پرمختیایي هېوادونو کې د UNDP هغه پروژې عملي کوي، چې د دې هېوادونو د سوداګریزو ظرفیتونو له لوړاوي سره مرسته کوي.

ITC د خپلو کارونو له پاره د داسې ځینو ټولنو سره ګډ کار کوي چې یا په ملګرو ملتونو پورې اړه لري او یا بهرنۍ بلل کېږي.

له WTO او UNCTAD سره د ITC ګډ کار فني ځانګړتیاوې لری. ITC د صادراتي بازارونو د پراختیا له پاره، د FAOاو UNCTAD سره په ګډه کار کوي.

---

[149] intrace.org/itc

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام یا UNDP د پرمختیایي او هغه هېوادونو سره د ITC د ګډو پروژو، د اړتیا وړ لګښتونه برابروي چې له یوه پړاوه بل پرمختللي پړاو ته د اوښتو په درشل کې وي.

ITC همداراز د ملګرو ملتونو له نورو نووښتونو، سیمه ییزه پراختیایي بانکونو، نورو ټولنو، نادولتي ټولنو او سوداګریزه بنسټونو سره نژدې اړیکې لري.

د ITC عادي بودجه، د ملګرو ملتونو او WTO له خوا نیمه – نیمه برابرېږي چې د صادراتو د پراختیا په څېړنو، د دې څېړنو په خپراوي، احصائیو او اطلاع رسونې په خدماتو او اداري لګښتونو لګي. د ITC د فني مرستو لګښتونه دUNDP ، نړیوالو شریکانو او هغو خلکو یا ټولنو له خوا ورکول کېږي چې د دې کار له پاره بودجه لري. له همدې امله WTO او ملګري ملتونه د ITC د کار سرې کرښې په ګډه ټاکي؛ خو په دې دواړو سربېره د ITC کلنۍ غونډې او د نړیوال سوداګریز مرکز ګډه کاري ډله یا JAG هم سپارښتنې کولای شي.

JAC د ITC د منځمهاله پروګرامونو د همغږۍ مسوولیت هم په غاړه لري. د WTO او UN غړي هېوادونه د JAGغونډې جوړوي. د ITC مرکز په ژنیو(سویټزرلند) کې دی. ITC.شاوخوا ۲۰۰ مامورین او په ډېرو هېوادونو کې په سلګونو مشاورین لري.

اهداف: ITC پنځه مهم هدفونه لري:

- په نړیواله سوداګرۍ کې د راکړې ورکړې د طرفونو تر منځ د اړیکو او همغږۍ آسانتیا،
- د سوداګرۍ د پراختیا د تګلارو له پاره د ملي هڅو ملاتر،
- په دولتي او خصوصي برخو کې د سوداګرۍ د ملاتړ پیاوړتیا،
- په مهمو او حیاتي برخو کې د ترجیحي سوداګرۍ هڅول،
- د نړیوالې سیالې د ظرفیت لوړول.

ITC د پاسنیو اهدافو د حصول له پاره ټولو هېوادونو ته اطلاعات رسوي، مشورې ورکوي، پروګرامونه او کورسونه جوړوي او هغوی ښه او اغېزمن کار ته هڅوی. ITC په منظمه توګه په دې برخو کې ګټور علمي معلومات خپروي: د نړیوالې سوداګرۍ څرنګوالی، د صادراتو پراختیا، نړیواله بازار موندنه، نړیواله غوښتنه (تقاضا)، د عرضي مدیریت، د بهرنۍ سوداګرۍ زده کړه او د نړیوالې سوداګرۍ په هکله ارقام او احصائیې.[۱۵۰]

## ۲-- د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس

**United Nations Conference on Trade and Development (UNCTAD)**

**( عمومی ټولنه)**

له دویمی نړیوالې جګړېڅخه وروسته، په پنځوسمو او شپیتمو لسیزو کې، نړیوالې سوداګرۍ ګړندی پرمختګ درلود او د راکړې ورکړې حجم میاشت په میاشت لوړېده. په دې نړیوال پرمختګ کې د پرمختیایي هېوادونو

[150] www.intracen.org

ونډه لرې وه؛ ځکه دوی ډېر صنعتي او لګښتي (استهلاکي) مالونه پېرودل؛ خو د صادراتو له پاره یې له اومو موادو او لاسي صنایعو پرته بل څه نه درلودل. له همدې امله پرمختیایي هېوادونو د اقتصادي – ټولنیز پرمختګ په بېلابېلو طرحو کار پیل کړ او داسې هڅې یې ګړندې کړې چې د اقتصادي پرمختګ له پاره، له پرمختللو هېوادونو او نړیوالو ټولنو سره، د بهرنۍ سوداګرۍ د عنصر په ارزښت خبرې او بحثونه وکړي.

دې فشار د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه دې ته اړ کړه، چې د کال ۱۹٦۱ د دسمبر په ۱٦ پرېکړه وکړي، چې نړیواله سوداګري د اقتصادي پراختیا او پرمختیا بنسټ جوړوي او د یو نړیوالې غونډې د جوړېدو هیله یی څرګنده کړه.

ډېرو پرمختیایي هېوادونو د دې پرېکړې هرکلی وکړ. د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شوری په کال ۱۹٦۲ کې، په یوه نړیواله غونډه کې د نړیوالې سوداګرۍ په هکله بحثونه ډېر اړین وبلل. له دې وروسته د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په ژنیو (سویتزرلند) کې د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس جوړ کړ چې د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس یا UNCTAD په جوړېدو پای ته ورسېد او دا بنسټ د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د یو فرعي ارګان په توګه ومنل شو.

اهداف: UNCTAD د سوداګرۍ او پراختیا په برخو کې، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې اصلي بنسټ دی او دنده لري چې:

- د هغه هېوادونو اقتصادي پراختیا ګړندي کړی، چې د پرمختګ په بېلابېلو پړاوونو کې دي ، په تېره بیا لږ پرمختللی هېوادونه،
- د نړیوالې سوداګرۍ او د اقتصادي پراختیا اصول او تګلارې تدوین او تطبیق کړي،
- د نړیوالې سوداګرۍ او اقتصادي پراختیا په برخه کې، د ملګرو ملتونو د بېلابېلو بنسټونو تر منځ د ګډ کار آسانتیا پیاوړي کړي،
- د نړیوالې سوداګرۍ او اقتصادي پراختیا له پاره، د اقتصادي ډلو او دولتونو تګلارې او فعالیتوي همغږي کړي[151]

UNCTAD د نړیوالی سوداګرۍ د څار، او د هېوادونو د اقتصادي ودې په برخه کې اصول، مقررات او تګلارې جوړوي او د بېلابېلو هېوادونو اقتصادي نظامونو په پام کې نیولو سره، د تګلارو د عملي کولو له پاره ځینې وړاندیزونه کوي .[۱۵۲]

UNCTAD له همغه لومړي پیله نړیوال حقوقي شخصیت نه لري او د نړیوالې سوداګرۍ او اقتصادي پراختیا په هکله په پرېکړو کې، د سیاسي واکمنۍ تر څنګ اقتصادي واکمني هم په پام کې نیسي او د پرمختیایي هېوادونو په ګټه، د عادلانه نړیوال ګډ کار او برابرتیا په اصولو ټینګار کوي. په بله ژبه هغسې نړیواله سوداګرۍ غواړي چې پرمختیایي هېوادونه پکېګټه وکړي .

---

[151] سازمان های بین اللملی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۴۱-۱۴۲

[152] fa.wikipedia.org

د کالیو( اجناس) جامع پروګرام:Integreted Program for Commodities (IPC)

IPC د UNCTAD له بنسټیزه او مهمو پروګرامونوڅخه دی. دا پروګرام د لومړنیو توکو د ثابتو بیو د ټاکلو پلوی دی؛ ځکه د پرمختیایي هېوادونو د صادراتو توکو بیې لوېږي او دوی زیان وینی. IPC د اړتیا په وخت کې د بېلابېلو توکو د بیو غونډې جوړوي. لکه په کال ۱۹۸۲ کې د ربړ د بیی هوکړه او په ۱۹۸٦ کې د زیتون غوړو د بیو هوکړه[153]

جوړښت: UNCTAD څلور اصلي ارګانونه لري: کنفرانس، د سوداګرۍ او پراختیا شوری، اصلي او فرعي کمېټې او دارالانشا.

کنفرانس: کنفرانس د UNCTAD تر ټولو لوړ ارګان دی چې د عمومي ټولنې یا پارلمان په څېر، له ټولو غړو دولتونو څخه جوړېږي.

کنفرانس هر څلور کاله وروسته د غړو هېوادونو د مشرانو او د بهرنیو چارو او اقتصاد وزیرانو په ګډون، د یو غړي هېواد په پلازمېنه کې جوړېږي او هر دولت یوه رایه لري. په غونډه کې د نړېوالې سوداګرۍ په برخه کې، د هېوادونو د استازو وړاندیزونه او نظریات څېړل کېږي او د یوې بلې دورې له پاره د UNCTAD کړنلاره تصویبېږي. په پای کې د غونډې ټولې اعلامیې او پرېکړې عمومي اسامبلې ته وړاندې کېږي.

د سوداګرۍ او پراختیا شوری :Trade and Development Board (TBD) دا شوری د UNCTAD دایمي ارګان دی چې دوه ډوله غونډې جوړوي: عادي او ځانګړي.

عادي غونډې په کال کې یوځل کېږي؛ خو ځانګړې غونډې د ډېرو غړو، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې او یا د UNCTADد کنفرانس په غوښتنه جوړېږي.

دا شوری د UNCTAD د کنفرانس د دوو غونډو په منځ کې،ټولې هغه دندې مخ ته وړي چې په کنفرانس پورې اړه لري او د UNCTAD کارونه څاري.

شوری د UNCTAD د کلنیو کنفرانسونو د غونډو د ځای او وخت تخنیکي او تدارکاتي تیارياني نیسي؛ د کنفرانسونو سپارښتنې، اعلامیې او پرېکړې عملي کوي او د ملګرو ملتونو له اقتصادي کمېسیونونو او د ملګرو ملتونو د نظام له نورو بنسټونو سره اړیکې ساتي.

شوری هر کال د خپل کار راپور د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شوری له لارې، عمومي ټولنې ته وړاندې کوي. شوری کولای شي چې د خپلو کارونو له پاره فرعي څانګې هم جوړې کړي.

اصلي او فرعي کمېټې:

TDBدری اصلي کمېټې لري:

- د سوداګرۍ، کالیو او خدماتو کمېټه،
- د سوداګرۍ د مالي مسایلو او پانګونې د تکنالوژي کمېټه،

[153] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۴۲

- د سوداګرۍ او تشبثاتو د آسانتیا او پراختیا کمېټه.

افرعي کمېټې :

- د بېړۍ چلونې کمېټه،
- د تکنالوژۍ د لېږد کمېټه،
- د پرمختیايي هېوادونو تر منځ د ګډ اقتصادي کار کمېټه.

دا کمېټې چې د سوداګرۍ او پراختیا شورۍ تر نظر لاندې کار کوي، د UNCTAD له کلنیو غونډو پرته په کال کې یوځلې کېږي.

دارالانشا: انکتاد یوه دایمي دارالانشا لري چې په ژنیو (سویتزرلند) کې موقعیت او د UNCTAD د کنفرانس، د سوداګرۍ او پراختیا شورۍ یا TDB او فرعي کمېټو کارونه مخ ته وړي. د دارالانشا په سر کې د ټولنې سرمنشي ځای لري چې هر څلور کاله وروسته د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیز، د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي.[154]

غړیتوب: د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه، تخصصي بنسټونه او د اتومي انرژي دفترونه، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د ۱۹۹۵ نمبر پرېکړې له مخې، د UNCTAD غړیتوب ترلاسه کولای شي. اوس د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه د دې ټولنیغړیتوب لري؛ ځکه نود نړۍ له سترو ټولنو څخه شمیرل کیږي چې په جغرافیايي وېش سربېره، د سیاسي وېش کرښې هم لري.

۷۷ډله په UNCTAD کې لویه ډله ده چې د آسیا، افریقا او لاتینې امریکا د هېوادونو استازیتوب کوي. سره له دې چې دا شمېره اوس ۱۳۰ ته رسي؛ خو لا هم د ۷۷ په نامه یادېږي چې د نړېوالې سوداګرۍ په خبرو کې، د شتمنو او پرمختللو هېوادونو په وړاندې دروند دریځ لري.

فعالیتونه: UNCTAD په ملګرو ملتونو کې د تلپاته پراختیا، پانګونې، تکنالوژي، مالي سرچینو او سوداګریزه چارو اصلي مرکز دی.UNCTAD غواړي چې د پانګونې او سوداګرۍ له لارې په نړیوال اقتصاد کې د پرمختیايي هېوادونو همغږي پیاوړې کاندي او د دې کار له پاره سیاسي څېړنې، بین الدولتي مشورې او فني مرستې کوي او له مدني او کاروباري ټولنو سره نژدې اړیکې ساتي[155].

UNCTAD د سوداګرۍ او پراختیا په برخه کې، هغه نړیواله ټولنه ده چې پرمختیايي هېوادونو ته یې وس ورکړی چې په نړیواله سوداګرۍ کې بدلونونه او عدالت وغواړي. UNCTAD په تېروڅو لسیزو کې په دې برخه کې وړ بدلونونه راوستي او په نړیواله سوداګرۍ کې یې، د پرمختیايي هېوادونو د ونډې د پراخولو له پاره ګامونه پورته کړي.

د UNCTAD بېلابېلې څانګې، په هغه برخو کې چې د دوی په واک کې دي، د ستونزو حللارې مومي او خپلې پرېکړې دولتونو او اړونده بنسټونو ته استوي. باالمقابل دولتونه هم هغه اطلاعات چې د UNCTAD د پرېکړو د

---

[154] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون ص ۱۴۵-۱۴۷ او سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۴۳

[155] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۴۵-۱۴۷

عملي کولو په برخه کې ټولوي، د دې ټولنې سرمنشي ته استوي. سرمنشي د راغلیو اطلاعاتو راپور د ټولنی اداره کوونکو بنسټونو ته لېږي[156]

### ۳ -- د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ

**United Nations High Commission for Refugees(UNHCR)**

له کډوالو یا مهاجرو څخه د ملاتړ هڅې، لومړی د ولسونو ټولنې له خوا په کال ۱۹۲۱ کې پېل شوې او د کډوالو له پاره لومړنی عالي کمېشنر وټاکل شو.

د ملګرو ملتونو په جوړېدو سره (د ملګرو ملتونو د مرستې او بیارغونې اداره) جوړه شوه. په کال ۱۹۴٦ کې دا اداره (د کډوالو نړیواله ټولنه) شوه چې د مرستې او بیارغاونې ادارې چارېیې په غاړه واخستې.

په کال ۱۹۴۹ کې عمومي ټولنې پرېکړه وکړه چې د کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنر وټاکي.

په ۱۹۵۰ کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ یا UNHCR اساسنامه تصویب شوه او د ۱۹۵۱ د جنورۍ په لومړۍ نېټهی ې خپل کار پېل کړ.

اهداف: UNHCR چې د ملګرو ملتونو له تخصصي بنسټونو څخه دی، دنده لري چې له کډوالوڅخه د نړیوال ملاتړ د فعالیتونو، او د هغوی د ستونزو د حل د لارو چارو مشری وکړي او بېلابېلې هڅې همغږي کړی.

UNHCR له هغو کډوالو سره مرسته کوي چې د کمېشنرۍ د اساسنامې په شرایطو برابر وي او په هغه تګلارو کار کوي چې کډوال د خپلو ستونزو له حل وروسته، په خپله خوښه خپلو هېوادونو ته ستانه شي.

UNHCR په بشري او ټولنیزو چارو کې غیرسیاسي فعالیتونه مخ ته وړي او سیاسي موخې نه لری. UNHCR یوازې هغه کسان د کډوال په توګه پېژني چې د نژادي، مذهبي او قومي تاوتریخوالي یا سیاسي عقایدو له ویرې، له خپل هېواد څخه کډه شوي دي.[157]

جوړښت:

عالي کمېشنر: د UNHCR کمېشنر د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیز، د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي او د اقتصادي او ټولنیزې شورۍ له لارې، عمومي ټولنې ته مسوولیت لري. د عالي کمېشنر د خدمت موده د عمومي منشي په وړاندیز، د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي. عالي کمېشنرخپل کلنی کاري راپور د اقتصادي او ټولنیزې شورۍ له لارې عمومي ټولنې ته وړاندې کوي.

اجراییوي کمېټه: د UNHCR اجراییوي کمېټه د داسې ۴۳ هېوادونو له استازو څخه جوړه ده چې د کډوالو په برخه کې، د همکاري او مرستې ځانګړې مینه لري. اجراییه کمېټه د هر کال په اکتوبر کې غونډه کوي او د

---

[156] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص ۲۳۵-۲۳۶

[157] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون ، ص ۱۴۴-۱۴۳

UNHCRد عوایدو، لګښتونو او بودجې په برخه کې پرېکړې کوي او د عالي کمېشنر په غوښتنه، مشورتي نظریات وړاندې کوي. لنډه دا چې اجراییه کمېټه د UNHCR کارونه او فعالیتونه څاري.

فعالیتونه: UNHCR له پیله تر اوسه د څه د پاسه ٦٠ ملیونه کډوالو سره مرسته کړې او له همدې امله یې په ۱۹۵۴ او ۱۹۸۱ کلونو کې، دوه ځلې د سولې نوبل جایزې ګټلې دي.

UNHCR د خپل کار د نړیوال ملاتړ په سیوري کې، هڅه کوي چې د کډوالو د بشري حقونو درناوی یقیني کړي، د پناه اخستلو له پاره د دوی ملاتړ وکړي او دا ډاډ ترلاسه کړي چې هېڅوک دې بې له خپلې خوښې څخه، خپل هېواد یا داسې درېیم هېواد ته نه ستنیږي چې د جزایي تعقیب ویره وي.

UNHCR د کډوالو په هکله د نړیوالو تړونونو ملاتړ کوي، له نړیوالو قوانینو سره د دولتونو چلند څاري او غیرپوځي کډوالو ته خواړه، اوبه، د استوګنې ځای او روغتیایي خدمات برابروي.

UNHCR په هغه اوږدمهاله حللارو کار کوي چې یا کډوال په خپله خوښه بېرته خپلو هېوادونو ته ستانه شي، یا هغه هېواد ته ورسي چې کډوال هلته پناه غواړي او یا یې درېیم ځای ته ورسوي.

UNHCR څه باندې ۱۷۸۸۰ کارکوونکي لري چې د ۱۱۵ هېوادونو په ۲۵۴ دفترونو کې کار کوي او له ۷۰۰ دولتي او غیردولتیټولنو سره اړیکې لري.

د UNHCR بودجه د دولتونو، ډلو او افرادو د داسې مرستو څخه جوړېږي چې په خپله خوښه یې ورکوي او د ملګرو ملتونو په بودجه کې هم ۲% ونډه ولري. په کال ۲۰۲۰ کې دا رقم ٦.٨ بلیون $ و.

UNHCR معمولاً د خپلو خدماتو د ښو وړاندې کولو له پاره، د ښه نیت سفیران لري.

مقر: د UNHCR مرکزي دفتر په ژنیو (سویتزرلند) کې دی؛ خو د نړۍ په ۱۱۵ هېوادونو کې څه باندې ۲۵۰ سیمهییز دفترونه لري.[158]

[158] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۵-۴۶ او Google.com

## ۴-د ملګرو ملتونو د پروژوي خدماتو دفتر

**United Nations Office for Project Services (UNOPS)**

( عمومی ټولنه)

UNOPS د ملګرو ملتونو عملیاتي اړخ دی چې د ملګرو ملتونو د کورنۍ، نړیوالو مالي موسساتو، حکومتونو او شریکانو له پاره د سولې، امنیت، بشرپاله چارو او پراختیایي برخو کېپروژې تطبیقوي.

UNOPS اوس په ۸۰ هېوادونو کې فعال دی. که په افغانستان کې ښوونځي جوړوي، د هایتی د زلزله ځپلو له پاره کېږدۍ دروي.، لایبریا ته د Ebola ناروغیو د مخنیوي له پاره امبولانسونه استوي، په یمن کې له خلکو سره مرسته کوي او داسې نور. په کال ۲۰۱۹ کی دی ټولنی په ۱۲۰ هیوادونو کی د ۶۰۰ ملیون دالر په ارزښت، ۴۲۰ پروژی تطبیق کړی وی، چی بودجه یی خپله اړونده موسسات ورکوی. په کال ۲۰۲۰ کی د دی ټولنی بودجه ۱۹۳ ملیون $ او عواید ۱۸۱ملیون ډالر وو. دا کسر معمولا د ملګرو ملتونو د بودجی څخه برابریږی[159].

UNOPS د ملګرو ملتونو د پرله پسې پراختیا ډلې United Nations Sustainable Development Group (UNSDG)، UNDP، WB او د سولی د عملیاتو له دفتر Department of Peace Operation (DPO) سره نژدې کار کوي.[160]

UNOPS په کال ۱۹۷۳ کې د UNDP د یوې څانګې په توګه جوړ شو؛ خو په ۱۹۹۵ کې خپلواک او خپل تمویلوونکی شو. دا ټولنه د یوی جوړی له مخې دنده لري چې په اوسني ناکراره نړۍ کې، د سولې د ټینګولو، بشرپاله او انساني خدماتو او پراختیا په برخو کې، اوږدمهاله او ثابت کارونه مخ ته وېسي. په دې کارونو کې بنسټ جوړونهInfrastructure ، برابرول یا اخستلProcurement ، د پروژې مدیریت، انساني سرچینې او مالي مدیریت وتلي ځایونه لري.

اهداف: UNOPS په هغه سیمو یا هېوادونو کې د سولې، امنیت او ټیکاو له پاره کار کوي چې یا جګړو او طبیعي پېښو ځپلي وي، یا یې اقتصاد د بدلون په حال کې وي او یا د پرمختیا په درشل کې وي. د ملګرو ملتونو د پرېکړو له مخې د سولې ټینګتیا په بهیر کې، د بنسټیزه پروژو مسوولیت هم د UNOPS په غاړه دی.

د کال ۲۰۱۰ په دسمبر کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې دا دندې هم UNOPS ته منظورې کړې: برابرول یا اخستل، د تړونونو مدیریت، د ظرفیتونو د لوړاوي کارونه، مدني چارې او د فزیکي بنسټونو پراختیا لکه د لارو، روغتونونو او ښوونځیو جوړول، د ماینونو ټولول، ټاکنو ته چمتووالی او داسې نور.

د سرمنشي ګوترس په وخت کې، د اقلیمي بدلون له پاره د پاریس د تړون د عملې کېدو هڅه هم د UNOPS په دندو کې راغله.

---

[159] contact.unops.org

[160] en.wikipedia.ord/unops

فعالیتونه: UNOPS د خپل کار په بهیر کې وښوده چې له سهم لرونکو او شریکانو سره، د صفا او رڼو اړیکو وړتیا لري او د مرستو د نړیوال شفافیت نوښت International Aid Transparency Initiative (IATI) سره په مشوره، د شفافیت او حساب ورکونې ښه دریځ ته رسېدلی دی. UNOPS په کال ۲۰۱۱ کې د IATI غړیتوب ترلاسه کړ او تر اوسه د خپل ټولو کارونو او پروژو ټول تفصیل په خپله پاڼه او کتابي بڼه خپروي.

له کال ۲۰۰۹ څخه را پدیخوا د UNOPS اجراییوي رییس، د ملګرو ملتونو سرمنشي ته راپور ورکوي او دا واک لري چې د ملګرو ملتونو د پرسونل قوانین او مقررات، د خپلو مامورینو په برخه کې هم تطبیق کاندي.

UNOPS تر اوسه د خپلې وړتیا او بریالیتوبونو له امله، د لوړ کیفیت مدیریت له پاره د ISO دری ستاینلیکونه ترلاسه کړي دي.[161]

مقر: د UNOPS مرکز د کوپنهاګن (دنمارک) په UN ښارګوټي کې موقعیت لری UNOPSله ملګرو ملتونو څخه بودجه نه غواړي؛ بلکه په ټولو هغه پروژو حق الزحمه اخلي چې دوی یې مسوولیت په غاړه اخلي.[162]

## ۵-- په نژدې ختیځ کې د فلسطیني کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کار موندنې دفتر United Nations Relief and Works Agency for Palestine Refugees in the Near East (UNRWA)

( عمومی ټولنه)

ملګرو ملتونو UNRWA په کال ۱۹۴۹ کې جوړ کړ. په هغه وخت کې دا دفتر له هغه فلسطینی کډوالو سره د مرستو او ملاتړ له پاره جوړ شو چې د کال ۱۹۴۸ د جګړوله امله د خپلو مېنو څخه تښتیدلي وو. د عربو او اسراییلو د کال ۱۹٦۷ شپږ ورځنیو جګړو د دې کډوالو شمېر ۵ ملیون ته ورساوه.

اهداف: په لومړي سر کې UNRWA د لاس په لاس مرستو او د عمراني پروژو له لارې د کارونو په ایجاد بوخت و؛ خو وروسته او د فلسطین د کشالې په اوږدېدو سره د دې دفتر د کار ډګر هم پراخه شو: په اردن، لبنان، سوریه، غزه او لویدیځه غاړه ( اردن سیند) کې، د فلسطیني کډوالو له پاره د عادي یا مسلکي او فني ښوونې او روزنې، روغتیا او ټولنیزو خدماتو برابرول او له هغه فلسطیني کډوالو سره مرسته چې له دې پنځو سیمو د باندې اوسېدل/اوسي.

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې تر اوسه د UNRWA د کار موده څوځلې په دې غزولې چې د فلسطین ستونزه لا هم حل شوې نه ده. دا د ملګرو ملتونو یوازنی بنسټ دی، چې د یوې سیمې د کډوالو له پاره ځانګړی دی، په یوه درېیم ځای کې د دې کډوالو د میشتیدنې په اړه فکر کوي او اجازه ورکوي چې د کډوالي حالت دې، د اوسنیو کډوالو اولادې ته هم ومنل شي.[163]

---

161 en.wikipedia.org/unops
162 www.unops.org
163 unraw.org

فعالیتونه: UNRWA له همغه لومړي پیله تر اوسه ۵.۷ ملیون فلسطیني کډوالو ته د مرستې لاس غځولی او ۳.۵ ملیون ته یې لومړني روغتیایي خدمات برابر کړي دي.

د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه او اروپایي ټولنه له UNRWA سره مالي مرستې کوي چې خپل کارونه سم مخ ته یوسي. دا ونډه د دې دفتر د ټولو لګښتونو ۴,۹۰% برخه برابروي. د ملګرو ملتونو ځیني بنسټونه خپلې تجربې او مسلکي پوهه د UNRWA په واک کې ورکوي. ځینې سوداګر، NGOګانې، خیر انسانان او خیریه بنسټونه هم له UNRWA سره مرسته کوي[164].

په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر دونالد ترامپ، بیت المقدس ته امریکا د سفارت له لېږد سره جوخت، UNRWA ته خپلې کلنۍ مرسته چې ۱۲۰ ملیون $ کېده وځنډوله. ښکاره خبره ده چې د داسې یوې مرستې ځنډول به د UNRWAمرستندویه ماموریت ته زیان رسولی وي.

جوړښت: د کال ۲۰۲۰ د جولای د ۱۸ د اسنادو له مخې، UNRWA یو مشر لري چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي.

UNRWA یوه دارالاتشا هم لري، چې د دې دفتر ټول عملیاتي او اداري کارونه مخ ته وړي او د دفتر د اسنادو د ساتنې او راتلونکو پلانونو مسوولیت په غاړه لري[165].

## ٦ -- د جندر مساواتو او د ښځو د پیاوړتیا له پاره د ملګرو ملتونو دفتر

**United Nations Entity For Gender Equality and the Empowerment of Women (UN Women)**

( عمومی ټولنه)

د کال ۲۰۱۰ د جولای په دویمه د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته د جندر مساواتو او د ښځو د پیاوړتیا له پاره د ملګرو ملتونو دفتر یا UN Women جوړ کړ چې جندر مساواتو له پاره یې د ملګرو ملتونو دا څلور دفترونه سره یو ځای کړل:

د ښځو له پاره پراختیایي فند(UN Development Fund For Women (UNIFEM ،

د ښځو د پرمختګ څانګه(The Division for the Advancement of Women (DAW ،

د جندر په برخه کې د ځانګړي مشاور دفتر The Office of the Special Adviser on Gender Issue ،

او د ښځو د پرمختګ له پاره د ملګرو ملتونو د زده کړو او څېړنو نړیوال انستیتوتUN-INSTRAW ،

UN Women د دې څلورڅانګو له یوځای کېدو وروسته، د کال ۲۰۱۱ په جنوري کې په کار پیل وکړ[166].

---

164 unraw.org
165 af.ambafrace.org
166 www.pwacewomen.org

اهداف: د ملګرو ملتونو ډېر کلونه په دې کار کاوه چې څنګه په نړۍ کې جندر مساوات عملي او په دې لاره کې پراته خنډونه له مخې لیرې کړي . دا ټولنه د دې له پاره جوړه شوه چې په هېوادونو، سیمو او نړۍ کې د ښځو او نجونو غړونه واورېدل شي. د UN Women د تګلارې لیکونکو دې دفتر ته لاندې هدفونه په پام کې نیولي:

- د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعیض کمول،
- د ښځو په وړاندې د هر ډول تاوتریخوالی پای ته رسول،
- د ښځو اقتصادي پیاوړي کول،
- د سولې، امنیت، انساني اعمالو، بشري حقونو او پرمختیا په برخو کې، د ښځو او نارینه وو تر منځ د مساواتو له پاره کار.

فعالیتونه: UN Women له همغه لومړي پیله هڅه کوي چې ښځې او نجوني زده کړو ته وهڅوي، په دوی کې د تصمیم نیونې یا پرېکړې روحیه پیاوړې کړي، کارونه ورته ومومي او په دې توګه د ښځو له پیاوړتیا سره مرسته وکړي او جندر مساواتو ته لار پرانیزي.

UN Women د ښځو د هغه بریالیتوبونو په اړه راپورونه خپروي، چې د دوی په ستراتیژیک پلان کې راغلي او هغه متودولوژي ته وده ورکوي چې دوی د جندر مساواتو له پاره په پام کې نیولي[167].

[167] www.pwacewomen.org

## څلورم -- اړونده بنسټونه/ دفترونه:

**چې له امنیت شورى په ګډه اداره کیږي.**

**۱–د ملګرو ملتونو د اتومي چاودنو د هر اړخیز مخنیوي تړون کمیسیون**

**:Comprehensive Nuclear – Test – Ban Treaty Organization (CTBTO)**

( عمومي ټولنه اوامنیت شورى)

CTBTO یو نړیوال بنسټ دی چې د اتومي چاودنو د هراړخیز مخنیوی تړون له انفاذ وروسته به، په ویانا (استریا) کې په کار پیل وکړي.

د اتومي وسلو د کنترول د نړیوال غورځنګ هڅې کال ۱۹۴۵ ته رسي. په هغه کال کې کانادا له برتانیا وغوښتل چې په دې هکله یوه غونډه جوړه کړي. له دې وروسته د امریکا ولسمشر هري ترومن د اتومي انرژي د تولید د کنترول د یو نړیوال سیستم طرحه وړاندې کړه چې شوروي اتحاد ونه منله. دا هڅې همغسې روانې وې، تر څو چې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د اتومي چاودنو د هراړخیز مخنیوي تړون، د کال ۱۹۹٦ د سپتمبر په لسمه تصویب کړ. دا تړون غړي هېوادونه په خپله خاوره یا هغه سیمو کې چې واک یې ورسره دی، د هر راز اتومي چاودنو څخه راګرځوی او د څار د داسې وسایلو د لګولو سپارښت کوي چې تر ځمکه لاندې غړونه او ټکانونه ثبت کاندي، د سمندرونو د څپو خوځیدا وڅاری، په هوا کې راډیو اکتیف مواد وڅیړی او یا سیمی له نژدی وګوری او داسې نور.

په نړۍ کې ۴۴ هېوادونه اتومي وړتیا لري؛ خو د دې له پاره چې پاسنی تړون اجرایي شي، په کار ده چې دا ۴۴ هېوادونه یې په بشپړه توګه تصویب کاندي. که چیرته دا هېوادونه هم CTBT لاسلیک او په خپلو ملي شورى ګانو کې تصویب کړي، تړون به له ۱۸۰ ورځو وروسته اجرایي وي.

د دې تړون لاسلیک کوونکي هېوادونه ژمنه کوي چې د اتومي وسلو یا هر ډول اتومي چاودنو له آزمویلو به لاس اخلي او ډاډ ورکوي چې دا کار به نه په خپله خاوره کې کوي او نه په هغه سیمو کې چې په دوی پورې اړه لري.

غړیتوب: تر اوسه د نړۍ ۱۷۰ هېوادونو CTBT تړون لاسلیک او تصویب کړی دی. ۱۵ هېوادونو تړون لاسلیک کړی؛ خو ملي شورى ګانو یې نه دی تصویب کړی: چین، مصر، استوایي ګیني، ګمبیا، ایران، اسراییل، نیپال، پاپوا نیوګیني، ساوتومي او پرنسیپی، سولومان، سریلانکا، ختیځ تیمور، تووالو، امریکا متحده ایالات او یمن. دې ۱۱ هېوادونو CTBTO لاسلیک کړی نه دی: بوتان، دومینیکا، هند، موریشیس، شمالي کوریا، پاکستان، سعودي، سومالیا، جنوبي سودان، سوریااو تونګا. فلسطین هم په آخر لست کې راځي چې د ملګرو ملتونو غړی هیواد نه دی؛ خو څارونکې بڼه لري. CTBTO به هغه وخت چې اجرایي شي، هڅه وکړي چې د اتومي چاودنو د مخنیوي له پاره د اعتماد قضا جوړه کاندي.

جوړښت: له هغه ځایه چې CTBTO لا تراوسه په کار پیل نه دی کړی؛ ځکه یې د جوړښت په هکله څه نه شي ویل کېدای[168].

**۲ -- د اتومي انرژي نړیواله ټولنه**

**International Atomic Energy Agency (IAEA)**

( عمومی ټولنه او امنیت شوری)

د اتومي انرژي د نړیوالې ټولنې د جوړېدو وړاندیز، د امریکا د هغه وخت په ولسمشر، ایزنهاور پوری اړه لري. نوموړی د کال ۱۹۵۳ په دسمبر کې، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته په خطاب کې وویل چې اتوم په سوله ییزه اهدافو سربېره، د وسلې په توګه هم کاریدلای شي.

عمومي ټولنې په ۱۹۵۴ کې د (سوله ییزه اتومي پروګرام) پرېکړه تصویب کړه.

په کال ۱۹۵٦ کې د نړۍ د ۸۸ هېوادونو غونډې، د IAEA اساسنامه او تګلاره تصویب کړل چې غټ او اساسي ټکي یې اتومي څېړنې، د دې وسلو امنیت او د تکنالوژۍ خوندي او بې خطره لېږد وو[169].

په همدې کال کې د IAEA او ملګرو ملتونو ترمنځ، یوه هوکړه لاسلیک او دا ټولنه د ملګرو ملتونو د یوه خپلواک بنسټ په توګه ومنل شوه.

IAEA د خپلو فعالیتونو په هکله عمومي ټولنې ته، کلنی راپور وړاندې کوي او له نورو تخصصي بنسټونو سره نږدې اړیکې لري.

اهداف:

۱ – د سوله ییزې اتومي انرژي په هکله د علمي مطالعاتو او څېړنو هڅول او د پراختیا مرسته،

۲ – د بشریت د ګټې له پاره، په سوله ییزو مقاصدو کې د اتومي انرژي د کارولو هڅه، او د پوځي اهدافو د پاره د دې انرژي د کارولو مخالفت،

۳ – له اتومي انرژي څخه د سوله ییزې استفادې له پاره، د نویو علمي او فني همکاریو ډېرول، د غیرپوځي اتومي پروګرامونو د څار او کنترول له پاره، د نړیوالو هڅو ملاتړ او د اتومي امنیت او خوندیتابه له پاره د نړیوالې همکاری هڅونه[170].

غړیتوب: IAEA اوس د واتیکان په ګډون ۱۷۳ غړی لری. شمالی کوریا دا غړیتوب نه لری او دا هیوادونه به ژر غړیتوب واخلی: کیپ وردی، تونګا، ساموا، ګمبیا او ګینی. د دی هیوادونو غړیتوب مخکی مشروط منل شوی. هر کله چی هر یو دا شرایط پوره کړل، غړی بلل کیږی.[۱۷۱]

جوړښت:

---

[168] en.wikipedia.org/ list of CTBTO

[169] نړیوال سازمانونه. محمد جعفر هاند، ص ۱۳۱-۱۳۲

[170] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۶۸-۶۹

[171] Google.com

IAEA درې څانګې لري: عمومي کنفرانس، د حکامو شورى او دارالانشا.

عمومي غونډه (کنفرانس): د ټولو غړو هېوادونو غونډه چې په کال کې یوځل عادي غونډه جوړوي او د ټولنې تر ټولو لوړ ارګان بلل کېږي؛ خو د اکثریت غړو هېوادونو په غوښتنه ځانګړې غونډې هم جوړېدای شي.

په دې غونډو کې پرېکړې د رایو په اکثریت کېږي؛ خو د مالي مسایلو، د اساسنامې تعدیل او له غړیتوب څخه د وتلو په اړه پرېکړه په ٦٦.٦٦%رایو ده.

د عمومي غونډې اساسي دندې دا دي: د مالي او اداري مسایلو په اړه پرېکړې، د حکامو شورى ټاکل، د حکامو شورى د کلني راپور څېړنه، د حکامو شورى او منشي له خوا د وړاندې شوې بودیجې تصویب، د اساسنامې اصلاح او تعدیل، د نوي غړي منل، د څلورو کلونو له پاره د ټولنې د منشي ټاکل او ملګرو ملتونو ته IAEA د راپورونو چمتو کول،

۲ – د حکامو شورى: دا شورى ۳۵ هېوادونه غړي لري چې په کال کې څو ځلې غونډې کوي او غړي یې انتخابي او انتصابي دي.

الف – انتصابي غړي: د اساسنامې د ٦ مې مادې له مخې، له پرمختللو هېوادونوڅخه ۱۳ غړي،

ب – انتخابي غړي: د IAEA عمومي غونډه له غړو هېوادونوڅخه ۲۱ استازي د دوو کلونو له پاره ټاکي .

شورى د عمومي غونډه تر نظر لاندې کار کوي، د اړتیا په وخت کې غونډې جوړوي او هر غړى د یوې رایې حق لري. له مالي مسایلو پرته چې ٦٦.٦٦% رایو ته اړتیا لري، د نورو مسایلو په اړه پرېکړې د رایو په ساده اکثریت کېږي.

۳ – دارالانشا: د IAEA د دارالانشا مشري د سرمنشي په غاړه ده چې د عمومي غونډې له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي[172].

دارالانشا په کال ۲۰۲۰ کی له سلو هیوادونو څخه څخه۲۵۰۰ ساینسي، تخنیکي، مسلکي او اداري ماموریندرلودل[173].

فعالیتونه: د IAEA فعالیتونه په څو برخو کې دا دي:

- مصؤلیت او تصدیق: IAEA له څو لسیزو راپدیخوا هڅه کوي چې اتومي مواد خوندي وي او د پوځي اهدافو له پاره ونه کارول شی. IAEA د نړۍ له ۱۴۵ دولتونو سره کار کوي چې اتومي وسلې جوړې نه کړي. ډېرو دې هېوادونو د داسې وسلو د نه جوړولو ژمنې کړي او داسې تړونونه هم شته چې اتومي وسلې به نه ډېروی. ټولنه د دې هېوادونو د زیرمو د پلټنو او څېړلو واک لري.

- خوندیتوب او امنیت: IAEA دنده لري چې خلک او ژوندچاپېریال د راډیو اکتیف موادو، له زیان رسونکو وړانګو څخه خوندي وساتي او نړیوال د اتومي توکو د امنیت او خوندیتوب په ارزښت وپوهوی. ټولنه په خوندي

---

[172] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۷۰

[173] Google.com

سیمو کې د اتومي تاسیساتو جوړول، رادیو اکتیف سرچینې او په دواړو کې د مدیریت پیاوړتیا او د بېخطرۍ د نړیوالو معیارونو مراعاتول، په امنیت سیمو کې د حکومتونو په مرسته، د اتومي تاسیساتو او رادیو اکتیف توکو کلک څار، چې د ترهګرو لاس ته ورنشي، قاچاق نه شي او د نړیوال امنیت په برخه کې مشورې، لارښوونې، تګلارې او د نړیوال بیړني حالت له پاره چمتووالی او داسې نور.

-- ساینس او ټکنالوژی: ټولنه په پرمختللو هېوادونو کې، د سترو اړتیاوو په وخت کې، د سوله ییزه اهدافو له پاره، د ساینس او ټکنالوژي څخه د کار د اخستلو آسانتیاوې هڅوي او په غړو هېوادونو کې، له اتومي علومو او فنونو څخه د خوراکي توکو د تولید، د کرنې د پرمختګ، صنایعو، د اوبو مدیریت، د سمندري ژوند چاپېریال ساتنه، د برېښنا تولید او د ساري ناروغیو د مخنیوي او اتومي خوندیتوب په برخو کې مشورتي مرستې کوي.

IAEA د هېوادونو په هغه ژمنو چې د اتومي وسلو د نه تکثیر په هکله یې، په دوه اړخیزه او نړیوالو تړونونو کې کړي، او دا چې اتومي مواد او تاسیسات د پوځي اهدافو له پاره استعمال نه شي، د نړۍ په ۹۰۰ سیمو او ځایونو کې ۲۵۰۰ څارونکي لري چې د IAEA مقررات تطبیق کاندي[174].

د دې کار له پاره IAEA په دې برخو کې لګیا دی:

- تخنیکي همکاری: IAEA د هغه کوپراتیفي پروژو ملاتړ کوي چې په پرمختللو هېوادونو کې، د خلکو په ژوندانه او چاپېریال اغیزه کوي. په دې برخه کې ډېرمتخصص کسان په کار بوخت دی.
- پلټنه او پرمختګ: IAEA د نړیوالو لابراتوارونو او انستیټوټونو سره په ګډه، د هغه ستونزو په اړه د پلټنو ننګه کوي چې پرمختللي هېوادونه ورسره لاس او ګریوان دي.
- انرژي او سپما: IAEA د انرژي په برخه کې، د هېوادونو د پلانونو او له اتومي ځواک څخه د انرژي د تولید ملاتړ کوي او د هغه نوښتونو ننګه کوي چې د انرژي د تولید له پاره پرمختللی تکنالوژي برابروي[175].

په IAEA کې د افغانستان غړیتوب:

افغانستان په کال ۱۹۵۷ کې د IAEA غړیتوب ترلاسه کړ؛ خو په افغانستان کې د اتومي فعالیتونو او څېړنو د نشتوالي په توسن، د دواړو خواوو اړیکې لږ دي[176].

### ۳ -- نړیواله جنایي محکمه International Criminal Court (ICC)

(عمومی ټولنه او امنیت شوری)

دا لومړنۍ نړیواله محکمه ده چې د افرادو له خوا د د نسلوژنې، بشري ضد جنایاتو، جنګي جنایاتو او د یرغل د وخت جنایاتو Crime of Aggression د څېړلو له پاره جوړه شوې ده.

---

174 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص۶۹
175 نړیوال سازمانونه، محمد جعفرهاند، ص ۲۳۷
176 سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمداکبر زاهد، ص ۲۳۷

دا محکمه هغه جرمونه څېړي چې د یو غړي هېواد په خاوره کې، یا د دی هیواد د اتباعو له خوا تر سره شوې او یا د ملګرو ملتونو امنیت شوری دې محکمې ته استولي وي. دې محکمې تر اوسه ځینې داسې جرمونه څېړلي: په یوګندا کې نسلوژنه، په مرکزي افریقا کې نسلوژنه، د دارفور جګړه (سودان)، په کانګو کې نسلوژنه، په کینیا کې نسلوژنه او د ۱۴ کسانو په ضد پرېکړې.

د روم اساسنامې Rome Statute د ۵ مادې له مخې، د حقیقي افرادو له خوا نسلوژنه، بشري ضد جنایات او د جنګي جنایات تعریف شوې؛ خو د یرغل د وخت جنایات یا د سولې په ضد جنایات نه دي تعریف شوي او په خاوره باندې د یرغل په هکله لا تر اوسه هوکړه نه ده شوې. له همدې امله محکمه تر هغه وخته چې ټول غړي هېوادونه یوې هوکړې ته نه دي رسېدلي، د وروستني یرغل د مرتکبینو په برخه کې پرېکړه نه شي کولای[177].

غړیتوب: د ICC اساسنامه په هغه غونډه کې په ۱۲۰ موافقو رایو تصویب شوه چې د کال ۱۹۹۸ د جون په ۱۵، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په غوښتنه په روم کې جوړه شوې وه. هغه وخت چین، عراق، اسراییل، لیبیا، قطر، امریکا او یمن مخالفې او ۲۱ نور هېوادونه ممتنع رایه ورکړې وه.

اوس ټول اروپایي او د جنوبي امریکا هېوادونو، نیمه افریقا، استرالیا، نیوزیلند، کانادا، جاپان، منګولیا، افغانستان، تاجکستان، اردن، کمبودیا او خیټۍ تیمور د ICC غړیتوب ترلاسه کړی او د ټولوغړوهیوادونو شمېر ۱۲۳ ته رسي. امریکا، روسیه او چین چې د امنیت شوری دایمي غړیتوب لري او هند د نړۍ دوهم ګڼ میشته هېواد د ICC په هکله څه خبري لري او تر اوسه یې غړیتوب نه دی اخستی[178].

په دې ۱۲۳ هېوادونو کې اوسنی جغرافیایي ویش داسې دی: افریقا ۳۳، آسیا – پاسفیک ۱۹، ختیځه اروپا ۱۸، جنوبي امریکا او کارابین ۲۸ او لویدیځه اروپا او نور هېوادونه ۲۵.

جوړښت: ICC دا برخې لري:

- اداري مشر (رییس)،
- د محکمې دربګونې څانګې: لومړنۍ څېړنې، محاکمه او بیاکتنه (تجدید نظر)،
- څارنوالی. دا دفتر د هغه جرایمو په هکله څېړنې کوي چې محکمه یې د څېړلو واک لري،
- د ثبت دفتر چې ICC خدماتي او غیرقضایي چارې مخ ته وړي.

**فعالیتونه:**

د ICC غړي هېوادونه ژمن دي چې خپل هغه اتباع چې د پاسنیوجرایمو له تور سره مخامخ دي یا هغه تورن چې د دې هېوادونو خاورې ته ورځي، ونیسي او په خپلو کورنیو محاکمو کې یې محکمه کړي او یا یې ICC ته وسپاری. ICC د هغه هېوادونو د تورنو اتباعو په برخه کې چې غړیتوب نه لري، پرېکړه نه شي کولای. په دې

[177] en.wikipedia.org/icc

[178] cairn.info & en.wikipedia.org/icc

هېوادونو کې جرایم هم په همدې قید کې راځي؛ خو که امنیت شورى داسې جرایم یا تورن کسان په ګوته کړي، د ICC د کار په ساحه کې شاملېږي.

ICC په لاندې څلور برخو کې عملي کار کولای شي:

- هغه وخت چې یو غړی هېواد له ICC څخه په خپله وغواړي چې د بشري حقونو کوم نقض یا جنایت وڅېړي،
- هغه وخت چې یو ناغړی هېواد، د یوځانګړي کار له پاره د ICC واک په رسمیت وپېژني او د بشري حقونو د کوم نقض یا جنایت څېړل دې محکمې ته وسپاری،
- ICCهغه وخت چې حقیقي افراد یا نادولتي بنسټونه ورته مراجعه وکړي، کولای شي چې په کوم هېواد کې اقدام وکړي. دا کار هغه وخت شونی دی چې هغه هېواد چې جنایت یا نقض په کې شوې، له محکمې سره بشپړه مرسته وکړی،
- هغه وخت چې د امنیت شورى کومه موضوع ورته راجع کړي.

په دې وروستیو وختونو کې داسې هڅې روانې دي چې ترهګړی، د نشه یي توکو قاچاق، اتومي وسلې او یا د ډله ییزې وژنې وسلې هم د جنګي جنایاتو په نامه د ICC د کار په لست کې راشي؛ خو د مسایلو د تعریف ستونزو د دې کار مخه نیولې ده.

ICC په حقیقت کې د هېوادونو د ملي محاکمو بشپړونکی ارګان دی. که په کوم هېواد کې قضایي نظام ړنګ وي او یا وس او واک ونه لري، ICC متې نغاړي او پاته کار سرته رسوي. په حقیقي افرادو کې ۱۸ کلن عمر ضرور دی او د هېوادونو کورني مصونیتونه اویا د تورنو کسانو دریځونه د ICC د پرېکړو د تطبیق مخه نه شي نیولای.

د کال ۲۰۱٦ په سپتمبر کې د ژوند چاپېریال په ضد جرایم هم، په بشري ضد جنایاتو کې راغلل چې ICC یې څېړلی شي. د ژوند چاپېریال ورانول، له طبیعي شتمنیو څخه غیرعادلانه ګټه اوچتول او د ځمکو غیرقانوني نیول د ژوند چاپېریال په ضد جرایمو کې راځي.

افغانستان اوICC :افغانستان د ICC غړیتوب لری.دی محکمید کال ۲۰۱۳ په نومبر کې، له خپلو قاضیانو وغوښتل چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو – دولت او طالبانو له خوا د جنګي جرایمو د څېړلو اجازه ورکړي. د ICC د کال ۲۰۱٦ د راپور له مخې، کېدای شي د امریکا د مرکزي اطلاعاتو یا CIA مامورینو او پوځیانو په افغانستان کې په جنګي جرایمو لاس پورې کړیوی. د ICC په وینا کې راغلي و چې طالبان په بشري ضد جنایاتو تورنیدلای شي؛ خو په ځواب کې د امریکا د ملی امنیت مشاور John Bolton وویل چې ICCپه امریکایي پوځیانو تورونه ځکه نه شي څېړلای، چېامریکا د روم اساسنامه نه لاسلیک کړې [179].

---

[179] BBC ۱۳۹۹/د عقرب ۱۲.

په کال ۲۰۲۰ کې ICC خپلو قاضیانو ته اجازه ورکړه چې په افغانستان کې شوي جنګي جنایات وڅېړي؛ خو امریکا وویل چې د ICC په صداقت باور نه لري[180].

**۴ -- د مهاجرت نړیواله اداره(Intl. Migration Organizatoin (IOM**

( عمومی ټولنه او امنیت شوری)

IOM یوه نړیواله دولتي ټولنه ده چې په کال ۱۹۵۱ کې د هغه اروپایانو له پاره جوړه شوه، چې د دویمی نړیوالې جګړې له امله بېکوره او بېځایه شوي وو.

اوس IOM له دولتي، بین الحکومتي او نادولتي ټولنو سره په ګډه کار کوي چې په نړۍ کې د مهاجرت چارې مدیریت کاندي، د مهاجرت په اړه نړیواله همکاري وهڅوي، د مهاجرت ستونزو ته عملي حللارې ومومي او کورنیو بېځایه شوو او مهاجرو ته بشري مرستې ورسوي.

د IOM اساسي قانون د مهاجرت او اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي پرمختګونو ترمنځ اړیکې، او د انساني خوځون Movementآزادي په رسمیت پېژني.

اهداف: IOM د مهاجرت د مدیریت په برخه کې په څلورو برخو کې کار کوي:

- مهاجرت او پرمختیا،
- د مهاجرت آسانه کول،
- د مهاجرت قانوني کول،
- په زور مهاجرت.

IOM زیار باسي چې د نړیوال مهاجرت قوانین وده وکړي، تګلارې او لارښوونې سمې شي، د مهاجرو حقوق خوندي کړي، د مهاجرو روغتیا ته پام وکړي او جندر په پام کې ونیسي[181].

مقر: د IOM مرکزي دفتر په ژنیو (سویتزرلند) کېدی، رسمي ژبې یې انګلیسي، فرانسوي او اسپانوي دي، له ۱۰۷ هیوادونو څخه څه باندې۳۳۸۰ کارکوونکي ، ۱۸۷ غړیهیوادونه ( د کوک تاپو په ګډون) او ۹ څارونکي لري. په ۴۰ هېوادونو کې دفترونه لري چې دولتونو او مهاجرو دواړو ته مشورې ورکوي او خدمات وړاندې کوی او په کال ۲۰۲۰ کی یی ۸۰۰ ملیون $ بودجه درلوده[182].

**۵ –د سمندرتل نړیواله اداره(International Seabed Authority (ISA**

( عمومی ټولنه او امنیت شوری)

---

[180] en.wikipedia.org/icc
[181] iom.int/iom
[182] Fa.wikipedia.org

ISA یوه خپلواکه بین الحکومتي نړیواله ټولنه ده چې په کال ۱۹۸۲ کې، د سمندرونو د قانون له پاره د ملګرو ملتونو د نړیوالې ټولنې تړون United Nation Convention on the Law of the Sea (UNCLOS) او د کال ۱۹۹۴ د هوکړې له مخې جوړه شوې ده. د یادولو وړ ده چې دا هوکړه د UNCLOS د شپږمې مادې د ښه تطبیق له پاره لاسلیک شوه.

٦ماده او د کال ۱۹۹۴ تړون هغه اصول تشریح کړي چې هغه کاني مواد او سمندري شتمنۍ چې د هېوادونو له اقتصادي انحصاري زورونو څخه بهر پراته دي او په ټوله انساني ټولنه پورې اړه لري، باید څنګه ویستل شي؟ امریکا متحده ایالاتو شپږمه ماده ونه منله او استدلال یې کاوه چې دا ماده د امریکا ګټو او امنیت ته زیان رسوي. تر کال ۱۹۹۰ پورې امریکا ټول UNCLOS ومانه؛ خو شپږمه ماده اوس هم نه مني[183]. دا ټولنه دنده لري چې د UNCLOS ټول غړي هېوادونه د سمندرتل شتمنۍ د ټولو انسانانو په ګټه مدیریت کاندی. ISA هڅه کوي چې تر اوبو لاندې سرچینې، د داسې فعالیتونو له ورانوونکو اغېزو څخه خوندي وساتي چې د سمندرونو په ژورو کې سرته رسي.

ISA د کال ۱۹۹۴ د نومبر په ١٦ له لسو غونډو وروسته جوړه او د ۱۹۹٦ په جون کېد کنګستون( جمیکا) په هغه دفتر کې فعاله شوه چې د سمندرونو د قانون له پاره د ملګرو ملتونو له خوا جوړ شوی و.

د UNCLOS د اساسنامې د ١٥٦ مادې له مخې، د UNCLOS ټول غړي هېوادونه، د Ipso Facto-ISA غړیتوب لري. د کال ۲۰۲۰ د مې په لومړۍ ورځ د ISA د غړو شمېر ١٦٨ ته ورسید. اروپایي ټولنه او ١٦٧ خپلواکه هېوادونه.

ISA وایي چې د سمندرتل ټوله سیمه او پریمانه شتمنی یی چې د ځمکې۵۴% برخه یېنیولی، د ټولې انساني ټولنې ګډ میراث دی او دوی د همدې لوی کار په مدیریت، قانوني ګرځولو او سمون بوخت دي. البته دا هېوادونه په خپلو شاوخواوو کې خپلې ځمکې هم لري چې قانون منلي دي[184].

جوړښت: ISA داسې جوړښت لري:

عمومي غونډهThe Assembly : چې د ټولو غړو هېوادونو له استازو جوړه ده،

شوری Council : دا شوری ٣٦ غړي لري چې د عمومي غونډې له خوا غوره کېږي. په دې غوره والي کې هغه هېوادونه چې په سمندرتل کې د طبیعي شتمنیو په کار بوخت دي او هغه چې په وچه کې د دې شتمنیو په پروسس لګیا دي او جغرافیه ټول په پام کې نیول کېږي.

سرمنشي Secretary General : د ISA سرمنشي د عمومي ټولنې له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي. له سرمنشي وروسته یوه دارالانشا ده چې ۳۷ غړي لري او په ټوله نړۍ کې د سمندرتل شتمنیو او په تېره بیا کاني موادو د تفحص، ایستلو او خوندیتوب قوانین او اصول جوړوي او اداري چارې مخ ته وړي.

حقوقي او تخنیکي کمسیون: دا ۳۰ کسیزه کمیسیون شوری ته په قانوني او تخنیکي برخو کې مشورې ورکوي،

---

[183] en.wikipedia.org/unclos
[184] isa.org.jm/isa & isa.org.jm

مالي کمېټه: دا ۱۵ کسیزه کمېټه د ISA په بودجه، عوایدو او لګښتونو کار کوي او مشرتابه ته مشورې ورکوي.

د پاسنیو حقوقي او تخنیکي او مالي څانګو افراد د ISA د غړو حکومتونو له خوا پېژندل کېږي؛ خو د ISA مشر یې د فردي ظرفیتونو له مخې په کارونو ګماري[185].

فعالیتونه: ISA خصوصي یا عامه شرکتونو ته اجازه ورکوي چې په سمندرتل کې طبیعي شتمنۍ وممي او بیایې د ایستلو (استخراج) حق واخلی.

ISA په ۲۰۰۱ – ۲۰۰۲ کې له دې شرکتونو/ دولتونو/ ټولنو سره د سمندرونو د تل په ځانګړو سیمو کې د څېړنو او تفحص ۱۵ کلن تړونونه لاسلیک کړل.

- Yozhmorgeologya -روسیه،
- -- Intl. Joint Organization (IOM) -بلغاریا، کیوبا، سلواکیا، چکیا، پولند او روسیه،
- د جنوبي کوریا حکومت،
- China Ocean Mineral Research Development Association (COMRRA)،
- Deep Ocean Resources Development Company (DORD)جاپان،
- Institute Francais de recherche poor lexploitation de ia merفرانسه،
- د هند حکومت،
- The Federal Institute for Geoscieces and National Resources-- جرمني.

هره دا سیمه ۱۵۰۰۰۰کیلو متر مربع (۵۸۰۰۰ میل مربع) پراخوالی لري چې نیمه یې باید له اتو کلونو وروسته بېرته ISA ته وسپارل شي او هر شرکت/دولت/ ټولنه باید هر کال ISA ته د خپل کار بشپړ راپور ورکړي. په کال ۲۰۰۸ کې د لومړي ځل له پاره، دوه خصوصي شرکتونه چمتو شول چې په پاسفیک کې کار وکړي چې د خپلو دولتونو له خوا تمویل کېدل. دا تړونونه په ترتیب په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کې د ۱۵ کلونو له پاره لاسلیک شول. په ۲۰۱۳، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کی د بلجیم، جنوبي کوریا، کوک ټاپو، روسیه، جرمني، هند، پولند، کریباتي او برتانیا غوښتونکو ته هم د کار اجازې ورکړل شوه. دا لړۍ اوس هم روانه ده[186].

په کال ۲۰۰٦ کې ISA په سمندر تل کې د علمي څېړنو فند جوړ کړ. دا فند د هغه وروسته پاته یا پرمختیایي هېوادونو، له ساینس پوهانو او څېړونکو سره مرسته کوي چې غواړي د سمندر تل شتمنیو او کاني موادو د څېړنو په کار کې برخه واخلي. د ISA دارالانشا د داسې څیړونکو او څېړنو د جذب له پاره، او په ځانګړي توګه د ښځو د هڅونې او په وروسته پاته سیمو لکه افریقا کې، د څېړنو د پراختیا له پاره ځانګړي اصول لري. د امریکا متحده ایالات د ISA غړیتوب نه لري[187].

185 en.wikipedia.org/isa
186 en.wikipedia.org/isa
187 en.wikipedia.org/isa

**٦ -- د سمندرونو د حقوقو نړیواله محکمه(International Tribunal For the Law of the Sea (ITLOS**

( عمومی ټولنه او امنیت شوری)

ITLOS هغه شکایتونه څیړي چې د سمندرونو د حقوقو په هکله، د ملګرو ملتونو د کنوانسیون یا UNCLOS د محتویاتو په اړه وړاندې کېږي، لکه د سمندري پولو (سرحد) ټاکل، اقتصادي انحصاري سیمه او داسې نور. په دې څېړنو کې د قوانینو تفسیر او د قوانینو د عملي کېدلو څرنګوالی ټول راځي.

دا خپلواکه محکمه چی د UNCLOS له خوا جوړه شوې، ۲۱ غړي لري چې په فردي توګه، د سمندري حقوقو په برخه کې د زده کړو، تخصص، کار، تجربې او درانه نړیوال یا سیمه ییز شخصیت له امله په دې دنده ټاکل کېږي.

محکمه د هغو هېوادونو او نړیوالو ټولنو غړ اوري چې د ITLOS غړیتوب ولري. محکمه همدا شان د دولتي پانګونو، خصوصي سکتور اوحقیقی افرادو شکایتونه هم اوري.

د سمندرونو د حقوقو په هکله د ملګرو ملتونو کنوانسیون یاUNCLOS د کال ۱۹۸۲ د دسمبر په ۱۰ په مونتیګو Montego(جمیکا) کې جوړ او د ۱۹۹۴ د نومبر ١٦ نافذ شو. د دې کنوانسیون د شپږمې مادې د عملي کېدو تړون د ۱۹۹۴ د جولای په ۲۸ لاسلیک او د ۱۹۹٦ د جولای په ۲٦ اجرایي شو. ITLOS په خپلو څېړنو او پرېکړو کې UNCLOS او ٦ ماده په پام کې نیسي.

جوړښت: ITLOS دا څانګې لري:

- د تګلارو او کړنلاروڅانګه،
- د سمندرتل ستونزو د حل څانګه،
- د کب نیونې د ستونزو څانګه،
- د سمندري چاپېریال د شخړوڅانګه،
- له سمندري پولو څخه د تېریو د څېړلوڅانګه

محکمه د اړتیا په وخت کې ځانګړې څانګې جوړولای شی او هغه پوښتنو ته هم مشورتي ځواب ورکوي چې د سمندرتل نړیواله اداره یا ISA یې مطرح کوي.

مقر: د ITLOS مقر په هامبورګ (جرمني) کېدي[188].

[188] itlos.org/the Tribunal

## ۷ -- د کیمیاوي وسلو د بندولو ټولنه Organization of the Prohibition of Chemical Weapon (OPCW)

( عمومی ټولنه او امنیت شوری)

OPCW یو بین الدولتی بنسټ دی چې په کال ۱۹۹۷ کې، د کیمیاوي وسلو د بندولو د نړیوال کنوانسیون له انفاذ وروسته جوړ شو.

OPCW په ملګرو ملتونو پورې تړلی بنسټ نه دی؛ خو د یو تړون له مخې له ملګرو ملتونو سره ګډ کار کوي.

په نړۍ کې لومړي ځل په کال ۱۸۷۴ کی، په بروکسل کې له کیمیاوي وسلو څخه د کار نه اخستلو کنوانسیون تصویب شو. له دې وروسته په ۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ کې د لاهې په غونډو کې له هېوادونو څخه وغوښتل شول، چې په جګړو کې د اتومي وسلو له کارولو څخه ډډه وکړي؛ خو په لومړنۍ جګړه کې د کیمیاوي وسلو ویرونکې مرګ ژوبلې، نړیوال دې ته اړ ایستل چې د کیمیاوي وسلو د بندولو هڅې ګړندې کاندي.

که څه هم چې په کال ۱۹۲۵ کې په ژنیو کې، د کیمیاوي وسلو د بندولو د حقوقي دریځ په هکله یو پروتوکول لاسلیک شو؛ خو د دې وسلو د جوړولو او لېږد مخه ونه نیول شوه. دا پروتوکول هغه وخت له امریکا، جاپان، برازیل او ارجنتاین پرته ۱۲۰ نورو هېوادونو لاسلیک کړی و. شوروي اتحاد پروتوکول پدې شرط لاسلیک کړ چې د هغه هېوادونو په برخه کې به د کیمیاوي وسلو له کارولو څخه ډډه ونه کړي چې د پروتوکول غړیتوب ونه لري.

د ملګرو ملتونود متعارفو وسلو کمیټې، په کال ۱۹۴۸ کې د وسلو د بندولو د هڅو په لړ کې، کیمیاوي وسلې د ډله ییزه وژنې په نامه د اتومي وسلو په شان وبللې.

د کیمیاوي وسلو په هکله د ملګرو ملتونو لومړنۍ پرېکړه، په کال ۱۹٦٦ کې تصویب شوه. دوه کاله وروسته د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې له سرمنشي څخه وغوښتل، چې د کیمیاوي وسلو د زیانونو په هکله یو بشپړ راپور وړاندې کړي. په کال ۱۹۷۲ کې هڅې لږې بریالې شوې او د کیمیاوي او مکروبي وسلو د جوړښت، زېرمو او کارولو تړون لاسلیک شو. د دې تړون له مخې لاسلیک کوونکو هېوادونو دا ومنله چې د بېولوژیکي وسلو له جوړولو، زېرمې او ویش څخه به ډډه کوي.

په کال ۱۹۸۹ کې د لویدیځو هېوادونو ډلې، چې استرالیا ډله نومي او ۲۰ هېوادونه پکې دي، ۵۰ ډوله کیمیاوي توکي چې په کیمیاوي موادو کې کارېږي، تر کنترول لاندې ونیول.

په کال ۱۹۹۲ کې په ژنیو کې د وسلو د بندولو غونډې، د کیمیاوي وسلو د مخنیوي د کنوانسیون طرحه برابره او ملګرو ملتونو ته وسپارله، چې عمومي ټولنې په دسمبر کې تصویب کړه. دا وخت د لاسلیک کوونکو هېوادونو شمېر ۱٦۰ ته ورسید. دا کنوانسیون د کال ۱۹۹۷ د اپریل په ۲۹ نېټه اجرایي شو[189].

جوړښت: OPCW یوه اجراییوي شوری لري چې ۴۱ غړي لري او په هر دو دوو کلونو کی د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړېږي. دا شوری د تخنیکي دارالانشا په کارونو نظر ساتي، د ټولنې کړنلارې او تګلارې برابروي

[189] fa.wikiprdia.org/opcw

او ورځنی چارې څاري. اجراییه شوری په کال کې ۳ غونډې جوړوي. په دې شوری کې د غړیتوب له پاره جغرافیایي ویش په پام کې نیول کېږي.

OPCW همدراز کلنی کنفرانس لري چې د ټولنې تګلارې او کړنلارې تصویبوي او د کار غټ ټکي ټاکي. اوس په OPCW کی ۱۹۳ خپلواک هېوادونه او دوه داسې ټاپوګان غړیتوب لري چې خپلواکه نه دي[190].

مقر: د OPCW مرکزي دفتر په لاهه (هالند) کې موقعیت لري.

**۷ –د سوداګرۍ نړیواله ټولنه:(World Trade Organization (WTO**

(عمومی ټولنه او امنیت شوری)

له لومړی نړیوالې جګړې وروسته، اروپا له سترو اقتصادي ستونزو سره مخامخ شوه. د تادیاتو بیلانسونه منفي وو، د ملي پیسو یا پولي واحدونو ارزښتونه لویدلی وو، وزګارتیا ډېره وه او په سوداګریزه راکړه ورکړه کې انډول نه و. د کال ۱۹۲۹ – ۱۹۳۲ د لوی اقتصادي بحران څخه وروسته، اروپایي دولتونه او امریکا متحده ایالات، د خپلو صنایعو او اقتصاد د خوځښت له پاره، دې ته اړ شول چې د خپلو صنعتي تولیداتو د ملاتړ له پاره، داسې تګلارې وټاکي چې په نړیواله سیالی کې بری ترلاسه کړي؛ځکه یې پرېکړه وکړه چې د ګمرکي تعرفو له لارې، واردات محدود او د صادراتي اقلامو اسعار په کنټرول کې واخلي.

اروپا او امریکا متحده ایالاتو د پاسنی پرېکړې د عملي کولو له پاره، چې د وروسته پاتې هېوادونو په زیان وه، په کال ۱۹۲۷ کې د ولسونو ټولنې له لارې د ژنیو نړیواله غونډه جوړه کړه.

هغه وخت د تولیدونکو هېوادونو سیالیو، بیې دومره ټیټې کړې چې وروسته پاته هېوادونهګټه وکړه او له همدې امله هغه هڅې چې د نړیوالې سوداګری د آزادی له پاره پېل شوې وې، په ټپه ودریدې او هر هېواد خپلې ګټې ته ملا وتړله. له همدې امله سوداګري وغورځېده او د کال ۱۹۲۹ ستر بحران پېل شو.

د دویمی نړیوالې جګړې پیل، د ډېرو هېوادونو تولیدي او اقتصادي ځواکمنتیا ته درانه زیانونه واړول. له همدې امله په کال ۱۹۴۱ کې، د لویدیځو هېوادونو تر مینځ د اتلانتیک کړنلاره تصویب شوه چې غټ ټکي یې دا وو: د اجارې او پور تړونونه، د کالیو او خدماتو د آزادې مبادلې اصل ته درناوی او د نړۍ د خلکو د ژوندانه د ښه کېدو له پاره د سوداګریزه تبعیضونو پای ته رسول.

دلته دا خبره د یادولو ده چې د اتلانتیک کړنلارې د جوړېدو ډېر ابتکار، د لویدیځو هېوادونو په تېره بیا امریکا متحده ایالاتو او برتانیا په لاس کې و.

په کال ۱۹۴۴ کې د امریکا ولسمشر روزولټ، د نړۍ ۴۴ هېوادونه واشنګټن ته وبلل. دې مشرانو د پیسو د نړیوال صندوق او د بیارغاونې او پراختیا نړیوال بانک جوړېدل ومنل؛ خو د سوداګری د نړیوالې ټولنې د جوړېدو کار د جګړې تر پایه وځنډید.

---

[190] opcw.org

د کال ۱۹۴۵ په دسمبر کې امریکا متحده ایالاتو، د بېلابېلو هېوادونو د استازو د داسې یوې غونډې وړاندیز وکړ چې د ګمرکي محصولاتو په کمولو او د سوداګری د نړیوالې ټولنې (World Trade Organization (WTO په جوړېدو بحث وکړي. دا غونډه په کال ۱۹۴٦ کې په لندن کې جوړه شوه چې پایله یې نه درلوده.

له دې وروسته د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شوری تر مشرتابه لاندې،یوې کمېټې (امریکا متحده ایالات، برتانیا، فرانسه، بلجیم، هالند، لوکزامبورګ او وروسته برازیل، میانماریا برما، سریلانکا، پاکستان او زیمبابوې) د سوداګری د نړیوالی ټولنې د جوړېدو اداري کارونه پیل کړل.

د کال ۱۹۴۷ د نومبر په ۲۱، د هاوانا (کیوبا) غونډې د سوداګرئ د نړیوالې ټولنې اساسنامه مسوده کړه چې د ۱۹۴۸ د مارچ په ۲۴ د ٥٦ هېوادونو له خوا لاسلیک او نافذه وبلل شو. دا اساسنامه وروسته یوازی د استرالیا او لایبریا ملي شوری ګانو تصویب کړه؛ځکه چې صنعتي هېوادونو دا اساسنامه د پرمختیایي هېوادونو په ګټه بلله، په داسې حال کې چې پرمختیایي هېوادونو د صنعتي هېوادونو په ګټه بلله.

د ۱۹۴۷ د اکتوبر په ۳۰ په ژنیو کې، د نړۍ درویشت هېوادونه سره جرګه شول. دوی د پاسنی اساسنامې یوازی هغه برخه لاسلیک کړه چې په سوداګریزو او ګمرکي تعرفو پوری اړه درلوده او ګاټ GATT یا General Agreement on Tariffs and Tradeبلل کېده. د ژنیو په پرېکړه کې راغلي و چې د هاوانا د اساسنامې یا کړنلارې تر عملي کېدو، او د نړیوالې سوداګری ټولنې تر جوړېدو پوری به ګات د ملګرو ملتونو د یو تخصصي بنسټ په توګه فعالیت کوي او د نړیوالې سوداګری په برخه کې به د قواعدو او اصولو د جوړېدویوازنی مرکز وي د تعرفو او سوداګری هوکړه، چې د کال ۱۹۴۸ د جنوري له لومړې نېټې څخه وروسته اجرایي شوه، د سوداګری د نړیوال قانون په توګه ومنل شوه چې ۳۷ مادې او ۷ ضمیم ېیې درلودې.

د GATT مهمی خبری دا دی:

- پرته له تبعیض څخه، نړیوال سوداګریز نظام ته لاسرسی،
- د غړو هیوادونو د خلکو د ژوندانه د سطحی اوچتول،
- د نړیوالی سوداګرئ د پراختیا له پاره، د کاری ظرفیتونو او امکاناتو برابرول،
- د رښتیانیو عوایدو او اغیزمنی غوښتنی ( تقاضا) ډیرول،
- له نړیوالو سرچینو څخه سم کار اخستل،
- په تولیداتو کی ډیروالی او د تولیدی مالونو نړیواله سوداګرئ،
- د نړیوالی سوداګرئ د پراختیا په مخکی د ستونزو او خنډونو لیری کول.[۱۹۱]

GATT د ۱۹۹۴- ۱۹۴۸ تر منځ د سوداګرئ په برخه کی ډیر قوانین او مقررات جوړ او نافذ کړل: خو په دی ۴۷ کلنه موده کی ډیر د سوداګریزو موانعو په له منځه وړلو او د تعرفو په کمولو بوخت پاته شو او هوکړیی ی لنډمهاله وی[192].

---

[۱۹۱] محمد عظیم وردک، د سوداکرئ نړیوال سازمان او افغانستان، انترنت

[192] محمد عظیم وردک، د سوداګری نړیوال سازمان او افغانستان، انترنت

د کال ۱۹۹۵ په پیل کې د سوداګرۍ نړیوالې ټولنې یا WTO د GATT ځای ونیو.نوی ټولنې قانوني واک درلود چې خپلو غړو ته مقررات تصویب کړي، د کار ساحه ډېره پراخه وه چې خدمات، کرنه، منسوجات او پانګونه هم پکې راتلل، هم یې غړي د GATT په پرتله ډېر شول او هم یې نړیوال اغېز او دریځ[193].

اهداف: GATT یوه څو اړخیزه نړیواله ټولنه ده چې د هیوادونو او په ځانګړې توګه، د غړو هیوادونو اقتصادی او سوداګریزه تګلاری څیړی او ارزوی او د دولتونو تر منځ سوداګریز قوانین جوړوی.د WTO قوانین د دې ټولنو په هوکړو کې لیدل کیږی چې ډېر هیوادونه او په تیره بیا غړو هیوادونو منلی او د ملی شورى ګانو له خوا یې تصویب شوی دی. WTO همداراز د اقتصادی او سوداګریزو شتونزو او شخړو د حل له پاره کار کوی.[۱۹٤]

د ژوند د کچې لوړول، په غړو هېوادونو کې د کار موندل یا اشتغال، د صنعت او سوداګرۍ پراختیا او پدې برخه کې له نړیوالو سرچینوڅخه ګټوره استفاده، هر اړخیزه او تلپاته پراختیا، د چاپېریال ساتنه او په نړیواله سوداګري کې د پرمختیایي هېوادونو د ونډېډېرول او په نړیواله سوداګرۍ کې ورته د سم ځای موندل، د WTO په اصلی اهدافو کی راځی.

اصول:

پورتنیو اهدافو ته د رسیدو او د مناسبې ودې له پاره، WTO یو لړ اصول جوړ کړي چې په ټولو هېوادونو یو شان د تطبیق وړ دي، له دې اصولو څخه سرغړونه د مجازاتو سبب هم ګرځیدای شي. دا اصول په لنډه توګه دا دي:

۱ – له تبعیض څخه لیروالی او د کامله الودادتوب خپلول. د دې اصل له مخې که چېرې یو هېواد وغواړي بل غړي ته ځانګړی سوداګري امتیاز ومني او یا دا چې د تعرفې په برخه کې تنزیل ورکړي، په کار ده چې همدا امتیاز او تنزیل د WTO ټولو سوداګریزه غړو ته قایل شي. دا اصل یوه استثنا هم لري چې هغه د غړو هېوادونو تر مینځ، د اقتصادي ټولنو شتون دی. کېدای شي ځینې داسې غړي هېوادونه وي چې په اروپایي ټولنه یا نفتا کې غړیتوب ولري، په هغه صورت کې دا غړي کولای شي چې یو بل ته ځانګړي تعرفې او سوداګریزه امتیازات ومني. دا ځکه چې د سوداګرۍ نړیواله ټولنه نورې ټولنې او جوړښتونه په رسمیت پېژني او له هغوی سره راکړه ورکړه مردوده نه ګڼي.

۲ -- له ګمرکي تعرفو پرته چې په سوداګري کې دود دي، نور باید له هر ډول محدودیت څخه ډډه وشي. هیڅ غړی نه شي کولای چې د غړو هېوادونو په وارداتو محدودیت وضع کړي،یا د ونډې (سهمیه) ممنوعیت راولي، البته د خپلو داخلي صنایعو د ملاتړ له پاره د ګمرکي سیاستونو له لارې مجاز تصرف کولای شي. بل دا چې د سوداګریزه تعرفو له حذفولو پرته غړي هېوادونه کولای شي، خپلې ګمرکي تعرفې تثبیت او په تدریجي ډول ښکته کړي. البته دا اصل د هغو هېوادونو له پاره استثنا لري چې د کرنیزه محصولاتو د ودې په برخه کې،

---

193 سازمانهای بین المللی. داکتر محمد غفوری ص ۲۱۸-۲۱۹

۱۹٤ محمد عظیم وردک، د سوداګری نړیوال سازمان او افغانستان، انترنت

کروندګرو ته سبسایدي ورکوي. د سیالۍ له پاره د پرمختیایي هېوادونو تولیدي صنایعو ته د امتیازاتو ورکړه او د ترجیحي تعرفو د نظام وضع کول، د سوداګریزه راکړې ورکړې په برخه کې مجاز بلل کېږي[195].

۳ -- غړي هېوادونه نشي کولای چې د سوداګریزه سیالۍ(رقابت) په ډګر کې له دمپنګ Dumping څخه کار واخلي. دمپنګ هغه تګلارې ته وایي چې یو هېواد خپل مال په تولید شوي بیه یا حتی ارزانه، په بل هېواد پلوري او د واردونکي هېواد کورنی صنعتي تولیدات له ماتې سره مخامخ کوي. ښایي چې غړي هېوادونه د کورنیو او بهرنیو توکو په وړاندې یوډول چلند وکړي. د سوداګریزه ستونزو او منازعاتو د حل له پاره غړي هېوادونه مکلف دي چې د مشورو او مذاکراتو له لارې خپل اختلافات حل کاندي[196].

جوړښت:

وزیرانو کنفرانس: د وزیرانو کنفرانس د WTO تر ټولو لوړ ارګان دی چې د غړو هېوادونو د سوداګرۍ وزیرانو څخه جوړېږي او په هرو دوو کلونو کې یوځلې غونډه کوي. کنفرانس د WTO د ټولو دندو سمبالونکی دی، د WTOسرمنشي د هغه واکونه ټاکي او څو مرستندویه کمېټې لري.

عمومي شوری: عمومي شوری د ټولو غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده او د وزیرانو د دوو کنفرانسونو په مینځ کې، د کنفرانس ټول مسوولیت په غاړه اخلي او دندې یې دا دي:

- (د کالیو سوداګري)، (د خدماتو سوداګري) او (د معنوي مالکیتونو د حقونو سوداګري) لارښوونه او څار.
- د اختلافونو د حل او د سوداګریزو تګلارو د څېړنې د کمېټو مسوولیت،
- له نورو نړیوالوټولنو سره د WTO اړیکې،
- د کلنۍ بودجې تصویب،
- د غړو هېوادونو د حق العضیتونو ټاکنه،

د اختلافاتو د حل کمېټه: دا کمېټه معمولاً د احتمالي اختلاف د حل له پاره غونډې کوي، څېړنیز پلاوي ټاکي، د پلاوو د څېړنو پایلې تصویبوي، استیناف غواړي، د سپارښتنو یا پرېکړو اجرا څاري او د اړتیا په وخت کې امتیازات تعلیق ته وړي. دا کمیټه د اړتیا له مخې غونډې کوي اوټول هېوادونه یې د پرېکړو په منلو مکلف دي.

د سوداګریزه تګلارو د څېړنې کمېټه: دا کمېټه په څو اړخیزه سوداګریز نظام باندې، د غړو هېوادونو د سوداګریزه تګلارو او چال چلند (رویه) اغېزې څېړي. له همدې امله هر غړی هېواد د خپل سوداګریزه چال چلند په هکله بشپړ معلومات، هر وخت دې کمېټې ته استوي[197].

۵- تخصصي شوری ګانې:

- د کالیو د سوداګرۍ شوری. د کالیو د سوداګرۍ په څو اړخیزه تړونونو څار ساتي،

---

[195] پوهاند محمد بشیر دودیال، د سوداګرۍ نړیواله ټولنه، افغان جرمن انلاین

[196] ویکیپیدیا، پښتو

[197] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون ،ص ۱۹۰-۱۹۱ او سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری ص ۲۲۳-۲۲۴

- د خدماتو د سوداګرۍ شورۍ. دا شورۍ د خدماتو د سوداګرۍ په هکله د WTO د اساسنامې یا کړنلارې فعالیتونو ته ګوري، آسانتیاوې رامینځ ته کوي او د اړتیا په وخت کې فرعي څانګې جوړوي،
- د معنوي مالکیتونو د سوداګرۍ شورۍ. دا شورۍ د معنوي مالکیتونو له نړیوالې شورۍ سره اړیکې لري او د معنوي مالکیتونو د سوداګرۍ حقونو څاري،

تخصصي کمېټې: دا کمېټې د وزیرانو د کنفرانس د دندو له پاره کار کوي.

د پراختیا او سوداګرۍ کمېټه. دا کمېټه د ډېرو وروسته پاته هېوادونو د وضعیت د کتنې له پاره، د څو اړخیزه سوداګریزه تړونونو په مقرراتو او اصولو کار کوي او پاېلې عمومي شورۍ ته وړاندې کوي.

د تادیاتو بیلانسونو د ستونزو کمېټه: دا کمېټه د تادیاتو بیلانسونو د انډول له پاره، د وارداتو د کمولو مشورې ورکوي او اړوند هېواد ته غوره سپارښتنې استوي،

د تشکیلاتو، مالي او بودجې کمېټه: د WTO کلنۍ بودجه څېړي، مالي حسابونه جوړوي، له هغه هېوادونو سره د چلند بڼه ټاکي چې خپلې وندې نه ورکوي او داسې نور چې راپورونه یې عمومي شورۍ ته استول کېږي.

دارالانشا: دارالانشا له یو سرمنشي او یو شمېر کارپوهانو او کارکوونکو څخه جوړه ده. سرمنشي او دوه مرستیالان یې د وزیرانو غونډه ټاکي او هغه دندې سر ته رسوي چې د وزیرانو غونډه یې تصویبوي او د بودجې لګښت او اداري چارې څاري[198].

غړیتوب:

WTO دوه ډوله غړی لري: لومړنی غړی او ملحق غړیAcceded Countries

لومړنی غړی هغه دی چې پخوا یې د GATT غړیتوب درلود( ۱۹۴۴) او د اروپایی ټولنی هیوادونه چې غړیتوب یې د WTO له جوړیدو وروسته دوه کاله وخت ونیو او ملحق غړی هغه هیوادونو ته ویل کیږی، چې د WTO د جوړیدو د هوکړې د دوولسمی مادی شرایط پوره کاندی.

د نورو نړیوالو تخصصي بنسټونو په خلاف، د WTO غړیتوب ډېر پېچلی دی او دوه اړخیزه یا څواړخیزه خبرې یې کله ان څو کاله وخت نیسي. د مثال په توګه د چین ولسی جمهوریت غړیتوب ۱۳ کاله، د روسیی ۱٦کاله، د نیپال ۵ کاله او د افغانستان د اسلامی جمهوریت ۱۱ کاله وخت نیولی دی.

غوښتونکي دولت باید لومړی د WTO دارالانشا ته د غړیتوب رسمی غوښتنلیک واستوی اوخپله هیله په ښکاره څرګنده کړی. WTO په ځواب کی د هغه هیوادونو د استازو، یوه ډله جوړوی چی په متقاضی هیواد کی د WTOسوداګریزی ګټې لری او دنده ورکوی چی دا غوښتنه وڅیړی. متقاضی هیواد باید د WTO ټول هغه مقررات او تصاویب ومني، چې پخوا د اکثریت غړو په موافقه نافذ شوي دي.

---

198 سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص ۲۲۲-۲۲۸

غوښتونکي لومړی د WTO د کتونکي (ناظر) غړي په توګه منل کېږي، غونډو ته ورځي؛ خو د رايې حق نه لري. غوښتونکی دولت بايد د خپلو سوداګريزه سياستونو په هکله WTO ته مفصل راپورونه واستوي. دا راپورونه د پيوستون جرګه ګی يا پاسنی ډله هيوادونه ګوري، د غړيتوب له پاره يې شرايط ړدي او غوښتونکی دولت مکلف دی چې دا شرايط په لږ يا ډېره موده کې پوره کړي. غوښتونکی دولت بايد د نورو هېوادونو د مالونو او خدماتو په وړاندې د خپلو بازارونو د خلاصون ژمنه وکړي او ډېرو بدلونونو ته چمتو شي. هر نوی دولت بايد د WTO د غړيتوب له پاره، د وزيرانو کنفرانس ٦٦.٦٦% رايي واخلي. په دی سلنه کی د امريکا متحده ايالاتو، اروپايی ټولنی، چين، جاپان او کانادا مثبته رايه خکه دير ارزښت لری چی لوی سوداګريز هيوادونه بلل کيږی. کله چی WTOد متقاضی هيواد غوښتنه ومنله، دا هوکړه بايد په يوه مياشت (٣٠ ورځی ) کی د همغه هيواد د ملی شوری له خوا تصويب شی چی اجراييه بڼه ومومی. له WTO څخه وتل د سرمنشي اعلاميه او معمولاً ٦ مياشتې وخت غواړي[199].

کمېټې:

د سوداګريزو او پراختيايي مرستو کمېټه: دا کمېټه د فني همکاريو او په سوداګريز نظام کې، د پرمختيايي هېوادونو د ګډون د ډېرولو په برخه کې ډېر واک لري. ټول دولتونو بايد د پرمختيايي هېوادونو د توليداتو له پاره خپل سوداګريز امتيازات WTO ته وليکي.

د پرمختيايي هېوادونو فرعي کمېټه: دا کمېټه په دې کار کوي چې څنګه د WTOپه مقرراتو کې د لږ پرمختللو هېوادونو ګټې ساتل کېدای شي او هڅه کوي چې څنګه لږ پرمختللی هېوادونه، په څو اړخيزه سوداګريز نظام کې شريک کېدای شي؟

د زده کړې کمېټه: دوه برخې لري: فني مرستې او حقوقي مرستې.

WTO د څو اړخيزه سوداګريز نظام له غوښتنو سره سم، له پرمختيايي هېوادونو سره فني مرستې کوي او دولتي مسوولين روزي.

په حقوقی برخه کې WTO هېوادونو ته مشاورين لېږي، حقوقي مشورې ورکوي او د اختلافاتو په حل کې برخه اخلي[200].

---

199 محمد عظيم وردک، د سوداګرئ نړيوال سازمان او افغانستان، انترنت

200 سازمان های بين المللی، داکتر محمدغفوری، ص ٢٢٨

**افغانستان او WTO**

افغانستان په کال ۲۰۰۳ کې د WTO د غړیتوب غوښتنه وکړه چې رد شوه. افغانستان خپله دا غوښتنه د ۲۰۰۴ د نومبر په ۲۱ تکرار کړه. .د دسمبر په ۱۳ افغانستان د کتونکي (ناظر) هېواد په توګه ومنل شو. افغانستان د بشپړ غړیتوب د شرایطو د پوره کولو له پاره، د کال ۲۰۰۵ په اګست کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت په مشرۍ، د سکتوري دوایرو او خصوصي سکتور یو کمېسیون جوړ کړ. د افغانستان د بهرني سوداګریز رژیم تفاهم لیک Memorandum of Foreign Trade Regime لومړی مسوده په کال ۲۰۰٦ کې جوړه شوه چې تر ډېر مجالسو او مشورو وروسته، د ۲۰۰۹ د مارچ په ۱۵ د WTO دارالانشا ته وړاندې شوه.

له دې سره جوخت د سوداګرۍ او صنایعو وزارت په چوکاټ کې، لس کسیزه کاري ډله جوړه شوه چې د دې غړیتوب اوږده پروسه مخ ته ویسي. د کال ۲۰۱۰ په جون کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د امریکا د متحده ایالاتو، کانادا، چین او اروپایي ټولنې پوښتنو ته لیکلي ځوابونه واستول. په دې بهیر کې حکومت، ولسي جرګې، مشرانو جرګې، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کارکوونکو، خصوصي سکتور او د مدني او اکادمیکو بنسټونو غړو ته، د دی ټولنی په هکله د عامه پوهاوي ورکشاپونه جوړ شول. د دې هڅو په پایله کې له WTO سره د افغانستان د الحاق پروتوکول چمتو او دولت په WTO کې د غړیتوب له پاره، د نوموړې ټولنې له غړو هېوادونو سره پنځه کاري جلسې وکړې.

لومړۍ کاري ناسته د کال ۲۰۱۱ د جنوري په ۳۱ د WTO په مقر کې وشوه. په دې ناسته کې د سوداګرۍ او صنایعو وزیر، د افغانستان د بهرني سوداګریز رژیم تفاهم لیک مسوده، WTO ته وړاندې کړه. په ناسته کې د WTOد دېرشو غړو هېوادونو استازو هم حضور درلود. له دې وروسته دې دیرشو هېوادونو ۱٦۸ پوښتنې مطرح کړې چې افغاني خوا ټولو ته ځوابونه ولیکل .

دویمه کاري ناسته د کال ۲۰۱۲ د جون په ۱۸ وشوه. ناستی د WTO غړیتوب د افغانستان له ملي لومړیتوبونو څخه وباله او هیله څرګنده شوه چې دا غړیتوب به افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیت په مرکز بدل کاندی او آزادې سوداګریزه تګلارې او د کار او سوداګرۍ له پاره ښه فضا د تلپاتې اقتصادي ودې، د بېوزلۍ د کموالي او ثبات عامل کیدای شي. امریکا متحده ایالاتو، اروپایي ټولنې، استرالیا، کانادا، چین او جاپان په دې ناسته کې، په WTO کې د افغانستان د غړیتوب ملاتړ وکړ.

دریيمه ناسته د کال ۲۰۱۲ د دسمبر په ۷ وشوه. په پېل کې افغانستان د خپلو ژمنو د پوره کولو او په ځانګړې توګه د قوانینو د جوړولو، تعدیلاتو او تعرفو په هکله معلومات وړاندې کړل. په دې غونډه کې هم امریکا متحده ایالاتو، ناروې، قرغزستان، هند، چین، ترکیې، جاپان، یمن، تایوان او اروپایي ټولنې په WTO کې د افغانستان د غړیتوب ملاتړ وکړ. د کال ۲۰۱۳ په اپریل کې افغان پلاوي یوځل په ژنیو کې له کانادا، تایلند، ناروې او تایوان سره ځینې ګمرکي مسایل حل او فصل کړل.

څلورمه ناسته د ۲۰۱۳ په جولای کې وشوه. دا ځلې ترکیې، چین، هند، پاکستان، د امریکا متحده ایالاتو، اروپاییټولنې، جاپان، کانادا، برازیل، کوریا، تاجکستان، نایجریا، ناروې، استرالیا، تایوان او نیپال د افغانستان د

غړیتوب ملاتړ وکړ. د همدې ناستې په څنډه کې افغانستان له کانادا سره د توکو او خدماتو د آفر (Offer on Goods and Services) دوه اړخیزه مذاکرات نهایي او پروتوکول لاسلیک کړ. د همدې ناستې په څنډه کې له جاپان او چین او په ۲۰۱۴ کې د اروپایي ټولنې، ترکیې، سوېلي کوریا او تایوان له ګمرکي قلمرونو سره د دوه اړخیزه مذاکراتو سندونونه لاسلیک شول.[۲۰۱]

پنځمه ناسته: وروسته له دې چې افغانستان د WTO غړیتوب تر لاسه کړ، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت یوه مسلکي پلاوی ته دنده وسپارله چې له WTO سره د افغانستان د یوځای کیدو وروستي تګلاره جوړه کړي. دا تګلاره به د افغانستان له دولت سره مرسته وکړي چې په WTO کې له خپله غړیتوبه ګټه واخلي. د WTO غریتوب ډیر مکلفیتونه لري چې هر غړی هیواد یې باید په وخت سر ته ورسوي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت پلاوی، ژر دا تګلاره چمتو کړه چې له WTO سره د افغانستان د ژمنو له مخې د ۲۰۳۱-۲۰۱٦ کلونو له پاره ګټوره وه. د افغانستان دولت د دې تګلارې له تصویب وروسته دا ومنله چې د شرکتونو جوړولو ته به اسانتیادی برابروي، سوداګرې به معیاري کوي، د سوداګرۍ په مخکې پراته تخنیکي خنډونه به لیرې کوي او له WTO سره به د خپلو ژمنو د پوره کولو له پاره، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت او نورو اړونده دوایرو ته د مسلکي پوهې د لوړولو لارې اواروي.

د دې تګلارې اهداف دا دي:

–له WTO سره د یوځای کیدو ( الحاق ) وروسته چارو مدیریت او څار،

-- له WTO سره د ژمنو د پوره کولو له پاره، د مدنیټولنو، خصوصي سکتور او اړونده دولتي دوایرو او وزارتونو ګډ کار او همغږي،

– دWTO له امکاناتو څخه د ګټې اخیستنې له پاره د دولت او خصوصي سکتور پیاوړتیا،

-- د حقوقي او اداري سمونونو راوستل او د تطبیق څار،

– د کورنیو او بهرنیو پانګونو جذب،

– د صادراتو پراختیا،

--د انساني ځواک د ظرفیت لوړول،

– د WTO له امکاناتو څخه اغیزمنه استفاده،

– د WTO په چارو کې عملي او فعاله ونده،

— د WTO له غړو هیوادونو. په تیره بیا په وچه پورې له تړلو او لږ پرمختللو هیوادونو سره شي کاري اړیکې درلودل.[۲۰۲]

---

[۲۰۱] محمد عظیم وردک، د سوداګرۍ نړیوال سازمان او افغانستان، انترنت

[۲۰۲] استراتیژی پساالحاق افغانستان در سازمان تجارت جهانی، وزارت تجارت و صنایع افغانستان

د دی تګلاری د تطبیق له پاره افغانستان باید په دیرو اقتصادی، سوداګریزه، حقوقی او اداری سمونونو ( اصلاحات) لاس پوری کړی او خپلی هغه ټولی ژمنی یی پوره کړی چی له د ی ټولنی سره یی لاسلیک کړی دی. که څه هم چی افغانستان د دی کار له پاره ۲۷ نوی قوانین، مقرری او طرز العملونه جوړ کړی؛ خو په دی اوو هوکړو عمل خورا اړین دی:

۱ -- د سوداګرئ په برخه کی د تخنیکی موانعو هوکړه یاTBT ،

۲ – د حیوانی او نباتی روغتیایی تدابیرو هوکړه یاSPS ،

۳ – د فکری مالکیت د حقوقو د سوداګریزو اړخونو هوکړه یاTRIPS ،

۴ – د خدماتو د سوداګرئ عمومی هوکړه یاGATS ،

۵ – د WTO د روښتیا مکلفیتونو تطبیق،

٦ – د سوداګریزه اسانتیاوو هوکړه یاTFA ،

۷ – د WTO د دولتی تدارکاتو هوکړه یا GPA [203]

## د امنیت شوری ترلی ارګانونه Subsidiary Organs

امنیت شوری د خپلو دندو له پاره، د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۲۹ مادې له مخې، دوه ډوله کمیټی جوړ کړي:

**اوږد مهاله (دایمي) او لنډمهاله کمېټې:**

-- اوږد مهاله (دایمي) کمیټی Standing Committees :

د ملګرو ملتونو امنیت شوری هر کله داسې شوری ګانې جوړوي، چې له امنیت شوری سره د مرستې له پاره، په مرکزي دفتر کیغونډې کوي او د شوری د هر غړي هېواد استازي پکې حضور لری.

دایمي کمېټې په داسې مسایلو بحث کوي لکه د نویو غړو منل، په داسې حال کې چې لنډمهاله کمېټې د ځانګړو مسایلو د څېړلو له پاره په ځانګړو سیمو کې جوړېږي. امنیت شوری کله نا کله د بندیزونو د څار او کتلو او د وظیفوي مسایلو د تطبیق کمېټې هم جوړوي.

الف -- د کال ۱۹۴۵ د جنوری په ۱۷ امنیت شوری،داسی یوه اوږدمهاله کمېټه وټاکله چې د ملګرو ملتونو په کورنیو قوانینو او تګلارو کار وکړي.

ب -د کال ۱۹۴٦ د مې په ۱۷ امنیت شوری، ملګرو ملتونو ته د نویو غړو د راتګ کمېټه جوړه کړه چی د هرنوی راغلی متقاضی غوښتنلیک وڅیړی.

ج --د کال ۱۹٦۹ د اګست په ۲۷ امنیت شوری د متخصصینویوه کمېټه وګومارله، چې په ملګرو ملتونو کې د نویو خپلواکه او کمکیو هېوادونو د غړیتوب په څرنګوالي بحث وکړي.

---

[203] استراتیژی پسا الحاق افغانستان در سازمان تجارت جهانی، وزارت تجارت و صنایع افغانستان.

د -- د امنیت شورى له مقره بهر د غونډو د جوړولو اوړدمهاله کمیټه، د کال ۱۹۷۲ د جنوري په ۱۱ جوړه شوه. دې کمېټې له خپل اصلي مقره بهر د امنیت شورى د غونډو د جوړولو په هکله پرېکړې کوي[204].

الف -- د ترهګرى ضد کمیټه (Counter-Terrorism Committee( CTC :

CTC د امنیت شورى د ۱۳۷۳ (۲۰۰۱) او ۱٦۲۴ (۲۰۰۵) لارښوونو په رڼا کې، هڅه کوي چې له غړو هېوادونو سره کار وکړي چې په کور د ننه یا بهر، د ترهګریزه فعالیتونو مخه ونیسي. CTC وروسته له هغه جوړه شوه چې امریکا متحده ایالاتو د سپتمبر د ۱۱ بریدونو له امله درانه ځاني او مالي زیانونه وګالل.

ب -- د اتومي وسلو د مخنیوي کمیټه Non-Proliferation Committee:

د کال ۲۰۰۴ د اپریل په ۴ امنیت شورى په خپله ۱۵۴۰ پرېکړه کې غږ وکړ چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ۵ فصل له مخې، د هر ډول بیالوژیکي، کیمیاوي او اتومي وسلو جوړښت او عرضه، نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پیښوى.

ج -- د پوځیانوکمیټهMilitary Staff Committee

دا کمیټه له ملګرو ملتونو سره مرسته کوي چې خپل پوځي حضور ته ښه ځیر وي او په دې برخه کې حدود او مقررات ټاکي.

چ -- دبندیزونوکمیټه(Sanctions committees (ad hoc

د امنیت شورى جبري بندیزونه، له جګړې او زور پرته په دولتونو او حکمي شخصیتونو فشار راوړي چې د دې شورى پرېکړې ومني. دا فشارونه هغه وخت راځي چې سوله د ګواښ سره مخامخ وي او دیپلوماتیکي هڅې نوره ګټه نه رسوي. په دې کې سوداګریزه او اقتصادي بندیزونه، د وسلو بندیزونه، د سفر بندیزونه او دیپلوماتیک بندیزونه ډېرې درنې اغېزې لري.

ذ – سوله ساتی عملیات او سیاسی ماموریتPeacekeeping operations and political missions

سوله ساتي عملیات (پوځ، پولیس او ملکي مامورین) د سولې او امنیت د ساتنې له پاره وي. اوس – اوس د مسئلې سیاسي جوړجاړى، د ملکي خلکو خوندیتوب، له بېوسلې کولو سره مرسته، د بشري حقونو خوندي کول او پراختیا او د قانون واکمني هم په دې عملیاتو کې راځي.

سیاسي ماموریتونه د ملګرو ملتونو په دندو کې راځی. د سولې خبرې اترې، د سولې په تړونونو څار او د سوله ساتو عملیاتو سپارښتنې په دې ماموریتونو کې ځانګړي ځایونه لري.[۲۰۵]

---

[204] en.wikipedia.com
[205] en.wikipedia.com

ر – نړیوالی محکمی

International Residual Mechanism for Criminal Tribunals

امنیت شوری په کال ۱۹۹۳ کې په پخواني یوگوسلاویا کې د جنگي جرایمو محکمه جوړه کړه چې په خپل ډول کې لومړنی شمېرل کېږي. په ۱۹۹۴ کې په رواندا کې هم د جنگي جرایمو د څېړلو محکمه جوړه شوه.

الف – د پخواني یوگوسلاویا نړیواله جزایي محکمه:

دا محکمه په کال ۱۹۹۳ کې، د ملگرو ملتونو د امنیت شوری له خوا، د هغه کسانو د تعقیب او نیولو له پاره جوړه شوه، چې په پخواني یوگوسلاویا کې د نړیوالو بشري حقونو په نقض تورن وو. دا محکمه ۱٦ دایمي قاضیان او د ځانگړو مسایلو د څېړلو له پاره، ۲۷ نور قاضیان لري چې که په یو وخت کې ۹ کسان حاضر وي، پرېکړې یې عملي بلل کېږي.

محکمه له ۸۴ هېوادونوڅخه نژدې ۱۲۰۰ کارکوونکي او ۲۲۳ ملیون $ کلنی بودجه لري.

محکمې تر کال ۲۰۰۳ پورې ټول ۱۳۰ کسان تورن پېژندلي وو، چې تر همغه وخته پورې د ۵۵ کسانو کاغذونه وڅېړل شولاو ۲۵ بندیان شول[206].

ب – د رواندا له پاره نړیواله جزایي محکمه:

دا محکمه په کال ۱۹۹۴ کې، د ملگرو ملتونو امنیت شوری له خوا، په رواندا کې د ډلوژنو او له بشري حقونو څخه د نورو درنو سرغړونو د څېړلو له پاره جوړه شوه. په دې ډله کې هغه راوندایان هم راځي چې په گاونډیو هېوادونو کې یې ورته (مشابه) اعمال سرته رسولي.

دا محکمه دری څانگې (هره یوه دری قاضیان) او یوه استیناف برخه (۷ قاضیان) لري چې که ۵ یې د پرېکړې په وخت کې حاضر وي، پرېکړه عملي بلل کېږي. محکمه د ځانگړو مسایلو د څېړلو له پاره ۱۸ نور قاضیان لري چې د څلورو لاسلیک پوره بلل کېږي. محکمه شاوخوا ۸۷۰ کارکوونکي او د کال ۱۷۷ ملیون $ بودجه لري.

دې محکمې د کال ۲۰۰۴ تر پایه، د ٦۰ تورنو د نیولو خبره کړې وه چې ۲۴ یې جزا محکوم شوی. په محبوسینو کې د رواندا د ډلوژنو د وخت لومړی وزیر، جین کامبندا هم شامل دي[207].

ز-- د سولې جوړونې کمیسیون The Peace Building Commission(PBC)

PBC یوه بین الحکومتي مشورتي ډله ده او په هغه هېوادونو کې له سولې مرسته کوي چې تازه د جگړو راوتلي وي.

PBC په مربوطه هېواد کې د اړخونو، نړیوالو مرسته کوونکو، مالي موسساتو، ملي حکومت او هغه هېوادونو استازي سره نژدې کوي چې سوله ساتي پوځیان به ورکوي.

---

206 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص۳۸

207 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۳۸

PBC همدا راز د ادغام په پروسه کار کوي او په هغه کړکیچونو رڼا اچوي چې کېدای شي، د سولې روان بهیر ته زیان ورسوي.PBC د امنیت شوری او عمومي شوری ګډه مشورتي ډله شمېرل کېږي[208].

۲ –لنډ مهاله ( موقت) کمېټې Adhoc Bodies

دا هغه کمسیونونه دي چې د ځانګړو دندو له پاره جوړېږي. لکه په فلسطین کې د اوربند له پاره د ملګرو ملتونو ځانګړی کمسیون چې د کار تر اجرا وروسته بیرته ړنګېږي او دا یو څو بیلګی:

الف–جنوبی افریقا: امنیت شوری د کال ۱۹۴٦ د جون په ۱٦ یوې کمېټې ته دنده وسپارله چې په جنوبي افریقا کې د اپارتاید Apartheid سیاست د ناوړه اغېزو په هکله څېړنې وکړي. دا کمېټه د کال ۱۹٦۵ په فبروري کې ځکه پای ته ورسېده چې دندې یې سرته رسېدلې وې.

ب – نامیبیا: د کال ۱۹۷۰ د جولای په ۲۹ امنیت شوری یوه کمېټه وګومارله، چې د نامیبیا د خپلواکۍ په هکله د امنیت شوری د پرېکړو د تطبیق له پاره په وړاندیزونو کار وکړي. دې کمېټې د جولای تر ۷ پورې خپله دنده په سمه توګه سرته ورسوله.

ج --زمبیا: د کال ۱۹۷۹ د نومبر په ۲۳ امنیت شوری د زمبیا د شکایاتو د اورېدو کمېټه جوړه کړه. زمبیا هغه وخت ویل چې د جنوبي رودیشیا غیرقانوني رژیم د جنوبي افریقا په مرسته په دوی تېری کوي. دا کمېټه د کال ۱۹۸۰ د جنوري په ۳۱ وروسته له دې ړنګه شوه چې د زمبیا د خوندیتابه او بیا ودانولو له پاره یې خپل وړاندیزونه امنیت شوری ته وسپارل.

د --سیشل: د کال ۱۹۸۲ د جون په ۵ امنیت شوریی وه کمېټه جوړه کړه چې له سیشل هېواد سره، د بېړنیو مرستو په برابرولو کار وکړي.

ذ -- اندونیزیا: د کال ۱۹۷۲ د اګست په ۲۵ امنیت شوری یوه کمېټه جوړه کړه چې په پاسفیک کې د اندونیزیا او هالند ستونزې وڅېړي. هغه وخت اندونیزیا د خپلواکۍ په درشل کې وه.

ر --لاووس: دا کمېټه د کال ۱۹۵۹ د سپتمبر په ۷ جوړه شوه چې د لاووس هغه شکایت وڅېړي چې ویل یې د ویتنام د دموکراتیک جمهوریت له سرحداتو څخه، ځینې وسله وال د دوی په شمال ختیځو سرحدونو بریدونه کوي.

ز -- امنیت شوری د وخت د اړتیاوو سره سم، د ۱۹۴٦ – ۱۹۵۱ ترمنځ دا کمېټې هم جوړې کړې: اسپانیا، کارفو کانالCarfu Channel ، د تریستا Trieste د خپلواکه سیمې له پاره د والی د ټاکلو کمېټه، د فلسطین مسله، د وسلو کمول، یونان، په ستراتیژیکي سیمو باندې د قیمومیت موضوع او د عمومي ټولنې ارزونه. دې کمېټو دنده درلوده چې حقایق وڅېړي او امنیت شوری ته خپلې سپارښتنې واستوي.

[208] un.org/security council

–د کال ۲۰۰٦ د می په ۳۱ امنیت شوریيوه کمېټه وګومارله چې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د تېر کال د پرېکړې سره سم، د امنیت شوری دندې، واکونه او مسوولیتونه بیا وارزوي[209].

## د اقتصادی او ټولنیزی شوری ارګانونه

دا شوری په خپل جوړښت کی څلور جلا برخی لری:

**الف – فعال کمیسیونونه Functional Commissions**

**۱- د جرایمو د مخنیوي او جنایي عدالت کمیسیون Commission on Crime Prevention and Criminal Justice (CCPCJ):**

CCPCJ د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شوری یو فعال کمیسیون دی چې د کال ۱۹۹۲ په جنورئ کې، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په غوښتنه جوړ شوی دی.

CCPCJ د جرایمو د مخنیوي او جنایي عدالت په برخه کې، د ملګرو ملتونو تګلارې جوړوي، فعالیتونه مخ ته وړي، د ملي او ګڼ ملیتیزه جرایمو د مخنیوي په برخه کې نړیوالې هڅې پراخوي او د جنایي عدالت د مدیریت بریالیتوبونه او کمزورتیاوې څېړي.

CCPCJ غړي هېوادونه هڅوي چې خپل معلومات، اطلاعات او تجربې شریکی او د جرایمو د ځپلو له پاره، ملي او نړیوال لومړیتوبونه په نښه کړي او په تګلارو ګډ کار وکړي.

CCPCJ فصلي (که اړتیا وي) او کلنئ غونډې جوړوي. په کلنیو غونډو کې چې معمولاً د کال په پای کې وي، د ملګرو ملتونو د جرایمو د مخنیوي او جنایي عدالت د پروګرام په بودجه او اداري چارو خبرې کېږي او د بل کال له پاره پلانونه جوړېږي.

په کال ۲۰۰٦ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې پرېکړه وکړه چې CCOCJ دی، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرایمو UN Office on Drugs and Crime (UNODC) مدیریت هم په غاړه واخلي.

غړیتوب: CCPCJ اوس ۴۰ غړي هېوادونه لري چې ECOSOC یې ټاکی[210].

**۲-د نشه یي توکو کمیسیون The commission on Norcotic Drugs (CND):**

CND د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شوری بل فعال کمیسیون دی چې په کال ۱۹۴٦ کې په دې نیت جوړ شو، چې (د نشه یي توکو نړیوال تړون) په تطبیق کې، له ECOSOC سره مرسته وکړي. په کال ۱۹۹۱ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې پرېکړه وکړه چې CND دې د نشه یي توکو او جرایمو د دفتر یا UNODC د مدیریت په برخه کې هم کار وکړي.

---

[209] UN.org.security
[210] unodc.org

CND په کال کې یو ځل غونډه کوي او د UNODC د تګلارو د جوړولو او سم مدیریت په برخه کی پریکړی کوی. CND په کال ۲۰۱۹ کی یوه اعلامیه خپره او د نشه یی توکو له ستونزی سره یې، په ملي، سیمه ییزو او نړیوالو برخو کې په اغېزمنه او کلکه مبارزه ټینګار وکړ.

CND اوس ۵۳ غړي هېوادونه لري چې ECOSOC یې ټاکي او د مشرتابه یو پلاوی لري[211].

**۳-د نفوس او پرمختیا کمیسیون (The Commission on Population and Development (CPD:**

CPD د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى درېیم فعال کمیسیون دی چې په کال ۱۹۴٦ کې جوړ شوی. د دې کمیسیون نوم لومړی د نفوس کمیسیون و؛ خو د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ۱۹۹۴ کې دا نوی نوم ورته غوره کړ او دنده یې ورکړه چې په ملي، سیمه ییزو او نړیوالو برخو کې، د ICPD پروګرام د تطبیق پلانونه جوړ او عملي کړي.

ICPD د هغه نړیوال کنفرانس نوم دی چې په کال ۱۹۹۴ کې، په قاهره (مصر) کې د نفوس او پراختیا له پاره جوړ شوی و. په هغه کنفرانس کې په دې ټینګار وشو چې ښځې او نجونې په ټوله نړۍ کې، د پرمختګ اصلي بنسټونه بلل کېږي. په کنفرانس کې په بشري حقونو، نفوس، جنسي روغتیا، د بیازېږولو وړتیا، جندر مساواتو او تلپاته یا اوږدمهاله Sustainable پرمختګ هم خبرې او پرېکړې وشوې.

CPD هر کال یو ځل په خپل مقر نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې غونډه کوي اواوس ۴۷ غړي هېوادونه لري چې ECOSOC یې، د جغرافیایي ویش له مخې د ۴ کلونو له پاره ټاکي[212].

**۴- د پرمختیا له پاره د ساینس او تکنالوژئ کمیسیون Commission on Science and Technology for Development (CSTD):**

CSTD د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى یا ECOSOC څلورم فعال کمیسیون دی چې د ساینس، تکنالوژئ او پرمختګ د اړیکو په برخه کې کلنۍ غونډې جوړوي.

CSTD د پرمختیا له پاره د ساینس، تکنالوژئ، نوښتونو، مخابراتي پرمختګونو او اطلاعاتي تکنالوژي یا IT په برخه کې د ملګرو ملتونو د کار او هڅو اصلي ځای دی او د هغه اجندا د تطبیق له پاره زیار باسي چې تر کال ۲۰۳۰ پورې په پام کې نیول شوې ده.

CSTD د اقتصاد، چاپیریال او ټولنو له پاره، د ملګرو ملتونو د تګلارو د جوړولو، د عملي فعالیتونو د همغږئ او تکنالوژیکي پرمختګونو دندې په غاړه لري.سره له دې چې حکومتونه په دې بنسټ کې غړیتوب لري؛ خو مدني

[211] en.wikipedia.org
[212] ippf.org/cpd

ټولنې هم په مباحثو کې برخه اخلي. CSTD د ملګرو ملتونو له نورو ټولنو او بنسټونو لکه د ښځو وضعیت ، سیمه ییز کمیسیونونه، ITU او UNESCO سره هم ژورې اړیکې ساتي.

CSTD د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې او ECOSOC ته د ساینس او تکنالوژي په هکله مشورې ورکوي او په دې برخه کې د هغوي د تګلارو د جوړولو له پاره اومه مواد برابروي. UNCTAD د CSTD لوی همکار بنسټ دی[213].

## ۵- د ټولنیز پرمختګ کمیسیون

**:Commission on Social Development (CSocD)**

CSocD د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورى یا ECOSOC له اتو فعالو کمیسیونونو څخه، پنځم کمیسیون دی چې په کال ۱۹۴٦ کې جوړ شوی او اوس ۴٦ غړي هېوادونه لري.

په کال ۱۹۹۵ کې چې په کوپنهاګن (دنمارک) کې، د ټولنیز پرمختګ لویه غونډه جوړه شوی وه، CSocD ته دنده وسپارل شوه چې د کوپنهاګن د اعلامیې او کاري پلانونو د تعقیب مسوولیتونه هم په غاړه واخلي. له دې پرېکړې وروسته د دې بنسټ په اهدافو کې بدلونونه راغلل او د غړو هېوادونو شمېر یې له ۳۲ څخه ۴٦ ته لوړ شو (۱۹۹٦).

CSocD هڅه کوي چې د ټولنیز پرمختګ له پاره اقتصادي، سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او قانوني چاپېریال برابر کړي، د بېوزلتیا او وزګارتیا له کمولو سره مرسته وکړي، د ټولو بشري حقونو د خوندیتابه ډاډ ورکړي، د نارینه وو او ښځو تر منځ برابري پیاوړي کړي، ټولو خلکو ته د لومړنیو زده کړو او روغتیایي خدماتو په برابرولو کې ونډه واخلي، افریقا او نورو لږ پرمختللو هېوادونو ته د نړیوالو پام واړوي، د ټولنیز پرمختګ سرچینې ډېرې کړي او د ټولنیز پرمختګ له پاره د ملګرو ملتونو په ټولو ارګانونو کې همغږي پیاوړي کړي.

CSocD په کال یو ځل (فبروري) د ملګرو ملتونو په دفتر (نیویارک) کې دوه انیزه غونډه کوي.

په کال ۲۰۲۰ کې CSocD د کوپنهاګن اعلامیې ۲۵ او د خپل جوړښت ۷۵ کلیزه ولمانځله.

په کال ۱۹۹٦ کې CSocD په نړۍ کې د بېوزلتیا او لوږې د کمولو تګلاره او کارپلان جوړ کړ. دې بنسټ په کال ۲۰۲۰ کې بل ګام واخست د بېکوره خلکو له پاره یې د کورونو او ټولنیز خودندیتوب تګلاره اعلان کړه[214].

---

[213] unctad. Org/CSTD
[214] en.wikipedia.org/CSocD

### ٦- د ملګرو ملتونو د احصائيې کمیسیون

**:United Nations Statistical Commission (UNSC)**

UNSC د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى یا ECOSOC شپږم فعال کمیسیون دی چې په کال ۱۹۴۷ کې جوړ شوی دی.

UNSC دنده لري چې له ټولې نړۍ او د ملګرو ملتونو له غړو هېوادونو څخه ارقام او احصائيې ټولې کړي. دا د نړیوالو احصائیوي فعالیتونو په برخه کې د ټولو مهم تصمیم نیوونکی ارګان دی، احصائیوي ستندردونه جوړوي او په نویو میتودونو کار کوي او په ټولو نړۍ او هېوادونو کې د دې ستندردونو د تطبیق له پاره زیار باسي او همغږي پیاوړي کوي.

UNSC همداراز له هېوادونو سره مرسته کوي چې ملي احصایي یې د باور وړ شی، د ملګرو ملتونو د تخصصي بنسټونو له احصائیوي څانګو سره ګډ کار کوي، د دارالانشا احصائیوي کارونه منظموي، د ملګرو ملتونو ټولو بنسټونو ته احصائیوي معلومات برابروي او خپل احصائیوي ستندردونه له ټولو سره شریکوي[215].

UNSC اوس ۲۴ غړي اداره کړېنکی هېوادونه لري چې د ECOSOC له خوا په دې جغرافیایي وېش ټاکل کېږي: افریقا – ۵، آسیا – ۴، ختیځه اروپا – ۴، جنوبي امریکا او کارابین – ۴، لویدیځه اروپا او نور پاته هېوادونه – ۷.

له کال ۱۹۹۹ څخه راپدیخوا د UNSC غړي هېوادونه هر کال سره ویني. UNSC یو رییس، دری مرستیالان او یو شمېر کارکونکي لري چې د احصاییو د غونډولو او پروسس متخصصین دي[216].

### ۷- د ښځو د وضعیت کمیسیون

**:The commission on the Status of Women (CSW)**

CSW د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى یا ECOSOC اووم فعال کمیسیون دی چې د کال ۱۹۴٦ د جون په ۲۱ جوړ شوی دی.

CSW په جندر مساواتو او د ښځو په ځواکمنتیا Empowermentکار کوي، د ښځو حقونه ځلوي، په نړۍ کې د ښځو د ژوندانه د حقایقو مستندات جوړوي او د جندر مساواتو او د ښځو د ځواکمنتیا نړیوال معیارونه او ستندردونه برابروي.

په کال ۱۹۹٦ کې ECOSOC د CSW په دندو او واکونو بیا کتنه وکړه او وظیفه یې ورکړه چې د بیجنګ د اعلامیې او کاری پلان د عملي کولو په برخه کې، شته ستونزې او شوي پرمختګونه هم وڅېړي او د ملګرو ملتونو په ټولو ارګانونو کې جندر مساوات په پام کې ونیسی.

---

[215] unstats.org
[216] en.wikipedia.org

CSW هر کال په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې، د مدني ټولنو د فعالینو او د ملګرو ملتونو د بنسټونو د استازو په ګډون، دوه اونیزه غونډې جوړوي او په هغه کې د بیجنګ اعلامیې او کارپلان په ښه تطبیق بحثونه کوي، د جندر مساواتو په هکله تګلارې جوړوي او په هغه ستونزو رڼا اچوي چې د جندر مساوات او د ښځو د ځواکمنتیا د بهیر مخه نیسي.

لنډه دا چې CSW په نړۍ کې د ښځو د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو حقونو د خوندیتابه له پاره کار کوي. UN-Women په ټولو برخو کې د CSW ملاتړی دی او د بریا له پاره یې مرستې کوي[217].

**۸- د ځنګلونو له پاره د ملګرو ملتونو دفتر (The United Nations Forum on Forests (UNFF:**

UNFF د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى ECOSOC اتم فعال او د لوړې کچې بین الحکومتي کمیسیون دی چې په کال ۲۰۰۰ کې جوړ شوی دی؛ خو د داسې یو بنسټ له پاره هڅې پخوانی تاریخ لري.

په کال ۱۹۹۲ کې، په ریودوژنیرو (ارجنتاین) کې د ملګرو ملتونو د چاپیریال او پرمختګ کنفرانس، د ځنګلونو د مدیریت په مسله بحث وکړ او Intergovernmental Panel on Forests (IPF) یې جوړ کړ چې وروسته یې په اجندا کې لږ بدلونونو راغلل او Intergovernmental Forum on Forest (IFF) وبلل شو؛ خو په کال ۲۰۰۰ کې له نوی اجندا سره UNFF ترینه جوړ شو.

UNFF په دې مسایلو کار کوي: د ځنګلونو د امحا مخنیوی، د ځنګلونو په هکله د بومي پوهې او تجربې ساتل، د ځنګلونو په برخه کې د تکنالوژۍ د لېږد آسانتیاوې، د ځنګلونو د اوږدمهاله مدیریت اصول او ځانګړتیاوې، چاپېریال او ځنګلونه او د لرګیو سوداګري.

UNFF همداراز د ځنګلونو د سم مدیریت له پاره، د ډېرو نړیوالو ټولنو سره د ګډ کار تګلارې جوړوي او په دې برخه کې ګډې نړیوالې هڅې همغږي کوي[218].

**ب—د اقتصادی او ټولنیزه شورى سیمه ییز کمیسیونونه**

**Regional Commissions ECOSOC**

د ملګرو ملتونو د کړنلارې د ٦٨ مادې له مخې، اقتصادي او ټولنیزه شورى کولای شي چې د اقتصادي او ټولنیزه مسایلو، د بشري حقونو د خپراوي (ترویج) او یا نورو چارو له پاره کمیسیونونه جوړ کړي.

د ملګرو ملتونو د سیمه ییزو کمېسیونونو د دارالانشا په سر کې، سرمنشي ځای لري؛ خو کمېسیونونه د خپلو کارونو راپورونه اقتصادي او ټولنیزې شورى ته استوي. له همدې امله اقتصادي او ټولنیزه شورى تر اوسه دریډوله کمېسیونونه جوړ کړي:

---

[217] un-women.org/ CSW
[218] en.wikipedia.org

- سیمه ییز اقتصادي کمېسیونونه،
- اساسي کمېسیونونه،
- فرعي کمېسیونونه،

الف – سیمه ییز اقتصادي کمېسیونونه Regional Economic commissions

له هغه ځایه چې د بېلابېلو جغرافیایي سیمو اقتصادي ستونزې جلا دي، له همدې امله اقتصادي او ټولنیزې شورى پنځه سیمه ییز اقتصادي کمېسیونونه جوړ کړي دي. دا کمېسیونونه دنده لري چې د هرې سیمې له اقتصادي پرمختیا سره مرسته وکړي او د سیمو د هېوادونو اقتصادي اړیکې، په خپلو منځونو کې او د نورې نړۍ له هېوادونو سره پیاوړې کړي. دا کمېسیونونه چې بودجه یې د ملګرو ملتونو له عادي بودجې څخه ورکول کېږي، دا دي:

- د افریقا اقتصادي کمېسیون،
- د اروپا اقتصادي کمېسیون،
- د لاتینې امریکا او کارابین کمېسیون،
- د آسیا او آرام سمندر اقتصادي او ټولنیز کمېسیون،
- د لویدیځې آسیا اقتصادي او ټولنیز کمېسیون.

- د افریقا اقتصادي کمېسیون(Economic Commission for Africa(ECA

دا کمېسیون د افریقا لویې وچې د اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا له پاره، په کال ۱۹۵۸ کې جوړ شو چې د غړو هېوادونو د بنسټیزو، مالي، سوداګریزو او تولیدي پروژو له پاره، د همکاریو د پیاوړتیا د پروګرامونو او تګلارو د جوړولو او عملي کولو ملاتړ کوي، د لویې وچې اقتصادي اوټولنیزه مسایل څېړي، پرله پسې پرمختیا هڅوي، د خوړو له خوندیتوب سره مرسته کوي، په سیمه کې د همکاریو ملاتړ کوي، د ښځو د ژوندانه د شرایطو له ښه والي سره مرسته کوي، په پرمختیایي چارو کې د ښځو ډېر ګډون هڅوي او په دې کار کوي چې په ملي پرمختګ کې، جنسیتي عدالت په پام کې ونیول شي[219].

- د اروپا اقتصادي کمېسیون (Economic Commission for Europe(ECE

دا کمېسیون چې په کال ۱۹۴۷ کې جوړ شوی؛ د منځنی آسیا، اروپا او شمالي امریکا هېوادونو د اقتصادي همکاریو مرکز باله شي او د اسراییل په ګډون ۵۵ غړي لري. دا کمېسیون په اقتصادي تجزیه او تحلیل، ژوند چاپېریال او بشري استوګنه، احصاییه، انرژي، سوداګري او صنایعو او د لرګیو او ترانسپورت په پراختیا کار او د دې کار له پاره په لارو چارو او تګلارو بحثونه کوي، ضابطی او مقررات برابروي او کنوانسیونونه جوړوي چې په خپل وار، په سیمه او له نړۍ سره سوداګرۍ آسانه او ژر عملي کېدونکی کوي او چاپېریال ساتنه هم په پام کې ساتي[220].

---

219 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص۳۶
220 حقایق اساس در باره سازمان ملل متحد، ص ۳۷

- د لاتینې امریکا او کارابین اقتصادي کمېسیون Economic Commission for Latin America and the Caribbean(ECLAC)

دا کمېسیون چې په کال ۱۹۴۸ کې جوړ شوی، په سیمه کې د اقتصادي پراختیا د ننګې له پاره، د سیاستونو د همغږۍ مسوولیت په غاړه لري. دا کمېسیون ۴۱ اصلي او ۷ فرعي غړي لري چې د ملي او سیمه ییزی اقتصادي پراختیا له پاره، څېړنې او تحلیلونه وړاندې کوي او د عمومي سیاستونواو د تخصصي اطلاعاتو د راکړې ورکړې په برخه کې،یو له بله سره مرسته کوي.

د لاتینې امریکا او کارابین اقتصادي کمېسیون له ډېرو ملي، سیمهییزه او نړیوالوټولنو سره په دې مسایلو باندې کار کوي: د کرنې پراختیا، اقتصادي او ټولنیزه پلان جوړونه؛ د صنایعو، تکنالوژي او کار موندنې پرمختیا؛ نړیواله سوداګري، سیمه ییزه همغږي او همکاري، پانګونه او د پانګو موندل، ټولنیزه پراختیا او برابري، په پراختیایي چارو کې د ښځوډېرګډون، طبیعي زېرمې او بنسټیزه کارونه، د ژوند چاپېریال او بشري اسکان، احصاییه، اداري مدیریت، نفوس پېژندنه او د نفوس په اړه سیاستونه.

د دې کمېسیون مرکزي دفتر په سانتیاګو (چیلي) کې دی؛ خو په مکسیکو سیتي (مکسیکو) کې د منځنی امریکا او په پورت او سپین (ترینیداد او توباګو) کې د کارابین له پاره دوه سیمه ییز دفترونه، په واشنګتن کې د اړیکو او په بوګوتا، مونت ویدیو، برازیلیا او بوینس آیرس کې ملي دفترونه هم لري[221].

- د آسیا–پاسفیک اقتصادي کمېسیون:

Economic and Social Commission for Asia and the Pacific(ESCAP)

دا کمېسیون په کال ۱۹۴۷ کې جوړ شوی او دنده لري چې د سیمې په اقتصادي او ټولنیزو مسایلو کار وکړي. کمېسیون ۵۳ اصلي او ۹ فرعي غړي لري چې د ټولې نړۍ د ٦٠% اوسېدونکو اسازیتوب کوي. د کمېسیون لوی کارونه دا دي:

دولتونو ته د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا په برخه کې فني مشورې، د غونډو او خپرونو له لارې د سیمه ییزه اطلاعاتو او تجربو شریکول، تخصصي زده کړې، د پراختیا د هڅونې له پاره د پروګرامونو برابرول، د پرمختللو ټولنو د جوړولو له پاره، د بنسټونو چمتو کول او په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې اصلاحات.

کمېسیون څلور سیمه ییزې څېړنیزې موسسې لري: د کرنې پراختیا، کرنیزه انجینري او ماشینري، احصاییه او د تکنالوژۍ لېږد. کمېسیون په آرام سمندر کې د عملیاتویو دفتر لري او ټول په ګډه هڅه کوي چې د بېوزلتیا د کمولو، د نړیوالتوب د ښه مدیریت او د نویو ټوکېدونکو ټولنیزه مسایلو ته، د حللارو د موندلو په برخو کې کار وکړي[222].

---

221 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص۳۸

222 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۰-۳۹

- د لویدیځې آسیا اقتصادي کمېسیون

Economic and Social Commission for Western Asia(ESCWA )

دا کمېسیون چې په کال ۱۹۷۳ کې جوړ شوی، د لویدیځې اسیا هېوادونو د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، د سیمه ییزې همغږی او ګډ کار په ډېرولو او ګټورتیا لګیا دي. دا کمېسیون ۱۳ غړي لري او د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې، د سیمې د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا اصلي ځای بلل کېږي. اقتصادي پرمختیا، ټولنیزه هوساینه، کرنه، صنعت، طبیعي زېرمې، ژوند چاپېریال، وړل راوړل، مخابرات او احصاییه، د لویدیځې آسیا د اقتصادي او ټولنیز کمېسیون د کار په لومړیتوبونو کې راځي[223].

ج-- اساسي کمیسیونونه: دا کمیسیونونه شپږ دی.

د احصائیې کمېسیون، د نفوسو د ستونزو د حل کمېسیون، د ټولنیزې پراختیا کمېسیون، د ښځو د حقونو کمېسیون، د بشري حقونو کمېسیون، له نشه یي توکو سره د مبارزې کمېسیون او د نړیوالې سوداګرۍ کمېسیون.

د -- فرعي کمېسیونونه: چې دوه ډوله دي :اجرائیوي او موضوعي.

اجراییوي لکه: د ملګرو ملتونو له ځانګړو موسساتو سره د خبرو کمېټه، له غیرحکومتي ټولنو سره د خبرو کمېټه، د تیاریو کمېټه او د ملګرو ملتونو او له هغې د ځانګړو موسساتو تر منځ د همغږۍ کمېټه.

موضوعي کمېټې لکه: د فني همکاریو کمېټه، د صنعتي پراختیا کمېټه، د استوګنځیو د جوړولو کمېټه، د علومو او تکنالوژي د تطبیق مشورتي کمېټه او د نژادي تبعیض د ممانعت او د اقلیتونو د ملاتړ کمېټه[224].

**نوری ځانګی Other Bodies**

**الف- د تګلارو د پرمختیاوو کمیټه**

**:Committee for Development Policy (CDP)**

دا ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزي شوری یا ECOSCO لومړنی تړلی ارګان دی چې شوری ته په ټولو هغه برخو کې مشوره ورکوي چې د تلپاته پرمختیا Sustainable Development هغه اجندا سرته ورسوي چې تر کال ۲۰۳۰ پورې په پام کې نیول شوی ده.

CDP ټول ۲۴ غړي لري چې د نوماندانو کاري وړتیاوو په کتو، د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیز، د اقتصادي او ټولنیزې شوری له خوا د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي. په دې ټاکنو کې فردي ظرفیت، جغرافیایي وېش او جندر ټول په پام کې نیول کېږي.

---

223 حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۴۰

224 سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۴۵

CDP په کال کې یو ځل غونډه کوي او خپل کاري راپورونه اقتصادي او ټولنیزې شورى ته ورکوي.CDP په هر دریو کلونو کې د ډېرو لږو پرمختللو هېوادونو لست جوړوي او ECOSOC ته سپارښتنې کوي چې کوم هېوادونه په دې لست کې راشي او یا ورځنی ووځي. CDP د دې کار له پاره پاخه ستندردونه لري.

CDP یو کمکې دارالانشا لري چې خپل کارونه د ECOSOC په لارښوونو او د خپل مشر په مدیریت مخ ته وړي. له دې وروسته د نړیوال اقتصاد د څار څانګه، د پرمختیاوو د څېړنو څانګه او د پرمختیاوو د تګلارو څانګه راځي چې هره یوه خپل څېړنیز کارونه، د منل شوو معیارونو مطابق سرته رسوي [225].

**ب -د ملګرو ملتونو د عامه ادارې د متخصیصینو کمیټه**

**:Committee of Experts on Public Administration (CEPA)**

CEPA د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى یا ECOSOC یوه کمیټه ده چې د ملګرو ملتونو په غړو هېوادونو کې، د اقتصادي او ټولنیزې شورى له تګلارو سره سم، د عامه ادارې او حکومتولۍ د پرمختیا او اغېزمنتوب د پاره کار کوي او زیار باسي هغه اهداف تر لاسه کړي چې تر کال ۲۰۳۰ پورې، د اوږدمهاله پرمختیا او پراختیا په اجندا کې ځای په ځای شوي دي.

CEPA په لومړي سر کې یوه کمکی ډله وه؛ خو په کال ۲۰۰۱ کې د ECOSOC یوه کمیټه شوه، ۲۴ غړي لري، هر کال غونډې جوړوي او هڅه کوي چې هغه اهدافو ته ورسي چې ټولې نړۍ د عامه ادارې د ښېګڼې او اغېزمنتیا په هکله په پام کې نیولي دي: د انساني سرچینو د شتمنی پراختیا، ښه او ګټوره حکومتولي، له جګړو څخه په راوتلو هېوادونو کې د ملي ظرفیتونو پراختیا او د بحرانونو مخینوی او په عامه اداره کې د نوښتونو لمانځل.

CEPA له کال ۲۰۰۲ څخه تراوسه ۱۸ کلنۍ غونډې جوړې کړي. د دې کمیټې مقر په نیویارک کې دی[226].

**ج -د ملګرو ملتونو د انجیوګانو کمیټه**

**:Committee on Non-Governmental Organizations (CNGO)**

CNGO د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورى یا ECOSOC یوه کمیټه ده چې په کال ۱۹۴٦ کې جوړه شوې او دنده لري چې هغه نادولتي ټولنو NGOs ته، چې پوره وړتیا ولري، ECOSOC ته د مشورو ورکولو دریځ ومني.

دا کمیټه ۱۹ غړي لري چې داسې جغرافیایي اوډون (ترکیب) لرى، افریقا – ۵ غړي، آسیا – ۴، لویدیځه اروپا – ۲، لاتینه امریکا او کارابین – ۴ او ختیځه اروپا او پاته هېوادونه – ۴.

---

[225] un.org
[226] publicadminstratiom.un,org.cepa

هغه NGO چې غواړي د ECOSOC مشورتي ملګري شي، باید خپل غوښتنلیک ECOSOC ته واستوي. ECOSOC دا غوښتنه او د دې NGO کاري سوابق ګوري او د غړیتوب وړاندیز یې د خپل مشرتابه غونډې ته وړاندې کوي.

سره له دې چې د یوې NGO د غړیتوب منل ډېر تخنیکي کار دی؛ خو ECOSOC کله ناکله سیاسي چلند کوي او د یوې NGO د منلو یا نه منلو له پاره یې په پام کې نیسي[227].

## د - د بومي چارو له پاره د ملګرو ملتونو دایمي کمیټه

**:UN Permanent Forum on Indigenous Issus (UNPFII)**

UNPFII د ECOSOC یوه مشورتي کمیټه ده او په کال ۲۰۰۰ کې په دې هیله جوړه شوه چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په بهیر کې، د بومي یا ځایي عناصرو ځانګړتیاوو ته پام وساتي. په دې ځانګړتیاوو کې فرهنګ، چاپېریال، ښوونه او روزنه، روغتیا او بشري حقونه ډېر ارزښت لري.

UNPFII دنده لري چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، دځایي یا بومي عناصرو د ارزښت په هکله، د ملګرو ملتونو ټولو پروګرامونو، صندوقونو او تخصصي بنسټونو ته فني او تخنیکي مشورې ورکړي، دا همغږي د ملګرو ملتونو د کورنۍ په منځ کې پیاوړي کړي، د ځایي یا بومي عناصرو په هکله خپرونې وکړي او ځایي یا بومي عناصرو او امکاناتو ته درناوی لوړ کاندي.

UNPFII هر کال د ۱۰ ورځو له پاره د ملګرو ملتونو په مقر (نیویارک) کې غونډې جوړوي. کله ناکله په ژنیو کې هم سره ګوري. دا کمیټه د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې، د اصلي یا ځایي یا بومي اوسېدونکو، د حقونو او فرهنګ د درناوي له پاره هم غونډې جوړوي او ECOSOC او نور اړونده ارګانونو ته سپارښتنې وړاندې کوي.

UNPFII له پیله تراوسه ۲۰ غونډې کړي چې نتایج یې د بومي خلکو او د بومیانو د فرهنګي ارزښتونو په خوندیتابه او د پرمختګ په بهیر کې، د بومي عناصرو د ګډون او درناوي په برخه کې ډېر اغېزمن دي[228].

## ذ - د اچ آی وي/ایدز په هکله د ملګرو ملتونو ګډ پروګرام

**:Jiorrt UN Programme on HIV/AIDS (UNAIDS)**

UNAIDS د هغه نوښت نوم دی چې د ملګرو ملتونو د کورنۍ ۱۱ ارګانونه یې، له AIDS سره د اغېزمنې او هر اړخیزه مبارزې له پاره یو ځای کړي دي.

---

[227] en.wikipedia.uncngo
[228] un.org/pfll

دا ۱۱ ارګانونه دا دي:

UN-، UNESCO، WB، UNICEF، UNHCR

Women، UNDP، UNFPA، WHO، WFP، UNODC او ILO.

د دې ۱۱ ارګانونو د ګډ کار مدیریت د UNAIDS په غاړه دی، چې په ژنیو (سویتزرلند) کې موقعیت لری.

UNAIDS دنده لري چې د AIDS د مخنیوي او تداوي او په AIDS باندې د اخته کسانو معنوي او روغتیایي ملاتړ او پاملرنې ته کار وکړي او د AIDS په ضد د نړیوالې مبارزې اغېزمنتیا پیاوړي کاندي.

UNAIDS په هغه سیمو کې چې AIDS ډېر وي، د ملګرو ملتونو د کورنۍ، مدني ټولنو، ملي حکومتونو، نړیوالو ټولنو او خصوصي سکتور د کار د همغږي کولو دنده په مخ وړي، له AIDS سره په مبارزه کې جندر مساواتو، بشري حقونو، انساني عزت او انساني کرامت ته پام ډېروي؛ د دې مبارزې له پاره سیاسي، تخنیکي، علمي او مالي پلویان او ملګري مومي، د AIDS د باالقوه خطراتو په وړاندې رسنیز او اطلاعاتي کارونه مخ ته بیايي او حکومتونه هڅوي چې په خپلو ملي روغتیایي پروګرامونو کې، AIDS ته لومړی ځای ورکړي.

د کال ۲۰۱۱ په جون کې، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د HIV/AIDS په ضد، یوه لس ماده ییزه سیاسي اعلامیه خپره او په ټولو نړیوالو یې غږ وکړ چې د AIDS په ضد مبارزه، د ټول بشریت له فرایضو څخه ده او باید هر څوک په دې برخه کې خپل مسوولیت په سمه توګه سرته ورسوي [229].

**ر -- د جغرافیایي نومونو له پاره د ملګروملتونو د متخصصینو ډله**

**:UN Group of Experts on Geographical Names (UNGEGN)**

UNGEGN د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورى یا ECOSOC له نهګونو ډلو څخه، یوه ډله ده چې د جغرافیایي نومونو په ملي او نړیوال ستندرد کولو کار کوي. دا ډله په هرو ۵ کلونو کې یوه غونډه جوړوي او د خپل کار په هکله نړیوالې لارښوونې خپروي.

داسې یوه مفکوره لومړی ځل د په تیرې پیړۍ په څلوېښتمه لسیزه کی مطرح شوې ده؛ خو داسی یوی ډلیپه کال ۱۹٦۰ کې عملاپه کار پیل وکړ. په ۱۹٦۷ کې UNGEGN لومړنې لویه غونډه جوړه او پرېکړه وکړه چې د داسې نومونو له پاره به، ملي او سیمه ییز ستندردونه په پام کې نیول کېږي او له هېوادونو سره به مرسته کوي چې څنګه خپل ملي نومونه، په کومه ژبه په نړیوالو ستندردونو او نومونو کې ځای په ځای کړي. UNGEGN همدا راز هغه هېوادونه هڅوي چې په یوه جغرافیه کې پراته او ځینې نومونه پکې ګډ دي، چې په شریکو نومونو توافق ته ورسي.

[229] un.org.youth envoy/unaids

UNGEGN د مشرتابه یوه ډلګی لري چې د دې ټولنې مشر، دوه مرستیالان مشران او دوه راپورتران پکی حضور لری. دې بنسټ د خپل کار د آسانتیا له پاره، ټوله نړۍ په ۲۴ جغرافیایي زونونو وېشلي چې متخصصین پکې د جغرافیایي نومونو په توحیدولو او عاملو بوخت دي[230].

### ز -- د نړیوالو جغرافیایي اطلاعاتو د مدیریت په برخه کې د ملګرو ملتونو د متخصصینو ډله

**:Committee of Experts on Global Geospatical Information Management (UNGGIM)**

UNGGIM د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورى یا ECOSOC یوه ډله ده چې په کال ۲۰۱۱ کې، د ملګرو ملتونو په غړو هېوادونو کې، د جغرافیایي اطلاعاتو د مدیریت د ظرفیتونو او امکاناتو د لوړولو له پاره جوړه شوه. UNGGIM له هېوادونو سره مرسته کوي چې څنګه په دې برخه کې ګټورې ملي تګلارې برابرې او نړیوالو ستونزو ته په وخت سم ځواب ووایي.

UNGGIM هڅه کوي چې د جغرافیایي اطلاعاتو د مدیریت په برخه کې، د هېوادونو او د هېوادونو او نړیوالو ټولنو تر منځ ګډ کار او همغږي پیاوړي کاندي او د مثال په توګه په نړۍ کې، د تباهیو او خطرونو د مخنیوي یا کمولو په کار کې، له نورو اړونده موسساتو سره مرسته وکړي[231].

### س -- د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت دفتر

**:UN Department of Salty and Security (UNDSS)**

ملګري ملتونه له خپل جوړښت څخه تر ۵۰ کلونو پورې، د خپل بیرغ او رسالت په درناوي خوندي ځای بلل کېده. که به د دې ټولنې هدف هم وګرځول شو، ملګرو ملتونو به دا یوه فردي مسله ګڼله. د تېرې پېړۍ په ۹۰ لسیزه کې امنیتي چاپېریال بېخونده شو او ځینو مامورینو ته په قصدي توګه مرګ ژوبله واوښته. دا وخت د ملګرو ملتونو په دندو کې بدلونونه پېښ شوي او داسې ماموریتونه ډېر شوي وو چې خطرونه یې درلودل، لکه سوله ساتي عملیات.

په کال ۲۰۰۴ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې UNDSS د جوړېدو ملاتړ وکړ او د UNSECOORD او SSS (Security Safety Services) پخواني دفترونه یې، په نوي بڼه د دارالانشا په چوکاټ کې په یو دفتر کې سره یو ځای کړل.

UNDSS دنده درلوده چې د ملګرو ملتونو د مرکزي دفتر (نیویارک) او سیمه ییزه دفترونو او استازولیو او پلاوو د خوندیتوب او امنیت له پاره تګلارې، ستندردونه، همغږي، اړیکې، وسایل، امکانات او د خطرونو د کمولو مدیریت جوړ او عملي کارونه پیل کړي (۱۹۹۵).

---

[230] en.wikipedia/ungegn

[231] un.ggim او Wikipedia.org/un-ggim

UNDSS همدا راز هڅه کوي چې په نورو سیمو کې، د ملګرو ملتونو د کنفرانسونو او غونډو او پرسونل امنیت ته پام وساتي او د فزیکي امنیت اسانتیاوې ډېرې کړي[232].

**زده کړې اوڅېړنې Research and Training**

**الف - د بین المنطقوي جرایمو او عدالت په برخه کې د ملګرو ملتونو څېړنیز انستیتوت**

**UN Interregional Crime and Justice Research Institute (UNICRI):**

د جرایمو د مخنیوي او جنایي عدالت د پراختیا په برخه کې، د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورى دا انستیتوت، په کال ۱۹۹۷ کې په روم کې په بل نوم جوړ شوی و. دې انستیتوت دنده درلوده چې د جرایمو د مخنیوي او د جنایي عدالت د پراختیا په هدف، څېړنیزه زده کړې برابرې او داسې کادرونه وروزي چې نړیوال له دې جرایمو څخه خلاص شي.

په کال ۱۹۸۹ کې ECOSOC دا انستیتوت UNICRI ونوماوه او په دندو او اهدافو کې یې بدلونونه راوستل. په کال ۲۰۰۰ کې UNICRI له روم څخه تورین (ایتالیا) ته ولېږدید.

د UNICRI په نصاب کې نړیوال جنایي قانون، د عدالت د نړیوالې محکمې اساسنامه او اجراات، د پلان شوو جرایمو مخنیوي، ترهګرۍ ضد مبارزه، مصنوعي استخبارات، سایبري جرمونه، روباتیک، اداري فساد، انساني قاچاق، نشه یي توکي، د چاپېریال په ضد جرمونه او د جنایي عدالت پیاوړتیا او داسې نور مضامین او کنفرانسونه وتلي ځایونه لري او د نړۍ ډېر نومیالي متخصصین پکی تدریس او تالیف بوخت دي [233].

**ب-- دټولنیزه پراختیا له پاره د ملګرو ملتونو څېړنیز انستتیوت**

**UN Research Institute for Social Development(UNRISD)**

د ملګرو ملتونو عمومی ټولنی د کال ۱۹۶۳ په دسمبر کی، پریکړه وکړه چی د ټولنیزی پرمختیا په وړاندی، د پرتو سیاسی ستونزو د څېړنو له لاری، د ملګرو ملتونو د اغیزمنتیا له پیاوړتیا سره مرسته وکړی. دا څېړنیز انستیتوت په کال ۱۹۶۴ کې، د هالند په هغه بلاعوضه مرسته جوړ شو، چې د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د کال ۱۹۶۳ د دسمبر د پرېکړې سره سم، د ټولنیزو اهدافو او پلانونو د تحقق له پاره په پام کې نیول شوې وه.

UNRISD په ملګرو ملتونو کې یوه خپلواکه ټولنه ده چې له ۵۵ کلونو څخه را پدیخوا، د ټولنیزې پراختیا په څېړنو بوخته ده. UNRISD په کال ۱۹۷۹ کې په لاندې څلورو برخو کې څېړنې وکړي:

الف – په ۱۰ هېوادونو کې د خوراکي توکو تولید، او له مولدینوڅخه لګښت کوونکو ته د خوراکي توکو لېږد، چې د سوتغذي او لوږې د کمولو له پاره سم لیدلوري برابر شي،

---

[232] dss.un.org
[233] en.wikipedia.org/icri

ب – د عمومي مشارکت له لارې د هغه ټولنیزه ډلو له پاره، هڅه او زیار چې لږ امتیاز لري. هدف دا دی چې ډېرې سرچینې د هغوی له پاره په کار واچول شي،

ج – د لاس ته راغلو معلوماتو د اغېزمنوڅېړنو او تحلیل د لارو چارو پراختیا،

د – د کډوالو ټولنیز شرایط.

فعالیتونه: اوس – اوس UNRISD په دې برخو کې کار کوي: بحرانونه، ټولنیز بدلون، د غیرقانوني نشه یي توکو د نړیوالې سوداګرئ سیاسي،ټولنیز او اقتصادي پایلې، ژوندچاپېریال، پرله پسې پرمختیا او بدلون، د پرمختیایي تګلارو په جوړولو کې د ښځو ونډه، سیاسي تاوتریخوالی،د پرمختیایی هیوادونو د اړتیاوو په پوره کولو کی، د معلوماتی تکنالوژی د استفادی څرنګوالی[۲۳٤]

## -- تخصصی بنسټونه Specialized agencies

لومړی – د تخصصي بنسټونو ځانګړتیاوې او پېژندنه:

د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې د تخصصي بنسټونو تعریف نه دی راغلی؛ خو د همدې کړنلارې په ۵۷ ماده کې داسې لیکل شوي:

الف – هغه تخصصي بنسټونه چې د هېوادونو تر منځ، د تړونونو له امله جوړ شوي او د خپلو اساسنامو له مخې په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، زده کړنیزو، روغتیایي او نورو ورته (مشابه) برخو کې پراخه نړیوال مسوولیتونه لري، د ٦٣ مادې سره سم به په ملګرو ملتونو پورې تړلي دي.

ب – هغه بنسټونه چې په دې توګه په ملګرو ملتونو پورې تړل کېږي، له دې وروسته به تخصصي بنسټونه وبلل شي.له دې ښکاري چې تخصصي بنسټونه لاندې ځانګړتیاوې لري:

- د هېواونو تر منځ د تړونونو له مخې جوړ شوي،
- په بېلابېلو برخو کې پراخه نړیوال مسوولیتونه لري،
- د کړنلارې د ٦٣ مادې له مخی د دې بنسټونو او ملګرو ملتونو تر منځ اړیکې شته. یعنې د دواړو تر منځ باید یو تړون لاسلیک شوي وي، چې ملګري ملتونه یې د عمومي ټولنې او اقتصادي او ټولنیزه شوری له لارې وڅارلی شي.

د ملګرو ملتونو او تخصصی بنسټونو د اړیکو څرنګوالی:

له ملګرو ملتونه سره د تخصصي بنسټونو د تړونونو له مخې، دا دواړه داسې اړیکې ساتي:

- یو د بل په غونډو کې د دواړو خواوو د استازو ګډون. دا استازي په غونډو کې بحثونه کولای شي؛ خو د رایې حق نه لري. د داسې اړیکو د همغږیو له پاره یوه اداري کمیټه شته، چې د ملګرو ملتونو سرمنشي

---

[۲۳٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۵۶-۱۵۵ او en.wikipedia.org/unrisd

او د تخصصي بنسټونو جګپوړي چارواکي پکې غړيتوب لري او د ټولو تخصصي بنسټونو فعاليتونه څېړي او همغږي برابروي.

- د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه يا اقتصادي او ټولنيزه شورى، تخصصي بنسټونو ته د سپارښتنو حق لرى. (د کړنلارې ۱۷ او ٦۲ مواد).
- د ملګرو ملتونو له خوا د تخصصي بنسټونو د بودجې منظوري. که څه هم چې هر تخصصي بنسټ خپله بودجه خپله جوړوي، او په خپلو مالي چارو کې بشپړه خپلواکي لري؛ خو د بودجې منظوري د ملګرو ملتونو په عمومي ټولنه پورې اړه لري او (د بودجې مشورتي ډله يا کميټه) په داسې حال کې په دې بودجه بحث کولای شي چې د تعديل واک يې نه لري.
- سره له دې چې هر تخصصي بنسټ د خپلې اړتيا له مخې، کسان په کار ګوماري او خپل کورنی جوړښت لري؛ خو دا خلک ټول د ملګرو ملتونو کار کوونکي بلل کېږي.

**دويم – د تخصصي بنسټونو غړيتوب:**

که څه هم چې په تخصصي بنسټونو کې غړيتوب، همغه د نړيوالو ټولنو يا بنسټونو مقررات دي؛ خو لږ – لږ توپيرونه شته چې دلته به راشي.

الف – اصلي غړي او نوي غړي:

تخصصي بنسټونه د اصلي او نويو غړو ترمنځ توپير کوي. اصلي هغه دي چې د تخصصي بنسټ په جوړونکې غونډه کې يې برخه اخستي او يا يې په هغه پخواني ټولنه يا بنسټ کې غړيتوب لرلای وى، چې بيا په دې اوسني بنسټ بدل شوى. ITU، FAO او IMO (هواپېژندنه) د خپلو اساسنامو په ضمايمو کې د خپلو اصلي غړو نومونه ياد کړي.

نوي غړي داسې پېژندل کېږي:

- د ملګري ملتونو هر غړى دا حق لري چې په کوم تخصصي بنسټ کې غړيتوب واخلي او له متقاضي هېواده غوښتل کېږي چې د مطلوب بنسټ د اساسنامې د منلو په اړه يو رسمي ليک ولېږي. که چېرته داسې يو هېواد چې د ملګرو ملتونو غړي نه وي، په کوم تخصصي بنسټ کې غړيتوب وغواړي، د بنسټ موافقی ته اړتيا شته. ځينې بنسټونه (IMO، ITU او داسې نور) ٦٦.٦٦% رايې غواړي؛ خو ځينې نور لکه ICAO ان ۸۰% رايې غواړي او ځينې لکه WHO سل په سلو کی رايی.
- د تخصصي بنسټونو کړنلارې له متقاضي هېوادونو څخه غواړي، چې په هر بنسټ کې د خپل غړيتوب کارونه، په بنسټ کې د ننه پای ته ورسوي.

ب – د تخصصي بنسټونو بين الدولي توب:

عمومي قاعده دا ده چې يوازې دولتونه په نړيوالو ټولنو کې غړيتوب اخستلای شي؛ خو ځينې استثنات شته. د مثال په توګه په ILO کې په دولتونو سربېره د کارګرانو او د کار د خاوندانو استازي هم شته، يا

په ITU، IMO (هواپېژندنه) او د سمندرونو په نړیواله ټولنه کې، تر قیمومیت لاندې سیمې هم استازي لرلای شي. دا استازي په ITU او د سمندرونو نړیواله ټولنه کې د رایې حق نه لري؛ خو په ځینو نورو لکه IMO (هواپېژندنه) کې د رایې حق هم لري.

ج – په تخصصي بنسټونو کې د غړیتوب ځنډیدل او پای ته رسیدل:

په تخصصي ټولنو کې د غړیتوب ځنډیدلو یا پای ته رسېدلو احکام، له نورو نړیوالو ټولنو سره ډېر توپیر نه لري. ځینې تخصصي بنسټونه لکه ILO، له ملګرو ملتونو څخه د کوم غړي وتل یا د غړیتوب ځنډیدل، له ILO څخه هم د وتلو یا ځنډیدلو په شان پېژني.

له WB، IMF او IDA هر یو څخه وتل، له دوو نورو څخه هم د وتلو معنی لري. په دې سربېره پولي او مالي بنسټونه، هر هغه غړي چې د دې ټولنو، د اساسنامی احکام په پام کې ونه نیسي، ویستلی (اخراج) هم شي.

دریيم – د تخصصي بنسټونو ارګانونه:

ټولې نړیوالې ټولنې او په ځانګړي توګه د ملګرو ملتونو تخصصي بنسټونه، درې اداره کوونکي ارګانونه لري: عمومي ټولنه، اجراییه شوری او دارالانشا. عمومي ټولنه د هر بنسټ د ادارې اصلي ځای او پرېکړه کوونکی ارګان دی چې له غړو هېوادونو جوړ دي او لویې پرېکړې کوي. اجرائیه شوری د هر بنسټ دویم لوی ارګان دی چې د یو شمېر هغه غړو له خوا اداره کېږي چې عمومي ټولنه یې ټاکي. دارالانشا د هر بنسټ ورځنې چارې مخ ته بیایي.

الف – عمومي ټولنه:

- نوم اېښودنه: د ځینو بنسټونو د اصلي اداره کوونکي ارګان نومونه، یو تر بله فرق کوي. ځینې یې عمومي ټولنه بولي ( لکه WHO، ICAO )؛ په داسې حال کې چې ځینې نور عمومي کنفرانس ورته وایی ( لکه IMO، ITU، UNIESCO، WFP، ILO ) او مالي بنسټونه (IBRD، IMF، IDA او IFC) خپلې اصلي مرکزي ارګان مدیره هیات یا د رییسانو کمیټه بولي.

- جوړښت او بحثونه: سره له دې چې ټول دولتونه د تخصصي بنسټونو په مرکزي اصلي اداره کوونکو ارګانونو کې غړیتوب لري؛ خو په بېلابېلو بنسټونو کې په نوموړي ارګان کې د غړو دولتونو شمېر یو له بله توپیر کوي. په ILO کې په دولتونو سربېره د کارګرانو او د کار د خاوندانو استازي هم شته. پولي او مالي بنسټونه له غړو دولتونو غواړي چې بنسټ ته یو اصلي استازی او یو مرستیال (نایب) استازی ولېږي.د IMO (هواپېژندنه) په عمومي کنفرانس کې د غړو دولتونو د هواپېژندنې د دفاترو او ټولنو مشران برخه اخلي، په داسې حال کې چې په ډېرو بنسټونو کې د هر دولت یو استازی ګډون کوی.

- د تخصصي بنسټونو غونډې: د تخصصي بنسټونو اصلي اداره کوونکي ارګانونه معمولاً په کال کې یو ځل غونډه کوي لکه (WFO، WHO، WB او نور)؛ خو ځینې داسې هم شته چې په دوو کلونو کې یوه غونډه جوړوي( لکه UNESCO او د سمندرونو نړیواله ټولنه).

ځینې بنسټونه لکه ITU، د پست نړیواله ټولنه او IMO (هواپېژندنه) د خپلو غونډو له پاره ټاکلی مهالویش نه لري او په هره غونډه کې د خپلې بلې غونډې وخت او ځای ټاکي؛ خو هغه حداقل یې ورته ټاکلی، د بیلګې په توګه ICAO په هرو دریو کلونو کې او IMO (هوا ېژندنه) په هرو ۴ کلونو کې او د پست نړیواله ټولنه او ITU په هرو ۵ کلونو کې هرومرو یوه ناسته جوړوي. د ډېرو تخصصي بنسټونو مرکزي ارګانونه د استثنایي غونډه پرېکړه هم کولای شي.

- د رایې ورکولو څرنګوالی:ـپه تخصصي بنسټونو کې هر غړی هېواد یوه رایه لري. پرېکړې په ساده اکثریت یا هغه اکثریت کېږي چې په اساسنامه کې یې راغلي وي.

په مالي او پولي بنسټونو کې رایه توپیر لري. د بېلګې په توګه په IMF کې هر غړی د ۲۵۰ رایو لومړنی حق لري؛ خو د خپلې هرې اضافي ونډې له پاره چې ۱۰۰۰۰۰ $ ده، یوه بله رایه ترلاسه کوي. په WB او اړوندو ارګانونو کې هر غړی دولت د خپل هر سهم له پاره یوه رایه لري.

- د اصلي اداره کوونکي ارګان ونډه (نقش): اصلي اداره کوونکی ارګان چې په بېلابېلو نومونو یادېږي لکه عمومي ټولنه، عمومي کنفرانس او مدیره هیات اصلي پرېکړې کوي او د بنسټ ټول کارونه همغږي کوي.

ب – اجراییه ارګان: اجراییه ارګانونه په تخصصي بنسټونو کې هغه کارونه مخ ته وړي چې اصلي اداره کوونکو ارګانونو منظور کړي وي.

نوم ایښودنه: دا ارګان په ځینو بنسټونو کې اجراییه پلاوی (لکه IMO او WFP)، په ځینو کې مدیره هیات (لکه WHO، UNESCO او UPU) او په ITU کې اداري مجلس بلل کېږي.

غړیتوب: په اجراییه ارګانونو کې غړي یا د جغرافیایي وېش، یا په اړونده برخو کې د هېوادونو د ارزښت او یا د بنسټ په پانګه کې د مالي ونډو له مخې ټاکل کېږي.

ج – دارالانشا: د تخصصي بنسټونو د دارالانشاګانو جوړښت، دندې، مصونیتونه او امتیازات د نورو نړیوالو ټولنو لکه UN په شان دي. د دې بنسټونو مشران په ځینو کې سرمنشي، په ځینو کې اداري مشر (لکه IMF)، په ځینو کې رییس (لکه WB) او په ځینو کې لوی مدیر بلل کېږي.

څلورم– د تخصصي بنسټونو وېش: تخصصي بنسټونه د ملګرو ملتونو خپلواکه بنسټونه دي چې نړیوالې ځانګړې دندې مخ ته وړي. له ملګرو ملتونو سره تړونونه لري او هر یو خپل ځانګړی جوړښت، غړي او قوانین لري. د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شوری له ملګرو ملتونو او خپل منځ کې د تخصصي بنسټونو چارې همغږي کوي. ځینې تخصصي بنسټونه ان د ملګرو ملتونو له جوړښت څخه مخکې فعال وو؛ خو ډېر وروسته د ملګرو ملتونو له خوا او یا په خپلواکه توګه جوړ شوي. دا بنسټونه د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شوری ته راپور ورکوي.

دا بنسټونه په ۴ برخو وېشل کېږي:

- ترانسپورت او مخابرات لکه ICAO، د سمندرونو نړیواله ټولنه، ITU او UPU
- ټولنیزه چارې لکه ILO، WHO، WFP

- په مالي او اقتصادي برخو کې WB او ډله یې، IMF او WTO.
- علمي او فرهنگي برخی لکه UNESCO، IAEA او IMO (هوا پېژندنه).

اوس – اوس ملگرو ملتونه ١٦ تخصصي بنسټونه لري. IAEA یوه نړیواله ټولنه ده چې په دی نظام کې د ملگرو ملتونو تر نظر لاندې کار کوي؛ خو تخصصي بنسټ نه شمېرل کېږي.WTO چې د GATT ځای نیولی هم په دې تخصصي بنسټونو کې نه راځیږ[٢٣٥]

دلته به د ملگرو ملتوو تخصصی بنسټونه په نوبت وپیژندل شی:

### ١ -- د خوراکي توکو او کرنې ټولنه

**Food and Agriculture Organization (FAO)**

(ا قتصادی اوتولنیزه شوری)

په کال ١٩٠٥ کی ایتالیا د لومړی ځل له پاره، د داسی یوی نړیوالی ټولنی د جوړیدو هڅی پیل کړی چی د کرنی او کرنیزه توکو په برخه کی لگیا شی. لږ وروسته په روم کی د کرنی د نړیوالی ټولنی ( موسسه) بنسټ کیښودل شو چی د هیوادونو تر منځ، د حیوانی او کرنیزه توکو د اغیزمن کر او پالنی په برخه کی ، د اطلاعاتو د راگړی- ورکړی، د نویو کرنیزه توکو د کرلو د پراختیا او د بوټو او څارویو له ناروغیو سره د مبارزی د وسایلو، امکاناتو او دارو درمل د اغیزمنیا د ډیرولو، دندی مخ ته ویسی او د کار او روغتیا د نړیوالوټولنو سره نزدی اړیکی ولری.

دې ټولنې یوه عمومی غونډه، یوه دایمی کمیټه او یوه اجراییه برخه درلوده او ویل کیږی چی ډیر بریالی گامونه یی اوچت کړل.

هغه وخت چی د ولسونو ټولنه جوړه شوه، د کرنی نړیواله ټولنه د یو تړون له مخی، د ولسونو ټولنی یوه مشورتی برخه وگرځیده. په دویمه نړیواله جگړه کی، د اروپا کرنی او محصولاتو ته درانه زیانونه واوښتل او په نړۍ کی د کرنیزه توکو صادرات او واردات له ستونزو سره مخامخ شول، او له همدی امله په نړۍ کی د کرنی او خوراکی توکو د چارو د سمون او رغون له پاره، د یوی نړیوالی ټولنی اړتیا خورا اوچته شوه .

د خوراکي توکو او کرنې د یوی نړیوالی د جوړېدو طرحه په لومړي ځل، د کال ١٩٤٣ په مې کې، د امریکا ولسمشر فرانکلن روزولت ، د خوراکي توکو او کرنې هغه نړیوال کنفرانس ته وړاندې کړه چې په ویرجینیا کې جوړ شوې و.

په دې کنفرانس کې چې ٤٤ هېوادونو برخه لرله، په نړۍ کې د بېوزلۍ او له لوږې سره د مبارزې د پاره، د یوی نړیوالې ټولنې د جوړېدو په اړتیا خبرې وشوې او یویډلی دنده واخسته چی د ټولنی تگلاره او اساسنامه ولیکی.

---

[٢٣٥] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ١٧٠-١٦٧

د ټولنې غړو د کال ۱۹۴۵ په اکتوبر کې په کیوبک (کانادا) کې غونډه وکړه او د خوراکي توکو او کرنېټولنی یا FAOاساسنامه یې لاسلیک کړه.

د اساسنامې له لاسلیک وروسته، FAO په رسمي ډول په فعالیت پېل وکړ چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د ملګرو ملتونو لومړنی تخصصي بنسټ بلل کېږي( ۱۹۴٦ د دسمبر ۱۴).

کله چې د خوراکي توکو او کرنېټولنه جوړه شوه، پخواني موسسې د اروپا د سیمه ییز دفتر بڼه غوره کړه. دا پخوانی دفتر په کال ۱۹۴۸ کې په رسمي توګه ړنګ او ټول مسوولیتونه یې FAO ته وسپارل شول.

غړیتوب: د ملګرو ملتونو او د هغی د ټولو تخصصی بنسټونو غړی د FAO غړیتوب تر لاسه کولای شی.هر متقاضی دولت یا نړیواله ټولنه باید د غړیتوب له پاره د عمومی کنفرانس ٦٦.٦٦%رایه واخلی.

اهداف: FAO غواړي چې له نړیوال اقتصادي پرمختګ سره جوخت، د مرستې او د عامه هوساینې د پراختیا له لارې د پرمختیایي هېوادونو سره د کرنې، ځنګلونو او سمندري خوړو د عصري کولو، ټولو خلکو ته د مناسبو خوړو د برابرولو او وېش، په نړۍ کې د کرنیزه حاصلاتو د ډېروالي، له سوتغذي سره د مبارزې په برخه کې، د اطلاعاتو د خپرولو او خوړنیز امنیت په کار کې مرستې او لارښوونې وکړي.[۲۳٦]

د دی اهدافو لنډیز داسی دی:

- د خلکو د ژوندانه د معیارونو او خوراک ښه والی،
- د کرنیزه او نورو خوراکی توکو د تولید او ویش سمون او پیاوړتیا،
- د کلیوال نفوس د ژوندانهښه کول،
- د نړیوال اقتصاد له پراختیا او پرمختیا سره مرسته.

FAO د کرنی، خوړنیزه توکو او تغذیی په برخو کی د معلوماتو او ارقامو د تولولو، شننی ( تحلیل)، تفسیر او خپراوی مسوولیت هم په غاړه لری، د لوړی او بیوزلۍ د ورکاوی له پاره پانګونه هڅوی، د کلیو د پراختیا سره مرسته کوی او په نړۍ کی له سمندری خوړو، ځنګلونو او طبیعی شتمنیو څخه د استفادی تګلاری او کړنلاری جوړوی.[۲۳۷]

جوړښت:

عمومی کنفرانس، شوری او دارالانشا د FAO اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی:

۱ – عمومي کنفرانس: عمومي کنفرانس د FAO تر ټولو لوړ ارګان چې د غړو هېوادونو له استازو جوړ دی، په کال کیی وځل په روم غونډه کوي. د FAO د کنفرانس اصلي او څارونکي غړي کولای شي چې دې غونډو ته خپل استازي ولېږي؛ خو یوازې اصلي غړي د رایې حق لري.

[236] fa.wikipedia.org
[237] Intl Organizations, Conference and Treaties,page ۱۹۷

عمومي کنفرانس د هغو نړیوالو ټولنو استازي، چې موخې او فعالیتونه یې د FAO له فعالیتونو سره یو شان دی، غونډو ته غوښتی شی؛ خو د رایې حق نه لري. کنفرانس د FAO تګلاری او کړتلاری ټاکی؛ بودیجه، پروګرامونه او مالی او اجراییوی اصول تصویبوی او غړو دولتونو ته د کرنیاو خوراکی توکو په هکله مشوری ورکوی.

۲ – شوری: د FAO اجراییوي ارګان دی چې ۴۹ غړي یې، د عمومي کنفرانس له خوا د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي او هغه دندې سر ته رسوي چې عمومي کنفرانس ورته ټاکلي وي. شوری د عمومي کنفرانس د دوو غونډو تر منځ، د FAO د مدیره هیات په شان، په نړۍ کې د کرنې او خوړو وضع څېړي او د ښو پرمختګونو له پاره ټولو هېوادونو او د ملګرو ملتونو اړوند دفاترو ته لازمې سپارښتنې استوي. شوری ٦ کمېټې لري: مالي، پلان جوړونه، د نړۍ خوړنیز امنیت،ښکار، کرنه او ځنګلونه.

د دې شوری غړي په لاندې اوو سیمو پورې اړه لري:

- عربي هېوادونه، ۱۲ څوکۍ،
- منځني ختیځ او اسیا، ۹ څوکۍ،
- اروپایي هېوادونه، ۱۰ څوکۍ،
- لاتینه امریکا، ۹ څوکۍ،
- منځنۍ اسیا، ٦ څوکۍ،
- شمالي امریکا، ۲ څوکۍ،
- د جنوب لوېدیځ ارام سمندر هېوادونه، ۲ څوکۍ.

۳ – دارالانشا: د FAO دارالانشا په سر کې سرمنشی ځای لری چې د عمومي کنفرانس له لوري د شپږ کلونو له پاره ټاکل کېږي. دارالانشا د FAO د ټولو پروګرامونو د تطبیق مسوولیت لری او سرمنشی د عمومی کنفرانس د پریکړو له مخی د سیمه ییزو دفترونو د جوړولو واک لری.

دارالانشا ٦ برخې لري: د عمومي اړیکو او حقوقي چارو دفتر، د پروګرامونو او بودجې دفتر، فني څانګه، اقتصادي – ټولنیزه اداره، د سمندري خوړو څانګه او اداري او مالي دفتر. دارالانشا د چارو د سم پرمختګ له پاره په دی کارونو لګیا ده: د کرنی ملاتړ؛ ټولنیز او اقتصادی پرمختګ، ځنګلونه؛ فزیکی، مالی او انسانی سرچینی؛ اړیکی او اطلاعات؛ ژوندچاپیریال او د طبیعی منابعو مدیریت او تخنیکی مرستی او ګډ کار.[۲۳۸]

فعالیتونه: FAO له وروسته پاته هېوادونو سره د کرنې او خوړو په برخه کې عملي مرستې کوي. په دې برخو کې د سیمه ییزه موسساتو په مرسته څېړنې کوي، ځوانان زده کړو ته هڅوي؛ د خوړو د نړیوال کنفرانس، د سمندري خوړو نړیوال کنفرانس او د ځمکې د اصلاحاتو نړیوال کنفرانس په شان غونډې جوړوي .

د FAO د پانګونې او کلیوالي پراختیا مرکز، له پرمختیایي هېوادونو سره د پانګونو د طرحو د جوړولو په برخه کې مرسته کوي، د کرنې او خوړو په هکله اطلاعات تبادله کوي، هېوادونو ته د خوړو د احتمالي بحرانونو په وړاندې

---

[۲۳۸] سازمانهای بین المللی. نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۹-۱۹۸

خبر ورکوي، د خوړو د امنیت طرحې جوړوي، د اصلاح شوو تخمونو او کیمیاوي سرې د تولید، وېش او کارونې په برخه کې مشورې ورکوي او د ملګرو ملتونو په مرسته، د خوراکي توکو مازاد د نړۍ په بېوزله سیمو او خلکو وېشي. نړیوال بانک د پانګونو په برخه کې، د FAO لوی مالی مرستندوی دی .[۲۳۹]

مقر: د FAO مرکزي دفتر په روم (ایتالیا) کې دی او دا سیمه ییزه دفترونه لري: اروپا (ژنیو)، لاتینه امریکا او کارابین (سانتیاګو)، افریقا (اکرا) آسیا او پاسفیک (بنکاک) او نژدې ختیځ (قاهره). دا ټولنه همدا شان په شمالي امریکا (واشنګټن) او ملګرو ملتونو (نیویارک) کې هم د اړیکو دفاترونه لري.

په FAO کې د افغانستان غړیتوب:

افغانستان په کال ۱۹۴۹ (۱۳۲۸ هـ ش) کې د FAO غړیشو. FAO له افغانستان سره په دې برخو کې مرسته کوي:

- د کرنې سکتور او ژوند چاپېریال بیاجوړونه،
- د خوراکي توکو د ساتنې ښه والی،
- د کرنیزې پراختیا مرسته،
- د کرنې سکتور د ظرفیت لوړول،
- له هغه بزګرانو سره مرسته چې بیا په پښو دریدل غواړي.

FAO په افغانستان کې د کرنې او اوبو لګولو، اوبو او برېښنا او د کلیو پراختیا وزارتونو سره د نژدې کار کوي او د کابل په اصلي دفتر سربېره، په مزارشریف، کندز، جلال آباد، هرات، کندهار، فیض آباد او بامیان کې سیمه ییز دفترونه لري.[۲۴۰]

## ۲ -- د ملکي هوایي چلند نړیواله اداره

**International Civil Aviation Organization( ICAO)**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

په اوسنۍ نړۍ کې ملکي هوایي چلند> د یو هېواد په سرحداتو کې د ننه نه شي ایساریدی او یوه نړیواله مسله جوړه شوې. په کال ۱۹۱۳ کې ۱۹ هېوادونه د هوایي چلند د همغږیو په هکله، په پاریس کې سره جرګه شول چې پایله یې نه درلوده. له لومړی نړیوالې جګړې لږ مخکې دا مسله، د هوایي چلند د تخنیکي پرمختګونو له امله د سولی په اړه په (ورسای) کنفرانس کې وڅېړل شوه.

په کال ۱۹۱۹ کې د پاریس هوکړه برابره او د لاسلیک کوونکو هېوادونو ترمینځ، د هوایي چلند نړیوال کمیسیون International Commission For Air Navigation( ICAN)جوړ شو. د هوایي چلند نړیوال کمیسیون حق

---

[۲۳۹] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۷۱

[۲۴۰] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۹

درلود چې د اړتیا په وخت کې، د پاریس د هوکړې متن اصلاح او د هوایي چلند په برخه کې فني او مسلکي مقررات جوړ کاندي.

په دوهمه نړیواله جګړه کې، د نړۍ ۵۲ هېوادونه د الوتکو د تولید د صنایعو د ګړندي پرمختګ او د هوایی تګ-راتګ او وړلو- راوړلو د بیساری ډیرښت له امله، په شیکاګو (امریکا متحده ایالات) کې جرګه شول (۱۹۴۴). شوروي اتحاد په دې ډله کې نه و. جرګې د هوایي مسافرتونو او خدماتو له پاره د یوې نړیوالې ټولنې د جوړېدو پرېکړه وکړه چې په لومړی سر کی یی ځینی مشورتی واکونه درلودل او پیکاو PICAO نومیده؛ خو کله چی متعاقدو هیوادونو د کال ۱۹۴۷ د اپریل په څلورمه هوکړه وکړه، د ملکی هوایی چلند نړیواله اداره International Civil Aviation Organization ( ICAO)جوړه شوه چی وروسته یی له ملګرو ماتونو سره د پیوستون ترون لاسلیک کړ او د ملګرو ملتونو د یوه تخصصي بنسټ په توګه ومنل شوه. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چی د دی ټولنی په جوړیدو سره، PICAO د مینځه لاړه.[۲۴۱]

اهداف: د شیکاګو کنوانسیون۴۴ ماده د ICAO د اهدافو په برخه کی ده چی لنډیزیی دا دی:

دا ټولنه غواړي چې خوندي، منظم، ګټور او ارزانه هوایي حمل او نقل، ته د خلکو اړتیاوې پوره او په ټوله نړۍ کې د نړیوال ملکي هوایي هوایي چلند منظمه او خوندي وده او پراختیا تضمین کاندی. ICAO د سوله ییزه مقاصدو له پاره د الوتکو د طراحي او فعالیت هنر، د هوایي شرکتونو پراختیا، د الوتکو د لارښوونې د وسایلو او هوایي ډګرونو جوړول هڅوي او د دې له پاره:

- هغه مقررات او نړیوال وړاندیزونه تصویبوي چې د الوتکو او د هغوی د تجهیزاتو د طراحي او فعالیت؛ د پیلوټانو او د الوتنې د عملې، د هوایي ترافیک د کنټرول د مسوولانو، د ځمکنیو خدماتو د مسوولینو او په هوایي ډګرونو کې د امنیت د خوندي کولو د پرسونل له پاره اړین دي،
- د الوتنو او هوایي چلند هغه مقررات یې تصویب کړي، چې د الوتکو د مخابراتو په سیستم، راډیویي فریکانسونو او امنیتي خوندیتوب پوری اړه لري،
- د ژوند په چاپېریال باندې د ملکي هوایي چلند، د فعالیت د اغېزو په برخه کې کار کوي او زیار باسي چې د الوتکو غږونه کم شي،
- هڅه یې کړې چې له سرحداتو څخه د الوتکو د تګ راتګ، مسافرینو، عملې، بګاژ (بکسونه)، پست او لویو بارونو په برخه کې، ګمرکی مقررات ستندرد کړي او د مهاجرت، روغتیا او تشریفاتو په برخه کې آسانتیاوې راولي،
- ICAO زیار باسي چې د نړیوال هوایي چلند امنیت ډېر خوندي وي. د کال ۲۰۰۱ د سپتمبر له پېښې (۹/۱۱) څخه وروسته یې، د هوایي امنیت پروګرام او د هوایي چلند د امنیت اصول جوړ کړل او اوس د سیمهی یزه همکاریو د ملاتړ له پاره، د امنیتي زده کړو لس مرکزونه لري.

---

[۲۴۱] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص۲۴۷-۲۴۶

- ICAO په ملکی هوایی چلند پوری اړوند، د هغه نړیوالو لانجو په هکله مشورتی نظر ورکوی چی دوی ته استول شوی وی،
- ICAO د هوایی چلند د ټکټونو او خدماتو د بیو د توحید په برخه کی کار کوی، د ناسالمو سیالیو مخه نیسی او هغه شکایتونه اوری چی ملکی هوایی چلند له خطرونویا ستونزو سره مخامخ کولای شی.

غړیتوب: د شیکاگو کنوانسین دوه ډوله غړی پیژنی:

۱ – اصلی غړی: هغه دی چی شیکاگو کنوانسیون یی لاسلیک کړی وی،

۲ – نور غړی چی دوه ډوله دی:

۱/۲ – هغه هیوادونه چی په دویمه نړیواله جګړه کی ناپییلی وو، یا د ملګرو ملتونوو د جوړیدو په وخت کی خپلواکه شوی نه وو،

۲/۲ – هغه هیوادونه/ دولتونه چی په دویمه نړیواله جګړه کی له ( محور) هیوادونو سره ملګری وو او په هیڅ ټولنه کیبی د ګډون یا غړیتوب حق نه درلود. که چیری لومړنیو متعاقدو هیوادونو منلی وای، غړیتوب یی اخستی شوای. له همدی امله محور هیوادونه ډیر وروسته غړی شول.

د ICAO د غړیتوب له پاره باید متقاضی هیواد غوښتنلیک واستوی او ټولنه یی ومنی. که چیرته کوم هیواد له غړیتوبه وتل غواړی، باید رسمی پاڼه لاسلیک کوی او یو کال انتظار وباسی. ICAO خپل غړی ایستلی هم شی.[۲۴۲]

جوړښت: عمومی ټولنه، شوری او دارالانشا او څو تخصصی دفترونه دICAO مهم اداره کوونکی ارګانونه دی:

عمومي غونډه: عمومي غونډه د ICAO تر ټولو لوړ ارګان دی، چې د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ او په دریو کلونو کې یوځلې غونډه کوي. په دې غونډه کې پرېکړې د رایو په اکثریت کېږي او هر غړی د یوې رایې حق لري.عمومي ټولنه د ICAO کړنلاری او تګلاری ټاکی، بودجه تصویبوی، رییس او لوی مامورین ټاکی، د اړتیا په وخت کې په اساسنامه کې بدلونونه راولي، فرعي کمیسیونونه جوړوي او د مالي چارو مسوولیت په غاړه لري. لنډه دا چې ټول هغه کارونه چې د ICAO شوری ته نه وي محول شوی، د عمومې غونډې په وظایفو کې راځي.

شوری: شوری د ICAOدایمی دفتر دی چی د ټولنی ټولی چاری مخ ته وړی او عمومی غونډی ته مسوولیت لری. شوری ۳۳ غړي لري چی د عمومي غونډې له خوا د درې کلونو له پاره ټاکل کېږي.

د شوری غړي له هغه هېوادونوڅخه ټاکل کېږي، چې په هوایي حمل او نقل کې ډېر فعال وي، د هوایي ټرانسپورټي وسایلو په برابرولو کې د پام وړ ونډه ولري او هوایي تاسیسات او شبکې او لویې هوایي کرښې ولري. په دې ټاکلو کې جغرافیایي وېش هم په پام کې نیول کېږي. شوری د ICAO سرمنشي ټاکي، مالي مسایل

---

۲۴۲ سازمانهای بین المللی، نامزد داکترمحمد اکبر زاهد، ص ۱۷۹-۱۷۸

څېړي، د نړیوالو هوایي خدماتو د پراختیا د څرنګوالي په اړه اطلاعات خپروي، د هوایي حمل و نقل له کمېټې سره ګډ کار کوي او د هوایي چلند د فعالیت او همغږیو نړیوال ستندردونه جوړوي.

د شیکاګو کنوانسیون له مخې، د هوایي چلند په حدودو کې ناندرۍ پای ته رسوي او د خپل قضایي واک له مخې د غړو هېوادونو تر مینځ، په اختلافي مسایلو کې پرېکړه کوي. که چیرته کوم هېواد وغواړي دا پرېکړې په عادي محاکمو یا حتی د عدالت په نړیواله محکمه کې هم بیا کتل کېدای شي.[۲۴۳]

دارالانشا: د ICAO اجراییوی دفتر چی یو منشی او د بیلابیلو هیوادونوڅخه یو شمیر کارپوهان او مامورین لری. د ټولنی د منشی ټاکل او ګوښه کول او د نورو مامورینو د ټاکلو اصول د شوری په واک کی دی. دارالانشا پنځه څانګی لری:

- د هوایی چلند دفتر چی ۱۵غړی لری،
- د هوایی حمل او نقل اداره چی ۳۰غړی لری،
- حقوقیڅانګه چی د ټولو غړو استازی پکی وی،
- د تخنیکی همکاریو دفتر،
- خدمات.

دا پنځګونی څانګی هره یوه خپل مدیر لری چی د ICAO منشی یا مشر ته مسوول دی. د ICAO دارالانشا په پاریس، قاهره، بنکاک، ولیما، مکسیکو او ډاکار کی ٦ سیمه ییز دفترونه لری.[۲۴۴]

کمیسیونونه او کمېټې:

ICAO دا کمېسیونونه او کمېټې لري:

د هوایي چلند کمیسیون، حقوقي کمېټه، د هوایي چلند د خدماتو ګډه کمېټه، مالي کمېټه، د پرسونل د چارو کمېټه، د غیرقانوني مداخلاتو کمېټه او فني کمېټه.

فعالیتونه: ICAO تر اوسه د ملکي هوایي چلند د تاسیساتو،ځمکني او هوایي پرسونل، د هوایي کرښو د نظم او خوندیتوب، د انساني او سوله ییزه مقاصدو له پاره د الوتکو د استعمال او د هوایي کرښو او هوایي ډګرونو د پرمختیا او پراختیا له پاره ډېرې پرېکړې عملي کړي دی. ICAO په عین وقت کې په دې برخو کې هم لګیا دی: د نړیوال هوایي چلند د فني مسایلو او عمومي اصولو پراختیا، د نړیوال خوندیتوب معیارونه، د پیلوټانو او هوایي عملې چلند، د سوداګریزه الوتکو په واسطه د خطرې بارونو وړل، په هوایي ډګرونو کې مناسب چلند او د غیرقانوني موادو او نشه یي توکو د وړلو مخنیوی .[۲۴۵]

---

[۲۴۳] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص ۲۹۸او پوهاند محمد بشیر دودیال، د ملکی هوانوردی سازمان، تاند وییپانه

[۲۴۴] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۰

[۲۴۵] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص ۲۴۹

ICAO په څو پرمختیايي هېوادونو کې مسلکي ښوونځي لري، چې په زرګونه ځوانان يې روزلي او اوس هغه سپوږمکيز سيستم جوړوي چې د هوايي چلند د مخابراتو، لارښوونې، لارموندنې او هوايي ترافيکو مديريت په برخه کې ډېره نوي ټکنالوژي وکاروي.

ICAO د هوايي حمل او نقل له نړيوالې ټولنې، د هوايي ډګرونو د نړيوالې شورى، د پيلوټانو د اتحاديو له نړيوال فدراسيون او د الوتکو د خاوندانو او پيلوټانو د ټولنو له نړيوال شورى سره همکاري کوي .[۲٤٦]

**په ICAO کې د افغانستان غړيتوب:**

افغانستان په کال ۱۹۴۴ (۱۳۲۳ هـ ش) کې، چې همغه د ICAO د جوړېدو کال دی، د دې ټولنې غړيتوب ترلاسه کړ. په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل او بيا د مجاهدينو او طالبانو د خونړيو کورنيو جګړو په وخت کې، دا غړيتوب ځنډيدلی و.

په افغانستان کې له نويو بدلونونو او د حامد کرزي په مشري د انتخابي دولت له جوړېدو وروسته، داسې هلې ځلې پېل شوې چې افغانستان بيا د ICAO غړيتوب واخلي او خپل د ملکي هوايي چلند وزرات، د ICAO له معيارونو او ستندردونو سره برابر کاندي.

د کال ۲۰۱۰ د اکتوبر په ۷، يو افغاني پلاوي د ICAO د يوې غونډې په څنډو کې، د دې ټولنې له سرمنشي سره وکتل او پرېکړه وشوه چې په ICAO کې دې د افغانستان عضويت بېرته اعاده شي .[۲٤۷]

---

[۲٤٦] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۱۷۹-۱۷۸

[۲٤۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۱

## ۳ -- د کرنې پراختیا نړیوال صندوق

**International Fund for Agriculture Development (IFAD)**

(اقتصادی او ټولنیزه شوری)

IFAD یوڅواړخیزه مالي بنسټ دی چې په کال ۱۹۷۴ کې په روم (ایټالیا) کې، د خوړو نړیوال کنفرانس په وړاندیز، په دې نیت جوړ شو چې په پرمختیایي هېوادونو کې، له کلیوالي بېوزلتیا او لوږې سره مبارزه وکړي. په کال ۱۹۷٦ کې ۹۱ هېوادونو د IFAD د جوړېدو هوکړه لاسلیک او اساسنامه تصویب کړه چې د کال ۱۹۷۷ د نومبر په ۳۰ اجرایي شوه او صندوق د همدې کال د دسمبر په ۴ رسماً په فعالیت پیل وکړ.

غړیتوب: IFAD درې ډوله غړي لري: لومړی د اقتصادي همکاریو د پراختیا ټولنې یا OECD غړي، دویم د تېلو د صادرونکو هېوادونو ټولنې یا OPEC غړي او درېیم ټول پرمختیایي هېوادونه.

هغه هېوادونه چې غواړي نوي له IFAD سره یوځای شي، د مشرتابه شوری له پرېکړې وروسته منل کېږي.

اهداف: د IFAD اصلی هدف د خوراکی توکو( مواد) د تولید، زیرمو او ویش په برخو کی، د هیوادونو د پانګونو اغیزمنتوب دی. IFAD یوازنی نړیوال بنسټ دی چی د کرنی پراختیا له پاره د سرچینو د موندلو تر څنګ، په پرمختیایي هېوادونو کې، د کرنې او څارویو د سکتور څخه د مالي ملاتړ له لارې، له بېوزله کلیوالو کورنیو سره مرسته کوي چې د خپلو تولیداتو د ډېرولو له لارې، خپل عواید ډېر او خپل خواړه ښه کاندی. IFAD همداراز د خوراکي توکو د تولیدي نظام د اصلاح، د کرنیزه چارو د پراختیا او له بېوزله خلکو سره چې۷۵%یې په کلیو کې اوسي، د خوراکي توکو د وېش په برخو کې کار کوي .[۲۴۸]

لنډه دا چی IFAD د خوراکی توکو د تولید د نظام د سمون، ملاتړ او پراختیا له پاره کار کوی، او هڅه یی دا ده چی د هغه بزګرانو او اړو کسانو له پاره کارونه ومومی چی خپلی زمکی نه لری. IFAD همداراز د کرنی او خوراک ( تغذیه) په برخو کی په علمی کارونو او څیړنو بوخته ده.

مالي سرچینې: د دولتونو د خپلې خوښې مرستې،ځانګړې مرسته کوونکي، د پخوانیو پورونو بېرته ورکړه او د پانګونو ګټې د IFAD غټې مالي سرچینې دي. IFAD له IBRD، سیمه ییزه پراختیایي بانکونو او د ملګرو ملتونو او نورو سیمه ییزه مالي بنسټونو سره په ګډه کار کوي. دا هغه لوی بنسټونه دي چې د IFAD مالي ملاتړ کوونکی بلل کېږي .[۲۴۹]

جوړښت: مشرتابه شوری، اجراییه شوری او دارالانشا د IFAD اداره کوونکی ارګانونه دی:

مشرتابه شوری: مشرتابه شوری د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه او تر ټولو لوړ مقام ګڼل کېږي چی په کال کی یوځلې غونډه کوي. د IFAD د تګلارو ټاکل، د اساسنامې تفسیر او تعدیل، د غړیتوب منل، د غړیتوب ځنډول، د صندوق د مشر ټاکل او د غړو په ډلبندی کې بدلون د مشرتابه شوری له واکونو څخه دي.

---

[۲۴۸] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص۶۸-۶۷

[۲۴۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص۱۷۸-۱۷۷

اجراییه شوری: اجراییه شوری د IFAD دویم مهم اداری ارگان دی چی ۱۸ غړی لری: ٦ د OECD له ډلی، ٦ د OPEC او ٦ د پرمختیایی هیوادونو په استازیتوب چی ټول دری کاله کار کوی. اجراییه شوری د IFAD د ورځنیو چارو د عملي کولو مسوولیت لري؛ پروګرامونه، پروژی او بودجه جوړوی، د صندوق تګلاری برابروی او په هغه مسایلو کار کوی چی د مشرتابه شوری له تصویب وروسته عملی کیږی .

د اجراییه شوری پرېکړې د حاضرو غړو ٦٦.٦٦%رایې غواړي. دا شوری د IFAD کارونه څاري او پورونه او بلاعوضه مرستې تصویبوي.

دارالانشا: دارالانشا د IFAD ټولی ورځنی چاری مخ ته وړی. د دارالانشا په سر کی منشی ځای لری چی د څلورو کلونو له پاره د مشرتابه شوری له خوا ټاکل کیږی. دا منشی له رایی پرته د اجراییه شوری ریاست هم په غاړه لری.

دارالانشا ٦ عملیاتی څانګی لری: مالی خدمات، شخصی خدمات، د پروژو مدیریت، اقتصاد او پلان جوړونه، عمومی چاری او حقوقی خدمات.[۲۵۰]

مقر: د IFAD مرکز په روم (ایتالیا) دی

په IFAD کې د افغانستان غړیتوب: افغانستان په کال ۱۹۷۸ کې د IFAD غړیتوب ترلاسه کړ؛ خو د شوروي اتحاد د یرغل په توسن یې، د IFAD له مرستو څخه ګټه وانخسته. هغه یوازې کار چې IFAD په افغانستان کې کړی، کلیوالو ته د کمکیو پورونو او د څارویو د ساتنې د پروګرام د ملاتړ له پاره، د مالي سرچینو موندل دی.[۲۵۱]

### ۴ - د کار نړېواله ټولنه(International Labour Organization (ILO

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

په اروپا کې د صنعتي انقلاب یوه پایله دا وه، چې د ارزانه کارګرو استثمار، د صنعت د خاوندانو په ګټه پای ته ورسېد.

کارګر له ناوړه کاري شرایطو او نامناسب روغتیایي حالت سره مخامخ وو؛ خو د ۱۹ پېړۍ په لومړیو کې، د کارګرو په ژوند او کاري شرایطو کې ښه والی راغی.

برتانوي عالم رابرټ اونRobert Owen ، اروپایي لېګراندLegrand او د جرمني واګنر او برنانټو، د کارګرانو د اړتیاوو د پوره کولو، د کارګرانو په ژوندانه کې د بدلانه، د کار له پاره د عادلانه قوانینو د تصویب، د کارګرانو ترمینځ د اقتصادي توکو د عادلانه ویش او په ټوله کې د کارګرانو د حقونو د تامین له پاره لومړنی؛ خو ډېرې ګټورې او پراخه هڅې وکړی.

---

[250] Inti Organizations, Conference and Treaties, page ۲۰۰

او تاند ویبپاڼه، محمد د پوهاند بشیر دودیال مقاله

[۲۵۱] سازمانهای بین المللی، نامزد دکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۰۱

په کال ۱۸۷٦ کې د کارګرو د حقوقو په اړه، د سویس د ولسمشر په نوښت جوړ شوی نړېوال کنفرانس بې پایلې پای ته ورسېد.

د کارګرانو د نړېوال غورځنګ په دوهمه کنګره کې، چې کارګری ټولنو په کې د پام وړ ونډه درلوده، د کارګرانو په اړه ګڼ مسایل مطرح او تصویب شول.

له څوارلسو کلونو څخه د کم عمره ماشومانو کار منع شو، د ورځې اته ساعته کاري وخت وټاکل شو، په اونۍ کې یوه ورځ رخصتي اعلان شوه، د شپې کار منع او کارګرانو ته د مناسب معاش او بیمی غوښتنه وشوه.

خو د جرمني دویم امپراتور ویلیم، د سوسیالېستانو له دې مفکورې سره د مخالفت په موخه د کال ۱۸۹۰ په فبروری کې، د یوه نړېوال کنفرانس د جوړېدو غوښتنه وکړه.

دا کنفرانس د همدې کال د مارچ په ۱۵ په برلین کې جوړ شو. په دې کنفرانس کې د هېوادونو په استازو سربېره، د ۱۲ اروپایي هېوادونو د کارګرانو او د کارونو د خاوندانو استازو هم برخه درلوده. په کنفرانس کې د کارګرانو د حقونو د خوندیتابه له پاره نوي قوانین او اصول وټاکل شول. له دې سره په یو وخت کې خصوصي ټولنو هم د کارګرانو له حقونو څخه د ملاتړ له پاره ګټور اقدامات ترسره کړل.

په کال ۱۸۹۷ کې په زوریخ او بروکسل کې دوه نړېوالې کنګرې جوړې شوې، چې کارګرې ټولنو او یو شمېر اقتصاد پوهانو هم په کې برخه درلوده. د وروستې کنګرې په غونډه کې پرېکړه وشوه چې یوه ټولنه باید جوړه شي.

په کال ۱۹۰۱ کې له کارګرانوڅخه د قانوني ملاتړ نړېواله ټولنه جوړه شوه چې مرکز یې په بال (سویتزرلند) کې و. په ۱۸۹۷ کې د ټولنیزې بیمې نړېواله کمیټه هم جوړه شوه.

د کال ۱۹۱۹ په اپریل کې، د ورسای کنفرانس عمومي غونډې ته، د کار نړېوالې ټولنې یا ILO د جوړېدو طرحه وړاندې شوه. په دی توګه وینو چی ILO یوه پخوانی ټولنه ده چی د ولسونو ټولنی د خپلواکه بنسټ په توګه جوړه شوی او اساسنامه یی د ( ورسای تړون) یوه برخه ده چې مقر یې په ژنیو (سویتزرلنډ) کې دی؛ خو د نړۍ په ځینو نورو هېوادونو کې هم دفترونه او څانګې لري.

کوم هېواد به چې ولسونو ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ، په عین وخت کې به د ILO غړی هم ګڼل کېده.

په کال ۱۹۴٦ کې ILO د ملګرو ملتونو د داسی یو تخصصی بنسټ په توګه ومنل شو چی د نورو تخصصی بنسټونو جوړولو ته یی هم لاره اواره کړه او د پراختیا له اقتصادی- ټولنیزو اړخونو سره هم اړیکی لری.[۲۵۲]

د ILO د نوي جوړښت په اعلامیه کې چې په فلادلیفا (امریکا متحده ایالات) کې صادره شوه، راغلي و چې (بېوزلتیا هر ځای چې وي، د نیمکرغئ له پاره یو خطر بلل کېږي).

---

[۲۵۲] کارگزاری های تخصصی سازمان ملل متحد.،ص ۲۲۵ او سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۲

په دویمه نړیواله جګړه کی ILO د ولسونو ټولنی په شان ړنګه او ماته نه شوه. ځینی کار پوهان همدا مقاومت د یوی بلی ټولنی د جوړیدو له لومړنیو بنسټونو حخه بولی.[۲۵۳]

غړیتوب: د ILO د اساسنامی د لومړی مادی له دوهمی فقری سره سم،هغه هیوادونه د دی ټولنی غړی دی چی د کال ۱۹۴۵ د نومبر په لومړی یی، دا پاڼی لاسلیک کړی او یا د همدی مادی د ۴-۳ فقرو سره سم غړیتوب تر لاسه کوی. که څه هم چی د ILO په اساسنامه کی د غړیتوب واضح شرایط نه دی راغلی؛ خو کوم شرایط چی په ملګرو ملتونو کی د غړیتوب له پاره مهم دی، ټول د ILO د غړیتوب له پاره هم په پام کی نیول کیږی.

یو هیواد هغه وخت د ILO غړیتوب تر لاسه کولای شی چی سرمنشی ته د اساسنامی د منلو وړاندیز وکړی او عمومی غونډه یی په ٦٦.٦٦%رایو ومنی. په ILO کی په هیوادونو سربیره د کارونو د خاوندانو او کارګرانو استازی هم شته چی د رایو حق لری او دا د دی له پاره چی ILO په حکومتونو سربیره د کارونو د خاوندانو او کارګرانوارادی هم څرګندوی..[۲۵٤]

اهداف: ILO په اصل کې د کارګرانو د حقونو د خوندیتوب د پاره جوړه شوې او غواړي چې د بشري حقونو په سیوري کې، په عادلانه او ډاډمنه توګه ښځو او نارینه وو ته کارونه برابر کاندی. ILO د ټولنیز عدالت په فضا کې د کارګرانو او نورو خلکو د حقوقو د ساتلو او دفاع له پاره کار کوي او هڅه کوي چې کارګران د ورورولۍ په فضا کې امنیت ولري.

ILO د کارګرانو او سوداګرو له پاره د ښه کار او اقتصاد هڅې کوي، ILOپه ټولنیز عدالت او په سالم چاپېریال کې د داسې کار ننګه کوي چې عادلانه بدل ولری. ILO د کار او ژوند د شرایطو د سمون له پاره، نړیوال سیاستونه او پروګرامونه جوړوي او د کار له پاره هغه نړېوالې کرښې باسي چې ملي مسوولین د پاسنیو سیاستونو د عملي کولو د پاره، له هغوي څخه کار اخلي او د خپلو هڅو د بریالیتوب له پاره د فني مرستو پروګرامونه جوړوي او څېړنو کې برخه اخلي. ILO په تېروڅو لسیزو کې دا کارونه سرته رسولي: د ورځې اته ساعته کار، د میندو کارګرانو ملاتړ، د ماشومانو د کار په هکله قوانین او په کارځای کی د سلامتیا اصول.

د اساسنامی له مخی ILO په لاندی برخو کی، کارګرانو ته د مناسبو شرایطو د برابرولو له پاره هڅه کوی:

- بشپړ استخدام او د کارګرانو د ژوندانه د سطحی جګول،
- په داسی کارونو کی استخدام چی کارګران پکی راضی وی،
- د مناسبو کاری وختونو او اجرتونو د سیاستونو جوړول،
- په کار کی د کارګرانو د ژوند او سلامتیا تضمین،
- د ښځینه کارګرانو د زیږون او د ماشومانو له سلامتیا سره مرسته،
- د کارګرانو له پاره کور، خاوړه، د رختصیو او تفریح ننګه،

---

[۲۵۳] نړیوالی ټولنی، محمد نظیم سمون، ص ۱۶۴-۱۶۳ او حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۵۶

[۲۵٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۱۹۳

- د کارګرانو د مسلکی زده کړو تضمین.

د کال ۱۹۹۹ په سپتمبر کی ILO ګڼ کنوانسیونونه او ۱۹۰ سپارښتنی ( توصیه نامه) تصویب کړی چی ټول د کار نړیوال قوانین بلل کیږی.

په کال ۱۹۹۸ کی و کار د اساسی اصولو او حقوقو اعلامیه صادره شوه چی له غړو دولتونو څخه غواړی چی د ټولنو د جوړیدو او د کارونو د خاوندانو او د کارګرانو د ډله ییزه خبرو مرسته وکړی، جبری کار او د ماشومانو کار منع کړی او په استخدام کی د تبعیض مخه ونیسی.[۲۵۵]

جوړښت:

د کار نړیوال کنفرانس: د کار نړیوال کنفرانس د ILO اصلی سیاسی اداره کوونکی ارګان دی چی هر کال د غړو هېوادونو د استازو (دوه دولتي او یو- یو د کارونو د خاوندانو او کارګرانو استازی) په ګډون، د ملګرو ملتونو په اروپایي دفتر یا ژنیو کې جوړېږي. دا کنفرانس هردوه کاله وروسته د کار نړیوال اصول او د ILO بودجه تصویبوي او د ټولنې د سیاسي پرمخیون او راتلونکو کارونو په هکله پرېکړې کوي، کنوانسیونونه او سپارښتنې تصویبوي او په هغو څار ساتي.

په دې غونډو کې د کارونو د خاوندانو او د کارګرانو استازي هم، د دولتونو له خوا؛ خو د دې اصنافو له کورنیوټولنو او جوړښتونو سره په مشوره ګډون کوي او هر یویوه رایه لري.

اجرائیه شوری: د ILO اجرائیه شوری په کال کی ۴-۳ ځلی په ژنیو کی غونډی کوی او دا مسوولیتونه په غاړه لری: دILO د تګلارو ټاکنه، د ILO د پروګرامونو او بودجی برابرول، د صنعتی کمیتو د کار څارل، د ILO د سرمنشی ټاکنه او د کار د نړیوال دفترInternational Labour Office د اجراتو څار.[۲۵۶]

د ILO اجراییه شوری ۵٦ غړي لري. ۲۸ د دولتونو استازي چې ۱۰ پکې په دایمي توګه په امریکا، روسیه، برتانیا، فرانسه، چین، جرمني، هند، ایتالیا، جاپان او برازیل پورې اړه لري. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې دا لس هېوادونه د سترو ملي عوایدو، فعال نفوس، صنعتي توب او ILO ته د اسهامو له مخې ټاکل شوي دي. د دې ډلې نور دولتي غړي د وړتیا له مخې، د کنفرانس له لارې ټاکل کېږي.په پاته ۲۸ کی ۱۴د کارونو په خاوندانو او ۱۴ په کارګرانو پوری اړه لری.[۲۵۷]

د کار نړیوال دفترInternational labour Office

دا دفتر چی د ILO له پاره د دارالانشا حیثیت لري، دنده لری د اقتصادی او ټولنیزه پوښتنو په اړه معلومات خپاره کړی، د ILO د عمومی کنفرانس او اجراییه شوری غونډو ته لازم اسناد برابر کړی او څیړنی سر ته ورسوی. دا دفتر یو رییس لری چی د پنځو کلونو له پاره ټاکل کیږی او د نړۍ په ۱۱۰ هیوادونو کی مامورین لری.[۲۵۸]

---

[۲۵۵] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص۱۹۵
[۲۵٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۵
[۲۵۷] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۹۹
[۲۵۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۱۹۵

ILO دوه نورې څانګې هم لري:

–د زده کړې نړېوال انستتیوت: دا مرکز په تورین (ایتالیا) کې موقعیت لري او له کال ۱۹٦۵ څخه را پدیخوا یې، د دولتي او خصوصي شرکتونو مامورین، د کارګري ټولنو مشران، د کارونو خاوندان، دولتي چارواکي او سیاستوال په لنډمهاله کورسونو کې روزلي دي.

–د کارګري مطالعاتو نړېواله موسسه: دا موسسه په ژنیو (سویټزرلنډ) کې موقعیت لري. د اقتصادي ودې او ټولنیزې برابري له پاره، د کار د موسساتو تر مینځ د اړیکو جوړول، د دې موسسې د کاري اجنډا لویه برخه جوړوي. د ټولنیز سیاست په برخه کې د یوې نړېوالې ټولنې په توګه ګام اخلي او د څېړنو نړېوالې شبکې او د زده کړو پروګرامونه لري.

فعالیتونه: ILO د نړېوالې سولې او ټولنیز عدالت له پاره، ځکه هڅې کوي چې د بشري ټولنې د یوې برخې د حقونو د رعایت، او په دې مینځ کې د کارګرانو د حقونو د ترلاسه کولو، او د هغوی د لږ تر لږه (حداقل) مادي او معنوي ژوندانه د جوړولو له پاره ګامونه پورته کړي.

ILO په دریو برخو کې کار کړی:

-د کار د نړېوالو قواعدو تصویب او تنظیم. لکه د ښځو او ماشومانو له پاره د شپني کار بندول، په معادنو او درنو صنایعو کې د ښځو د کار ممنوعیت، د وړ معاش ټاکنه، له معاش سره کلنۍ رخصتي، د جبري کار او مریړتوب مخنیوی، په فابریکاتو کې اونیزه رخصتي، د زیانونو جبیره او د سندیکایي حقوقو ساتنه.

-د فني همکاری په برخه کې فعالیت. د ILO مسلکي کارپوهان دا فني مرستې وړاندې کوي: د مسلکي کارونو زده کړې، د مدیریت څرنګوالی، د وزګارتیا کمول، په کاري چاپېریال کې خوندیتوب، د ټولنیز امنیت نظام، لاسي کارونه او د جوړښتونو اصلاح.

-اسناد، مطالعات، اطلاعات او څېړنې: ILO په خپلو برخه کې د حلارو د موندلو له پاره څېړنې او د علمي کارونه هم کوي. د ILO علمی مرکز (د ټولنیزه مطالعاتو نړېواله موسسه) په کال ۱۹٦۰ کې په ژنیو کې جوړ شو . ټولنه په تورین (ایټالیا) کې هم ورته مرکز لري. د ILO غړي هېوادونو باید د دې ټولنې د کنوانسیونونو مقررات په خپل سیاست او قانون جوړولو کې په پام کې ونیسي.[۲۵۹]

ILO په کال ۱۹۴۹ کی د وړ خدماتو په توسن، د نوبل جایزه تر لاسه کړی ده.

مقر: د ILO دارالانشا او نور ټول دفترونه په ژنیو( سویتزرلند) کی موقعیت لری.

په ILO کې د افغانستان غړیتوب:

افغانستان په کال ۱۹۳۴ (۱۳۱۳ هـ ش) کې د ILO غړی شو او تر اوسه حق لري چې د ټولنې په ټولو فعالیتونو کې ګډون وکړي او خپل استازي د ILO کلنیوغونډو ته واستوي. د افغانستان له خوا معمولاً د کار او ټولنیزو

[۲۵۹] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص۲۶۵-۲۶۶

چارو وزارت د دولت ، د سوداګرۍ او صنایعو خونې د کارونو د خاوندانو او د کارګرانو ملی اتحادیه د کارګرانو په استازیتوب د ILO په غونډو کې برخه اخلي.

افغانستان له همغه پېله تر اوسه، د ILO نولس کنوانسیونونه رسماً تایید کړي دي. دی ټولنی په ۲۰۰۳ کې د اړیکو یو کمکی دفتر په کابل کې پرانست، چې له یو شمېر ملي پروژو او پروګرامونو سره تخنیکي او مالي مرستې وکړي .[۲۶۰]

**۵ -- د پیسو نړېوال صندوق:(International Money Fund (IMF**

(اقتصادی او ټولنیزه شوری)

د کال ۱۹۲۹ ستر اقتصادي بحران، د امریکا متحده ایالاتو او نورو لویدیځو پانګه والو نظامونو ته درانه زیانونه واړول. له همدې امله یو شمېر هېوادونو د پیسو نړېوال صندوق یا IMF د جوړولو هڅې پېل کړې.

د تېرې پېړۍ په دیرشمه لسیزه او د دویمې نړېوالې جګړې په وخت کې،ځینو هېوادونو د بحران د مخنیوي له پاره، د خپلو پیسو په ارزښتونو کې کموالی راوست او په سوداګریزو چارو کې یې ځینې محدودیتونه وضع کړل. نورو هېوادونو ورته غبرګون وښود، چې په نړېواله سوداګرۍ او اقتصاد یې منفي اغېز پرېښود، په نړېواله سوداګرۍ کې کموالی راغی او د وزګارتیا کچه لوړه شوه؛ له همدې امله د نړېوالې سوداګرۍ او اقتصاد په برخه کې، د ځینو مقرراتو او اصولو تدوین ته اړتیا ولیدل شوه. امریکا متحده ایالاتو هم ټینګار کاوه چې نړېوال اقتصاد باید له جګړې وروسته، داسې یو منظم پولي سیستم ولري چې نه له سختو اقتصادي ټکانونو څخه زیان ووینې او نه د نه اټکلیدونکو بې ثباتیو په وخت کې وران شي. د همدې له پاره د څلوېښمتې لسیزې په لومړیو کې، د یوه با ثباته پولي او مالي نظام او د سوداګرۍ او مالیو په برخو کی د اغیزمنو مقرراتو د جوړولو هڅې پېل، او د کال ۱۹۴۴ په ۲۲-۱ جون کې، د برتن وودز کنفرانس کې، ۴۴ هېوادونه د پیسو د نړېوال صندوق د جوړېدو له پاره، د امریکا په نیوهمپشایر ایالت کې سره جرګه شول.

د اساسنامې له تصویب وروسته د پیسو نړېوال صندوق، د کال ۱۹۴۵ د دسمبر په ۲۷ جوړ او د ۱۹۴۷ د مارچ په لومړی نیټه پرانستل شو. هغه وخت د نړۍ ۲۹ هیوادونو د IMF اساسنامه لاسلیک کړی وه.

IMF لږ وروسته د هغه تړون سره سم چی د ملګرو ملتونو له اقتصادی او ټولنیزی شوری سره لاسلیک او عمومی ټولنی د کال ۱۹۴۷ د نومبر په ۲۷ تصویب کړ، د ملګرو ملتونو د یو تخصصي بنسټ (او په عین حال کې خپلواک نړېوال ارګان) په توګه وپیژندل شو او خپل کار یې په دې تمه پیل کړ چې د لویدیځ پولي نظام به د امریکایي $ په بنسټ، د نړېوال اقتصاد د بیا ځلې تزلزل مخه نیسي .[۲۶۱]

د تېرې پېړۍ په اویایمه لسیزه کې، نړېوال پولي نظام له داسې ستونزو سره مخامخ شو چې له ډېرو کلونو را پدیخوا انبار شوې وې. د کال ۱۹۶۹ په جولای کې پرېکړه شوې وه چې په IMF کې،یوه نړېواله زېرمه جوړه او

---

[۲۶۰] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۹۶

[۲۶۱] کارگذاریهای تخصصی ملل متحد، ص۲۴۷-۲۴۶

واک یې ډله ییز یا جمعي وي. د دې زېرمې نوم و Special Drawing Rights یا (SDR) چې د پورته کولو یا اخستلو د ځانګړې حق معنی ورکوی.

د کال ۱۹۷۱ په اګست کې د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر، په سرو زرو باندې د ډالرو د بدلون وړنیا (قابلیت) تعلیق کړه. په کال ۱۹۷۲ کې د IMF مشرتابه شوری، د نړېوال پولي نظام د اصلاح له پاره، د غړو هېوادونو د وزیرانو کمیټه جوړه کړه. د ۱۹۷٦ په جنوري کې دې کمیټې د جمیکا په غونډه کې دا پرېکړې اعلان کړې:

- د سرو زرو رسمي بیه لغو ده او مرکزي بانکونه حق لري چې سره زر د ورځې په بیه واخلي او وپلوري،
- د IMF په مقرراتو کې دې داسې بدلونونه راشي چې د اسعارو بیه او د اسعارو د بیو د بدلونونو د تعدیل د همغږي د لارو چارو د مطالعې اجازه ورکړي،
- SDR دې له سره تعریف شي،
- د IMF په زېرمه کې شپږمه برخه سره زر دې وپلورل شي او ګټه یې دې په پراختیایي پروګرامونو ولګول شي،
- د IMF په زېرمه کې شپږمه برخه سره زر دې، بېرته غړو هېوادونو ته ورکړ شي.

په کال ۱۹۸۳ کې د IMF د سهمیو د تجدید په سر ستونزې جوړې شوې. امریکا تر کال ۱۹۸۹ پورې د دې هڅو مخه نیوه او په دې توګه د وروسته پاته هېوادونو د تادیاتو بیلانسونه له ستونزو سره مخامخ شول. ښکاره خبره ده چې په داسې نړېوالو ټولنو کې، د دومره لویو مسایلو په هکله هوکړې آسانه نه وي او ډېر وخت غواړي؛ خو دومره ډاډ شته چې د IMF په شان تخصصي بنسټونه، ورو – ورو د لویو نړېوالو کړکیچونو د حل یا اواری په لور ځي.

اهداف: د اساسنامی د لومړی مادی له مخی د IMF واضح اهداف دا دی:

–د دولتونو تر مینځ د نړیوالو پولی او مالی مسایلو په برخه کی د ګډو هڅو او همکارئ دودول( ترویج) او هڅول،

–د اسعارو د راکړی ورکړی له پاره د بیو د ټاکنی هڅی او د نړیوال پولي میکانیزم ساتل،

–د نړیوالی سوداګرئ د پرمختیا او پراختیا په برخه کی د اسانتیاوو ډیرول چی د هیوادونو حقیقی عواید لوړ او استخدام ډیر شی،

--د تادیاتو د څو اړخیزه نظام د جوړولو او د اسعاری مبادلاتو د محدودیتونو د کمولو له پاره ګډ کار،

–غړو ته د مالي لنډمهاله منابعو د ورکولو له لارې، د هغوی د تادیاتو بیلانس د ستونزو له مینځه وړل،

IMF هغه هېوادونو ته چې اقتصاد یې تعادل ونه لري، او یایې د تادیاتو بیلانس له کسر او سوداګریزه سیستم له ستونزو سره مخامخ وي پور ورکوي. دا پور په صندوق کې د هر هېواد د زېرمې د اندازې سره برابر وي؛ خو کله لږ یا ډېر هم کېدای شي.[۲٦۲]

---

[۲٦۲] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۱۷

IMF د نه اټکليدونکو اقتصادي ستونزو يا طبيعي پېښو په وخت کې هم د غړو هېوادونو لاس نيسي. د IMF د مرستو يا پورونو نور دلايل دا دي: د غړو هېوادونو د لويو اقتصادي جوړښتونو اصلاح، د تاديياتو بيلانس د کسر په وخت کې د وروسته پاته هېوادونو ملاتړ، د دولتي کارکوونکو روزنه او په غړو هېوادونو کې د اطلاعاتو د تبادلې د غونډو، کنفرانسونو، سيمينارونو او ټولګيو تمويل .

مالي سرچينې: لومړی حق السهم، دويم له هغه غړو هېوادونو څخه پور چې اقتصادي وضع يې ښه ده، درييم له غړو هېوادونو څخه د ونډو يا اسهامو ټولول؛ څلورم له بانکونو او نورو نړېوالو موسساتو څخه پور، پنځم د پانګونو او SDR ګټه.

جوړښت: IMF د نړيوال بانک او نړيوال وجهی صندوق په شان، دوه اصلی او دوه فرعی اداره کوونکی ارګانونه لری. په اصلی کی مشرتابه شوری او اجرايیه شوری او په فرعی کی لندمهاله کميټه او د پراختيا کميټه.

–مشرتابه شوری: IMF تر ټولو لوړ تصميم نيوونکی ارګان، چې د غړو هېوادونو له استازو، معمولاً د ماليې وزيران يا د مرکزي بانک رييسانو څخه جوړ دي او هر کال غونډې کوي. د IMF مالی واک له مشرتابه شوری سره دی او لويی دندی يی دا دی: د نويو غړو منل، د غړو جبری ايستل، د ونډوټاکل، د SDR د حقونو ځانګړی کول او د صندوق د اساسنامی تعديلات. مشرتابه شوری خپل نور واکونه اجرايیه شوری ته ورکړی دی .

د مشرتابه شوری غونډی د ۱۵ هيوادونو په غوښتنه او يا د ټولو هيوادونو د ٦٦.٦٦% رايه د سپتمبر يا اکتوبر په مياشتو کی جوړيږی. په اکتوبر کی د نړيړال بانک کلنۍ غوندی هم کيږی. د مخکنيو پريکړو له مخی د IMF او WB کلنی غوندی دوه کاله پرله پسی په واشنګتن( امريکا متحده ايلات) او درييم کال په يو بل غړی هيواد کی کيږی.[۲٦۳]

-اجرايیه شوری: اجرايیه شوری ۲۴ غړي لري چی د IMF ورځينی کارونه مخ ته وړی او د هيوادونو له اصلی غړوڅخه غوره کيږی.

اجرايیه شوری د IMF دايمي تصميم نيوونکی ځای دی چې د صندوق ټولې ورځنې چارې او عمليات اداره کوي. د دي شوری تګلاره، د مشرتابه شوری او د IMF د اساسنامې له مخې ټاکل کېږي. دا شوری د صندوق مشر هم ټاکي چی معمولا بايد د اروپا وی( د نړيوال بانک مشر بيا يوازی د امريکا متحده ايالاتوڅخه غوره کيږی).

د IMF د اجرايیه شوری د غړو ټاکنه داسې ده: هغه کسان لکه د امريکا متحده ايالات، چين او نورو له خوا پيژندل کيږی چې په صندوق کې ډېره ونډه لري دايميغړی بلل کيږی، تر هغو چې مربوطه هېوادونه نور استازي معرفي کوي، همدا غړي په خپل ځای پاته وي. د اجرايیه شوری نور غړي د هرو۲۴-۴ هيوادونو په استازيتوب، د هېوادونو له استازو څخه غوره کېږي.

[۲٦۳] سازمان های بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۱۸-۲۱۹ او www.imf.org

په دی اجراییه شوری کی ۵ لوی هېوادونه یو – یو استازی لري او نور هغه هېوادونه هم چې له دې ټاکنوڅخه مخکې دوه کاله ډېره زېرمه ولري، یو – یو استازی ټاکي. د دې استازو شمېر د IMF د مشرتابه شوری په خوښه ډېرېدی یا کمېدای شي.

اجرایي مدیران د دوو کلونو له پاره ټاکل کېږي او هر یو – یو علی البدل یا ځایناستی هم لري چې د ده په غیاب کې حضور پیدا کوي. په غونډه کې باید د ۵۰% رایو استازی حاضر وي.

د صندوق مشر: مشر د اجراییه شوری ته نظر لاندې، د صندوق ورځني کارونه سرته رسوي او مامورین ټاکي. دا مشر ۵ کاله کار کوي او بیا هم ټاکل کېدای شي. د مشر په غیاب کې د مشرتابه شوری مسوولیت اخلي. مشر د مشرتابه شوری په غونډو کې، له رایې پرته برخه اخستلای شي؛ خو که په شوری کې د دواړو خواوو رایې برابرې وي، د مشر رایه ټاکونکی ده .[۲٦٤]

د کار څرنګوالی:

–عادي کارونه: د IMF غړي وروسته له دې چې په خپلو کې، د خپلو ملي پیسو بیې وټاکي، د IMF له اجازې پرته د هغو د بدلون حق نه لري. که کوم دولت د IMF له خوښې پرته، د خپلو پیسو ارزښت ټیټ کاندي، ښایي د IMF له امتیازاتو څخه بې برخې شي.

هر دولت کولای شي د IMF له لارې، د بل هېواد پیسې د سرو زرو په بدل کې وپېري او یا خپلې پیسې په سرو زرو وپلوری. IMF د یو هېواد پیسې د بل هېواد په پیسو بدلوي؛ خو شرط به یې دا وي چې غوښتل شوي پیسې لږ او ورکړل کېدونکی کمزوره پیسې ډېرې نه وي؛ ځکه د کمزوره پیسو درلودونکي هېوادونه، معمولاً د ځواکمنو هېوادونو پیسې پېري .[۲٦٥]

–ځانګړي کارونه: IMF له هغه هېوادونو سره چې اقتصادی تعادل نه لري؛ یا د بازار اقتصاد د څو اړخیزه سوداګرئ سیستم، او یا د کنترول شوو بیو د سوداګرئ له امله، د ستونزو سره مخامخ دي یا د تادیاتود کسر سره مخامخ دي، مرسته کوي. داسې هېوادونو ته د IMF پورونه، د هر غړي هېواد په زېرمه پورې اړه لري او کېدای شي چې دا پورونه له دې زېرموڅخه لږ یا ډېر وي.

IMF همدا راز هغه هېوادونو ته چې صادراتي عواید یې لږ دي یا د غلو دانو د بیو د لوړېدو له امله، ستونزې لري، هم لنډمهاله مرستې کوي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې دا مرستې هله کېږي چې دا د عوایدو کموالی یا د غلو دانو د بیو لوړوالی لنډمهاله او فصلي وي، او په داسې عواملو پورې اړه ولري چې وضع د دولتونو په کنترول کې نه وي.

---

[۲٦٤] www.imf.org

[۲٦٥] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۸۷

د غړو دولتونو له خوا د دولتي زېرمو جوړول، د اقتصادي جوړښتونو د اصلاح له پاره د مالي منابعو برابرول او د سیمینارونو، کنفرانسونو او درسي ټولګیو د جوړولو له لارې د مسلکي کادرونو روزل د IMF د مرستې نور عوامل بلل کېدای شي .[۲٦٦]

مقر: د IMF مرکز په واشنګټن (امریکا متحده ایالات) کې دی.

IMFاو افغانستان: افغانستان د کال ۱۹۵۵ د جولای په ۱۴ د IMF تر لاسه کړی دی.

## ٦ -- د نړیوالی بېړۍ چلونې ټولنه

**International Mavitime Organization (IMO)**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

په ۱۸ – ۱۹ پېړیو کې د نړېوالې سوداګرۍ له پراختیا سره جوخت، د سمندري ترانزیت او له بېړیو څخه د استفادې اړتیا ډېره او د سمندري نښو او امنیت په برخه کې څوګامونه واخستل شول؛ خو د سمندري حقونو په برخه کې اصول او قواعد لا نه و ټاکل شوي.

د ملګرو ملتونو له جوړېدو مخکې د سمندري چارو د سمون او د سمندري علایمو په برخه کې، څو غونډې شوې وې چې پرېکړې یې تر کال ۱۹۵۷ پورې عملي نه وي.

د ملګرو ملتونو جوړښت دې هڅو ته نوې سا ورکړه. د ملګرو ملتونو په هغه غونډه کې چې کال ۱۹۴۸ په مارچ کې، په ژنیو (سویتزرلند) کې د سمندري چارو د همغږي او نړېوالې بېړۍ چلونې په هکله وشوه، د سمندري چارو نړیواله مشورتي ټولنه یا Inter – Governmental Maritime Consultative Organizationتصویب شوه چې اساسنامه یی ۲۱ دولتونو لاسلیک کړه او پوره لس کاله وروسته، د کال ۱۹۵۸ په مارچ کې، د ملګرو ملتونو د یوه تخصصي بنسټ په توګه په کار پیل وکړ.

د کال ۱۹۷۵ په نومبر کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې دا نوم په (د بېړۍ چلونې نړیواله ټولنه International Maritime Organizationیا IMO واړاوه چې ژر یې د غړو شمېر ۴۰ ته ورسېد.[۲٦۷]

له دې وروسته د سمندري سوداګرۍ د پراختیا او د بېړۍ چلونې او سمندري ترانزیت په برخه کې، د مقرراتو او قواعدو د تدوین هڅې پیاوړې شوې.

اهداف: د بېړۍ چلونې په برخه کې د هېوادونو تر منځ د همکاریو پراختیا، د اغېزمنو مقرراتو جوړول، د ستونزو او محدودیتونو لیرې کول او د غړو هېوادونو تر منځ د اطلاعاتو د تبادلې له پاره د اسانتیاوو برابرول، د IMO جوړېدو له اساسي اهدافو څخه دي چې لندیز یی دا دی:

---

[۲٦٦] غفوری، ص ۲۸۹-۲۸۶

[۲٦۷] نړیوال سازمانونه. محمد نظیم سمون، ص ۱۸۲

- په سمندرونو کی د غیرضروری محدودیتونو او تبعیضی اعمالو د مخنیوییا د ورکاوی له پاره، د دولتونو تر مینځ د ګډکار هڅول او د غړو هیوادونو تر مینځ، د هغه بیړیو د تخنیکی مسایلو په هکله د معلوماتو راکړه ورکړه چی په نړیواله سوداګرئ کی بوختی دی،
- غړو دولتونو ته د سمندری ترانسپورت په هکله د معلوماتو، مشورو او سپارښتنو ورکول او د سمندری ترونونو د متونو د برابرولو په برخه کی مرسته او د سمندری ترانسپورت د خدماتو د قواعدو جوړول. لکه د تګ راتګ د لارو ټاکل، نښی، د سمندرونو د ککړتیا د مخنیوی اصول او د نړیوال سمندری ترانسپورت په برخه کی د غونډو جوړول،
- د سمندری ترانسپورت د خوندیتوب په برخه کی د ګډ کار هڅول. IMO په دی برخه کی په کال کی۱۹٦۰ کی د سمندرونو د خوندیتوب تړون چمتو او د غړو هیوادونو لاسلیکونه واخیستل،
- د سمندری ترانسپورت د هغه ستونزو سپړل او اوارول چی د ملګرو ماتونو تخصصی بنسټونه یی ورته استوی.۲٦۸

جوړښت: عمومی ټولنه، شوری، دارالانشا او کمیتی د IOM غټ اداره کوونکی ارګانونه دی:

–عمومي ټولنه: د IMO تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان دی چې د غړو هېوادونو، د ملګرو ملتونو د تخصصي بنسټونو او هغه ټولنو له استازو څخه جوړ دی چې له IMO سره یې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي. د عمومي ټولنې په غونډه کې ټول ګډون کوي؛ خو د رایې حق یوازې اصلي غړي لري.

عمومي ټولنې دوه ډوله غونډې لري: عادي او فوق العاده. عادي غونډې په کال کې یوځل؛ خو فوق العاده غونډې د ۳۳.۳۳% غړو په غوښتنه هر وخت جوړېدای شي.

عمومي ټولنه د IMO د لویو تګلارو د جوړولو، د کورنیو قوانینو د تصویب، د مالي چارو د تنظیم، د اداري تګلارو د جوړولو او عملي کولو، د بودجې د تصویب، د اساسي پروګرامونو د عملي کولو، د فرعي کمېټو د جوړولو او د منشی د ټاکلو واک لري .[۲٦۹]

–شوری: شوری د IMO اجراییوي ارګان دی چې د عمومي ټولنې د دوو غونډو تر منځ ، چارې مخ ته وړي او په کال کی دوه ځلی غونډه کوی. شوری د ټولنې هوکړې لاسلیکوي، پروګرامونه او بودجه جوړوي او خپل مشر ټاکي.

شوری د عمومي ټولنې د کال ۱۹۷۹ د پرېکړې له مخې، ۳۲ غړي لري چې په دریډلو وېشل شوي او د دوو کلونو د پاره ټاکل کیږی: شپاړس هېوادونه چې د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې، په بېړۍ چلونه کې ځانګړې ګټې لري، اته هېوادونه چې په نړیواله سوداګرئ کې ډېره ونډه لري او پاته اته هېوادونه چې د بېړۍ چلونې په برخه کې ډېر نړیوال خدمات وړاندې کوي.

---

[۲٦۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۲
[۲٦۹] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۵۰-۲۴۹

کمېټې:

- د سمندري امنیت کمېټه چې د بېړیو د جوړونې، سمندري امنیت او بېړۍ چلونې په چارو کار کوي،
- د حقوقي چارو کمېټه،
- د سمندري چاپېریال ساتنې او فني همکاریو کمېټه،
- د فنی او تخنیکی همکاریو کمیټه،

دا کمیتی د خپلو کارونو راپورونه د شوری د لاری، د IMO عمومی غونډې ته استوی.

–دارالانشا: د IMO د دارالانشا په سر کې منشي ځای لري چې د نورو مامورینو په مرسته اداری او اجراییوي چارې مخ ته وړي.

فعالیتونه: د IMO فعالیتونه دوه ډوله دي:

۱ – په اوبو کې د ژوند (حیات) د خوندیتابه په برخه کې د ژمنلیکونو او نړیوالو قواعدو تدوین، د بېړیو له خوا د چاپېریال د ککړتیا مخنیوی، د ملاحانو د واک پاڼو صادرول او د بېړیو د ټکر مخنیوی. په دې برخه کې د IMO لوی کارونه دا دي:

- په کال ۱۹۷۲ کې، د بېړیو د امنیت نړیوال کنوانسیون،
- په کال ۱۹۷۲ کې، په سمندرونو کې د بېړیو د ټکر د مخنیوي نړیوال مقررات،
- په کال ۱۹۷۴ ، کې په اوبو کې د انسانانو د ژغورنې نړیوال کنوانسیون،
- په کال ۱۹۷٦ کې، د سمندري اړیکو د نړیوالې ټولنې کنوانسیون،
- په کال ۱۹۷۷ کې، د ښکاري بېړیو د امنیت نړیوال کنوانسیون،
- د سمندرونو د ککړتیا د مخنیوي څو کنوانسیونونه.

۲ – عملي پروګرامونه:

-له دولتونو سره د نړیوالو کنوانسیونونه او نورو اساسي اسنادو د عملي کولو په برخه کې همکاري او مرسته،

-په سویډن کې د سمندرونو د نړیوال پوهنتون، په ایټالیا کې د سمندرونو د نړېوالې اکاډمۍ او په مالتا کې د سمندرونو د نړیوالو حقوقو د موسسې د طرحو جوړول.

مقر: د IOM دفتر په لندن( برتانیا) کی موقعیت لری.[۲۷۰]

په IMO کې د افغانستان غړیتوب: له هغه ځایه چې افغانستان له سمندرونو څخه لیرې، په وچه پورې تړلی هېواد دی؛ ځکه د IMO غړیتوب نه شي ترلاسه کولای.[۲۷۱]

---

[۲۷۰] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۵۰-۲۴۹

[۲۷۱] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۸۳

## ۷ -- د مخابراتو نړیواله ټولنه

**International Telecommunication Union (ITU)**

(اقتصادی او ټولنیزه شوری)

د مخابراتو او مخابراتي وسایلو د پرمختګ له امله، د ۱۹ پېړۍ په نیمایي کې، د سیم لرونکي مخابراتو ځای بیسیم ونیو. له هغه ځایه چې د بیسیم کارولو، په نړیواله کچه د یو شمېر هېوادونو موافقې ته اړتیا درلوده؛ د ځینو هېوادونو تر مینځ څواړخیز تړونونه لاسلیک شول.

په کال ۱۹۵۰ کې د استریا - جرمنی تلګرافي ټولنه جوړه شوه چې ګڼ شمېر هېوادونو پکې غړیتوب واخیست. لږ وروسته د لویدېځې اروپا اسپانیا، بلجیم، پرتګال، سویتزرلند او فرانسې هم په ورته اقدام لاس پوری کړ او د ( اروپا تلګراف ټولنه) یې جوړه کړه .

د سیمه ییزو ټولنو جوړېدو، د نړیوالو ټولنو د جوړېدو اړتیا پیاوړی کړه. له همدې امله د کال ۱۸٦۵ په مې کې، په پاریس کې د ۲۰ هېوادونو په ګډون د (تلګراف) لومړنۍ نړیواله ټولنه جوړه او (د تلګراف نړیوال کنوانسیون) تصویب شو. د کال ۱۹۰٦ په نومبر کې په لندن کې د ۲۷ هېوادونو په ګډون، د (راډیو تلګراف ) لومړنی کنفرانس جوړ او (د راډیو تلګراف نړیوال کنوانسیون) تصویب شو. دې کنوانسیون په سمندرونو کې د بېړیو ترمنځ اړیکې او ارتباطات جبري وګرځول.

له پاسنیو دوو کنوانسیونونوڅخه وروسته، د تلګراف او راډیوتلګراف پخواني کنوانسیونونه، په یو نوي کنوانسیون کې یوځای شول. د کال ۱۹۳۲ په دسمبر کې د (مخابراتو نړیوال کنوانسیون) تصویب او د کال ۱۹۳۴ په جنوری کې نافذ شو.

له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته، اتلانتیک سیټي کنفرانس، په مخابراتي مقرراتو کې د پام وړ بدلونونه راوستل او د مخابراتو نړیواله ټولنه د یوه تړون له مخې، د ملګرو ملتونو د یوه تخصصي بنسټ په توګه ومنل شوه(۱۹۴۷).

په کال ۱۹۵۲ کې د بوینس ایرس (ارجنتاین) غونډې، د مخابراتو د نړیوالې ټولنې په اساسنامه کې ځینې اصلاحات راوستل. نوی اساسنامه په ۱۹۵۴ کې نافذه شوه. له دی وروسته د ژنیو غوندی، په ۱۹٦۵ کې د مونتریال غونډې او په کال ۱۹۷۳ کې د مالاګاټورمولینوس غونډې، د ITU په کنوانسیون کې ځینې نور تعدیلات هم منظور کړل.[۲۷۲]

غړیتوب: یو هیواد هغه وخت د ITU غړیتوب اخستلای شی چی د استازو کنفرانس ٦٦.٦٦%رایی تر لاسه کړی. ITU دوه ډوله غړی لری:

الف – عادی یا بشپړ غړی چی په غونډو کی د ګډون او رایی حق لری،

ب – فرعی یا ترلی غړی ( هیوادونه/ ناخپلواکه سیمی) چی رایه نه شی ورکولای.

---

[۲۷۲] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سعیدی، ص ۱۸۴-۱۸۳

اوس – اوس ITU ټول ۱۹۳عادی او ۷۰۰ فرعی یا تړلی غړی ( علمی او تخنیکی شرکتونه) لری.[۲۷۳]

اهداف:

ITU په فني، تګلاریزو او پراختیایي برخو کې لاندې اهداف لري:

- د مخابراتي تاسیساتو او آسانتیاوو د اغېزمنو پراختیاوو او عملیاتو ملاتړ،
- مخابراتي خدماتو ته د ټولو خلکو لاسرسی او د خدماتو د ګټورتیا لوړول،
- د نړۍ د اطلاعاتو په ټولنه او اقتصاد کې، د مخابراتي وسایلو او خدماتو په وړاندې د لرلید د پراختیا ننګه،
- له پرمختیایي هېوادونو سره د مخابراتي خدماتو د پراختیا له پاره، د مالي او انساني سرچینو(منابع)څخه د کار اخیستنې په موخه، فني او مشورتي مرستې،
- د راډیو فریکونسي ګانو ټاکل او د فریکونسیګانو د ویش ثبتول،
- په بیلابیلو هیوادونو کی د رادیو فریکونسی ګانو د تداخل د مخنیوی په برخه کی د هڅو همغړی،
- د مخابراتی خدماتو له پاره د تیټو بیو د ټاکلو هڅی،
- د څیړنو ترسره کول، د سپارښتنو صادرول او د غړو هیوادونو په ګټه، د مخابراتی مسایلو په هکله مشوری او وړاندیزونه،
- د مخابراتي پرمختګونو په برخه کې پرله پسې څېړنې او د اطلاعاتو شریکول.

جوړښت: ITU دا اداره کوونکی ارګانونه لری: د واکمنو استازو شوری، اداری شوری، اداری کنفرانس او کمیټی.

- مشرتابه کنفرانس :Plenipotentiary Conferenmce د ټولنې تر ټولو عالي ارګان چې د غړو هېوادونو، له واکمنو استازو څخه جوړ دی او هر څلور کاله وروسته یو ځل غونډه کوي.

د ټولنې په اساسنامه کې احتمالي تعدیلات، د ټولنې د تګلار وټاکل، د بودجې تصویب، د اداري شوری د راپورونو څېړل، د نویو غړو ټاکل، د کارکوونکو د معاشونو ټاکل، له نورو ټولنو سره په پخوانیو هوکړو بیا کتنه او څېړنه او د ITUد سرمنشي، مرستیال او مشرانو چارواکو ټاکنه، د دې کنفرانس له واکونو څخه دي.

- اداري کنفرانس: دا کنفرانس د واکمنو استازو د کنفرانس په وخت کې، د ټولو غړو په ګډون جوړېږي او دا واکونه لري: د تلګرافي – راډیویي او تلفوني مقرراتو نوی کول او عمومي کول او فریکانسونو د ثبت د نړیوالې کمېټې ټاکل.

- اداري شوری: د ITU اداری شوری ۴٦ غړي لري چې د هېوادونو د جغرافیوي وېش له مخې، د کنفرانس له لوري ټاکل کېږي. اداري شوری په کال کې یوځل غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې هر وخت غونډې کولای شي.

---

[۲۷۳] Intl Organization, Conference and Treaties, page ۲۰۶ –

اداری شوری د ITU د دوو کنفرانسونو په مینځ کې، د چارو مسوولیت په غاړه لري. د اداري شوری غټې دندې دا دي: له نورو نړیوالو ټولنو سره د ITU د فعالیتونو همغږي کول؛ د مخابراتو سکتور په عمومی پراختیا، مخابراتی ستندرد کول او د ټولنی د سرمنشی د کارونو څار، د کلنۍ بودیجې تصویب او د دارالانشا په مالي برخه نظر ساتل.

- دارالانشا: دارالانشا د ITU د ټولو ورځنیو کارونو مسوولیت په غاړه لری. د دارالانشا په سر کی سرمنشي ځای لري اچی په ټولو اداری او مالی کارونو څار ساتی او د ټولو فعالیتونو همغږی کوی.

- د رادیویی مخابراتو برخه او کمیتی: د ټولنی دا څانگه په دوو کلونو کی یو ځل، د سیمه ییزه او نړیوالو رادیویی مخابراتو د غونډو د جوړولو او راډیویی بورد کارونه مخ ته بیایی.

د مخابراتی ستندردونو کمیټه په څلورو کلونو کی، یو ځل د مخابراتو د ستندرد کولو مجلسونه جوړوی او د تخنیکی او عملیاتی چارو او بیو د ستندردونو د جوړولو له پاره کار کوی. د مخابراتو د پراختیا کمیټه هر څو کاله وروسته یو ځل، په نړۍ کی د مخابراتی خدماتو د پراختیا او پرمختیا غونډی برابروی او د بیلابیلو هیوادونو، مولدینو او سوداگریزه شرکتونو تر منځ همغږی پیاوړی کوی.[۲۷٤]

فعالیتونه: ITU د ملتونو تر مینځ د گډو اهدافو له پاره، د مخابراتي آسانتیاوو د همغږۍ، له مخابراتو څخه د کار اخستنې په برخه کې د نړیوالو همکاریو د پراختیا، د عامه گټو له پاره د مخابراتي وسایلو د عصري کولو د پرمختیا او د مخابراتو په ډگر کې، د پرمختللو ستندردونو د جوړولو په برخه کې، ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کړي دي.

ITU د بېلابېلو هېوادونو د مخابراتو د مامورینو د روزنې او د سیمه ییزه مخابراتي شبکو د جوړولو له پاره، له غړو هېوادونو سره مرستې کوي.[۲۷٥]

مقر: د ITU مرکز په ژنیو( سویتزرلند) کی موقعیت لری.

په ITU کې د افغانستان غړیتوب: په کال ۱۸۹۸ (۱۲٦۷ هـ ش) کې، د کابل په ارگ کې سیم لرونکی تلفون ولگول شو. لس کاله وروسته د ارگ شمال لور ته، د ۲۵ لینونو په ظرفیتیو سویچ په کار واچول شو. په ۱۹۱۴ کې دوه کیلو واته تلگراف د بابر په بڼ کې نصب شو. افغانستان په ۱۹۲۸ کې د تلگراف د نړیوالی غړیتوب تر لاسه کړی دی.[۲۷٦]

---

[۲۷٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۹-۱۹۰
[۲۷٥] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۴۶-۲۴۴
[۲۷٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۹۰

## ۸ -- د ملګرو ملتونو علمي، فرهنګي او زده کړنیزهټولنه

**United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization(UNESCO)**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

له لومړنې نړیوالې جګړې څخه مخکې، د هېوادونو د پېژندګلوی، د علومو او کلتور د پراختیا او پرمختګ له پاره فکرونه پیاوړي کېدل. له همدې امله د هالند دولت په کال ۱۹۱۴ کې، د زده کړو د یوې نړیوالې ټولنې د جوړېدو او د علمي او فرهنګي فعالیتونو د تنظیم او همغږي طرح وړاندې او د نړۍ له یو شمیر هیوادونو وغوښتل چې د ښوونی او روزنی ټولنی په جوړیدونکی غونډه کی برخه واخلی.. له بده مرغه چې لومړنې نړیوالې جګړې دا کار وځنډاوه. د ولسونو ټولنې له جوړېدو وروسته، فرانسې او بلجیم په کال ۱۹۲۱ کی د علمي همکاریو د یو کمیسیون د جوړولو وړاندیز وکړ چې د ولسونو ټولنی یوه مشورتی څانګه بلل کیده. په کال ۱۹۳۰ کې د دی کمیسیون اجراییه پلاوی وټاکل شو.

فرانسې په کال ۱۹۲۴ کې د علمي همکاریو د کمیسیون د ملاتړ له پاره، د علمی همکاریو نړیواله موسسه International Committee of Intellectual Coopretion ( ICIC) جوړه کړه، چې تر دویمې نړیوالې جګړې پورې یې فعالیت کاوه. په کال ۱۹۳۹ کې د متفقو هیوادونو د پوهنی وزیرانو، د برتانیا له دولت څخه وغوښتل چې په لندن کی د یوی فرهنګی او ښوونیزی ټولنی، د جوړیدو د پاره یوه غونډه راوبولی. په همدی کال کی برتانیا او فرانسی د یوی علمی، فرهنګی او روزنیزی ټولنی د جوړیدو غونډه جوړه کړه، چی د امنیت شوری د غړو تر څنګ، د نړۍ ۴۴ هیوادونو پکی برخه واخسته او ۳۷ د نومبر په ۱٦د UNESCO اساسنامه تصویب کړه. وروسته ۲۰ هیوادونو نورو هم دا اساسنامه ومنله او د ملګرو ملتونو د یو تخصصی بنسټ په توګه یوه علمي، فرهنګي او زده کړنیزه ټولنه جوړه شوه ( ۱۹٤٦دسمبر)[۲۷۷]

د UNESCO لومړنی اساسنامه ۲۰ هیوادونو لاسلیک کړی وه ( ۱۹٤٦) چی اوس د بنسټ ایښودونکو هیوادونو په توګه پیژندل کیږی. په کال ۱۹۵۰ کی دی ټولنی ۵۱ غړی درلودل. په کال ۱۹۵۴ کی شوروی اتحاد یواویایم غړی هیواد شو. د ۱۹٦۲- ۱۹٦۰ کلونو په بهیر کی چی دیر هیوادونه خپلواکه شول، ۲۴ افریقایی هیوادونو د UNESCO غړیتوب واخست. په ۱۹۸۴ کی امریکا متحده ایالاتو دا ټولنه ځکه پریښوده چی په تګلارو او مشرتابه یی اعتراض درلود. لږ وروسته برتانیا او سنګاپور هم ووتل .

له کال ۱۹۹۰ څخه وروسته چی شوروی اتحاد او یوګوسلاویا ړنګ شول، دیر نوی هیوادونه د UNESCO غړی شول. برتانیا په کال ۱۹۹۷ او امریکا په ۲۰۰۳ کی بیرته راوګرځیدل. اوس دا ټولنه د افغانستان په کډون ۱۹۵ غړی هیوادونه لری.[۲۷۸]

غړیتوب: د ملګرو ملتونو هر غړی هیواد د UNESCO غړیتوب ترلاسه کولای شی؛ خو د هغه هیوادونو غوښتنه چی د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لری، د ملګرو ملتونو د اقتصادی او ټولنیزی شوری مرستی او د UNESCO د

---

[۲۷۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص۲۳۲-۲۳۱

[۲۷۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۳۲-۲۳۱

عمومی ټولنی منلو ته اړتیا لری. هر هیواد چی غواړی له دی ټولنی څخه ووځی، باید یو کال مخکی لیکلی خبر ورکړی. په دی ټولنه کی د هر هیواد پلاوی تر پنځو پوری استازی لرلای شی.[۲۷۹]

اهداف: UNESCO له ځپلی اساسنامی سره سم غواړی چی د اطلاعاتو او اسنادو د راکړی- ورکړی، اړیکو، فرهنگ، علومو، ښوونی او روزنی له لاری، د ولسونو تر منځ همکاری پراخه او اغیزمنه کړی او اساسی ازادی گانو، بشری حقونو، د قانون واکمنئ او عدالت ته نړیوال درناوی پیاوړی کاندی.

UNESCO هڅه کوی چی دا اهداف د تخصصی مطالعاتو او غونډو، نړیوالو میثاقونو او د طبیعی او ټولنیزو علومو او پوهنی په برخو کی، د معلوماتو د خپراوی او له غړو هیوادونو سره د فرهنگی، علمی او زده کړنیزو پروگرامونو د عملی کولو له لاری تر لاسه کړی.

UNESCO له دیرو نادولتی نړیوالوټولنو سره، د فکری او علمی کارونو د پراختیا له پاره مالی مرستی کوی او د غړو هیوادونو د هغه ملی ښوونیزو پروژو ملا تړی چی د ښوونی او روزنی له پرمختگ سره مرسته کوی. لکه:

- ټولو ته د لومړنیو زده کړو برابرول،
- لومړنیو زده کړو ته د خلکو اسانه لاسرسی،
- د لومړنیو زده کړو د کیفیت ښه والی،
- د ۲۱ پیړئ له پاره زده کړی.

جوړښت: عمومی کنفرانس، اجراییه شوری او دارالانشا د UNESCO اصلی اذاره کوونکی ارگانونه دی:

عمومي کنفرانس: دا کنفرانس د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی او د ټولنې پرېکړو مهم ارگان گڼل کېږي .

په UNESCO کې د هر هېواد پلاوی تر پنځو پوری استازي لرلای شي. عمومي کنفرانس د UNESCO د تگلارې د ټاکلو او د بودیجې تصویب او د نوو غړو د منلو له پاره، په هرو دوو کلونو کې یوځل غونډه کوي.

اجراییه شوری: اجراییه شوری د عمومی کنفرانس په غیاب کی د UNESCO ټول کارونه مخ ته وړی، د کنفرانس بریکړی تطبیق کوی، پروگرامونه عملي کوی ، د عمومی کنفرانس د غونډو اجنداوی او مواد برابروی، د نویو غړو د منلو وړاندیزونه چمتو کوی او له دارالانشا سره مرسته کوی چی خپلی چاری سمی په مخ یوسی .

اجراییه شوری ۵۸ غړي لري چې د عمومي کنفرانس له خوا، د غړو هېوادونو له منځه داسې ټاکل کېږي: لاتینه امریکا او کارابین ۹، آسیا ۹، افریقا او عرب هېوادونه ۲۰ او اروپا او نوره نړۍ ۱۳ کسان. د غړو د کار موده څلور کاله ده چې د علومو، ښوونې او روزنې، هنر، انساني مسایلو او فکر په برخه کې، د شخصي صلاحیتونو له مخې غوره کېږي او په کال کی دوه ځلی غوندی کوی.

دارالانشا: دارالانشا یو منشي او یو شمېر نړیوال متخصصین او کارکوونکي لري. منشی د اجراییه شوری په وړاندیز د عمومي کنفرانس له خوا د ٦ کلونو له پاره ټاکل کېږي او د UNESCO د پروگرامونو د عملي کولو

---

[۲۷۹] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۲۸-۲۳۰

مسوولیت په غاړه لري. دارالانشا دنده لری چی د UNESCO د کار پلان جوړ کړی، بودجه د تصویب له پاره اجراییه شوری ته وړاندی کړی، د عمومی کنفرانس او اجراییه شوری پریکړی عملی کاندی او د ټولنی د فعالیتونو په اړه راپورونه خپاره کړی[280].

د UNESCO تعلیمی څانگی:

–د تعلیمی پلان جوړونی نړیوال انستتیوت:Intl Institute For Educational Planning ( IIEP)

دا انستتیوت په ټوله نړۍ کی د زده کړو او څیړنو د پراختیا له پاره، په کال ۱۹٦۳ کی په پاریس کس جوړ شوی دی.

–د پوهنی نړیوال دفتر :International Bureau of : Education( IBE) دا دفتر به کال ۱۹۲۵ کی په ژنیو کی جوړ شو چی د ښوونی او روزنی په نصابونو کی په نوښتونو، گټورو منځپانگو ( محتویات)، عملی متودونو او لاروچارو کار کوی.

فعالیتونه: د UNESCO اصلي هدف د ملتونو تر مینځ د ښوونې او روزنې، علومو، کلتور، اړیکو، د اطلاعاتو د راکړې ورکړې، کنفرانسونو، نړیوالو میثاقونو او د هېوادونو تر مینځ د همکاریو د پراختیا له لارې، د نړېوالې سولې او امنیت خوندي کول دي.

د دې موخې له پاره UNESCO په پرمختیایي هېوادونو کې، د ښوونکو د روزنې مالي ملاتړ کوي، د ژوند چاپېریال او د طبیعي شتمنیو د ښه مدیریت له پاره علمي او تخنیکي بنسټونه جوړوي، ملي او فرهنگي ارزښتونه او فرهنگي مواریث ساتي، د علومو د پرمختگ له پاره د غړو دولتونو د سیاسي تگلارو له اغیزمنتیا سره مرسته کوي، د رسنیو او بیان د آزادیو ملاتړ کوي؛ د بشري حقونو، ولسواکۍ، سولې او عدالت د څېړنو په برخو کې مرستې کوي او د نژادي توپیر (تبعیض)، نژاد پالنې او تعصب د ورکاوی له پاره زیار باسي.

UNESCO د خلکو د ژوندانه د ښه والی له پاره د نړیوالی علمی همکاری همغږی کوی او د همدی له پاره یی په قاهره، جاکارتا، نایروبی، نوی ډیلی او مونتوویدو کی دفترونه پرانستی دی.[۲۸۱]

د اړیکو په برخه کی UNESCO هڅه کوی چی د رسنیو د خپلواکی، د بیان د ازادی او خلکو ته د معلوماتو او اطلاعاتو د رسولو ننگه وکړی.

د فرهنگ په برخه کی زیار باسی چی د فرهنگ او پرمختیا تر مینځ د اړیکو او د نړیوالو فرهنگی مواریثو د ساتنی په برخو کی، څیړنی وکړی او له هیوادونو سره مرسته وکړی چی د خپلو ولسونو فزیکی یا غیرفزیکی میثاقونه خوندی وساتی. UNESCO د همدی کار له پاره په کال ۱۹۷۲ کی د نړۍ د فرهنگی او طبیعی میراثونو د ساتنی کنوانسیون تصویب کړ.[۲۸۲]

---

[280] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۳۱-۲۳۰

[۲۸۱] – Intl Organizations, Conferences and Treaties, page 11-21

[282] – Intl Organizations, Conferences and Treaties, page 21-22

UNESCO د طبیعي علومو په برخه کې دا پروژې لري: انسان او بایوسفیرBiosphere ، د سمندرونو بین الدولتي کمیسیون، د ځمکپېژندنې او اوبپېژندنې (اوبه پېژندنه) پروګرام او په صنعتي او غیرصنعتي هېوادونو کې د علمي او متخصصو انسانانو د نااندولئ ستونزه.[۲۸۳]

د UNESCO په چوکاټ کې ۱۹۰ ملي کمیسیونونه شته چې په غړو هېوادونو کې فعال دي، نژدې ۵۰۰۰ ټولنې او مرکزونه د UNESCO د کارونو ملاتړ کوي او له ۳۵۰ نادولتي ټولنو سره رسمي اړیکې او له ډېرو سیمه ییزه او نړیوالو موسساتو او ملي بنسټونو سره همکاري لري .[۲۸٤]

مقر: د UNESCO مرکز په پاریس کې دی؛ خو سیمه ییز دفترونه او ملي کمیسیونونه یې په ټوله نړۍ کې فعال دي. د UNESCO سیمه ییز دفترونه د دارالانشا د فرعي څانګو په توګه، د مسوولیتونو د وېش او د کاري حجم د کموالي له پاره، د نړۍ په څلورو لاندې برخو کې جوړ شوي دي.

د آسیا له پاره د بنکاک دفتر، د افریقا له پاره د ډاکار دفتر، د لاتینې امریکا له پاره د سانتیاګو دفتر او د عربي هېوادونو له پاره د بیروت دفتر .[۲۸٥]

په UNESCO کې د افغانستان غړیتوب: افغانستان په کال ۱۹۴۸ (۱۳۲۷ هـ ش) کې د UNESCO غړی شو. په کابل کې د دې ټولنې دفتر، د ملګرو ملتونو د یو تخصصي بنسټ په توګه په دې کارونو بوخت دي: د پوهنې، علومو، فرهنګ، اړیکو او د معلوماتو د خپریدا پرمختګ او اغیزمنتوب؛ د بېوزلتیا مخنیوی، سولې ته د رسېدو له پاره د خبرو هڅول، بشري تنوع او حقونو ته درناوی، د علمي فضا جوړول، د رسنیو ملاتړ او په ټوله کې د افغانستان له هر اړخیز پرمختګ سره مرسته .[۲۸٦] د سواد د کچې لوړول، پوهنه د ټولو د پاره، د لوړو زده کړو د ظرفیت جګول او ستراتیژیکه پلان جوړونه، د تلپاته سولې او پراختیا له پاره د پوهنې پروژه، د AIDS په هکله د خلکو پوهاوی او په ټوله کې د ښوونیاو روزنې د سیستمونو نوی کول.[۲۸۷]

### ۹ – د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا ټولنه

**United Nations Industrial Development Organization (UNIDO):**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

د ملګرو ملتونو د جوړېدو په وخت کې، داسې ډېر پرمختیایي هېوادونه وو چې خپلواکه شوي وو؛ خو تر دې وخته لا د پرمختګ او د صنعتي کېدو پړاو ته نه وو رسېدلي. له همدې امله ملګرو ملتونو د پرمختیایي هېوادونو د ژر صنعتي کېدو د مرستې او هڅونې له پاره، بېلابېل پروګرامونه پېل کړل. د مثال په توګه په کال ۱۹۴۸ کې د (ملګرو ملتونو د مرستو پراختیایي پروګرام)، په ۱۹۵۸ کې د (ملګرو ملتونو ځانګړی صندوق) او په ۱۹٦۰

---

[۲۸۳] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص۲۷۳-۲۷۲

[۲۸٤] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۷۳-۲۷۲

[285] unesco.org

[۲۸٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۷۳

[287] www.iaea.org/about history,html

کې د (د صنعتي ودې کمېټه) یادولای شو؛ خو دې پروګرامونو د پرمختیایي هېوادونو اړتیاوو ته ځواب ونه شو ویلای. له همدې امله د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د اقتصادي او ټولنیزې شورى په سپارښت، په کال ۱۹٦۷ کې د صنعتي پراختیا یوه ټولنه جوړه کړه چې په هغه وخت کې د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا ټولنې یا UNIDOنوم ورته غوره شو.

په کال ۱۹۷۵ کې د UNIDO په دویم کنفرانس کې، چې په لیما (پیرو) کې جوړ شو، پرېکړه وشوه چې دا ټولنه دې د عمومي ټولنې له فرعي څانګې څخه تخصصي بنسټ ته لوړه شي. په کال ۱۹۷۹ کې ملګرو ملتونو، د UNIDO د نوې اساسنامې د تنظیم او تدوین له پاره یوه غونډه وبلله.

دا اساسنامه د کال ۱۹۷۹ د اپریل په اتمه، د ۷۰ هېوادونو له خوا تصویب او د ۱۹۸۵ د جنورۍ په لومړي نېټه اجرایي شوه.

په همدې کال کې ملګرو ملتونو اوUNIDO ، یوه هوکړه لاسلیک کړه چې له مخې یې UNIDO د ملګرو ملتونو د شپاړلسم تخصصي بنسټ په توګه ومنل شو.

اهداف: UNIDO د نړیوالې هوسانې او د خلکو د ژوندانه د ښه والي له پاره، د پرمختیایي هېوادونو د تلپاته صنعتي پرمختیا له پاره، مسلکې حللارې وړاندې کوي او له دولتونو، سوداګریزه ټولنو او د صنایعو له خصوصي برخې سره مرسته او ګډ کار کوي چې له صنعتي ځواکمنتیا څخه، د صنعت د نړیوال کېدو د ښېګڼو د خپرېدو او په عین حال کې له ستونزو سره د مبارزې په برخه کې ګټه واخلي.

UNIDO د خپلو خدماتو د ملاتړ له پاره، په ویانا (استریا) کې اقتصاد پوهان، د اقتصاد او ژوند چاپېریال کارپوهان او مهندسین او په خپلو سیمه ییزه دفاترو او د پانګونې د ترویج د خدماتو په مراکزو کې مسلکي مامورین لري.

جوړښت:

–عمومي کنفرانس: د UNIDO عمومي کنفرانس، د ۱۷۰ غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی چې په هرو دوو کلونو کېیوځل غونډه کوي .د UNIDO د عمومي تګلاروټاکل او د هوکړه لیکونو تصویب د عمومي کنفرانس له واکونو څخه دي.

- مدیره هیات: د UNIDO مدیره هیات له ۵۳ غړوڅخه جوړ دی چې د جغرافیوي وېش له مخې، د عمومي کنفرانس له خوا د ۴ کلونو ټاکل کېږي. مدیره هیات دنده لري چې د عمومي کنفرانس د پرېکړو عملي کول وڅاري.

- د تګلارو او بودجې کمېټه: دا کمېټه ۲۷ غړي لري چې د عمومي کنفرانس له لوري، د جغرافیوي وېش له مخې، د دوو کلونو له پاره ټاکل کېږي او په کال کې دوه ځلې غونډې کوي. دا کمېټه د ټولنې بودجه او کاري پروګرامونه چمتو کوي او مدیره هیات ته یې سپاري، چې مدیره هیات یې له څېړنې او ارزونې وروسته، د تصویب له پاره عمومي کنفرانس ته وړاندې کوي.

- دارالانشا: د UNIDO دارالانشا یو منشي، یو نایب منشي او څو مدیران او اداري کارکوونکي لري.منشي د عمومي کنفرانس له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي .[۲۸۸]

فعالیتونه : UNIDO په نوي اقتصادي نظام کې، د پرمختیایي هېوادونه په صنعتي کېدو کې ځانګړی رول لوبوي. پرمختیایي هېوادونه هم غواړي چې د UNIDO له عمومي کنفرانس څخه، د نوي نړیوال اقتصادي نظام په چوکاټ کې، د صنعتي کولو د یوه چټک بهیر په توګه استفاده وکړي.

د UNIDO دویم کنفرانس مخکې په لیما (پیرو) پرېکړه کړې وه، چې د نړۍ په صنعتي تولیداتو کې، د پرمختیایي هېوادونو ونډه باید۲۵% ته لوړه شي. په هغه وخت کې دا پرېکړه هم شوې وه چې د UNIDO په چوکاټ کې، باید د پرمختیایي او صنعتي هېوادونو تر منځیو مشورتي سیستم منځ ته راشي.

په کال ۱۹۸۰ کې د UNIDO په درېیم کنفرانس ( نوي ډیلی-هند) کې، صنعتي هېوادونو د پرمختیایي هېوادونو غوښتنې رد کړې.

د پرمختیایي هېوادونو دا وړاندیز، چې د صنعتي ودې او پراختیا د مرستې او لاسنیوی له پاره دې یو صندوق جوړ شي، د صنعتي هېوادونو له خوا ونه منل شو.

صنعتي هېوادونو استدلال کاوه چې پرمختیایي هېوادونه دې، د خپلې صنعتي ودې او پراختیا له پاره، ترجیحي ګمرکي سیستم پیاوړی کړي او UNIDO دې تر پخوا ډېره فعاله شي .[۲۸۹]

مقر: د UNIDO مرکزي دفتر په ویانا (استریا) کې دی او ٦٧٠ کارکوونکي لریاو په ټوله نړۍ کې له ۲۸۰۰ کارپوهانو سره اوږدمهاله او لنډمهاله اړیکې ساتي .[۲۹۰]

---

[۲۸۸] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۶۹-۶۸

[۲۸۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۸۰-۱۷۹

[290] Google.com

## ۱۰ --د سیلانیانو (توریزم) نړیواله ټولنه

**United Nations World Tourism Organization (UNWTO)**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

UNWTO د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شوری یا ECOSOC یو تخصصي بنسټ دی چې په نړۍ کې د اوږدمهاله، مسوول او آسانه توریزم د پاره کار کوي. دا ټولنه زیار باسی چې د توریزم د نړیوالې او تخصصي پوهې د عاملو، د توریزم د نړیوالو کړنلارو او تګلارو د جوړولو او د ملي اقتصادونو د پرمختیا او پراختیا له پاره، د توریزم د ارځښت او غټې ونډې په هکله پروګرامونه، غونډې او خپرونې ولري؛ د نړیوال توریزم ارقام او معلومات چمتو کوي، د څېړنو مراکز لري او د توریزم په برخه کې د اخلاقي کودونو د جوړولو او نوي کولو مسوولیت په غاړه لري.

UNWTO هڅه کوي چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په بهیر باندې، د توریزم اغېزمنتیا ډېره کړي او د هر راز منفیتوب مخه ونیسي.

UNWTO همدا راز د توریزم د اوږدمهاله پرمختګونو، مثبتو بدلونونو او نوښتونو، ټولنیزو مسوولیتونو، د تخنیکي وړتیاوو په اغېزمنتوب،د ویزو د ورکولو په اسانتیا او د سیلانیانو په فزیکی او روانی خوندیتوب او مسلکي زده کړو ټینګار کوي او په دې برخه کې له دولتونو او خصوصي سکتور سره ګډ ګټور کارونه مخ ته وړی.

توریزم په نړۍ کې انساني تفاهم پیاوړی کوي، د سولې له پراختیا سره مرسته کوي او سلګونو زره کسانو ته یې د کار او معیشت امکانات برابر کړي دي.

په کال ۲۰۱۹ یعنې له کرونا څخه یو کال مخکې، په نړۍ کې ۵.۱ ملیون کسانو د لنډ یا ډېر وخت له پاره سفر کړی چې سیلاني بلل کیږی. دومره لوی تحرک دې صنعت ته وس ورکړی چې په ټوله نړۍ کې، له لسو شاغلینو څخه یو په توریزم پورې اړه ولري.

غړیتوب: د نړۍ ۱۵۸ هېوادونه چی د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په غونډو کې استازي لري، د UNWTO غړي بلل کیږی. په دې ټولنه کې د خصوصي سکتور (سوداګریزه شرکتونه، زده کړنیز مراکز، د سیلانیانو دفترونه او داسې نور) ۵۰۰ استازي هم شته چې له دولتي استازو سره یو ځای، په قوي ملګرتیا د هغه اهدافو د تحقق له پاره کار کوی، چې ملګرو ملتونو په هغه اوږدمهاله پلانونو کې راځي چې غواړي توریزم د پرمختیا د یوه لوی عامل په توګه، ګټور کار ته وهڅوي او د بېوزلتیا په کمولو کې رغنده ونډه واخلي.

په پاسنیو ۱۵۸ هېوادونو سربېره دا ٦ سیمې هم د UNWTO غړیتوب لري: پورتوریکو، اروبا، هانګ کانګ، مکاو، مادیرا Madeira او Flemish Community. واتیکان او فلسطین په دی ټولنه کی د څارونکو دریځ لري.

جوړښت: عمومي ټولنه، اجرائیه شوری، دارالانشا او څو کمیټې، د UNWTO اصلي اداره کوونکي ارګانونه دي.

عمومي ټولنه: د UNWTO عمومي ټولنه چې د ټولو هیوادونو له استازو څخه جوړه ده او په هرو دوو کلونو کې یو ځل غونډه کوي، د ټولنې لویی تګلارې ټاکي او کلنۍ بودجه او کاري پلانونه تصویبوي. د هغه ٦ ناخپلواکه

سیمو او خصوصي سکتور استازي په غونډو کې د څارونکو په توګه برخه اخستلای شي؛ خو د رایې حق نه لري. د توریستي اخلاقو نړیواله کمیټه World Committee on Tourism Ethics د دې عمومي ټولنې یوه فرعي څانګه ده.

اجرائیه شوری: اجرائیه شوری د UNWTO دویم مهم اداره کوونکی ارګان دی چې د ټولنې ټول لوی کارونه مخ ته وړي. د دې شوری هر غړی د ۵ دولتونو استازي بلل کېږي چې عمومي ټولنه یې ټاکي او په هر کال کې دوه ځلې سره ګوري. اسپانیا د UNWTO د کوربه هېواد په توګه، په اجرائیه شوری کې دایمي استازي لري.

کمیټې: ټولنه اته تخصصي کمېټې لري چې عمومي ټولنې او اجرائیه شوری ته مشورې ورکوي: د پروګرامونو کمیټه، د بودجې او مالي چارو کمیټه، د احصایې او سپوړمکیز حساب Satellite Account کمیټه، د مارکیټ او سیالیو کمیټه، د توریزم د اوږدمهاله پرمختګ کمیټه، د توریستي اخلاقو نړیواله کمیټه، د بېوزلتیا د کمولو کمیټه او د څارونکو او ملګرو غړو د کتنې او ټاکنی کمیټه.

دارالانشا: دارالانشا د UNWTO ورځنې چارې په مخ وړي. دارالانشا اوس په مادرید (اسپانیا) کې ۱۱۰ کارکوونکي لري چې د ټولنې د عمومي غونډې او اجرائیه شوری د پرېکړو د عملي کولو په برخه کې په کار بوخت دي.

دارالانشا په اوساکا (جاپان) کې د آسیا – پاسفیک سیمه ییز دفتر لري چې لګښتونه یې د جاپان حکومت ورکوي او په ژنیو (سویتزرلند) کې هم یو کمکی دفتر لري چې په دې ښار کې د ملګرو ملتونو له دفاترو، WTO (د سوداګرئ نړیواله ټولنه) او دیپلوماتیکو استازولیو سره اړیکې ساتي او یو د بل په مرسته ګډ کارونه مخ ته وړي.

عربي، چینایي، روسي، فرانسوي، اسپانوي او انګلیسي د UNWTO رسمي ژبې دي.

مقر: د UNWTO مقر په په مادرید (اسپانیا) کې دی.[۲۹۱]

### ۱۱ -- د پوسټ نړیواله ټولنه(Universal Postal Union (UPU

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

پستي راکړه ورکړه په نړۍ کې پخوانی تاریخ لري. په ۱۷ پېړۍ کې د پوست له لارې د شخصي لیکونو، رسمي مکتوبونو او نورو توکو د لېږد چارې منظمې او څو کمکی ترونونه لاسلیک شول. په ۱۹ پېړۍ کې د وړلو – راوړلو د وسایلو له پرمختګ سره جوخت، د پستي راکړې – ورکړې د یوې ټولنې د جوړېدو اړتیا ډېره شوه. په کال ۱۸۴۰ کې برتانیا او وروسته فرانسی پستي ټکټونه چاپ کړل چې ژر په نړۍ کې ومنل شول او د ډېرو هېوادونو ترمینځ یې د یو ترون لاسلیک ته لار پرانسته .

په کال ۱۸۴۳ کې د امریکا متحده ایالاتو د پست اداری د مشر په بلنه، د نړۍ ۱۵ هېوادونه په پاریس کې جرګه شول او د خلکو -- خلکو تر منځ د اړیکو د اسانتیا او سمون له پاره یی ، د پستي راکړې ورکړې لومړني

[291] en.wikipedia/UNWTO

اصول تصویب کړل چی منل یی الزامی نه و؛ خو اسانتیاوییی رامنځ ته کولی. په کال ۱۸۷۰ کې د فرانسې او برتانیا جګړې دې اصولو ته زیان ورساوه. په کال ۱۸۷۴ کې د فرانسی او سویتزرلند په غوښتنه، د برن (سویتزرلند) کنګری د پاریس په پستی اصولو نوی کتنه وکړه او د پست عمومي ټولنه جوړه شوه. دا نوم د پست په دویمه کنګره کی چی په پاریس کی جوړه شوه، د پوست نړیواله ټولنه Universal Postal Unionیا UPU شو .[۲۹۲]

د پوست نړیواله ټولنه د ولسونو ټولنې په وخت کې د هغې یوه برخه وه؛ خو د ملګرو ملتونو له جوړېدا وروسته، د پوست نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو تر مینځ داسې یوه هوکړه لاسلیک شوه چې دا ټولنه په رسمي ډول د ملګرو ملتونو د یوه تخصصي بنسټ بڼه غوره کړه (۱۹۴۷ د جنوری لومړی).

د UPU اساسنامه په کال ۱۹٦۴ کی د ویانا کنګری له خوا تصویب او دوه کاله وروسته اجرایی شوه .

غړیتوب: مخکی له دی چی UPU د ملګرو ماتونو یو تخصصی بنسټ شی، هر هیواد په خپله خوښه د هغی غړیتوب ترلاسه کولای شوای؛ خو د کال ۱۹۴۷ د جنوری لومړی تړون څخه وروسته (UPU + UN ) ، د متقاضی هیواد له پاره د ملګرو ملتونو غړیتوب حتمی و ګڼل شو. داسی هیواد باید لومړی د ملګرو ملتونو غړیتوب او د UPUد کنګری٦٦.٦٦ % رایه اخیستی وای.[۲۹۳]

اهداف: UPU د دی اهدافو له پاره جوړه شوی ده:

- د یو شان اصولو د جوړولو د لاری، د نړیوالو پستی خدماتو سمون او ښه والی او د نړۍ د هیوادونو تر منځ د ګډ کار او همغږی پیاوړی کول. UPU د دی ارمان د پوره کیدو له پاره، د نړۍ ټول هیوادونه یو جغرافیایی واحد ومانه او داسی اصول یی جوړ کړل چی د خلکو، موسساتو او دولتونو مکاتیب د استولو له وخته تر رسولو پوری تضمین کاندی.
- د نړۍ هر ګوټ ته د مکاتیبو د استولو یو شان او اسانه لاری چاری او د کورنی او بهرنی پست له پاره د پستی چارواکو یو شان چلند،
- د منځګړیتوب (حکمیت) له لاری پستی ستونزو ته د حللارو موندل.۲۹٤

جوړښت:

د پوست نړیواله کنګره، اجراییه شوری، د پوستي مطالعاتو مشورتي شوری او نړیوال دفتر د UPU اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی.

–د پوست نړیواله کنګره: کنګره د UPU تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان، د ټولو غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده چې په ۵ کلونو یو ځل عادي غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې او د اکثریت غړو په غوښتنه، فوق العاده غونډې هم جوړولای شی. د UPU په اساسنامه کی تعدیلات، په پستي قوانینو کې بدلون، د ټولنې د

---

[۲۹۲] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری، ص ۲۴۱-۲۴۰

[۲۹۳]سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۵

[۲۹٤] سازمان های بین المللی، نامرد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۸۵

فعالیتونو او پروګرامونو تنظیم او د بودجې تصویب د کنګرې له واکونو څخه دي. کنګره همدا شان خپل سرمنشي او مرستیال او د اجراییه شوری او د پستی مطالعاتو د مشورتي شوری غړیټاکي.

–اجراییه شوری: اجراییه شوری ۴۱ غړي لري چی د ګنګری له خوا د جغرافیایی اندول له مخی ټاکل کیږی، او په کال کې یوځل په برن ( سوستزرلند) کی غونډه کوي.

د ټولنې په نورمال کار څار، له نورو تخصصي بنسټونو سره د همغږی له پاره د UPU د جوړښت برابرول، د پستي خدماتو د کیفیت ښه والی، کلنۍ بودجه، د کارکوونکو ټاکل، د ټولنې د کلني فعالیتونو د راپور څېړل او تایید د پستي مطالعاتو د مشورتي شوری د کلني راپور اوریدل، د اجراییه شوری له مهمو دندو څخه دي.

–مشورتی شوری: دا شوری د UPU په ۲۳ مه کنګره کی چی د کال ۲۰۰۴ د سپتمبر په ۱٦ جوړه شوی وه، تصویب شوه چی د پستی سکتور د ګټو استازی بلل کیږی او د پستی دوایرو د مشرانو تر منځ اغیزمنی او ګټوری خبری هڅوی.

–د پستي مطالعاتو مشورتي شوری: دا شوری له کال ۱۹۷۵ را دیخوا فعاله ده او ۴۰ غړي لري چې د UPU د کنګری له خوا ټاکل کیږی او په کال کې یو ځل په برن ( سویتزرلند) کی غونډه کوي.

دا شوری د پستي خدماتو په برخه کې، د UPU د غړو هیوادونو د پستی دوایرو اقتصادي، فني او سوداګریز عملیات څیړی، مشوری ورکوی او له نویو خپلواکه هېوادونو سره د پستي خدماتو د پرسونل په روزلو کې مرسته کوي.

–نړیوال دفتر: دا دفتر په اصل کې د UPU دارالانشا ده چې د پستي دفترونو تر منځ د مشورې ورکولو، همغږۍ او اړیکو مسوولیت په غاړه لري. د پست په هکله اطلاعات وېشي او د بېلابېلو هېوادونو تر منځ، د پستي راکړو ورکړو حسابونه تصفیه کوي .[۲۹۵]

د UPU دارالانشا په برن کی ۱۵۰ کارکوونکی لری چی د نړۍ له ۴۰ هیوادونو څخه غوره کیږی.

فعالیتونه UPU : د اغېزمنو پستي خدماتو او تعرفو له لارې، ټوله نړۍ یو له بل سره نښلولې او د هوایي، سمندري او ځمکنیو پوست پاکټ او پست پارسل د وزن، سایز، څرنګوالي، بیو او ګمرکي تشریفاتو په هکله مقررات تصویب کړي دیUPU . د ښو پستي خدماتو له پاره د هېوادونو او سیمه ییزه ټولنو سره، د طرحو په جوړولو او عملي کولو، د کارپوهانو او مشاورینو د استولو، تعلیمي بورسونو او تخنیکي وسایلو په برابرولو کې مرسته کوي.[۲۹٦]

مقر: د UPU ټول دفترونه په برن ( سویتزرلند) کیځای په ځای دی.

په UPU کې د افغانستان غړیتوب:

---

[۲۹۵] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۸۶-۱۸۵

[۲۹٦] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۴۳-۲۴۱

په افغانستان کې د پست تاریخ د امیر شیر علی خان وخت یا د ۱۹ پېړۍ شپږمې لسیزې ته رسي. هغه وخت د کابل په بالاحصار کې یو دفتر (چاپارخانه) پرانستل شو چې د خلکو، شرکتونو او دولت خطونه او مکتوبونه به یې وړل – راوړل.

د اعلحضرت غازي امیر امان الله خان په وخت کې د کورنیو چارو په وزارت کې د پست، تلفون او تلگراف اداره جوړه او په ډېرو ولایتي مراکزو او غټو ښارونو کې د پستي خدماتو دفترونه پرانستل شول. چاپارخانه یوازی د پست کورنی خدمات سر ته رسول: خو که به بهر ته د پست د استولو اړتیا ولیدل شوه؛ نو دولت به یو قاصد ورته وټاکه.

د اعلیحضرت محمد نادر په وخت کې پستي خدمات نور هم ښه شول. افغانستان په کال ۱۹۲۸ (۱۳۰۷ هـ ش) کې د UPU غړیتوب تر لاسه او د لومړی ځل له پاره بهر ته د هوا له لاری د پستونو استول پیل شول .[۲۹۷]

## ۱۲-- د روغتیا نړیوالټولنه(World Health Organization (WHO

(اقتصادی او ټولنیزه شوری)

انسانان له پخوا څخه د ساري ناروغیو د خپرېدا او نورو سیمو ته د دی ناروغیو د لېږد په خطرونو پوه او په دې هڅه کې وو چې روغتیایي وسایل جوړ او د ناروغیو د مخنوي لارې چارې ومومي. اروپایان په دې برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ وو؛ ځکه چی دوی لیرې ختیځ او آسیا ته ډېر تگ راتگ درلود، چېرته چې د وبا او طاعون په شان ساري ناروغۍ ډېرې وي. صنعتي انقلاب او د تگ او راتگ له پاره د ماشینونو جوړېدا، په دې برخه کې د دولتونو مسوولیتونه نور هم دروند کړ.

په کال ۱۸۵۱ کې ناپلیون بوناپارت په پاریس کې، د روغتیا نړېوال کنفرانس جوړ او له آسیایي ناروغیو څخه، د اروپایي هېوادونو د خوندیتوب لومړنی نړیوال تړون لاسلیک شو. د کال ۱۹۰۷ کنفرانس د عمومي روغتیا نړیوال دفتر International Office of Public Health یاIOPH جوړېدو ته لار پرانسته چی مرکز یې په پاریس کې و. دی دفتر دنده درلوده جی د ساری ناروغیو په هکله د اطلاعاتو تبادله گړندی کاندی، د ساری ناروغیو د خپریدا د مخنیوی سپارښتنی وکړی او د عمومی روغتیا په برخه کی په نړیوالو تړونونو بیاکتنه وکړی.[۲۹۸]

د ولسونو ټولنی د کار په وخت کی، IOPH د دی ټولنی د روغتیا د کمیتی تر نامه لاندی کار کاوه[299].

د ملگرو ملتونو د جوړېدو په درشل کې د برازیل استازي، د سانفرانسسکو په غونډه کې د یوې نړیوالې روغتیایي ټولنې د جوړېدو وړاندیز وکړ چې د یو شمېر هېوادونو له هرکلي سره مخامخ شو او د کال ۱۹۴٦ په جون کې په ژنیو (سویتزرلند) کې د روغتیا لومړنی نړیواله غونډه جوړه شوه.

---

[۲۹۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۱۸۷

[۲۹۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۰۲

[299] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص۲۶۵-۲۶۴

دې غونډې د WHO اساسنامه د رایو په اتفاق تصویب کړه چې د ۱۹۴۷ په اپریل کې اجرایي شوه او WHO د یو تړون له مخی د ملګرو ملتونو د یو تخصصی بنسټ په توګه وبیژندل شوه او دی ټولنی د ( عمومی روغتیا د نړیوال دفتر)، د ولسونو ټولنی ( د روغتیا ټولنی) او د ملګرو ملتونو د Relief and Rehebilatation Adminstration( UNRRA) ټولی دندی او واکونه په غاړه واخستل[300].

غړیتوب: د ملکرو ملتونو غړی هیوادونه په همغه ورځ چی اساسنامه ومنی، د WHO غړیتوب ترلاسه کوی، نور هیوادونه که د WHO د عمومی ټولنی اکثریت رایی واخلی، غړی حسابیږی. اوس – اوس WHO د افغانستان په ګډون ۱۹۴ غړی هیوادونه لری.[۳۰۱]

اهداف: WHO په روغتیایي چارو کې له ولسونو سره فني مرسته کوي، د ساری ناروغیو د له مینځه وړلو او کنټرول د پاره پروګرامونه جوړوي، هڅه کوي چې د ژوند څرنګوالی (کیفیت) ښه شي او د نړۍ ټول خلک ښه روغتیا ولري.

د WHO اوږدمهاله اهداف دا دي:

- په ببوزله سیمو او خلکو کې د معلولیت، ناروغیو او مړینې کمول، د روغ ژوندانه د لارو چارو ترویج او د هغه روغتیایي خطرونو کمول، چې د ژوند له چاپېریال او ټولنیزو، اقتصادي او چال چلندیزو سرچینو څخه زېږي،
- د داسې اغېزمن او عادلانه روغتیایي نظام جوړول، چې د خلکو روا غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي او د لګښت له پلوه په انصاف ولاړ وي،
- د روغتیا له پاره د مناسبو سیاستونو او بنسټونو جوړول، او د ژوند د چاپېریال او پراختیا په برخه کې، د اقتصادي او ټولنیزو سیاستونو د روغتیایي اړخ ننګه او ملاتړ،
- د سارس، ملاریا، ایبولا او کرونا په شان د ساری او سرطان او AIDs ناروغیو د څېړنو او تداوی د نړیوالو هڅو همغږی، او د داسی ناروغیو د معالجی تمویل،
- د اغیزمنو واکسینونو د پرمختیا او ویش ملاتړ او د داروګانو د سمی پیژندنی علمی مرسته،

جوړښت:

–عمومي ټولنه: عمومی ټولنه د هېوادونو، نړیوالو ټولنو او نادولتی ټولنو له استازو څخه جوړه ده؛ خو رایه یوازی د هېوادونو استازي ورکولای شي.

د WHO د تګلاروټاکل، دوه کلن پروګرامونه، د بودیجې تصویب او د مالی مقرراتو ټاکل، د سرمنشي ټاکل، د قرنطین په برخه کې د مقرراتو ټاکل، د روغتیایي طرحو جوړول، د ناروغیو د پېژندنې (تشخیص) او درمل جوړولو

---

[300] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۶۷ – ۱۶۸.

[301] www.who.int/countries

په برخو کې د معیارونو او ستنډردونو ټاکل، او د نړیولو مقرراتو او کنوانسیونونو برابرول، د WHO له مسوولیتونو څخه دي. عمومي ټولنه د هر کال په مې کې په ژنیو کی غونډه کوی .[۳۰۲]

–اجراییوي پلاوی: ۳۴ غړي لري چې د هېوادونو استازي نه، بلکه مستقل مسلکي روغتیایي متخصصین دي چی دری کاله کار کوی. د اجراییه پلاوي دندې دا دی: د ټولنې د غونډو د اجنډاوو جوړول، د عمومی ټولنې د سیاستونو او پرېکړو عملي کول او ټولنې ته مشوره ورکول.

–دارالانشا: WHO په ژنیو کې، یو شمېر متخصص او مسلکي کارکوونکي لري چې په سر کې یی سرمنشي ځای لري، چې ټولنه یې د اجراییه پلاوی په وړاندیز د پنځو کلونو له پاره ټاکي.

–سیمه ییز دفترونه: WHO شپږ سیمه ییز دفترونه لري، چې هر یو- یو مشر لري چی د سیمی له متخصصینو څخه ټاکل کیږی او د یوه اداري او مسلکي مقام په توګه، د سیمه ییز دفتر کارونه مخ ته وړي. دا سیمه ییز دفترونه دا دي:

- د ختیځې مدیترانې سیمه ییز دفتر، اسکندریه – مصر،
- د افریقا سیمه ییز دفتر، برازاویل – کانګو،
- د اروپا سیمه ییز دفتر، کوپنهاګن – دنمارک،
- د لوېدیځ پاسفیک سیمه ییز دفتر، مانیلا – فلیپین،
- د جنوب ختیځې آسیا سیمه ییز دفتر، نوی ډیلي – هند،
- د امریکا سیمه ییز دفتر، واشنګټن – امریکا.

فعالیتونه: WHO نړیوالو ته د غوره روغتیایي خدماتو د وړاندې کولو له پاره، ډېر پروګرامونه تطبیق کړي او د عمومي روغتیا له پاره یې، د هېوادونو مرستې جلب کړي دي. د مسلکي او متخصصو کسانو کموالی، د روغتیایي خدماتو د ښړالی په لار کې یو لوی خنډ دی. د همدې له پاره WHO په ټوله نړۍ کې، د کادرونو د روزنې له پاره پانګونه کړې او خپل متخصصین د مرستې له پاره نورو هېوادونو ته استوي.

په کال ۱۹۷۹ کې د الماتا (قزاقستان) اعلامیې، د ناروغیو د درملنې، واکسیناسیون او د روغتیاپالنې غږ وکړ. له همدې امله د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په ۱۹۸۱ کې، تر کال ۲۰۰۰ پوری، د ټولې نړۍ د خلکو د ژوندانه د کیفي د ښه والي له پاره، د روغتیا ستراتیژي (تګلاره) تصویب کړه چې نتایج یې باید په دوو او شپږو کلونو کې ارزول شوی وای.

WHO له کال ۱۹۸۷ څخه راپدیخوا، له ایډز سره نړېواله مبارزه هم پېل کړه. اوس هم WHO د حاره سیمو په تبو، نري رنځ، ملاریا، وبا، جذام، طاعون، تناسلي ناروغیو، د مور او ماشومانو په روغتیا او خوړو (تغذیه) ډېر کار کوي.

---

[۳۰۲] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۵۹-۵۸

په کال ۱۹۸۰ کی WHO دا اعلان وکړ چی له دوو لسیزو پرله پسی هڅو او ګډ کار وروسته، د شری ( چیچک) ناروغی پای ته رسیدلی ده. دا ټولنه وایی چی له افغانستان او پاکستان پرته یی د ماشومانو د ګوزن ( فلج) ناروغی هم محدوده کړی او ژر به له مینځه لاړه شی

د WHO ډېر پروګرامونه د ملګرو ملتونو د نورو تخصصي بنسټونو، لکه نړېوال بانک او UNDP په مرسته مخ ته ځي.

WHO د روغتیا په اړه د اطلاعاتو د خپرولو دنده هم لري .[۳۰۳]

مقر: د WHO مرکز په ژنیو کې ده؛ خو په برازاویل، واشنګټن، قاهره، کوپنهاګن، نوی ډیلي او مانیلا او د نړۍ په ۱۴۹ هیوادونو کې، دفترونه او ټول شاوخوا ۷۰۰۰ مامورین لري.[۳۰٤]

په WHO کې د افغانستان غړیتوب: په افغانستان کې WHO له حکومت او نادولتي موسساتو سره په دې برخو کې مرسته کوي: د روغتیایی ستونزو پېژندنه، د روغتیا په برخه کې د څېړنو ملاتړ او د داروګانو او روغتیایي وسایلو مرسته .[۳۰۵]

## ۱۳ -- د معنوي مالکیت نړیواله ټولنه

**World Intellectual Property Organization (WIPO)**

(اقتصادی او ټولنیزه شوری)

که څه هم چی د معنوی مالکیت( حق الطبع، اختراع او داسی نور) د حق ملاتړ، د انسانانو د فرهنګي هڅو په شان اوږد تاریخ لری او د فرهنګي شخصیتونو د کار او زیار د خوندي ساتلو له پاره ډېر مهم بلل کېږي؛ خو په دی برخه کی د نړیوالی ټولنی لومړنۍ هڅی ۱۹ پېړۍ ته رسی. د دې پېړۍ په دویمه نیمایي کې، له معنوي مالکیت څخه د ملاتړ دوه مهم کنوانسیونونه تصویب شول.

۱ – په کال ۱۸۸۳ کې د پاریس کنوانسیون، چې له مخې یې ( د معنوی مالکیت د ملاتړ نړیواله ټولنه) جوړه شوه،

۲ – په کال ۱۸۸٦ کې د برن کنوانسیون، چې د ادبي او هنري اثارو د ملاتړ او د معنوی مالکیتونو د ساتنی له پاره یی یوه متحده نړیواله ټولنه United Intl Bureau For The Protection Of Intellectual property جوړه کړه .

WIPO د ستاکهولم (سویدن) د کال ۱۹٦۷ د پرېکړې له مخې، په کال ۱۹۷۰ کې په ژنیو (سویټزرلند) کې پرانستل شوه چې د BIRPI یا مخکنی ټولنی ځای یی ونیو او همغه د برن او پاریس د ټولنو د اجنډاوو په اساس کار کوي، او د کال ۱۹۷۴ د دسمبر په ۱۷ د ملګرو ملتونو د څوارلسم تخصصي بنسټ په توګه ومنل شوه

---

[۳۰۳] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۶۸-۲۶۷

[304] en.wikipedia.org

[۳۰۵] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۰۵

غړیتوب:  د برن او پاریس د ټولنو ټول غړی هیوادونه، د WIPO غړیتوب تر لاسه کولای شی. همداراز د ملګرو ملتونو غړی هیوادونه، د ملګرو ملتونو د تخصصی بنسټونو، د اتومی انرژی اژانس او د عدالت نړیوال محکمی غړی هم دا حق لری چی په  WIPO کی غړیتوب واخلی. که کوم هیواد مخامخ د غړیتوب غوښتنه وکړی، د WIPOعمومی ټولنه د منلو واک لری؛ خو دا هیواد به داسی اسناد وړاندی کوی چی د معنوی مالکیت له خوندی ساتلو سره ژمنتیا څرګنده کړی.[۳۰۶]

اهداف: WIPO  په ټوله نړۍ کی د هنری، ادبی، فرهنګی او صنعتی مالکیتونو د حق د ساتنی له پاره جوړه شوی ده. ویل کیږی چی د هنری ،ادبی، فرهنګی او صنعتی مالکیتونو په هکله کورنی قوانین، د نړیوالو ستونزو په حل کی پاته راتلل او ځکه یوی نړیوالی ټولنی ته دیره اړتیا وه.

د WIPO  د تړون د څلورمی مادی له مخی د دی ټولنی دندی دا دی: په نړۍ کی د معنوی مالکیتونو د اغیزمن ملاتړ له پاره طرحی، له هیوادونو سره د معنوی مالکیتونو د خوندی ساتلو د ملی قوانینو د جوړولو په برخه کی فنی او حقوقی مرستی، د پاریس او برن ټولنو د اداري دندو اجرأ، د معنوي مالکیتونو په برخه کې د نړیوالو تړونونو لاسلیک او د معنوي مالکیتونو په اړه د معلوماتو ټولول او خپرول .[۳۰۷]

جوړښت: عمومی ټولنه، کنفرانس، د همغږی کمیټه او نړیوال دفتر د WIPO لوی اداره کوونکی ارګانونه دی:

–عمومي ټولنه: د غړو هېوادونو او د پاریس او برن ټولنو د استازو څخه جوړ ارګان دی، چې په دوو کلونو کې یوځل غونډه کوي. د WIPO سرمنشي یا ۲۵% غړي هېوادونه، یا د WIPO د همغږۍ کمېټه ځانګړي یا فوق العاده غونډې جوړولی شي. د WIPO د بودیجې تصویب، مالي چارې او راتلونکي پروګرامونه، د سرمنشي د راپورونو اوریدل او تصویب او د نویو غړو منل، د عمومي ټولنې له مهمو دندو څخه دي.

–کنفرانس: کنفرانس د غړو هېوادونو د استازو جرګه ده چی د معنوی مالکیت د ساتلو په لاروچارو کار کوی، دوه کلنه بودجه جوړوی او له هېوادونوسره د فني او حقوقي مرستو اندازه ټاکي. د کنفرانس غونډې د عمومي ټولنې له غونډو سره په یو وخت کې په ژنیو کې جوړېږي.

–د همغږی کمېټه: د WIPO غړي هېوادونه د همغږی کمېټې غړي هم دي چې عمومي ټولنه یې د دوو کلونو له پاره ټاکي.د همغږۍ کمېټه د WIPO د بودجې او پروګرامونو او نورو مالي او اداري چارو په برخه کې،د ټولنی چارواکو ته مشوری ورکوي.

–نړیوال دفتر: دا دفتر په اصل کې د WIPO دارالانشا ده چې د سرمنشي او مرستیالانو څخه جوړه دی. دارالانشا د WIPO په لویو سیاستونو، کلنی بودجه او پروګرامونه باندی کار کوی او د منظوری له پاره یی لوړو ارګانونو ته استوی. د  WIPO  سرمنشی د دارالانشا په وړاندیز  د ٦ کلونو له پاره د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.

---

[۳۰۶] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۲۴۳-۲۴۱

[۳۰۷] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۸۷

فعالیتونه: WIPO د دولتونو حاکمیت او برابري ته د درناوی په بنسټ، د دولتونو تر مینځ د پوهاوي (تفاهم) او همکاري د پیاوړتیا له پاره، هڅه کوي چې په ټوله نړۍ کې د فکري آثارو د مالکیت د ساتنې د حق ننګه وکړي؛ د صنعتي، ادبي او هنري مالکیتونو په برخه کې د سیمه ییزه یا ملي جوړښتونو د مدیریت د پیاوړتیا له پاره زیار باسي او د دې بنسټونو د خپلواکي درناوی کوي.

فکري آثار دوه ډوله دي: صنعتي آثار او ادبي – هنري آثار .

په صنعتي مالکیت کې سوداګریز او خدماتي علایم او نومونه، لوګوګانې، طرحې، د شرکتونو نومونه، سوداګریز نومونه، حق الامتیاز او علمی او تکنالوژیکی اختراع ګانې راځي.

ادبي آثار لکه تالیف، تصنیف او ژباړه؛ راډیویي او ټلویزیوني خپرونې، ادبی اثار، عکاسی، رسامی، نقاشی، موسیقي، فلمونه، چاپ، تمثیلي ټوټې او د انساني فعالیتونو په برخه کې اختراع ګانې، د ادبي – هنري فکري آثارو برخې دي.

WIPO له پرمختیایي هېوادونو سره په فني او حقوقي برخو کې مرستې کوي، اطلاعات ټولوي او خپروي او د کال ۱۸۸۳ د هوکړو او تړونونو له مخې، د فکري آثارو د نړیوال ثبت په برخه کې زیار باسي.[۳۰۸]

WIPO کار کوی چی د معنوی مالکیتونو د خوندی ساتلو نړیوال نورمونه عام او ستندرد کړی او تر اوسه یی په دی برخه کی ۲٦نړیوالی هوکړی تصویب کړی، د صنعتی مالکیت ۱۹ تړونونه لاسلیک شوی او د ادبی مالکیت ۷ تړونونه یی منظور کړی دی. WIPO په دی برخه کی د غړو هیوادونو مسلکی کارکوونکی روزی او له هغو سره د ملی اغیزمنو قوانینو په برخه کی مرسته کوی.[۳۰۹]

په WIPO کې د افغانستان غړیتوب: افغانستان په کال ۲۰۰۵ کې د WIPO غړی شو. اوس دا ټولنه ۱۸۵ غړي لري.

## ۱۴ -- د هواپېژندنې نړیواله ټولنه

**World Meterological Organization (WMO)**

( اقتصادی او ټولنیزه شوری)

د هوا پېژندنې ټولنی یاWMO د هوا پېژندنې د هغه نړیوالې ټولنې ځای ونیو چې په کال ۱۸۷۸ کې، د څو هېوادونو له خوا د هواپېژندنې د فعالیتونو د همغږي له پاره جوړه شوی وه. د بیلابیلو هیوادونو د پوهانو تر منځ علمی؛ خو غیررسمی اړیکو د WMO له جوړولو سره مرسته وکړه. په کال ۱۹۳۹ کال دا ټولنه لږ پراخه شوه. په ۱۹۴۷ کې د هواپېژندنې د ټولنې د مشرانو په دولسمه غونډه کنفرانس کې چې په واشنګټن کې جوړه شوی

---

[۳۰۸] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۴۳-۲۴۲

[۳۰۹] سازمان های بین المللی، داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۴۳-۲۴۲

وه، د هواپېژندنې نوې اساسنامه تصویب شوه چې د ۱۹۵۰ د مارچ په ۳۲ اجرایی وګرځېده او WMO د ملګرو ملتونو د یو تخصصي بنسټ په توګه ومنل شوه.

اهداف: WMO یوه ځانګړی علمی ټولنه ده چی د جوچاپېر (محیط جو)، د هواپېژندنې د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د نړیوالې همکارئ د اسانتیا د برابرولو، د هوا پېژندنې د اټکل، اوبپېژندنې او د هواپېژندنې د چټکو اطلاعاتو، د هواپېژندنې د معیاري کولو، د هوایي ملکي چلند په برخه کې د هوا پېژندنې د چارو د پیاوړتیا، بېړۍ چلونې، د ځمکې د خوړو اوبو او اقلیمي مسایلو په هکله علمي اطلاعات وړاندې کوي.

دا ټولنه د هوا د اټکل خدمات او فصلي وړاندوینې خپروي او د نړېوال ګډ کار له لارې، د نړۍ د هوا په شرایطو څېړنې کوي او د هوا په هکله د اطلاعاتو د ګړندئ تبادلې په برخه کې کار کوي.

WMO په خپلو بېلابېلو پروګرامونو کې د اوبو، هوا، جو، هواپوهنې، ژوند چاپېریال او د اوبو د زېرمو په برخه کې فعالیت لري چې د استوایي توپانونو، سیلونو، وچکالیو او ناوړه طبیعي پېښو په وخت کې، خلک او موسسات خبر وساتی او مرسته وکړي. دا ټولنه همدا شان د ځمکې د اوزون لایې د کمېدو، د هوا د تودښت او د خوړو اوبو د زېرمو د کمېدو د خطراتو په برخه کې، نړیوالو ته سم او ژر اطلاعات رسوي .[۳۱۰]

جوړښت: نړیواله کنګره، اجراییه شوری،سیمه ییزه څانګی، فنی کمیسیونونه او دارالانشا د WMO اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی:

–د هوا پېژندنې نړیواله کنګره: کنګره د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده او په ۴ کلونو کې یوځل غونډه کوي. د ټولنې سیاستونه، اهداف او اوږدمهاله پروګرامونه ټاکي، بودجه تصویبوي؛ د نړۍ د اوبو، هواپېژندنې او اوبپېژندنی(هایدرولوژي) فني مقررات او اصول جوړوي او د WMO سرمنشي، مرستیالان او د اجراییه شوری غړي ټاکي. سربیره په دی د اجراییه شوری د اجرااتو راپورونه څیړی، او د اړتیا په وخت کی فنی کمیسیونونه او سیمه ییز دفترونه جوړوی.[۳۱۱]

–اجراییه شوری: دا د WMO اجراییه دفتر دی چی په کال کی یوځل غونډه کوی. شوری د کنګرې پرېکړې عملي کوي، غړو هېوادونو ته د هواپېژندنې په اړه فني اطلاعات ورکوي، د پخوانیو پرېکړو او مقرراتو تطبیق څاري او د بودجه ورکوی.

اجراییه شوری ۳۷ غړي لری: منشي، دری مرستیالان، د هواپېژندنې د شپږو سیمه ییزو ټولنو مشران او د هواپیژندنی او اوبپیژندنید ملی مراکزو ۲۷ مسوولین.

–سیمه ییزه څانګی: WMO شپږ سیمه ییزه دفترونه لري چې د کنګرې له خوا په اروپا، افریقا، اسیا، لاتینه امریکا، شمالي او مرکزي امریکا او د آرام سنمدر په جنوب ختیځو سیمو کې جوړ شوي او د هواپېژندنې د فعالیتونو همغږي کولو او د اطلاعاتو د تبادلې په برخو کې کار کوي.

---

[۳۱۰] نړیوال سازمانونه ، محمد نظیم سمون، ص۱۸۱-۱۸۰

[۳۱۱] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۱۸۱-۱۸۰

-فني کمیسیونونه: ټولنه ۸ فني کمیسیونونه لري چې د هواپېژندنې او اوبپېژندنی په برخو کې څېړنې کوي، نړیوال ستندردونه ټاکی او اجراییه شوری او کنګرې ته لازمې فنی او تخصصی سپارښتنې کوی.

- د کتنو او څیړنود لاروچارو د څرنګوالی کمیسیون،
- د سمندري ترانسپورت له پاره د هواپېژندنې کمیسیون،
- د ملکی هوایی چلند له پاره د هواپیژندنی کمیسیون،
- د اوبو، هوا او اقلیم کمیسیون،
- د اوبو د هواپېژندنې او بنسټیزه سیستمونو کمیسیون،
- د جوي علومو کمیسیون،
- د کرنې له پاره د هواپېژندنې کمیسیون.
- د اوبیژندنی کمیسیون.

-دارالانشا: دارالانشا په نړۍ کې د هواپېژندنې او اوبپېژندنې تر مینځ، د همغږۍ او ټولو هېوادونو ته د هواپېژندنې د اطلاعاتو د ګړندی مبادلې مرکز دی چې د سرمنشي تر نظر لاندې په ژنیو کې کار کوي. دا منشي د اجراییه شوری په وړاندیز د کنګرې له خوا د څلورو کلونو له پاره کل کېږي.

فعالیتونه : WMO یو علمي – تخصصي بنسټ دی چې په نړۍ کې یې د خپلو علمي مراکزو له لارې، د اتموسفیر په اړه د علمي اطلاعاتو، د هوایي چلند له پاره د هوا پېژندنې، بېړۍ چلونې، د ځمکې اوبه، کرنه، د نړۍ جوي وضعیت، ژوند چاپېریالیزه څېړنې او د هواپېژندنې د سیستمونو د ښېګڼې له پاره ډېر فني – تخصصي مقررات جوړ کړي او غړو هېوادونو ته سپارلي.

سربېره په دې د اوزون د لایې د کمزوره کېدو، د ځمکې د تودښت، د اوبو د زېرمو د کموالي؛ د سمندري بهیرونو، حاره اي توپانونو او نورو طبیعي ناوړه پېښو په شان، د جوي وضعیت اټکلونو د ډېرو انسانانو ژوند ژغورلی، د مادي زیانونو مخه یې نیولې او د ژوند چاپېریال په ژور درک کې مرسته کړې ده .[۳۱۲]

WMO خپلو اهدافو ته د رسیدو له پاره اته پروګرامونه لری چی د ملکرو ملتونو د نورو تخصصی بنسټونو او غیر حکومتی ټولنو په مرسته یی مخکی بیایی:

- د نړۍ د هواپیژندنی پروکرام: دا پروګرام غواړی چی غړو هیوادونو ته داسی معلومات او وسایل ورسی، چی په کور د ننه د هوا حالات اټکل کړای شی او د هواپیژندنی خدمات معیاری کاندی. دا پروګرام نړیوال معلومات شریکوی او له نړیوالو مخابراتو سره د وړ خدماتو د وړاندی کولو مرسته کوی،
- د نړۍ اقلیم: دا پروګرام د نړۍ د اقلیمی او جوی بدلونونو په هکله څېړنی کوی، دولتونه او خلک خبر ساتی او د داسی بدلونونو په ټولنیزو او اقتصادی اغیرو کار کوی،

[۳۱۲] سازمان های بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۵۵-۲۵۳

- د نړۍ د اقلیم څیړنه: دا پروګرام د نړۍ د اقلیم د ښه پیژندنلو او د سیمو او نړۍ، د جوی بدلونونو د اټکل په برخه کی کار کوی،
- ژوند چاپیریالیز پروګرام او په اتموسفیر څیړنه: دا پروګرام د اتموسفیر په ترکیب او جوړښت، د وریځو په جوړښت، د تودو سیمو په جوی بدلونونو او د هوا د آتکلونو په څرنګوالی څیړنی کوی،
- د هواپیژندنی تطبیقی پروګرام: دا پروګرام له هیوادونو سره مرسته کوی، چی د خپلو ټولنیزه – اقتصادی پرمختګونو په کار کی د اقلیم پیژندنی څخه سمه ګټه واخلی او دا چی څنګه د خلکو ژوند او مال وساتل شی،
- د اوبپیژندنی پروګرام: دا پروګرام زیار باسی چی د اوبو زیرمی محاسبه کړی، د اوبپیژندنی شبکی جوړی کړی او د اوبپیژندنی خدمات پراخه کاندی،
- ښوونه او روزنه: دا پروګرام د علمی او تخنیکی پرسونل په برخه کی، د WMO اړتیاوو ته په کتو ځوان کادرونه روزی،
- تخنیکی مرسته: دا پروګرام لږ پرمختللو او پرمختلونکو هیوادونو ته، د هواپیژندنی او اوبپیژندنی د معلوماتو او پوهی د رسولو به برخه کی کار کوی.[۳۱۳]

مقر: د WMO مرکزی دفتر په ژنیو( سویتزرلند) کی موقعیت لری.

په WMO کې د افغانستان غړیتوب :افغانستان په کال ۱۹۵٦ کې د WMO غړیتوب تر لاسه کړی دی. اوس WMOټول۱۸۷ غړي لري.[۳۱٤]

**۱۵–د نړیوال بانک ډله(World Bank Group (WBG**

نړیوال بانک ډله پنځه مالي موسسې لري:

الف -- د بیارغاونې او پراختیا نړیوال بانک International Bank for Reconstruction and Development (IBRD)،

ب -- نړیوال مالي شرکت(International Finance Corporation (IFC

ج -- د پانګونو د څو اړخیزه تضمین اژانس(Multilateral Investment Guarantee Agency (MIGA

د -- د پیسو نړیوال صندوق(International Monetary Fund (IMF

ذ -- د پراختیا نړیواله موسسه.(International Development Association (IDA

---

[۳۱۳] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۳۹-۲۳۸

[314] Google.com

## ۱/۱۵-د بیارغونې او پراختیا بانک

**International Bank for Reconstruction and Development (IBRD)**

د بیارغونې او پراختیا بانک یا نړیوال بانکWorld Bank ، له دویمی نړیوالې جګړې څخه وروسته، د یوې لویې نړیوالې موسسې په توګه، په کال ۱۹۴۴ کې د ملګرو ملتونو د مالي او پولي نړیوال کنفرانس په پای کې، چې د امریکا متحده ایالاتو د نیوهمپشایر ایالت په Bretton Woods کې جوړ شوی و، د نړۍ د اقتصادي نظام د مطالعې او څېړنې د پاره مینځ ته راغی.

په کال ۱۹۴۵ کی د نړۍ ۲۸ هېوادونو د IBRD اساسنامه لاسلیک کړه او له شوروي اتحاد پرته، د برتن وودز کنفرانس ټولو ګډونوالو هېوادونو د IBRD غړیتوب ومانه. IBRD په کال ۱۹۴٦ کې په واشنګتن کې کار پېل او په ۱۹۴۷ کې، د ملګرو ملتونو د یو تخصصي بنسټ په توګه وپېژندل شو.

IBRD د دې له پاره جوړ شو چې له هغه هېوادونو سره مرسته وکړي، چې په دویمه نړیواله جګړه کې وران شوي وو او بیا رغېدو یې نړیواله مرسته غوښته. د دې ارمان د پوره کېدو له پاره هغه وخت دوه موسسې جوړې شوې. یو د پیسو نړیوال صندوق IMF او دویم د بیارغاونې او پراختیا بانک IBRD .

د اساسنامې د لومړې مادې له مخې دا بانک پنځه هدفونه لري:

- په تولیدي چارو کې د پانګونې له لارې، د غړو هېوادونو له بیارغاونې او پرمختګ سره مرسته،
- په پورونو کې د ګډون (مشارکت) یا تضمین له لارې د بهرنیو پانګونو هڅول،
- د نړیوالو پانګونو د هڅونو په مرسته، د بیلانسونو په کسرونو کې انډول (تعادل) راوستل او د نړېوالې سوداګرۍ له اوږدمهاله او متوازنې پراختیا سره مرسته،
- د غړو هېوادونو لومړیتوبونو ته د پورونو ورکړه یا تضمین،
- د غړو هېوادونو په اقتصادي شرایطو باندې، د نړیوالو پانګونو د اغېزو د ډېرولو له پاره کار او په هغه هېوادونو کې چې له جګړوڅخه راوتلې، د بدلون د یو نوي پړاو د پیل کېدو سره مرسته،

په لنډه توګه ویلای شو چې بانک د غړو او په تېره بیا پرمختیایي هېوادونو، هغه تولیدي پروژو ته پورونه ورکوي چې له یوې خوا د بېوزلې په کمولو کې ونډه ولري، او له بلې خوا د هېوادونو تولیدي ظرفیتونه لوړ کاندي او بیا هم لنډه دا چې د IBRD پیسې (پور یا مرسته) د اړو هېوادونو د برېښنا، د اورګاډي د پټلیو، د ګازو د نلکیو، مخابراتو، کرنې، صنعت، اوبو، ښوونې او روزنې او نورو عمراني پروژو د عملي کولو له پاره ورکول کېږي.

غړیتوب: یوازې د IMF غړي هېوادونه د IBRD غړیتوب ترلاسه کولای شي. متقاضي هېواد یوازې هغه وخت د IBRDغړیتوب اخستلای شي چې کتبي غوښتنلیک یې د IMF د مشرتابه غړو اکثریت رایې وګټي او دا غړیتوب هغه وخت پای ته رسي، چې کوم هېواد د IMF غړیتوب پرېږدي یا ویستل شي. که چیرته د IBRD په ۷۵% رایه

د داسې هېواد له پاته کېدو سره موافقه وکړي؛ نو غړیتوب یې په ځای پاته کېږي. ناویلي دې نه وي پاته چې د IBRDغړیتوب پهIDA ، IFC او MIGA کې د غړیتوب شرط بلل کېږي .[۳۱۵]

جوړښت: مشرتابه شورى، اجرایيه شورى او مشر یا رییس د IBRD اصلي اداره کوونکي ارګانونه دي:

مشرتابه شورى: مشرتابه شورى د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده. غړي هېوادونه هر ځل دوه کسان د مثال په توګه، د مالیې وزیر او مرستیال استازی د پنځو کلونو له پاره بانک ته ورپېژني، چې په کال کې یوځل غونډه کوي. د دې شورى ځانګړې دندې دا دي:

د نوي غړي منل، د پانګې کمېدل یا ډېرېدل، د کوم دولت د غړیتوب ځنډول، د بانک د فعالیتونو ځنډول، د اساسنامې بدلون او تفسیر او د کلنۍ ګټې وېش.

د IBRD مشرتابه شورى دا واک لري چې خپلې ټولې یاځینې دندې اجرایيه شورى ته وسپاري.

اجرایيه شورى: د IBRD مشرتابه شورى په عین وخت کې دIMF ، IDA، IFCاو MIGA مشرتابه هم بلل کېږي. اجرایيه شورى د IBRD د تصمیم نیولو لوړ ارګان دی او ټولې هغه دندې سرته رسوي چې مشرتابه شورى ورته سپارلي دي. د بانک لوی سیاستونه ټاکي، د بانکي عملیاتو د اداري مسوولیت په غاړه لري او هېوادونو او خصوصي موسساتو ته د پور د ورکړې یا نه ورکړې په هکله پرېکړې کوي. اجرایيه شورى ۲۵ غړي لري چې ۵ د لویو ونډه والو دولتونو (امریکا متحده ایالات، برتانیا، جرمني، فرانسه او جاپان) استازي باله شي. ۲۰ نور د مشرتابه شورى له خوا د دوو کلونو له پاره ټاکل کېږي. هر استازی یوځایناستی (علی البدل) لري چې د اصلي استازي په غیاب کې ټول واک ورسپارل کېږي.

مشر (رییس) : مشر د اجرایيه شورى مشري هم په غاړه لري او د همدې شورى له خوا د ۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي. د ورسپارل شویو واکونو په رڼا کې، د بانک د چارو مشري او د کارکوونکو د ټاکلو او لیري کولو مسوولیت لري. د بانک رییس باید د مشرتابه شورى غړی نه وي او په اجرایيه شورى کې هم د رایې حق نه لري؛ خو که د دوو غاړو رایې برابرې وي، د مشر یا رییس رایه ټاکونکي شي. د IBRD مشر معمولاً امریکایي وي .

مالي سرچینې: هغه پانګه چې غړي دولتونه یې ورکوي، د IBRD تر ټولو لویه مالي سرچینه بلل کېږي. د پورونو ګټه هم په دې سرچینو کې مهم ځای لري.

فعالیتونه: IBRD په پرله پسې توګه، په بېلابېلو جغرافیایي سیمو کې، د هېوادونو لوړپوړو بانکي چارواکو ته، درسي ټولګي او سیمینارونه جوړوي او د غړو هېوادونو د تېلو او ګازو، کانونو، ترانسپورت، ښاري پراختیا، د څښاک اوبو، روغتیا او د مالي برخو پروژو ته، په لږ ګټه او اسانه شرایطو پورونه ورکوي.

IBRD د دې له پاره چې غړي هېوادونه اوږدمهاله اقتصادي پلانونه جوړ کړای شي، دې هېوادونو ته متخصصین لېږي، د پروګرامونو همغږی او څار په برخه کې کار کوي او فني خدمات وړاندې کوي.

---

[۳۱۵] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۰۶ – ۲۰۷.

مقر: د IBRD مرکزي دفتر په واشنګټن (امریکا متحده ایالات) کې دی؛ خو په افریقا، آسیا، لاتینه امریکا او اروپا کې ګڼ دفترونه او له کال ۱۹۹۴ څخه راپدېخوا، په واشنګټن، لندن، پاریس او توکیو کې اطلاعاتي مرکزونه لري .[۳۱۶]

## ۲/۱۵ – د پراختیا نړیواله موسسه

**International Development Association (IDA)**

وروسته له دې چې وروسته پاته او پرمختیایي هېوادونه په کال ۱۹۶۰ کې، د خپلو بهرنیو پورونو په بېرته ورکړه کې، له سختو ستونزو سره مخامخ شول، د پراختیا نړیواله ټولنه یاIDA ، د IBRD د یوې څانګې په توګه جوړه شوه چې د وروسته پاته هېوادونو، د اقتصاد له پرمختیا سره مرسته وکړي او د پرمختایی هېوادونو پورونو ته د خلاصون لارې ومومي. هغه وخت د IBRD د پورونو موده لنډه او ګټه لوړه وه؛ له همدې امله پورغوښتونکو هېوادونو، له IBRD څخه مخ واړاوه او IDA ته ښه راغلاست ووایه، چې بېوزله هېوادونو ته چې هر وګړی یې د ورځې له ۱.۰۲ $ څخه لږ عاید ولري، د IBRD له اهدافو سره سم، بې ګټې او یا خورا ارزانه اوږدمهاله پورونه ورکړي.

غړیتوب: هغه هېوادونه د IDA غړیتوب ترلاسه کولای شي چې د IBRD او IMF غړي وي او دا په دوه ډوله دي:

لومړی - پرمختللي صنعتي هېوادونه،

دویم – پرمختیایی یا وروسته پاته هېوادونه.

لومړي ډله هېوادونه خپله ټوله ونډه په بدلېدونکو پیسو ورکوي چې IDA یې پورونو ته ځانګړې کوي؛ خو دویمه ډله هېوادونه د خپلې ونډې یو په لسمه برخه په بدلېدونکو پیسو او پاته په خپلو ملي پیسو ورکوي. دا پیسې اکثراً د همغه هېواد په کورنیو پروژو کې لګول کېږي او IDA نشي کولای چې د مربوطه هېواد له خوښې (رضایت) پرته پور ته ځانګړې کړي .[۳۱۷]

اهداف: د IDA لوړاهداف دا دي:

- په بېوزله او لږ عاید لرونکو هېوادونو کې، د لومړنیو زده کړو د کیفیت اوچتول،
- په دې هېوادونو کې د روغتیا ساتنې او پالنې د خدماتو او امکاناتو ډېرول،
- خلکو ته د څښاک د پاکو اوبو برابرول او د ناولیو اوبو د وتلو د لارو چارو موندل،
- د هوا د ککړوالي کمول،
- د ژوند چاپېریال ساتنه،
- د فزیکي بنسټونو لکه لویې لارې، اورګاډي پټلۍ او برېښنا تولید پیاوړي کول،

---

[۳۱۶] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۷۹-۲۷۵

[۳۱۷] پوهاند محمد بشیر دودیال، د نړیوالي پرمختیا اتحادیهIDA ، تاند او سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۱۰ – ۲۱۱.

- د وروسته پاته هېوادونو په اقتصادي جوړښتونو او په تېره بیا د خصوصي سکتور په وندو کې د سمونونو او سم والي راوستل .۳۱۸

جوړښت: د IDA اداري جوړښت کټ مټ د IBRD په شان دی.

مشرتابه شوری: مشرتابه شوری د IDA تر ټولو لوړ تصمیم نیونکی ارګان دی. هر غړی هېواد په دې شوری کې، د مالیې وزیریا د خزانې مشر (په افغانستان کې د مرکزي بانک مشر) په سویه استازی لري. په حقیقت کې د IBRDد مشرتابه شوری غړي، د IDA د شوری غړي هم دي چې د نویو غړو د منلو شرایط ټاکي، د هېوادونو غړیتوب ځنډوي، د IDA په پانګه کې بدلون راولي، د اساسنامې د تفسیر او بدلون واک لري، د کلنۍ ګټې په هکله پرېکړه کوي او له نورو نړیوالو ټولنو سره د مرستې او همکارۍ واک لري.

اجراییه شوری: د دې شوری د غړو شمېر ۲۲ دی چې ۵ د امریکا متحده ایالاتو، جاپان، جرمني، فرانسې او برتانیا له خوا او پاته د IBRD د نورو هېوادونو له خوا پېژندل کېږي او د IDA ورځنې چارې مخ ته وړي. د IBRD مشر یا رییس د IDA مشر یا رییس هم دی چې په عین حال د پاسنی شوری ریاست هم پغاړه لري؛ خو په غونډو کې د رایې حق نه لري. که چیرته په کومه غونډه کې د دواړو غاړو رایې مساوي شي، د رییس رایه ستونزه پای ته رسوي.

مالي سرچینې: IDA په هغه مرستو چلېږي چې پرمختللي، شتمن او صنعتي هېوادونه یې ورکوي. ځینې هغه هېوادونه هم د IDA لاس نیسي چې له IBRD څخهیې لوی پورونه اخستي او د غړو دولتونو سوغاتونه هم مني.

فعالیتونه: د WB د څېړنو له مخې، د افریقا د شمال، ختیځې آسیا، لاتینې امریکا او کارابین، اروپا، منځنې آسیا، منځنی ختیځ ۸۱ هېوادونه چې څه باندې ۲.۵ بلیون اوسېدونکي لري، IDAڅخه پور اخستلای شی. IDAتر اوسه ۱۰۸ هېوادونو ته، نژدې ۱۰۰۰ بلیون $ پور ورکړی چې د کرنې، روغتیا، د څښاک اوبو، ښوونې او روزنې، ژوند چاپېریالیز او د ښځو د پرمختیا په پروژو کې لګول شوي دي.

پاکستان، ویتنام، تانزانیا، ایتوپیا، هند، بنګله دیش، نایجریا، د کانګو دموکراتیک جمهوریت،ګانا او افغانستان هغه هېوادونه دي چې له IDA څخه یې غټ پورونه اخستي .[۳۱۹]

IDA همداراز په خپل مرکزي یا سیمه ییزو دفاتر او نورو غړو هېوادونو کې، د اقتصادي سیاستونو، اقتصادي پلان جوړونو او اقتصادي مدیریت د زده کړو لنډمهاله او منځمهاله کورسونه، سیمینارونه او کنفرانسونه جوړوي .[۳۲۰]

مقر: د IDA مرکزي دفتر د IBRD په مقر کې موقعیت لري.

په IDA کې د افغانستان غړیتوب: افغانستان د کال ۱۹۵۵ د جولای په ۱۴ د IDA غړیتوب ترلاسه او تر اوسه څوځلې پور هم اخستی دی.

---

[318] worldbank.org

[319] www.npsafs.com

[۳۲۰] سازمانهای بین المللی، داکتر محمدغفوری ، ص ۲۸۳-۲۸۰

**۳/۱۵-- نړیوال مالي شرکت:International Finance Corporation (IFC)**

IFC له مالي او حقوقي پلوه د WB یوه خپلواکه څانګه ده. د IFC اساسنامه د کال ۱۹۵۵ د می په ۲۵ په واشنګتن (امریکا متحده ایالات) کې تصویب او لاسلیک شوه او یو کال وروسته یې په کار پیل وکړ. IFC د کال ۱۹۵۷ د فبروري په ۲۰ له ملګرو ملتونو سره د یوه تړون له مخې، د UN په تخصصي بنسټونو کې وشمېرل شوه چې اوس له WB او د پانګونو د تضمین له څوارخیزه آژانس سره نژدې اړیکې لري.

اهداف: IFC یوازې نړیواله ټولنه ده چې د هېوادونو د اقتصاد د خصوصي برخې، د مرستې او پراختیا مسوولیت په غاړه لري او د همدې له پاره د پرمختیایي هېوادونو خصوصي برخې ته، د صنعتي فعالیتونو د پراختیا او پرمختیا له پاره، د دولتونو له تضمین پرته پورونه ورکوي؛ خو دا په دې معنی نه ده چې مربوط دولت به هېڅ خبر نه وي. د IFC د اصولو له مخې د هر هېواد د مالیې/اقتصاد وزیر باید له داسې پور سره خپل موافقت څرګند کړي .[۳۲۱]

غړیتوب: هر هغه هېواد د IFC غړي کېدای شي چې مخکې د IBRD غړیتوب ولري. متقاضي هېواد باید خپل غوښتنلیک د IFC دارالانشا ته وسپاري او د مشرتابه شورى پرېکړې ته انتظار وباسی. اوس دا ټولنه ۱۸۴ غړی لری.

جوړښت: د IFC اداري جوړښت کټ مټ د IBRD په شان دی.

مشرتابه شورى: د تصمیم نیولو تر ټولو ځواکمنه او واکمنه شورى، چې د غړو هېوادونو د مالیې یا د خزانې له وزیرانوڅخه جوړه ده او په دې مسایلو کار کوي: د نویو غړو د منلو شرطپاڼه، د نویو غړو منل، د کلنۍ ګټې وېش، د IFC په پانګه کې بدلون، د اساسنامې تفسیر او تعدیل، د ټولنې د کار دریدل او د شتمنیو بېرته وېشل. مشرتابه شورى خپلې نورې دندې اجراییه شورى ته ورکړې دي.

اجراییه شورى: دا شورى د IBRD له ۲۴ اجرایي مدیرانو او ځایناستو څخه جوړه ده چې ورځني کارونه او مالي عملیات مخ ته وړي. دا واک مشرتابه دی شورى ته سپارلې. ځایناستي غړي د اجرایي مدیرانو په غیاب کې په همغه اندازه واک لري او کار کوي.

د شورى رییس د IFC مشر هم دی چې دوه مرستیالان لري: د اسهامو او خطرونو مرستیال او اجراییه مرستیال.

IFCد دې سیمو له پاره دفترونه لري: آسیا او اقیانوسیه؛ اروپا، مرکزي آسیا، منځنې ختیځ او د افریقا شمال؛ افریقا او د صحرا جنوب برخې؛ مرکزي امریکا او کارابین .[۳۲۲]

مالي سرچینې: د IFC پانګه د غړو دولتونو له ونډو (سهمیه)، له IBRD او نورو مالي موسساتو څخه د پور او د پورونو او سپما د ګټو څخه برابرېږي.

فعالیتونه: IFC په پرمختیایي هېوادونو کې، د خصوصي برخې اضافي پانګه؛ د پورونو، د اسهامو د تضمین، ضمانتونو او ګډو مالي هڅو له لارې د اقتصاد پرمختیا ته راباسي او د همداسې هېوادونو خصوصي سکتور ته

---

[321] www.npsnfs.com

[۳۲۲] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۲۱۳

پورونه ورکوي .دا ټولنه په خپلو پورونو کې ګټه په پام کې نیسي او په خیریه چارو یا داسې پروژو کې برخه نه اخلي چې ګټه یې یقیني نه وی. IFC له کال ۱۹۸٦ څخه راپدیخوا بهرنیو پانګوالو ته مشورتي خدمات وړاندې کوي، د پانګې د بازار د پراخولو له پاره زیار باسي، د اقتصاد خصوصي کول هڅوي او له دولتونو او سوداګریزه شرکتونو سره فني مرستې کوي .[۳۲۳]

په لنډه توګه باید ووایو چې IFC لاندې کارونه مخ ته وړي:

- له کورنیو سرچینوڅخه د پور ورکول،
- د اقتصاد خصوصي سکتور په پروژو کې پانګونه،
- د خطر Risk د مدیریت خدمات،
- د خصوصي سکتور د پروژو له پاره د پانګه والو د موندلو خدمات،
- فني مرستې او مشورې .[۳۲٤]

## ۴/۱۵- د پانګونو د ستونزو د حل نړیوال مرکز

**International Center for Settlement of Investment disputes (ICSID):**

ICSID په کال ۱۹٦٦ کې په نړۍ کې د پانګونو د بهیر د لوړوالي له پاره جوړ شو. ICSID یوه اداري شورى او یوه دارالانشا لري. د اداري شورى مشر معمولاً د نړیوال بانک یا WB رییس وي او په شورى کې د هر هېواد یو استازى حضور لري.

اهداف:

- د بهرنیو پانګونو د قوانینو په برخه کې مشورتي، څېړنیز او خپرنیز خدمات،
- د پانګونو د ستونزو حل،
- د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د پانګونو د قوانینو ټولول چې د ICSID متخصصین یې بیا ګوري، د ورځې له شرایطو سره یې برابروي او بېرته یې اړونده هېوادونو ته استوي.

ICSID له کال ۱۹۸٦ څخه را پدیخوا، په هرو ٦ میاشتو کې د (پانګونو د قوانینو د بیاکتنې او څېړنو) مجله خپروي چې په USA کې له ۲۰ نامتو نړیوالو او حقوقي مجلاتو څخه شمېرل کېږي.

ICSID د نړیوال بانک ډلې یا WBG یو بنسټ دی؛ خو د ملګرو ملتونو په تخصصي بنسټونو کې نه راځي. د ICSID د اداري شورى کلنۍ غونډې په کال کې یو ځل د WB او IMF له غونډو سره په یو وخت کې جوړېږي. د ICSID په غونډو کې د اکثریت غړو شتون اړین دي.

---

[۳۲۳] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۸۱-۲۷۹

[۳۲٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۲۱۲

غړیتوب: هر هغه هېواد چې د IMF او WB غړیتوب ولري، د ICSID غړیتوب هم ترلاسه کوي. داسې هېواد کومې اعلامیې یا رسمي غوښتنلیک ته اړتیا نه لري، همدا چې اداري شوری یې ومني، د غړیتوب کار پای ته رسي او کوم دوه اړخیز تړون نه لاسلیک کېږي.اوس ICSID – ۱۵۸ غړي هېوادونه لري.

افغانستان او ICSID: افغانستان د کال ۱۹٦٦ د سپتمبر په ۳۰ د ICSID اساسنامه لاسلیک کړی او د ۱۹٦۸ د جون په ۲۵ یې غړیتوب منل شوی دی.[۳۲۵]

## ۵/۱۵ -- د پانګونو د تضمین څو اړخیزه آژانس

**Multilateral Investment Guarantee Agency (MIGA)**

د تیرې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کې، نړیوال اقتصاد له یو لړ بدلونونو سره مخامخ شو، چې په مستقیمه پانګونه یې ناوړه اغېزه وکړه. په نړۍ کې غیرسیاسي او سوداګریز ریسک ډېر شو، کورني اړو دوړ او جګړې پراخه شوي او د دې په څنګ کې له ځینو بهرنیو پانګه والو سره، د تړونونو فسخ کېدو او یا د پانګو ضبط، په نړۍ کې بهرنۍ پانګونې کمه کړه او یو شمېر اقتصاد پوهان دې ته اړ شول چې د داسې حالت د دوام د منفي اغېزو د مخنیوي له پاره، داسې یوه اداره جوړه کړي چې بهرنۍ خصوصي پانګونه وهڅوي. په کال ۱۹۸۵ کې د داسې یو دفتر په جوړېدو هوکړه وشوه او یوې ډلې متخصصینو ته دنده وسپارل شوه چې د بنسټیزه اسنادو او اساسنامې په برابرولو کار پیل کړي. اساسنامه په سپتمبر کې په سیول (جنوبي کوریا) کې د IBRD په کلنۍ غونډه کې تصویب او غړو هېوادونو ته واستول شوه .

دا هڅې په دریو راتلونکو کلونو کې بریالی شوې اود پانګونو د تضمین څو اړخیزه اداره یاMIGA ، د کال ۱۹۸۸ په اپریل کې، په پرمختیایي هېوادونو کې د سیاسي خطرونو د کموالي له لارې، د بهرنیو پانګه والو د کار او پانګونې د هڅونې له پاره، د IBRD په چوکاټ کې جوړه شوه چې اوس د ملګرو ملتونو داسې تخصصي بنسټ بلل کېږي چې حقوقي او مالي خپلواکي لري.[۳۲٦]

MIGA چې په کال ۱۹۹۰ کې په کار پیل کړی، زیار باسي چې په پرمختیایي هېوادونو کې، د تولیدي فعالیتونو د پرمختیا له پاره، د خصوصي پانګونې بهیر ته آسانتیاوې جوړې او د کورني اړودوړ (کشمکش)، جګړې، د اسعارو د لېږد، د مصادرې د خطر او غیرسوداګریزه کړنو مخه ډب کاندي.

جوړښت: MIGA یوه اداري شوری لری چې مشر یې د IBRD رییس دی. د دې بنسټ ورځنې چارې د رییس مرستیال او یو شمېر اداري کارکونکي په مخ بیایي .[۳۲۷]

---

325 www.world bank databank او نامزد داکتر محمد اکبر زاهد،ص ۲۱۳-۲۱۴

[۳۲٦] پوهاند محمد بشیر دودیال، د څو اړخیزه پانګه اچوونې د تضمین نړیواله اداره، تاند

[۳۲۷] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص۲۸۴-۲۸۳

په کال ۲۰۱۳ کې دی ټولنی ۱۷۸ غړي درلودل او له پیله تر کال ۲۰۱۰ پوری یی، د ۱۰۰ پرمختیایي هېوادونو په ۶۰۰ پروژو کې نژدې ۲۱ ملیون $ پانګونه جذب کړې ده.[۳۲۸]

**په WB کې د افغانستان غړیتوب:**

افغانستان په کال ۱۹۵۵ (۱۳۳۴ هـ ش) کې، د WB او IMF غړیتوب ترلاسه کړی دی. WB په افغانستان باندې د شوروي اتحاد له یرغله وروسته، په کابل کې خپل دفتر وتاړه؛ خو مرستو یې له افغان مهاجرینو سره، د اسلام آباد دفتر له لارې روانې وی. WB په کال ۲۰۰۲ کې بېرته افغانستان ته ستون شو، چې ډېرو بېوزله خلکو ته بېرته خپلې مرستې پېل او د افغانستان له بیارغاونې او د اداري سیستمونو د جوړېدو په برخه کې پانګونه وکړي.

WBپه دې دویم پېل کې هیله درلوده چې د افغانستان د سوداګرئ د پراختیا او پیاوړتیا، او د نړۍ مارکیټونو ته د افغاني محصولاتو د رسولو په برخه کې مرستی وکړي او د افغانستان او نورو هېوادونو تر مینځ، د کالیو او خدماتو صادرات او واردات وهڅوي .[۳۲۹]

---

[۳۲۸] پوهاند محمد بشیر دودیال، د څو اړخیزه پانګه اچوونې د تضمین نړیواله اداره، تاند

[۳۲۹] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۱۶

## د ملګرو ملتونو د دارالانشا ارګانونه

الف- دفترونه

### ۱- دسرمنشي اجراییه دفتر

**:Executive Office of the Secretary General (EOSG)**

EOSG دفتر په کال ۱۹۴٦ کې جوړ شوی او دنده یی دا ده، چې د ملګرو ملتونو له بنسټونو او دفترونو او انجوګانو او اهمو غړو سره، د سرمنشي په اړیکو کې مرسته وکړي او له دارالانشا سره د تګلارو د جوړونې او همغږۍ په برخه کې کار وکړي.[۳۳۰]

### ۲- د کورنیو خدماتو د څار دفتر

**:Office of Internal Oversight Services (OIOS)**

دا د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې د خدماتو د څار دفتر دی چې په کال ۱۹۹۴ کې جوړ شوی دی. OIOS د ملګرو ملتونو له سرمنشي سره مرسته کوي چې د پرسونل او سرچینو څرنګوالی، د آدیت، څېړنو، پلټنو او څار له لارو ځان ته روښانه کړي.

دا دفتر د امریکا متحده ایالات په غوښتنه جوړ شوی چې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې، د اداري فساد او د پیسو او امکاناتو د بېځایه لګښت مخه ونیول شی. دا دفتر خپل راپورونه معمولاً سرمنشي ته

د ملګرو ملتونو د سرمنشي یو مرستیال د دې دفتر مسوولیت په غاړه لري. د ملګرو ملتونو د کورنیو حسابونو پلټنه،څار او څېړنه او د ښه مدیریت او د څېړنیزه خدماتو په هکله فني مشورې د دې دفتر اصلي کارونه دي. دا دفتر غواړي چې بدلونونه راولي، د سرچینو مدیریت غښتلی کاندي، ځواب ویل عام کړي، روښتیا راولي، د پروګرامونو د ښه عملي کولو ملا وتړي، شوي کارونه وارزوي، کورنی آدیت پیاوړی کړي، د غلط مدیریت او ناوړه چلند پیښې وپلټي؛ د کارونو د ګټورتیا د پیاوړي کولو له پاره، د پروګرامونو مشرانو ته سمې مشورې ورکړي او د پوښتنو او څېړنو راپورونه په غور وګوري او لازم اقدامات وکوي.

دا دفتر له دارالانشا، سوله ساتو عملیاتو، بشرپاله خدماتو، صندوقونو، پروګرامونو او بنسټونو سره مرسته کوي چې په خپلو ورځینو کارونو او حسابي چارو کې لږ ستونزې ولري.

دا دفتر زیار باسي چې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې د سرچینو او منابعو د غلط استعمال او غلاوو مخه ونیسي. د دې دفتر مشر د سرمنشي په وړاندیز، د عمومي ټولنې له خوا د پنځو کلونو له پاره ټاکل کېږي او یوځل کار کوي .[۳۳۱]

---

[330] un.org

[۳۳۱] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۲۰

### ۳- د سیاسي چارو دفتر Department of Political Affairs (DPA)

د دې دفتر مشر هم د سرمنشي مرستیال وي چې سرمنشي ته د ملګرو ملتونو د کړنلارې سره سم، د سولې او امنیت د احیا او ساتنې په شان ټولو سیاسي مسایلو کې مشوره ورکوي. په نړۍ کې سیاسي بدلونونه څاري او هغه تجزیه، تحلیل او څېړي. هغه باالقوه یا عملي شخړې چې ملګري ملتونه یې په کنترول او حل کې ونډه اخستلای شي، پېژني، له سرمنشي سره د سولې د راوستلو، ساتلو او هغه دیپلوماسۍ په برخه کې مرسته کوي چې سرمنشي په خپله، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې او یا امنیت شورى د هغه په هکله پرېکړه کړي وي. د هغه مرستو په هکله سرمنشي ته مشوره ورکوي چې غړو هېوادونو د ټاکنو له پاره غوښتي وي او دې هېوادونو ته منظم او مدون پروګرامونه استوي، د سرمنشي او غړو هېوادونو د سیاسي اړیکو د څرنګوالي په هکله، سرمنشي ته مشورې ورکوي او د ده ننګه کوي او د امنیت شورى او د هغه له اړونده ارګانونو، د فلسطین د خلکو د حقه حقوقو د اعمال له کمېټې او د استعمار د پای ته رسولو له ۲۴ کمېټې سره په ګډه کار کوي.

د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر مشر تر ډېره د اختلافونو د سوله ییز حل، د سولې د ټینګښت او د رېو، عادلانه او سراسري ټاکنو د کېدو په برخو کې لګیا وي .[۳۳۲]

### ۴ - د حقوقي چارو دفتر Office of Legal Affairs (OLA)

د دې دفتر مشر د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال او په حقیقت کې د ټولنې حقوقي مشاور دی. دا دفتر سرمنشي، دوایرو، دارالانشا او د ملګرو ملتونو د کورنۍ، اصلي او ترلو ارګانونو ته د نړیوالو عمومي او خصوصي حقوقو په برخه کې، مشورې ورکوي او له هغه حقوقي ارګانونو سره کار کوي چې د عمومي نړیوالو حقوقو، د سمندرونو د حقوقو او د نړیوالې سوداګرۍ د حقوقو SGپه برخه کې فعال دي. حقوقي دفتر همدا شان هغه دندې سرته رسوي چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۱۰۲ مادې او د عدالت د نړیوالې محکمې قانون د ملګرو ملتونو سرمنشي ته سپارلې دي.

دا دفتر د نړیوالې سولې او امنیت حقوقي مسایل؛ د ملګرو ملتونو د خوندیتابه، امتیازاتو او ټولنیز دریځ او ځای او د غړو هېوادونو د غوښتنو، شکایتونو او باورلیکونو په اړه مسایل څېړي؛ د نړیوالو تړونونو، کنوانسیونونو، کنفرانسونو، تشریفاتو او د ملګرو ملتونو د حقوقي پرېکړو مسودې لیکي او د اداري او خصوصي نړیوالو حقوقو او د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیکونو او مقرراتو په هکله حقوقي مشورې او خدمات وړاندې کوي.

د ملګرو ملتونو د حقوقي چارو دفتر د لاندې ارګانونو له پاره د دارالانشا په توګه هم کار کوي: د عمومي ټولنې شپږمه کمېټه، د نړیوالو حقوقو کمېسیون، د نړیوالې سوداګرۍ حقوقي کمېسیون، د ملګرو ملتونو د سمندري حقوقو د کنوانسیون له خوا جوړ شوي ارګانونه، اداري محکمه او د ملګرو ملتونو نور حقوقي بنسټونه.

---

[۳۳۲] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۲۰

دا دفتر همدا شان د څو اړخیزه کنوانسیون د امانت ساتونکي ځای په توګه، د تړونونو د ثبت او خپرولو په برخه کې د سرمنشي مسوولیت سر ته رسوي.

د دې دفتر مشر یا په بله ژبه د ملګرو ملتونو حقوقي مشاور په ټولو هغه غونډو کې د سرمنشي د استازي په توګه برخه اخلي چې د منځګړیتوب، قضایي دعویګانو او حقوقي مسایلو په هکله جوړېږي. د ملګرو ملتونو د کورنۍ د حقوقي مشاورینو غونډې جوړوي، په دې غونډو کې د ملګرو ملتونو استازي بلل کېږي او د ملګرو ملتونو له خوا د صادره حقوقي اسنادو په هکله شاهدي ورکوي.[۳۳۳]

## ۵- د سوله ساتو عملیاتو دفتر

**Department of Peacekeeping Operation (DPO)**

د دې دفتر مشر هم د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال دی چې نړیوالې سولې او امنیت ته، د رسېدلو او ساتلو په هڅو کې، له سرمنشي او غړو هېوادونو سره په ګډه کار کوي او دا کار د هغه واک له مخې چې غړو هېوادونو ورکړي، د ملګرو ملتونو د سوله ساتو فعالیتونو د پروګرام جوړولو او عملیاتو له لارې سر ته رسوي.

کله چې دې دفتر ته د روغې جوړې نوې موضوع ورسي، تر هر څه لومړی په پروګرام او لارو چارو غور کوي، د بودجې پلان جوړوي، له غړو هېوادونو سره د خبرو له لارې، د اړتیا وړ پوځي او ملکي پرسونل، پولیس او لازم تجهیزات او خدمات برابروي؛ د عملیاتو او د هغه له پاره د سیاسي او بشرپاله خدماتو د پلاوو تدارکاتي او اداري ملاتړ ته لاره اواروي، د عملیاتو د اجرأ له پاره سیاسي ننګه برابروي، د شخړو له دواړه یا څو اړخونو او همداراز د امنیت شورى له غړو سره د امنیت شورى د پرېکړه لیک په اړه پرله پسې اړیکې، د احتمالي سیاسي حالاتو او د سولې ساتنې په برخه کې د ملګرو ملتونو د ټولو فعالیتونه همغږي کوي.

د دې دفتر مشر، سوله ساتي عملیات د ملګرو ملتونو د سرمنشي په استازیتوب اداره کوي، سیاستونه او تګلارې ټاکي او سرمنشي ته د سولې ساتنې او د ماینونو په ضد د اقداماتو په هکله مشورې ورکوي .[۳۳٤]

## ٦- بېوسلې کولو د چارو دفتر (Office for Disarmament Affairs (ODA:

د ملګرو ملتونو د بېوسلې کولو د چارو دفتر یا ODA، د کال ۱۹۹۸ په جنورئ کې جوړ شو چې د اتومي، کیمیاوي، بیالوژیکي او د ډلوژنې د نورو ډولونو وسلو د خپرېدو مخه ونیسي او د بېوسلې کولو په مخکې پراته خنډونه لېرى کړي.

دا دفتر اصلاً په ۱۹۸۲ کې، د بېوسلې کولو له پاره د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په دویمه ځانګړې ناسته کې، د یوې فرعي څانګې په توګه تصویب شوی و. په کال ۱۹۹۲ کې دا څانګه د بېوسلې د چارو د مرکز

---

[۳۳۳] حقایق اساسیدر باره سازمان ملل متحد، ص ۲۱

[۳۳٤] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۲۲

یا Center for Disarmament Affairs په توګه وېېژندل شوه چې د دارالانشا د سیاسي چارو دفتر اداره کوله. د ۱۹۹۷ په پای کې سرمنشي کوفي عنان د ملګرو ملتونو په جوړښت کې د بدلونونو په لړ کې، CDA د بېوسلې کولو د چارو په دفتر یا ODA واړاوه چې تر اوسه کار کوي.

ODA په سیمه ییزه بېوسلې کولو او د ځمکنیو ماینونو او حتی د کوچنیو وسلو په نه کارولو هم ټینګار کوي او د خپلو چارو د ښه پرمختګ له پاره پنځه څانګې لري: د بېوسلې کولو د دارالانشا کنفرانس، ډلوژونکی وسلې، متعارف بېوسلې کول، اطلاع رسونه او سیمه ییز بېوسلې کول.[۳۳۵]

د بې وسلې کولو دفتر مشر هم د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال دی چې د بې وسلې کولو د ستر هدف تر نامه لاندې، د اتومي وسلو د نه خپرېدو (تکثیر) او د عامه وژنو د نورو وسلو په پرتله، د اتومي، کیمیاوي او میکروبي وسلو د کمولو یا لیرې کولو ننګه کوي. دا دفتر همدا شان په اوسنیو لانجو کې د متعارفه وسلو د مخنیوی او د کمکیو وسلو د غیرقانوني سوداګرۍ د بندولو په برخو کې کار کوي. په داسې بې وسلې کولو کې د وسلو د ټولولو د مدیریت، د وسلو د ساتنې، د پخوانیو وسله والو د رخصتولو او په مدني ټولنه کې د هغوی د ادغام په هکله هم فکر کېږي او د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په نه کرلو او د کرل شوو ماینونو په ټولولو کار کېږي.

د ملګرو ملتونو د بې وسلې کولو دفتر د هغه معیارونو ننګه کوي چې عمومي ټولنې او د هغه لومړی کمېټې، د بې وسلې کولو کمېسیون یا د بې وسلې کولو کنفرانس جوړ کړی او عملي کېږي. دا دفتر د بې وسلې کولو له پاره د لومړنیو ګامونو په څېر، د پوځي مسایلو په هکله خبرو اترو، روښتیا او اعتماد جوړولو، د متعارفه وسلو د ثبت او د پوځي لګښتونو په برخه کې د ملګرو ملتونو د خبر ورکولو د ستندردونو ننګه کوي، د بې وسلې کولو په برخه کې د سیمه ییزو هڅو ملا تړي، لکه د غیر اتومي سیمو جوړول او د ملګرو ملتونو د بې وسلې کولو د هڅو د بریا له پاره، زده کړنیزه نوښتونه هڅوي.[۳۳۶]

### ۷- د بشرپاله چارو د همغږی دفتر

**Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA)**

د ملګرو ملتونو د سرمنشي یو مرستیال چې د بیړنیو مرستو د همغږی دنده هم ورپغاړه ده، د دې دفتر مشري کوي. دا دفتر د ملګرو ملتونو د هغه بنسټونو د ګډ او ګټور کار له پاره زیار باسي چې په بیړنیو حالاتو کې، د مسوولیتونو د وېش، د همغږی د پیاوړتیا، د اړتیاوو د محاسبې او د سرچینو د موندلو په برخو کې لګیا وي.

---

[335] en.wikipedia/ODA
[336] en.wikipedia/ODA

دا دفتر دنده لري چې د بیړنیو مرستو په برخه کې، د ملګرو ملتونو سیاستونه او تګلارې وټاکي، په امنیت شورى او سیاسي ارګانونو کې د بشرپاله عملیاتو ننګه او مرسته وکړي او د بیړنیو مرستو په جغرافیه کې د مرستې نوښتونه وهڅوي.[۳۳۷]

## ۸- د تباهیو د خطرونو د کمولو دفتر

**:UN Office for Disaster Risk Reduction (UNDRR)**

UNDRR د کال ۱۹۹۹ په دسمبر کې په دې هیله جوړ شو چې د تباهیو د کمولو د هغه نړیوالې تګلارې د عملي کولو په برخه کې، زیار وباسي چې د ملګرو ملتونو عمومی ټولنې تصویب کړې وه.

د کال ۱۹۱۵ په مارچ کې، په سنداى Sandai (جاپان) کې، د تباهیو د کمولو او مخنیوي له پاره د ملګرو ملتونو درېیم نړیواله غونډه جوړه او د راتلونکو ۱۵ کلونو د پاره، داسې تګلاره تصویب شوه چې ډېره به هغه خلک او موسسات عملي کوي چې په خپله خوښه دې مسوولیت ته اوړې ورکوي.

UNDRR د تباهو د کمولو په برخه کې د ملګرو ملتونو اصلي دفتر دی او هڅه کوي چې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې دننه، سیمو او نړۍ کې د تباهو د کمولو هڅې او فعالیتونه سره همغږي کړي، د اقلیم د بدلون د مخنیوي په ډګر کې کار وکړي، د تباهیو د کمولو په هڅو کې پانګونه پیاوړي کړي او هېوادونه دی ته وهڅوي چې د ښارونو او په ځانګړی توګه د ښوونځیو او روغتونونو په جوړولو کې له ډېر دقت څخه کار واخلي.

د UNDRR مشر د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي او نژدې سل نفر پرسونل لري چې په جینوا (سویتزرلند) کې په کار بوخت دي او ۵ سیمه ییز دفترونه لري: افریقا (نایروبي)، امریکا (پانامه)، عربي هېوادونه (قاهره)، آسیا – پاسفیک (بنکاک) او اروپا (بروکسل).

ناویلي دې نه وي پاته چې دا دفتر پخوا د تباهیو د کمولو له پاره نړیواله ستراتیژی یا تګلاره Intl. Strategy For Disaster Risk Reduction (UNISDR) نومېده چې د کال ۲۰۱۹ په مې کې یې نوم بدل او UNDRR شو.[۳۳۸]

## ۹- د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالی کمیساري

**United Nations Human Right Office of the High Commissioner (OHCHR)**

OHCHR دنده لري چې د ملګرو ملتونو له منشور سره سم، بشري حقونو د ټولو له پاره خوندي او پراخه کړی. OHCHRځکه په نړۍ کې د بشري حقونو د هڅو ملاتړ کوي چې دا حقونه هر ورځ، په یو ډول نه یو ډول تر پښو لاندې کېږي. OHCHR هغه ستونزو ته ځواب لټوي چې بشري حقونه اوس ورسره مخامخ دي.

---

[۳۳۷] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۲۳

[338] undrr.org

OHCHR خپله دنده بولي چې د بشري حقونو په هکله د څېړنو، ښوونې او روزنې، عامه اطلاعاتو او د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې د وکالتي فعالیتونو په برخه کې کار وکړي.

د OHCHR غټې دندې دا دي: د عدالت مدیریت، سوداګري او بشري حقونه، مدني او سیاسي حقوق، پرمختګ،ښوونه او روزنه، بشري حقونه، کډوال، لږکي(اقلیتونه)، بېوزلتیا، د قانون واکمني، مریيږتوب، انساني قاچاق او انتقالي عدالت .[۳۳۹]

د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه کې، د OHCHR په شان موسسی په شتون ټینګار شوی، چې د ملګرو ملتونو د عمومې ټولنې له خوا، د کال ۱۹۹۳ د دسمبر په ۲۰ له بشري حقونو څخه د ننګې د نړیوال کنفرانس په ترڅ کې پرانستل شوه (پرېکړه لیک ۱۴۱/۴۸) او د بشري حقونو د عالي کمیسیاري تر نظر لاندې کار کوي. دا کمیسیاري په ملګرو ملتونو کې د بشري حقونو د فعالیتونو د همغږي دنده په غاړه لري.

د کال ۱۹۹۷ د سپتمبر په ۱۵ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو مرکز، د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو له عالي کمیسیاري سره یوځای شو.[۳٤۰]

جوړښت: OHCHR یو عالي کمیسیار،یو کفیل او ٦ کمشنران لري.

د OHCHR عالي کمیشنر د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیز، د عمومي ټولنې له خوا په کار ګومارل کېږي، چې د ملګروملتونو په کورني جوړښت کې د سرمنشي مرستیال بلل کېږي او ۴ کاله کار کوي.

د عالي کمیشنر دندې:

- د بشري حقونو د ترویج او ملاتړ له پاره د نړیوال ګډ کار همغږي،
- د داسې هڅو ملاتړ چې د ټولو بشري حقونو خوندي وي،
- له دولتونو سره د بشري حقونو په برخه کې مالي او فني مرستې،
- دولتونو ته د بشري حقونو په برخه کې فني او مالي مشورې،
- د بشري حقونو په برخه کې، د ملګرو ملتونو د زده کړنیزو پروګرامونو همغږي کول،
- د بشري حقونو په وړاندېد ستونزو د لیری کولو هڅې.[۳٤۱]

### ۱۰- د نشه یي توکو او جرایمو له پاره د ملګرو ملتونو دفتر

**United Nations Office on Drugs and Crime (UNODC)**

دا دفتر په کال ۱۹۹۷ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي، د نشه یي توکو د کنترول، د جرایمو د مخنیوي او له ترهګرئ سره د مقابلې له پاره جوړ کړ.

---

339 Knowldege Policy.ec.europa.eu
340 Fa.wikipedia.org
341 aihrr.org.af. & www.ohchr.org

د نشه یي توکو په ضد د لومړني تړون له لاسلیک څخه، اوس یو سل او څو کاله تېرېږي. په کال ۱۹۰۹ کې د نړۍ د ۱۳ هېوادونو استازي، په شانګهای (چین) کې سره جرګه شول او د تریاکو د تولید په ضد یې د تریاکو ډله جوړه کړه. دې ټولنې په ۱۹۱۲ کې د تریاکو کنوانسیون جوړ کړ، د تریاکو غیرطبی استعمال بند او پرېکړه وشوه چې د تریاکو تولید باید کنترول شي؛ خو لومړی نړیوالې جګړې دا خوبونه په اوبو لاهو کړل او د نشه یي توکو دودول ډېر شول .[۳۴۲]

په کال ۱۹۲۱ کې د ولسونو ټولنې له جوړیدو وروسته، د تریاکو مشورتي کمېټه جوړه او د تریاکو او نورو نشه یي توکو د قاچاق په څېړلو بوخته شوه. په ۱۹۲۴ کې په ژنیو کې د نشه یي توکو په هکله یوه نړیواله غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې د غیرقانوني نشه یي توکو د جرړو د موندلو، له نړیواله قاچاق کوونکو سره د مبارزې، او د نشه یي توکو د صادراتو، وارداتو او تولید په هکله د معلوماتو د ټولولو یو اغېزمن نړیوال نظام جوړ شي.

په ۱۹۳۱ کې د ژنیو بلې غونډې، د نړۍ د ۵۴ هېوادونو د استازو په ګډون، د نشه یي تکو د جوړولو او وېش د منع کولو کنوانسیون تصویب کړ.

په کال ۱۹٦۱ کې یو شمېر هېوادونو، د نشه یي توکو په هکله د ټولو پخوانیو پروتوکولونو، کنوانسیونونو، غونډو او کنفرانسونو په ځای، په یو واحد کنوانسیون هوکړه وکړه او د نشه یي توکو د کنترول نړیوال هیات جوړ شو.

په کال ۱۹۷۱ کې د پاسني کنوانسیون په اقلامو کې ډېروالی تصویب شو. په ۱۹۸۸ کې د ټولو نشه یي توکو یا درملو د قاچاق د مخنیوي کنوانسیون تصویب شو چې په تاریخ کې، د نشه یي توکو او پلاني جرایمو په ضد، خورا ګټور کنوانسیون بلل کېږي او ډېرو هېوادونو لاسلیک کړ.

دا هڅې وایي چې نشه یي توکی د ټولو نړیوالو شریکه ستونزه ده. اوس د نشه یي توکو د کنترول سیستم، په هغه تړونونو او کنوانسیونونو پورې تړلي دي چې ملګرو ملتونو تصویب کړي او په دې برخه کې یې څو بنسټونه جوړ کړي دي.

UNODC یو له دې بنسټونوڅخه دی چې په نړۍ کې د نشه یي توکو، فساد او جرایمو د مخنیوي له پاره کار کوي.

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د ملګرو ملتونو ځینې نور دفترونه هم، په دې برخه کې مرستندوی دي لکه WHOچې د نړیوالو د روغتیا د ښه والي له پاره، د نشه یي توکو په لړ یا هېڅ استفاده ټینګار کوي او یا انترپول چې د نشه یي توکو د کاروباریانو په نیولو کې مرسته کوي او داسې نور.[۳۴۳]

اهداف: UNODC د نشه یي توکو د کنترول، فساد او سیمه ییزو او نړیوالو جرایمو د مخنیوي له پاره، د دریو نړیوالو کنوانسیونونو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري. د دې مسوولیتونونو شرح داسې ده:

- د نشه یي توکو او جرایمو په برخه کې، د پوهې او پوهاوي د لوړولو له پاره څېړنیزه فعالیتونه،

[342] partsoday.com
[343] parstoday.com

- له دولتونو سره مرسته چې د نشه يي توکو، جرايمو او ترهګرئ په ضد خپل کورني قوانين نوي او عملي کړي، او په دې برخه کې نړيوالې هوکړې او تړونونه لاسليک کاندي،
- د نشه يي توکو، جرايمو او ترهګرئ ضد، غړو دولتونو د ظرفيتونو لوړول چې په بېلابېلو سيمو کېيو له بل سره مرسته وکړي.٣٤٤

مقر: د UNODC مرکزي دفتر په ويانا (استريا) کې دی؛ خو څو سيمه ييز دفترونه يې په ١٥٠ هېوادونو کې کار کوي .[٣٤٥]

UNODC يو فرعی دفتر هم لری چی UNDCP نومی او دلته به خبری پری وشی:

### ١/١٠-د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو د کنترول پروګرام

**:United Nations Drug Control Program (UNDCP)**

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې په کال ١٩٩١ کې دا پروګرام چې (په نشه يي توکو د کنترول او څار له پاره د ملګرو ملتونو پروګرام) يا UNDCP نومېده، منظور کړ چی د نشه يي توکو او جرايمو د کنترول له پاره، د ملګرو ملتونو د دفتر يا UNODC بېلدونکې څانګه ده .

غواړي چې نړيوال د نشه يي توکو د ناوړه استعمال په زيانونو وپوهوي او د نشه يي توکو د کر، توليد، ترانزيت او اړونده جرايمو په ځای، د بديلو پرمختيايي پروژو د جوړولو له پاره، د نړيوالې مبارزې ملاتړ وکړي.[٣٤٦]

UNDCP د لاندې ټولنو د فعاليتونو او هڅو د همغږي دنده هم په غاړه لري:

- د ملګرو ملتونو د دارالانشا د نشه يي توکو څانګه،
- له نشه يي توکو سره د مبارزې نړيوال هيات دارالانشا يا INCB،
- له نشه يي توکو څخه د ناوړه استفادې د کنترول له پاره، د ملګرو ملتونو صندوق يا UNFDAC.

د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنيزه شورى د مبارزې کمېسيون، د UNDCP کارونه تر نظر لاندې لري.

مقر: د UNDCP مرکز په ويانا (استريا) کې دی او **٢٣** سيمه ييز دفترونه لري.[٣٤٧]

---

[344] fa.wikipedia.org
[345] union.org
[346] donsee.org

[٣٤٧] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص١٥١

## ۱۱- د لږ پرمختللو هیوادونو، په وچه پوری د تړلو پرمختیایی هیوادونو او د کمکیو ټاپوییزه پرمختیایی هیوادونو له پاره د استازی دفتر

**The UN Office of the High Representative for the Least Developed Countries, Landlocked Developing Countries and Small Island Developing States (UN-OHRLLS):**

د دې دفتر مشر هم د سرمنشي یو مرستیال وي. دا دفتر په کال ۲۰۰۱ کې د عمومي ټولنې له خوا د دې له پاره جوړ شو چې په بروکسل (۲۰۰۱) کې د لږ پرمختللو هېوادونو او د هغوی د مرستندویه ملګرو د اعلامیې د عملي کولو د همږي او څار له پاره، نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي.

دا دفتر دنده لري چې سرمنشي ته، پاسنیو دریډوله هېوادونو ته د وړلو – راوړلو د آسانتیاوو د برابرولو او د هغوی د پرمختیایي پروژو او پروګرامونو له پاره د سیمو او نړۍ د هېوادونو او د ملګرو ملتونو د کورنۍ د مرستو او ملاتړ د پیاوړتیا او همغږی له پاره، وړ مشورې ورکړي. د ملګرو ملتونو د بنسټونو، مدني ټولنو، رسنیو او پوهنتونونو په مرسته د پاسنیو دریډول هېوادونو حمایتي چتر پراخه کاندي او د پرمختیایي کارونو له پاره مالي سرچینې ومومي.[۳۴۸]

## ۱۲- د بهرنی فضا د چارو دفتر

**:UN Office For Ouster Space Affairs (UNOOSA)**

UNOOSA د ملګرو ملتونو د دارالانشا یو دفتر دی چې په بهرنۍ فضا کې، نړیوالې سوله ییز ګډ کار او همغږۍ پیاوړي کوي او په فضا کې د کار او فعالیت له پاره قوانین او مقررات جوړوي. UNOOSA همداراز له پرمختیایي هېوادونو سره مرسته کوي چې د خپل اوږدمهاله اقتصادي – ټولنیز پرمختګ له پاره، فضایي ساینس او تکنالوژي وکاروي.

UNOOSA په کال ۱۹۵۸ کې ځکه جوړ شو چې فضا ته د شوروی اتحاد د سپوږمکۍ Sputnik استولو، له فضا څخه د کار اخستلو په برخه کی سیاسی، حقوقی او علمی بحثونه پارولی او دیری پوښتنی لا بیځوابه وی. په لومړی سر کی د دی دفتر نوم داسی و: (Commission on the peaceful uses of outer space( COPUOS چی د لنډمهاله له پاره په پام کې نیول شوی؛ خو یو کال وروسته د UNOOSA په توګه په یو اوږدمهاله دفتر واوښت.

UNOOSA دنده لري چې د بهرنۍ فضا په برخه کې، نړیوال تړونونه، حقوقي اصول او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې پرېکړې په سمه توګه تطبیق کاندي. له دولتونو او انجوګانو سره مرسته کوي چې د فضا په اړه په قوانینو سم پوه شي، هغه سپوږمکۍ راجستر کوي چې فضا ته توغول کېږي، د فضا په اړه په بحثونو کې برخه اخلي او د هغه پروګرامونو په تمویل کې برخه اخلي چې فضایي تکنالوژي ته وده ورکوي.

---

[۳۴۸] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۲۳

د UNOOSA مشر یا رییس د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي.[۳۴۹]

## ۱۳- د نړیوالو اړیکو له پاره د ملګرو ملتونو دفتر

**:UN Department of Globe Communication (DGC)**

DGC چې پخوا د ملګرو ملتونو د عامه معلوماتو دفتر The UN Department of Public Information (DPI) په نامه یادیده، د دې ټولنې د دارالانشا یوه څانګه ده او دنده لري چې د اوږدمهاله (ستراتیژیک) اړیکو د ښه انسجام، له مدني ټولنو سره او رسنیو سره د ملګرتیا له لارې، د ملګرو ملتونو د کارونو او فعالیتونو په هکله، عامه پوهاوی اغېزمن کړی او په نړیوالو کې د ملګرو ملتونو د ملاتړ او مرستې روحیه پیاوړي کاندي.

DGC هڅه کوي چې د خلکو په اذهانو کې د ملګرو ملتونو ښه انځور وباسي، او د بشري حقونو د ساتنې، پرمختګ او سولې په برخو کې د دوی ملاتړ ترلاسه کړي.

DGC درې څانګې لري: د اوږدمهاله اړیکو څانګه، د رسنیو او خبرونو څانګه او د پراختیا څانګه The Outreach Division. دا درېیمه څانګه دنده لري چې د ملګرو ملتونو په هکله د اکادمیکو مراکزو، مدني ټولنو، مدرسینو، زده کوونکو او تفریحي صنایعو Entertainment Industry تر منځ بحثونه او خبرې وهڅوي، عامه محافل جوړ کړي، موقوته خپرونې وکړي، د ملګرو ملتونو ودانیو ته سیلانیان راوبولي، د ډاګ هام شولد کتابتون بډایه ساتي او له تعلیمي مراکزو او انجوګانو سره ملګرتیا ته وده ورکړي.[۳۵۰]

---

[349] en.Wikipedia.org/ unoosa
[350] en.wikipedia/DGC

## د دارالانشا څانګې

**۱- د ملګرو ملتونو د سیاست او سولې جوړونې چارې (Political and Peacebuilding Affairs (DPPA:**

DPPA دنده لري چې په نړۍ کې د مرګونو لانجو مخه ونیسي او ستونزې په وخت حل کړي. DPPA د نړیوالې سولې او امنیت په برخه کې، په دې پنځو برخو کې کار کوي:

- اغېزمنې څېړنې او مخکنی خبر ورکونه Early Warning،
- د لانجو مخنیوی او د سولې په راوستلو تمرکز،
- د سیاسي بحرانونو او جګړو مخنیوی،
- تلپاته یا اوږدمهاله سوله،
- د شراکت پیاوړي کول.

DPPA د ملګرو ملتونو سرمنشي او د هغه استازو ته مشوره ورکوي چې څنګه د بحرانونو د ژورېدو مخه ونیسي او د لانجو د پاره اوږدمهاله حل راوباسي.

DPPA د فلسطین د خلکو د حقونو او د استعمار د پای ته رسولو له کمیټو سره هم مرسته کوي، چې مخکې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې جوړې کړې دي.

DPPA په دې اند دی چې ملګرو ملتونو او نورې سیمه ییزې ټولنې دا واک او ځواک لري چې د وسله والو شخړو د مخنیوي د مدیریت په برخه کې، اغېزمن ګامونه پورته کړي، دیپلوماسي وکاروي، ګټور منځګړیتوب وکړي او له خپلو سیمه ییزو ملګرو سره، د باالقوه خطرونو او ممکنه جګړو د کمولو یا مخنیوي په برخو کې اړیکې وساتي.[۳۵۱]

**۲- د اقتصادي او ټولنیزو چارو دفتر**

**The United Nations Department of Economic and Social Affairs (DESA)**

د ملګرو ملتونو د سرمنشي یو مرستیال د اقتصادي او ټولنیزه چارو د دفتر مشر دی چې په دریوڅنګ په څنګ برخو کې په کار لګیا وي:

-د خپلو کارونو په برخه کېټولنیز، اقتصادي او ژوند چاپېریالي معلومات او ارقام ټولوي او تجزیه او تحلیل کوي. داسې تحلیل چې له پایلوڅخهیې د ملګرو ملتونو د سیاستونو د جوړولو په برخو کې کار اخستل کیږي.

-د اقتصادي او ټولنیزه چارو دفتر، غړو هېوادونو او نورو ګډون کوونکو ته، د ملګرو ملتونو په عمومي ټولنه، امنیت شورى او اړونده بنسټونو کې، د نړۍ د اقتصادي او ټولنیز حالت په هکله د خبرو آسانتیاوې برابروي.

---

[351] dppa.org/ what we do?

-دا دفتر دولتونو ته د هغوی په خپله غوښتنه، د هغوی د پرمختیايي ستونزو د حل، د پرمختیا له پاره د مالي سرچینو د لټون او ژوند چاپېریالي مسایلو په هکله مشورې ورکوي.

دا دفتر همداراز د پرله پسې پرمختیا، جنسیتي مسایلو، د ښځو د پرمختګ؛ د پراختیايي سیاستونو د تحلیل؛ نفوس، احصايې،ښې حکومتولی، برېښنايي حکومت، ټولنیزو سیاستونو، بومي ټولنو او ځنګلونو په برخو کې له دولتونو او نادولتي او مدني ټولنو سره له نژدې کار کوي.[۳۵۲]

### ۳- د ملګرو ملتونو د عملی ملاتړ دفتر

**UN Department of Field Support (DFS):** ( اوس DOS )

DFS د ملګرو ملتونو د دارالانشا یو دفتر دی چې د سیاسي ملاتړ او د سولې د جوړونې یا راوستلو د ملاتړ د پاره جوړ شوی و. د DFS فکر هغه وخت پیل شو چې د ملګرو ملتونو امنیت شوری په کال ۱۹۴۸ کې د اسراییل او عربو د جګړې په پای کې، سیمې ته پوځي څارونکي ولېږل. DFS د یو دفتر په توګه په ۲۰۰۷ کې پرانستل شو؛ خو د کال ۲۰۱۸ د دسمبر په ۳۱ د ملګرو ملتونو د دفتري اصلاحاتو په لړ کې پای ته ورسېد او یوه ورځ وروسته یې په ځای د عملیاتي ملاتړ دفتر Department of Operational Support یا DOS جوړ شو.

د کال ۲۰۱۰ د جنوري په ۲٦، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې DFS ته لاندې دندې په پام کې نیولې وې. د ماتیدونکې سولې د ژغورنې هڅې، د سولې د پلویانو د فکرونو او اعمالو د پیاوړتیا له پاره منډې؛ د سولې د او سیاسي جوړجاړي په نیت، د پرسونل او مالي سرچینو موندلو ته د هېوادونو او د ملګرو ملتونو د کورنۍ هڅول.

DFS هڅه کوي چې ټوله انساني ټولنه، ډلې او امکانات د جګړو د مخنیوي له پاره همغږي کاندي او اور له بلېدو دمه مړ کړي.

DFS څلور څانګې لري: پرسونل، بودجه او مالي مسایل، لوژستیک او اطلاعاتي او مخابراتي تکنالوژي.

DOS په حقیقت کې د همغه DFS په تګلاره روان دی او د جګړو د مخنیوي له پاره سیاسي هلې ځلې کوي او که چېرته جګړه پېښه شي، د سولې راوستلو او ملاتړ دنده مخ ته وړي.[۳۵۳]

### ۴- د مدیریت دفتر(Department of Management (DM

دا دفتر هم چې د سرمنشي یو مرستیالیې په سر کې وي، د ملګرو ملتونو د دارالانشا ټولوڅانګو ته، د مالي مسایلو، انساني سرچینو او حمایتي خدماتو په برخو کې فني او تخصصي مشورې ورکوي. د حساب او بودجې جوړول، د انساني سرچینو مدیریت، د پروګرامونو جوړول، په دارالانشا کې د مدیریت د ښه والي د سیاستونو نوي کول، په تکنالوژیکي برخو کې د نوښتونو هڅول، کارکوونکو ته نوې لنډمهاله زده کړې او د ملګرو ملتونو د

---

[352] www.un.org
[353] en.wikipedia/ undfs

عمومي ټولنې پنځمې یا اداري او بودجوي کمېټې ته د فني خدماتو برابرول د دې دفتر په مهمو کارونو کې راځي.

د دې دفتر مشر دنده لري چې د ملګرو ملتونو د منځمهاله پروګرامونو د برابرولو او د ملګرو ملتونو د دوه کلنۍ بودجې د جوړولو په کارونو کې همغږي راولي، د مدیریت په چارو کې د سرمنشي استازی باله شي، په دارالانشا کې مدیریتي کارونه او د ملګرو ملتونو په ټوله کورنۍ کې د اغېزمن عدالت شتون څاري.[٣٥٤]

## ۵- د عمومي ټولنې او کنفرانسونو د مدیریت دفتر Department of General Assembly Affairs and Conference Managment (DGACM)

د ملګرو ملتونو د سرمنشي یو مرستیال، د دې دفتر مشر دی چې د عمومي ټولنې، امنیت شورى، اقتصادي او ټولنیزې شورى، کمېټو او د ملګرو ملتونو د بنسټونو او هغه کنفرانسونو له پاره چې په نورو سیمو کې جوړېږي، دارالانشایي او فني مرستندویه خدمات وړاندې کوي. دا دفتر په ملګرو ملتونو کېټول رسمي اسناد په انګلیسي، عربي، چینایي، فرانسوي، اسپانوي او روسي ژبو برابروي او په غونډو کې د ویناوو او خبرو د تفسیر او تعبیر مسوولیت پغاړه لري. دا دفتر همدا شان د ملګرو ملتونو ټول رسمي راپورونه جوړوي، مشر یې په ټوله نړۍ کې د ملګرو ملتونو د کنفرانسونو د مدیریت او همغږی کار مخ ته وړي او سرمنشي ته د عمومي ټولنې او اصلي کمېټو د کار د څرنګوالي په هکله مشورې ورکوي .[٣٥٥]

## ٦- د عمومي اطلاعاتو دفتر Department of Public Information (DPI)

د عمومي اطلاعاتو د دفتر مشر هم د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال وي. دا دفتر دنده لري چې د ملګرو ملتونو د کار په اړه اطلاعات او معلومات ټولو خلکو ته ورسوي.

تمه داسې ده چې که خلکو ته ډېر او ریښتني معلومات ورسي، د ملګرو ملتونو ملاتړ به پیاوړی وي. دا دفتر د خپل کار له پاره رادیویي او تلویزیوني خبرونه او راپورونه جوړوي، پیامونه استوي، بروشرونه او کتابونه خپروي، مستند فلمونه جوړوي او کتابتون لري.

دا دفتر د ملګرو ملتونو په مرکزي دفتر سربېره په ۵۷ نورو سیمو، بروکسل او د ملګرو ملتونو په اتو سیمه ییزه دفترونو کې څانګې لري.

د ملګرو ملتونو د عمومي اطلاعاتو د دفتر مشر، د ملګرو ملتونو د اطلاعاتي تګلارو او سیاستونو د جوړولو او د اړیکو د پیاوړتیا له پاره زیار باسي چې دا ډاډ ترلاسه شي چې د ملګرو ملتونو د کارونو او فعالیتونو راپورونه، په مناسب وخت کې رسنیو، مدني ټولنو او عامو خلکو ته رسي. دا دفتر درې څانګې لري:

---

[354] en.wikipedia/unmd

[٣٥٥] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ۳۱-۳۰

-د استراتیژیکو اړیکو څانګه چې د اړیکو جوړولو او اطلاعاتو رسولو لوی سیاستونه جوړوي،

-د خبرونو او رسنیو برخه چې د ملګرو ملتونو د کارونو او فعالیتونو په اړه په ٦ ژبو خبرونه او معلومات برابروي،

-د داک هامرشولد کتابتون چې د ملګرو ملتونو په اړه د کتابونو او خپرونو د چاپ په څنګ کې د نندارتونونو او د خبریالانو د زده کړې د کورسونو د جوړولو او ملګرو ملتونو د ویندویانو د ټاکلو دندې مخ ته وړي. دا ویندویان دنده لري چې د نړۍ رسنیو ته، د ملګرو ملتونو د سرمنشي، امنیت شورى، محکمې، بنسټونو، صندوقونو، پروګرامونو او کمېټو په هکله، د سرمنشي په استازیتوب معلومات ورکړي او سرمنشي ته مسوول دي .[٣٥٦]

**٧- د ملګرو ملتونو د امنیت د همغږی دفتر**

**UN Security Coordination Office(SCO)**

د دې دفتر مشري هم د سرمنشي د یو مرستیال په غاړه وي. دا دفتر په هر راز بیړنیو حالاتو کې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د بنسټونو، پروګرامونو او صندوقونو د مشرانو له خوا، د ملګرو ملتونو د ټول نظام د منظم او منسجم غبرګون له پاره کار کوي او د سرمنشي په استازیتوب د امنیت په برخه کې، د تګلارو جوړولو، لارو چارو او عملي اقدام مسوولیت په غاړه لري.

دا دفتر د ملګرو ملتونو د کورنۍ د ټول پرسونل د امنیت د خوندیتابه وړاندیزونه برابروي، د بېلابېلو ارګانونو تر منځ د امنیتي پروګرامونو د همغږی له پاره کار کوي او د ټولو تر منځ د وصل د یوې کړۍ حیثیت لري.[٣٥٧]

د ملګرو ملتونو په دارالانشا کی په پاسنیو دفاترو او څانګو سربیره، دا نوری څانګی هم شته چی دلته یی یوازی نومونه راوړو:

-- افریقا له پاره د ځانګړی استازی دفتر(Office of the Special Adviser on Africa (OSAA

د ماشومانو او وسله والو شخړو له پاره د سرمنشی ځانګړی دفتر Office of the Special Representative of the SecretaryGeneral for Children and Armed Conflict(SRSG/CAAC)

په وسله والو شخړو کی د جنسی تیریو له پاره د سرمنشی د ځانګړی استازی دفتر Office of the Special Representative of the SecretaryGeneral on Sexual Violence in Conflict(SRSG/SVC)

د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په برخه کی د سرمنشی د ځانګړی استازی دفتر Office of the Special Representative of the SecretaryGeneral on Violence Against Children(SRSG/VAC)

---

[٣٥٦] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ٣٣

[٣٥٧] حقایق اساسی در باره سازمان ملل متحد، ص ٣٥

# څلورم څپرکی

## ب- هغه نړیوالی ټولنی چی ځانګړی واکونه لری

تر دی نامه لاندی داسی ټولنی هم پیژندل کیږی چی د مثال په توګه په دوو یا ډیرو براعظمونو کی فعالی دی او ځانګړی واکونه لری.

### 1 - ناتو (شمالي اتلانتیک) تړون

**North Atlantic Treaty Organization (NATO)**

له دوهمې نړېوالې جګړې څخه وروسته، چې شوروي اتحاد، منځنې او ختیځه اروپا لاندې کړه او د لویدیځې اروپا امنیت ته ګواښ پېښ شو او بیا د شوروی انحاد بریالیو اتومی ازموینو، هایدوجنی بمونو، قاره ویشتونکو توغندیو او د وارسا پوخی تړون جوړیدو، نړی په دوو سیاسي – ایډیولوژیکي قطبونو ووېشله، د امنیتي تړونونو او ټولنو جوړولو زور واخست.

له هغه ځایه چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې ۸ څپرکي، سیمه ییز جوړښتونه او ۵۱ مادې، له ځانه هر اړخیزه دفاع د هېوادونو مشروع حقونه ګڼل، له همدې امله فرانسې، برتانیا، لوکزامبورګ، بلجیم او هالند (نیدرلند) د ګډ امنیتي سیستم او دفاعي ملګرتیا لومړنی تړون، د کال ۱۹۴۸ د مارچ په ۱۷ په بروکسل (بلجیم) کې لاسلیک کړ.[۳۵۸]

دری میاشتې وروسته د بروکسل تړون هیوادونو چی ځانونه د شوروی اتحاد د احتمالی برید په مقابل کی کمزوری ګنل او د سوسیالیستی کمپ فکری اغیز هم مخ به ډیریدو و، له امریکا متحده ایالاتو او کانادا څخه وغوښتل چې له دوی سره یو ځای شي. امریکا دا غوښتنه ومنله او د هغه خبرو په پای کې، چې د بروکسل تړون هېوادونو او د نوي پانګه وال بلاک هېوادونو لکه کانادا، دنمارک، ایسلند، ایتالیا، ناروې او پرتګال په ګډون په واشنګتن کې وشوې، د واشنګتن تړون، د کال ۱۹۴۹ د اپریل په ۴ لاسلیک شو چې وروسته د شمالي اتلانتیک تړون North Attlantic Treaty Organization NATO یا په لندیز NATO وبلل شو.[۳۵۹]

هغه وخت داسې وېره وه چې ختیځه جرمني او شوروي اتحاد به، په لویدیځه جرمني یرغل وکړي؛ ځکه د NATOعاجله پیاوړتیا او امریکا ته د چارو سپارل مطرح شول. په ۱۹۵۰ کې امریکایي جنرال آیزنهاور په اروپا کې د NATO پوځیانو مشر شو. په ۱۹۵۲ کې له NATO سره د لویدیځې جرمني د یوځای کېدو او پیاوړتیا

[358] DW.com.fa
[359] fa.wikipedis.org

خبرې وشوې او پرېکړه وشوه چې NATO پوځونه به په دوو کلونو کې له ۲۵ ټولګیو څخه ۹٦ ټولګیو ته ډېرېږي او اروپا به په ۵ سیمو ووېشل شي.

په همدې کال کې ترکیه او یونان د ناتو غړي شول. جرمني، چې فرانسې یې په لومړي سر کې له غړیتوب سره مخالفت کاوه، په کال ۱۹۵۵ دا ویاړ ترلاسه کړ. په ۱۹۸۲ کې د اسپانیا په راتګ د ناتوغړي ۱٦ ته ورسېدل. په کال ۱۹۵۷ کې له شوروي اتحاد سره د ستونزو ډېرېدو،NATO د (پراخه کسات) تګلاره تصویب کړه او پرېکړه وشوه چې د ناټو په غړو هر ډول یرغل ته به په اتومي وسلو ځواب ورکړل شي.

د ۱۹۹۹ – ۲۰۰۴ تر مینځ ۱۰ پخواني کمونستي هېوادونه (چکیا، هنګري، پولند، بلغاریا، استونیا، لتوانیا، لاتویا، رومانیا، سلووینیا او سلواکیا) د NATO غړي شول. په ۲۰۰۹ کې البانیا او کروشیا، په ۲۰۱۷ کې مونتینګرو او په ۲۰۲۰ کې شمالي مقدونیا، هم له NATO سره یوځای شول او دا شمېر ۳۰ ته لوړ شو.[۳٦۰]

اهداف: NATO ترون ۱۴ مادې لري چې غټې خبرې یې دا دي:

NATO ژمن دی چې د خپلو غړو سیاسي او پوځي دفاع وکړي .ناټو له هغه هېوادونو سره چې غړیتوب نه لري، د امنیت، پوځي اصلاحاتو او د سولې د ملاتړ په برخو کې مشورې هڅوي. ناتو د ګډو اړیکو او خبرو له لارې، د غړو هېوادونو د سرحدونو د ننه یا بهر، د شخړو د مخنیوي مرسته کوي. ناتو د ولسواکه ارزښتونه د پراختیا ننګه کوي او د شخړو د سوله ییز حل له پاره زیار باسي؛ خو د دې دیپلوماتیکو هڅو د ماتې په صورت کې، ناتو یوازی یا د نورو هېوادونو او نړېوالو بنسټونو په مرسته، د بحران د مدیریت او د سولې د ساتنې د عملیاتو له پاره پوځي اقدام کوي.

NATO درېیم اړخ هم لري: د ملکي بحرانونو په اړه فعالیتونه، د طبیعي آفاتو د مدیریت د پاره له ملګرو هېوادونو سره مرسته او د چاپېریال ساتنې او علمي ګډ کار پراختیا.[۳٦۱]

د ناتوپه کړنلاره کې پنځمه ماده ډېر ارزښت لري چې وایي د ناټو په هر غړي هېواد برید، په ټولو غړو برید دی او ټول غړي باید دفاع ته ودانګي.

جوړښت: د NATO د تګلارو د ټاکلو او تصمیم نیولو یا د پرېکړو اصلي بنسټونه دا دي:

- د شمالي اتلانتیک شورى،
- د دفاعي ستراتیژي جوړولو کمیټه،
- د اتومي ستراتیژي جوړولو کمیټه،
- دارالانشا،
- نظامي کمیټه،

[360] fa.wikipedia.org
[361] Nato.int

په NATO کې ټولې پرېکړې د اراوو په اتفاق کېږي. له پاسنیو بنسټونو وروسته تخصصي کمیټې راځي، چې هغه هم د غړو هېوادونو له استازو جوړې دي. د NATO ټول غړي د مدیریت په ټولو پوړیو او کمیټو کې استازي لري.

د شمالي اتلانتیک شوری(North Attlantic Council(NAC

NAC د NATO د تصمیم نیولو تر ټولو لوړ ارګان دی، لوی سیاسي اقتدار لري او خپل واک او ځواک د شمالي اتلانتیک تړون له نهمې مادې څخه اخلي او د فرعي څانګو (ارګان) د جوړولو واک لري. په دې شوری کې د ټولو غړو هېوادونو استازي شته چې د دوه ډله مشرتابه په وجود کې غونډې کوي .

لومړی -- د وزیرانو شوری :

د وزیرانو شوری د NATO د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو یا دفاع وزیرانو یا دواړو څخه جوړه ده. په هره غونده کی د یو هیواد د بهرنیو چارو/ دفاع وزیر د غونډې مشر ټاکل کیږی. دا کسان په کال کی ۳-۲ ځلی غونډې جوړوی او د ناتو تګلاری ټاکی، د سیاسی مسایلو او مالی او اداری کارونو په برخه کی پریکړی کوی او د پوځی او ملکی چارواکو تر منځ همغږی منځ ته راوړی.

دویم – د دایمي استازو شوری:

د NAC دایمی استازی چی هر وخت په بروکسل کی حضور لری، په اونئ کی یو ځل سره وینی او هغه مسایل څیړی چی د وزیرانو شوری ته وړاندی کیږونکی وی. دوی همداراز دنده لری چی د وزیرانو شوری پخوانئ پزیکړی عملی کوی او د روانو چارو جاج واخلی.

د NAC په غونډو کی هر هیوادیوه رایه لری او پریکړی په اکثریت کیږی .

د نړېوالو سیاسي – امنیتي مسایلو په هکله خبرې، د نړېوالو سیاستونو څېړل، د شوری د سیاسي کرښو او تګلارو ټاکل، د خورا مهمو مسایلو په هکله د دریځ اعلان او له اتلانتیک (سیمه) څخه بهر د پوځي عملیاتو منظوري، د NAC له واکونو څخه دی[362].

د دفاعي ستراتیژئ جوړولو کمیټهDPC

دا کمیټه په عادي حالاتو کې د هېوادونو د عادي استازو په ګډون ؛ خو په کال کې دوه ځلې د دفاع وزیرانو په سویه غونډې جوړوي. ټول غړي له فرانسې پرته په دې کمیټه کې غړیتوب لري. دا کمیټه په مهمو دفاعي مسایلو او ډله ییزه دفاع بحث کوي او په خپله برخه کې، د NAC په شان ارځښت او فرعي تخصصي کمیټې لري.

د اتومي ستراتیژی جوړولو کمیټه : NPG

دا د NATO خورا مهمه کمیټه ده چې د غړو هېوادونو د دایمي استازو یا د دفاع وزیرانو په سویه، غونډې جوړوي او د ټولنې د اتومي سیاستونو په هکله خبرې او پرېکړې کوي. لکه د اتومي وسلو وس (توانایي)، امنیت او ساتنه، د اطلاعاتو سیستمونه، د اتومي وسلو کنټرول او داسې نور.

---

[362] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۹۴

دا کمیټه د دفاعي تګلارو په برخه کې، د اتومي انرژي د ارزښت او وندې په هکله، NAC ته مشوره ورکوي .[٣٦٣]

دارالانشا :د NATO دارالانشا په بروکسل کې ده. په سر کې یې سرمنشي دی چې د ټولنې استازیتوب کوي. دا لوړپوړي دیپلومات د NATO غړو هېوادونو او نړېوالو دولتي او نادولتي ټولنو تر مینځ، د کورنیو او بهرنیو اړیکو امکان برابروي، د پرېکړو د بهیر لارښود دی او د غړو هېوادونو تر مینځ د تصمیم نیونکو پلاوو (هیات) تر مینځ د ستونزو اوارونکي بلل کېږي. سرمنشي د ناتو د نړېوالو پلاوو مشري کوي، هغه پلاوي چې د ټولنې سیاستونه پلي کوي او له فني او نظامي پلوه د NATO د دولتي ادارو ننګه او ملاتړ کوي .[٣٦٤]

د NATO سرمنشی د NAC له خوا ټاکل کیږی، او په بروکسل کی د وزیرانو د شوری او د دایمی استازو د شوری د غونډو مشری کوی او د غړو هیوادونو تر منځ د احتمالی ستونزو په وحت کی، حللاری وړاندی کوی او د بحران مخه نیسی.[٣٦٥]

پوځی کمیټه :د ناټو تر ټولو لوړه پوځي څانګه، چې د غړو هېوادونو له لویو درستیزانو څخه جوړه او له غړو هېوادونو څخه د بریالي دفاع له پاره، سیاسي مشرانو ته د اړتیاوو، تګلارو او پرېکړو مشوره ورکوي. کمیټه د اجراییوي طرحو د وړاندې کولو او د پوځي عملیاتو د پراختیا مسوولیت هم په غاړه لري. کمیټه د شمالي اتلانتیک شوری تر نظر لاندې کار کوي او له دفاعي او اتومي ستراتیژیو له کمیټو سره نژدې اړیکې لري او د اوږدمهاله استراتیژیکو طرحو د برابرولو له پاره پلان جوړونکو کمیټو ته کارپوهان (ماهرین) برابروي .[٣٦٦]

د پوځی کمیتی د غړو ټاکل د وزیرانو شوری کار دی. دا کمیته دایمی غونډی نه لری؛ خو په کال کی دوه ځلی او یا د اړتیا په وخت کی سره وینی. د کمیټی مشرتوب په هره غونډه کی د یو استازی په غاړه وی. پوځی کمیټه یو اجراییوی دفتر لری چی د دوو غونډو تر منخ ورځنی چاری مخ ته وړی.[٣٦٧]

د NATO عالی پوځی قوماندانی:

دا قوماندانی د پوځی کمیټی تر نظر لاندی کار کوی.. ناتو دری ډوله پوځیان لری:

- هغه پوځیان چی مستقیما په NATO پوری اړه لری،
- هغه پوځیان جی غړی هیوادونه یی د تیارسئ یا جګړی په وخت کی، د NATO په واک کی ورکوی،
- هغه پوځیان چی د NATO د غړو هیوادونو په خپل واک کی وی.

د NATO عالی پوځی قوماندانی د جغرافیایی او سیاسی ویش له مخی، په دریو قوماندانیو او یوه سیمه ییزه ډله ویشل شوی چی هر یوه بیل بیل واکونه لری:

الف- د اروپا عالی قوماندانی: Suprem Allied Commander Europe (SECEAR)

---

[٣٦٣] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ١٩٥
[٣٦٤] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ٢١٢
[٣٦٥] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ٣١۶

[366] www.nato.int

[٣٦٧] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ٣١۶

دا سیمه د شمال له څوکی څخه تر مدیترانی سمندرگی او له اتلانتیک سمندر څخه د ترکیی تر ځتیخه پوری پراخه او په دریو برخو ویشل شوی ده:

- د اروپا د شمالی سیمو قوماندانی،
- د اروپا د مرکزی برخو قوماندانی،
- د اروپا د جنوبی سیمو قوماندانی.

ب -- د اتلانتیک سمندر سیمی قوماندانی(Suprema Allied Commander Attlantic (SACLANT

دا سیمه د شمال له قطبه د راس الرسطان تر مداره او د شمالی امریکا له ساحلی اوبو څخه، د اروپا او افریقا تر ساحلی اوبو او پرتکاله پرته ده او خپله په دریو فرعی برخو ویشل کیږی:

- د اتلانتیک سمندر د لویدیځ قوماندانی،
- د اتلانتیک سمندر د ختیځ قوماندانی،
- د اتلانتیک سمندر د تخریبی بیړیو قوماندانی.

ج – د مانش کانال قوماندانی(Allied Command Channel (ACCHAN

د مانش کانال او د شمال اوبو جنوبی برخی.

د -- د امریکا متحده ایالاتو او کاناڈا د سیمه ییزه پلان جوړونې ډله :

دا ډله چی د شمالی امریکا مسوولیت په غاړه لری، د امریکا متحده ایالاتو او کانادا سیمی له پاره دفاعی طرحی جوړوی او پوځی کمیټی ته یی سپاری. په کال ۱۹۹۰ کی چی شوروی اتحاد ړنگ شو، د ناتو او په تیره بیا د پوځی عالی قوماندانی په جوړښت کی کی یوڅه بدلونونه راغلل. د مانش قوماندانی ړنگه شوه، د اروپا له پاره څلور قوماندانئ یه دریو واوښتی او د شمالی اروپا او برتانیا قوماندانی گانی سره یو ځای، د شمال لویدیځ قوماندانئ په نامه ونومول شوه چی د برتانیا، ناروی، بالتیک سمندرگی او شمال سیند مسوولیت یی په غاړه واخست. د دی قوماندانئ مرکز په برتانیا کی دی.

او دا فرعي کمیټې:

- د سیاسي چارو کمیټه،
- د سمندري همکاریو کمیټه،
- د هوایي دفاع کمیټه،
- د علمي چارو کمیټه،
- د غړیتوب او همکاری کمیټه،
- د همکاری د تایید کمیټه،
- د اقتصادي حوزو کمیټه،
- د ځواک له پاره د پلان جوړونې کمیټه،

- د اتومي پلان جوړونې کمیټه،
- د سرچینو د پلان جوړونې کمیټه،
- د بودجې د سیمو ټاکنه،
- د بنسټونو کمیټه،
- د معیار جوړونې کمیټه،
- د دفاعي څېړنو کمیټه،
- د اړیکو او اطلاعاتي سیستمونو کمیټه،
- د چاپېریال ساتنې د مسایلو کمیټه،
- د امنیت کمیټه.

دا ټولې د ناټو د حوزوي مسوولیتونو کمیټې دي چې د سرمنشي او نظامي کمیټې تر نظر لاندې کار کوي .[۳۶۸]

د ناتو بیازیړیدل: په تاریخ کی ډیری داسی ټولنی شته چی د خپل جوړښت اهدافو تر رسیدو وروسته، او یا په سیمه ییزه او نړیوالو شرایطو کی له بدلانه سره سم، رنګی شوی، یا یی اغیزه کمه شوی او یا یی تشریفاتی بڼه خپله کړی ده؛ خو NATO له داسی انجطاط سره مخامخ نه شوه. زموږ په یاد دی چی په لومړي سر کې امریکا د شوروي ویری له امله، د ناټو په چوکاټ کې ۳۰۰۰۰۰ پوځیان او یو شمېر اتومي خولۍ (کلاهک)، په لویدیځه جرمني او د لویدیځي اروپا په څو نورو هېوادونو کې ځای په ځای کړل. که څه هم چې د شوروي اتحاد او وارسا تړون ړنګیدو، د ناټو شتوالی له پوښتنې سره مخامخ کړ او امریکا وغوښتل چې خپل پوځیان او وسلې د نړۍ نورو سیمو ته ولېږدوي؛ خو د NATO غړو هېوادونو، دا ښه وبلله چې NATO دې په اروپا کې د نړېوال ثبات ساتلو د متولي سیاسي ټولنې په توګه پاته او لا پراخه شي او نوی دندې په غاړه واخلي .[۳۶۹]

کله چی سړه جګړه پای ته ورسیده او شوروی اتحاد او وارسا تړون له منځه لاړل، NATO مشرانو د کال ۱۹۹۱ په نومبر کی په روم کی خپله نوی تګلاره وړاندی کړه. په دی غونده کی د ناتو نوی امنیتی ستراتیژی جوړه شوه چی د بحرانونو د مدیریت په برخه کی د NATO ونده او د ولسواکیو له جوړولو سره مرسته، پکی نوی ټکی وو. د مثال په توګه (د سولی له پاره د ګډی هڅی) او د شمالی اتلانتیک د همکاریو شوری North Attkantiv Coopration Council( NACC) جوړول و چی دا وروستنی په کال ۱۹۹۴ کی د اتلانتیک – اروپا شوری په نامه ونومول شوه.

په کال ۱۹۹۹ د NATO د جوړیدو په پنځوسمه کلیزه کی، نویو شرایطو ته په کتو او له نویو امنیتي ګواښونو او ننګونو (ترهګری، دیني رادیکالیزم، نشه یي توکي، ډلوژنه، د ډله ییزه وژنو د وسلو مخنیوی، قومي او مذهبي ستونزې، لوی جرمونه، غیرقانوني کډوالي او د بشري حقونو ملاتړ) سره، د مخامخیدو له امله د خپلو فعالیتونو نوی تعریف وړاندې کړ او خپله لمن یې له اتلانتیکه بهر هم خوره کړه.

---

[۳۶۸] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۹۵
[۳۶۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۳

نوی تعریف د NATO د کار ماهیت بدل او فرعي ماموریتونو ته لاره برانسته. په نوی ماموریت کې د ولسواکیو تحقق، د نړېوالې سولې ټینګښت، بشرپاله فعالیتونه او د بحرانونو مدیریت د یادولو وړ دندې دي.[۳۷۰]

له هغه ځایه چې د ملګرو ملتونو کړنلارې اجراییوي ضمانت نه لري، له همدې امله د نړېوالې سولې او امنیت په ټینګښت کې د NATO وندې ته اړتیا احساسوي.

ختیځ ته د NATO د پرمختګ موخې:

- په ختیځه اروپا کې د امنیت او ثبات ټینګول،
- د نویو دندو اجرأ او له لومړني تړون څخه د ډېرو مسوولیتونو منل،
- د سیمه ییزه او نړېوالو بحرانونو د مدیریت کنټرول،
- د ټولنې د امنیتي حوزې پراختیا او د یو لوی ځواک په توګه د روسیې مهارول.

ختیځ ته د پراختیا له پاره NATO دا ګامونه اخستي:

د سولې ګډه طرح Partnership for peace :

د ناټو غړو هېوادونو او نورو هېوادونو تر مینځ د همکاریو د لا پراختیا له پاره، په دوه اړخیزه اړیکو ټینګار، د دې طرحې (۱۹۹۴) هر برخه وال کولای شي په ناټو کې خپل ګډون لا پراخه کړي. دا طرحه د اروپا – اتلانتیک مشارکت شوری د عملیاتي رکن په توګه دنده تر سره کوي.

روسیه، اوکراین، بیلاروس، تاجکستان، آذربایجان، ارمینیا، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، جورجیا، مولداویا، البانیا، کروشیا، شمالی مقدونیا، مونتینګرو، بوسنیا، صربیا، استریا، سویدن، سویتزرلند، فنلند او ایرلند په دې طرحه کې حضور لري.

-د اروپا – اتلانتیک مشارکت شوری Euro-Atlantic Partnership

د ختیځی اروپا او د ناټو په پولو کې د امنیت او ثبات ټینګښت له پاره، د سولې د ګډې طرحې د برخه والو هېوادونو، او د ناټو د غړو هېوادونو تر مینځ د مشارکت شوری جوړه شوه، چې تر کال ۱۹۹۷ پوری د شمالي اتلانتیک د همکاریو شوری North Atlantic Cooperation Council په نامه یادیده.

-د مدیترانې خبرې اترېMeditterranian Dialugue :

دا پروګرام په ۱۹۹۴ کې د ناټو غړو هېوادونو او الجزایر، مصر، تونس، مراکش، موریتانیا، اردن او اسراییل (مدیترانه حوزه) تر مینځ، د اړیکو د ساتلو له پاره پیل شو.

-د روسیې – ناتو شوریRussia – Nato Council :

روسیې او نانو په کال ۱۹۹۷ کې ژمنه وکړه، چې په سیمه او نړۍ کې به د امن او ثبات او ګډو منافعو د تحقق له پاره، دوه اړخیزه همکاري پراخوي چې د ناټو – روسیې په اړیکو کېیو نوی باب بلل کېږي .[۳۷۱]

---

[۳۷۰] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۴

[۳۷۱] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۴-۲۱۳

د NATOغړی هیوادونه: ناتو اوس دیرش غړی هیوادونه لری: البانیا، بلجیم، بلغاریا، کانادا، کروشیا، دنمارک، استونیا، فرانسه، جرمنی،یونان، هنگری، ایسلند، ایتالیا، لیتوانیا، لاتویا، لوکزامبورگ، هالند، ناروی، پولند، پرتگال، رومانیا، سلواکیا، سلووینیا، اسپانیا، ترکیه، برتانیا، امریکا متحده ایالات، مونتینگرو او شمالی مقدونیا.

هغه هېوادونه چې د ناتو غړیتوب غواړي، باید د تودو خبرو پړاو تیر کړي. جورجیا او اوکراین تر اوسه په دې پړاو کې دي؛ خو بشپړ غړیتوب ته لا نه دي رسیدلي.

ذ -- انفرادي مشارکت د اقداماتو پلانIndividual Partnership Action Plan

ناتو په کال ۲۰۰۲ کې په پراګ کې، له هغه هېوادونو سره د اړیکو او همکاریو میکانیزم جوړ کړ، چې په راتلونکي کې ناتو ته اغیزمن وي او د ټولنې احتمالي غړي شي.

په دې پلان کې هغه هېوادونه هم شته چې نه غواړي غړیتوب واخلي؛ خو په دیپلوماتیکو لارو چارو مکلف ګرځول شوي. جورجیا، آذربایجان، ارمینیا، بوسنیا او هرزګوینیا، مونتینګرو، قزاقستان او مولداویا هغه هېوادونه دي چې د انفرادي مشارکت پلان کې د ننه، له ناټو سره اړیکي ساتي.

د ناتو نوي استراتیژیک مفهوم:

په کال ۱۹۹۹ کې، د واشنګټن په سرمشریزه غونډه کې، د کوسوو او بالکان په ناورین، د NATO د پراختیا او نوی استراتیژیک مفهوم په هکله بحثونه وشول. غونډې د ناټو له پاره درې لومړیتوبونه وټاکل:

- د اساسي موخو او امنیتي مسوولیتونو ټاکل،
- د ډله ییزه وژنو وسلو محدودول،
- د سولې له پاره ګډې هڅې .[۳۷۲]

مقر: د ناتو مقر لومړي په پاریس کې و؛ خو په کال ۱۹٦٦ کې، هغه وخت چې د فرانسې ولسمشر جنرال شارل دوګل، په ناتو باندې د امریکا برلاسي په اعتراض کې، د ناتو له پوځي قوماندانی څخه ووت، بروکسل ته ولېږدېد (۱۹٦۷). دوګل غوښتل چې په خپلو اتومي وسلو خپله واکمن وي.

**ناتو او افغانستان :**

د کال ۲۰۰۱ د ۹/۱۱ پېښو وروسته، د ملګرو ملتونو امنیت شوری په خپل ۱۳۸٦ نمبر پریکړه لیک ( ۲۰۰۱ دسمبر۲۰) ، د NATO په چوکاټ کې افغانستان ته د پوځیانو استولو پرېکړه وکړه. په دې ډله کې د امریکا ونډه ډېره درنه وه. په کال ۲۰۱۳ کې د امریکا، NATO او موتلفو ۴۷ هېوادونو د پوځیانو شمېر ۱۵۰۰۰۰ ته رسیده.

په افغانستان کې د امنیت ټینګول، له سیاسي او پوځي پلوه د افغان حکومت په پښو درول، د قانون واکمني، د ولسواکي ټینګول او بیارغاونه، د دې پوځیانو او ملکي ملګرو لوبې دندې وې. په کال ۲۰۱۴ کې NATO ،

---

[۳۷۲] نړیوال سازمانون، محمد نطیم سمون، ص ۲۱۵

افغان پوځیانو ته د امنیتي مسوولیتونو د لېږد پړاو پېل او ځینو هېوادونو مینه وښوده چې خپل پوځیان له افغانستانه وباسي.

ښکاره خبره ده چې په افغانستان کې د امریکا، NATO او ائتلاف پوځیانو شتون او ملګي مرستو، ډېرې مثبتې اغېزې ولرلې؛ خو په سترو تېروتنو یې هم سترګې نه شي پټیدای. دا تېروتنې دومره درنې دي چې امریکا په کال ۲۰۱۸ کې ، له خپلو پخوانیو مخالفینو او دښمنانو، یا افغان طالبانو، سره د روغې جوړې خبرې پېل کړې او په ۲۰۲۰ کې یې په دوحه کې داسې تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې بهرني پوځیان له افغانستانه وځي او د بین الافغاني خبرو له لارې به د راتلونکي زعامت او حکومتولي په باب پرېکړې کېږي .[۳۷۳]

**۲- د ناپېیلتوب غورځنګ:Non Alliance Movement (NAM)**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته نړۍ، چې جرمنی ماتې خوړلې وه او د شوروی اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ګډ ، دشمن ادولف هتلر له صحنې ووت، د امریکا متحده ایالات او شوروي اتحاد زبرځواکونه، په یوه نوې سړه جګړه کې ښکیل شول او نړۍ بیا، په دوو سیاسي ډلو یا بلاکونو ووېشل شوه. د دې جګړې په پای کې ځینې هېوادونه تجزیه او ووېشل شول، د اروپا په نقشه کې بدلونونه راغلل او د اروپا پاته هېوادونه او د نورې نړۍ هېوادونه، د ځان د بقا او پرمختګ له پاره، دې ته اړ شول چې یا د شوروي اتحاد څنګ ونیسي او یا د امریکا متحده ایالاتو په خوا کې ودریږي.[۳۷٤]

لومړۍ ډلې هېوادونو چې لوېدیځ بلاک بلل کېده، د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ پانګوال نظامونه جوړ کړل او دویمې ډلې د شوروي اتحاد په مشرۍ، سوسیالیستي لار ونیوه او د بشر په تاریخ کې یې د لومړۍ ځل له پاره، یو بل ډول سیاسي حاکمیت ته لاره اواره کړه.

په دې اخ او ډب کې، د نړۍ یو شمېر هېوادونه له پاسني وېش څخه لیرې پاته شول، په نړیوالو اړیکو کې یې ناپېیلې دریځ غوره کړ او داسې هڅې پیاوړې شوې چې د ناپېیلو هېوادونو د غورځنګ د جوړېدو له لارې، د سوسیالیستي ( ختیځ) او پانګوالو نظامونو( لویدیځ)، د پراختیا غوښتونکو سیاستونو په وړاندې، یوه پیاوړې جبهه جوړه شي چې په نړیوالو اړیکو کې یو ډول اندول راولي.

له همدې امله د کال ۱۹۵۵ د اپرېل په ۱۸ د هند، مصر، یوګوسلاویا او اندونیزیا د مشرانو په نوښت، په باندونګ ( اندونیزیا) کې د ناپېیلو هېوادونو د غورځنګ یا NAM بنسټ کېښودل شو.

د NAM بنسټګر د هند لومړی وزیر جواهر لعل نهرو، د مصر ولسمشر جمال عبدالناصر، د یوګوسلاویا ولسمشر مارشال جوزف بروز ټیټو، د اندونیزیا ولسمشر داکتر احمد سوکارنو او د افغانستان لومړی وزیر محمد داوود وو. هغه کسان چې د استعماري په ضد یې اوږده مبارزه کړې وه. د باندونګ په غونډه کې ۲۹ هېوادونو برخه درلوده،

---

[۳۷۳] ۸ صبح، ورځپاڼه، جوزا ۱۳۹۹ هـ ش

[۳۷٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۳۰۲

چې ډېر یې پرمختیایي اسیایي او افریقایي هېوادونه وو. له همدې امله ډېرو NAM، یو آسیایي -- افریقایي جوړښت باله.

په دې غونډه کې د داسې سیمو/ هېوادونو مشرانو ته هم د څارونکی ګډونوال بلنه ورکړل شوې وه، چې د خپلواکیو جګړې پکې روانې وې، لکه فلسطین، الجزایر، مراکش او تونس. که څه هم چې په دې غونډه کې د ګډون والو هېوادونو شمېر لږ و؛ خو د یو ستر ناپېلتوب غورځنګ د جوړولو بنسټونه یې کېښودل.

په کال ۱۹٦۱ کې، د بلګراد (یوګوسلاویا) په غونډه کې د دی ټولنی جوړیدل په رسمي توګه اعلان شول.

په باندونګ کې ګډونوالو په دوو خبرو بحث درلود. لومړی استعماري ضد دریځ چې هند، افغانستان، مصر، میانمار، سوریه او ډېرو نورو هېوادونو یې ملاتړ کاوه او بل د کمونیستي ضد دریځ پلویان لکه پاکستان، فلیپین، جاپان، جنوبي ویتنام، لاوس، ترکیه، تایلند، ایتوپیا، لبنان، لیبیا، عراق ، لایبریا او سریلانکا. له ډېر بحث وروسته دا دوه ډلې هېوادونه د جواهر لعل نهرو او جمال عبدالناصر په منځګړیتوب، واحد دریځ ته ورسېدل او هوکړه وشوه چې NAM به له خیتځ او لویدیځ استعمار سره، یو شان مبارزه کوي او ټول ګډونوال د ناپېیلي غورځنګ په پنځو اصولو، چې په سانسکریت ژبه پانچاشیلا بلل کېدل، هوکړی ته ورسیدل. دا پنځګونی اصول هند د لومړي وزیر جواهر لعل نهرو وړاندی کړی وو.

- د هېوادونو ځمکنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ ته متقابل درناوی،
- د هېوادونو تر منځ د نه تېري د اصولو مراعات،
- د هېوادونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه،
- د هېوادونو برابري،
- سوله ییز ژوند [۳۷۵]

اهداف: د NAM له هغه غونډو څخه چې له پیله تر اوسه شوې، داسی ښکاری چی د دې غورځنګ لیدلوری او اهداف دا دي:

- د هېوادونو ملي حاکمیت او ځمکني بشپړتیا ته درناوی،
- په نړیوالو اړیکو کې د تاوتریخوالي (تشنج) کمول،
- د پوځي جوړښتونو سره د یو ځای کېدو مخالفت،
- د استعمار له زولنو څخه د ټولو ولسونو خپلواکي،
- د ملګرو ملتونو د کړنلاری ملاتړ،
- نړیواله مثبته همکاري،
- د اختلافاتو سوله ییز حل،

[۳۷۵] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۳۷

- د نژاد پالنې سره مبارزه،
- تر یو نړیوال څار لاندې د بېوسلې کولو اړتیا او د لویو ځواکونو له خوا د بېوسلې کولو د تړون لاسلیک،
- یو د بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه،
- له وروسته پاته والي سره مبارزه،
- د ناپېیلتوب تګلاره[۳۷۶]

غړیتوب: NAM اوس ۱۲۲ غړي هېوادونه (افریقا ۵۳، اسیا ۳۸، لاتینه امریکا ۲۸ او اروپا ۱) لري. سنت کتس او ناویس او هایتي دوه وروستني هېوادونه دي چې د هاوانا (کیوبا) په غونډه کې، د NAM په غړیتوب ومنل شول. ۲۱ هېوادونه او ۷ نړېوالې ټولنې، د NAM په غونډوکې د څارونکو په توګه ګډون کوي.

په کال ۱۹۷۳ کې د الجزایر غونډې، د NAM د غړیتوب له پاره دا ځانګړتیاوې وټاکلې:

- په پوځي تړونونو کی نه غړیتوب،
- د سوله ییز ګډ ژوند سیاست درلودل،
- د آزادي ښبوونکو غورځنګونو ملاتړ،
- هېچا ته د پوځي اډو نه ورکول،
- د دوه اړخیزه یا څو اړخیزه پوځي تړونونو نه لاسلیک [۳۷۷]

جوړښت: سرمشریزه، سرمنشی ( رییس)، د بهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس او د ناپییلو هیوادونو د همغږی دفتر، د دی لویی ټولنی اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی:

سرمشریزه: سرمشریزه د NAM د غړو هېوادونو د ولسمشرانو غونډه، د دې ټولنې تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان دی، چې په هرو دریو کلونو کې، یو ځل د یو غړي هېواد په پلازمینه کې جوړېږي.

سرمنشی: په NAM کې د غورځنګ رییس یا سرمنشي، کټ مټ د ملګرو ملتونو د سرمنشي په شان وي. هر کله چې سرمشریزه په یو هېواد کې جوړهشي، د همغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر، تر بلې غونډې پورې د درې کلونو له پاره د سرمنشي په توګه ټاکل کېږي. که په دې موده کې د کوربه هېواد د بهرنیو چارو وزیر بدل شي، نوي وزیر مسوولیت په غاړه اخلي.

د بهرنیو چارو وزیرانو شوری: داشوری په دریو کلونو کې یو ځل، او د اړتیا په وخت کې په ځانګړي توګه غونډې جوړوي.

د NAM همغږی دفتر: دا دفتر په کال ۱۹۷۳ کې جوړ شو. د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران، یا نور استازي د دې دفتر غړي دي چې د سرمشریزی د غونډو په وخت کې سره ګوري، او د غورځنګ د علاقې وړ سیاسي او اقتصادي مسایل او NAM ته د د نویو غړیو،غوښتنلیکونه څېړي او خپل وړاندیزونه سرمشریزې ته سپاري.

---

[۳۷۶] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۳۰۴-۳۰۳

[۳۷۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۰۴-۳۰۳

د دولتونو تر منځ همغږي کوونکي ډلې: سرمشريزه معمولاً په بېلابېلو اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي برخو کې د پروګرامونو او پرېکړو د همغږۍ کاري کمېټې جوړوي. لکه د خامو توکو، سوداګري، پولي او مالي همکاريو، سمندري خوړو، لېږد رالېږد، روغتيا، علمي او فني پرمختګونو، انساني سرچينو د لوړولو او پراختيا، په رغنيزو او پراختيايي چارو کې د ښځو د ونډې، اطلاعاتو او څېړنو، سيلانيانو ، له اټومي پروګرام څخه د سوله ييز استفادې او سپورت کمېټې،چې معمولاً خپل راپورونه سرمشريزو ته سپاري.

په نيويارک کې د بهرنيو چارو د وزيرانو کلنۍ غونډه: د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د کلنۍ غونډې په څنډه کې، د NAM د بهرنيو چارو وزيران هم غونډې کوي او د نړيوالو مسايلو په هکله، په ګډ دريځ سلا مشورې کوي.[۳۷۸]

فعاليتونه: NAM اوس د کار ٥٦ کلنه تجربه لري. که څه هم چې ټولنې د درېيمې نړۍ د سياسي او اقتصادي ګټو د خونديتابه له پاره ګټور ګامونه پورته کړی؛ خو د ځينو ستونزو له امله لا خپلو اساسي اهدافو ته نه ده رسېدلي. NAM ډېر غړي هېوادونه، د لويو ځواکونو له وژونکي سياليو څخه وساتل او د لويو ځواکنو له پوځي تړونونو سره، د ناپېيليو هېوادونو د نه يو ځای کېدو له امله، نړيوالې شخړې او کړکيچونه کم شول او د سړې جګړې يوه برخه ځای تفاهم ونيو. ځينې دا ستونزې چې د درېيمې نړۍ هېوادونو په سياسي او اقتصادي پرمختګ يې پياوړي کولای شوای، دا دي:

په NAM کې د ننه د غيرمتجانسو دولتونو شتون، د NAM ځينې غړي هېوادونه پرمختللي او ځينې وروسته پاته وو. په دې سربېره په يوه ټولنه کې د مثال په توګه د اسلامي دولتونو، پانګه والو يا سوسياليستي هېوادونو يو ځای کېدنه، چې بېلابېلې سياسي، ايديالوژيکي او اقتصادي غوښتنې يې درلودې، د ګډو تصاميمو نيولو ته ستونزې جوړې کړې دي،

د NAM پرېکړې د رايو په اتفاق کېږي. حتی د غړي هېواد مخالفت، د پرېکړې د تصويب مخه نيولای شي،

له حقوقي پلوه د NAM پرېکړې اجراييوي ضمانت نه لري. يوازې ملاتړ يې نړيوال عمومي افکار دي،

له سياسي پلوه د NAM په منځ کې، د سترو ځواکونو (امريکا متحده ايالات، برتانيا، چين او روسيه) سياسي اغېز، د غورځنګ يو شمېر غړي په خپلو کې پاشلي دي او هر يو هڅه کوي چې د خپلو ملګرو هېوادونو له لارې، هوری اغېز ولري،

NAM د ننه په بېلابېلو ډلو وېشل شوي، لکه د عربي هېوادونو ټولنه، د افريقا يووالي ټولنه يا د اسلامي هېوادونو کنفرانس يا افريقايي هېوادونه او داسې نور. ښکاره خبره ده چې دا تفرق د غړو تر منځ د نظرونو د اختلاف سبب کېږي او نه پرېږدي چې دا هېوادونه دې، د لويو ځواکونو د تګلارو په وړاندې، ګډ دريځ ونيسي. دې ستونزې د NAM ګټو او د هر غړي هېواد ګټو ته نه جبيره کېدونکي زيانونه رسولی دی.[۳۷۹]

---

[۳۷۸] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۳۸-۲۳۷

[۳۷۹] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۶۱-۳۶۰

### ۴- د ناپېيلو او پرمختيايي هېوادونو د علومو او تکنالوژي مرکز

**Center for Science and Technology of the Non-Aligned and Other Developing Countries (NAM S and T Center):**

دا نړيوال تخصصي بنسټ د کال ۱۹۸۹ په اګست کې په نوي ډيلي (هند) کې، د هغه سپارښتونو له مخې جوړ شو چې د ناپېيلو هېوادونو يا NAM د مشرانو په پنځمو، شپږمو، اوومو او اتمو غونډو کې شوې وې.

NAM S and T Center هڅه کوي چې د غړو هېوادونو تر منځ د تکنالوژيکي پرمختګونو او لېږد آسانتياوې ډېرې کړي، تکنالوژيکي متخصصينو ته تخصصي خدمات برابر کاندي او د خلکو په ژوندانه کې مثبت بدلونونه راولي.[۳۸۰]

### ۵ -- د اسلامي هېوادونو کنفرانس

**Organization for Islamic Conference (OIC)**

په اسلامي ځمکو او هېوادونو کې، د ۱۹ پېړۍ له دوهمې نيمايیڅخه د ويښتيا او خوځيدايوهڅپه راغله چې مذهبي ايديالوژي پرې زوروره وه. ښکاره خبره ده چې په لويديځ کې اقتصادي او تکنالوژيکي پرمختګونو، اسلامي هېوادونه له راز – راز ستونزو سره مخامخ او د دوي پخوانی برم ته د پای ټکی ايښی و. د شلمی پېړئ په پيل کی د عثمانی ستروا کی اضمحلال، او د نويو اسلامی هيوادونو جوړيدو، د يوی اسلامی ټولنی د شتون غږ اوچت کړ.

د کال ۱۹٦۷ د هغه ٦ ورځنې جګړې په پای کې، چې عربي هېوادونو پکې ماته وخوړه،او د عربی ټولنی نه بريالیتوب عربي دولتونه دې ته اړ کړل، چې د خپلو خلکو د احساساتو د قابو کولو له پاره، د اسلامي کنفرانس جوړېدو ته مټې ونغاړي. د کنفرانس د جوړېدوپه کار کی د سعودي، مصر (ناصريزم) او ايران جلا – جلا تګلارو، لږ خنډ پېښ کړ؛ خو په کال ۱۹٦۹ کې، په الاقصی جومات باندې د اسرايیلو برید، سعودي ته لار اواره کړه چې د صهيونيزم په ضد، د مسلمانانو له احساساتو څخه ګټه پورته او د اسلامي کنفرانس د جوړولو نوښت په لاس کې واخلي.

په هغه غونډه کې چې د همدې کال د سپتمبر په ۲۵، په رباط (مراکش) کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون جوړه شوه، په دريو خبرو بحث وشو: په الاقصی جومات برید چېيو وخت د مسلمانانو لومړنې قبله وه، د اسرايیلو له خوا د عربي ځمکو نيول او د بيت المقدس ښارګوتی برخليک. غونډې په عين وخت کې د اسلامي هېوادونو کنفرانس بنسټ هم کېښود .[۳۸۱]

---

[۳۸۰] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ايران، ويبپاڼه

[۳۸۱] سازمان های بين المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳٦۱-۳٦۰

غړیتوب: ټول اسلامی هیوادونه او یا هغه هیوادونه چی دیر خلک یی مسلمانان دی، کولای شی چی د دی ټولنی غړی شی. دا ټولنه اوس ۵۷ غړی لری چی په جغرافیایی لحاظ په پنځو ډلو ویشل شوی دی.

الف – اسیا: افغانستان، اذربایجان، اندونیزیا، ایران، برونی، بنګله دیش، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قرغزستان، ترکیه، مالیزیا او مالدیپ. ټول دیارلس هیوادونه.

ب – افریقا: یوګندا، بورکینافاسو، توګو، چاد، تانزانیا، سنیګال، کامرون، کومورو، ګابون، ګمبیا، ګینی بیساو، مالی، موریتانیا، موزنبیق، نایجیراو نایجیریا. ټول اوولس هیوادونه.

ج – عرب لکه اردن، الجزایر، عربی متحده امارات، بحرین، تونس، جیبوتی، سودان، سوریه، سومالیا، عراق، سعودی، عمان، فلسطین، قطر، کویت، لبنان، لیبیا، مراکش، مصر، موریتانیا او یمن ټول یوویشت.

د – امریکا یو هیواد- سورینام.

ذ – اروپا یو هیواد – البانیا.

اهداف: OIC د دې له پاره جوړ شو چې د اسلامي هېوادونو تر منځ هر اړخیزه همکاري پیاوړې کړي، بیت المقدس خوندي کړي او د فلسطین او نورو اسلامي هېوادونو د خپلواکئ او برم په ساتلو کې مرسته وکړي. د اساسنامی له مخی د دی ټولنی اهداف دا دی:

- د اسلامي هېوادونو د غړو اوچتول او د ګټو ساتنه، او د دې هېوادونو تر منځ ورورولي، همغږي او پیوستون پیاوړتیا،
- په اقتصادي، ټولنیزه، فرهنګی او علمي برخو کې د اسلامي هېوادونو تر مینځ د مشورو او ګډ کار ملاتړ،
- د هر راز نژادي تبعیض او استعمار پای ته رسول،
- د نړیوالې عادلانه سولې او امنیت د ټینګښت له پاره هڅې،
- د اسلامي سپېڅلو ځایونو د ساتنې له پاره ګډې هڅې او د فلسطینیانو د زمکو، حقونو او خپلواکئ ملاتړ،
- د اسلامي هېوادونو په مخکې د پرتو ستونزو د له منځه وړلو له پاره کار،
- د یو بل خپلواکي ته درناوی، د نورو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه او د اسلامي هېوادونو د ځمکنې بشپړتیا خوندیتوب،
- په نړیوالو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه پرېکړو کې د اسلامي هېوادونو د ونډې او برخې کلک ملاتړ،
- د ملګرو ملتونو له کړنلارو او نړیوالو قوانینو سره سم، د خلکو د حقوقو د ساتلو ټینګار،
- د اسلامي ګډ سوداګریز مارکیټ د جوړولو له پاره، د اسلامي هېوادونو د خپلمنځي اقتصاد او سوداګرئ پراختیا او غښتلي کول،
- د OIC د هر اړخیز او تلپاته بشري پرمختګ له پاره هلې ځلې،
- -له رښتیني اسلامي دین څخه دفاع او د مذاهبو او تمدنونو د ډیالوګ د هڅونې له پاره، له دین څخه د ناوړو تعابیرو په ضد مبارزه،

- په غړوهېوادونو کې د ساینس او تکنالوژی د خورولو هڅې.
- د OIC په کړنلاره کې راغلي چې غړي هېوادونه، دې اهدافو ته د رسېدو له پاره باید خپل کارونه داسې تنظیم کړي:
- د ملګرو ملتونو کړنلارې ته ژمنتیا،
- د حقوقو او وجایبو له پلوه خپلواکی او برابروالی،
- د خبرو د لاری د خپلمنځي ستونزو پای ته رسول او د زور له کارولو څخه ډډه،
- یو د بل ملي حاکمیت، سیاسي خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی او یو د بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه،
- په ملي او نړیوالو برخو کې، د اغیزمنې حکومتولۍ، ولسواکۍ، بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ او پرمختګ پلویتوب او مبارزه.[۳۸۲]

جوړښت: سرمشریزه، د بهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس او دارالانشا د OIC اصلی اداره کوونګی ارګانونه دی.

سرمشریزه: د اسلامي هېوادونو د مشرانو غونډه چې هر درې کاله وروسته یوځل په عادی توګه، او د اسلامي نړۍ د اړتیا له مخی په ځانګړي توګه، د یو غړي هېواد په پلازمینه کې جوړېږي. په دې غونډو کې په هغه نړیوالو بدلونونو بحث کېږي چې د اسلامي هېوادونو په ګټو اغېز ولري.

OIC له جوړېدوڅخه تر ۲۰۲۰، پورې دا سرمشریزې جوړې کړې دي:

رباط ۱۹٦۹، لاهور ۱۹۷۴، طایف ۱۹۸۱، کازابلانکا ۱۹۸۴، کویټ ۱۹۸۷، ډاکه ۱۹۹۱، کازابلانکا ۱۹۹۴، تهران ۱۹۹۷، دوحه ۲۰۰۰، مالیزیا ۲۰۰۳.

د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس: د OIC د بهرنیو چارو وزیران په کال کې یو ځل؛ خو د اړتیا په وخت کې څو ځلې غونډې جوړوي. په لومړنیو عادي غونډو کې د بهرنیو چارو وزیران، هر کال د ولسمشریزو غونډو د تګلارو په رڼا کې، پرېکړې کوي او سرمنشي او دارالانشا ته دندې سپاري. دا وزیران کولای شي چې په نړیوالو چارو کې د خپلو دولتونو د غوره دریځ او د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د غونډو د اجنډا د څېړلو له پاره هم، هملته په نیویارک کې سره ووینې او ځانګړې غونډې جوړې کړي.

دارالانشا: دارالانشا یو سرمنشي، څلور مرستیالان او یو شمېر کارکوونکي لري. سرمنشي د ټولو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د رایو په اکثریت ټاکل کېږي، ۴ کاله کار کوي او یوځلې بیا هم ټاکل کېدای شي. د سرمنشي څلور مرستیالان په سیاسي، فرهنګي، مالي او اداري څانګو کې، د سرمنشي په وړاندیز، د OIC د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د یوځل له پاره ټاکل کېږي. دارالانشا د ټولنی اداری چاری مخ ته وړی او د هغه پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري، چې په سرمشریزه یا د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې شوې وي.

د OIC سرمنشي ۴ دنده لري چې:

---

[۳۸۲] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۲۰۸-۲۰۷

- د OIC د سرمشریزو، د بهرنیو چارو یا نورو وزیرانو غونډې جوړې کړي، وړاندیزونه برابر کاندي او پرېکړو عملي کړي،
- د OIC کارونه همغږي کړي،
- د OIC بودجې جوړه کړي، منظوري واخلي او لګښتونه تنظیم کړي،
- د OIC د غړو هېوادونو تر منځ اړیکې ټینګې او پیاوړي او د سلامشوره لارې اوارې کړي،
- غړو هېوادونو ته د OIC په هکله معلومات او اطلاعات ورسوي او د هغوی وړاندیزونه وګوري او وارزوي.

د OIC له جوړېدوڅخه را پدیخوا، لاندې کسانو د دې ټولنې د سرمنشي په توګه کار کړی:

۱۹۷۱ – ۱۹۷۳، تانګو عبدالرحمن د مالیزیا، ۱۹۷۴ – ۱۹۷۵، حسن التهامي د مصر، ۱۹۷۵ – ۱۹۷۹، داکتر عمادو کریمګای د سنیګال، ۱۹۷۹ – ۱۹۸۴، حبیب چاتی د تونس، ۱۹۸۵ – ۱۹۸۸، سید شریف الدین پیرزاده د پاکستان، ۱۹۸۹ – ۱۹۹٦، داکتر حمید الکایید د نایجیریا، ۱۹۹۷ – ۲۰۰۰، داکتر عزیزالدین لاراکي د مراکش، ۲۰۰۱ – ۲۰۰۴، داکتر عبدالوحید بیلکیزیز د مراکش، ۲۰۰۵ - ۲۰۱۰ او داکتر اکمال الدین احسان اوغلو د ترکیې .[۳۸۳]

فعالیتونه: د ملګرو ملتونو ۵۷ غړی هیادونه، اسلامی ملکونه دی چی په اسیا، افریقا، امریکا او اروپا کی پراته دی او ټول د دی ټولنی غړیتوب لری. دا هیوادونه د زمکی، اوبو، نفوس او طبیعی شتمنیو ( لکه تیل او ګاز) له پلوه ډیر د پام وړ دریځ او څه باندی یونیم بلیون اوسیدونکی لری. داسی پراخه جغرافیه او ستر انسانی ظرفیت، OIC ته دا چانس ورکړی چی په نړۍ کی، ښه دریځ او پیاوړی ونډه ولری؛ خو زمکنی واقعیتونه داسی نه دی او دا ټولنه د دی ستونزو په توسن، تر اوسه سمه نه ده ځلیدلی:

- د OIC په کورنی جوړښت کی کمزورتیاوی او د غړو هیوادونو تر منځ ستونزی او لانجی،
- د ګډو او ورته ( مشابه) اقتصادی جوړښتونو شتون،
- د پریکړو د تطبیق له پاره د اجراییوی ضمانتونو نشتوالی،
- د OIC بیاجوړونی او د اهدافو نوی کیدن ته نه پاملرنه[۳۸٤]

نړیواله اسلامي محکمه: دا محکمه په کال ۱۹۸۷ کې د OIC په پنځمه سرمشریزه(کویټ) کې جوړه شوه. په هغه غونډه کې د OIC د کړنلارې دریمه ماده داسې بدله شوه چې نړیواله محکمه د دې ټولنې د څلورم ارګان په توګه ومنل شوه.

محکمه ۷ قاضیان لري چې د OIC هېوادونو، د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دنده لری چی د اسلامی احکامو او د دی ټولنی د اساسنامی مطابق پریکړی وکړی. دا محکمه تر اوسه پوری د OIC په اساسنامه کی، د متضادو د شتون په توسن نه ده جوړه شوی.

---

[۳۸۳] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۶۱-۳۶۰

[۳۸٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۰۱-۳۰۰

فرعي څانګې: د سوداګرۍ د پراختیا اسلامي مرکز (مراکش)؛ د اسلامي تاریخ، کلتور او هنرونو د مطالعې او څېړنې مرکز( ترکیه) او د تکنالوژۍ او علومو اسلامي موسسه ( بنګله دیش).

دایمی کمیټی: دا کمیتی د OIC د سرمشریزو او د بهرنیو چارو وزیرانو د پریکړو د عملی کړلړ د پاره جوړس شوی ، چی په دریو برخو ویشل کیږی: دایمی، لنډمهاله او ځانګړی.

دایمی کمیټی: د اطلاعاتی او فرهنګی ګډ کار کمیټه (سنیګال)، د بیت المقدس کمیټه (مراکش)، د اقتصادی او سوداګریز ګد کار او مرستو کمیټه (ترکیه) او د علمی او تکنالوژیکی ګډ کار او مرستو کمیټه (پاکستان)، چی د OIC د اساسنامی د مخی جوړی شوی دی.

لنډمهاله کمیټی د OIC د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا جوړیږی. لکه د جنوبی افریقا او نامیبیا کمیټه او د صحرا د خلکو سره د اسلامی پیوستون کمیته، چی د کار د خلاصون وروسته بیرته ړنګیږی.

ځانګړی کمیټی لکه د افغانستان کمیټه او د فلسطین کمیټه[۳۸۵]

تخصصي څانګې: دا ټولنه پنځه تخصصی کمیټی لری. اسلامي پراختیا بانک ( جده – سعودی)؛ علمي، فرهنګي او روزنیزه اسلامي ټولنه( جده – سعودی) ، د نړیوالو اسلامي خبري اژانسونو ټولنه ( جده – سعودی)،د اسلامی دولتونو خبری اژانس او د نړیوالی سری میاشتی اسلامی کمیټه.

وړې څانګې: چی د اسلامی هیادونو تر مینځ د ګډ کار او مرستو، د ډیریدو له پاره جوړیږی، لکه د اسلامي پلازمېنو او ښارونو ټولنه، د اسلامي بانکونو نړیوالهټولنه، د سوداګرئاو صنایعو نړیواله خون، د اسلامی پیوستون فدراسیون، د اسلامی او عربی ښوونځیو نړیوال فدراسیون، د ځوانانو ټولنه، اسلامی هیوادونو ته د مشاورینو فدراسیون؛ د اسلامی علونو نړیواله اکاډمی، د اسلامی هیوادونو د ستندردونو جوړولو او مترولوژی انستتیوت؛ د مالیزیا، نایجیر او یوګندا پوهنتونونه او داسی نور.[۳۸۶]

### ٦ -- د تیلو صادرونکو هېوادونو ټولنه

**Organization of Petroleum Exporting Countries (OPEC):**

دا ټولنه د کال ۱۹٦۰ د سپتمبر په ۱۴ ، د بغداد په نړیوال کنفرانس کې، د سعودي عربستان، کویټ، عراق، ایران او ونزویلا تر مینځ جوړه شوه؛ خو اساسنامه یې په کال ۱۹٦۵ کې، د کاراکاس (ونزویلا) په غونډه کې تصویب شوه چې تر اوسه څو ځلې تعدیل شوې ده. الجزایر په ۱۹٦۰، قطر په ۱۹٦۱، لیبیا او اندونیزیا په ۱۹٦۲ ، متحده عربي امارات په ۱۹٦۷ ، نایجیریا په ۱۹۷۱ ، اکوادور په ۱۹۷۳او ګابون په ۱۹۷۵ کې د دېټولنې غړي شول. اکوادور په ۱۹۹۳ او ګابون په ۱۹۹٦ کې له OPEC څخه ووتل؛ خو اکوادور په کال ۲۰۰۷ کې

---

[۳۸۵] سازمان های بین المللی، محمد اکبر زاهد ، ص ۲۹۹-۲۹۷

[۳۸٦] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۲۴۲-۲۴۰

بیرته د غړیتوب وړاندیز وکړ. OPEC اوس ۱۴غړي لري: الجزایر، انګولا، اندونیزیا، ایران، عراق، کویت، اکوادور، نایجریا، قطر، سعودي ، متحده عربي امارات او ونزویلا .[۳۸۷]

غړیتوب: هر هغه هېواد چې د تېلو ستری زیرمی ولری، د تیلو په برخه کی د پنځو بنسټ ایښودونکو هیوادونو په شان غوښتنی او ګټی ولری او د تیلو صادرات یې د دېټولنې له ستندردونو سره برابر وي، د OPEC غړیتوب ترلاسه کولای شي. هر هېواد کولای شی چی د OPEC غړیتوب واخلی؛ خو په دی شرط چی د اوسنیو غړو ۷۵% موافقې رایې وګټی.

OPEC دری ډوله غړي لري:

- بنسټ ایښودونکي: په کال ۱۹٦۰ کی د بغداد د نړیوالی غوندی برخه وال هیوادونه یا ایران، عراق، کویت، عربستان او ونزویلا،
- نوی غړي: هغه هیوادونه چې د OPEC له جوړیدو وروسته د غړیتوب شرایط پوره کړی او د حاضرو غړو ۷۵% رایی اخستی دی،
- کتونکی غړی: هغه هېوادونه چې تیل صادروي؛ خو د رسمي غړو شرایط نه لري. د داسې هېوادونو غړیتوب هم ۷۵% رایي ته اړتیا لري، په غونډو کې د رایي حق نه لري او یوازې د کتونکي (ناظر) په شان برخه اخلي.

که کوم هېواد له OPEC څخه د وتلو نیت ولري، د خپلې مالي ژمنې له پوره کېدو وروسته، یوه اعلامیه خپروي او د ټولنې له غړیتوب بڅخه وځي .[۳۸۸]

اهداف :

- د یو غړي هېواد په وړاندې د تیلو د شرکتونو د فشار د کمولو له پاره، د دولتونو په تیلي سیاستونو کې د یووالي او همغږي رامنځ ته کول،
- د غړو هېوادونو د فردي او ډله ییزو ګټو د ساتنې له پاره د تدابیرو نیول،
- د تیلو د عادلانه او ثابتو بیو ټاکنه او د اومو تیلو د بیو د ټاکلو د حق انحصار،--
- د شرکتونو له خوا د تیلو د بیو د څېڅاندی ( نوسان) مخنیوی،
- د وخت له غوښتنو سره سم، د تړونونو نوي کول،
- د تېلو صنعت په برخه کی د غړو هېوادونو د سیاستونو همغږي،
- د صنعتي کالیو له نړیوالو شاخصونو سره د تېلو د بیو تړل او د غړو هېوادونو د تېلو په شرکتونو کې مشارکت،
- د خپلو کورنیو صنایعو د ودی له پاره د تیلو منظم تولید،
- د تیلو د لویو شرکتونو په وړاندی د غړو ملاتړ.

---

[۳۸۷] روهی ویبپاڼه، د محمد شفیق صمیمی لیکنه.
[۳۸۸] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۶۸-۳۶۶

د پاسنیو اهدافو د تحقق له پاره، غړي هېوادونه په بشپړه توګه مساوي دي. یعنې نه لومړني بنسټ اېښودونکي هېوادونه او نه د تېلو لوی صادرونکي هېوادونه هېڅ تفوق او امتیاز نه لري او بله دا چې ژمنې باید په ښه نیت پوره شي. د دې له پاره چې څوک په خپل سر کوم کار ونه کړي او ټولنه یو ځای او پیاوړې پاته شي، باید ټول غړي هېوادونه، د اساسنامې مطابق، خپلې ژمنې سرته ورسوي[389]

جوړښت: کنفرانس، مدیره هیات او دارالانشا د OPEC دری مهم اداره کوونکی ارګانونه دی:

-کنفرانس: د OPEC تر ټولو لوړ ارګان چې د غړو هېوادونو د مالیې او تېلو له وزیرانو او نورو لوړپوړو چارواکو څخه جوړ دی او په کال کې دوه ځلې په ویانا (استریا) یا کوم بل مناسب ځای کې غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې ځانګړې غونډې هم جوړولای شي او هر غړی یوه رایه لري.

د کنفرانس لویی دندی دا دی: د OPEC د لویو سیاستونو ټاکل او دې اهدافو ته د رسیدو له پاره د آسانه لارو چارو موندل، د بودجې تصویب، د دوو کلونو له پاره د عامل هیات انتصاب، د یو کال له پاره د عامل هیات د مشر یا سرمنشیټاکل، د OPEC د سرمنشي او نایب منشي ټاکل، د عامل هیات د راپورونو تصویب او د غړیتوب د نویو غوښتنو څېړنه. هر غړی هیواد په کنفرانس کس یوه رایه لری او پرېکړې د رایو اتفاق غواړي. کنفرنس کولای شی چی د اړتیا په وخت کی، د ځانګړو ستونزو د حل له پاره د OPEC په جوړښت کی بله تخصصی یا فرعی ځانګه جوړه کړی.

-مدیره هیات: د OPEC مدیره هیات د غړو هېوادونو له استازو جوړ دی چې د کنفرانس له تایید وروسته، د دوو کلونو له پاره کار کوي او هر کال دوه ځلې غونډې کوي. د کنفرانس په غونډو کې ګډون، د کنفرانس د پرېکړو عملي کول، ورځنی چارې، د سرمنشي د کاري راپورونو چمتو کول، د ټولنې د اړونده موضوعاتو په اړه د راپورونو جوړول، د بودجې برابرول او منظوري اخستل، د نایب منشي ټاکل، د کنفرانس د غونډو د اجنډا برابرول، د غړو هېوادونو په وړاندیز د OPEC د بېلابېلو ځانګو او برخو د مشرانو ټاکل د ټولنې د مدیره هیات له واکونو څخه دي.

د OPEC هر غړی هیواد په مدیره هیات کی یو استازی لری او پریکړی بشپړ اکثریت ته اړتیا لری.[۳۹۰]

-دارالانشا: دارالانشا د مدیره هیات تر نظر لاندې، د OPEC د دفتري او اجرایي کارونو مسوولیت په غاړه لري او له سرمنشي، نایب منشي او یو شمېر کارکوونکو څخه جوړه ده.

د دارالانشا په سر کې سرمنشي ځای لري چې له حقوقي پلوه د OPEC مشروع استازي او د دارالانشا مشر ګڼل کېږي چی د مدیره هیات له لارښوونو سره سم، د OPEC چارې په مخ بیایی.

سرمنشي د غړو هیوادونو د نوماندانو له ډلیڅخه، د کنفرانس له لوري د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځله کار کولای شي. دارالانشا پنځه ځانګې لري: اداري، اقتصادي، حقوقي، اطلاعاتي او تخنیکي او احصاییه چې د تېلو تولیدونکو هېوادونو ارقام او احصایي ټولوي.

---

[389] روهی ویبپاڼه، د محمد شفیق صدیقی لیکنه

[۳۹۰] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۳-۳۱۴

OPEC لاندې کمېټې هم لري:

- ځانګړې کمېټه: د اړتیا په وخت کې د کارپوهانو په سویه جوړېږي او د مالي، پتروشیمي، طبیعي ګازو او نورو ورته (مشابه) مسایلو د څېړنې په هکله غونډې کوي.
- د وزیرانو کمېټه: دا کمېټه د کنفرانس له لارې، د ځانګړو مسایلو د څېړلو په هکله جوړېږي. لکه د بیو، ونډو او د OPEC د اوږدمهاله تګلارو په هکله پرېکړې او داسې نور.
- اقتصادي کمېټه: دا کمېټه چې د OPEC له سرمنشي، د غړو هېوادونو استازو او د څېړنو د دفتر له مشر (همغږی کوونکی) څخه جوړه ده، دنده لري چې د تېلو د نړیوال بازار د تثبیت، او د تېلو د بیو د ټیټیدو د مخنیوي په هکله علمي راپورونه ولیکي او د OPEC کنفرانس ته یې وړاندې کوي.

خپلواکه ارګانونه: OPEC دا خپلواکه ارګانونه لري:

- د OPEC ځانګړی صندوق: دا صندوق په کال ۱۹۷۵ کې له پرمختیایي هېوادونو سره د مرستې د پاره جوړ شو، او د OPEC هر غړی هېواد په هر صادراتي بیلر تیلو لس سنټه ورکوي. دا مرستې په دوه ډوله لګول کیږی:

  الف – پرمختیایي هېوادونو ته بې ګټې پورونه او یا د دوي له پرمختیایي پروژو سره مرسته،

  ب – له هغه نړیوالو موسساتو سره مرسته، چې په پرمختیایي هېوادونو کې کار کوي،
- خبري آژانس: دا آژانس په کال ۱۹۷۹ کې د OPEC د دارالانشا په چوکاټ کې جوړ شو. د انرژي په برخه کې د OPEC او غړو دولتونو خبرونه او اطلاعات خپروي. آژانس دنده لري چې د لویدیځو هېوادونو د منفي تبلیغاتو په وخت کې، لکه د تېلو د بیو جګېدل او داسې نورو کې د OPEC ننګه وکړي.
- د انرژی نړیوال کنفرانس: دا کنفرانس هم لکه خبري آژانس، د تېلو د بیو د جګېدو او د لویدیځو هېوادونو د دریځ په غبرګون کې جوړ شوی دی.

د OPEC هر غړی هېواد دا مني، چې باید د خپل لګښت د ٦٠ ورځو تېل په زیرمه کې ولري، د اړتیا په وخت کې په خپل لګښت کې سپما وکړي، د تېلو د تحریم په استثنایي وختونو کې د خپلو تېلو تولید کم کړي او حتی دې ته چمتو وي چې د خپلو زیرمو تېل له نورو هېوادونو سره ووېشي.[۳۹۱]

فعالیتونه: OPEC په نړۍ کی، د تیلو د تولید او د تیلو د بیو د ټاکلو په برخه کی، تر ټولو ځواکمنه او اغیزمنه ټولنه ده. پخوا دی ټولنی د نړۍ۴۰% تیل او ١٦% ګاز درلودل او ۵۵% صادرات یی کول او د تیری پیړۍ په اویایمو او اتیایمو کییی ، په نړۍ کی د تیلو بیی ټاکلی؛ خو وروسته د نویو بدلونونو په توسن، دا واکمنی د OPECله لاسه ووته او ځای یی د نیویارک، لندن او سنګاپور بورسونو ونیو.[۳۹۲]

---

[۳۹۱] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۳

[۳۹۲] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۳۱۴

افغانستان اوOPEC : افغانستان د تیلو او گازو بډایه زیږمی لری. د ایتالویانو، جرمنانو، فرانسویانو، روسانو او امریکایانو سروی گانی وایی چیافغانستان په شمال ختیځ، شمال، لویدیځ او جنوب کی تیل او گاز لری. له جگړوڅخه مخکی د افغانستان گاز شوروی اتحاد ته صادریدل. له بده مرغه چی تیرو او روانو څلویښت کالنو جگړو، د افغانستان د تیلو او گازو د تفصیلی سروی گانو، پروژه جوړونی، ایستلو، چاڼ، ویش او صادراتو مخه ډپ کړی او هیڅ پرمختگ نه دی شوی. که دا کارونه په وخت شوی وای، افغانستان به هم د OPEC غړیتوب لرلای. اوس – اوس د داسی غړیتوب تصور هم بیځایه ښکاری.

**۷ -- د علمي او تکنالوژیکي همکاریو په برخه کې د اسلامي کنفرانس دایمي کمیټه Organization of Islamic Conference Standing Committee on Scientific & Technology Cooperation (COMSTECH):**

COMSTECH یو نړیوال تخصصی بنسټ دی چی د اسلامي کنفرانس هېوادونو یا OIC په درېیمه غونډه کې، په مکه (سعودي) کې، د اسلامي هېوادونو تر منځ د علمي او تکنالوژیکي همکاریو له پاره جوړ شو. د COMSTECH مرکزي دفتر په اسلام آباد (پاکستان) کې دی او مشرتوب یې د دې هېواد د ولسمشر په غاړه وي.

اهداف: د OIC هېوادونو تر منځ د علمي – تکنالوژیکي همکاریو پیاوړتیا، د دې هېوادونو د وړتیاوو جگول؛ د OIC د پرېکړو تطبیق او د علومو او تکنالوژي په برخه کې د اسلامي هېوادونو د ظرفیتونو د لوړولو وړاندیزونه د COMSTECH د جوړېدو له اصلي عواملو څخه دي. نور اهداف دا دي:

- د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ او ژر صنعتي کېدو له پاره له علومو او تکنالوژئ څخه ډېر کار اخستل،
- د غړو هېوادونو د مالي او انساني سرچینو څېړنه او علومو او تکنالوژي ته اړتیاوو پېژندنه،
- د گډو هڅو او زیار له لارې، د علومو او تکنالوژئ په برخه کې د غړو هېوادونو د میراثي یا وطني وړتیاوو موندل او هڅول،
- د OIC هېوادونو د ستونزو د حل یا کمولو له پاره، په علمي او تکنالوژیکي برخو کې د گډ کار او متقابله مرستو ډېرول،
- په ملي، سیمه ییزو او نړیوالو برخو کې، د علمي او تکنالوژیکي فعالیتونو د پلان جوړولو، څېړنو، پراختیا او څار د یو مرکز جوړول.

COMSTECH له ډېرو نړیوالو بنسټونو او مراکزو سره نژدې اړیکې لري چی دا یی بیلگی دی:

- د علومو نړیواله اکاډمی TWAS،
- د OIC زده کړنیزه – علمي او فرهنگي ټولنه ISESCO،
- د علومو نړیواله اسلامي اکاډمی IAS،
- اسلامي پراختیا بانک IDB،

- د نړیوال ژوند چاپېریال امکانات او آسانتیاوې GEF،
- د ملګرو ملتونو د ژوند چاپېریال پروګرام UNEP،
- د ملګرو ملتونو د پرمختیا پروګرام UNDP،
- د استاکهولم د علومو نړیوال بنسټ IFC،
- په منځني ختیځ کې د WHO سیمه ییز دفتر WHO-EMRO.
- فعالیتونونه:
- د زده کړنیزو ورکشاپونو جوړول او په غړو هېوادونو کې د داسې ورکشاپونو له جوړولو سره مالي مرسته،
- په علمي برخو کې د غړو هېوادونو د پوهانو ستایل او هڅول،
- په غړو هېواونو کې د علمي څېړنو د مراکزو له جوړولو سره مالي مرسته[۳۹۳]

## ۸-د اقتصادي همکاریو او پراختیا ټولنه The Organization For Economic Co-operation and Development ( OECD)

OECD یو بین الحکومتي اقتصادي ټولنه ده چې ۳۸ غړي لري او په کال ۱۹٦۱ کې د اقتصادي پرمختګ او د سوداګرۍ د ګړندي کولو له پاره جوړه شوه. د OECD غړي هېوادونه چې ځانونه ولسواکۍ او مارکیټ اقتصاد ته ژمن بولي، غواړي چې له دې لارې خپلې تګلارې شریکې کړي، لویو عمومي ستونزو ته حللارې ومومي، بریالي پرمختګونه وپېژني او خپلې کورنۍ او بهرنۍ تګلارې سره همغږه وساتي. دا د نړۍ هغه هېوادونه دي چې ډېر جګ عواید او ډېر مسلکي او متخصصه بشري ځواک لري چې High Human Development Index (HDI) بلل کېږي. OECD په ۱۹٦۱ کې په حقیقت کې د اقتصادي همکاریو د اروپایي شورى Organization For European Economic Co-operation (OEEC) ځای ونیو. OEEC د جوړولو فکر هغه وخت پیاوړی شو، چې امریکا متحده ایالاتو وغوښتل د مارشال پلان له لارې د هغه اروپایي هېوادونو سره اقتصادي مرستې وکړي چې په دویمه نړیواله جګړه کې وران شوي او خپل اقتصادي ځواک یې له لاسه ورکړی و.

د امریکا متحده ایالاتو د وخت د بهرنیو چارو وزیر، جنرال مارشال د کال ۱۹۴۷ د جون په ۵، په هاروارد پوهنتون کې وویل چې امریکا متحده ایالات غواړي له اروپا سره اقتصادي مرسته وکړي؛ خو شرط یې دا دی چې اروپایي هېوادونه هم، باید د خپل اقتصاد د احیا، رغښت او پرمختګ له پاره ګډ پروګرام وړاندې کړي. امریکا متحده ایالاتو په هغه وخت کې، اروپا ته د اقتصادي مرستو تر څنګ، غوښتل چې لویدیځې اروپا ته د شوروي اتحاد د ګواښونو مخه ونیسي او د شوروي د جنګي ماشین په مقابل کې، پیاوړي اروپایي ملګري ولري.[۳۹٤]

---

[۳۹۳] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ایران، ویبپاڼه

[394] www.oecd.org

په لومړي سر کې برتانيا او فرانسې داسې هڅې پيل کړې چې د جنرال مارشال د وړانديز په برخه کې، شوروي اتحاد هم له ځانه سره ملګرې کړي؛ خو ژر ښکاره شوه چې د شوروي اتحاد ګډون ګران دی؛ ځکه يې د کال ۱۹۴۸ په اپريل کې، په پاريس کې، د اقتصادي همکاريو غونډه جوړه او OEEC بنسټ کېښود.[۳۹۵]

OEEC دنده درلوده چې د اروپا د مرکزي دفتر په توګه، په غړو هېوادونو کې د مارشال پلان د مرستو د لګښت څرنګوالی وڅاري، د يو سالم اروپايي اقتصادي سياست په جوړولو کې ستره ونډه ولري او غړي هېوادونه خپلمنځي همکاريو ته وهڅوي.

د کال ۱۹۵۹ د دسمبر په ۳۱ د امريکا متحده ايالاتو، فرانسې، برتانيا او جرمني فدرالي جمهوريت مشرانو، يوه ګډه اعلاميه خپره کړه او په هغه کې يې د اقتصادي همکاريو د اروپايي ټولنې يا OEEC په ځای، د اقتصادي همکاريو او پراختيا ټولنې يا OEEC د جوړېدو پرېکړه واوروله. دا بدلون ځکه پېښ شو چې OECD په ځان، ژر له نړيوالو بدلونونو سره عيار کاندي او بله دا چې غيراروپايي هېوادونه به هم که وغواړي غړيتوب ترلاسه کړي.

برتانيا، جرمني، فرانسه، ايتاليا، اسپانيا، بلجيم، سويتزرلند، دنمارک، ناروې، لوګزامبورګ، ايرلند، ايسلند، پرتګال، سويدن، هالند، يونان، اتريش او ترکيه د OECE لومړنی غړي وو؛ خو وروسته نور اروپايي او غيراروپايي هېوادونه لکه امريکا متحده ايالاتو او کانادا (۱۹٦۰)، جاپان (۱۹٦۴)، فنلند او سويدن (۱۹۷۱)، استراليا او نيوزيلند (۱۹۷۳)، هم ورسره يو ځای شول.

اهداف:

OECD دوه ډوله اهداف لري:

الف – د غړو هېوادونو په برخه کې،

ب – د پرمختيايي هېوادونو په هکله،

د غړو هېوادونو په برخه کې د OECD اهداف دا دي:

ډېره اقتصادي پراختيا او پرمختيا، د ژوندانه د سطحې ښه کول؛ په اقتصادي، تولنيزو او سياسي ډګرونو کې تلپاته ثبات، لوړ استخدام او آزاده سوداګري.

د پرمختيايي هېوادونو په برخه کې هدف دا دی چې دواړه خواوې سمې او دوستانه اړيکې ولري.

OECD داسې چاپېريال برابر کړي چې دولتونه وکولای شي، د نورو هېوادونو اقتصادي سياستونه سره پرتله کړي او يا د عمومي مسايلو، ستونزو او سياستونو په برخه کې حلارې ومومي. OECD همدا راز له هېوادونو سره مرسته کوي چې د بېلابېلو هېوادونو سياسي تجربې ووينې او د خپلو ملي او نړيوالو سياستونو په برخه کې همغږي راولي.

جوړښت: شورى، اجراييه کميټه او دارالانشا د OECD مهم اداره کوونکي ارګانونه دي.

[395] www.oecd.org

شوری: شوری د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه ده، هر کال خپل منشي او نایب منشي ټاکي او پرېکړې د رایو په اتفاق وي.

اجراییه کمېټه: د غړو لسو هېوادونو له استازو څخه جوړه کمېټه، چې د شوری له خوا د یو کال له پاره ټاکل کېږي او د شوری پرېکړې عملي کوي.

دارالانشا: دارالانشا یو سرمنشي او دوه مرستیالان لري چې دری واړه د شوری له خوا، د یو کال له پاره په کار گومارل گېږي او د اجراییه کمېټې او شوری له خوا ورسپارل شوې دندې سر ته رسوي .[۳۹۶]

OECD دوه فرعي ارگانونه لري: د انرژي نړیوال اژانس او د مالي مرستو صندوق.

د انرژي نړیوال اژانس: دا اژانس په کال ۱۹۷۴ کې، د نفتو د نړیوال بحران او د بیو د لوړېدو سره د مقابلې له پاره جوړ شو.

د OECD ټول غړي هېوادونه د اژانس غړیتوب نه لري. اژانس خپلواکه دي؛ خو جلا حقوقي شخصیت نه لري، له همدې امله د OCDE په څنگ کې کار کوي.

د مالي مرستو صندوق: دا صندوق د OCDE د ټولو غړو په گډون، په کال ۱۹۷۵ کې په دې هیله جوړ شو چې د استقراض له لارې، هغه غړو هېوادونو ته پور ورکړي چې د خپلو تادیاتو د انډول په برخه کې، له ستونزو سره مخامخ وي.[۳۹۷]

OECD د خپلو پرېکړو د تطبیق ځواک نه لري. دا ټولنه د معلوماتو د خپراوي (مجلې او کتابونه او وېبپاڼې) لویه تجربه لري او غړو هېوادونو ته هر کال، د بېلابېلو بریالیتوبونو او پرمختگونو په برخه کې درجې Ranking ورکوي.[۳۹۸]

مقر: د OECD مرکز په پاریس (فرانسه) کې دی.

### ۹-د مالي اقدام ځانگړې ډله (Financial Action Task Force (FATF

دا بین المللی ټولنه په کال ۱۹۸۹ کې د -۷G هېوادونو له خوا په پاریس کې، د پیسو له سپینولو سره د مبارزې د پاره جوړه شوه. په ۲۰۰۱ کې د ترهگرو د مالي سرچینو بندول هم د FATFپه دندو کې وشمارل شول.

له دې وروسته د FATF اهداف نور هم پراخ شول. په کال ۲۰۱۲ کې د ترهگریزو چارو د تبلیغ،انتشار،اشاعت او خپرولو د مالي سرچینو د وچولو دنده هم FATF ته وسپارل شوه او په پای کې مالي جرمونه (د ترهگرو مالي مرسته، د ترهگریزو چارو د تبلیغ، انتشار،اشاعت او خپرونو سره مرسته، د پیسو سپینول او داسې نور) هم د FATF د کارونو په لست کې شامل شول.

---

[۳۹۶] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۴۷-۳۴۶

[۳۹۷] سازمان های بین المللی، داکتر محمد غفوری ، ص ۳۴۷-۳۴۶

[398] en.wikipedia,org/CECD

دا ډله د خپلو سپارښتونو د عملي کولو په برخه کې د غړو هېوادونو پرمختګونه او د ټولې نړۍ له پاره د سپارښتونو د تصویب او څار دنده په غاړه لري. FATF د نړۍ هېوادونه په دریو برخو ویشي:

لومړی هغه هېوادونه چې د FATF سپارښتنې یې سل په سلو کې په پام کې نیولي دي،چې د نړۍ ډېر پرمختللي او هوسا هېوادونو په لړ کې راځي،

دویم هغه هېوادونه چې د FATF د سپارښتنو په عملی کولو بوخت او پرمختګونه یې ښکاره دي.

دریمه ډله هېوادونه هغه دي چې له FATF سره مرسته نه کوي او د پیسو د سپینولو او د ترهګرو د مالي تمویل له سرچینو څخه شمېرل کېږي. دا هېوادونه په خپلو کې دوه ډلې دي:

لومړي هغه هېوادونه چې متقابله اقدام ورسره نه کېږي،

دویم هغه هېوادونه چې په تور لېست کې دي او هم یې په ضد متقابله اقدام کېدای شي،

اوس د نړۍ له ټولو هېوادونو څخه ۱۸۸ د FATF دوه کنوانسیونونه منلي او عملي کړي؛ خو ایران او شمالي کوریا د دې سندونو د منلو په توسن د FATF په تور لیست کې راغلي دي.[۳۹۹]

FATF د پیسو د سپینولو له پاره یو ۴۰ ماده یي سند لري. ښکاره خبره ده چې د FATF غړي هېوادونه بېلابېل قوانین او مالي سیستمونه لري او ډېر معیارونه په ټولو یو شان نه شي تطبیق کېدای، له همدله امله د FATF پاسنی سند داسې برابر شوی چې د ټولو غړو له پاره اجرایي وی او هم د غړیو هېوادونو د پولي راکړې ورکړې قانوني بهیر ته خنډ پېښ نه کړي.

FATF هر وخت د هغه هېوادونو لستونه خپروی چې مالي مقررات یې کمزوري وي او پیسې سپینوي او له خپلو غړو او نورو هېوادونو څخه غواړي چې په خپلو اقتصادي فعالیتونو او دوه اړخیزو اړیکو کې د پیسو دغیرقانونی سپیناوی او ترهګرو ډلو مسایل په پام کې ونیسي.

FATF د کال ۲۰۱۵ په لست کې ایران او شمالي کوریا خطرناک هېوادونه وبلل . ایران ژمنه کړی وه چې په کال ۲۰۱٦ کې به د FATF سپارښتنې په پام کې ونیسي. له همدې امله متقابل اقدام یو کال وځنډول شو. ځینو هېوادونو د FATF د مشرتابه په دې پرېکړه نیوکې هم وکړې.

که څه هم چی د نړیوالو حقوقو له مخې د FATF پریکړه د کوم رسمي بندیز په معنی نه ده؛ خو داسې هېوادونه خپل ځانونه گوښې (منزوي) بولي او مالي ستونزې گالي.

کله چې د یو هېواد نوم د FATF په خطرناکو هېوادونو کې ولیکل شي او یا (نه همکار) وبلل شي، د نړۍ مالي ټولنې او بانکونه د داسې هېواد له شرکتونو او بانکونو سره احتیاط کوي او ان دا چې ورسره اړیکې نه نیسي او یا یی بانکونه تحریم کړي.

جوړښت: د FATF په اوسنی قضایي مشرتابه کی ۳۷هیوادونه ( او دوه سیمه ییزه ټولنې) حضور لری.

[399] https://www.fatf-gafi.org/

الف- قضايي غړي: ارجنتاين، استراليا، استريا، بلجيم، برازيل، کانادا، چين، ډنمارک، فنلند، فرانسه، جرمنی، يونان، هانګ کانګ، آيسلند، هند، ايرلند جمهوريت، اسرايل، ايتاليا، جاپان، جنوبي کوريا، هالند، لوکزامبروګ، ماليزيا، مکسيکو، هالند، نيوزيلند، ناروې، پرتګال، روسيه، سنګاپور، جنوبي افريقا، اسپانيا، سويدن، سويتزرلند، ترکيه، برتانيا او امريکا متحده ايالات.

سيمه ييزه ټولنې: د اروپا کمېسون او GCC هېوادونه.

دا ټولنه ګڼ شمير اشوسيت ملګری او د OECD، OSCE ، UNCTAD، WB، UNODC، IDA، IAIS، ECB او EBRD په شان تر ۲۵ ډير څارونکی لری.

غړيتوب: FATF ټول ۱۸۸ غړي هيوادونه لری . اندونيزيا، مصر، ګرينادا، ګواتيمالا، هنګری، ميانمار، نايجير او اوکراين هغه هيوادونه دی چی په FATF کی غړيتوب نه لری؛ خو اندونيزيا د څارونکی دريځ لری.[٤٠٠]

**۱۰- جی اته ډله -G8**

دا بنسټ په کال ۱۹۷۳ کې، د امريکا متحده ايالاتو، برتانيا، فرانسې او لوېديځې جرمني له خوا جوړ شو. هغه وخت دا ډله G4 يا د کتابتون ډله يادیده؛ ځکه بنسټ اېښودونکې غونډه يې د سپينې ماڼۍ په کتابتون کې جوړه شوې وه. اقتصادي ستونزو، لوړې وزګارتيا او د تېلو د بازار ګډوډيو، د دې څلورو هېوادونو د اقتصاد وزيران، دې ته اړ ايستل چې په ستونزو باندې د برلاسي له پاره، سره جرګه شي. دوی هڅه کوله چې د اقتصادي حل او خپل ځواک او دريځ د پخوا په څېر پياوړی وساتي.

په کال ۱۹۷۵ کې د جاپان او ايتاليا په راتګ سره دا ډلهG ٦ شوه. په کال ۱۹۷٦ کې کانادا، د امريکا په هڅو د سترو صنعتي هېوادونو له دې ټولنې سره يوځای او نوم يېG ۷ شو.

د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته، په کال ۱۹۹۸ کې روسيه هم لهG ۷ سره يوځای او په دې توګه دا ډلهG ۸ اعلان شوه. په اولو کلونو کې، روسيې د G ۸ هېوادونو د ماليې وزيرانو په غونډو کې د ګډون حق نه درلود؛ ځکه د روسيې اقتصاد همغه برید ته نه و رسېدلی چې د نورو غړو په شان، په اقتصادي مسايلو کې برابر دريځ او حق ولري.

چين له کال ۲۰۰۵ څخه وروسته، دG ۸ د څارونکي غړي په توګه ومنل شو.[٤٠١]

دا ټولنه په لومړي سر کې، د غړو هېوادونو د اقتصادي سياستونو د همغږۍ او ارزونې له پاره جوړه شوې وه؛ خو ژر يې فعاليتونه پراخه شول او د اقتصادي مسايلو تر څنګيې، سياسي او امنيتي موضوعات هم د کار په اجنډا کې شامل کړل.

G۸ ډله هر وخت د مهمو نړيوالو مسايلو په هکله، خپل دريځ روښانه کوي لکه له پرمختللو او پرمختيايي هېوادونو سره د اړيکوڅرنګوالي، نړيوال امنيت، اتومي وسلې، د اقليم بدلون، له افريقا او د نړۍ د نورو بېوزله هېوادونو

---

400 fatf.gafi.org

٤٠١ نړيوال سازمانونه، محمد نطيم سمون، ص ۲۴۱

سره مرستې او د کورنیو ناورینونو په هکله خپل دریځ څرګندوي، لکه وزګارتیا، په منځني ختیځ کې سوله، نړیواله ترهګرۍ او داسې نور.

۸G اجراییوي او تقنیني ارګان نه دی؛ خو غړي هېوادونه یې د خپل اقتصادي او نظامي ځواک په توسن په نړیوالو مسایلو اغېز لري.

۸G یا د نړۍ د ۷۰% اقتصاد خاوندان، دا وس او ځواک لري چې د نړۍ ډېرې نورې اقتصادي ټولنې او بنسټونه، لکه نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او ناټو دې ته اړ باسي، چې په نړیوال مسایلو او بدلونونو کې دG ۸ ګټې په پام کې ونیسي.

دG ۸ یا د نړۍ د پرمختللو صنعتي هېوادونو مشران، هر کال په یو غړي هېواد کې سره ګوري. له دې ناستې وروسته کوربه هېواد، تر بلې غونډې پورې دG ۸ مشرتوب هم په غاړه اخلي.

د هغه هېواد مشر چې هېوادیې، د اروپایي ټولنې دوره یې مشر وي او د اروپایي کمېسیون مشر دواړه، دG ۸ غونډو په اقتصادي مباحثو کې برخه اخستلای شي.[402]

**۱۱ – ډی اته ډله (D8) D8 Group**

D8 د ترکیې د لومړي وزیر او د رفاه اسلامپاله ګوند مشر، نجم الدین اربکان، په وړاندیز په کال ۱۹۹۷ کې د ترکیې، ایران، پاکستان، بنګله دیش، اندونیزیا، مالیزیا، نایجریا او مصر تر منځ، د اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا او دG ۸ هېوادونو سره د خبرو په نیت جوړ شو.

اهداف: په نړیوال اقتصاد کې د پرمختیایي هېوادونو د دریځ پیاوړي کول، په سوداګریزو اړیکو کې د نویو فرصتونو برابرول، په نړیوالو پرېکړو کې د مشارکت پراختیا، د غړو هېوادونو د ولسونو د ژوندانه ښه کول او اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا.

D8 دې اهدافو ته د رسېدو له پاره لاندې اصول په پام کې نیسي: د شخړې په ځای سوله، د مخامخ کېدو په ځای خبرې، د استعمار په ځای همکاري، د دوه ګوني چلند په ځای عدالت، د تبعیض په ځای برابري او د ظلم په ځای ولسواکي.

جوړښت:

سرمشریزه: د غړو هېوادونو د ولسمشرانو یا لومړي وزیرانو غونډه چې په هرو دوو کلونو کېیوځل جوړېږي.

د D8 لومړنۍ سرمشریزه په کال ۱۹۹۷ کې، په استانبول کې وشوه چې د ټولنې جوړښت یې اعلان کړ او دا کاري ډلې یې له ځانګړو دندو سره وټاکلې:

- د اطلاعاتو او اړیکو ډله (ایران)،
- د صنعتي چارو او چاپېریال ساتنې ډله (ترکیه)،

[402] Google.com

- د سوداګریزو چارو کاري ډله (مصر) چې په لاندې برخو کې کار کوي: د بازار موندنې او د نړیوالې سوداګري شرکت جوړول، د سوداګریزو معلوماتو د مرکز جوړول، د بیړۍ چلونې په برخه کې همکاري، بانکي همکاري، ګمرکي همکاري او د غړو هېوادونو سوداګرو ته د ویزې د ورکړې اسانتیا.
- مالي چارې، بانکونه او د خصوصي کولو ډله (مالیزیا)،
- د بېوزلتیا د کمولو او انساني سرچینو ډله (اندونیزیا)،
- د کرنیزو چارو ډله (پاکستان)،
- د کلیوالي سیمو د پراختیا ډله (بنګله دیش)،
- د انرژۍ ډله (نایجریا).

دویمه غونډه په ډاکه (بنګله دیش) کې وشوه چې د نړیوالو بدلونو د څېړلو تر څنګ، د نړیوالو مالي بدلونونو او د جنوبي آسیا هېوادونو د اقتصادي بحران په اړه بحثونه پکې وشول.

پنځمه غونډه په کال ۲۰۰۷ کې په اندونیزیا کې وشوه چې د غړو هېوادونو تر منځ، د ترجیحي سوداګرۍ او ګمرکي همکاریو دوه تړونونه پکې لاسلیک شول.

د وزیرانو شورۍ: دا شورۍ د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانوڅخه جوړه ده چې د مهمو سیاسي مسایلو په اړه خبرې، سپارښتنې او پرېکړې کوي.

دارالانشا: دارالانشا د D8یو وړوکی دفتر دی چې په استانبول کې موقعیت لري، د ټولنې ورځنی چارې ته مخ ته وړي او د سرمشریزو او د وزیرانو شورۍ د غونډو د پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري.[۴۰۳]

## ۱۱ – د خپلواکه مشترک المنافع هېوادونو ګډ امنیتی تړون

**The Commonwealth of Independent States( CIS)**

روسیې، اوکراین او بیلاروس په کال ۱۹۹۱ کې، په برېسټ (بیلاروس) کې د خپلواکه مشترک المنافع هېوادونو، د ټولنې هوکړه لاسلیک او اعلان وکړ چې دا یوه نوېټولنه ده چې، د پخواني شوروي اتحاد د جمهوریتونو په ګډون، نور هېوادونه هم کولای شي غړیتوب ترلاسه کړي.

د کال ۱۹۹۱ کال د دسمبر په ۲۱ د نهو هېوادونو (روسیه، اوکراین، بیلاروس، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغېزستان، ارمینیا او ترکمنستان) مشرانو په الماتا (قزاقستان) کې، د ټولنې کړنلاره او تګلاره په دو – فاکټو ډول تصویب او لاسلیک کړل.

دا کړنلاره وایي چې ټول غړي هېوادونه خپلواک او د ملي واکمنۍ لرونکي دي.

استونیا، لاتویا او لېتوانیا لهCISڅخه لیرې پاته شول؛ خو اذربایجان او جورجیا په کال ۱۹۹۳ او مولدووا په ۱۹۹۴ کې له دې ټولنې سره یوځای شول.

---

[۴۰۳] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۴۳-۲۴۲

جوړښت: د CIS د کال ۱۹۹۲ د پرېکړې له مخې، دا ټولنه لوی اداري جوړښت لري: سرمشريزه، د بهرنيو چارو وزيرانو شورى، د دفاع وزيرانو شورى، د سرحدي ځواکونو د قوماندانانو شورى، اقتصادي شورى، د دايمي استازو شورى، اجراييه کمېټه او د پوځي همکاريو د همغږۍ مرکز يا د وسلوالو ځواکونو لويه قوماندانى.

د پارلمان غونډه چې د يوه مشورتي بنسټ په توګه، په کال ۱۹۹۲ کې د غړو هېوادونو د پارلمانونو له استازو جوړه شوه، په کال کې دوه ځلې په سنت پترزبورګ (روسيه) کې جوړېږي او په حقوقي، اقتصادي او مالي، سياسي،ټولنيزو، بشري حقونو، چاپېريال ساتنې او طبيعي زېرمو، امنيتي، دفاعي، فرهنګي، علمي او اطلاعاتي برخو کې دايمي کمېسيونونه لري.

دارالانشا: دCIS دارالانشا په بيلاروس کې موقعيت لري او داسېيو اجراييه منشي يې په سر کې دی چې د ټولو اداري چارو مسوولیت لري.

په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو کې، د جورجيا، اوکراين او قرغېزستان رنګه انقلابونو، لوېديځ پلوه مشران واک ته ورسول، چې د خپلواکه مشترک المنافعو هېوادونو ګډ امنيتی تړون يی له جدي ستونزو سره مخامخ کړ.

جورجيا په ۲۰۰٦ کې دCIS د دفاع وزيرانو د شورى څخه ووته او ترکمنستان په کال ۲۰۰۵ کې، خپل غړيتوب دويمې کچې (Associate Member) ته ټيټ کړ .[٤٠٤]

## ۱۲ -- د بښنې نړيواله ټولنه (AI) Amnesty International

AI په کال ۱۹٦۱ کې د برتانوي قانونپوه پيتر بيننسن له له خوا جوړه شوې ده. دا قانونپوه ليکي چې د لندن په مترو کې يې د سفر په وخت کې د هغه دوه پرتګالي زده کوونکو په اړه ولوستل چې د شرابو په تور په اوو کاله بند محکوم شوي وو. دې خبر قانونپوه بيننسن وهڅاوه چې غبرګون وښيي. ده ژر د (هېر شوي بنديان) تر نامه لاندې يوه لېکنه خپره کړه. دا ليکنه د هغه بنديانو په هکله وه چې د مذهبي توپېرونو يا حکومت ضد نظرياتو او افکارو په توسن، جزا ويني. د بيننسن کمپاين اثر د خلکو له مثبت غبرکون سره مخامخ شو او ډېرو کسانو او ورځپاڼو ته داسې ليکنې واستولې چې د نورو نارينه وو او ښځمنو بنديانو په هکله وې.

بيننسن په همدې کال کې د پلټنې په نوم کتاب خپور کړ چې د هغه نهو بنديانو په هکله ليکل شوی و چې ده د وجدان زندانيان بلل.

د ۱۹٦۱ او ۱۹٦۲ د هڅو او هلو ځلو په پايله کې د بښنې نړيواله ټولنه يا AI جوړه شوه چې مرکز يې په لندن (برتانيا) کې دی خو اوس د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې استازي او ملاتړي لري[405].

اهداف: AI د بشري حقونو د دفاع او په ځانګړي توګه د بنديانو د حقونو د ساتنې په برخه کې کار کوي، د بشري حقونو په اړه د خلکو پوهاوی لوړوي.

---

[٤٠٤] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۲۷

[405] Diplomatist.blogfa.com/posl

تعلیمي فعالیتونه کوي او د بشري حقونو په کنوانسیون او نورو نړیوالو قوانینو کې د بشري حقونو د خوندیتابه د معیارونو د عاملو په برخه کې هلې ځلې کوي. د AI لوی اهداف دا دي:

- د بشري حقونو ساتلو ته هڅوي،
- حکومتونه هڅوي چې د بشري حقونو ټول نړیوال معیارونه ومني او عملي کړي،
- حکومتونه، سیاسي ګوندونه،ډلې او کړۍ؛ سوداګریزې ټولنې او عام خلک، د بشري حقونو ساتنې او درناوي ته بولي،
- AI د بشر د هر ډول ځورونې او ربړونې خلاف دی او د بشر د فزیکي او روحي خوندیتابه، د عقل، فکر، وجدان او بیان ازادی او له تبعیض او توپیري چلند سره مبارزې ته رابولي. که څه هم چې AI په اصل کې د بندیانو د خلاصون او د هغوي د حقونو د دفاع له پاره، د یو شمېر داسې کسانو له خوا جوړ شو چې په خپله خوښه دې کار ته چمتو شوي وو؛ خو اوس په نورو برخو کې هم کار کوي. د بېوزلتیا او تاوتریخوالي په ضد، د ښځو د حقونو د درناوي او د وسلو د قاچاق د مخنیوي او اعدام ضد کمپاینونه چلوي او د کډوالو د حقونو د ساتنې او د سیلانیانو خوندیتابه په برخو کې هم هلې ځلې کوي.

جوړښت: ملي بورد د AI مرکزي اداره کوونکی ارګان دی چې د غړو هېوادونو د استازو په رایو ټاکل کېږي. بورد بیا خپل مشر له خپله منځه ټاکي. AI د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې کمکۍ څانګې لري چې هر یوڅو مسلکي مامورین لري؛ خو ډېر کارونه هغه لس ملیون فعالین مخ ته وړي چې په خپله خوښه له دې ټولنې سره یو ځای شوي دي.

AI د لندن په مرکزي دفتر کې یوه کمکۍ دارالانشا هم لري چې مشر د تر نظر لاندې کار کوي.

د AI مشر د همدې بورډ له خوا ټاکل کېږي چې د ټولو څانګو د مشرانو، مدیرانو او کارکوونکو د مدیریت او تنظیم کارونه په مخ وړي.

مالي سرچینې: AI له سیاسي، مالي، مذهبي، ایدیالوژیکي او اقتصادي اړخه یوه خپلواکه ټولنه ده چې هېڅ حکومتي ملاتړ نه لري او مشروط مرستې هم نه مني. د AI د بنسټیزه اسنادو له مخې، د دې ټولنې تګلارې، پروګرامونه او هڅې مدیریت په کومه سیاسي یا سوداګریزه کړۍ پورې نه دي تړلي او د AI ډېره بودجه د غړو هېوادونو د خیریه بنسټونو او شتمنو خلکو له خوا برابرېږي AI .هغه حکومتي مرسته هم مني چې د دې ټولنې له اصولو او تګلارو سره سمه وي او هېڅ شرط ونه لري.

**AI او افغانستان:** افغانستان له پخوا څخه د AI غړیتوب ترلاسه کړی دی. سره له دې چې دا ټولنه په نړۍ کې بریالی په مخ روانه ده او ان په اعدام محکومو کسانو له پاره یې ښښنه ترلاسه کړې؛ خو په افغانستان کې ډېره بریالې نه ښکاري. AI په وار – وار د افغانستان په کورنیو جګړو کې د ښکېلو غاړو د محاکمې او د انتقالي

عدالت د تطبیق غړونه اوچت کړي او په کال ۲۰۰۹ کې یې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو له لېسته، د یو شمېر کسانو د نومونو لیرې کولو غوښتنه هم کړې ده[٤٠٦].

## ۱۳–د برېښنایي تکنالوژۍ نړیوال کمېسیون

**International Elector-Technical Commission (IEC)**

IEC په کال ۱۹۰٦ کې د پوهانو، متخصصینو او د بېلابېلو هېوادونو د الکتروتکنیکي ټولنو په زیار، جوړ شو چې د برېښنایي تخنیک په برخه کې، د نړیوالو ستندردونو د تدوین، خپرولو او تطبیق دنده په غاړه لري.

د IEC مرکز تر کال ۱۹۴۸ پورې په لندن کې و؛ خو وروسته ژنیو (سویتزرلند) ته ولېږدول شو. د بېلابېلو هېوادونو په ملي ستندردونو کې د همغږۍ په پام کې نیولو سره، د IEC په شان د نړیوالو ستندردونو منل او د سوداګرۍ د اسانتیا له پاره، د برېښنا او الکترونیکي محصولاتو تصدیق اړین دي. په اوسنیو شرایطو کې هېوادونه د نړیوالو ستندردونو د تدوین په کار کې فعال ګډون کوونکي دي. له همدې امله د بېلابېلو هېوادونو ملي ستندردونه، له IEC ستندردونو سره برابر شوي دي.

اوس په IEC کې د ۸۱ هېوادونو ملي کمېټې او ۸۱ هېوادونه Affiliate غړیتوب لري، په دې توګه د IEC د ټولو غړو شمېر ۱٦۲ ته رسي .د خپلو فعالیتونو د پرمختیا او د نړیوالو ستندردونو د جوړولو له پاره ۱۷۴ فني او فرعي کمېټې لري او تر اوسه یېڅه باندې ۵۵۲۰ نړیوال ستندردونه، ۲۰۷ فني ځانګړتیاوې او ۳۵۱ راپورونه برابر کړي دي[٤٠٧].

## ۱۴ -- لابراتوارونو ته د اعتبار ورکولو نړیواله کمېټه

**International Laboratory Accreditation Cooperation(ILAC)**

لابراتوارونو ته د اعتبار ورکولو نړیواله ټولنه، لابراتوارونو او د صلاحیت د تایید یا اعتبار ورکولو او بیا پلټنې د اداري جوړښتونو له منځ څخه، د سوداګري خنډونو د لیرې کولو له پاره، په کال ۱۹۷۷ کې جوړه شوې ده.

د اعتبار ورکول او د صلاحیت تایید خلکو ته دا امکان ورکوي چې د لابراتوار د ټاکنې په وخت کې، د لابراتوار ناپېلتوب او پیاوړتیا په پام کې ونیسي او سیمه پرېکړه وکړي. اعتبار ورکول او د صلاحیت تایید له سوداګریزو توکو سره مرسته کوي چې ژر بازار ومومي.

په نړۍ کې د اعتبار ورکولو او د لابراتوارونو د صلاحیت تاییدونکو څه باندې ۷۰ اقتصادي او سیمه ییزه بنسټونو، د ILAC ټرون لاسلیک کړي چې د محصولاتو او د سوداګریزو خدماتو واردات او صادرات چټک کاندي. د دې

---

[406] Diplomatist.blogfa.com/posl
[407] www.iec.ch

تړون هدف د نړیوالې سوداګرۍ له پاره، نړیوال چوکاټ برابرول او د دې سوداګرۍ د ملاتړ له پاره، د فني خنډونو لېرې کول دي.

اهداف: ILAC په لاندې برخو کې فعالیت لري:

- د اعتبار ورکونې څرنګوالی او د صلاحیت په تایید او پلټنو کې همغږي رامنځ ته کول،
- د صنعتکارانو، دولت، مصرف کوونکو او د مقرراتو د جوړونکو تر منځ، د اعتبار ورکونې او د صلاحیت د تایید دودول،
- د اعتبار ورکونې او د صلاحیت د تایید د سیستم ملاتړ،
- د ILAC تړون له مخې، د لابراتواري امکاناتو او پلټنې په رسمیت پېژندل.
- لابراتوارونو ته د اعتبار ورکونې د نړیوالې ټولنې ګډې هڅې:
- د لابراتوارونو د پراختیا – لوړتیا او د تجاربو د اعتبار پېژندنه،

ILAC -د لابراتوارونو د تجاربو د اعتبار د پراختیا له پاره، د اعتبار ورکونې سیمه ییزه ټولنې جوړې کړي دي، لکه په اروپا کې EA او په آسیا – پاسفیک کېAPLAC ،

د اعتبار ورکونې څه باندې ۴۰ ټولنو، داسې تړونونه لاسلیک کړي چې یو د بل اعتبار مني او د درجاتو د ټاکلو ارقام یېیو شان دي،

- د ILAC ترتیبات د کال ۲۰۰۱ د جنوري په ۳۱ نوي شول،
- غړي هېوادونه متقابله هوکړې په رسمیت پېژني چې دا د ازمېښتونو د ارقامو او معلوماتو پیاوړتیا، د څو هېوادونو په منځ کې د منلو وړ ټاکونکي وندې لري،
- هر کډونوال چې د KAC غړي وي، د بل لابراتوار اعتبار په رسمیت پېژني؛ ځکه چې دوی په خپله د یو بل د لابراتوار اعتبار ته تعهد او کار کړی،
- له ۲۲۰۰۰ څخه ډېرو لابراتوارونو، خپل اعتبارلیکونه د ILAC او MRA د غړیتوب په مرسته لاس ته راوړي[408].
-

## ۱۵ -- د اعتبار ورکولو نړیواله ټولنه

**International Accreditation Forum (IAF)**

نړیوال صلاحیتونه د اعتبار ورکونې د نړیوالې ټولنی یا IAF له خوا ورکول کېږي. د بېلګې په توګه TC ۱۷٦ ( فني کمېټه د کیفیت په هکله)، ۲۰۷1TC ( فني کمېټه د چاپېریال) او/ITC ۳۴ (فني کمېټه د خوړو) په هکله څېړنې کوي او اړونده ستندردونه جوړوي. دا نړیواله مرجع د تصدیق پاڼو (CB) د ورکولو له لارې، د ټولنو او د تصدیق پاڼو د تطبیق څارنه کوي او په ضمن کې د صلاحیت د تایید (AB) ټولنو له لارې د CB کړنې څاري.

---

408 http:/ilac.org

له خدماتو او محصولاتو څخه د استفادې په وخت کې، او په بېلابېلو برخو کې ډاډمن کېدل، د انسانانو ذاتي هيلې دي. د محصولاتو او خدمتونو د ودې په بېلابېلو پړاوونو کې مختلفې، برخې منځ ته راغلي او په فعاليت يې پېل کړی. په بېلابېلو څانګو کې صنعتی پراختيا او د تصديق پاڼو او يا تخصصي تاييدونو، د مشتريانو ډاډ ډېر کړی دی[٤٠٩].

## ١٦ -- د سره صليب نړيواله کمېټه

**International Red Cross Committee (ICRC):**

ICRC يوه نادولتي ټولنه ده چې په کال ١٨٦٤ کې، د ژنيو کنوانسيون له مخې د بشري مرستو، او د جګړو د قربانيانو، د لاسنيوی له پاره جوړه شوې ده. سويتزرلندی سوداګر هازي دونانت، چې په جګړو کې، د زرګونو فرانسوي، استريايي او ايتالوي سرتېرو مرګ ژوبلې ډېر ځورولی و، د دې فکر مبتکر بلل کېږي.

نوموړي په خپل کتاب (د سالفرينو خاطرات) کې، نړيوال دې ته وهڅول چې د جګړې ښکېلې غاړې دې، د قربانيانو د ساتنې، درملنې او پاملرنې په برخه کې ډېره هڅه وکړي. هماغه و چې د سويتزرلند حکومت په کال ١٨٦٤ کې، د ژنيو لومړي کنوانسيون جوړ کړ.

د ICRC ټولې چارې د سويتزرلند د قوانينو له مخې تنظيمېږي؛ خو ټولنه په خپلو پرېکړو او کړنو کې خپلواکه ده.

ICRC د نړيوال سره صليب او سرو مياشتو د خوځښت يوه برخه ده، چې له نړيوال فدراسيون او شاوخوا ١٩٠ نورو ټولنو سره په ګډه کار کوي.دا په نړۍ کې د ډېرو پېژندل شوو او پخوانيو ټولنوڅخه ده چې په ١٩١٧، ١٩٤٤ او ١٩٦٣ کلونو کې د سولې نړيوالې جايزې هم ګټلې دي[410].

اهداف : ICRC په هغه هېوادونو کې چې جګړې په کې روانې دي، کار کوي. د ښکېلو غاړو د ټپيانو درملنه کوي، د هغوي د ژوند ژغورلو هڅې کوي، په مستقيم او نامستقيم ډول د تاوتريخوالي سيمو ته بشري مرستې رسوي او د بشري حقونو د نړيوالو اساساتو او اصولو د عملي کولو له پاره زيار باسي.

د ژنيو کنوانسيون له مخې، د دې کمېټې ځينې اهداف دا دي:

- د مخالفو غاړو د شکايتونو ارزول،
- د جګړه کې د ټپيانو له پاره د روغتيايي پرسونل، وسايلو او درملو برابرول،
- د اسيرانو د درملنې څار او د اسيرانو د برخليک په هکله له چارواکو سره خبرې،
- په جګړو کې د ورکو کسانو د لټون مرسته،

[409] En.wikipedia.org
[410] www.icrc.org

- د عامو خلکو د ساتنې او پاملرنې د لارو چارو برابرول او د جګړې د ښکېلو غاړو تر منځ، د یو بې طرفه منځګړي په توګه کار،

ICRC خپلو اهدافو ته د رسېدو له پاره ۷ اصله په پام کې نیسي:

ناپېلیتوب، منځګړیتوب، خپلواکي، خپله خوښه،یووالی او نړیوالتوب.

مالي سرچینې:دا ټولنه دوه ډوله بودجه لري، لومړنی د مرکزي دفتر له پاره او دویمه د پروګرامونو او ماموریتونو بودجه، چې د ژنیو کنوانسیون د غړو دولتونو، اروپایي ټولنې، سیمه ییزو ټولنو، د سرې میاشتې ټولنو، خصوصي سکتور او خلکو له خوا په خپله خوښه برابرېږي. په دې مرستو کې معمولاً د سویتزرلند، امریکا متحده ایالاتو، اروپایي ټولنې، استرالیا، کانادا، جاپان او نوي زیلند ونډه د پام وړ ده.[٤١١]

جوړښت : ICRC یوه اسامبله، د اسمبلې شوری او ریاست لري. دواړه اسمبلې ګانې شاوخوا ۲۵۰۰ غړي لري چې ډېر د سویتزرلند دي.

اسمبله: اسمبله چې د ICRC په اداري جوړښت کې لومړی دریځ لري، په منظم ډول د ICRC د اهدافو د ټاکلو، لارښوونو، د تګلارو د جوړولو او د کمېټې د مالي مسایلو په هکله غونډې او پرېکړې کوي .د اسمبلې لږ تر لږه ۲۵ غړي د سویتزرلند دي چې د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي. فرانسوي، انګلیسي او جرمني د کمېټې رسمي ژبې دي.

د اسامبلې شوری :د دې اسامبلې شوری ۵ غړي د اسامبلې له خوا ټاکل کېږي چېیوبې مشر، ۲ مرستیالان او ۲ غړي دي او ۴ کاله کار کوي. شوری په کال کې لږ تر لږه لس غونډې لري او په ځینو وختونو کې، د ځانګړو مسایلو په هکله د اسامبلې په استازیتوب هم پرېکړې کولای شي. د اسامبلې د غونډو جوړول او د اسامبلې او ریاست تر منځ د اړیکو جوړول او ټینګول، د دې شوری له مهمو دندو څخه دي[412].

ریاست :د ICRC د ریاست ۵ غړي د اسامبلې له لوري، د څلورو کلونو له پاره ټاکل کېږي. دا یوه اجراییه ډله ده چې د اسامبلې په تګلارو جوړونکو غونډو کې برخه اخلي او ورځنې چارې مخ ته وړي.

ریاست پنځه څانګې لري: بشري منابع، مالي او لوژستیک، عامه اړیکې او معلومات او د ټولنې د فعالیتونو د همغږي او نړیوال قانون.

دای تولنی په کال ۲۰۲۰ کې څه باندې ۱۴۰۰ متخصصین درلودل چې له ۱۱۰۰۰ سیمه ییزو کارکوونکو سره یی په ګډه کار کاوه. د ICRC د مامورینو دفتر په ژنیو کې دی.

ICRC په افغانستان کې: ICRC د روانې خونړۍ جګړې له پېله تر اوسه په افغانستان کی، د جګړې له ښکېلو غاړو سره کار کوي چې د دواړو خواوو اسیران او بندیان دې له خپلو کورنیو سره ولیدای شي، کورنیو ته د بندیانو لیکونه رسوي، معیوبینو ته مصنوعي پښې او لاس جوړوي او داسې نور.

---

[٤١١] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۶-۲۱۳

[412] En.wikipedia.org

د افغانستان د ICRC مرکزي دفتر په کابل کې دی. ICRC په همدې دفتر کې د بګرام او نورو امریکایي زندانیانو له افغان بندیانو سره د هغوي د کورنیو د ویدیویي خبرو اترو اسانتیا هم برابره کړې وه چې ډېر نیک قدم دی.[٤١٣]

## ۱۷ -- د ژورنالستانو نړیوال فدراسیون

**International Federation of Journalists (IFJ):**

IFJ په کال ۱۹۲٦ په فرانسه کې جوړ شو. دا جوړیدن په ۱۹۴٦ او ۱۹۵۲ کلونو کې بیا – بیا نوي شوي دي. اوس (کال ۲۰۲۰) IFJ د نړۍ په څه باندې سلو هېوادونو کې نژدې ٦۰۰۰۰۰ استازي لري.

اهداف:

- د بیان ازادۍ او د رسنیو او خبریالانو د حقونو ننګه،
- IFJ له هېڅ سیاسي ملحوظ پرته د بشري حقونو او ولسواکۍ ملاتړ کوي،
- IFJ د تبعیض او توکمیزو چلندونو او له رسنیو څخه د تاوتریخوالي د تبلیغاتي وسیلې په توګه، د کار اخیستو ډېر مخالف دي،
- IFJ د هر ډول سیاسي او کلتوري ازادئ غوښتونکی دی او د بشري حقونو او سوداګریزو ټولنو ملاتړ کوي،
- IFJ د ملګرو ملتونو د کړنلارې او نړیوالو قوانینو له مخې، د خبریالانو استازیتوب کوي،
- IFJ د ژورنالیستانو د ټولنو ملاتړ کوي او د همدې له پاره یې د نړیوال خوندیتوب په نامه، د مرستې صندوق جوړ کړی دی. .[٤١٤]

جوړښت: د IFJ یو شمېر څانګې دا دي:

د وژل شویو ژورنالستانو د څار نړیواله ډله:دا ډله له کال ۱۹۹۰ څخه راپدیخوا، د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د وژل شویو خبریالانو په اړه معلومات او حقایقټ ولوي او خپروي او د ازادو خبریالانو او سیمه ییزو رسنیو د خوندیتوب له پاره کمپاین کوي.

د ژورنالستانو د خوندیتوب صندوق:د ا صندوق چې د کال ۱۹۹۲ په جنوری کې جوړ شوی، په خپل ډول کې له ژورنالستانو سره د مرستې لومړنی صندوق دی، چې د ژورنالستانو له خوا جوړ شوي او له خبریالانو سره مرسته کوي.

---

[٤١٣] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۱۶-۲۱۳

[414] www.ifj.org

د خبریالانو د خوندیتوب نړیوال انستیتوت :دا انستیتوت د رسنیو د ملاتړ او دفاع د څه باندې ۱۰۰ ټولنو په زیار، په کال ۲۰۰۳ کې جوړ شو چې هدف یې د خبریالانو خوندیتوب، د خبریالانو څخه دفاع او له هغوی سره د بد چلند او تاوتریخوالي پر ضد مبارزه ده. نوموړی انستیتوت د خبریالانو د خوندیتوب مسلکي معیارونه ته هم وده ورکوي[٤١٥].

مقر: د IFJ مرکزي دفتر په بروکسل (بلجیم) کې دي. رسمي ژبه یې انګلیسي، فرانسوي او اسپانوي دي او لګښتونه یې نړیواله ټولنه ورکوي. فدراسیون د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې دفترونه او استازي لري او تل د رسنیو او خبریالانو په ننګه غږ اوچتوي.[٤١٦]

## ۱۸ -- د بشري حقونو د څار ډله(Human Rights Watch (HRW

د بشري حقونو د څار ډلې په کال ۱۹۷۸ کې، د (هلسنګي څارډلې) په نامه، فعالیت پېل کړی دی. په اصل کې دا یوه نړیواله او غیرانتفاعي ټولنه ده چې د بشري حقونو څخه د دفاع کوي او په دې اړه څېړنې کوي.

د اروپا د امنیت او همکارۍ وروستی کنفرانس د کال ۱۹۷۵ د جولای او اګست په میاشتو کې، په هلسنګي (فنلند) کې جوړ شو چې د امریکا د متحدو ایالاتو او ټولو اروپایي هېوادونو په ګډون، ۳۵ پلاوو پکې برخه اخیستې وه. دې ناستو هڅه کوله چې د لویدیځ او کمونیست بلاک تر منځ اړیکې ښې او پراخه کړي او د حکومتونو په اړه د خلکو شکایتونه واوري.

اهداف: HRW له نژدې دېرشو کلونو څخه راپدیخوا، په نړۍ کې د عدالت د راوستو او د بشري حقونو د دفاع له پاره، په ځانګړي توګه په هغه ځایونو کې چې بشري حقونو ته پاملرنه نه کېږي فعالیت لري. له قربانیانو او د بشري حقونو له فعالینو سره د تبعیض په وړاندې اوږه په اوږه درېدل، د سیاسي ازادیو غوښتنه، په جګړو کې د بشري حقونو د خوندیتابه له پاره هلې ځلې او محکمې ته د سرغړونکو پېژندنه، د HRW له غټو اهدافو څخه دی. HRW د بشري حقونو د سرغړونې په برخه کې هم پلټنې کوي او حکومتونه او چارواکو ته ګوتې څنډي چې د بشري حقونو په وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسوي او هغه خلک او نړیوالې ټولنې ستایي چې د بشري حقونو د ملاتړ په برخه کې، زیار باسي او خپلو اهدافو ته د رسېدو له پاره، له رسنیو او د بشري حقونو د ملاتړ له سیمه ییزو ټولنوڅخه کار اخلي او هر کال څه باندې ۱۰۰ رپوټونه خپروي چې په نړیواله کچه د بشري حقونو په حالت څرخي او له حکومتونو، ملګرو ملتونو، افریقایي او اروپایي ټولنو، مالي بنسټونو او هغه ټولنو سره، چې له بشري حقونو د دفاع له پاره کار کوي په اړیکو کې دي.

مالي سرچینې :HRW د یوې نړیوالې ناحکومتي ټولنې په توګه، یوازې له افرادو، شرکتونو او خصوصي ټولنو څخه مرسته اخلي. د نیوګیټر خیریه ټولنه، د پرانیستې ټولنې انستیتوت، د فورد بنسټ او د جورج سورس په شان شتمن خلک د HRW اصلي مرستندویان بلل کېږي.

---

[415] www.ifj.org
[416] .www.ifj.org

جوړښت: HRW شااوخوا ۲۷۵ مسلکي کارکوونکي لري چې د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه غوره شوي او ټول د بشري حقونو فعالان، قانونپوهان، خبریالان او د نورو څانګو متخصصین دي .دا ډله اوس په ۹۰هیوادونو کی فعاله ده.

مقر: د HRW مرکزي دفتر په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې دی؛ خو د نړۍ په نورو ښارونو (برلین، بروکسل، بیروت، شیکاګو، ژنیو، جوهانسبورګ، لندن، لاس انجلس، مسکو، پاریس، سان فرانسیسکو، توکیو، تورنتو او واشنګتن) کې هم دفترونه او څانګې لري. عربي، فرانسوي، هالندي او انګلیسي د HRW رسمي ژبې دي.[٤١٧]

## ۱۸ -- د ستندرد جوړولو نړیواله اداره

**The International Organization for Standardization (ISO)**

ISO د ستندردونو د جوړولو نړیواله اداره ده چې د ملي ستندردونو د ادارو له یوځای کېدو څخه جوړه شوې ده. د دې ادارې د جوړولو په اړتیا په کال ۱۹۴٦ کې، په لندن کې د ۲۵ هېوادونو د مشرانو په غونډه کې مفصلې خبرې وشوې او یو کال وروسته فعاله شوه[418].

اهداف: ISO د یوې نادولتي ټولنې په توګه، له دولتونو سره د نژدې کار کوي او د هغوی په مشوره د هېوادونو ستندردونه سره نژدې او همغږي کوي او داسې صنعتي او سوداګریز ستندردونه ټاکي چې د صنایعو او فنونو د تولیداتو تبادله آسانه کاندی. ISO هڅه کوي چې:

- فني پوهه او تکنالوژیکي ظرفیتونه پراختیا ومومي،
- د مالونو د جوړونکو او مستهلکینو تر منځ،ګډه ژبه منځ ته راشي،
- د تکنالوژۍ د لېږد او د سوداګرۍ په برخو کې آسانتیاوې ډېرې شي،
- د صنایعو فني اړتیاوې مطرح شي.

جوړښت :

شوری: ISO یوه اتلس کسیزه شوری لري چې غړیې هر دری کاله وروسته، د ټولنې د غړو هېوادونو د استازو له خوا ټاکل کېږي. شوری د ISO اصلي تګلارېټ اکي او د غټو سیاستونو په هکله پرېکړې کوي. د ISO د غړو دولتونو شمېر اوس ۱٦۳ ته رسي. د ISO اختصاري نوم په انګلیسي او فرانسوي ژبو کې د دېټ ولنې بشپړ نوم نه شي کېدی. د ISO نوم د یوناني ISOS څخه اخستل شوی چې د برابرۍ مانا ورکوي. اوس ISO د برابرئ او د فرهنګونو د ستندرد کولو له پاره هم کار کوي.

---

[417] google.com/ search
[418] En.wikipedia.org

فعالیتونه: ISO زیار باسي چې نړیواله سوداګري اسانه شي، کیفیت ورځ په ورځ لوړ شي، د مشتریانو ننګه او ملاتړ ترلاسه او د ژوند چاپېریال خوندي وساتل شي او تکنالوژي ورځ په ورځ پراختیا او پرمختیا ومومي.

دی ټولنی په کال ۱۹۷۰ کې پرېکړه وکړه چې د اکتوبر ۱۴ دې، هر کال په ټوله نړۍ کې د ستندرد د ورځې په نامه ولمانځل شي چې نړیوال د ستندردونو ارزښت ته ښه ځیر شي[419].

## ۲۰ -- د اسلامي هېوادونو د مترولوژی او ستندردونو انستیتوت

**The Standards and Metrology Institute for Islamic Country (SIMIC)**

د اسلامي هېوادونو د مترولوژی انستیتوت، د ستندرد جوړونې د فعالیتونو، د اوزانو او مقیاسونو د لابراتواري آزمایښتونو، د سوداګرۍ له لارې څخه د خنډونو د لیری کولو د همغږی د یو عالي مکانیزم په توګه، د اسلامي هېوادونو په منځ کې د توکو د تبادلې د ډېروالی د ډیروالی له پاره، لومړي ځل د اسلامي هېوادونو د اقتصادي مرستو او همکاری ټولنې، د غړو هېوادونو په لومړنی غونډه کې جوړ شو (۱۹۹۹).

لومړنی کاري ګروپ چې د ستندردونو له متخصصینو څخه جوړ و، په کال ۱۹۸۵ کې غونډې وکړې چې په کال ۱۹۹۸ کې، د غړو هېوادونو د سوداګریزو او اقتصادي همکاریو په څوارلسمه ناسته کې، د اسلامي هېوادونو د مترولوژی د انستیتوت اساسنامه جوړه کړي. دا اساسنامه د کال ۲۰۱۰ په می کې تصویب او د لسو غړیو هېوادونو له خوا لاسلیک شوه. اوس دا ټولنه د اسلامي هېوادونو په کنفرانس OIC پوری اړه لري چې مرکز یې په ترکیه کې دی.

سربېره په پاسنیو اسلامي هېوادونو چې دایمي غړیتوب لري، نور اسلامي هېوادونه د کتونکو په توګه په ناستو کې برخه اخیستی شي. اوس د دې وخت دی چې ټول اسلامي هېوادونه د دېټ ولنې غړیتوب ترلاسه کړی چې د اسلامي هېوادونو تر منځ د اړونده چارو د ښه سمون او د ستندردونو د تدوین له پاره پراخه همغږي را منځ ته شي

## ۲۱ -- د حقوقي مترولوژي نړیواله ټولنه

**International Organization of Legal Metrology (OIML)**

د اندازو نیولو او پېژندلو ته د انسان پاملرنه لرغونی تاریخ لري. په نړۍ کې د پخوانیو ودانیو شتون، د اندازو د نیولو او پېژندلو نښه بلل کېږي. له کابو ۵۰۰۰ کلونو را پدیخوا چې انسان ښاري ژوند پېل کړی، د اندازو د نیولو او پېژندلو اړتیا دېره شوې ده. د وخت ټاکل، د تقویم جوړول، د پراخوالي (مساحت) او واټن (فاصله) پېژندل، د وزن معلومول او داسې نور هغه بېلګې دي چې د انسان له خوا د اندازو د پېژندې او نیولو ثبوت څرګندوي.

[419] www.iso.org

په ۱۹ پېړۍ کې د اندازو د نیولو او پېژندنې علم منځ ته راغی؛ ځکه چې بې له دې نه د وخت غوښتنو ته ځواب نه شوای ورکول کېدای. دې اړتیا د (متر) کنوانسیون بنسټ کېښود. دې کنوانسیون په لومړي سر کې د اوږدوالي (طول)، څومره والي (حجم) او زمان اندازې وټاکلې. په ۲۰ پیړۍ کې صنعتي پرمختګونو، د نورو اندازو ټاکل اړین کړل. له همدې امله په کال ۱۹۲۷ کې د برېښنا او تودوخې واحدونه جوړ شول، په ۱۹۳۷ کې د راډیومتري او فوتومتري اندازې وښودل شوې، د متریک اوزانو او نوري واټنونو اندازې په ۱۹٦۰ کې وټاکل شوې، په ۱۹۸۸ کې د زمان نوي واحدونه د متر د کنوانسیون په پروګرام کې شامل شول.

همدې اړتیا ته په کتو، په کال ۱۹۵۵ کې د حقوقي مترولوژۍ نړیواله ټولنه یا OIML جوړه شوه چې په نړۍ کې د اندازو د نیولو چارې همغږي کړي OIML . اوس ۵۹ دولتي او ۵۵ څارونکي غړي لري.

اهداف:

- د اندازو د پېژندنې د مقرراتو خپرول،
- د تصدیقونو صادرول،
- د زده کړې په پروګرامونو کې د نندارتونونو له جوړولو او پراختیا سره مرسته، د اقتصاد نړیوال کېدو او د بهرنۍ سوداګرۍ پراختیا، د اندازو د نیولو او پېژندنې علم د اقتصادي فعالیتونویو برخه وګرځاوه. عادلانه سوداګرۍ له ټولو هېوادونوڅخه غواړي چې د سوداګرۍ د پراختیا له پاره، د اندازو د نیولو او پېژندنې له یو شان سیستم څخه کار واخلي.
- د اندازو د نیولو او پېژندنې یوه برخه کار، اوس ستندردونه په مخ بیایي، چې دری برخې لري: مترولوژي، ستندرد جوړونه او د ستندردونو د تطبیق څار.

که چېرته دا دری واړه سم او اغېزمن سرته ورسي، له تلپاتې اقتصادي پراختیا، ټولنیزه هوساینې (رفاه) او سوداګریزه آسانتیاوو سره به مرسته شوې وي.

ښکاره خبره ده چې هر هېواد خپلو ټولنیزو اهدافو ته د رسېدو له پاره، وړ اقتصادي بنسټونو ته اړتیا لري. پاسني دری محورونه د پیاوړو اقتصادي بنسټونو له پراختیا سره مرسته کوي چې پرله پسې پراختیا او په نړیواله سوداګرۍ کې بشپړ ګډون (مشارکت) ته لاره اواروي. د OIML د پاسنیو دریو برخو دندې دا دي:

مترولوژي :Metrology په مترولوژي کې هغه چارې راځي، چې د اندازو نیولو نړیوالو ارګانونو لکه د متر کنوانسیون، د اوزانو او مقیاسونو نړیوالې کمېټې یا BIPM او د اوزانو او مقیاسونو نړیوال دفتر ته اجازه ورکوي چې د اندازو د نیونې ستندردونه جوړ او د نړیوالو او ملي ستندردونو تر منځ همغږي را منځ ته شي.

دا ټولنه دولتونو ته داسې ډاډمن فني مقررات وړاندې کوي چې په اسانه توګه نړیوالې سوداګرۍ ته ننوځي؛ خو په نړۍ کې د اندازو د نیولو او پېژندنې مسوولیت د OIML په غاړه دی چې خپل برابر شوي اسناد په پرله پسې توګه خپاره کړي چې دولتونه، ټولنې، سوداګر، شرکتونه او عام خلک پرې خبر شي OIML . همداراز د اندازه نیولو او پېژندنې له پاره (ماډل قوانین) برابروي چې ملي فني موسسې ځنې کار اخستلای شي.

ستندرد جوړونه: نړیوال ستندردونه د فني مقرارتو، تولیداتو، د تولید او خدماتو د لارو چارو د پرله پسې پراختیا سره مرسته کوي او د خطرونو د کموالي او د کیفیت د لوړولو له لارې سوداګریزه اسانتیاوې ډېروي. نړیوال ستندردونه نه یوازې دا چې له نړیوالې سوداګریزې سره مرسته کوي؛ بلکه په هغه بنسټونو هم اغېز لري چې په روغتیا، سلامتیا او د ژوند په چاپېریال پورې اړه لري او د سمو مقرراتو تدوین ته لار پرانیزي.

هغه ټولنې چې د نړیوالو ستندردونو د جوړولو په برخه کې مرسته کوي، دا دي:

- د ستندردونو نړیواله ټولنه(International Organization for Standardization (IOS
- د بربښنایي ټکنالوژي نړیوال کمېسیون(International Elector – Technical Commission (IEC
- د مخابراتو نړیواله اتحادیه(International Technology Union (ITU

## ۲۱- د صنعتي او تکنالوژیکي څېړنو د مراکزو نړیوال بنسټ

**:The World Association of Industrial and Technological Research Organization (WAITRO)**

WAITRO د کال ۱۹۷۰ په اکتوبر کې، د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د ګڼ شمېر دولتي او غیردولتي ټولنو او د صنعتي څېړنو د ۹٦ کارپوهانو له خوا جوړ شو. WAITRO اوس په ۷۴ هېوادونو کې ۱٦۰ غړي لري، په ټوله نړۍ کې له ۵۰۰ نړیوالو ټولنو او موسساتو سره همکاري لري او د نړۍ له تخصصی بنسټونو څخه شمیرل کیږي.

اهداف:

- د تلپاته پراختیا له پاره د ټولنو د عملي هڅو پیاوړتیا،
- د صنعتي او تکنالوژیکي پراختیا او څېړنو له پاره، د ټولنو تر منځ د ګډ کار هڅول،
- د تکنالوژیکي پوهې او څېړنو د نتایجو د لېږد آسانتیا او هڅول،
- د تکنالوژیکي مدیریت او څېړنو په برخه کې د تجاربو د شریکولو رواجول،
- د تکنالوژیکي او څېړنیزو ټولنو د مدیریت د کچې لوړوالی،
- د نویو بازارونو د موندلو او فرصتونو له پاره د نړیوالو همکاریو د مناسبو فرصتونو موندل او رواجول.

جوړښت: WAITRO یوه عمومي ټولنه، یوه اجرائیه کمیټه او یوه دارالانشا لري. د WAITRO دارالانشا د دنمارک په تکنالوژیک دفتر کې ځای په ځای ده. WAITRO همداراز د خپلو کارډلو (د ژوند چاپېریال تکنالوژي، د کمکیو او منځنیو شرکتونو د پراختیا تکنالوژي، انرژي او اطلاعات) د همغږۍ او ګډ کار یو مرکز هم لري.

غړیتوب: WAITRO اوس په ۷۰ هېوادونو کې ۱٦۰ غړي (د صنعتي تکنالوژي او د څېړنو د پیاوړتیا ټولنې) لري. دا غړي کولای شي چې د دې غړیتوب په مرسته خپلمنځي ګډ کار پیاوړی کړي، تکنالوژي ولېږدوي او خپلی سوداګریزه اړیکي پیاوړې او هر اړخیزه کړي.[۴۲۰]

---

[۴۲۰] سازمان پژوهش های علمي و صنعتي ایران، وېبپاڼه

## ۲۲ -- د فوټبال نړیوال فدراسیون

**The Federation International de Football Association (FIFA)**

د شلمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې، فوټبال دومره نړیوال شهرت وموند چې د چارو د سمون او نظم له پاره، د یوه نړیوال فدراسیون د جوړېدو اړتیا ډېره شوه. له همدې امله د فوټبال مخکښو هېوادونو لکه بلجیم، دنمارک، فرانسه، هالند، اسپانیا، سویدن او سویزرلند، په پاریس کې غونډه وکړه او د فوټبال د نړیوال فدراسیون یا FIFA په جوړېدو سلا شول. FIFA د لندن د کال ۱۹۰۸ په اولمپیک کې د فوټبال لومړنی تورنمینت جوړ کړ. که څه هم چې په دې سیالیو کې،یو شمېر مسلکي او نومیالیو لوبډلو برخه نه وه اخیستې، بیا هم د کار ترتیب او تنظیم او د خلکو هر کلی ډېر بریالی و.

اهداف:

- د فوټبال لوبې پراختیا: FIFA هڅه کوي چې د ځوانانو او پرمختیایي پروګرامونو په مرسته د یووالي، زده کړو، کلتور او بشري ارزښتونو له لارې،فوټبال په نړیواله کچه پراخه کړي. د همدې کار له پاره په خلکو او ټولنو پانګونه کوي او وایي چې فوټبال د ژوند د زده کړې ښوونځی دی.
- د فوټبال نړیوال کېدل: FIFA د نړۍ په ۲۰۸ هېوادونو او سیمو کې دفترونه لري او هڅه کوي چې د همدې لارې فوټبال تر هره کوره ورسوي.
- د ښې راتلونکې جوړول: FIFA د فوټبال ځواکمتیا او هرکلی، د ټولنو د پراختیا او بشري حقونو د ساتنې د یوې وسیلې په توګه کاروي او د هغو سلګونو نوښتونو د ځواکمنولو له لارې، د سولې، روغتیا، ټولنیز یووالي، ښوونې او روزنې او ورته برخو کې کار کوي او خپلې چارې د سویتزرلند د قوانینو له مخې مخ ته وړي[۴۲۱].

جوړښت: FIFA پېچلی ځانګړی اداري جوړښت لري چې دلته به لږ تشریح شي.

کانګرس: کانګرس د دې ټولنې لومړنی تصمیم نیوونکی ارګان، د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی چې په کال کې یوځل، او د اړتیا په وخت کېږ انګړی غونډې جوړوي. کانګرس واک لري چې په خپل جوړښت او تګلارو کې بدلون راولي، د ټولنې مشر، سرمنشي او نور اجراییوي غړي وټاکي، د FIFA د کارونو، راتلونکو پلانونو، نړیوالو لوبو او بودجې په برخه کې کار وکړي او د اداري غړو د ټاکلو د انتخاباتو وختونه وټاکي.

اجراییه کمېټه: اجراییه کمېټه د کانګرس په چوکاټ کې، د FIFA اساسي پرېکړې کوي. د FIFA مشر په عین حال کې د دې اجراییه کمېټې مشري هم کوي.

---

[421] www.fifa.com

اداري کمېټه: اداري کمېټه يو مشر، مرستيالان او ۱۵ غړي لري چې د فوټبال له هر نړيوال جام وروسته، د کانګرس له خوا ټاکل کېږي. دا کمېټه په کال کې دوه ځله د فوټبال د پرمختګونو، راتلونکو لوبو او جامونو او احتمالي ستونزو په هکله خبرې او پرېکړې کوي.

د FIFA د تګلارې له مخې، دا کمېټه د سکرتر جنرال د ټاکلو او لرې کولو حق لري او همداراز د FIFA نور پلاوي هم ټاکي.

کمېټې: د FIFA سرمنشي خپلې چارې، د ۲۵ کمېټو په مرسته په مخ بيايي.لکه اجراييه کمېټه، مالي کمېټه، د نړيوال کپ د تنظيم کمېټه، د ښځو د فوټبال کمېټه، د تخنيک او پرمختګ کمېټه، د لوبڅارو کمېټه، د اخلاقو کمېټه، د لوبغالو او امنيت کمېټه، د طبي معايناتو او پلټنو کمېټه.

د سرمنشي په څنګ کې دوه نور دفترونه هم شته چې يو په حقوقي مسايلو او بل د چارو په تنظيم بوخت دي. د FIFA دا ۲۵ کمېټې، هره يوه په خپله برخه کې کار کوي؛ خو هره پرېکړه يې بايد د اجراييه کمېټې له خوا تاييد او تصويب شي.

تګلارې: FIFA د خپلو کارونو د تنظيم او کار له پاره، ځانګړې قوانين او مقررات لري چې د کانګرس لخوا تصويب کېږي. د غړو هېوادونو درېيمه برخه اکثريت په قوانينو کې تعديل يا بدلون راوستی شي.

مالي سرچينې: FIFA خپله کلنۍ بودجه، له نړيوالو سوداګريزو شرکتونو سره د تړونونو د لارې برابروي. د لوبو د خپراوي حق په نړيوالو رسنيو خرڅوي، د لوبو په کتونکو تکتونه پلوري، په لوبغالو کې د لويو شرکتونو د اعلانونو په خپراوي پېسې اخلي، د لوبغاړو په سپورتي جامو باندې د لويو شرکتونو نښې لګوي او په دې توګه خپله د اړتيا وړ بودجه برابروي .[۴۲۲]

فعاليتونه: FIFA په آسيا، افريقا، منځنی امريکا، شمالي امريکا، اروپا او يو شمېر نورو سيمو کې د فوټبال فدراسيونونه لري. FIFA د ټولو نړيوالو رسمي سياليو د تنظيم او څار دنده په غاړه لري او په هرو څلورو کلونو کې د فوټبال نړيوالې لوبې جوړوي چې په سلګونو مليونه مينه وال او ډېر لوړ ارځښت لري.

مقر: د FIFA مرکزي دفتر په زوريخ (سويتزرلند) کې دی. انګليسي، فرانسوي، اسپانوي او جرمني يې رسمي ژبې دي[۴۲۳].

## ۲۳- د کرکت نړيواله شوری(International Cricket Council (ICC

د کرکت نړيواله شوری يا ICC ، څه باندې يوه پېړۍ مخکې (۱۹۰۹)، د استراليا، برتانيا او جنوبي افريقا له خوا د کرکت شاهي کنفرانس په نامه جوړه شوه. دا نوم په کال ۱۹٦۵ کې د کرکت په نړيوال کنفرانس او په ۱۹۸۹ کې د کرکت نړيواله شوری شو.

---

[۴۲۲] نړيوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۲۲۷-۲۲۳

[423] www.fifa.com

په پېل کې د ICC د غړو شمېر د ګوتو په شمار و؛ خو د وخت په تېرېدو او د کرکټ لوبې په عامېدو سره، دا شمېر دومره ډېر شو چې اوس څه باندې ۱۰۰ هېوادونه په مستقیم یا نامستقیم ډول د دې شورى غړیتوب لري.
اهداف:د ICC د جوړېدو اصلي هدف دا دی چې دا لوبه په نړیواله کچه وده او پراختیا ومومي.

جوړښت:

شورى :د کرکت چارې تنظیموي. بودجه برابروي، له مستقیمو او نامستقیمو غړو هېوادونو سره مرسته کوي او نړیوال فعالیت لري.

ICC درې ډوله غړي لري:

- مستقیم بشپړ غړي،
- نامستقیم غړي،
- ونډه وال غړي.

په مستقیمو غړو کې د کرکت هغه ۱۰ پیاوړې لوبډلې راځي چې د پنځه ورځنیو (تست) سیالیو امتیاز لري، لکه هند، استرالیا، جنوبي افریقا، برتانیا، سریلانکا، پاکستان، ویست اندیز، نوي زیلند، بنګله دیش او زیمبابوې. په نامستقیمو غړو کې ۳۰ ټیمونه راځي، چې د افغانستان، سکاتلند، ایرلند، هالند او کینیا ټیمونه یې په سر کې دي.

د ICC د ونډه والو غړو شمېر سلګونو ته رسي چې نړیواله شورى مني او کرکت د قوانینو په رڼا کې په مخ ځي.

اجراییه بورد: دا بورد د ICC له اساسي قانون سره سم، د شورى د اهدافو، پرېکړو او نورو چارو د اجرأ او د اداري او عملیاتي چارو د تنظیم او ترتیب دنده په غاړه لري.

د اجراییه بورد غړي دوه ډوله دي: لومړي هغه غړي چې د تست سیالیو د امتیاز لرونکو ۱۰ هېوادونو له خوا معرفي کېږي؛ خو نامستقیم او ونډه وال هېوادونو یوازې درې – درې کسان د خپلو استازو په توګه بورد ته پېژني، دا خلک دوه کاله کار کوي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د پرېکړو واک او عملي کول یوازې له مستقیمو غړو هېوادونو سره وي.

ICC دا کمېټې لري: کرکت، مالي، بازارموندنه، حکومتولي، د لوبو اخلاق، رسنۍ، اداري فساد او په لوبو کې د درغلیو د څېړلو کمېټه.

سیمه ییزه څانګې: ICC څو سیمه ییز دفترونه لري چې د کرکت د ودې، پراختیا او تنظیم له پاره کار کوي.

- د افریقایي هېوادونو د کرکت ټولنه،
- د کرکت اسیایي شورى،
- د امریکایي هېوادونو د کرکت ټولنه،
- د اروپا کرکت شورى.

اداري څانګه: د ICC اداري څانګه د کارکوونکو په ټاکلو کې خپلواکه ده. اوس – اوس د دې ټولنې مرکزي دفتر په دوبی (عربي متحده امارات) کې دی چې شا او خوا ۷۰ مامورین لری. ICC په نورو دفاترو کې همدا شمېر مامورین لري چې د کرکت د ودې او تنظیم مسوولیت په غاړه لري.

مالي سرچېنې: ICC خپله کلنی بودجه، له نړیوالو سوداګریزو شرکتونو سره د بېلابېلو تړونونو له لارې لاس ته راوړي. د مثال په توګه د لوبو د خپراوي حق په رسنیو او نړیوالو کمپنیو خرڅوي، د لوبو ټکټونه پلوري، په لوبغالو او د لوبغاړو په کالیو کې د نړیوالو شرکتونو اعلانونه او نښې ږدي او په دې توګه خپله بودجه برابروي. فلای امارات، ریلاینس، هونډا، پیپسي، سونا موبایل، ال جي، ام تی ان او داسې نور شرکتونه د ICC لوی مالي ملاتړي دي.[٤٢٤]

افغانستان او ICC : په کال ۱۸۳۹ کې چې برتانوي یرغلګر سرتیري، د افغانستان په کابل، کندهار او ننګرهار کې دېره وو، ځینو برتانوي سرتېرو او د هغوی افغاني ملګرو په کابل کې کرکټ کړی دی، پرته له دې په افغانستان کې کرکت نه و؛ خو ګاونډیو هېوادونو پاکستان او هندوستان ته د سلګونو زره افغانانو مهاجرت او سفر، هېواد ته د کرکت د راتګ لاره اواره کړه. اوس کرکت په افغانستان کې د فوټبال په شانې ټولمنلې لوبه ده چې په ملیونونه مینه وال او په سلګونو زوني، ولایتي او سیمه ییز ټیمونه لري.

په افغانستان کې د کرکت لومړنې لوبې په ډېرو ابتدایي امکاناتو او شرایطو، د مجاهدینو او طالبانو د واکمنیو په کلونو کې پېل شوې؛ خو د حامد کرزي او نوي دور په راتګ سره، کرکت د نورو سپورتي ټیمونو په شان، ډېر پرمختګ وکړ او ژر یې د افغانستان جنډه د نړۍ د کرکت په سترو ستدیومونو کې جګه کړه[425].

په کال ۱۹۹۵ کې د افغانستان کرکت فدراسیون جوړ شو، په ۲۰۰۱ کې افغانستان د ICC د نامستقیمو هېوادونو غړیتوب ترلاسه کړ. په کال ۲۰۰۳ کې د افغانستان کرکت ملي ټیم، د پاکستان په دوو تورتنمتونو کې برخه واخسته او د پاکستان په وړاندې یې لومړنی بریا خپله کړه. په ۲۰۰۴ کې دا ټیم د جنوبي اسیا د لسو ټیمونو په لوبو کې شپږم شو. په ۲۰۰٦ کې افغانستان د منځني ختیځ په لوبو کې د نایب اتل دریځ ته ورسېد. په همدې کال د افغانستان ملي ټیم د برتانیا په لوبو کې له ۷ څخه ٦ لوبې وګټلې او د مالیزیا په آسیایي لوبو کې درېیم نمبر شو. په کال ۲۰۰۷ کې دې ټیم د کویټ په آسیایي لوبو کې لومړی ځل په یو نړیوال تورنمنت کې اتلولي وګټله چې د سپورتي لوبو په ډګر کې د افغانستان له پاره ستره بریا وه.

ICC هر کال افغانستان ته د کرکت د پراختیا له پاره، د آسیا کرکت شوری له لارې ۵ ملیون $ ورکوي، چې نوي ډګرونه پرې جوړ کړي، لوبغاړو ته استانتیاوې برابری شي، ښځینه کرکت تیمونه جوړ شی او د افغانستان د کرکت بورد د کارکوونکو لګښتونه پوره شي.

افغانستان په کال ۲۰۰۸ کې، کرکت بورد جوړ کړ چې د کرکت د ودې او پراختیا له پاره کار کوي. له دې مخکې د افغانستان د ملي المپیک کمېټې په چوکاټ کې د کرکت فدراسیون دا کار کاوه.

---

[٤٢٤] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۲۳۲-۲۲۹

[425] en.wikipedia.org/wiki_afghanistan_cricket_board2

اوس د افغانستان د کرکت ملي ټیم د نړۍ په لسو لومړیو ټیمونو کې شمار دی او په تېره یو لسیزه کې یې هېواد ته بیساري بریالیتوبونه ډالۍ کړي دي. د افغانستان له ۱۹ کلنو څخه د کم عمره ځوانانو ټیم هم ښه پرمختګ کوي.

# پنځم څپرکی

# سیمه ییزه ټولنې

## د سیمه ییزه ټولنو پېژندنه Regional Association:

سیمه ییزه ټولنې هغه دی چې د نړۍ په یوه لویه وچه (قاره، براعظم) یا سیمه کې جوړیږی او د همغه لویې وچې/ سیمې هېوادونه پکی غړیتوب اخیستلای شي. د دې خبرې معنی دا ده چې په یوه سیمه ییزه ټولنه کې د یوې لویې وچې/ سیمی د ټولو هېوادونو ګډون حتمي نه دی.

له هغه ځایه چې نړیوالو ټولنو نه شوای کولای، ټولو هېوادونو/سیمو ته سم خدمات وړاندی کړی، سیمه ییزه ټولنې جوړې شوې چې په یوه ټاکلي سیمه کې خلکو ته مناسب خدمات (اکثراً ځانګړی لکه د افریقا اقتصادي کمیسیون) ورسوي.

لومړنې سیمه ییزه ټولنه په امریکا (لویه وچه) کې جوړه شوی ده. له دې وروسته اروپا، آسیا او افریقا راځي. ډېری سیمه ییزې ټولنې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو بوختی دی. په امریکا کی د سوداګرۍ ونډه پکې درنه ده؛ خو په اروپا کې سیاسي – پوځي عوامل ځواکمن ښکاري لکه ناتو. په افریقا کې د د خپلواکۍ هلې ځلې او بیا اقتصادي او ټولنیزه ګډ کار د ډېرو ټولنو جوړېدو ته لارې پرانستې.

له دې لنډې سریزې وروسته، سیمه ییزه ټولنې په څلورو غټو برخو وېشل شوي دی:

- د اروپا او اتلانتیک سیمه ییزه ټولنې،
- د اسیا سیمه ییزه ټولنې،
- د افریقا سیمه ییزه ټولنې،
- د امریکا سیمه ییزه ټولنی،

**لومړی:د اروپا او اتلانتیک ټولنې:**

د اروپا په لویه وچه او اتلانتیک ( اتلس) سیمه کې،څو سیمهی یزه ټولنې شته چې ډیر د پام وړ کارونه یی سر ته رسولی او د خپلو اهدافو سره سم په عمومی، سیاسي، اقتصادي او پوځی برخو وېشل کیږي چی ځینی د دولتونو له استازو او ځینی د خلکو یا مقننه قوی د استازو جوړیدی.

عمومی ټولنی هغه دی چی د غړو هیوادونو تر منځ ټولی اړیکی سمبالوی؛ خو خینی بیا داسی ځانګړی وی، چی په یوه ټاکلی سیمه/ موضوع/ یا فغالیت بوختی وی. په اقتصادی برخه کی د اروپا دا ټولنی د یادولو وړ دی:

- د اقتصادی پراختیا د همکاری ټولنه چی وروسته د اروپا له سیمی ووته،
- د ازادې سوداګرۍ اروپایي ټولنهEFTA ،
- د ډبرو سکرو او پولادو اروپایي ټولنه ECTS چی په کال ۲۰۰۲ کی پای ته ورسیده،

په سیاسی برخه کی د اروپا شوری او په سیاسی-پوځی برخه کی ناتو د یادولو وړ دی. ناتو اوس د جغرافیی په حساب یوه نړیواله ټولنه بلل کیږی، او د دی کتاب د نړیوالو ټولنو په برخه کی په تفصیل خبری پری شوی دی.[٤٢٦]

**۱-د اروپا شوری (Council of Europe (CE:**

په ۱۹۴٦ او ۱۹۴۷ کلونو کې، په بېلابېلو اروپايي هېوادونو کې، د فدرالي اروپا ټولنې، د اروپايي ليګ ډلې، د متحدو اروپايي هېوادونو سوسيالیستي غورځنګ او د اروپا د يووالي ليبرالیست خوځښت، په شان حرکتونه د اروپا شوری جوړولو ته لار پرانیسته.

د فدرالیسم پلویانو د کال ۱۹۴۸ په مې کې، په لاهه (هالند) کې یو غیردولتي کنفرانس جوړ کړ چې د اروپا کنګرې په نامه یادېږي. دې کنګرې یوه ګډه اعلامیه تصویب کړه چې څلور غټ ټکي يې درلودل: د یوې اروپا جوړول، د بشري حقونو د یو میثاق تصویب،د اروپايي محکمې جوړول او اروپايي پارلمان.

د اروپا شوری د جوړولو تړون، د کال ۱۹۴۹ د مې په ۵ په لندن کې د فرانسې، ایرلند، بلجیم، دنمارک، ایتالیا، لوګزامبورګ، هالند، ناروې، سویدن او برتانیا د استازو له خوا لاسلیک شو. د لاهه کنګرې د پرېکړې له مخې، دې نوي جوړښت ته، د اروپايي ټولنې په ځای د اروپا شوری یا CE نوم غوره وبلل شو.

اهداف: د دې شوری د اساسنامې لومړې ماده وايي چې دا ټولنه د هغه هېوادونو په مخ پرانستې، چې د ولسواکۍ، د بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ او د فرهنګي ګډ کار د پراختیا له پاره هڅې کوي.

غړیتوب: دا شوری په لومړي سر کې ۱۰ غړي هېوادونه درلودل چې بنسټ ایښودونکي بلل کېږي. وروسته دې هېوادونو هم د CE غړیتوب واخست: یونان ۱۹۴۹، ترکیه او آیسلند ۱۹۵۰، لویدیځه جرمني ۱۹۵۱، استریا ۱۹۵٦، قبرس ۱۹٦۱، سویتزرلند ۱۹٦۳، مالتا ۱۹٦۵، پرتګال ۱۹۷٦، اسپانیا ۱۹۷۷، لېختن شتاین ۱۹۷۸، سان مارینو ۱۹۸۸، فنلند ۱۹۸۹، هنګري ۱۹۹۰، پولند ۱۹۹۱، بلغاریا ۱۹۹۲، استونیا، لتوانیا او سلووینیا، چکیا، سلواکیا او رومانیا ۱۹۹۳؛ آندورا ۱۹۹۴؛ لاتویا، البانیا، مولداویا، شمالي مقدونیه او اوکراین ۱۹۹۵؛ روسیه او کروشیا ۱۹۹٦، جورجیا ۱۹۹۹؛ ارمینیا او آذربایجان ۲۰۰۱؛ صربیا، موناکو او بوسنیا او هرزګوینا ۲۰۰۴ او مونتینګرو ۲۰۰۷. په دې توګه وینو چې له واتیکان او بیلاروس پرته د اروپا ټول هېوادونه په دې شوری کې غړیتوب لري.[٤٢٧]

امریکا متحده ایالات، کانادا، مکسیکو او جاپان د دې شوری څارونکي دي او د کانادا، مکسیکو، اسراییل او د ترکي قبرس او فلسطین ( چی خپلواکه نه دی) د ملي شوری ګانو استازي د CE په غونډو کې برخه اخستلای شي.[٤٢٨]

---

[٤٢٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۴-۱۵۳

[427] coe.int/en/web

[428] coe.int/en/web

جوړښت:

دارالانشا: دارالانشا له منشي، مرستیال سرمنشي او یو شمېر نړیوالو کارکوونکو څخه جوړه ده. د CE سرمنشي د پارلماني ډلې Parliamentary Assembly له خوا د ۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي. سرمنشي دنده لري چې اوږدمهاله پلانونو جوړ کاندي، د شورى کاري پلانونه مدیریت کړي، بودجه تصویب ته چمتو او مالي چارې وڅاري. دا سرمنشي یو مرستیال لري چې د پارلماني ډلې له خوا به جلا ټاکنو کې غوره کېږي.[٤٢٩]

د وزیرانو کمېټه: دا د CE تصمیم نیونکی ځای دی چې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران او یا په ستراسبورګ کې د دې هېوادونو د دایمي استازولي مشرانو، پکې ګډون کوي. دا کمېټه د CE تګلارې او کړنلارې ټاکي، بودجه منظوروي او د شورى کارونه څاري.

پارلماني ډله: په دې ډله کې د ۴۷ اروپایي هېوادونو ۳۲۴ غړي شته. دا ډله د CE سرمنشي او مرستیال منشي؛ د بشري حقونو کمیشنر او د بشري حقونو د اروپایي محکمې قاضیان ټاکي، ټاکنې څاري او د خبرو اترو له پاره دموکراتیکه فضا برابروي . د دې کمېټې پرېکړې الزامي نه لري؛ خو د غړو هېوادونو له تصویبه وروسته الزامي کېږي.

د ملي او سیمه ییزه مدیرانو کانګرس Congress of Local and Regional Authorities:

کانګرس په ۴۷ غړو هېوادونو کې، د ملي او سیمه ییزه ولسواکۍ د ټینګولو او پراختیا له پاره زیاد باسي. کانګرس دوه برخې لري. لومړی کورنې چارې او دویم سیمه. کانګرس همدا شان درې کمېټې لري چې د څه باندې ۱۵۰۰۰۰ ملي او سیمه ییزه مدیرانو څخه، ٦۴۸ ټاکلي غړي سره یو ځای او همغږي کوي.

د بشري حقونو اروپایي محکمه European Court of Human Rights:

دا قضایي ارګان اروپایانو ته هغه حقونه ګرنتي کوي چې د بشري حقونو له پاره اروپایي کنوانسیون په ګوته کړي دي. دا محکمه د دولتونو او افرادو په مه پرانستې او تابعیتي تعلق ته نه ګوري. د اروپا شورى ۴۷ غړي د اروپا کنوانسیون غړي هم دي.

د بشري حقونو کمیشنر Commissioner of Human Rights:

دا کمیشنر ټولو هغه اقداماتو ته په خپلواکه توګه د مسوولینو پام اړوي چې بشري حقونو ته زیان رسوي.

د NGO ګانو کنفرانس Conference of NGOs:

۴۰۰ غیرحکومتي موسسې یا NGOs په دې کنفرانس کې ځای لري. دا د سیاسیونو او عوامو یا خلکو تر منځ اړیکې ټینګوي او د مدني ټولنو غږ بلل کېږي او په هغه ګټو تمرکز کوي چې NGO ګانې یې د اروپا اوسیدونکو ته رسوي .[٤٣٠]

---

[429] coe.int/en/web
[430] coe.int/en/web

نړیوال ګډ کار Global Co-operation: اروپايي شورى له اروپايي ټولنې يا EU سره په ملګرتيا کار کوي او په اروپا کې دا منشي ارګانونو او ګاونډيانو هېوادونو او له UN سره نژدې اړيکې ساتي.

فعاليتونه: د اروپا د يووالي ژمنليک (عهدنامه) (ماستريخت) د – ۴D مادې له مخې، اروپايي شورى د اروپايي ټولنې يا EU د تګلارو ټاکل او د عمل ابتکار په غاړه لري او د هېوادونو د مشرانو او د بهرنيو چارو وزيرانو او د اروپا کميسيون د مشر څخه جوړه ده. د اروپايي شورى مشر دا واک لري چې د اروپايي کميسيون مشر او د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو وزير وټاکي. اروپايي شورى په کال کې لږ تر لږه دوه ځلې غونډه کوي او د اروپايي دولتونو استازي، د اروپا کورني او بهرني مسايل څېړي، په لويو سياستونو او لومړيتوبه په نښه کوي. اروپايي شوررى په کورنيو مسايلو کې کولای شي چې د ټولو اروپايي ټولنو په استازيتوب پرېکړې وکړي. EC فصلي غونډې جوړوي، د قوانينو د جوړولو واک نه لري؛ خو د اروپايي هېوادونو تر منځ د يووالي او نژديوالي په برخه کې ډېرې هڅې کوي.

تر کال ۲۰۰۴ پورى چې د اروپا اساسي قانون نافذ شو، د دې شورى ونډه خورا د پام وړ وه؛ ځکه د اروپايي ټولنې پرېکړې بايد د يو نړيوال تړون په شان، د دولتونو د مشرانو له خوا لاسليک شوي واى او دا کار به د اروپا شورى له خوا تر سره کېده. لکه د ماستريخت يا امستردام تړون چې لومړى د اروپا په شورى کې تصويب او بيا د يو نړيوال تړون په توګه د ولسمشرانو له خوا لاسليک شو.[۴۳۱]

په کال ۱۹۵۰ کې د بشري حقونو اروپايي تړون، په ۱۹۵۱ کې د اروپا د کرنې ټولنې جوړول، په ۱۹۵۷ کې د اختلافونو د سوله ييز حل تړون، په ۱۹۶۱ کې د اروپا د ټولنيز کړنلاره تصويب، په ۱۹۵۵ او ۱۹۷۷ کې د ترهګرۍ ضد مبارزې په برخه کې د دوبلين او ستراسبورګ تړونونه؛ په ۱۹۸۷ کې د شکنجې، جزاګانو او غيرانساني کړنو د مخنيوي تړون؛ په ۱۹۵۸ کې د پخوانۍ معماري اثارو د ملاتړ تړون د شورى له مهمو فعاليتونو څخه شمېرل کېږي چې ټولو غړو هېوادونو لاسليک کړي او تر اوسه نافذ دي.[۴۳۲]

مقر: د CE مقر په ستراسبورګ (فرانسه) کې دى.

---

[۴۳۱] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۱۰-۳۹۸

[۴۳۲] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۰-۳۰۸

## ۲-- د ازادې سوداګرۍ اروپايي ټولنه

**European Free Trade Associtation( EFTA)**

وروسته له دې چې د اروپا د بيا ودانولو له پاره، مارشال پلان د OECD له خوا تطبيق شو، د ستاکهولم (سويدن) کنوانسيون (۱۹٦۰ د جنوری ۴) د ازادې سوداګرۍ د اروپاييټولنې په جوړېدا سلا وکړه او پرېکړه وشوه چې په غړو هېوادونو کې، د بومي توليداتو سوداګرۍ هې څډول محدوديت نه لري.

د مارشال د پلان پای ته رسېدو اروپايي هېوادونه دې ته اړ کړل چې د اقتصادي پرمختګ له پاره، سوداګري راکړه ورکړه پراخه او آسانه کړي.[٤٣٣]

بايد وويل شی چی د اقتصادی همکاريو او پراختيا د اروپايی ټولنی يا OECD ، د وزيرانو په هغه غونډه کی چی په کال ۱۹٥٦ کی جوړه شوه، برتانيا د سوداګرۍ د يوی ازادی سيمی د جوړولو وړانديزپه ميز کيښود. که څه هم چی دا خبری د فرانسی د مخالفت له امله، په ۱۹٥۸ کی پای ته ورسيدی؛ خو د OECD د نورو غړو هيوادونو وزيرانو پريکړه وکړه چی د ازادی سوداګرۍ د يوه ترون د لاسليک له پاره به زيار باسی. او همغه و چی دا ارمان په ستاکهولم کی پوره شو او برتانيا، استريا، پرتګال، دنمارک، سويدن، سويتزرلند او ناروې د FETA بنسټ کيښود. ليختن شتاين د ۱۹٦۰ په می، فنلند په کال ۱۹٦۱ او ايسلند په ۱۹۷۰ کې د دې ټولنې غړي شول.

په کال ۱۹۷۳ کال کې برتانيا او دنمارک چې د اروپايي ټولنې غړيتوب يې ترلاسه کړي و، له دې ټولنې څخه ووتل؛ خو د دې ټولنې غړو د آزادې سوداګری په برخه کې، د اروپا له اقتصادي ټولنې سره څو ترونونه لاسليک کړل.

له ۱۹٦۷ کال راهيسې د ازادې سوداګرۍ د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو ترمنځ، ګمرکي محدوديتونه له منځه لاړل او اوس په خپل منځ کې په ازاده توګه سوداګري کوي.[٤٣٤]

جوړښت:

شوری: دا د دې ټولنې يوازنې اداره کوونکی ارګان دی چې د ټولو غړو هېوادونو د استازي په ګډون جوړېږي او پرېکړې د رايو په اتفاق و[435].

---

[٤٣٣] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳٤۷-۳٤٦

[٤٣٤] سازمان های بين المللی محمد، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲٤۹ ۱۹۷

[435] نړيوال سازمانونه، محمد نطيم سمون، ص ۱۹۷

## 2 - د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنه

**European Coal and Steel Community (ECSC)**

دا ټولنه د کتاب په پای کی راغلی؛ ځکه چی اوس فعاله نه ده.

### ۴- اروپايي ټولنه European Union(EU)

EU یوه اقتصادي او سیاسي ټولنه (اتحادیه) ده چې ۲۷ غړي لري. هسې خو د اروپا د یووالي او یوې اروپا فکر ډېر پخوانی دی او ځینې مورخین په دې اند دي چې ان د روم ستروا کئ په وخت کې د اروپا د یووالي او همغږی فکر و او د (رن) کنوانسیون - ۱۸۰۵ او د سویتزرلند – جرمني کنوانسیون ۱۸۱۵ یې غوره بېلګې بولي. نامتو لیکوال ویکتور هوګو، شمالي امریکا ته په کتو، د اروپايي دولتونو په همغږي کولو کې غټه برخه اخستی ده.

د ۱۸ پېړۍ په پېل کې د اروپا د سیاسیی ووالي لومړني ګامونه پورته شول چې د فکري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه بنسټونو د نشتوالي له امله ډېر بریالي نه وو؛ خو په ټوله نولسمه پېړۍ او د ۲۰ پېړۍ په لومړنیو کلونو کې، پوهانو د اروپا د یووالې ننګه کوله او د مثال په توګه د ځینو اروپايي هېوادونو ترمنځ، د سوداګریزې راکړې ورکړې څو تړونونه لاسلیک شول. د مثال په توګه په کال ۱۸٦۰ کې د برتانیا او فرانسې تړون.

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته هم داسې تړونونه، د اقتصادي ټولنو په چوکاټ کې لاسلیک شول، لکه د ګمرکي چارو د همغږۍ له پاره د بلجیم – لوګزامبورګ اقتصادي ټولنه (۱۹۲۱). وروسته هالند هم د دې کمکۍ ټولنې غړیتوب تر لاسه کړ او په ۱۹۴۴ کې بنیلوکس ونومول شوه.

په کال ۱۹۲۹ کې د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر آریستید بریان، د ولسونو ټولنې په کلنۍ غونډه کې، د اروپايي دولتونو د یو فدراسیون د جوړېدو وړاندیز وکړ چې د ملي حاکمیتونو د فکر د برلاسي او د برتانیا او د ولسونو ټولنې تر منځ د مخالفت په توسن ونه منل شو. د ولسونو ټولنې په هغه وخت کې، نه غوښتل چې په اروپا کې دې داسې یوه ځواکمنه ټولنه جوړه شي او هغه یې خپله سیاله بلله. په کال ۱۹۳۳ کې په جرمني کې د نازیانو د ملي سوسیالیست ګوند بریالیتوب او د آریستید بریان مړینې، د اروپا د یووالي خبره د څه مودې له پاره پای ته ورسوله.

له دوهمې نړیوالې جګړې څخه مخکې په اروپا کې دا دری دفاعي ټولنې جوړې شوې وې:

- د رومانیا، چکوسلواکیا او یوګوسلاویا ټولنه چې د بهرنیو چارو دری وزیران یې په مشرتابه کې وو،
- د رومانیا، یوګوسلاویا، ترکیې او یونان ترمنځ د بالکان ټولنه – ۱۹۳۴،
- د لتوانیا، لاتویا او استونیا تر منځ بالتیک ټولنه.

دا ټولنې د کال ۱۹۳۸ او راوروسته پېښو له امله له منځه لاړې. له دویمی نړیوالې جګړې وروسته، په اروپايي دولتونو کې د سیاسیی ووالي او اقتصادي همغږي له پاره، بېلابېلې سیاسي ډلې جوړې او غړونه پیاوړي شول. اروپایانو غوښتل چې د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد ځواکونو په مقابل کې، د خپل شتون غم وخوري. لوی – لوی اروپايي ځواکونه لکه ایتالیا، جرمني، فرانسه او برتانیا له امریکا او شوروي څخه وروسته پاته شوي

وو؛ ځکه ټولو د یو ډول یووالي اړتیا احساسوله. د امریکا مارشال پلان، اروپایي هېوادونه ډېر اقتصادي نژدېوالي ته وهڅول.

د شوروي اتحاد په مشرۍ سوسیالیستي خوځښتونو او د اروپایي هېوادونو بیسارو ورانیو، وزګارتیا، بېوزلتیا او تربګنیو، د یووالي پلویانو پیاوړي کول؛ ځکه په نظامي برخه کې د شمالي اتلانتیک تړون یا NATO او په اقتصادي او سیاسي برخو کې، د اقتصادي همکاریو او لږ وروسته د اروپا شورى جوړ شول.

په کال ۱۹۴۵ کې د سویدن، فنلند او ناروې په نوښت، د سکاندیناویا ټولنه جوړه شوه چې په خپلو منځونو کې یې د کارګرانو تګ راتګ آزاد کړ.

په ۱۹۴۷ کې د برتانیا لومړي وزیر چرچیل، جرمني او فرانسه د اروپا یووالي ته وهڅول او ټول اروپایي هېوادونه یې ګډ کار او مرستو ته راوبلل.

په کال ۱۹۴۸ کی د لاهه (هالند) غیردولتی کنفرانس، د اروپا شورى وزېږوله چې د اروپا کنګره نومېده او اساسنامه یې یو کال وروسته په لندن کې تصویب شوه. د فدرالیسم پلویان برلاسی شول او د اروپا د یووالي لاره اواره شوه. له دې وروسته هم د اروپایي دولتونو ترمنځ د یووالي او متقابله مرستو وړاندیزونه کېدل. په کال ۱۹۵۰ کې د بشري حقونو د کنوانسیون او د بشري آزادي ګانو طرحې او په سیاسي، پوځي او اقتصادي برخو کې د ګډ کار هڅول خبرو ته وړاندې شول چې د اروپا د سکرو او پولادو ټولنې پیلامه بلل کېږي (پاریس ۱۹۵۲).

د اروپا لویه وچه د نژادي – فرهنګي جوړښت له مخې، د نورو لویو وچو په پرتله ډېره متجانسه ده، له همدې امله د همغږیتوب لومړنۍ نښې هم همدلته لیدل شوي دي. د شیومن پلان Schumann Plan له مخې د اروپایي هېوادونو ترمنځ، خبرې پېل شوې.

د کال ۱۹۵۵ په جون کې د بنیلوکس (هالند، بلجیم او لوکزامبورګ) هېوادونو مشرانو، د Messina (سیسلی – ایتالیا) په غونډه کې، یوځلې بیا د اروپا د یووالي خبره وړاندې کړه. دې وړاندیز د اروپا د ډېرو سکرو او پولادو ټولنې فعالېدو (روم – د ۱۹۵۷ د مارچ ۲۵) او د اروپا اقتصادي ټولنې او اروپا د اتومي انرژي ټولنې جوړېدو ته لار پرانیسته.

د اتومي انرژي ټولنه The European Atomic Energy Treaty (EURATOM) مخکې د غړو هېوادونو تر منځ، د معلوماتو د راکړې ورکړې او د اتومي انرژي او رادیو اکتیف صنایعو په برخه کې د آسانتیاوو د برابرولو له پاره جوړه شوه. په کال ۱۹۵۷ کې د روم تړون لاسلیک او د اروپا ګډه اقتصادي ټولنه The European Economic Community Treaty (EEC)د پاسنیو دریګونو ټولنو د ګډ ارګان په توګه په پام کې ونیول شوه. د روم تړون د لاسلیک په وخت کې ٦ څېرکي، ۲۴۸ مادې، ۳۰ ضمیمې او ۳۰ پروتوکولونه درلودل. په ۱۹۷۳ – ۱۹۸۱ او ۱۹۸٦ کلونو کې د لویدیځې اروپا ځینې نور هېوادونه هم له EEC سره یوځای شول.

EECد کال ۱۹۸۳ په سپتمبر کې، د اروپایي ټولنې (اتحادیه) د ژمنلیک لومړنې طرح تصویب کړه چې وروسته د اروپایي ټولنې په اساسي قانون بدلېده. په ۱۹۸٦ کې د واحدې اروپا قانون تصویب او د ۱۹۸۷ د جنوري په لومړې اجرایي شو.

د کال ۱۹۹۲ د فبروري په دوهمه په ماستریخت (هالند) کې، د څو اروپايي هېوادونو په ګډون، د اروپايي ټولنې تړون Treaty of European Union لاسلیک شو چې دری ستنې (ستون) یې درلودې.

الف – د اروپا د پرله پسې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، تر کال ۱۹۹۹ پورې د یوې اقتصادي او پولي اتحادیې یا ټولنې جوړول چې ګډ مرکزي بانک او ګډ پولي واحد ولري،

ب– د اروپايي ټولنې د یووالي او ښه پیوستون له پاره، ګډ بهرني او امنیتي سیاست او په ملي پولو کې د کالیو، خدماتو، پانګې او کارګرانو د آزاد تګ راتګ له پاره حقوقي آسانتیاوې،

ج– د نشه یي توکو، ترهګرو او جنایت کوونکو په فعالیت ګډ څار.

غړیتوب: په کال ۱۹۵۷ کې EEC د ٦ هېوادونو په غړیتوب جوړه شوه: بلجیم، فرانسه، فدرالي جرمني، ایتالیا، لوکزامبورګ او هالند. په ۱۹۷۳ کې دنمارک، ایرلند او برتانیا غړیتوب واخست. یونان په ۱۹۸۱ او اسپانیا او پرتګال په ۱۹۸٦ کې دا ویاړونه ترلاسه کړل. ختیځه جرمني په کال ۱۹۹۰ کې له لویدیځې جرمني سره تر پیوستون وروسته، د EEC عملي غړی شوه. استریا، سویدن، ناروی او فنلند د کال ۱۹۹۴ کې د غړیتوب غوښتنه وکړه. د ملي تصاویبو په وخت کې د ناروي ملی شوری دا غړیتوب ونه مانه؛ خو نور دری نور هیوادونه غړي شول. په کال ۲۰۰۴ کې ۱۰ نور نوي غړي خپلواکه هېوادونو غړیتوب ترلاسه کړ او ترکیه، کروشیا او شمالي مقدونیا لاهم د غړیتوب د اخستلو انتظار باسي.[٤٣٦]

د کال ۱۹۹۸ د جنوري په څلورمه، د اروپا ګډ پولي واحد Euro رسمي شو چې د فدرالي اروپا په لور یو اساسي ګام بلل کېږي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د اروپا مالي یووالي،یوازې یو اقتصادي حرکت نه و؛ بلکه د اروپا د لویې وچې د سیاسي پیوستون او همغږي لار پرانستل شوه.[٤٣٧]

اهداف: د روم تړون Treaty of Rome د دویمې مادې له مخې د اروپايي ټولنې اهداف دا دي:

- د ګډ بازار رامنځ ته کول،
- د سوداګرۍ په برخه کې د یوېګډې تګلارې درلودل،
- د غړو هېوادونو تر منځ ازاد تک راتګ،
- د کرنې په برخه کې د یوېګ ډې کړنلارې ټاکل،
- د لېږد رالېږد په برخه کې د یوې ګډې کړنلارې لرل،
- د ګډ بازار د پرمختګ له پاره، د غړو هېوادونو د قوانینو همغږي کول،
- د کارګرانو د ژوند د ښه کولو له پاره، د اروپا د پانګونې مرستندویه صندوق جوړول،
- د ټولنې د اقتصادي ودې له پاره، د پانګونې د یو اروپايي بانک جوړول،
- د اقتصادي کړنلارو همغږي کول او په غړو هېوادونو کې د تادیاتي بیلانس انډول،
- په بازار کې د سالمې سیالۍ د تضمین له پاره، د یو سیستم جوړول.

---

[٤٣٦] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۲ – ۲۵۳

[٤٣٧] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۲

په کال ۱۹۹۵ کې اروپايي ټولنې ته د استريا، فنلند او سويدن په راتګ سره، د ټولو غړو تر منځ د شنګن (Schengen)تړون لاسليک شو.

د غړو هېوادونو تر منځ په ازاد تک راتګ هوکړه او ژمنه وشوه چې ټولې پولې په پرته له کوم خنډ څخه، د خلکو په مخ پرانستې وي. شنګن په لوکزامبورګ کېږو وړوکی ښار دی. د اروپايي ټولنې کومه غونډه چې په دېښار کې وشوه، پرېکړه وکړه چې خپلمنځي پولې به له منځه وړي او خلک به بې ويزې يو د بل هېواد ته سفر کوي. د اروپايي ټولنې يوازې دوه هېوادونو، برتانيا او ايرلند، شنګن تړون نه دی لاسليک کړی او د تګ راتګ آسانتيا نه مني. د اروپايي ټولنې نور ټول غړي هېوادونه، شنګن مقررات مني.

اروپايي ټولنې په کال ۱۹۹۷ کې، د امستردام تړون له مخې لاندې موضوعات په خپلو لومړيتوبونو کې راوستل:

- د کار او اتباعو حقوق بايد د ټولنې د کار په سر کې راشي،
- د پانګونې، توکو، خدماتو او تګ راتګ په برخه کې، د خلاصو پولو وروستي خنډونه له منځه تللي، اوس بايد د امنيت ټينګښت ته ډېره پاملرنه وشي،
- اروپا بايد په نړيوالو مسايلو کې ځان ډېر دخيل کړي،
- نويو پرمختګونو ته په کتو، د ټولنې جوړښت بايد اغېزمن او سم شي.

په کال ۱۹۹۸ کې د EU سرمشريزې په لاکن (بلجيم) او په ۱۹۹۹ کې، په هلسنګي (فنلند) کې وشوې چې د ټولنې په پراختيايې کار پيل کړ او له ټولنې سره د ۱۲ نويو غړو د يوځای کېدو په اړه خبرې وشوې.

له پاسنيو ناستو وروسته او د ماستريخت تړون د ټاکلي مهالوېش له مخې، په کال ۱۹۹۹ کې پولي او اقتصادي ټولنه بشپړه شوه، Euroد اروپا پولي واحد وګرځېده او د ۲۰۰۲ په جنوری کې، په ډېرو غړو هېوادونو کې چلند ته وړاندې شوه.[۴۳۸]

ايروزون Eurozone هغه جغرافيايي سيمې ته ويل کېږي چې ايرو پکې چلېږي. د اروپا مرکزي بانک ECB په فرانکفورت کې دی.[۴۳۹]

د امستردام تړون پاتې موضوعات په کال ۲۰۰۰ کې د نايس Nice په غونډه کې وڅېړل شول. د دې غونډې هدف د نويو غړو له پاره د ټولنې جوړښتي اصلاحات وو.

د نايس غونډې مهم موضوعات دا وو:

- د نويو موضوعاتو د منلو يا نه منلو په وخت کې، د ټولنې د رايې اچونې په ډول کې بدلون،
- د اروپا پارلمان د غړو په شمېر کېدېروالی،
- د کمېشنرانو په شمېر کې بدلون او د اروپايي کمېسيون د مشر د واک ډېرول.

---

[۴۳۸] اروپايي ټولنه – احمد شاه اعظمی - تاند ويب پاڼه
[۴۳۹] اروپايي ټولنه – احمد شاه اعظمی - تاند ويب پاڼه

د کال ۲۰۰۱ په دسمبر کې د اروپايي ټولنې مشرانو، د اروپا د اساسي قانون اسامبله جوړه کړه چې په کال ۲۰۰۲ کې يې د فرانسې د پخواني ولسمشر والري ژېسکاردستن په مشرۍ کار پېل کړ.

د اروپا اساسي قانون په کال ۲۰۰۴ کې د ۲۵ غړو هېوادونو د مشرانو له خوا لاسيلک شو. د فرانسې او هالند خلکو دې سند ته منفي رايه ورکړه؛ ځکه نو ټولنه له يوډول سياسي بحران سره مخامخ شوه او د اروپا اساسي قانون وځنډيد.[۴۴۰]

په کال ۲۰۰۷ کې جرمني، چې د ټولنې مشري په غاړه درلوده، د ټولنېرنګېدو د مخنيوي او د روان بحران د پای ته رسولو له پاره، ډېرې هڅې وکړې. په پايله کې په دسمبر کې د پرتګال د مشرتابه په وخت کې، د ۲۷ غړو هېوادونو له خوا د (لزبن تړون) لاسليک شو چې د اروپا د اساسي قانون په مسوده کې يې لاندې بدلونونه په پام کې ونيول.

- د اروپا واحد بيرغ او ملي سرود رد شو،
- د ملي دولتونو د حاکميت او دريځونو په لوړولو ټينګار وشو او حساسيت پاروونکي خبرې ويستل شوې،
- د اروپايي ټولنې او ملي پارلمانونو د واک په ډېرولو ټينګار وشو،
- په سياسي مسايلو کې د کوچنيو هېوادونو ونډه پياوړی شوه،
- د اروپا عامه افکارو ته پاملرنه وشوه او د ټولنې په مهمو پرېکړو کې، د هغوی د نظر اخيستل اړين وګڼل شول.[۴۴۱]

د EU په هکله په لنډه ويل کېدای شي چې بنسټيز هدف يې د خلکوPeople، توکوGoods ، خدماتو Services او پيسو Money آزاد لېږد رالېږد دی. دې ټولنې نه يوازې دا چې هېوادونه په سياسي لحاظ سره نژدې کړل؛ بلکه دوی ته يې د اقتصادي ودې او پرمختګ لاره هم اواره کړه.[۴۴۲]

جوړښت: اروپايي ټولنه د هغه ارګانونو له خوا رهبري کېږي چې د پخوانيو تړونونو له مخې جوړ شوي دي:

- اروپايی شوری European Counil،
- د وزيرانو شوری،
- اروپايي کمېسيون،
- اروپايي پارلمان،
- اروپايي محکمه،
- د محکمې ځانګړې ځانګه او د اروپايي ټولنو استيناف محکمه،
- مشورتي ځانګې.

---

[۴۴۰] نړيوال سازمانونه ، محمد نظيم سمون، ص ۲۰۴
[۴۴۱] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۰۵
[۴۴۲] اروپايی ټولنه – احمد شاه اعظمی - تاند ويب پاڼه

### ۱/۴ اروپایی شوری(European Council(EC:

دا د EU د دولتونو د مشرانو شوری ده چې د هغه هېواد په غوښتنه جرگه کېږي چې د EU مشرتوب یې په غاړه وي. د اروپایي کمیسیون مشر هم په دې غونډو کې برخه اخلي.EC د روم په تړون کې نشته؛ خو د EU مشرانو کله چې په کال ۱۹۷۴ کې د لومړیځل له پاره سره ولیدل، پرېکړه وکړه چې بیا به هم سره گوري او خپلې موخې او لومړیتوبونه به ټاکي. دا شوری په کال ۱۹۹۲ کې رسمي شوه او په ۲۰۰۴ کې د EU د یو اداره کوونکي ارگان په توگه ومنل شوه. په دې شوری کې د EU ټول دولتي مشران برخه اخلي او په کال کې دوه ځله سره گوري. د EU د کورنیو بهرنیو مسایل څېړي، د EU د تگلارو ټاکل او تشریح، د بهرنی کړنلارې ټاکل، د EU دفاعي او عدلي او قضایي کړنلارو (خط مشي) روښانه کول او د EU د لومړیتوبونو غوراوی د دې شوری په دندو او واکونو کې وي. د دې شوری پرېکړه د اکثریت رایي غواړي.

EC د قانون جوړولو واک نه لري؛ خو په تېروڅو کلونو کې یې د اروپا په ډېرو بدلونونو او پرمختگونو کې رغنده ونډه لرلې.

دEC مشر په اکثریت رایه د ۲.۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي. دا مشر د شوری د غونډو راپورونه اروپایي پارلمان ته استوي.[۴۴۳]

### ۲/۴- د وزیرانو شوریCouncil of Ministers :

د وزیرانو شوری د EU د پرېکړو لوړ ارگان دی چې د غړو هېوادونو له ۱۵ وزیرانو، معمولاً بهرنیو چارو وزیرانو څخه جوړه ده او د قوانینو د تصویب مسوولیت لري. د هر هېواد وزیر د انگلیسي الفبا په ترتیب ٦ میاشتې د شوری ریاست په غاړه اخلي. د شوری رییس د غونډو د جوړېدو، د پایلو د اعلان، د قوانینو د لاسلیک او د نویو پروگرامونو د جوړولو مسوول وي. شوری په هرو شپږو میاشتو کې یوځل په بروکسل کې غیرعلني او اوږدې غونډې کوي؛ ځکه هر دولت د خپلو ملي گټو له پاره ډېر زیار باسي. په بله ژبه د وزیرانو شوری د EU هغه بنسټ دی چې په هغه کې د غړو هېوادونو گټې راساً مطرح کېږي.

که چیرته د بحث موضوع لویه او عمومي وي، د بهرنیو چارو وزیران ورځي او که موضوع ځانگړی وي، لکه کرنیزه تگلاره، بیا د کرنې وزیران برخه اخلي.[۴۴۴]

د وزیرانو شوری عمومي پرېکړې لومړی د ټولو توافق ته اړتیا لري، که داسې اتفاق نه وي بیا رایه اچول کېږي او ۷۵% موافقو رایو ته اړتیا وي. په دې شوری کې غړي هېوادونه د خپلو نفوسو په اندازه، یا په بله ژبه وزني رایي Weighted Votesلري. لوی هېوادونه لکه فرانسه، جرمني، ایتالیا او برتانیا هر یو ۱۰؛ اسپانیا ۸؛ بلجم، یونان او پرتگال هر یو ۵، سویدن او استریا هر یو ۴؛ فنلند، دنمارک او ایرلند ۳ او کمکی لوکزامبورگ

---

[۴۴۳] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۱ – ۲۵۳.
[۴۴۴] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۵۴

یوازې ۲ رایې لري. له هغه ځایه چې د هر تصویب له پاره ٦٢ رایو ته اړتیا ده، کمکي هېوادونه هم کولای شي چې په ځینو وختونو کې د پرېکړو مخه ونیسي.

د وزیرانو شوری په EU کې، د قانون جوړولو لومړنی ځای بلل کېږي. که څه هم چې ډېرې طرحې او وړاندیزونه د اروپایي کمېسیون لخوا برابرېږي؛ خو په پای کې دا د وزیرانو شوری ده چې د EU ډېر قوانین تصویبوي.

په دې توګه د اروپایي شوری لویې دندې دا دي: د قوانینو په هکله پرېکړه (کله د اروپا د پارلمان په ګډون)، له بهرنیو هېوادونو سره هوکړې، د EU کلنۍ بودجه، د غټو سیاستونو ټاکل او په EU کې د ننه د همغږی پیاوړي کول. د روم تړون له مخې دا شوری ډېر واک لري .[٤٤٥]

### ۳/۴- اروپایي کمېسیون European Commission

اروپایي کمېسیون د EU د غړو هېوادونو له هغه ۲۷ استازو څخه جوړ دی چې د هر دولت په وړاندیز؛ خو د ټولو دولتونو په توافق ټاکل کېږي او ۵ کاله کار کوي. دا کسان دویم ځل هم ټاکل کېدای شي. اروپایي کمېسیون یو استازی خپل مشر ټاکي. مشر پنځه مرستیالان لري او دا ټول باید د اروپایي پارلمان د تایید وړ وي.

د دې کمېسیون غټې دندې دا دي: د EU د مصوبو او پروګرامونو د اجرا څار، د اروپا د لویوګټو تامین، EU اهدافو ته د رسېدو له پاره د تدابیرو نیول، د اساسي قانون تطبیق، د EU د قوانینو د تطبیق څار، د ټولنې د بودجې تطبیقول او د مدیریت او همغږي چارو مخ ته وړل.[٤٤٦]

کمېسیون د EU د کابینې حیثیت لري او د اجراییه قوې په څېر، د وزیرانو شوری د پرېکړو د عملي کولو ترتیبات نیسي، د وزیرانو شوری تصاویب څاري او خپل وړاندیزونه د تایید له پاره دې شوری ته استوي.

د کمېسیون غړي د خپل کار په وخت کې، د خپل هېوادګټې نه؛ بلکه د ټولې اروپا ګټې په پام کې نیسي او په خپلو پرېکړو کې خپلواکي (استقلالیت) لري.

که چېرې کوم هېواد له قانون څخه سرغړونه وکړي، کمېسیون کولای شي چې په اروپایي محکمه کې دعوا پرې کړي. د کمېسیون غړي نه شي کولی، چې د خپل کار په موده کې نورې دندې ولري او د اروپایي پارلمان په وړاندې مسوولیت لري.

کمېسیون په اونۍ کې یوځل غونډه کوي او خپل کارونه او فعالیتونه څېړي. د وړاندیزونو تصویب، د سیاسي طرحو نهایي کول او د سیاسي لومړیتوبونو په نښه کول، د دې غونډې له اصلي موضوعاتو څخه دي.

دا کمېسیون۳۲۰۰۰ پرسونل( اداری کارکوونکی، څېړونکی، ژباړونکی او خدمات) لري او د EU ستر اجراییوی ارګان بلل کېږي.

کمېسیون له اروپایي شوری سره نږدې اړیکې لري او له شوری سره په ځینو مسایلو کې په همغږي کار کوي.[٤٤٧]

---

[٤٤٥] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۰۰-۱۹۹

[٤٤٦] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۰۹-۳۰۸

[447] Google.com

کمېسیون هر کال د خپل کار راپور اروپایي پارلمان او د غړو هېوادونو مشرانو ته لېږي. اروپایي پارلمان کولای شي چې د اروپایي کمېسیون د ړنګېدو خبره وکړي .[٤٤٨]

### ۴/۴- اروپایي پارلمان European Parliament

د اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې، د کال ۱۹۵۲ په سپتمبر کې، د خپلو غړو هېوادونو د شپږو ملي پارلمانونو له ۷۸ استازو څخهیو شوری جوړه کړه. د کال ۱۹۵۸ په مارچ کې، د اروپا اقتصادي ټولنه او د اروپا د اتومي انرژي ټولنه هم د دې شوری سره یوځای او د اروپایي پارلمانونو شوری وبلل شوه. په کال ۱۹٦۲ کې د دې شوری نوم د (اروپا پارلمان) شو.[٤٤٩]

دندې: پارلمان د EU مقننه قوه ده چې د قوانینو د جوړولو په وخت کې مشوره ورکوي او د قوانینو په تطبیق څار ساتي .

اروپایی ټولنه اوس له اووه ویشت غړو هیوادونو څخه۷۰۵ استازي او جمعا ۷۵۰۰ اداری او خدماتی کارکوونکی لري، چې د هر هېواد د نفوسو په اندول ټاکل کېږي او د اروپا د اوسیدونکو استازیتوب کوي. سره له دې چې هر هېواد په دې پارلمان کې د خپل نفوس په تناسب استازي لري؛ خو کوچنیو هېوادونو ته دا حق ورکړ شوی چې ډېر استازي ولري. په دې پارلمان کې پارلماني ډلې هم شته چې د ګډو سیاسي نظریاتو له مخې جوړېږي. لکه د بېلابېلو هېوادونو سوسیال دموکراتان او داسې نور.

سمدلاسه په دې پارلمان کې د غړو هېوادونو د استازو شمېر داسې دی:

جرمني ۹۹، فرانسه ۸۷، ایتالیا ۸۷، اسپانیا ٦۴، پولند ۵۴، هالند ۳۱، یونان ۲۵، بلجیم ۲۵، پرتګال ۲۵، چکیا ۲۴، هنګري ۲۴، سویدن ۲۲، استریا ۲۱، فنلند ۱٦، دنمارک ۱٦، ایرلند ۱۵، سلواکیا ۱۴، لیتوانیا ۱۳، لاتویا ۹، سلووینیا ۷، قبرس ٦، استونیا ٦، لوکزامبورګ ٦، بلغاریا ۱۷، رومانیا ۳۳، کروشیا ۱۲او مالتا ۵.

پخوا به دا استازي د غړو هېوادونو د پارلمانونو د ټاکنو په وخت کې، د خلکو په خوښه ټاکل کېدل؛ خو ستونزه دا وه چې کله به د یو ملي پارلمان د کار موده پای ته ورسېده، په اروپایي کمیسون به د همغه هېواد د استازي/ استازو دنده پای ته ورسېده، له همدې امله په کال ۱۹۷۹ کې پرېکړه وشوه چې د اروپایي پارلمان استازي به د غړو هېوادونو لخوا ټاکل کېږي.

د اروپا پارلمان استازي کولای شي چې د خپلو هېوادونو د پارلمانونو غړیتوب هم ولري [٤٥٠]

د اروپا پارلمان اصلي دندې:

- د قانون جوړونې په اړه مشوره او نظر ورکول او د قوانینو وضع کول،
- د ټولنې، په ځانګړې توګه د کمېسیون او شوری په کارونو څار،

---

[٤٤٨] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۲۰۷
[٤٤٩] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۴-۳۱۳
[٤٥٠] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص۳۱۳-۳۱۴ او Google.com

- د EU د بېلابېلو څانګو د هغه بودجې تصویبی ا رد چې د شورى له خوا وړاندې شوې وي.

که چېرته بودجه په پارلمان کې ۴۵ ورځې وځنډېږي، تصویب شوې ګڼل کېږي.

**د پارلمان واک:**

د اروپا پارلمان او د EU د وزیرانو شورى، لکه د یو هېواد د ملی شورى د ولسي او مشرانو جرګو حیثیت لري. د EUد نوي اساسي قانون سره سم، د پارلمان واکونه ډېر شوي او د سیاست جوړولو نژدې ټول مراکز د پارلمان تر نظر لاندې کار کوي. اوس د اروپا پارلمان د قوانینو په اړه د مشورو په څنګ کې، خپله هم قوانین جوړولای شي. د مشورې په صورت کې لومړی د اروپا کمېسیون، یوه طرحه د اروپا شورى ته او نقل یې پارلمان ته استوي. د پارلمان یوه ځانګړی کمېټه دا طرح ګوري، بیا د پارلمان غونډې ته ځي او بېرته یې کمېسیون ته استوي چې په اصل متن کې، د دوی له نظر سره سم تعدیلات راولي. کمېسیون د پارلمان د نظریاتو د منلو مکلفیت نه لري؛ خو د اروپایي محکمې، د پارلمان د نظریاتو د نه اوریدلو په صورت کې، شوي کارونه بې اعتباره اعلانولای شي. پارلمان همدا شان د EU او هغه هېوادونو په ژمنلیکونو (عهدنامه) په هکله هم نظر ورکولای شي چې د ټولنې غړیتوب نه لري. اروپایي ټولنه د سوداګریزه تړونونو او ګمرکي تعرفو څخه پرته، په نورو مسایلو کې د پارلمان مشوره اخستلای شي.

د اروپا شورى کله چې د کوم کار (بهرني سیاست یا امنیت) په اړه د پارلمان نظر غواړي، د وقت قید هم ږدي، که چېرې پارلمان په ټاکلي وخت کې نظر ورنکړي، د شورى پرېکړه نهایي بلل کېږي.

پارلمان د اروپایي شورى په لاندې پرېکړو باندې د (وتو) حق لري:

- د کوم غړي هېواد له خوا د مدني حقوقو د پرله پسې او بربنډو تر پښو لاندې کولو مجازات،
- دا لاندې درې ډوله نړیوالې هوکړې: د همکارۍ د پروګرامونو په اړه هوکړې، داسې هوکړې چې د اروپایي ټولنې له پاره مالي ګټې ولري او درېیم د ګډو پرېکړو په اړه د قوانینو د اصلاح هوکړې،
- د اروپایي شورى اجراییه طرحې او د شورى د بودجې جوړښت،
- د پارلمان د دریځ په اړه د اروپایي شورى پرېکړې.

جوړښت: د ماستریخت تړون د بیا کتنې له مخې، په قانون جوړولو سربېره د اروپایي پارلمان واکونه نور هم ډېر شول، په ځانګړي توګه د وړاندیزونو د منلو واک. د مثال په توګه پارلمان کولای شي چې له کمېسیون څخه وغواړي چې خپلې هغه طرحې چې د اروپایي ټولنې د قانون له مخې، د هر تړون د اجرا په برخه کې جوړېږي پارلمان ته واستوي. پارلمان کولای شي چې د خپلو ۲۵% غړو په غوښتنه، د اروپایي ټولنې د قوانینو د اجرأ د مدیریت د کمزورتیا او د دې قوانینو تر پښو لاندې کولو (نقض) په وخت کې، د پلټنې، څېړنې او پوښتنې کمېټه جوړه کړي.

د اروپايي ټولنې د اساسي قانون له مخې هر اوسيدونکی کولای شي چې اروپايي پارلمان ته شخصي يا ډله ييز شکايتونه ولېږي.[٤٥١]

د هغه مامور ټاکنه هم د پارلمان کار دی چې د اروپايي ټولنې د هر بنسټ يا ارګان د مديريتي کمزورتيا د څېړلو له پاره اړين وي. دا مامور چې د پارلمان د رايي له مخې غوره کېږي، د اروپايي کمېسيون د غړي په څېر وي، په خپله دنده کې خپلواکه وي او هغه وقت لېري (عزل) کېدای شي چې محکمه يې د نه وړتيا پرېکړه وکړي.[٤٥٢]

مقر: د اروپا پارلمان ځانګړی ځای نه لري، دارالانشا يې په لوګزامبورګ، غونډې يې د فرانسې په ستراسبورګ او د کمېسيون غونډې يې په بروکسل کې کېږي.

### ۵/۴ - د اروپا د عدالت محکمه European Court of Justice

اروپايي محکمه چې اوس د EU ستره قضايي مرجع شمېرل کېږي، د اروپا د ډېرو سکرو او پولادو ټولنې د ترون له مخې، د دې له پاره جوړه شوه چې د اروپايي ټولنې د بېلابېلو بنسټونو تر منځ د واک انډول (توازن) وساتی او د ټولنې د حقوقو د اجرا او څار او د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو او اروپايي ټولنې د بنسټونو تر منځ، د منځګړي او حکم دندې په غاړه لري. محکمه له اروپايي قوانينوڅخه د سرغړونکو هېوادونو دوسيې څېړي، د ټولنې د غړو هېوادونو او نورو هېوادونو او اروپايي ټولنې تر منځ، شخړې اوري او څېړي. د غړو هېوادونو محکمې هم کولای شي چې د اړتيا په وخت کې، د دې محکمې څخه مشوره او د ابهام په وخت کې د قوانينو تفسير وغواړي .[٤٥٣]

د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو نهايي محکمې، بايد د ټولنې د حقوقو د تفسير او اعتبار په شان موضوعات، اروپايي محکمې ته وړاندې کړ. دې حق اروپايي محکمې ته واک ورکړی چې هم د اساسي حقوقو او هم په ځانګړو مسايلو لکه د کورنيو بازارونو د واک او حقوقو په شان، مسايلو کې پرېکنده برخه ولري.

اروپايي محکمه د غړو هېوادونو په شمېر قاضيان لري چې د EU له خوا د ٦ کلونو له پاره ټاکل کېږي. هر هېواد کولای شي چې يو قاضي او يو مدافع وکيل محکمې ته وپېژنی. EU هغه قاضيان او مدافع وکيلان غوره بولي چې په خپلو هېوادونو کې لوړ علمي نوم ولري او د رايې په ورکولو کې په بشپړه توګه خپلواکه وي. په هرو دريو کلونو کې د اروپايي محکمې ۷ – ۸ قاضيان نوي کېږي.

د محکمې مشر د نورو قاضيانو په پټه رايه، د دريو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.

محکمه څو څانګې لري چې په هره يوه کې د لومړنيو محاکمو په شان ۳ – ۵ قاضيان کار کوي. د دې څانګو مشران د يو کال له پاره د اروپايي محکمې له خوا ټاکل کېږي.[٤٥٤]

---

[٤٥١] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۷-۳۱۵
[٤٥٢] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص۳۱۸
[٤٥٣] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۸
[٤٥٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۵۷

واکونه: اروپايي محکمه دوه ډوله واکونه لري: مشورتي او قضايي.

د محکمې مشوره هغه وخت اغېزمنه ده، چې د اروپاييټولنېيو غړی هېوادیا اروپايي کمېسيون، له بل داسې هېواد سره د تړون د لاسليک په درشل کې وي چې د اروپاييټولنې غړي نه وي او له اروپايي محکمې څخه نظر وغواړي. که محکمه ووايي چې دا تړون د EU له احکامو سره په ټکر کې دی، نه لاسليک کېږي.

په قضايي واکونو کې د اروپايي محکمې او د هېوادونو د ملي محاکمو، د اقداماتو په برخه کې توپيرونه شته. که چېرته يوه مسله مخامخ اروپايي محکمې ته راغلي وي، د محکمې پرېکړه له بشپړو څېړنو او پوښتنو وروسته نهايي وي؛ خو که مسله لومړی د کوم هېواد په خپله محکمه کې څېړل شوې او بيا اروپايي محکمې ته راجع شوې وي، داسې مسله به بېرته په همغه ملي محکمه کې په مخ وړل کېږي؛ خو د اروپايي محکمې مشوره به ورسره وي. په داسې حالاتو کې نهايي پرېکړه هم په همغه ملي محکمه کې اورول کېږي .د EU ټول غړي هېوادونه مکلف دي چې د اروپا د عدالت محکمې پرېکړې ومني.

په اروپايي محکمه کې د قضاوت په مسايلو کې د ۹ قاضيانو شتون اړين دي؛ خو په مهمو مسايلو کې ۱۵ قاضيان بايد حضور ولري.[٤٥٥]

**٦/۴ - د تميز محکمه:**

د اروپا د تميز محکمه په کال ۱۹۷۵ کې، دماستريخت تړون له لاسليک وروسته جوړه شوه او جوړښت او اساسنامه يې کټ مټ د اروپايي محکمې په شان دی. د تميز ۱۲ غړي د هغه ذواتو له ډلې څخه چې په خپلو هېوادونو کې هم ورته (مشابه) واکونه ولري، د اروپايي پارلمان په مشوره، د اروپايي شورى له خوا د ٦ کلونو له پاره ټاکل کيږي او دوه ځلې کار کولای شي . رييس د دريو کلونو له پاره د همدې ۱۲ کسانو له منځه او خوښه غوره کېږي او دوه ځلې کار کولای شي. د تميز قاضيان په خپل کار کې خپلواکي لري؛ خو له قانونه هېڅ مغاير کار نه شي کولای او د بل هېڅ بنسټ يا دولت خبره به نه مني.

د تميز محکمه د EU او اړونده ارګانونو عوايد او لګښتونه پلټي او د هر مالي کال په پای کې، اروپايي پارلمان او شورى ته، د کارونو د قانوني اجرأ په هکله راپورونه استوي. دا محکمه په حقيقت کې د اروپايي ټولنې د محاسبې څانګه ده او ځکه جوړه شوې چې په اروپايي ټولنه کې د رشوت او اداري فساد مخه ونيسي.

مقر: د تميز محکمې مقر په لوګزامبورګ کې دی.[٤٥٦]

---

[٤٥٥] سازمانهای بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۷.

[٤٥٦] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۲۰-۳۱۹

### ۷/۴ - د بشري حقونو اروپايي محکمهEuroean Court of Humen Rights :

دا دفتر د بشري حقونو د اروپايي کمېسيون د احکامو د اجرا له پاره، چې د بشري حقونو د اروپايي دفتر اساسنامه بلل کېږي، په کال ۱۹۵۰ جوړ او په ۱۹۵۸ کې په استراسبورګ (فرانسه) کې فعال شو.

جوړښت: دا محکمه د اروپايي شورى په اندازه غړي لري چې هر يو د يو هېواد استازيتوب کوي او د کار موده يې ۹ کاله ده.

اروپايي هېوادونه خپل ۳ – ۳ قاضيان د هغوى د علمي او اخلاقي صلاحيتونو له مخې، اروپايي شورى ته ورپېژني چې دوه يې بايد د همغه هېواد تابعيت ولري.

د محکمې رييس او نايب، د همدې قاضيانو له منځه او د دوى په خوښه ټاکل کېږي. په هره غونډه کې بايد کم تر کمه ۹ قاضيان حضور ولري او د هغه هېواد ملي قاضي بايد حاضر وي چې دعوى يې په محکمه کې روانه وي.

د بشري حقونو اروپايي محکمه د اړتيا په وخت کې غونډې کوي. د بشري حقونو د اروپايي کنوانسيون، د موادو د نقض او د زيان د جبران د مسايلو څېړل، د دې محکمې په واکونو کې راځي. د محکمې پرېکړې نهايي دي او د کنوانسيون لاسليک کوونکي، د اروپايي ټولنې د وزيرانو شورى تر نظر لاندې، د محکمې د پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري .[۴۵۷]

### ۸/۴ - د بشري حقونو اروپايي کمېسيون

**: Euroean Commission of Humen Rights**

ټول هغه هېوادونه چې د بشري حقونو اروپايي کنوانسيون يې لاسليک کړى، د دې کمېسيون غړي بلل کېږي. هر هېوادیو استازى لري؛ خو په کمېسيون کې د خپل هېواد د استازي په نامه نه؛ بلکه د مسلکي شخص په توګه کار کوي او د EUد وزيرانو شورى له خوا غوره کېږي.

کمېسيون د اړتيا په وخت کې غونډې کوي. د کمېسيون د نهم نمبر پروتوکل له مخې افراد، ډلې او نادولتي ټولنې هم خپلې لانجې د بشري حقونو اروپايي کمېسيون ته وړاندې کولای شي.

**فعاليتونه:** EU د شلمی پيړئ تر ټولو لويه او بريالی ټولنه، د سيمه ييز پيوستون او همغږی ښه بيلګه ده چی د اروپا د وخت د دوو لويو هيوادونو، فرانسه او جرمنی، په ګډه هڅه او مرسته جوړه او تر اوسه فعاله ده. EU دومره کار وکړ چی اوس اروپا په نړئ کی ځانګړی دريځ، ملی ورځ( د می نهمه)، ځانګړی سرود او بيرغ، ګمرکی اسانتياوی او ګد پولی واحد لری، کرنيزه تګلاری يی يو شان دی او د سوداګرئ، ژوند چاپيريال او ډيرو نورو ټولنيزو او اقتصادی چارو کی، په بشپړه مشوره په مخ روان دی.[۴۵۸]

---

[۴۵۷] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۲۱-۳۲۰

[۴۵۸] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۵۹

د EU پلازمینه: د EU کومه ځانګړې پلازمینه نه لري او بنسټونه یې په بېلابېلو اروپایي هېوادونو کې ځای په ځای دي. اروپایي کمېسیون او د وزیرانو شوری په بروکسل (بلجیم) کې دی، د اروپایي پارلمان او کمېسیونونو غونډې هم په همدې ښار کې کېږي، له همدې امله ځینې خلک بروکسل په باالقوه توګه د EU پلازمینه بولي. اروپایي پارلمان په ستراسبورګ (فرانسه) کې دی. د اروپایي شوری او د بشري حقونو اروپایي کمېسیون هم په همدې ښار کې موقعیت لري.

د اروپا عدالت محکمه او د اروپا د پارلمان دارالانشا په لوکزامبورګ کې فعال دی. د EU مرکزي بانک په فرانکفورت (جرمني) او د اروپایي پانګونې بانک په لوکزامبورګ کې کار کوي.[۴۵۹]

[۴۵۹] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۲۲-۳۲۱

## آسیایي ټولنې:

### ۱ – د جنوبی اسیا د سیمه ییزی همکاری ټولنه- South Asia Association for Regional Coorporations (SAARC)

د بنګله دیش ولسمشر ضیا الرحمن، د تېرې پېړۍ په اویایمه لسیزه کې، د سویلي اسیا د سیمه ییزه همکارۍ ټولنې د جوړېدو وړاندیز وکړ، چې په کال ۱۹۸۳ کې د کولمبو (سریلانکا) په غونډه کې د هند، پاکستان او سریلانکا له تاوده هرکلي سره مخامخ شو. د ۱۹۸۵ د دسمبر په اتمه، په ډاکه کې د جنوبي آسیا ۷ هېوادونو (هندوستان، بنګله دیش، پاکستان، بوتان، نیپال، سریلانکا او مالدیف) د سویلي آسیا د سیمه ییزې همکارۍ ټولنه یا سارک SAARC جوړه کړه.

د SAARC د جوړېدو په اعلامیه کې راغلي و، چې دا اوه هېوادونه په لاندې پنځو برخو کې ګډ کار ته چمتو دي: د کرنې او کلیوالي سیمو پراختیا؛ اړېکې یا مخابرات؛ علوم، تکنالوژي او هوا پېژندنه او روغتیایي خدمات؛ ترانسپورت او د انساني سرچینو پیاوړتیا.

د کال ۲۰۰۷ په اپریل کې، د SAARC په څوارلسمه غونډه کې، افغانستان د هند د کال ۲۰۰۵ په وړاندیز، د ټولنې د اتم غړي په توګه ومنل شو. ایران، چین، استرالیا، میانمار (برما)، ایران، اروپایي ټولنه، جاپان، جنوبي کوریا، موریشیس، امریکا متحده ایالات، ایران او چین د SAARC څارونکي (ناظر) غړي دي[460].

اهداف: SAARC په جنوبي آسیا کې یوه اقتصادي او سیاسي ټولنه ده چې د دې اهدافو له پاره کار کوي:

- د جنوبي آسیا د خلکو د ژوندانه کیفي ښوالی او هوساینه،
- په سیمه کې د اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي پرمختګونو ګړندی کول او د دې خلکو د با عزته ژوندانه د امکاناتو برابرول،
- د SAARC هېوادونو تر منځ د عمومي ځان بسیاینې پیاوړتیا،
- د SAARC هېوادونو تر منځ د متقابله پوهاوي او اعتماد غښتلي کوي،
- په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، علمی او تخنیکي برخو کې، د ګډ کار او همغږي پیاوړتیا،
- له نورو هغو هېوادونو او سیمه ییزو یا نړیوالو ټولنو سره د ګډ کار هڅونه چې ورته اهداف لري .[٤٦١]

SAARC په کورنیو چارو کې د نه مداخلې او یو د بل د ځمکني تمامیت، سیاسي خپلواکي او ملي واکمنۍ په پام کې نیولو سره، د ټولنې په چوکاټ کې همکاري پیاوړي کوي؛ خو دا هیلې له بده مرغه په عمل کې ډېرې نه دي پوره شوي او داسې ستونزې لکه د هند او پاکستان اوږده لانجه او له افغانستان سره د پاکستان اوږده دښمني، د SAARC د اهدافو د تحقق مخه نیولې ده .[٤٦٢]

---

460 نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۳-۲۲۲

٤٦١ سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۷۳ – ۲۷۵

٤٦٢ پوهاند محمد بشیر دودیال، د جنوبی اسیا د همکارۍ سازمان، انترنت

جوړښت: سرمشریزه، د وزیرانو شوری، د بهرنیو چارو د استازو دایمي کمیټه، د پلان جوړونې کمیټه، تخنیکي کمیټه او دارالانشا د SAARC اداره کوونکي ارګانونه دي:

سرمشریزه: دا د SAARC تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان دی. د سرمشریزې غونډې په کال کې یو ځلې په یو غړي هېواد کې جوړېږي.

د وزیرانو شوری: دا د غړو هېوادونو، د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډه ده چې په کال کې دوه ځلې (او یا ډېر) جوړېږي او دنده لري چې د ټولنې تګلارې او کړنلارې وټاکي، د سیمه ییزه ګډ کار پرمختګ وڅېړي، د ګډ کار له پاره نوي طرحې وړاندې کړي او د SAARC د اهدافو د تحقق له پاره کار وکړي.

دایمي کمیټه: دا د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو کمیټه ده، چې پروژې د سرمشریزي د تصویب له پاره چمتو کوي، د SAARC کارونه څاري او د ګډو کارونو د پرمختګونو د همغږي تر څنګ، د هغو په هکله سرمشریزې او وزیرانو شوری ته راپورونه چموتو کوي.

تخنیکي کمیټه: دا کمیټه د SAARC د پروګرامونو د تطبیق، همغږي او څار دنده په غاړه لري.

دارالانشا: د SAARC دارالانشا د کال ۱۹۸۷ د جنوري په ٦، په کتمندو (نیپال) کې جوړه شوه او دنده لري چې د غړو هېوادونو د استازو څوګونه غونډې جوړې کړي، د SAARC د کارونو په انسجام کې برخه واخلي او د SAARC هېوادونو تر منځ، او د دې هېوادونو او نورو نړېوالو ټولنو تر منځ د اړیکو یو کانال واوسي.

دارالانشا یو سرمنشي، اته رییسان او یو شمېر مامورین لري. سرمنشي د SAARC د وزیرانو شوری له خوا د انګلیسي الفبا په ترتیب، د غړو هېوادونو څخه غوره بلل کېږي او اته رییسان د غړو هېوادونو په وړاندیز، د SAARC د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي .[٤٦٣]

فعالیتونه: SAARC له جوړښته تر اوسه، د غړو هېوادونو تر منځ د ګټورو اقتصادي اړیکو د جوړولو او پراختیا له پاره ډېر کار کړی دی. SAARC د ستونزو د حل په لارو چارو غور کوي او هڅه یې دا ده چې داسې پرېکړې وکړي، چې له دوی سره د اقتصاد په چټک پرمختګ کې مرسته وکړي او د SAARC هېوادونو تر منځ اقتصادي واټن کم کاندي. د SAARC هېوادونه خپلمنځي همکاري او همغږی ورځ په ورځ پراخه کېږي. د دوی ډېرې هڅې د ټکنالوژئ رواجول، د اقتصادي پرمختګ چټک کول، د معلوماتو خپرول، د ټولنیزو ستونزو له منځه وړل او د نشه یي توکو او ترهګری سره مبارزه ده او سوداګرئ او صادراتو او وارداتو ته لمړیتوب ورکول کېږي.

په ۱۹۹۱ کې SAARC په سیمه کې د تولیداتو، خدماتو او سوداګرئ څېړنه بشپړه کړه او له همدې امله په اقتصادي او سوداګریزو برخو کې د اغېزمن ګډ کار کمیټه جوړه شوه.

سره له دې چې تر دې وخته SAARC په سرمشریزه کې، په آزاده سوداګرئ خبرې شوې وې او هند له نیپال، بوتان، سریلانکا او مالدیف او حتی بنګله دیش او پاکستان سره څو ترونونه لاسلیک کړي وو؛ خو ځینو سیاسي

---

[٤٦٣] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۷۳ – ۲۷۶.

او اقتصادي ستونزو، د دې ترونونو د ښه تطبیق مخه ډب کوله. په کال ۱۹۹۳ یا دSAARC په اوومه سرمشریزه کې په سوداګرۍ کې د ګمرکي تعرفو د ورو – ورو کمېدو تړون لاسلیک شو.

په اتمه سرمشریزه (۱۹۹۵) کې د SAARC هېوادونو پراختیایي صندوق جوړ شو. په کال ۲۰۰۲ کې په جنوبي آسیا کې د لوړې د ورکاوي خپلواکه کمیسیون منظور شو، چې خوراکي توکو ته د جنوبي آسیا هېوادونو د خلکو بیړنۍ اړتیاوې وڅېړي، او د خوراکي توکو د زیرمو په جوړولو کې مرسته وکړي .

د SAARC په دولسمه سرمشریزه (اسلام آباد) ۲۰۰۴ کې، د جنوبي آسیا د آزادې سوداګرۍ تړون یا SAPTA لاسلیک شو، چې په ۲۰۰٦ کې اجرایي وګرځېد او هوکړه وشوه چې تر کال ۲۰۰۷ پورې به، ګمرکي محصول ۲۰% ته ټیټ شي. غړو هېوادونو په کال ۲۰۰۵ کې د پیسو د یو صندوق تړون هم لاسلیک کړ، او په دارالانشا کې یې یوه مالي څانګه پرانسته. په هغه غونډه کې دا پرېکړه هم وشوه چې د کال ۲۰۱٦ تر پېله پورې به، د SAARC هېوادونو ټول صادرات له ګمرکي محصوله معاف شي؛ خو د هند او پاکستان، افغانستان او پاکستان، پاکستان او بنګله دیش او هند او سریلانکا تر منځ سیاسي ستونزو او یو شمېر نور عواملو، د دې ارمان د پوره کېدو او د دې هېوادونو د ګړندې پرمختګ او د خلکو د هوسانې مخه نیولې ده.[٤٦٤]

## ۲ - د اقتصادي همکاریو ټولنه

**Economic Cooperation Organization (ECO)**

د اقتصادي همکاریو ټولنه، په کال ۱۹۸۵ کې د ایران، پاکستان او ترکیې تر منځ د اقتصادي، تخنیکي او کلتوري پرمختګ، سیمه ییزې پراختیا او د خلکو د هوسانې له پاره جوړه او د هغه ټولنې ځای ونیو چې همدې دریو هېوادونو په ۱۹٦۴ کې، د سیمه ییزې پراختیا ټولنې Regional Cooperation for Developmentیا RCD په نامه، په استانبول کی جوړه کړې وه.

RCD په خپل وخت کې د دې هېوادونو د سیمه ییزې پراختیا او د سولې او ثبات په برخه کې، په سیمه ییزه همکارۍ ټینګار کاوه .[٤٦٥]

تاریخي، فرهنګي، جغرافیایي، مذهبي او اقتصادي ګټې او اړیکې، د RCD د جوړېدو له اصلي عواملو څخه باله شی. RCD په ۱۹٦۴ – ۱۹۷۹ کلونو کې فعاله وه؛ خو په خپلو دندو کې د لږ بریالیتوب له امله، هغه هیلو ته ونه رسېده چې په لومړي سر کې په پام نیول شوې وې. په ایران کې د اسلامي انقلاب بري دا ټولنه له رکود سره مخامخ کړه او ورو – ورو ړنګه شوه. کتابونه لیکي سره له دې چې RCD له منځه لاړه؛ خو ایران، ترکیی او پاکستان په یو ډول نه، یو ډوله له یو بل سره اړیکې پاللي. دې اړیکو په کال ۱۹۸۵ کې د ECO جوړېدو ته لار پرانسته.[٤٦٦]

---

[٤٦٤] ویکیپیدیا- پښتو

[٤٦٥] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص۱۴۲

[٤٦٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۶۸ ـ ۲۶۹.

د ECO د جوړېدو په درشل کې دې پراخه سیمې دا ځانګړتیاوې درلودې:

- له لویو هېوادونو هند، روسیې او چین سره ګاونډیتوب،
- له اروپا او فارس (عربي) خلیج سره ګډې پولې،
- د فارس (عربي) خلیج او هند سمندر، تور سمندرګي او مدیترانې اوبو ته لاسرسی،
- طبیعي شتمنۍ لکه تېل او ګاز،
- ۷۰۰۰۰۰۰ کیلومتر مربع پراخه خاوره،
- ۹۵%مسلمان ولسونه،
- ډېر مهم جغرافیایي موقعیتونه،

د ECO د غړو تر منځ اړیکې، په لومړي سر کې د بهرنیو چارو د مرستیالو وزیرانو په کچه وې؛ خو په کال ۱۹۷٦ کې دا اړیکې د بهرنیو چارو وزیرانو ته لوړې شوې.

غړیتوب: د ECO لومړي دری غړي هېوادونه درلودل؛ خو وروسته دا شمېر لوړ شو. د ازمیر( ترکیه) ترون د ۳٦ مادې له مخې، د سیمې هر هېواد د غړیتوب غوښتنلیک، د دارالانشا له لارې د ECO وزیرانو شورى ته استوي. د هر نوی غړي منل د آراوو اتفاق غواړي. اوس دا هېوادونه د ECO غړي دي: افغانستان، ایران، آذربایجان، ترکمنستان، پاکستان، قرغزستان، قزاقستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکیه.[٤٦٧]

اهداف: د ازمیر غونډې (۱۹۷۷) د ECO له پاره دا اهداف په پام کې ونیول چې د دې ټولنې په اساسنامه کې مسجل شوي دي:

- د غړو هېوادونو پرله پسې اقتصادي پرمختیا او پراختیا،
- یو د بل د بازارونو په مرسته، د سوداګرۍ پراختیا او پرمختیا،
- د نړېوالې سوداګرې له هڅونې سره مرسته، یو د بل بازارونو ته آسانه لاسرسی، د نړۍ له اقتصاد سره د غړو هېوادونو د اقتصادونو تدریجي نښلول، د پرله پسې اقتصادي پرمختیا او د خلکو د ژوندانه د ښه کولو له پاره، د غړو هېوادونو تر منځ د مناسبو شرایطو هڅول،
- د ورورګلویزه او معنوي اړیکو او فرهنګي پیوستون پیاوړتیا، چې د دې پراخه سیمې خلک، په ټولنیزه او فرهنګي لارو سره تړي،
- د لویو لارو او ترانسپورتي بنسټونو د پراختیا په مرسته، له نورې نړۍ او یو بل سره د ECO غړو هېوادونو پیوستون،
- د اقتصاد لیبرال کول،
- له نورو سیمه ییزه او نړیوالو ټولنو سره روغې دوه اړخیزه اړیکې .[٤٦٨]

---

[٤٦٧] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص۲۷۲
[٤٦٨] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری،، ص ۳۵۱-۳۵۰

ECO خپل دا کارونه د ۷ کمیټو له لارې، د سرمنشي او د هغه مرستیالانو په مشرتابه سر ته رسوي. سوداګري او پانګونه؛ وړل – راوړل او اړیکې؛ انرژي، کانونه او ژوند چاپېریال؛ کرنه، صنعت او سیلانیان؛ بشري سرچینې او اوږد مهاله پرمختګ؛ احصائیه او اقتصادي او پروژوي څېړنې او نړېوالې اړیکې .[٤٦٩]

د ECO غونډې: د ECO په لومړنۍ سرمشریزه غونډه کې چې په کال ۱۹۹۲ کې، په تهران (ایران) کې جوړه شوه، د نویو هېوادونو د غړیتوب د منلو تر څنګ دا پرېکړې هم وشوې:

- د ECO پراختیا او پرمختیا،
- د جمو او کشمیر د خلکو د حقونو دفاع،
- د افغانستان د کورنۍ جګړې، د پای ته رسولو سیاسي حللار.
- غړو هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ اسانتیاوې،
- د کرنې، انرژي، صنایعو او ترانسپورت پراختیا.
- د غړو هېوادونو د بهرني سیاستونو همغږي کول،
- د غړو هېوادونو د دفاعي سیاستونو همغږي کول،
- اقتصادي همکاري،
- د غړو تر منځ د ګډ بازار جوړول،
- په صنعتي چارو کې همغږي،
- په ټولنیزو او فرهنګي چارو کې همکاري.[٤٧٠]

دویمه سرمشریزه په کال ۱۹۹۳ کې د ۱۰ غړو په ګډون په استانبول (ترکیه) کې وشوه .د سوداګرۍ، انرژي، کرنې، سیلانیانو او چاپېریال ساتنې پراختیا او همدا راز د غړو هېوادونو له خوا، د اسلامي بانک د جوړېدو ملاتړ او له نورو ټولنو سره د نږدې اړیکو ټینګول؛ د دې غونډې د بحث مهم موضوعات وو.

د ECO درېیمه غونډه په کال ۱۹۹۳ په اسلام آباد (پاکستان) کې جوړه او په لاندې موضوعاتو هوکړه وشوه:

- په ترکیه کې د سوداګرۍ او پراختیا بانک پرانیستل،
- د ECO بیمې جوړول،
- د سوداګریزه ترانزیت تړون لاسلیک،
- د ECO د فرهنګي او علمي څانګو جوړول،
- د ملګرو ملتونو د پراختیا (UNDP) او د نشه یي توکو د مخنیوي (UNCDP) ټولنو سره د تړونونو لاسلیک،
- د غړو هېوادونو تر منځ د ویزې آسانتیا.

د ECO څلورمه غونډه په کال ۱۹۹٦ کې په اشک آباد (ترکمنستان) کې جوړه شوه.

---

[٤٦٩] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۶۹-۲۶۸

[٤٧٠] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص۲۲۵

د ECO په پنځه غونډه کې، چې په کال ۱۹۹۸ کې په الماتا (قزاقستان) کې وشوه، د ECO د ښوونیزې موسسې کړنلاره تصویب او لاسلیک کړه.

د ECO شپږمه غونډه په کال ۲۰۰۰ کې، په تهران (ایران) کې وشوه. په دې غونډه کې غړو هېوادونو یو ځل بیا په خپلو کې په اقتصادي، علمي، کلتوري او سیاسي همکاریو ټینګار وکړ.

د ECO اوومه غونډه په کال ۲۰۰۴ کې، په دوشنبه (تاجکستان) کې جوړه شوه چې د ECO د ازادې سوداګرۍ د سیمې د جوړولو هوکړه پکې لاسلیک شوه.

د ECO اتمه غونډه په کال ۲۰۰٦ کې، په باکو (آذربایجان) کې جوړه او په بېلابېلو برخو کې په همکاریو ټینګار وشو.

جوړښت: ECO د (ازمیر ترون) له مخې د وزیرانو شورى، د دایمي استازو شورى، د سیمه ییزه پروګرام جوړولو شورى، دارالانشا او ۷ تخصصي کمېټې لري.

د وزیرانو شورى: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو شورى، چې په کال کې یو ځل په یو هېواد کې غونډه کوي. د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه پرته، نور وزیران هم په دې غونډو کې برخه اخستلای شي. د ECO په کورنې جوړښت او د کورنیو دندو په اصولو، په لویو تګلارو او پرېکړو بحث او د نویو غړو منل د وزیرانو شورى له واکونو څخه دي.

دایمي استازو شورى: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزارتونو لوړپوړي چارواکي او په تهران کې د ECO هېوادونو سفیران، د دې شورى غړي دي چې د ECO د دایمي ارګان په توګه، د وزیرانو شورى د غونډو تر منځ، د ټولنې تګلارې تطبیقوي، کړنلارې او سیاستونه ټاکي، د وزیرانو شورى د پرېکړو د تطبیقو مسوولیت په غاړه لري او په تهران کې ورځنې چارې مخ ته وړي.

د دایمي استازو شورى مشري، په انګلیسي ترتیب سره، ٦ میاشتې په نوبت هر هغه غړي هېواد ته سپارل کېږي چې په تهران کې دیپلوماتیکه حضور لري.[٤٧١]

د سیمه ییز پروګرام جوړونې شورى: دا شورى د غړو هېوادونو د پلان جوړونې د ادارتو د مشرانو، یا واکمنو استازو څخه جوړه ده او د غړو هېوادونو د عملي پروګرامونو، عمراني طرحو او تولیدي چارو د کتنې (ارزیابي) مسوولیت په غاړه لري. د سیمه ییزې پروګرام جوړونې شورى د غړو هېوادونو ګدو طرحو، اوږدمهاله ترونونو او د عمراني پروګرامونو د همغږۍ په برخه کې، راپورونه لیکي او د پرېکړو له پاره یې د وزیرانو شورى ته استوي.

تخصصي کمېټې: دا کمېټې چې د غړو هېوادونو له استازو جوړې دي، دنده لري چې ECO هېوادونه د کارونو پرمختګ نظر وساتي. RCD په لومړي سر کې ۱۷ کمېټې درلودې؛ خو د ECO په وخت کې دا شمېر ۸ ته کم شو:

- اقتصادي او سوداګریزه همکاریو کمېټه،

---

[٤٧١] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۵۳

- د صنعتي او فني همکاريو کمېټه،
- د وړولو او راوړلو او اړيکو کمېټه،
- د کرنيزه چارو کمېټه،
- د زده کړو او علمي او فرهنګي چارو کمېټه،
- د انرژئ کمېټه،
- د بنسټيزه چارو (لکه روغتيا او ژوند چاپېريال) کمېټه،
- له نشه يي توکو سره د مبارزې کمېټه.

دارالانشا: دارالانشا د غړو هېوادونو د بېلابېلو بنسټونو تر منځ اړيکې جوړوي ECO . يو سرمنشي او يو شمېر اداري کارکوونکي لري. پخوا د ECO سرمنشي د دريو بنسټ ايښودونکو هېوادونو (ايران، ترکيه او پاکستان) له خوا پيژندل کيده دنده کېده چې د وزيرانو شورى به د ۴ کلونو له پاره ومانه؛ خو په کال ۲۰۰۰ کې پرېکړه وشوه چې نور هېوادونه هم بايد فعال شي او د الفبا په ترتيب د ECO مشرتابه د دوو کلونو له پاره په غاړه واخل.[۴۷۲]

تخصصي بنسټونه:

الف – فرهنګي ټولنه: د ECO د فرهنګي ټولنې مرکز په تهران (ايران) کې دی. دا ټولنه په سيمه کې د خلکو په ډېر ګډون (مشارکت) او همکارئ کار کوي او هغه پوهان، روڼ اندي، د هنر خاوندان او نور کسان ګډ کار او زيار ته بولي چې په يو ډول نه، يو ډول د سيمې د ګډ ميراث په ساتلو او سپړلو بوخت دی.

ب – علمي بنسټ: دا بنسټ په اسلام آباد (پاکستان) کې دی او په دې کارونو لګيا دي: د متخصصو او مسلکي کادرونو روزنه، د څېړنيزو موسساتو د علمي وړتياوو جګول، ټکنالوژي او پرمختايي هېواونو ته د هغوی د لېږد آسانتياوې، د علمي اطلاعاتو تبادله او داسې نور.

ج – د زده کړو موسسه: د ECO د زده کړو موسسه په انقره (ترکيه) کې ده او غواړي چې يو د بل پوهنتونونو ته د استادانو او محصلينو د استولو، يو بل ته د څېړنيزو او فرهنګي بورسونو د ورکولو او د ګډو تعليمي موسسو او پوهنتونونو د جوړولو په برخه کې مرسته وکړي.

سيمه ييز موسسات: د اقتصادي پرمختيا له پاره د ECO بنسټيزه موسسې دا دي:

د ECO د سوداګرئ او صنايعو خونه، د بيړۍ چلونې ګډ شرکت، د ECO ملکي هوايي چلند، د ECO د لوړو زده کړو موسسه، د ECO بيمه، د ECO فرهنګي موسسه، د ECO د پانګونې او سوداګرئ بانک او د ECO د ځوانانو بنسټ چې هر کال خپل کاري راپورونه د ECO دارالانشا ته استوي.

مقر: د ECO اصلي دفتر په تهران (ايران) کې دی.

ECO او افغانستان: افغانستان په کال ۱۹۹۲ کی د ECO غړيتوب ترلاسه کړی دی.

---

[۴۷۲] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ۲۷۱-۲۷۰

## ۳ -- د جنوب ختیځې آسیا د ستندرد سیمه ییزه ټولنه

**South Asian Regional Standards Organization (SARSO)**

د کال ۲۰۰۸ د اگست په ۳، د سارک غړو هېوادونو (افغانستان، بنگله دیش، پاکستان، هند، سریلانکا، نیپال، بوتان او مالدیپ) د بهرنیو چارو وزیرانو، په کولمبو (سریلانکا) کې د جنوب ختیځې آسیا د ستندرد سیمه ییزه ټولنې د جوړېدو تړون لاسلیک کړ.

SARSO غواړي چې د غړو هېوادونو تر منځ، د ملي ستندردونو د همغږۍ او یووالي په برخه کې هڅې کړندۍ کړي، په سیمه کې د سوداگرۍ په مخکې پراته تخنیکي خنډونه لیرې کړي، په سیمه کې سوداگریزه خدماتي اسانتیاوې برابرې او تولیداتو ته په نړیوالو مارکیټونو کې ځای ومومي.

د SARSO غړو هېوادونو ژمنه کړې چې خپل فعالیتونه د پاسنیو تگلارو په چوکاټ کې منظم کړي او د ستندردونو د همغږي په برخه کې اوسنی ستونزې له منځ یوسي. په دې تگلارو کې په لاندې مسایلو خبرې ورانې دي:

آزاده سوداگري، گمرکي اسانتیاوې، ځمکني ترانزیت، د متقابله همکاریو په سیوري کې د سوداگریزه اړتیاوو لیرې کول، د مالي مرستو ورکړه، د داسې ستندردونو د جوړولو له پاره گډ کار چې د سارک ټول غړي هېوادونه یې تطبیق کاندي.

SARSO په عین حال کې دا خبره مني چې غړي هېوادونه باید له هغه نړیوالو ستندردونو څخه چې ISO (د ستندرد جوړولو نړیواله اداره) او د IEC (د برېښنایي تخنیک نړیوال کمېسیون) جوړ کړي کار واخلي SARSO .د غړو هېوادونو د ستندردونو د متخصصینو تر منځ، د سیمینارونو او غونډو له لارې، د وړتیاوو د جوړولو اسانتیاوې ډېروي او د ستندردونو د تطبیق لارې چارې مومي.

جوړښت:

- مشرتابه شوریGoverning Board ،
- د تخنیکي انسجام بوردTechnical Management Board ،
- عمومي سرمنشيDirector General ،
- دارالانشاSecretariat.

SARSO دنده لري چې خپله کلنۍ بودجه خپله برابره کړي، د ټولنې اساسنامه، قوانین او نور بنسټیزه اسناد ووېشي چې ټول غړي هېوادونه یې، د مرعي الاجرا حقوقي اسنادو په توگه مني او د SAARC له نورو بنسټونو سره ښې اړیکې وساتي.

د SARSO بودجه له دې سرچینو څخه برابرېږي:

- د غړو هېوادونو مرسته،
- حق العضویتونه چې د SARSO مشرتابه شوری له خوا ټاکل کېږي،

- هغه بهرنۍ مرستې چې د SAARC له اهدافو سره په ټکر کې نه وي .[٤٧٣]

**۴ -- د عربو د همکاریو شوری(Arab Cooperation Council (ACC**

دا شوری د کال ۱۹۸۹ په فبروري کې د جنوبي یمن[٤٧٤]، عراق، اردن او مصر له خوا، د خلیج همکاریو شوری(The Gulf Cooperation Council (GCC ، د هغه پرېکړې له مخې ځکه جوړه شوه چې دا هیوادونه له GCC څخه بهر پاته شول. دوی غوښتل چې په خپلو منځونو کې د اقتصادي پرمختګ او همکارۍ هیلې پیاوړې کړي. مصر هم غوښتل چې له اسراییلو سره د سولې د تړون په وجه، څو کلن جلاوالي پرېږدي او بېرته د عربي سیاست ډګر ته ننوځي.

د ACC غړو هېوادونو د GCC په خلاف، چې د غړیتوب له پاره یې سخت شرایط منظور کړي وو، په ټولو عربي هېوادونو غږ وکړ چې د ACC غړیتوب ترلاسه کولای شي، ACCپه خپل لنډ عمر کې د ولسمشرانو یا د بهرنیو چارو د وزیرانو په سویه، ۱۷ غونډې جوړې کړې. د دې ټولنې کاري ډلو هم په ۱۹۸۹ کې څو ځلې سره لیدلي وو.

د کال ۱۹۹۰ د اګست په دوهمه عراق په کویټ یرغل وکړ. له دې یرغل څخه وروسته بحران د ACC شتون له پوښتنې سره مخامخ کړ. دې هېوادونو په رښتیا هم چې جغرافیایي ګټې نه درلودې او د (عربي هېوادونو) له نامه پرته، د هر غړي هېواد ځانګړی پېژندګلوي تته ښکارېده. د مصر او عراق تر منځ تاوتریخوالي ستونزه نوره هم ژوره کړه. په کویټ باندې د عراق له یرغل څخه وروسته، مصر د عراق یرغل په کلکه محکوم کړ، سعودي عربستان ته یې سرتیري واستول او له هغه ائتلاف سره یو ځای شو چې په پای کې یې د کویټ خپلواکۍ ته لار پرانسته. په کویټ باندې د عراق له یرغل څخه وروسته، د مصر ولسمشر ویلي و چې د ACC امنیتي اجندا صدام حسین جوړه کړې وه او غوښتل یې چې د کویټ په نیولو کې د مصر مرسته ترلاسه کړي.

د کویټ د نیولو په ورځو کې، دارالانشا د ACC راتلونکي غونډې وځنډولې. له همدې وروسته شوری عملاً پای ته ورسیده؛ خو نوم یې لا ژوندی و مصر په کال ۱۹۹۴ کې، په دې شوری کې خپل غړیتوب په رسمي توګه وځنډاوه[٤٧٥]

---

[٤٧٣] ستندرد، دری میاشتنی مجله، حوت۱۳۸۹ هه ش، ص ۲۴-۲۳

[٤٧٤] په هغه وخت کې دوه یمنونه وو: شمالی یمن یا د یمن جمهوریت چې صنعا یې پلازمینه و او بل دموکراتیک یمن چې پلازمینه یې (عدن) نومېده. دا دواړه هېوادونه وروسته سره یو ځای شول او واحد یمن یې جوړ کړ

[475] https://en.wikipedia.org/wiki/Arab_Cooperation_Council

## ۵ : د شانګهای د همکارئ ټولنه

**:Shanghai Cooperation Organization (SCO)**

په کال ۱۹۹٦ کې چین، روسیې، قزاقستان، قرغېزستان او تاجکستان په خپلو سرحدي سیمو کې د باور جوړونې او خپلمنځي ډاډ د پیاوړتیا له پاره، یو تړون لاسلیک کړ چې شانګهای ۵ نومید.

په شانګهای (چین) کې داسې یو تړون په لومړي سر کې په کال ۱۹۹۰ کې، د شوروي اتحاد او د چین ولسي جمهوریت ترمنځ په دې هیله لاسلیک شوی و، چې خپلمنځي ډاډ پیاوړی شي او دواړه خواوې په خپلو ګډو پولو کې سرتیري او تاسیسات کم کاندي.

دې هېوادونو په کال ۱۹۹۷ کې، په مسکو کې بله غونډه وکړه او په خپلو پولو کې یی د پوځیانو د کمولو هوکړه هم لاسلیک کړه. په کال ۲۰۰۱ کې منګولیا او ازبکستان له شانګهای ۵ سره یوځای شول او ټولنه (د شانګهای د همکاریو ټولنه) ونومول شوه. په حقیقت کې په افغانستان کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ پیاوړي کېدو، د افغانستان ګاونډي هېوادونه تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان وویرول، چې ګواکې طالبان د دوی تر پولو ورسیدل. همغه و چې له چین او روسیی سره نژدې شول، او ټولو د دې تړون په لاسلیک سره په حقیقت کې یو شان غبرګون وښود.[٤٧٦]

چین، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان او قرغېزستان د شانګهای تړون بنسټګر، منګولیا (۲۰۰۴)، هند، ایران، پاکستان (۲۰۰۵)، افغانستان (۲۰۱۲)، منګولیا او د آسیا د جنوب لویدیځو ولسونو ټولنه یا ASIAN د SCO څارونکي غړي دي او بېلاروس، ترکیه او سریلانکا یې په خبرو کې برخه اخلي. SCO د نړۍ ٦١% خاوره نیولې او د نړۍ ۲۵% نفوس په دې پراخه سیمه کې اوسي.[٤٧٧]

اهداف: په لومړي سر کې داسې فکر کېده چې روسیه او چین غواړي ختیځ لور ته، د ناټو د پراخېدو مخه ډب کاندي؛ خو د سپتمبر د ۱۱ پېښې او د القاعده او افغاني طالبانو پیاوړتیا، په شانګهای کې ترهګریزه ضد روحیه پیاوړې کړه.

SCO په طبیعي توګه هغه وخت جوړه شوه چې په افغانستان کې، د طالبانو د اسلامي امارت او مخالفې شمالي ټلوالې (د افغانستان اسلامي جمعیت، نظار شوری، د افغانستان ملي اسلامي جنبش، د افغانستان د ملي وحدت تنظیم او ثو ډلګی)، د نښتو لمن منځنی آسیا ته نژدې شوه او روسیې په خپلو جنوبي پولو کې د ناامنۍ احساس وکاوه. دا د روسیې او چین له پاره مناسب وخت و چې د پېښدونکي ګواښ په مقابل کې سره یو موټی شي، د منځنۍ آسیا نوي خپلواکه شوي هېوادونه، له ځان سره یو ځای کړي او وړ غبرګون وښیي.

د SCO لیکلی هدفونه دا دی:

- په سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او امنیتي چارو کې د همکاري پیاوړتیا،
- د غیرقانوني کړنو، ترهګرۍ، بېلتون پالنې او د غیرقانوني کډوالۍ په ضد ګډه مبارزه،

---

[٤٧٦] شانګهای تړون، د غریب الله هلال مقاله، انترنت

[٤٧٧] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۸۰

- د هېوادونو واکمنۍ ته درناوی،
- د بالستېک ضد توغندیو د تړون رعایت،
- د سیمې امنیت[۴۷۸]

جوړښت:

– سرمشریزه: د SCO تصمیم نیوونکې شوری د هېوادونو د مشرانو جرگه ده، چې په کال کې یو ځل، د یو غړي هېواد په پلازمینه کې جوړېږي او د ټولنې لیدلوري او تگلارې ټاکي.

- د لومړیو وزیرانو شوری: له سرمشریزی وروسته، د SCO دوهمه ځواکمنه شوری، چې په کال کې یو ځل غونډه کوي. د همکاریو تگلارې جوړوي، د ټولنې کورني مسایل څېړي، بودجه ټاکي، مالي مسایل گوري او له نورو ټولنو سره د SCO په اړیکو پرېکړې کوي.

- نورې غونډې: په SCO کې د غړو هېوادونو د ملي شوری گانو د مشرانو، د بهرنیو چارو وزیرانو، د ملي دفاع وزیرانو او د ملي امنیت د مشرانو د کیناستو او خبرو مهم میکانیزم هم شته.

- دارالانشا، بیجینگ (چین)،

- د ترهگرۍ په ضد د مبارزې سیمه ییز مرکز، تاشکند (ازبکستان).

د SCO د دارالانشا مشر یا سرمنشي او د ترهگري په ضد د مبارزې د سیمه ییز مرکز مشر، د دې ټولنې د سرمشریزې له خوا د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي.[۴۷۹]

فعالیتونه: په کال ۱۹۹۸ کې د غړو هېوادونو مشرانو له نړیوالې ترهگرۍ، د نشه یي توکو د قاچاق، غیرقانوني سوداگرۍ او پلاني جرایمو سره په گډه مبارزه هوکړه وکړه او پرېکړه وشوه، چې د سیمه ییزه سوداگرۍ او پانگونو د پراختیا، او د لارو او نللیکو د جوړولو په برخه کې به گډ کار کوي، او په دې برخه کې یې د شلو کلونو مرستو یو تړون لاسلیک کړ.[۴۸۰]

په کال ۲۰۰۰ کې د SCO کلنۍ غونډې په دوشنبه کې، پرېکړه وکړه چې یو د بل په کورنیو چارو کې په لاس نه وهي او بشري حقونو، سیاسي خپلواکیو، ملي واکمنیو او ځمکنۍ بشپړتیا ته به درناوی ساتي.

SCO هغه وخت جوړه شوه چې د نړیوالو ډېر پام، له ترهگرۍ سره مبارزې ته اوښتی و. SCO هم د همدې وېرې د مخنیوي له پاره، د خپلو پوځونو د گډو تطبیقاتو پلانونه جوړ او په کال ۲۰۰۳ کې چین او په ۲۰۰۵ کې چین او روسیې گډ پوځي تمرینونه سرته ورسول.

چین او روسیه یا د SCO ځواکمن غړي، همداراز په اوسنۍ نړۍ باندې د امریکا د اغېز د مخنیوي هڅې کوي.

---

[۴۷۸] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۴
[۴۷۹] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۸۵-۲۸۴
[۴۸۰] پوهاند محمد بشیز دودیال، د شانگهای د همکاریو سازمان، انترنت

په اقتصادي برخه کې د SCO د بهرنیو چارو وزیرانو شورى، په همغه پېل کې یو بل ته د اقتصادي آسانتیاوو او پانګونې د لارو چارو د برابرولو په اړتیا، رغنده خبرې وکړې او د شلو کلونو له پاره یې، د اقتصادي ملګرتیا تړون لاسلیک کړ (۲۰۰۳).

SCO په کال ۲۰۰۵ کې، د ماسکو غونډه د انرژي، تېلو او ګاز مسایلو ته بېله کړې وه. په دې غونډه کې په دې ټینګار وشو چې امریکایي ځواکونه دې، د یوه ټاکلي مهالوېش له مخې، د SCO له غړو هېوادونو څخه لاړ شي او د ترهګرۍ ضد ګډ پوځي تمرینات دې پیاوړي شي.

SCO په کلتوري برخه کې هم فعاله ده. په کال ۲۰۰۲ کې د غړو هېوادونو د کلتور وزیران په بیجینګ کې جرګه شول. په ۲۰۰۵ کې په الماتا (قزاقستان) کې کلتوري فیستوال او په ۲۰۰۸ کې بیا هم په الماتا د غړو هېوادونو د ملي نڅاوو ننداره جوړ شول.

د SCO هېوادونه د نشه یي توکو ګواښ اقتصادي ترهګرۍ بولي. په کال ۲۰۰٦ کې روسیې له غړو هېوادونو څخه وغوښتل، چې له افغانستان څخه د SCO هېوادونو ته، د نشه یي توکو د ورتګ په مخنیوي کې ګډ کار وکړي.

مقر: د SCO اداري مرکز په بیجنګ (چین) کې دی، چینایي او روسي یې رسمي ژبې دي او لګښتونه یې غړي هېوادونه ورکوي.

SCO او افغانستان: دا ټولنه اوس اته اصلي غړي لري: چین، روسیه، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ازبکستان، منګولیا او ایران. په کال ۲۰۱۲ کې د افغانستان اسلامي جمهوریت او ASEAN ټولنه او په ۲۰۱۵ کې هند او پاکستان د کتونکو (ناظر) غړو په توګه ومنل شول. په همدې کال کې ترکیه هم د خبرو د ملګري هېواد په توګه ومنل شوه.[٤٨١]

### ٦ - د آسیا سویل ختیزو ولسونو ټولنه

**Association of South East Asian Nations (ASEAN)**

دا ټولنه د مالیزیا، فلیپین، اندونیزیا، تایلند او سنګاپور هېوادونو له خوا، د کال ۱۹٦۷ د اګست په ۸، په بنکاک (تایلند) کې جوړه شوه. ASEAN چې د جنوب ختیځې آسیا هېوادونو د پوځي تړون ځای ونیو، د دې له پاره جوړه شوه چې په جنوب ختیځه آسیا کې، د چین ولسي جمهوریت او ختیځ بلاک، د ورځ په ورځ ډېرېدونکي اغېز مخه ونیسي. که څه هم چې په لومړي سر کې د ASEAN له پاره د ګډو همکاریو پراختیا؛ په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، فني او څېړنیزو برخو کې متقابلې مرستې او د چاپېریال ساتنې، بشري حقونو او ولسواکۍ د تحقق په برخه کې، د غړو هېوادونو تر منځ همکارۍ په شان مسایل، د اهدافو په توګه ټاکل شوي وو؛ خو اصلي

[٤٨١] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸٦-۲۸۵

خبره امنیتي وه او د چین او ختیځ بلاک د پرمختګونو په مخنیوي ټینګار کېده. په کال ۱۹۸۴ کې برونی د ASEAN غړیتوب تر لاسه کړ.[۴۸۲]

د شوروي اتحاد او ختیځ بلاک له ړنګېدو او د چین ولسي جمهوریت په سیمه ییزه او اقتصادي سیاستونو او تګلارو کې د ژور بدلونونو وروسته، د ASEAN په اهدافو کې داسې بدلونونه اعلان شول:

- د سیمې اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي پرمختیا،
- د قانون د واکمنۍ او عدالت په سیوري کې، په جنوب ختیځه آسیا کې د ثبات او امنیت ټینګول،
- په علمي، اقتصادي، ټولنیزو، فني او فرهنګي برخو کې، د اطلاعاتو تبادلې ته د غړو هېوادونو هڅول او عملي همکاري،
- د زده کړو، فني او مسلکي ښوونو او علمي څېړنو په برخو کې متقابله مرستې او ګډ کار،
- د اقتصادي، صنعتي، سوداګري، ترانسپورت او اړیکو په برخو کې، یو له بله مرسته او ګډ کار،
- د سیمې د خلکو د ژوندانه د سطحې اوچتول،
- د سیمې هېوادونو تر منځ، د ګمرکي تعرفو ټیټول،
- او له سیمه ییزه او نړیوالو ټولنو سره هر اړخیزه همکاري.

جوړښت: ASEAN پنځه اداري څانګې لري:

سرمشریزه: د غړو هېوادونو د مشرانو غونډه د دې ټولنې تر ټولو لوړ تصمیم نیونکی ارګان دی، چې په دریو کلونو کې یو ځل جوړېږي. د ASEAN کورني جوړښت، د سرمنشي ټاکل او د کورنیو دندو د لوایحو تصویب د سرمشریزې په واکونو کې دي.

د وزیرانو شوری: دا د ASEAN دویم تصمیم نیوونکی ارګان دی، چې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو څخه جوړ او په کال کې دوه ځلې، په نوبت په یو غړي هېواد کې (انګلیسي الفبا په ترتیب) غونډې کوي.

د وزیرانو شوری دنده لري چې د سیمه ییزه همکارئ د پراختیا له پاره، لارښوونې جوړې او د غړو هېوادونو تر منځ د هوکړو او تړونونو تطبیق همږي کړي او د سرمشریزې پرېکړې عملي کړي.

اقتصادي ناسته: د ASEAN د غړو هېوادونو د اقتصادي چارو د وزیرانو غونډه، چې هر کال په رسمي یا غیررسمي توګه جوړېږي او د غړو هېوادونو د اقتصادي فعالیتونو په همغږي خبرې کوي. د ASEAN د وزیرانو شوری او اقتصادي ناسته، دواړه سرمشریزې ته راپور ورکوي.

دایمي کمېټه: د ASEAN د دایمي کمېټې غړي، د کوربه هېواد د بهرنیو چارو وزیر او په همدې هېواد کې د ASEAN هېوادونو سفیران دي چې معمولاً په دوو میاشتو کې یو ځل سره ګوري.

دارالانشا: د ASEAN دارلانشا په کال ۱۹۷٦ کې، په جاکارتا (اندونیزیا) کې جوړه شوه، چې د ټولنې ورځنی چارې مخ ته وړي. د ASEAN سرمنشي معمولاً د مشرانو په غونډه کې، د ۵ کلونو له پاره په کار ګومارل کېږي.

---

[۴۸۲] پوهاند محمد بشیر دودیال، د آسیا سویل ختیزو ولسونو ټولنه، تاند ویبپاڼه

د لوړپوړو چارواکو کمېټې او غونډې: د وزیرانو غونډې معمولاً د اطلاعاتو او کلتور، علومو، فنونو او ټولنیزې پراختیا د کمېټو له لارې جوړېږي. د ASEAN هېوادونو تر منځ د سیاسي همکاریو د همېږئ کار هم د لوړ پوړو چارواکو په غونډو کې سرته رسي.[٤٨٣]

فعالیتونه: د شوروي اتحاد او ختیځ بلاک له ړنګېدو او د چین د ولسي جمهوریت په اقتصادي تګلارو کې ژورو بدلونونو، داسې ویره رامنځ ته کړې وه، چې کېدای شي د ASEAN وجودي فلسفه پای ته ورسی او د غړو هېوادونو ترمنځ ګډ کار او پیوستون کمزوری شي؛ خو داسې ونه شول. پیوستون لا پیاوړی شو او په اقتصادي – ټولنیزو او فرهنګي برخو کې ملګرتیا نوره غښتلی شوه او ټولنې نوي غړي وموندل:

ویتنام – ۱۹۹۵، لاووس – ۱۹۹۷، میانمار (برما) – ۱۹۹۷ او کمبودیا – ۱۹۹۹ چې ټول ۴.۵ ملیون m نه دي او له نیم بلیون ډېر نفوس لري.[٤٨٤]

د ASEAN غړو هېوادونو په کال ۱۹۸۹ کې، د نړۍ له ٦ هېوادونو (امریکا متحده ایالات، کانادا، جاپان، جنوبي کوریا، استرالیا او نوی زیلند) په ګډون، د آسیا او آرام سمندر د اقتصادي همکاریو شوری یا APEC جوړه کړه چې په خپل ځای کې به خبرې پرې وشي.

ASEAN د پاسنیو جوړښتونو تر څنګ، یو څو نورې غونډې هم لري چې دلته به په لنډه وپېژندل شي:

- د اروپا – اسیا غونډه: د اروپایي ټولنې او ASEAN تر منځ د غیررسمي خبرو بهیر، چې په کال ۱۹۹٦ کې پېل شوی دی،
- ۳ASEAN +: دا د ASEAN او د چین، جاپان او جنوبي کوریا غونډه ده، چې د خپلمنځي اړیکو د پراختیا له پاره جوړېږي.
- د ASEAN – روسیې غونډه ASEAN – Russia Summit:
  د ASEAN مشرانو او روسیې کلنۍ غونډه، چې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه بحث کېږي.[٤٨٥]
- د ختیځې اسیا غونډه East Asian Summit: دا آسیایي غونډه هر کال د ASEAN او د ختیځې اسیا د ١٦ هېوادونو ترمنځ، د ASEAN له سرمشریزې وروسته جوړېږي. روسیه له کال ۲۰۰۵ څخه را پدیخوا د دې غونډې څارونکی غړیتوب لري.
- د ASEAN سیمه ییزه غونډه: دا غونډه له ۲۷ هېوادونو جوړه ده چې ۱۰ د ASEAN غړي دي او ۱۷ نور دا دي: استرالیا، بنګله دیش، شمالي کوریا، جنوبي کوریا، کانادا، چین، امریکا متحده ایالات، اروپایي ټولنه، هند، جاپان، منګولیا، پاکستان، نیوزیلند، روسیه، پاپوا نیو ګینی، ختیځ تیمور او سریلانکا. دا غونډه لومړی ځل په کال ۱۹۹۴ کې شوې او هدف یې په آسیا او پاسفیک هېوادونو کې، د څو اړخیزه خبرو او همکاریو پراختیا دی.٤٨٦

---

[٤٨٣] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۵۵-۱۵۴

[٤٨٤] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ، ص ۲۷۹-۲۷۸

[485] www.asean.com

[٤٨٦] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۵۵-۱۵۴

- ASEAN Cer Meeting -: د ASEAN او استرالیا او نیوزیلند خبرې چې په دوو کلونو کې یو ځل کېږي.
- د آزادې سوداګرۍ ټولنه: د ASEAN هېوادونو تر منځ، د سوداګرۍ د پراختیا او ګمرکي تعرفو د کمولو تړون، چې AFTA نومي په کال ۱۹۹۲ کې په سنګاپور کې لاسلیک شو. په لومړي سر کې دې تړون ٦ غړي درلودل؛ خو وروسته ویتنام، میانمار، لاوس او کمبودیا هم غړیتوب واخست. باید وویل شي چې د ASEAN ټول غړو هېوادونه دا تړون نه مني.
- د ارتې فضا تړون ASEAN Open Sky Agreement: دا تړون چې د غړو هېوادونو تر منځ د هوایي تګ راتګ د آسانتیاوو د ډېرولو له پاره، په کال ۲۰۰۳ کې په میانمار (برما) کې لاسلیک شوی و، په ۲۰۰۹ کې نافذ او عملي شو. په کال ۲۰۱۵ کې پرېکړه وشوه چې په دې تړون کې دې، د غړو هېوادونو په پلازمېنو سربېره، نور غټ ښارونه هم حساب شي.٤٨٧

مقر: د ASEAN مرکز په بنکاک (تایلند) کې دی.

### ۷ -- د خلیج د همکارۍ شوری(Gulf Cooperation Council (GCC

د خلیج همکارۍ شوری د شپږو خلیجي هېوادونو سعودي عرب، کویت، قطر، بحرین، عمان او متحده عربي اماراتو په ګډون، په کال ۱۹۸۰ کې د طایف (سعودی) کنفرانس په یوه غیررسمي ناسته کې جوړه شوه.

اهداف:

- د کورنیو ناامنیو په وړاندې د غړو متقابله همکاري او مرسته،
- د بهرنیو ګواښونو په وخت کې د غړو ګډه همکاري او مرسته،
- په خلیج کې د امنیت د ټینګښت هلې ځلې،
- د غړو هېوادونو د بهرنیو سیاستونو همغږي،
- د غړو هېوادونو د دفاعي سیاستونو همغږي،
- اقتصادي همکاري،
- د غړو تر منځ د ګډ بازار جوړول،
- په صنعتي چارو کې همغږي،
- په ټولنیزو او فرهنګي چارو کې همکاري.[٤٨٨]

جوړښت:

عالی شوری: د GCC عالی شوری د غړو هېوادونو له مشرانو څخه جوړه ده، چې په کال کې دوه ځلې غونډه کوي. شوری د ستونزو او اختلافونو د حل یو کمېسیون هم لري.

---

[٤٨٧] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۵
[٤٨٨] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۵

د وزیرانو شوری: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو شوری، چې په هرو درېو میاشتو کې یوه غونډه کوي. د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه پرته، د غړو هېوادونو نور وزیران هم په دې غونډو کې برخه اخستلای شي.

دارالانشا: د GCC د دارالانشا مشري د منشي په غاړه ده چې په ریاض (سعودي عرب) کې کار کوي.

تخصصي کمېسیونونه: GCC دا تخصصي کمېسیونونه لري: د اقتصادي او ټولنیزو تګلارو د جوړونې کمېسیون؛ د مالي، اقتصادي او سوداګرۍ همغږۍ کمېسیون، د صنعتي همکاریو کمېسیون، د تېلي سیاستونو کمېسیون او د فرهنګي او ټولنیزو چارو کمېسیون.

فعالیتونه: که څه هم چې د GCC د غړو تر منځ د اقتصادي همکاریو له پاره جوړه شوې؛ خو د سیمې امنیت او ثبات یې هم له لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي.

په کال ۱۹۸۱ کې د شورى د غړو تر منځ د اقتصادي همکاریو یو هوکړه لاسلیک شوه چې غټ ټکي یې دا دی: د ګمرکي محدودیتونه لیرې کول، ګډه بهرنۍ سوداګري او د تېلې او صنعتي تګلارو همغږي کول. GCC بهرنیو امنیتي ګواښونو د ژر مدافعې له پاره یو ۱۳۰۰۰ کسیز چټک غبرګون ځواک هم جوړ کړی دی.

مقر: د GCC مرکز په ریاض (سعودي عربستان) کې دی.[۴۸۹]

## ۸ -- د اسیا پاسفیک اقتصادي همکاریو ټولنه

**Asia – Pacific Economic Cooperation (APEC)**

د تېرې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کې، د آسیا-پاسفیک ګړندی اقتصادي پرمختګ، په اروپا کې د اقتصادي ډلو پیاوړتیا او د شمالي امریکا د آزادې سوداګري تړون لاسلیک، د آسیا- پاسفیک سیمې هېوادونه، دې ته اړ ایستل چې د سیمه ییزه همکاریو پیاوړتیا او د نویو اقتصادي ټولنو جوړولو ته مټې ونغاړي.

په کال ۱۹۸۹ کې د استرالیا لومړی وزیر، بای هوک، په اسیا- پاسفیک کې د اغېزمنو اقتصادي همکاریو نوښت وړاندې کړ، چې له ختیځ څخه یې لوېدیځ ته ۱۲۰۰۰ kmاوږده سیمه نیوله.

په غبرګون کې کانادا، امریکا متحده ایالاتو، جاپان، جنوبي کوریا، فلیپین، اندونیزیا، مالیزیا، تایلند، سنګاپور، برونې او نیوزیلند د بهرنیو چارو وزیرانو، د نومبر په ٦ – ۷ ورځو، په کانبیرا (استرالیا) کې د اسیا-پاسفیک د اقتصادي همکاریو ټولنې یا Asia-Asia-Pacific Economic Cooperation بنسټ کېښود. چې په آسیا – پاسفیک کې د آزادو اقتصادي او ټولنیزې همکاریو له پاره، خورا مهم بین الحکومتي بنسټ بلل کېږي.

وروسته دا نور هېوادونه هم له APEC سره یو ځای شول: په کال ۱۹۹۱ کې تایوان او هانګ کانګ، په ۱۹۹۳ کې مکسیکو او پاپوا نیوګیني، په ۱۹۹۴ کې چیلي، په ۱۹۹۸ کې پیرو، روسیه، چین ولسی جمهوریت او

---

[۴۸۹] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۲۲۶

ویتنام. هند په کال ۲۰۰۷ کې د APEC د غړیتوب غوښتنلیک وړاندې کړی، چې تر اوسه نه دی منل شوی. په دی توګه وینو چې دا ټولنه ټول ۲۱غړی لری.[۴۹۰]

که څه هم چې په APEC کې د غړیتوب لیکلی کړنلاره نشته؛ خو دا خبرې په پام کې نیول کېږي: د APEC له اصولو او اهدافو سره توافق، د سیمې له اقتصادونو او هېوادونو سره سوداګریزه اړیکې او د آزاد بازار اقتصاد لرل.

اهداف: APEC په سمندرونو کې د ګمرکي تعرفو او په اوبو کې د پولو د ستونزو او موانعو لیرې کول او د اقتصاد او سوداګرۍ په ډګرونو کې، د غړو هېوادونو په دریځونو کې، د همغږي منځ ته راوستل .

په دې سربېره د اندونیزیا د کال ۱۹۹۴ د سرمشریزې د پرېکړو له مخې: په سیمه کې آزاده پانګونه، د سوداګرۍ له لارې د اقتصادي همکاریو پراختیا، په ټوله کې اقتصادي اصلاحات، تر کال ۲۰۱۰ پورې د صنایعو پرمختګ او بیا هم تر ۲۰۲۰ پورې ۵% - ۰ پورې د ګمرکي تعرفو کمول او د غړو هېوادونو اقتصادي پرمختګ او نیکمرغی.[۴۹۱]

جوړښت:

سرمشریزه: سرمشریزه د APEC تر ټولو لوړ تصمیم نیوونکی ارګان دی، چې په کال کې یو ځل د یو غړي هېواد په پلازمینه کې غونډه کوي او د غونډې ګډونوال د کوربه هېواد له دود سره سم، د همغه هېواد ملي جامې اغوندي او د مېلمه پال هېواد ولسمشر، د یو کال له پاره د APEC د مشر په توګه ټاکل کېږي.۴۹۲

د وزیرانو شوری: د APEC دوهم ځواکمن اجراییه ارګان، چې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو جوړ دی. که چیرته د کوم هیواد/ هیوادونو د بهرنیو چارو وزیر/وزیران، په غونډه کی ګډون نه شی کولای، ځای یی د سوداګرۍ ( او صنایعو) وزیران نیسی.

د لوړپوړو چارواکو غونډې : د APEC د غړو هیادونو د استازو غونډه چی هر کال جوړیږی، او دنده لری چی هغه تګلاری او سیاستونه تطبیق کړی، چی د وزیرانو شوری مخکی منظور کړی وی.

کاری ډلی: دا ټولنه په دی لاندې لسو برخو کې کاري ډلې لري چې اړونده چارواکي یې، په ټاکلو وختونو کې غونډې جوړوي او پرېکړې کوي: د انساني پراختیا پروګرام، پانګونه او د صنعتي تکنالوژی علوم، سیلانیان، سمندري خواړه، تګ راتګ، اړیکې، د پانګونو او سوداګرۍ اطلاعات، د سوداګرۍ پراختیا او د سمندري زېرمو د خوندي ساتلو او انرژي په برخو کې سیمه ییزه مرسته.[۴۹۳]

دارالانشا: د APEC دارالانشا د ټولنې ورځني چارې مخ ته وړي، د ولسمشریزو غونډو او د وزیرانو د شوری ګانو اجنداوې جوړوي او د پرېکړو د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.

---

[۴۹۰] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۹

[491] en.wikipedia.apec.org

[۴۹۲] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۷۶-۳۷۵

[۴۹۳] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۷۶-۳۷۵

فعالیتونه: APEC د سیمې د یوې فعالې ټولنې په توګه، له همغه پېله تر اوسه ډېر ګامونه اوچت کړي چې لنډیز یې دا دی:

د دی ټولنی لومړنی غونډه په کال ۱۹۹۳ کې په واشنګټن کې جوړه شوه او د سوداګریزو او ګمرکي محدودیتونو په کمولو بحث وشو.

د ۱۹۹۴ په سرمشریزه کې چې په بوګور (اندونیزیا) کې جوړه شوه، د ټولنې مهم اهداف وټاکل شول.

د کال ۲۰۰۱ په سرمشریزه کې چې په شانګهای (چین) کې وشوه، د امریکا هغه طرحه ومنل شوه چې په اسیا – پاسفیک کې، د APEC د ازادو بازارونو په جوړولو، اصلاحاتو او ظرفیت لوړونې ټینګار شوی و. همدا راز غړو هېوادونو ژمنه وکړه چې د شفافیت معیارونه به پیاوړي او پلي کړي.

په دې غونډه کې په اسیا – پاسفیک کې، د راتلونکو ۵۰ کلونو له پاره د سوداګریزو معاملو په لګښتونو کې په ۵۰% کموالي او د ازادې سوداګری په پراختیا هوکړه وشوه.

د کال ۲۰۰۴ په سرمشریزه کې، چې په سانتیاګو (چیلي) کې وشوه، د ترهګري په ضد په مبارزه، د سودارګری په پراختیا او د ازادې سوداګری د هوکړې په ارزونه خبرې وشوې.

مقر: د APEC دارالانشا په سنګاپور کی موقعیت لری او کار کوی.[۴۹۴]

## ش -- د آسیا – پاسفیک د تکنالوژۍ لېږد مرکز

**:Asian-Pacific Center for Transfer of Technology (APCTT)**

APCTT په کال ۱۹۷۷ کې، د یو نړیوال تخصص بتسټ په توګه، ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شوری د ESCAP له لارې، په بنګلور (هند) کې جوړ شو او د ملګرو ملتونو په نظام کې د یو سیمه ییز بنسټ په توګه، د ESCAP تر نظر لاندې کار کوي. د APCTT مرکز په ۱۹۹۳ کې نوي ډیلي ته ولېږدید. د UNESCAP ټول غړي په APCTT کې غړیتوب لري.

اهداف: APCTT په آسیا – پاسفیک کې، د تکنالوژي د لېږد فعال بنسټ دی او تل هڅه کوي چې د تکنالوژي وړاندې کوونکي او پېږدونکی یا متقاضیان ومومي. د APCTT مهم اهداف دا دي:

- د ESCAP له غړو او همکارو مراکزو سره مرسته چې د ملي نوښتونو د سیستمونو د مدیریت او پراختیا له پاره وړتیاوې پیاوړې کړي،
- د تکنالوژی پراختیا، لېږد، منل او کار اخستل،
- د تکنالوژی د لېږد د شرایطو سمون او پراختیا.

[۴۹۴] پوهاند محمد بشیر دودیال، د اسیا-پاسفیک د اقتصادی مرستو سازمان، انترنت

په لاندې برخو کې فني پراختيا او تکنالوژي د APCTT په لومړيتوبو کې راځي: کرنه، د سمندري خوړو د پروسس صنعت؛ د خوراکي صنايعو او ارزانه ودانيزو موادو په برخه کې بيوتکنالوژي او جنيتک مهندسي؛ ميکروالکترونيک او ميکرو پروسسرونه، د انرژي معمولي او غيرمعمولي سرچينې او کمکي صنايع.

خدمات:

- د سيمې دولتونو، خصوصي برخې او څېړنيزو مراکزو ته د مشورو ورکول،
- د غړو هېوادونو د کمکيو او منځنيو صنايعو له پاره، د نړيوالو پورونو په مرسته د تکنالوژي د لېږد د ظرفيتونو د جګولو پروژې،
- په تکنالوژۍ کې د ښځو د ډېرې ونډې اخستلو هڅول،
- د صنعتي تګلارو او تکنالوژيکي جوړښتونو د پياوړتيا مشورې، د صنايعو او سوداګريزه علايمو په برخه کې د اطلاعاتو رسول او د تکنالوژيکي وس (توان) د بياکتنې له پاره د څېړنيز خدماتو وړاندې کول،
- له نړيوالو ټولنو او غټو ونډه والو سره شراکت،
- د شرايطو، موقعيتونو او بهيرونو څېړل.[٤٩٥]

**١٠ -- کولمبو پلان(Colombo Plan (CP**

د کولمبو پلان ټولنه يا CP، د کال ١٩٥٠ په جنوري کې، په کولمبو (سريلانکا/ پخوا سيلون) کې، د آسيا پاسفيک هغه هېوادونو له خوا چې پخوا د برتانيا تر لاس لاندې و، او مشترک المناقع Commonwealth هېوادونه بلل کېدل، لکه استراليا، برتانيا، کانادا، سريلانکا، هند، نيوزيلند او پاکستان، د غړو هېوادونو د اقتصادي – ټولنيزې پراختيا او پرمختيا له پاره جوړه شوه. دې ټولنې د بشري منابعو په پرمختيا ټينګار کاوه او د بشري منابعو پرمختګ يې له خپلو لومړيتوبونه څخه باله.

په کال ١٩٧٧ کې، کولمبو پلان خپل اساسي قانون، د ٢٦ هېوادونو په ګډون تصويب او د يوې نوې نړېوالې ټولنې په توګه، په آسيا پاسفيک کې د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په کار پيل وکړ. په لومړي سر کې CP د ٦ کلونو له پاره په پام کې نيول شوې و؛ خو په کال ١٩٨٠ کې د نامحدوده مودې له پاره تمديد شو.

اهداف: CP کوم ماستر پلان نه دی چې د غړو هيوادونو ملي پلانونه ورسره عيار شي. CP د دوه اړخيزه تړونونو د اسانتياوو له ديرولو سره مرسته کوي، د سيمې د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د پاره بهرنۍ مرستې لټوي او هيوادونه ګډ او اغيزمن کار ته بولي. د دې ټولنې نور اهداف داسې دي:

- د اسيا-پاسفيک د ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا ننګه او د ګډ کار هڅول،
- د غړو هېوادونو تر منځ، د تکنالوژيکي او تخنيکي مرستو د لېږد د بهير ګړندی کول،
- د غړو هېوادونو او اړونده ټولنو تر منځ، د پراختيا او پرمختيا بهير د ګړندي کولو له پاره، د تخنيکي او فني معلوماتو راکړه ورکړه،

---

[٤٩٥] سازمان پژوهش های علمي و صنعتی ايران، ويبپاڼه

- د سیمې د هېوادونو تر منځ د پرمختیایي تجاربو شریکول او د جنوب هکاري.

جوړښت: مشورتی کمیټه، د CP شوری، او د CP د پلان دفتر یا دارالانشا د دی ټولنی اصلی اداره کوونکی ارگانونه دی.

-مشورتي کمېټه: د CP د تصمیم نیونې تر ټولو لوړ ارگان، چې د غړو هېوادونو له استازو جوړ دی او په هر دوو کلونو کې یو ځلې غونډه کوي.

د CP مشورتي کمېته په خپلو غونډو کې، د سیمې د اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا پلانونه گوري او په روانو ستونزو خبرې کوي.

د CP شوری: دا شوری هغه مهم پرمختیایي مسایل چې غړي ورسره مخامخ وي، پېژني او د مشورتي کمېټې د پرېکړو له عملي کولو سره مرسته کوي. دا شوری د هغه غړو هېوادونو د سیاسي استازیتوب له استازو څخه جوړیږی، چې په کولمبو (سریکلانکا) کې شته.

د CP د پلان دفتر: د ا دفتر په حقیقت کې همغه دارالانشا ده چې په کولمبو کې موقعیت او دا دندې لري:

- د CP له شوری سره د دندی په اجرا کی مرسته او لاسنیوی،
- د مشورتي کمېټې په غونډو کې د مشورو ورکولو د پاره گډون،
- د CP د پروگرامونو له پاره، د عملي مرستو او ملاتړ ومندل.

د CP غړي هېوادونه: افغانستان (۱۹٦۳)، استرالیا، بنگله دیش، بوتان، بروني، فیجي، هند، اندونیزیا، ایران، جاپان، جنوبي کوریا، مالیزیا، مالدیو، منگولیا، میانمار (برما)، نیپال، نیوزیلند، پاکستان، پاپوا نیوگینی، فلیپین، سعودي، سنگاپور، سریلانکا (سیلون)، تایلند، امریکا متحده ایالات او ویتنام.

فعالیتونه: CP په پنځو پروگرامونو اخته دی: د عامه اداري پروگرام، د خصوصي سکتور د پراختیا پروگرام، د نشه یي توکو په هکله مشورتي پروگرام، د اوږدمهاله همکاریو پروگرام او د ژوند چاپېریال پروگرام.

CP په مانیلا (فلیپین) کې د لوړو زده کړو یو موسسه هم لري چې لگښتونه یې د غړو یا ناغړو هېوادونو او سیمه ییزه یا نړیوالو ټولنو د مرستو څخه ورکول کېږي. د CP نور اداري لگښتونه د غړو هېوادونو له خوا په مساوي توگه برابرېږي.

افغانستان اوCP : افغانستان په کال ۱۹٦۳ کې د CP غړیتوب ترلاسه کړی دی، په کال ۲۰۰۳ کې CP په کابل کې یو دفتر پرانست چې له نشه یي توکو سره خپله پنځوس کلنه تجربه، په افغانستان کې، د نشه یي توکو په ضد مبارزې د ملي ستراتیژئ له جوړونکو سره شریکه کړي.[٤٩٦]

---

[٤٩٦] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۲-۲۸۰

### ۱۱ -- د جنوب د تلپاته پراختیا له پاره د علومو او تکنالوژئ کمیسیون

**Commission on Science and Technology for Sastainable Development in the south (COMSATS):**

COMSATS یو نړیوال بین الدولتي تخصصی بنسټ دی چې په کال ۱۹۹۴ کې جوړ شو، ۲۵ غړي لري او دارالانشا یې په اسلام آباد (پاکستان) کې موقعیت لري. COMSATS هڅه کوي د اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا (انرژي، روغتیا، زده کړې، معلوماتي تکنالوژي او ژوند چاپېریال) له پاره علمی او تکنالوژیکی همکاري وهڅوي.

اهداف: د COMSATS اصلي هدف دا دی چې له پرمختیایي هېوادونو سره مرسته وکړي چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، پوره انساني او تکنالوژیکي سرچینې ولري او:

- غړو هېوادونو ته د وړ تکنالوژي د لېږد اسانتیاوې،
- د جنوب له پاره د جنوب د سرچینو څخه ګټوره استفاده،
- د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره د علمي او تکنالوژیکي امکاناتو پراختیا ته د پرمختیایي هېوادونو د پام اړول،
- په جنوب هېوادونو کې د وطني علومو او تکنالوژي د ظرفیتونو د لوړولو له پاره مالي او معنوي ملاتړ.

غړیتوب: د جنوب سیمې هېوادونه، معمولاً خپل یو مخکښ او فعال تکنالوژیکي بنسټ، د COMSATS غړیتوب ته ورپېژني. دا تخصصی بنسټ اوس ۲۵ اسیایی، افریقایی او امریکایی ( لاتین یا جنوب) غړی لری: بنګله دیش، چین، کولمبیا، مصر، ګمبیا، ګانا، ایران، جمیکا، اردن، قزاقستان، مکسیکو، نایجیریا، شمالی کوریا، پاکستان، فلسطین، سنیګال، سومالیا، سریلانکا، تونس، ترکیه، یوګندا، یمن او زیمبابوی

غونډې: د COMSATS مشرتابه شوری په کال کې یو ځل، په یو غړي هېواد کې غونډه کوي. د غړو هېواونو یو کلن کارونه څېړي او د راتلونکي له پاره د بنسټ تګلارې او پروګرامونه جوړوي.[۴۹۷]

### ۱۲ -- د آسیا د همکاري خبرې اترې (دیالوګ)

**Asia Cooperation Dialogue(ACD):**

د آسیا د همکاری ډیالوګ یا ACD د کال ۲۰۰۲ د جون په اتلسمه جمړ شوی او یو سیمه ییز بنسټ بلل کیږی. ۳۴ غړي هېوادونه لري. افغانستان د کال ۲۰۱۲ د اکتوبر په ۱۷ د دې ډیالوګ په غړیتوب ومنل شو. د ACD اصلي هدف د آسیایي هېوادونو تر منځ، د اقتصادي او کلتوري اړیکو پراختیا، د خلکو د ژوندانه ښه والی، له بېوزلی او ترهګرئ سره مبارزه، د طبیعي افتونو مخنیوی او د کرنې، ګرځندوی، ترانسپورت، تکنالوژي او بشري قواوو ملاتړ ګڼل کېږي.[۴۹۸]

---

[497] http://comsats.org

[498] https://en.wikipedia.org/wiki/Asia_Cooperation_Dialogue

## افریقایي ټولنې

**افریقایي ټولنه (African Union (AU:**

په کال ۱۹٦۳ کې د افریقا د یووالي له پاره ستر گام، د ایتوپیا (حبشه) د امپراطور هیلي سلاسي په نوښت پورته شو. په هغه غونډه کې چې په ادیسه بابا کې جوړه شوې وه او د افریقا ۳۰ خپلواکه هېوادونو پکې برخه درلوده، د افریقا د یووالي ټولنه Unity Organization of African یا OAU جوړه شوه. په هغه وخت کې ځینو افریقایي مشرانو لکه هیلي سلاسي، جمال عبدالناصر، احمد سکوتوره، قوام نکرومه او نور په دې اند وو چې افریقا له آسیا وروسته د نړۍ دویمه لویه وچه ده چې د اروپا ښکیلاکگرو (استعمار) هېوادونو څو پېړۍ لوټلي، د هند او اتلس سمندرونو او مدیترانې تر منځ ځانگړي ستراتیژیک موقعیت لري؛ له جبل الطارق، باب المندب او سویس کانال سره گاونډی ده او اوس هم د صنعتي هېوادونو ډېر اومه مواد لکه سره زر، فاسفیت، یورانیم، مس او الماس برابروي؛ ځکه باید د ښکیلاک ژغ وغورځوي او د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ له پاره ستر گامونه اوچت کړي. دوی غوښتل چې د افریقا د یووالي ټولنې د جوړېدو له لارې، په نړۍ کې افریقا ته وړ ځای او درناوی ومومي.

OAU په لومړي سر کې د خپل اساسنامې د ۲ مادې له مخې، ډېر سیاسي اهداف درلودل، د ښکیلاک د پای ته رسولو له پاره یې هڅې کولې، د افریقایي هېوادونو تر منځ یی سرحدي لانجې په سوله ییزه لارو چارو غوځولې، د غړو هېوادونو د ځمکنې بشپړتیا او ملي حاکمیت ننگه یې کوله او له اپارتاید سره یې ډغرې وهلې.

د ادیسه بابا لومړنۍ غونډې، لاندې اهداف OAU ته په پام کې نیولي وو:

- د غړو هېوادونو د حاکمیت د حق منل،
- د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه،
- د افریقایي هېوادونو هغه پولو ته درناوی، چې د خپلواکي په وخت کې ټاکل شوي،
- د منځگړیتوب، جوړجاړي او خبرو له لارې، د افریقایي هېوادونو د ستونزو سوله ییز حل،
- بې له قید او شرط د وژنو (قتل) او هغه اعمالو محکومول چې له وژنو سره اړیکې لري،
- د ناپیېلتوب په سیاست ټینگار،
- د هغه افریقایي سیمو د خپلواکیو ژمنه، چې خپلواکه نه دې،
- د ملگرو ملتونو د کړنلارې او د بشري حقونو د اعلامیې په چوکاټ کې نړیواله همکاري.[۴۹۹]

کله چې OAU خپل یو شمېر اهدافو ته ورسېد او غړي یې هم ډېر شول، خپل اهداف یې اقتصادي، فرهنگي او علمي کارونو ته هم پراخه کړل.

---

[۴۹۹] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۹۷-۲۹۶

په کال ۱۹۷۹ کې د OAU په اساسنامه کې ځینې بدلونونه راغلل او دا خبره ومنل شوه چې په دې ټولنه کې غړیتوب، د سیاسي کړنلارو او نظریاتو د یووالي مانا نه لري او داسې هڅې به کوي چې ټول افریقایي هېوادونه، په یو سیاسي مرکز ټول او متحد کړي.

د OAU د جوړېدو لوی هدف، د افریقایي ولس ملاتړ او د هغه سیمو سیاسي خپلواکي وه، چې د اروپایي هېوادونو په ښکېلاک کې بند وو.[۵۰۰]

د تېرې پېړۍ په نویېمه لسیزه کې، چې سړه جګړه پای ته ورسېده او په نړۍ کې لوی بدلونونه پېښ شول، د OAU غړو هېوادونو د ۲۱ پېړۍ په نړۍ کې د افریقا د ځای او دریځ د پیاوړي کولو له پاره، د افریقایي ټولنې/اتحادیه د جوړولو هڅې پیل کړې. په سیرت (لیبیا) کې د OAU مشرانو بیړنۍ غونډه جوړه شوه چې د افریقایي ټولنې د جوړېدو زیری یې له ځانه سره درلود. په کال ۲۰۰۰ کې یې په لومه Loma (سرالیون ) کې همدې مشرانو د افریقایي ټولنې اساسنامه تصویب او لاسلیک کړه. یو کال وروسته په لوساکا Lusaka( جنوبی افریقا) کې د افریقایي ټولنې په نوی بڼه هوکړه وشوه او د کال ۲۰۰۲ په جولای کې، په دوربان (جنوبي افریقا) کې، د OAU اساسنامه نوې شوه. OAU او د افریقا اقتصادي ټولنه سره یو ځای شوې او افریقایي ټولنه African Union یا AU یې جوړه شوه چې له مراکش (مراکو یا المغرب) پرته، د افریقا ۵۴ هېوادونو یې غړیتوب واخست. مراکش ځکه د AU غړیتوب ونه مانه، چې AU د صحرا عربي دموکراتیک جمهوریت د غړي په توګه منلی و، په داسې حال کې چې مراکش هغه خپله خاوره بولي.[۵۰۱]

AU د افریقایي هېوادونو تر ټولو لویه او اغېزمنه ټولنه ده چې په نړیوال نظام کې، د افریقا د دریځ د لوړولو او په افریقا کې د سولې او ټیکاو (ثبات) له پاره ډېر سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي اهداف لري. اوس ۴۰ غیرافریقایي هېوادونه او نړیوال او سیمه ییزې ټولنې د AU څارونکي غړیتوب لري چې د AU په غونډو کې برخه اخلي.

اهداف: AU د دوربان (جنوبي افریقا) اساسنامې له مخې دا اهداف په مخ کې لري:

- د افریقا د لویې وچې یووالی او په یوه سیاسي بلاک لکه فدراسیون کې، د ټولو افریقایي هېوادونو یو ځای کول،
- له مستعمره افریقایي ځمکو یا سیمو سره مرسته، چې خپلواکۍ ته ورسي،
- په افریقا کې د سولې، امنیت او ټیکاو راوستل او پراختیا،
- د غړو هېوادونو د سیاسي خپلواکۍ او ملي حاکمیت ننګه او ملاتړ،
- په نړۍ کې د افریقا د اقتصادي وندې ډېرول،
- د افریقا سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه چارو چټکتیا او همغږي کول،
- د افریقا د خاورې او خلکو د عمومي دریځ او ګټو ننګه،

---

[۵۰۰] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۶۱
[۵۰۱] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰-۱۳۹

- د ولسواکه بنسټونو په پښو درولو، ښې حکومتولۍ او بشري حقونو درناوی.

AU په پام کې لري چې په راتلونکي کې، د افرو (Afro) په نوم ګډ افریقایي پولي واحد او د افریقا د دفاع له پاره ځانګړی پوځونه هم جوړ کاندي.[٥٠٢]

جوړښت: AU په خپل اداري جوړښت کې، مشرتابه شوری، اجراییه شوری، د عدالت محکمه، د سولې او امنیت شوری، پان افریکن پارلمان، کمیسیون، فني او تخصصي کمېټه، اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي شوری، د منځګړیتوب او جوړې کمیسیون او یو مالي او حسابي دفتر لري.

مشرتابه شوری: د ټولنې تر ټولو لوړ ارګان چې د غړو هېوادونو مشران په کې برخه لري، او په کال کې یو ځل غونډه کوي؛ خو که چیری یو هېواد وغواړي او ٦٦.٦٦% غړي یې ومني، ځانګړې غونډې هم جوړیدای شي. د مشرتابه شوری رییس د غړو هېوادونو په مشوره، د یو کال له پاره یو هېواد ته ورکول کېږي. مشرتابه شوری د خپلو پرېکړو له پاره ٦٦.٦٦% رایو ته اړتیا لري.

د AU دا تګلارو ټاکل، د AU د لویو سیاستونو ټاکل؛ د سولې د ساتنې او پیاوړتیا، بېړنیو حالاتو، شخړو او جګړو د مدیریت په برخه کې اجرائیه شوری ته جدي لارښونې، د AU په کارونو څار، د AU د پرېکړو په برخه کې د غړو دولتونو د کار څارنه، د AU د نورو څانګو د راپورونو او وړاندیزونو څېړل، د نویو اداري څانګو جوړول، د عدالت د محکمې د قاضیانو ټاکل او ګوښه کول، د AU د کمېسیون د مشر او مرستیال ټاکنه او د دوی کار د مودې او دندو وضاحت د مشرتابه له واکونو څخه دي.

اجراییه شوری: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو شوری، چې په کال کې دوه ځلې عادي غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې ځانګړې غونډې هم جوړولای شي. په داسې حالاتو کې غونډه د یو یا څو هېوادونو په غوښتنه او ٦٦.٦٦% موافقو رایو جوړېږي.

هېوادونه کولای شي چې د AU د اجراییه شوری غونډو ته د بهرنیو چارو وزیرانو په ځای نور وزیران واستوي.

اجراییه شوری د AU د مشرتابه شوری د پرېکړو اجراییوي دفتر دی چې د بهرنۍ سوداګرۍ، د ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو، خوړو، کرنې او اړیکو (مخابرات) په برخه کې، پرېکړې کوي او مشرتابه شوری ته حساب ورکوي. د دې شوری پرېکړې په اکثریت رایو کېږي.[٥٠٣]

کمېسیون: کمېسیون په حقیقت کې د AU دارالانشا ده چې یو سرمنشي، مرستیالان او ١٠ کمیشنران لري. د AU سرمنشي په مشرتابه شوری کې د ۴ کلونو له پاره، د خپلې وړتیا له مخې په ٦٦.٦٦% موافقو رایو ټاکل کېږي؛ خو د مرستیالانو په غوراوي کې جغرافیایي وېش (شمال، لویدیځه، ختیځه، منځنی او استوایي افریقا) په پام کې نیول کېږي.

د AU د نوي کړنلارې له مخې، سرمنشي په اداري مسوولیت سربېره، دروند سیاسي دریځ هم لري.

---

[٥٠٢] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ١٤٩-١٣٨

[٥٠٣] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ٢۶۴

کمېسیون چې د اروپایي ټولنې له دارالانشا سره په جوړښت او دنده کې ورته (مشابه) دی، د AU د فعالیتونو او اداري چارو د همغږي او تنظیم کارونه مخ ته وړي.[٥٠٤]

د عدالت محکمه: دا محکمې د AU د کړنلارې سره سم، د تړونونو د احتمالي تفسیري ستونزو د حل له پاره، په کال ۲۰۰۹ په کار جوړه شوه او دوه څانګې لري: د عمومي حقوقي مسایلو د څېړنو څانګه او د بشري حقونو د میثاقونو او کنوانسیونونو د عملي کولو دفتر. دا محکمه ۱۳ قاضیان لري.[٥٠٥]

د سولې او امنیت شورى: د افریقا د سولې او امنیت شورى، چې په اصل کې د افریقا امنیت شورى ده او د افریقا د ستونزو له پاره، د افریقایي حللارو د فکر د تحقق مرکز بلل کېږي، په لوساکا (زمبیا) کې د AU په ۳۷ مه غونډه جوړه شوه. دا شورى د AU په دوهمه څانګړې غونډه کې (۲۰۰۴ – سیرت/لیبیا) کې، د AU د اجراییه شورى له خوا د ۱۵ هېوادونو د استازو په ګډون جوړه شوه. د دې استازو د کار موده ۵ کاله ټاکل شوې ده.

د سیرت په غونډه کې، ګډونوالو د سولې ساتنې په عملیاتي اړخونو، د شخړو او جګړو د ډېر نه خپراوي، په جګړو کې د قوي مداخلې، د جګړو ځپلو سیمو د بیارغاونې، د ولسواکي او مدني بنسټونو د درناوي او ولسواکي فرهنګ د پیاوړتیا او د بشري حقونو د درناوي له لارې، په افریقا کې د سولې او ټیکاو د ډاډمنتوب په هکله خبرې او پرېکړې وکړې.[٥٠٦]

پان افریقایي پارلمان: دا پارلمان AU ته په دوه دلیله ارځښت لري. لومړی دا چې AU د دې پارلمان په جوړېدو سره (د ۲۰۰۳ جولای – مه پوتو/موزمبیق)، په ټوله افریقا کې د مدني ټولنې د بنسټونو د پیاوړتیا له پاره یو ګام واخست او دویم دا چې د دې پارلمان له پاره په لومړي ځل، د تانزانیایي مېرمن ګترود مونګلا په ټاکلو سره، په افریقا کې د ښځو درناوی وشو او د ښځو د حقوقو د تامین له پاره یې د AU هوډ ښکاره کړ.[٥٠٧]

پان افریقایي پارلمان ډېره هڅه کوي چې غړي هېوادونه، د AU د اساسنامې له مخې، د قانون جوړولو ځای او واک او ځواک ته په درنه سترګه وګوري او په خپلو ملي قوانینو کې بشري حقونه، ولسواکه بنسټونه، ولسواکي او د قانوني واکمنۍ په پام کې ونیسي.

دا پارلمان له غړو هېوادونو څخه ۲۰۲ استازي لري چې د غړو هېوادونو د پارلمانونو له لوري ټاکل کېږي او د AU تر ټولو لوی قانون جوړونکی بنسټ بلل کېږي. د پان افریقایي پارلمان مرکز په جنوبي افریقا کې دي.[٥٠٨]

د افریقا اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي شورى: د مدني ټولنو د استازو، استادانو او پوهانو دا شورى، هڅه کوي چې له AU سره د اقتصادي پرمختګ د روڼاوي (شفافیت)، ښه حاکمیت او د اقتصاد د خصوصي کولو د تګلارو د پیاوړتیا په برخو کې مرسته وکړي.

---

[٥٠٤] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۲۹۸-۲۹۹
[٥٠٥] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰
[٥٠٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۵-۲۶۴
[٥٠٧] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۶۵
[٥٠٨] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰-۱۳۹

دا شورى دنده لري چې د پارلماني نظامونو د پیاوړتیا، په پرېکړو کې د پراخه ګډون (مشارکت)، قضایي اصلاحاتو او له اخلاقي فساد سره د مبارزې په کار کې، د اغېزمنو ګامونو د پورته کولو له لارې، د ښو او اغېزمنو حاکمیتونو د جوړولو له پاره کار وکړي.

د پاسنی طرحې له مخې، هر ځل د افریقا ۷ غوره څېرې چې AU یې ټاکي، د هغه هېوادونو د وضعیت د څېړلو له پاره ګوماري، چې په خپله خوښه چمتوالی ښیي. په لومړي سر کې ګانا، رواندا، موریتانیا او کینیا دا چمتوالی وښود چې له دې څېړنو سره مرسته کوي. اوس د دې هېوادونو شمېر ۲۵ ته رسیدلی.[۵۰۹]

- د منځګړیتوب او جوړې کمېسیون: دا کمېسیون دنده لري چې د افریقایي هېوادونو سیاسي یا حقوقي ستونزې په سوله ییزه توګه پای ته ورسوي. د دې کمېسیون غړي هغه واکمن کسان وي چې د AU سرمشریزه یې د ۵ کلونو له پاره ټاکي. د کمېسیون دفتر په ادیسه بابا کې دی او د ستونزې دواړه اړخونه دا مني چې د کمېسیون منځګړیتوب به مني. د AU مشرتابه شورى د دې کمېسیون د واک له پاره یو ځانګړی پروتوکول منظور کړی دی.[۵۱۰]

فني او تخصصي کمېټې:AU دا کمېټې لري چې اجراییه شورى ته مسوولیت لري:

- د کرنې او کلیوال اقتصاد کمېټه،
- د پولي او مالي چارو کمېټه،
- د مهاجرت، سوداګرۍ او ګمرکاتو کمېټه،
- د وړلو راوړلو اړیکو او سیلانیانو کمېټه،
- د روغتیا، کار موندنې او ټولنیزو چارو کمېټه،
- د زده کړو، فرهنګ او بشري سرچینو کمېټه،
- د ژوند چاپېریال، طبیعي شتمنیو، انرژي، علومو او صنایعو کمېټه.

د AU مشرتابه شورى کولای شي چې نوې کمېټې جوړې کړي. دا کمېټې معمولاً له هغه کسانو څخه جوړېږي چې په خپلو هېوادونو کې په همدې کارونو بوخت دي. دا کمېټې خپل وړاندیزونه اجراییه شورى ته لیږي او هغه کارونه سرته رسوي، چې اجراییه شورى یې ورته سپاري.[۵۱۱]

فعالیتونه: د افریقا یووالي ټولنه یا OAU، په افریقا کې د هغه وخت سیاسي سیالیو له امله، ډېره بریالې نه وه او ډېر وخت یې د تشو اعلامیو په صادرولو تېر کړ.

خو افریقایي ټولنې یا AU ځینې کمکي ستونزې او شخړې حل کړې دي، لکه: د سومالیا او ایتوپیا، د الجزایر او مراکش او د سومالیا او کینیا سرحدي لانجې؛ خو AU د لویو ستونزو په حل کې د غړو د اختلافونو په توسن

---

[۵۰۹] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۶-۲۶۵
[۵۱۰] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰
[۵۱۱] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۶-۲۶۵

بریالی نه ده، په تېره بیا هغه وخت چې بهرنۍ لاسوهنې هم ښکاره وي، لکه: د انګولا، رودیشیا، جنوبي افریقا، چاد او لویدیځې صحرا ستونزې.

مهاجرت د افریقا یوه لویه ستونزه ده، که څه هم چې AU د مهاجرینو له پاره څو کنوانسیونونه جوړ کړل؛ خو د AU د غړو هېوادونو خپلمنځي ستونزو او د مالي سرچینو او امکاناتو لږوالی، په دې برخه کې د بریالیتوب مخه ډېر کړه.

AU لکه ځینې نورې نړیوالې ټولنې له یوې خوا، په خپلو غړو پوره لاسبري نه لري او له بلې خوا ډېر غړي دولتونه لږ نفوس او وړوکی سیاسي، اقتصادي واک او ځواک لري؛ له همدې امله نه شي کولای چې د افریقا مدیریت ته اوږه ورکړي او ژورو بدلونونو ته لار پرانیزي.[٥١٢]

## امریکایی ټولنې

د امریکا لویې وچې تر ټولو غټه ټولنه (د امریکایي هېوادونو ټولنه یا OAS) ده چې نژدې ټول امریکایي هېوادونه یې غړیتوب لري؛ خو د دې په څنګ کې نورې ټولنې هم شته چې د جغرافیې، واک او فعالیت له پلوه کمکی بلل کېږي.د امریکا لویی وچی ځینی مهمی ټولنې دا دي:

### ١ – د امریکایي هېوادونو ټولنه

**:The Organization of American States (OAS)**

د امریکا د لویې وچې د پیوستون هلې ځلې اوږد عمر لري. د امریکایي هېوادونو ټولنه په تاریخ کې یوه ډېره پخوانې بین الحکومتي ټولنه ده، چې په کال ١٨٢٠ کې جوړه شوې ده. په دی کال کی اکوادور، پانامه، کولمبیا او وینزویلا او د پخوانۍ سترې کولمبیا مشر سیمون بولیوار په پانامه کې، د امریکایي هېوادونو د یووالي کنګره جوړه کړه. که څه هم چې د دې هڅې د دویمې غونډې د جوړولو تیاریانې روانې وي؛ خو داسې ښکارېده چې سیمون بولیوار په دې نه دی بریالی شوی، چې د برتانیا د سیاسي لاسوهنو له امله، د امریکایي هېوادونو د ګټو د ساتلو ټولنه جوړه کړای شي؛ له دې وروسته نورو خلکو دې هڅو ته دوام ورکړ او په ١٨٤٧ او ١٨٦٢ کلونو کې د پیرو په نوښت دوې کنګرې جوړې شوې.

په هغه وخت کې برتانیا وېره درلوده چې امریکا متحده ایالات به، په دې امریکایي ټولنه برلاسي شي؛ ځکه یې په برازیل او ارجنتاین فشار راوړ چې د پانامه په غونډه کې برخه وانخلي. د امریکا متحده ایالاتو استازي هم د لارې د لیرې والي په توسن (علت) په وخت ونه رسېدل. که څه هم چې د پانامه غونډه بریالې شوه؛ خو ګډونوالو د کال ١٨٦٢ د جون په ١٩ داسې یو تړون لاسلیک کړ چې د ولسونو ټولنې جوړېدو ته یې لار پرانسته.[٥١٣]

---

[٥١٢] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ٢٦٧

[٥١٣] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ٢٣٠-٢٢٩

په لومړۍ کنګره کې د کنفدرال نظام په اړه خبرې وشوې، چې د غړو هېوادونو ملي حاکمیت ته یې زیان رساوه. دویمه کنګره د سولې د ټینګښت او د امریکایي هېوادونو د یووالي په هکله وه. له بده مرغه چې د دواړو کنګرو ډېرې پرېکړې عملي نه شوې.

په کال ۱۸۸۹ کې د امریکا متحده ایالتو یو چارواکی، جیمز بلین، د سیمون بولیوار طرحه تر بیاکتنې لاندې ونیوه او د څو امریکایي هېوادونو په ګډون یې، په واشنګتن کې یو کنفرانس جوړ او د یوې ټولنې بنسټ کېښود. دې ټولنې په لومړي سر کې کمکي تشکیلات درلودل او د سوداګرۍ د یوې خونې له لارې یې هڅه کوله چې د امریکایي هېوادونو تر منځ دوه اړخیز او څو اړخیز پوهاوی لوړ او د غړو هېوادونو ګمرکي او سوداګریزه معلومات ټول او تنظیم کاندي.[٥١٤]

د امریکایي هېوادونو په څلورمه نړېواله غونډه کې (۱۹۱۰)، پاسنۍ ټولنه د امریکا د جمهوریتونو اتحادیه او اړوند سوداګریزه خونه یې، د پان امریکن دفتر Pan American Organization Office (PAOO) په نامه ونومول شول. دی ټولنی په راتلونکو څو کلونو کی، څو غوندی جوړی کړی.

په کال ۱۹۴۸ کې د دې ټولنې په نهمه ناسته (بوګوتا – کولمبیا) کې، د امریکا جمهوریتونو د اتحادیې په ځای، د امریکایي هېوادونو ټولنې The Organization of American States (OAS) کړنلاره او اساسنامه تصویب شول چې یوه سریزه او ۱۱۲ مادې یې درلودې او د کال ۱۹۵۱ د دسمبر په ۱۳ اجرایي شول. په کال ۱۹٦٥ کې د OAS په هغه ناسته کې چې په ریودوژینرو (ارجنتاین) کې وشوه، د ټولنې په سیاسي او اقتصادي اهدافو کې اصلاحات منظور شول.

په کال ۱۹۸۵ کې دا کړنلاره د کارتجنا (کولمبیا) په ناسته کې بیا تعدیل شوه او د ټولنې سرمنشي ته، د ملګرو ملتونو د منشي په څېر ډېر واکونه ورکول شول. په دې تعدیلاتو کې د هغه سیمو د غړیتوب په هکله هم آسانتیاوې تصویب شوې چې ژر خپلواکي ته رسېدې.

غړیتوب: هر امریکایي هېواد چې کړنلاره او اساسنامه ومني، د OAS غړیتوب ترلاسه کولای شي. OAS اوس ۳۵ غړي لري. کانادا د وروستی غړي هېواد په توګه، په کال ۱۹۷۲ کې له دې ټولنې سره یو ځای شو. له هغه ځایه چې OAS ضد کمونستي تګلاره درلود؛ ځکه یې په کال ۱۹٦۲ کې د کیوبا غړیتوب وځنډاوه.[٥١٥]

د OAS غړي هېوادونه دا دي: برمودا، ارجنتاین، باهاماس، باربادوس، بلیز، بولیویا، برازیل، کانادا، کولمبیا، کوستاریکا، چیلي، دومنیکن، دومینیکن (دومنیکا جمهوریت)، اکوادور، السلوادور، ګرینادا، ګواتیمالا، ګویان، هایتي، هاندوراس، جمیکا، مکسیکو، نیکاراګوا، پانامه، پاراګوای، پیرو، سنت کیتس او نویسل، سنت ونیسنت او ګرینادیس، سنت لویسا، سورینام، ترینیداد او توباګو، امریکا متحده ایالات، یوروګوای او ونزویلا.[٥١٦]

---

[٥١٤] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۳۰

[٥١٥] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۶۱

[٥١٦] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۹-۲۸۸

اهداف: د غړو هېوادونو د ځمکنی بشپړتیا ساتنه او په هغوی کې د سولی، ثبات، عدالت، اقتصادي خپلواکي او د ټولنیزه – اقتصادي او سیاسي پرمختګونو او پراختیاوو ګړندي کول، د OAS په لویو اهدافو کې راځي. OAS د خپل فعالیت په موده کې دا ۵ خبرې په پام کې نیولې: د هېوادونو په کورنیو چارو کې لاس نه وهي، هېوادونه متقابله امنیت ته بولي، د بشري حقونو او ولسواکیو ملاتړ کوي، اقتصادي ګډ کار هڅوي او د شخړو د سوله ییز حل پلوی ده.

جوړښت: عمومي ټولنه، د وزیرانو مشورتي ناسته، دایمي شوری، د پراختیا له پاره بین الامریکایي شوری او دارالانشا د OAS لوي اداره کوونکي ارګانونه دي.

عمومي ټولنه: عمومي ټولنه د OAS تر ټولو ځواکمن سیاسي ارګان دی چې د غړو هېوادونو له استازو جوړه ده او په کال کې یو ځل په واشنګتن (امریکا متحده ایالات) او یا کوم بل غړي هېواد کې غونډه جوړوي. عمومي ټولنه د OAS تګلارې او کړنلارې ټاکي، بودجه تصویبوي او ټول OAS او تخصصي څانګې یی اداره کوي.

د وزیرانو مشورتي شوری: دا شوری هر وخت د غړو هېوادونو د بیړنیو (عاجل) مسایلو ارزونې له پاره جوړېږي. ټول غړي هېوادونه کولای شي چې داسې غونډو ته استازي ولېږي. دا شوری په امنیتي کارونو لګیا ده او که چېری په لویدیځه نیمه کره کې کوم وسله وال یرغل وشي؛ نو ژر غونډه جوړوي او پرېکړه کوي.

دایمي شوری: دا شوری چې د OAS د غړو هېوادونو له دایمي استازو جوړه ده، په هرو دوو میاشتو کې په نیویارک (امریکا متحده ایالات) کې د ملګرو ملتونو په مقر کې سره ګوري او د OAS ورځني کارونه څاري او مرسته کوي. د دایمي شوری ډېر غړي په ملګرو ملتونو کې د خپلو هېوادونو سفیران دي.

د پراختیا له پاره بین الامریکایي شوری: دا شوری په کال ۱۹۹۳ کې، د غړو هېوادونو د علمي، زده کړنیز او فرهنګي پراختیاوو، د بېوزلتیا د ریښو (ولې) وچولو او د وزګارتیا د کمولو په شان مسایلو، د څېړنې او په دې برخو کې د غړو هېوادونو تر منځ د ګډ کار د هڅولو له پاره جوړه شوه.

دارالانشا: د OAS د اداري چارو دفتر چې په سر کې یې سرمنشي ځای لري. د دارالانشا سرمنشي او مرستیال سرمنشي، د OAS عمومي ټولنه د ۵ کلونو له پاره ټاکي. دارالانشا د غونډو او کنفرانسونو د جوړولو مسوولیت هم په غاړه لري.

تخصصي څانګې: OAS لاندې تخصصي څانګې لري:

- د ښځو د چارو له پاره بین الامریکایي کمیسیون،
- د کرنې په برخه کې د ګډ کار بین الامریکایي انستیتوت،
- د روغتیا بین الامریکایي ټولنه،
- د بشري حقوقو بین الامریکایي کمیسیون،
- بین الامریکایي دفاعي بورد،

- د نشه یي توکو د مخنیوي بین الامریکایي کمیسیون.[۵۱۷]

## ۲ - د منځنی امریکا د هېوادونو ټولنه

**Organization of Central American States(ODECA)**

د منځنی امریکا ټولنې هېوادونه (کوستاریکا، گواتیمالا، نیکاراگوا، هاندوراس او السلوادور) تر کال ۱۸۲۱ پورې، د اسپانیا تر لاس لاندې او ټول د (گواتیمالا امارات) په نامه یادېدل؛ خو په کال ۱۸۲۳ کې، د متحدو منځنیو ولایاتو په نامه، په یوه فدرال هېواد کې سره یو ځای شول.

په کال ۱۸۳۸ کې دا هېوادونه په داسې حال کې خپلواکه شول چې د یووالي هڅې روانې وې. په کال ۱۹۰۷ کې د واشنگتن تړون لاسلیک شو چې د همدې پنځو هېوادونو د کنفدراسیون د جوړېدو خبره په کې شوې وه؛ خو تړون په لسو کلونو کې مات او د کنفدراسیون خبره پاته شوه.

په کال ۱۹۵۱ کې د منځنی امریکا پنځو هېوادونو، د سن سلوادور (السلوادور) کړنلاره لاسلیک کړه چې د یووالي د ټینگښت له پاره اغېزمن گام بلل کېده. په کال ۱۹٦۲ کې د سن سلوادور دوهم تړون لاسلیک شو، چې د منځنی امریکا هېوادونو د اوسنۍ ټولنې بنسټ بلل کېږي.[۵۱۸]

جوړښت: سرمشریزه، د بهرنیو چارو او دارالانشا وزیرانو شوری، اقتصادي شوری، مرکزي دفتر او دارالانشا.

- سرمشریزه: سرمشریزه د دی ټوانی تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارگان دی، چی د غړو هیوادونو مشران پکی برخه اخلی او په کال کی، یو ځل غونډه کوی.

د بهرنیو چارو وزیرانو شوری: د منځنی امریکا هېوادونو د ټولنې واکمن ارگان چې په کال کې یو ځل غونډه کوي او پرېکړې یې د رایو په اتفاق وي.

اقتصادي شوری په کال ۱۹۵۸ کې، په هاندوراس کې، د منځنی امریکا د گډ بازار بنسټ کېښود چې تړون یې هاندوراس، نیکاراگوا، السلوادور او گواتیمالا لاسلیک کړ. کوستاریکا هم په کال ۱۹٦۲ کې، له دې تړون سره یو ځای شوه. دا تړون غواړي چې د غړو هېوادونو تر منځ د ملي اقتصاد د یووالي، د یو لوی اقتصادي بازار د جوړولو، د تولید د ودې، د سوداگریزه راکړې ورکړې او د خلکو د ژوندانه د سطحې د لوړولو له پاره کار وکړي.

په کال ۱۹٦۹ کې د هاندوراس او السلوادور جگړې، د منځنی امریکا گډ بازار چې خورا بریالی په مخ روان و، له ماتې سره مخامخ شو.

دلته دا خبره د یادونې ده چې له کال ۱۹۷۲ څخه وروسته، د منځنی امریکا هېوادونو ټولنې د هېوادونو تر منځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا له پاره، ډېرې هڅې وکړې چې په پایله کې، د (منځنی امریکا اقتصادي او ټولنیزې شوری) جوړه شوه.[۵۱۹]

---

[۵۱۷] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۹-۲۸۸

[۵۱۸] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ۲۳۱

[۵۱۹] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۳۲

### ۳ - د لاتینی امریکا د اقتصادی پیوستون ټولنه

**Latin American Integration Association( ALADI)**

په کال ۱۹٦۰ کی د ملگرو ملتونو د اقتصادي کمېسیون په هڅونه، او د یوروگوای د کړنلارې له مخی، د لاتینې امریکا د ازادې سوداگری ټولنه (Latin American Free Trade Association(LAFTA جوړه شوه چی د لاتینې امریکا یا جنوبي امریکا اووه هېوادونه (یوروگوای، برازیل، ارجنتاین، پیرو، چیلي، مکسیکو، کولمبیا یی غړی شول.

LAFTA غوښتل چې د سوداگری یوه آزاده سیمه جوړه او د دولتونو تر منځ، د متقابله همکاریو ستونزې له منځه ویسي. لکه په کال ۱۹٦٦ کې په اوبو کې د تگ راتگ یا وړلو – راوړلو هوکړه او داسې نور.

د LAFTA په تړون کې راغلي و چې غړي هېوادونه به، په ۱۲ کلونو کې د مالونو د صادراتو - وارداتو کمي Quantity محدودیت او گمرکي تعرفې له منځه ویسی. له نورو هېوادونو سره د اړیکو مقررات جوړ یی کړل او د نورو امریکایي هېوادونو د غړیتوب له پاره یې اسانتیاوې په پام کې ونیولې. له همدې امله اکوادور په ۱۹٦۲، بولیویا په ۱۹٦۷ او وینزویلا په ۱۹٦٦ کې د ټولنې غړي شول. تړون همداراز د غړو هېوادونو د اقتصادي جوړښتونو توپیرونه، په پام کې ونیول او پرېکړه شوه که چیرې کوم هېواد د تادیاتو د بېلانس د کسر په شان، له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کېږي، کولای شي چې د آزادې سوداگری مقررات د لنډې مودې له پاره وځنډوي.[۵۲۰]

په کال ۱۹٦۹ کې د LAFTA غړو هېوادونو، د کاراکاس په غونډه کې په (یوروگوای تړون) کې ځینې اصلاحات منظور کړل؛ خو د غړو هېوادونو تر منځ د یو لړ ستونزو له امله، د ازادې سوداگری سیمه جوړه نه شوه. له دې ستونزو وروسته همدې هېوادونو په کال ۱۹۸۰ کې لاندې درې کوچنی ټولنې:

- د وروسته پاتې هېوادونو ټولنه (اکوادور او پاراگوای)،
- د منځنی کچې پرمختللي هېوادونه (کولمبیا، چیلي، پیرو او یوروگوای)،
- پرمختللي هېوادونه (ارجنتاین، مکسیکو او برازیل).

سره یو ځای کړې او د اگست په میاشت کی ارجنتاین، اکوادور، یوروگوای، برازیل، بولیویا، پیرو، پاراگوای، چیلي، کولمبیا، مکسیکو، نیکاراگوا او ونزویلا د ALADI د جوړیدو تړون لاسلیک او د لاتینې امریکا د آزادې سوداگری ټولنه یا LAFTA له منځه لاړه. نوی ټولنی هیله درلوده چی چې په غړو هېوادونو کې، دوه اړخیزه او څو اړخیزه گمرکي معافیتونه پیاوړي کړي.

په کال ۱۹۸۱ کې ALADI اجرایي شو. د دې ټولنې هدف دا دی چې د لاتینې امریکا د هېوادونو تر منځ گډ اقتصادي بازار رامنځ ته کړي، گمرکي تعرفې حداقل ته ورسوي او یو د بل په وړاندې نرم اقتصادي سیاستونه په پام کې ونیول شي. کیوبا په ۱۹۹۹ کی له دی تړون سره یو ځای شوه.[۵۲۱]

---

[۵۲۰] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۳۵-۲۳۴

[۵۲۱] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۲۳۵

### ۴- اندین ډله Andin Group:

اندین ډله یو سیمه ییز تړون دی چې د لاتینې امریکا د آزادې سوداګرۍ ټولنې په چوکاټ کې، په کال ۱۹٦۹ کې د بولیویا، چیلي، اکوادور، کولمبیا او پیرو تر منځ لاسلیک شو.

وینزویلا په ۱۹۷۳ او پانامه په ۱۹۷۹ کې له دې تړون سره یو ځای شول؛ خو چیلي د ګمرکي مالیاتو د معافیت او د پانګونې له ځینو مقرراتو سره د مخالفت له امله، په ۱۹۷٦ کې له تړون څخه ووته.

هغه وخت چې بولیویا، کولمبیا، اکوادور، پیرو او ونزویلا په کال ۱۹۹۷ کې د تروجیلو تړون لاسلیک کړ، دا ډله د اندین اقوامو د ټولنې یا Indian Tribles Union په نامه ونومول شوه.

اهداف:

- په سیمه کې د ګډ بازار جوړېدل،
- د اقتصادي یووالي په سیوري کې، د غړو دولتونو د یووالي له پاره د آسانتیاوو برابرول.

د اندین ډلې د کال ۱۹۹۳ په غونډه کې، پرېکړه شوه چې ګډ بازار به د السلوادور، پانامه، نیکاراګوا، ونزویلا، مکسیکو، هاندوراس، ګواتیمالا، کوستاریکا او کولمبیا تر منځ سوداګریزه راکړه ورکړه آسانه کړي.

جوړښت: کمېسیون چې د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی او د اندین ډلې تر ټولو ځواکمن اداره کوونکی ارګان بلل کېږي.

اداري شوری: له درې غړو څخه جوړه شوې چې د دارالانشا دندې هم په غاړه لري. اداري شوری د دې ډلې ټول وړاندیزونه کمېسیون ته لېږي او د کمېسیون پرېکړې عملي کوي.

د دې ډلې هېوادونه په خپلو کې، سوداګریز محدودیتونه یا په متقابله توګه او یا له ګمرکي تعرفو څخه د معافیت په بڼه، له منځه وړي او د درېیمګړو هېوادونو په وړاندې د مالیاتي، اسعاري، مالي او پراختیایي چارو په وخت کې، همغږي سیاستونه غوره کوي.[۵۲۲]

### ۵ - د کارابین سیمې هېوادونو ټولنه

**Association of Caribbean States (ACS):**

کله چې د کارابین سیمې هېوادونو، سیاسي خپلواکي ترلاسه کړې، ژر یې د سیمه ییزو جوړښتونو په چوکاټ کې اقتصادي همکاري پېل کړه چې د آزادې راکړې ورکړې د یوې سیمې او یو ګډ بازار جوړولو ته لار اواره شي.

غړیتوب: دا ټولنه اوس ۲۵ دایمي غړي هېوادونه او ۲۰ کتونکي لري. غړي هېوادونه دا دي:

---

[۵۲۲] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۳۵

باربودا، باهاماس، باربادوس، بیلیز، کولمبیا، کوستاریکا، کیوبا، دومینیکن، دومینیکا جمهوریت، السلوادور، گرینادا، گواتیمالا، گویانا، هایتي، هاندوراس، جمیکا، مکسیکو، نیکاراگوا، پانامه، سنت کیتس او نادیسس، سنت لویسا، سنت ویسنت او گرینادیس، سورینام، ترینیداد او توباگو او ونزویلا.[۵۲۳]

دا په حقیقت د کارابین د ۲۸ هېوادونو یوه لاس ته راوړنه ده چې په سیمه کې د همکاریو د ډېرولو، د سیاسي خبرو اترو د کوربتوب او د اقتصادي ګډ کار او پرمختګ له پاره جوړه شوه. د دې ټولنې د جوړېدو تړون د کال ۱۹۹۴ د جولای په ۲۷ په قرطاجینه (کولمبیا) کې، د کارابین هېوادونو د ګډ عمل، ګډ کار او مشوره په نیابت د ۲۵ هېوادونو تر منځ لاسلیک شو.

جوړښت: سرمشریزه، د وزیرانو شوری او دارالانشا د لاتینې امریکا د کارابین سیمې د هېوادونو ټولنې اصلي اداره کوونکي ارګانونه دي. د دې ټولنې وزیرانو شوری د پرېکړو اصلي ځای بلل کېږي.

اهداف:

دې ټولنې دې ۵ برخو ته ډېر پام درلود:

- د کارابین اوبو خوندي ساتل،
- سیلانیان،
- بهرنۍ سوداګریزه او اقتصادي اړیکې،
- طبیعي پېښې،
- ترانسپورت.

دا ټولنه لاندې درې جلا څانګې لري:

- د کارابین د ازادی سوداګرۍ ټولنه،
- د کارابین ګډ بازار،
- د کارابین د ختیځو هېوادونو ټولنه.

**٦ - د کارابین د ازادې سوداګرۍ ټولنه (Caribbean Free Trade Association (CFTA:**

CFTA د کال ۱۹٦۸ د مې په لومړۍ د باربادوس، بلیز، ترینیداد او توباگو، جمیکا، گرینادا، جورج تاون، انتیگوا، انگویلا، دومینیکا، سنت کتس او ناویس او مونتسرات سیمو او هېوادونو له خوا جوړه شوه.

د دې تړون له مخې د غړو هېوادونو تر منځ، گمرکي تعرفې له منځه لاړې او پرېکړه وشوه چې د گډو اقتصادي گټو له پاره، د سیمه ییز بانک، گډ ملکي هوایي چلند او گډو صنعتي پروژو په جوړولو کار وشي.[۵۲٤]

---

[۵۲۳] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۹۱-۲۹۰

[۵۲٤] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص – ۳۳۷

### ۷ - د کارابین ګډ بازار Commonwealth Caribbean :

لکه چې مخکې وویل شول، په کال ۱۹٦۸ کې، په کاربین کې د سیمه ییزه اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا او اغېزمنتیا له پاره، CFTA جوړه شوه. د همدې ټولنې د ګټور کار له امله، په کال ۱۹۷۲ کې باربادوس، ترینیداد او توباګو، جمیکا او ګویان د یو ګډ بازار د جوړولو تړون لاسلیک کړ. په کال ۱۹۷۳ کې د دې تړون برخه والو هېوادونو د پراختیا بانک جوړ کړ چې تر اوسه فعال دی.[٥٢٥]

### ۸ - د کارابین د ختیځو هېوادونو ټولنه

**:Organization of Eastern Caribbean States (OECS)**

د ختیځ کارابین اوو کوچنیو هېوادونو او سیمو (انتیګوا، دومینیکا، سنت کتس، سنت لوسیا، سنت وینسنت، ګرینادا او مونتسرات)، په کال ۱۹۸۱ کې، د د ختیځ کارابین هېوادونو ټولنه جوړه کړه چې خپل اقتصادي پرمختګ د ګډ کار له لارې ګړندي کړي، سوداګریزه او مالي تګلارې همغږي کاندي او په پوځي برخو کې یو له بل سره مشوره ولري. سرمشریزه، د بهرنیو اړیکو کمېټه، دفاعي او امنیتي کمېټه، د اقتصادي چارو کمېټه او دارالانشا د OECS اصلي اداره کوونکي ارګانونه دي.

مقر: د OECS مرکزي دفتر په سنت لوسیا کې موقعیت لري.

نوت: په ختیځ کارابین کې څو نورې ټولنې هم شته چې یا په دولتونو او یا په نورو ټولنو پورې تړلي دي، لکه: د ماشوم نړیوال انستیتوت، د روغتیا امریکایي ټولنه، د کرنیزه علومو امریکایي موسسه او داسې نور.[٥٢٦]

### ۹ - د شمالي امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون

**:North America Free Trade Agreement (NAFTA)**

د شمالي امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون یا NAFTA د امریکا – کانادا تر منځ د ازادې سوداګرۍ تړون زېږنده دی چې په کال ۱۹۸۸ کې لاسلیک او په ۱۹۸۹ کې اجرایي شو.

مکسیکو په کال ۱۹۹۲ کې د NAFTA غړیتوب ترلاسه کړ. د دې تړون له مخې د امریکا، کانادا او مکسیکو تر منځ، د سوداګرۍ او پانګونې محدودیتونه، په ۱۵ کلونو کې له منځه تلل.

د امریکا – مکسیکو تر منځ ډېرې سوداګریزې تعرفې ژر لغو شوې، مکسیکو په کانادا او امریکا کې پانګونې ته مخه کړه او په دې لار کې یو څه خنډونه له منځه لاړل؛ خو په مکسیکو کې د تېلو، په کانادا کې د فرهنګي محصولاتو او په امریکا کې د هوایي ترانسپورت او راډیویي اړیکو په برخو کې، د پانګونې ستونزې په ځای پاتې شوې.

---

[٥٢٥] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۳۷

[٥٢٦] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۳۷

NAFTA هېوادونو په کال ۲۰۰۰ کې، په خپلو کې د باروړونکو موټرو تګ راتګ ته اجازه ورکړه.

NAFTA په کال ۱۹۹۴ کې، چیلي ته هم د غړیتوب بلنه ولېږله چې د امریکا متحده ایالاتو د کانګرس د مخالفت له امله وځنډېد.

په کال ۱۹۹۸ کې د ۳۴ امریکایي هېوادونو مشرانو، په چیلي کې ژمنه وکړه چې د NAFTA په اړه د خبرو اترو بهیر به پېل کاندي چې په روانو ستونزو خبرې وشي او د ټولنې د بریالیتوب له پاره په ګډه کار وکړي.

مقر: د NAFTA مرکزي دفتر په اوتاوا (کانادا) کې دی.[۵۲۷]

**۱۰ - د جنوب ګډ بازار (مرکو سور) Merco Sur:**

مرکو سور تړون په کال ۱۹۹۱ کې د ارجنتاین، برازیل، پاراګوای او یوروګوای تر منځ د ګډې بهرنۍ تعرفې د ټاکلو، د توکو د ازاد لېږد – رالېږد، د ګډو سوداګریزه تګلارو د جوړولو او د لویو اقتصادي سیاستونو د همغږۍ او اقتصادي یووالي په هیله لاسلیک شو.

د (اوروپترو) سند له مخې چې په کال ۱۹۹۴ کې لاسلیک شو، مرکوسور کولای شي چې له نورو هېوادونو او نړیوالو ټولنو سره هم هوکړې لاسلیک کړي.

برازیل، ارجنتاین، پاراګوای او یوروګوای د مرکوسور بنسټ ایېښودنکی غړي دي؛ چیلي او بولیویا په ۱۹۹٦ او ونزویلا په ۲۰۰۵ کال کې غړیتوب ترلاسه کړ.

جوړښت: MS ګڼ اداره کوونکي ارګانونه لري:

- د ګډ بازار شورى: تر ټولو ځواکمن ارګان چې د ټولنې د مهمو پرېکړو واک لري،
- د ګډ بازار ډله: چې د MS اجراییوي څانګه بلل کېږي،
- د سوداګریزو چارو کمېسیون: دا کمېسیون د ګډو سوداګریزو تګلارو د عملي کولو او په بهرنیو تعرفو د څار مسوولیت لري. MS د غړو تر منځ د سوداګریزه ستونزو او شخړو د حل په وخت کې، برازیلین پروتوکول په پام کې نیسي.
- د پارلماني چارو ګډ کمېسیون: د غړو هېوادونو د پارلمانونو له استازو څخه جوړ کمېسیون، چې د همدې هېوادونو د قوانینو د همغږۍ مسوولیت په غاړه لري،
- اقتصادي او ټولنیز مشورتي بنسټ: دا بنسټ د سوداګري او کارګري ټولنو له استازو څخه جوړ او MS ته په اړونده چارو کې مشوره ورکوي.
- دارالانشا: چې یو منشي لري.
- مقر: د MS مرکز په مونټه ویدو (یوروګوای) کې دی.[۵۲۸]

---

[۵۲۷] نړیوال سازمانونه،محمد نظیم سمون، ص ۲۳۵

[۵۲۸] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۳۵

# شپږم څپرکی

# هغه ټولنی چی اوس فعالی نه دی

**هسی خو په نړۍ کی داسی په سلگونو ټولنی شته؛ چی یو وخت یی کار کړی؛ خو اوس نشته. دلته ما دا دری غیرفعاله ټولنی ځکه راوړی چی د کتاب په متن کی یادی شوی دی.**

**۱ - د ملگرو ملتونو د اتومي انرژي کمیسیون**

**UN Atomic Energy Commission (UNAEC)**

د ملگرو ملتونو عمومي ټولنی د کال ۱۹۴٦ د جنوري په ۲۴، د لومړنې پرېکړې له مخې UNAEC جوړ کړ چې د اتومي انرژي د کشف او کارونې څخه رامینځ ته شوې ستونزې وڅېړي. عمومي ټولنې هغه وخت کمیسیون ته دنده وسپارله چې په لاندې برخو کې خپل مسلکي وړاندیزونه چمتو کاندي:

- دسولې له پاره د ټولو هېوادونو ترمنځ، د بنسټیزو علمي معلوماتو شریکول،
- یوازې د سوله ییزو هدفونو له پاره د اتومي انرژي د کارولو د ډاډ له پاره د دې انرژي کنترول،
- د ډله ییزه وژنې او اتومي وسلو باندې د هېوادونو د سمبالېدو مخنیوي،
- د پلټنو او نورو اغېزمنو لارو چارو په مرسته د هغه هېوادونو ملاتړ چې ځانونه د اتومي یرغل سره مخامخ ویني.

د همدې کال د دسمبر په ۱۴ د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې د یوې پرېکړې د لارې، له UNAEC څخه وغوښتل چې خپل راپور ژر وړاندې کړي او دې کار ته یې د امنیت شوری پام واړاوه. UNAEC خپل راپور ۱٦ ورځې وروسته امنیت شوری ته وړاندې کړ چې د کال ۱۹۴۷ د مارچ په لسمه تصویب شو.

د امریکا متحده ایالاتو چې هغه وخت د اتومي وسلو یوازنی جوړونکی او درلودونکی هېواد و، د خپلو اتومي وسلو امحا په دې شرط منله چې ملگري ملتونه دې د اتومي پرمختگونو پلټنه، د امنیت شوری د ویتو له حق سره نه تړی. UNAEC دا وړاندیز ومانه؛ خو کله چې موضوع امنیت شوری ته ورسېده، د شوری اتحاد له مخالفت سره مخامخ شوه.

د کال ۱۹۴۸ د نومبر په ۴ د ملگرو ملتونو عمومي ټولنې، په خپل درېیم پرېکړه لیک کې وویل چې د UNAEC لومړی، دویم او درېیم راپورونه یې کتلای او په دې یې ژور خپگان ښکاره کړ چې د UNAEC وړاندیزونه نه دي عملي شوي. له همدې امله عمومي ټولنې په کال ۱۹۵۲ کې دا کمیسیون چې له ۱۹۴۹ څخه را پدېخوا عملاً فعال نه و، ړنگ کړ[529].

---

[529] en.wikipedia.org/unaee

### 3 - د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنه

**European Coal and Steel Community (ECSC)**

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، په کال ۱۹۵۰ کې فرانسې د ټولې اروپا د پرمختګ له پاره، جرمني ته Schumann طرحه وړاندې کړه. په دې طرح کې راغلي و چې د دواړو هېوادونو، د ډبرو سکرو او پولادو محصول دې، د يوه ګډ لوړپوړي پلاوي په واک کې ورکړ شي. دا وړانديز ژر د يو شمېر اروپايي هېوادونو د پام وړ وګرځېد او د همدې کال په جون کې لوېديځې جرمني، ايتاليا، فرانسې، بلجيم، هالند او لوګزامبورګ يو نړيوال کنفرانس جوړ کړ.

دې کنفرانس د لسو مياشتو خبرو وروسته، (د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنې) د تړون مسوده چمتو کړه چې د کال ۱۹۵۲ د اپريل په ۱۸ تصويب او لاسليک شوه.

اهداف: د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنې د جوړېدو هدف، د غړو هېوادونو ترمنځ د داسې يو ګډ بازار جوړول و چې د غړو هېوادونو اقتصادونه زيانمن نه شي. دا ګډ بازار په لاندنيو اصولو ولاړ و:

- ګمرکي معافيت،
- د توکو د تاويدو (ګردش) د کمي محدوديت،
- د تبعيضي مقرراتو مخنيوی،
- مالي مرستې او د دولتونو مالي ملاتړ.

جوړښت: مشرتابه شوری: د دې ټولنې مهم اداره کوونکی عالی ارګان ۹ غړي درلودل او دا له هغه ۷۸ کسانو څخه تاکل کيدل چی د غړو هېوادونو ملي پارلمانونه دې غونډو ته استول.

خصوصي اشخاص او دولتونو هم کولای شي چې د خپلو ستونزو او حقوقي مسايلو د حل له پاره، د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنې محکمې ته مراجعه وکړي.

په پای کې بايد ووايو چې د دې ټولنې جوړېدل، په حقيقت کې د اروپا د يووالي لومړنی بنسټ ګڼل کېږي.[۵۳۰]

---

[۵۳۰] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۳۶

### ۳ - د ښځو له پاره د ملګرو ملتونو د زده کړو او څېړنو نړیوال انستیتوت

**United Nations International Research and Training Institute for the Advancement of Women( INSTRAW)**

دا انستیتوت په کال ۱۹۷۵ کی د ښځو په اړه د یوې نړیوالې غونډې د سپارښتنو له مخې، په ۱۹۷٦ کې د ملګرو ملتونو د اقتصادی او ټولنیزی شوری له خوا جوړ شو. دا د ملګرو ملتونو یو خپلواکه څانګه وه چې په خپله خوښه مرستو چلیده او مرکز یې په سانتودومنګو (د دومینیکن جمهوریت) کې و.

اهداف: INSTRAW د ښځو د پرمختګ او د ټولنیزې پرمختیا او پراختیا په بهیر کې د ښځو د ګډون له پاره، په زده کړو او څېړنو بوخت و.

جوړښت: INSTRAW د هغه لس کسیز مدیره هیات له خوا اداره کیده، چې د اقتصادي او ټولنیزه شوری له خوا، د دریو کلونو له پاره ټاکل کیده. دی هیات به په کال کې یو ځل د ملګرو ملتونو په مقر (نیویارک) کې غونډه کوله او د انستیتوت کارونه او فعالیتونه به یی څېړل. دی انستیتوت به خپل کلنۍ راپور د همدې مدیره هیات له خوا د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شوری ته لیږه . دا انستتیوت په کال ۲۰۱۱کی له UN-Women سره یو ځای شو.[۵۳۱]

---

[۵۳۱] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبرزاهد، ص ۱۵۶-۱۵۵

# اووم څیرکی

## ضمایم

### ۱ - دملګروملتونوکړنلاره ( منشور)

سریزه

موږ د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه، په ټینګه خپله اراده څرګندوو چې راتلونکی نسل دې، له جګړو، شخړو او ورانیو څخه وژغورل شي چې دوه ځلېیې بشر او نړۍ زیانمن کړي. موږ د ټولو انسانانو؛ ښځو، نارینه وو او ماشومانو په اساسي حقونو، روغتیا، کرامت او د دوی تر منځ په حقوقي برابری‌ټینګار کوو.

موږ د زړه د نیته داسې یو حالت غواړو چې نړیوال تړونونه او قوانین رعایت شي او هغه څه چې په دې قوانینو کې راغلي محترم وګڼل شي، چې د ټولو وګړو ترمنځ عدالت ټینګ شي.

موږ د بشپړې خپلواکۍ تر سیوري لاندې، د ټولنیز پرمختګ او د ښه ژوندانه د جوړولو له پاره خپله ټینګه اراده څرګندوو.

د دې اهدافو او هیلو له مخې غواړو چې د ښه نیت او ښه ګاونډیتوب له پاره، یو له بل سره په سوله او امن کې ژوند وکړو او د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره، خپلې هڅې او قوت سره یوځای کړو. موږ به داسې لارې چارې لټوو چې د پوځي ځواک له کارونې پرته، به مو ګډې ګټې د تل له پاره په کې خوندي وي. موږ د نړۍ د ټولو ولسونو د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره نړیواله مشري مهمه بولو؛ نو ځکه د پورتنیو اهدافو د لاس ته راوړلو له پاره مو پرېکړه کړې چې خپلې هڅې سره ګډې کړو.

دا چې زموږ دولتونو د خپلو استازو له لارې، د امریکا په سانفرانسسکو کې، د ملګرو ملتونو په دې کړنلاره د رایو په اتفاق هوکړه کړې، نو یوه نړیواله ټولنه جوړوو چې هغه د ملګرو ملتونو په نامه یادېږي.

## لومړی څپرکی

## اهداف او اصول

لومړی ماده:

د ملګرو ملتونو اهداف او اصول په لاندېډول دي:

۱ --د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره، د ټولوګډو اغېزناکو اقداماتو کول، چې د ګواښونو، تېریو،یرغلونو او نورو سوله ماتوونکو اعمالو مخه ونیول شي او له نړیوالو قوانینو سره سم، په سوله ییزډول، د خبرو اترو له لارې د هغه نړیوالو شخړو او پېښو مخه په عادلانه توګه ونیول شي چې ښایي نړیواله سوله زیانمنه کړي،

۲ -- د ولسونو خپلواکۍ او مساوي حقونو ته درناوی، د ولسونو تر منځ د دوستانه اړیکوټینګول او د نړیوالې سولې او ټیکاو له پاره د مناسبو لارو چارو لټول،

۳ -- د نړیوالو د اقتصادي، کلتوري او بشرپاله مسایلو د حل له پاره، د همکارئ او مرستو جلبول او له هر ډول توکمیز، جنسیتي، مذهبي او ژبني توپیر پرته، د بشري حقونو هڅول او د دوی اساسي ازادیو ته درناوی،

۴ -- اهدافو ته د رسېدو له پاره د ټولو دولتونو تر منځ، د همغږۍ رامنځ ته کولو او د کار له پاره د یو ګډ مرکز جوړول؛

دویمه ماده:

ملګري ملتونه او غړي هېوادونه د پورتنیو اهدافو د لاس ته راوړلو له پاره، چې په لومړۍ ماده کې یاد شول، دا مني چې:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي د برابرئ اصل ته پام سره یو شان او برابر حقونه لري،

۲ -- ټول غړي د غړیتوب له حقونو او امتیازاتوڅخه د ګټې اخیستنې له پاره، هغه ژمنې چې د دې کړنلارې له مخې یې کړي، په ښه توګه او ښه نیت باید ترسره کړي،

۳ -- ټول غړي خپلې نړیوالې شخړې په داسې سوله ییزډول حل کړي، چې نړیوال سولې او امنیت ته ګواښ پېښ نه شي،

۴ -- ټول غړي هېوادونه به په خپلو نړیوالو اړیکو کې، د زور له کارونې، بېرولو او داسې اعمالو څخه چې د هېوادونو د سیاسي خپلواکئ یا ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ پېښوییا د ملګرو ملتونو له اهدافو سره په ټکر کې وي، ډډه کوي،

۵ -- ټول غړي د ملګرو ملتونو له هغهو کارونو سره چې په دې کړنلاره کې راغلي، هر ډول مرسته کوي او له هغو هېوادونو سره به مرسته نه کوي چې د ملګرو ملتونو له خوا پرې بندیزونه لګېدلي او قهري تدابیر پرې پلي شوي وي،

٦ -- د ملګرو ملتونو ټولنه هڅه کوي چې هغه هېوادونه چې د دېټولنې غړي نه دي؛ خو د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره ورته اړتیا لیدل کېږي، د ملګرو ملتونو د اصولو منلو ته راوبولي،

٧ -- د دې کړنلارې د حکمونو له مخې، ملګري ملتونه حق نه لري چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاس ووهي. ملګري ملتونه همدارنګه حق نه لري چې کوم هېواد په زور او جبر سره د منشور منلو ته اړ کړي؛ خو دا اصل د اووم څپرکي له قهري اقداماتو څخه استثنی دی،

## دویم څپرکی

## غړیتوب

دریمه ماده:

د ملګرو ملتونو اصلي غړي هغه هېوادونه دي چې د سانفرانسسکو (امریکا متحده ایالات) غونډه کېږي برخه اخیستې وه او په کال ۱۹۴۲ کېږي د متفقینو اعلامیه او دا کړنلاره لاسلیک کړي او د ۱۱۰ مادې له مخې یې تصویب کړي.

څلورمه ماده:

۱ -- ټول هغه هېوادونه چې سولې ته ژمن وي او کړنلاره ومني، کولای شي چې د ملګرو ملتونو غړیتوب واخلي.

۲ -- دا هېوادونه به د امنیت شورى په سپارښتنه او د عمومي ټولنې په تایید، د ملګرو ملتونو په غړیتوب منل کېږي.

پنځمه ماده:

هغه غړي هېوادونه چې د امنیت شورى له خوا پرې قهري یا احتیاطي تدابیر وضع شوي وي، عمومي ټولنه یې ښايي د امنیت شورى په سپارښتنه حقوق او د غړیتوب ځینې امتیازات وځنډوي. دا حقوق او امتیازات د امنیت شورى له خوا بېرته ورکولای کېدای شي.

شپږمه ماده:

هغه غړي هېوادونه چې د کړنلارې خلاف کړنې ترسره کړي، د امنیت شورى په سپارښتنه به د عمومي اسامبلې له لوري د ملګرو ملتونو له غړیتوب څخه و اېستل شي.

## درېیم څپرکی

## څانګې

اوومه ماده:

د ملګرو ملتونو اصلي څانګې دا دي:

۱ – عمومي ټولنه،

۲ -- امنیت شوری،

۳ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری،

۴ -- د قیمومیت شوری،

۵ -- د عدالت نړیواله محکمه،

٦ -- دارالانشاء (سکرتریت).

د دې کړنلارې سره سم د اړتیا په وخت کې نورې څانګې هم جوړېدای شي.

اتمه ماده:

ملګري ملتونه به په خپلو ټولو فرعي او اصلي څانګو کې، د ښځینه او نارینه کارکوونکو ترمنځ هېڅ راز محدودیتونه وضع نه کړي او ټولو ته به د کار مساوي حقوق ورکړل شي.

## څلورم څپرکی

## عمومي ټولنه

نهمه ماده:

۱ -- عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو له ټولو غړوڅخه جوړه ده.

۲ -- هر غړی هېواد په عمومي ټولنه کې له پنځو ډېر استازي نه شي لرلای.

دندې او واکونه

لسمه ماده:

عمومي ټولنه کولای شي چې د دې کړنلارې ټول مسایل او همدارنګه د ملګرو ملتونو په نورو څانګو پوری اړوند مسایل تر بحث او غور لاندې ونیسي؛ خو په ۱۲ مه ماده کې له راغلي حالت پرته، د سپارښتنې (توصیې) حق نه لري.

یوولسمه ماده:

۱ -- عمومي ټولنه کولای شي چې د نړیوالې سولې او ټیکاو له پاره د بې وسلې کولو په ګډونټول اصول، تر غور او څېړنې لاندې ونیسي او کولای شي چې د یادو اصولو په اړه د امنیت شوری او غړو ته ځینې سپارښتنې وکړي.

۲ -- عمومي ټولنه کولای شي چې په نړیوالې سولې او امنیت پورې د اړونده مسایلو په برخه کې، چې د غړو هېوادونو یا امنیت شوری او یا د ۳۵ مې مادې د دویمې فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو د ناغړو هېوادونو له خوا ملګرو ملتونو ته وړاندې کېږي، بحث وکړي او له ۱۲ مادې پرته امنیت شوری او هېوادونو ته سپارښتنه وکړي. ټول دا ډول مسایل چې د حل اړتیا یی لیدل کېږي، تر بحث مخکې او وروسته امنیت شوری ته وړاندې کېږي.

۳ -- عمومي ټولنه کولای شي د هغو احتمالي خطرونو په برخه کې، چې نړیواله سوله او امنیت ګواښي، د امنیت د شوری پام وغواړي.

۴ -- د عمومي ټولنې واکونه چې په دې ماده کې راغلي، په ۱۰ مه ماده کې راغلي احکام نه شي محدودولی.

دولسمه ماده:

۱ -- کله چې امنیت شوری یوه اختلافي او ناندریزې موضوع څېړي، عمومي ټولنه نه شي کولای چې د یادې موضوع په اړه سپارښتنه وکړي؛ خو که امنیت شوری عمومي ټولنې ته وړاندې کړي، سپارښت کېدای شي.

۲ -- د ملګرو ملتونو سرمنشي به د امنیت شوری په خوښه، د سولې او امنیت په تړاو د شوری له هرې غونډې وروسته، عمومي ټولنه خبروي او د مسلې تر څېړنې وروسته به عمومي ټولنه او که غونډه نه وي، ټولو غړو ته د امنیت شوری د غونډې رپوټ وړاندې کوي.

دیارلسمه ماده:

۱ --عمومي ټولنه د لاندې هدافو او مقاصدو له پاره څېړنې او سپارښتنې کولای شي:

الف: په سیاسي ډګر کې د نړیوالو همکاریو پراختیا او د نړیوالو حقوقو تدریجي پراختیا، هڅونه او تدوین.

ب: په اقتصادي، ټولنیز، کلتوري، روغتیایي او علمي برخو کې، د نړیوالو همکاریو پراختیا او له توکمیزو، جنسي، ژبنیو او مذهبي توپیرونو پرته، د بشري حقوقو او اساسي ازادیو تحقق.

۲ -- نور مسولیتونه: د عمومي ټولنې پورتنۍ دندې او واکونه چې د دې مادې په (ب) بند کې راغلي، په نهم او لسم څپرکي کې په تفصیل بیان شوي دي.

څوارلسمه ماده:

عمومیټولنه د دې کړنلارې د ۱۲ مې مادې د مقرراتو په رعایت سره کولای شي، د هر هغه وضعیت د سوله ییز حل له پاره چې ښایي نړیوالې سولې او دوستانه اړیکو ته زیان واړوي، د ځینو اقداماتو سپارښت وکړي.

پنځلسمه ماده:

۱ -- عمومي ټولنه د امنیت شورى کلنۍ او ځانګړي راپورونه ترلاسه کوي او تر څېړنې لاندې نیسي. په دې راپورونو کې به د امنیت شورى له خوا د نړیوالې سولې او امنیت په برخه کې د شویو اقداماتو او هڅو په اړه بشپړ معلومات واضح وي.

۲ -- عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو د نورو څانګو راپورونه هم ترلاسه کوي او تر څېړنې لاندې نیسي.

شپاړسمه ماده:

عمومي اسامبله د کړنلارې په ۱۲ او ۱۳ څپرکیو د دندو له مخې، مسوولیت لري چې د قیمومیت نظام په چوکاټ کې د غیرستراتېژیکو سیمو په اړه تړونونه تصویب کړي.

اولسمه ماده:

۱ -- عمومي ټولنه د ملګرو ملتونو بودیجه تر څېړلو وروسته تصویبوي.

۲ -- د ملګرو ملتونو لګښتونه د غړو هېوادونو په غاړه دی. دا لګښتونه د عمومي ټولنې له خوا د ټاکلې ونډې له مخې برابرېږي.

۳ -- عمومي ټولنه د تخصصي بنسټونو مالي او بودجوي مسایل چې په ۵۷ مه ماده کې راغلي، څېړي او تصویبوي او د دې بنسټونو د بودجې د څېړلو په برخه کې سپارښتنې کوي.

رایه

اتلمسه ماده:

۱ -- د عمومي ټولنې هر غړی هېواد د یوې رایې حق لري.

۲ -- د مهمو مسایلو په اړه د ټولنې پرېکړې د حاضرو غړو دوه ثلثه رایو ته اړتیا لري. لاندې مسایل مهم ګڼل کېږي:

د نړیوالې سولې او امنیت په اړه سپارښتنه؛ د امنیت شورى د غیردایمي غړوټاکل؛ د اقتصادي او ټولنیزې شورى د غړوټاکل؛ د ۸۴ مادې د دریمې فقرې له مخې د قیمومیت شورى د غړوټاکل؛ ملګرو ملتونو ته د نویو غړو منل؛ د غړو د حقونو او مزایاوو ځنډول؛ د غړو ایستل (اخراج)، په بودیجه او قیمومیت نظام پورې اړوند مسایل.

۳ -- د نورو مسایلو په اړه پرېکړې هم د رایو په اکثریت کېږي.

نولسمه ماده:

که د ملګرو ملتونو کوم غړی د مالي ونډې په ورکړه کې دوه کاله ځنډ وکړي، په عمومي ټولنه کې د رایې حق نه لري. خو که ټولنه دا تشخیص کړي چې دا د ونډې نه ورکول په مالي کمزورتیا یا کوم بل موجه عذر پورې اړه لري؛ ټولنه دې غړي ته د رایې حق ورکوي.

طرزالعمل

شلمه ماده: عمومي ټولنه په منظم ډول خپلې کلنۍ غونډې جوړوي او د اړتیا په وخت کې بېړنۍ غونډې هم جوړولای شي. بېړنۍ غونډې د امنیت شورى یا د اکثریت غړو په غوښتنه د سرمنشي په بلنه جوړېږي.

ویشتمه ماده:

عمومي ټولنه خپله داخلي کړنلاره جوړوي او د هرې غونډې له پاره دوره یې مشر ټاکي.

دوه ویشتمه ماده:

عمومي ټولنه کولای شي چې د خپلو دندو د اجرا له پاره له اړتیا سره سم فرعي څانګې جوړې کړې.

## پنځم څپرکی

## امنیت شوری جوړښت

درویشتمه ماده:

۱ -- امنیت شوری د ملګرو ملتونو له پنځلسو غړوڅخه جوړه ده. چین، فرانسه، روسیه، برتانیا او د امریکا متحده ایالات د امنیت شوری دایمي غړي دي. عمومي ټولنه د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې، عادلانه جغرافیوي وېش او ملګرو ملتونو د نورو اهدافو له پاره لس هېوادونه د شوری د غیردایمي غړو په توګه ټاکي.

۲ -- د امنیت شوری غیردایمي غړي د دوو کلونو له پاره ټاکل کېږي؛ خو دوه غړي د یو کال له پاره دي. هغه غړی چی له شوری څخه وځي، د بېرته ټاکل کېدو حق نه لري.

۳ -- د امنیت شوری هر غړی په شوری کې یو استازی لري.

دندې او واکونه

څلورویشتمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو له خوا د چټک او اغېزناک اقدام کولو له پاره غړو هېوادونو، د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې لومړی درجه مسوولیت امنیت شوری ته سپارلی او ټولو پرېکړه کړې چې امنیت شوری د دې مسوولیت د سرته رسولو په برخه کې اقدام وکړي.

۲ -- امنیت شوری د دې دندو د اجرا له پاره د ملګرو ملتونو د اصولو او اهدافو په بنسټ عمل کوي. هغه ځانګړي واکونه چې د یادو مسوولیتونو د اجرا له پاره امنیت شوری ته ورکول شوي، په ٦، ۸، ۷ او ۱۲ څپرکیو کې په ډاګه شوي دي.

۳ -- امنیت شوری خپل کلني راپورونه او له اړتیا سره سم ځانګړي راپورونه، د ارزونې او کتنې له پاره عمومي ټولنې ته وړاندې کوي.

پنځه ویشتمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړي ژمنه کوي چې د دې کړنلارې له مخې، د امنیت شوری پرېکړې مني او اجرا کوي.

شپږویشتمه ماده:

امنیت شوری له نړیوالې سولې او امنیت سره د مرستې له پاره، مکلفه ده چې لږ تر لږه له اقتصادي او بشري سرچینوڅخه د ګټې اخیستنې له پاره، د ۴۷ مادېسره سم د پوځي کمیټې په مرسته، د وسلو د تنظیم اصول وضع او د ملګرو ملتونو غړو ته وړاندې کړي.

رایه

اووه ویشتمه ماده:

۱ -- د امنیت شوری هر غړیبوازې د یوې رایې حق لري.

۲ -- په کاري طرزالعمل پورې د اړونده مسایلو په اړه د امنیت شوری پرېکړې نهو رایو ته اړتیا لري.

۳ -- د نورو مسایلو په اړه د امنیت شوری پرېکړې، د پنځو دایمي غړو په ګډون نهو مثبتو رایو ته اړتیا لري؛ خو د هغه مسایلو په وخت کې چې د شپږم څپرکي د ۵۲ مادې په په درېیمه فقره کې راغلي، د دعوی لوری د رایې حق نه لري.

اته ویشتمه ماده:

۱ -- د امنیت شوری چارې باید داسې تنظیم شي چې وکولای شي خپلې دندې او مسوولیتونه په پرله پسې او ښه توګه ترسره کړای شي او د ملګرو ملتونو په مقر کې، باید هر وخت د امنیت شوری د غړي هېوادیو استازی موجود وي.

۲ -- امنیت شوری په ټاکلي وخت خپلې غونډې جوړوي او د شوری هر غړی هېواد په خپله خوښه کولای شي چې د خپل یو استازي له لارې په غونډه کې ګډون وکړي.

۳ -- امنیت شوری د ملګرو ملتونو له مقر پرته، که مناسبه وګڼي، کولای شي چې په نورو ځایونو کې هم غونډې جوړې کړي.

نهه ویشتمه ماده:

امنیت شوری کولای شي چې د دندې د اجرا په وخت کې، د اړتیا وړ فرعي څانګې جوړې کړي.

دېرشمه ماده:

امنیت شوری د خپل مشرتابه د ټاکنې له پاره د نویو میتودونو د جوړولو په ګډون خپله داخلي لایحه جوړوي.

یو دېرشمه ماده:

د ملګرو ملتونو هغه غړي چې د امنیت شوری غړیتوب نه لري، کولای شي چې د شوری په ټولو هغو غونډ کې ګډون وکړي چې د امنیت شوری په اند د دې هېواد له پاره اغېزناک او ګټور دی.

دوه دېرشمه ماده:

که یوه اختلافي مسله په امنیت شوری کې تر څېړنې او کتنې لاندې وي او د اختلاف لوري د ملګرو ملتونو غړی وي یا نه وي، دوی ته به بلنه ورکړل شي چې د موضوع د څېړنې په غونډه کې له رایې پرته ګډون وکړي. امنیت شوری به په دې غونډو کې د هغو هېوادونو له پاره عادلانه شرایط برابروي چې د ملګرو ملتونو غړي نه دي .

## شپږم څپرکی

## د شخړو سوله ییز حل

درې دېرشمه ماده:

۱ -- هغه شخړې چې ښايي نړيواله سوله او امنيت وګواښي، د شخړې لوري (مدعی او مدعي عليه) بايد تر هر څه مخکې دا شخړې د خبرو، منځګړيتوب، جوړجاري، قضايي څېړنو، سيمه ييزټولنو او نورو سوله ييزو لارو په مرسته حل کړي.

۲ -- امنيت شورى د اړتيا په وخت کې کولای شي چې له ښکيلو غاړو وغواړي چې خپل اختلافات له يادو لارو چارو سره سم حل کړي.

څلور دېرشمه ماده:

امنيت شورى کولای شي هره هغه مسله تر غور او څېړنې لاندې ونيسي، چې ښايي يوه نړيواله شخړه او ترينګلتيا جوړه کړي او دوام يې نړيوالې سولې ته ګواښ پېښ کړي.

پنځه دېرشمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو هر غړی کولای شي هغو مسايلو ته چې په ۳۴ ماده کې راغلي، د عمومي ټولنې او امنيت شورى پام واړوي.

۲ -- هر هغه هېواد چې د ملګرو ملتونو غړی نه دی، کولای شي د هغې مسلې په اړه چې دی په کې ښکېل دی، عمومي اسامبلې ته خبر ورکړي؛ خو په دې شرط چې د ياد اختلاف د څېړلو له پاره د ملګرو ملتونو د کړنلارې د سوله ييز حل مقررات ومني.

۳ -- د هغه مسايلو د حل له پاره، د عمومي ټولنې اقدامات چې د دې مادې له مخې يې تر سره کوي، د ۱۱ او ۲ مادو د احکامو تابع دي.

شپږ دېرشمه ماده:

۱ -- امنيت شورى کولای شي چې د اختلاف يا شخړې په هر پړاو کې، لکه څنګه چې په ۳۲ ماده کې راغلي، د حل او فصل د مناسبو لارو چارو سپارښت وکړي.

۲ -- امنيت شورى بايد د سوله ييز حل هغه ميتودونه او لارې چارې چې دعوى لرونکو مخکې پرې هوکړه کړې، وڅاري.

۳ -- امنيت شورى هغه سپارښتنې چې د دې مادې له مخې يې کوي، بايد په پام کې ولري چې قضيه بايد په بشپړډول د دعوى د ښکېلو غاړو له خوا د نړيوالې عدلي محکمې د اساسنامې له حکمونو سره سم، دې محکمې ته وړاندې شي.

اووه دېرشمه ماده:

۱ -- که دعوی لرونکو ونه شو کړای چې د ۳۳ مادې لارو چارو په مرسته، خپل اختلاف حل کړي؛ نو موضوع باید امنیت شوری ته وړاندې کړي.

۲ -- که امنیت شوری ووینې چې د یوې شخړې دوام نړیواله سوله او امنیت له گواښ سره مخامخ کولی شي، باید د ۳٦ مادې له مخې باید پرېکړه وکړي او یا د موضوع د حل له پاره دې نورې سپارښتنې وکړي.

اته دېرشمه ماده:

که د اختلاف ټولې خواوې امنیت شوری ته د حل وړاندیز وکړي، امنیت شوری کولای شي چې د ستونزو د حل له پاره، ښکېلو غاړو ته داسې سپارښتنې وکړي چې له ۳۳ څخه تر ۳۷ مادې زیانمنې نه شي

.

## اووم څپرکی

## د سولې ماتونې ، ګواښ او تجاوز په وړاندې اقدامات

نهه دېرشمه ماده:

امنیت شوری باید سولې ته هر ډول ګواښ او تېری تشخیص کاندي او له ۴۱ – ۴۲ مادو سره سم، د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې په هکله تصمیم ونیسي.

څلوېښتمه ماده:

د ترینګلي او ګواښمن وضعیت د مخنیوي له پاره، امنیت شوری مخکې له دې چې د ۳۹ مادې سره سم سپارښتنې او پرېکړه وکړي، کولای شي چې له ښکېلو غاړوڅخه وغواړي چې هغه موقتي تدابیر پلي کړي چې امنیت شوریيې اړین او مهم ګڼي. موقتي تدابیر به د ښکېلو غاړو دریځ، ادعا او حقوق زیانمن نه کړي. امنیت شوری دا هم باید په پام کې ولري چې که دا موقتي تدابیر عملي نه شي او سرغړونه وشي، څه باید وکړي؟

یوڅلوېښتمه ماده:

امنیت شوری کولای شي چې د خپلو پرېکړو د اجار له پاره، د وسلوال ځواک له کارونې پرته، داسې لارې چارې وکاروي چې دا شوریيې لازمه وګڼي. شوری کولای شي چې د ملګرو ملتونو له ټولو غړوڅخه وغواړي چې له سرغړوونکو هېوادونو سره ډیپلوماټیکې، اقتصادي، ټرانسپورټي، سمندري، هوایي، پوستي او مخابراتي اړیکې پرې کړي.

دوهڅلوېښتمه ماده:

امنیت شوری په ۴۱ ماده کې راغلي اقدامات کافي او اغېزناک ونه ګڼل، کولای شي چې د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې له پاره له هوایي، سمندري او ځمکنیځواکڅخه کار واخلي. په دې اقداماتو کې لاریونونه، کلابندي، ځمکني، هوایي او سمندري عملیات شامل دي.

درېڅلوېښتمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې پورتنیو اهدافو ته د رسېدو له پاره، د یوه هوکړه لیک له مخې، د امنیت شوری دې شوری ته وسلوال ځواکونه او نورې اسانتیاوې لکه د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره، د پوځونو لېږد ته اجازه ورکړي.

۲ -- په دې هوکړه لیکونو کې به د سرتېرو شمېر او ډول، د هغوی د چمتوالي ډول او عمومي قرارګاه، د اسانتیاووڅرنګوالی او نورې مرستې په ډاګه شي.

۳ -- د امنیت شوری په نوښت به د داسې هوکړه لیکونو د لاسلیک په اړه خبرې،ډېر ژر وشي. دا هوکړه لیکونه به د امنیت شوری او د ملګرو ملتونو د غړو او یا د امنیت شوری او نورو غړو ترمنځ لاسلیک شي. غړي هېوادونه باید خپلو اساسي قوانینو ته په پام سره دا هوکړه لیکونه تصویب کړي.

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

کله چې امنیت شوری د پوځي ځواک د کارونې پرېکړه کوي، مخکې له دې چې د ۳۴ مادې له مخې د ملګرو ملتونو له کوم غړي څخه وسلوال ځوکونه وغواړي، باید دا غړی په همدې اړه د امنیت شوری جوړې شوې غونډې ته وغواړي.

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

د دې له پاره چې د ملګري ملتونو چټک پوځي اقدامات وکولای شي، غړي هېوادونه باید د خپل هوایي ځواک یوه برخه نړیوالو ډله ییزو عملیاتو ته چمتو کړي. د پوځ شمېر، د چمتووالي کچه او د ډله ییزو عملیاتو طرحې د ۴۳ مادی هوکړه لیکونو له مخې، د امنیت شوری او پوځي کمېټې له خوا په ګډه ټاکل کېږي.

شپږڅلوېښتمه ماده:

له وسلوالو ځواکونوڅخه د کارونې اړوند پلانونه د امنیت شوری او پوځي کمېټې په مرسته جوړېږي.

اووه څلوېښتمه ماده:

۱ -- د دې له پاره چې امنیت شوری په نړیواله سوله او امنیت پورې اړوند مسایل، د وسلوالو ځواکونو مشرتوب، بې وسلې کول او نورې چارې تنظیم کړي، د دې چارو د تنظیم له پاره پوځي کمېټه جوړوي.

۲ -- پوځي کمېټه به د امنیت شوری د غړو له افسرانو او یا د دوی له استازو جوړېږي. همدارنګه که د امنیت شوری پوځي کمېټه لازمه وګڼي، کولای شي؛ چې د ملګرو ملتونو هغو غړو ته هم په پوځي کمېټه، د ټولو وسلوالو ځواکونو قوماندې او مشري په غاړه لري. د وسلوالو ځواکونو په قوماندې پورې اړوند موضوعات به وروسته بیان شي.

۴ -- پوځي کمېټه د امنیت شوری په اجازه او له سیمه ییزوټولنو سره له مشورې وروسته کولای شي چې فرعي کمېټې جوړې کړي.

اته څلوېښتمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول یاځینې غړي د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې په برخه کې د پرېکړو د اجرا له پاره لازم اقدامات وکړي.

۲ -- دا پرېکړې به د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه باید په مستقیم ډول په خپله، او یا د هغو نړیوالو استازولیو له لارې کوي، چې نوموړی دولت یې غړی دی.

نهه څلوېښتمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه به د امنیت شورى د پرېکړو د اجرا له پاره، له یو بل سره مرسته کوي.

پنځوسمه ماده:

کله چې امنیت شورى د یوه هېواد په برخه کې د قهري اقداماتو پرېکړه کوي او نور هېوادونه (د ملګرو ملتونو غړي او ناغړي) له اقتصادي ستونزو او زیانونو سره مخامخ کېږي، زیانمن شوي هېوادونه حق لري چې د ستونز په اړه امنیت شورى ته شکایت وکړي.

یو پنځوسمه ماده:

د ملګرو ملتونو په یو غړي دولت د وسلوال برید په صورت کې تر څو چې امنیت شورى د نړیوال امنیت او سولې د خوندیتوب له پاره لازم اقدامات تر سره کوي، د دې کړنلارې هېڅ حکم به له ځانه د ذاتي دفاع په وړاندې خنډ نه شي. په دې کې فردي او ډله ییزه دفاع دواړه راځي. د ملګرو ملتونو غړي باید د دې ډول دفاع په اړه ژر تر ژره امنیت شورى ته خبر ورکړي. دا اقدامات به د امنیت شورى پر دندو او واکونو چې په منشور کې ذکر شوي، هېڅ راز اغېز ونه لري.

## اتم څپرکی

## سیمه ییز تړونونه

دوه پنځوسمه ماده:

۱ -- هغه سیمه ییزه ټولنې او بنسټونه چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره جوړېږي، دا منشور خنډ نه ورته جوړوي؛ خو په دې شرط چې د دې ټولنو فعالیتونه د ملګرو ملتونو له اهدافو او اصولو سره همغاړي وي.

۲ -- د ملګرو ملتونو غړي چې داسې بنسټونه او ټولنې جوړوي، خپلې سیمه ییزې شخړې باید لومړی د همدې بنسټونو له لارې حل کړي. که چېرې دې ټولنو مسله حل نه کړه، باید امنیت شورى ته وړاندې شي.

۳ -- امنیت شورى د دې بنسټونو او ټولنو له لارې د سیمه ییزو شخړو او ستونزو حل ته هڅوي.

۴ -- دا ماده به د ۳۴ مې او ۳۵ مې مادې پر حکمونو اغېز ونه کړي.

درې پنځوسمه ماده:

۱ -- امنیت شورى کولای شي چې د اړتیا په وخت کې سیمه ییزوټولنو ته ځینې مسوولیتونه وسپاري؛ خو سیمه ییزه ټولنې او نورو جوړښتونه د امنیت شورى له اجازې پرته، هېڅ ډول اقدام نه شي کولی. هغه اقدامات چې د ۱۰۷ مې مادې یا د سیمه ییزو ټولنو او نورو تړونونو په بنسټ د دښمن هېواد یا کوم بل یرغلګرو هېواد په وړاندې ترسره کېږي. که ملګري ملتونو په قضیه کې د یوښکېل هېواد په غوښتنه د داسې یرغل مخنیوی کوي، له دې قاعدې څخه مستثنا دی.

۲ -- د (دښمن هېواد) کلیمه هغه هېوادونو ته کارول کېږي چې په دویمه نړیواله جګړه کې د دې کړنلارې د لاسلیکوونکو هېوادونو دښمنان وو.

۳ -- د سیمه ییزو ټولنو او جوړښتونو په مرسته، د نړیوالې سولې او امنیت له پاره چې کوم فعالیتونه کېږي، راپور یې باید وخت په وخت امنیت شورى ته وړاندې شي.

## نهم څپرکی

## نړیوالې اقتصادي او ټولنیزې مرستې

پنځه پنځوسمه ماده:

ملګري ملتونو د نړۍ د ولسونو تر منځ د نېکمرغۍ او ښو اړیکو د ټینګښت له پاره، چې د حقوقي برابرۍ په اصل ولاړ وي، لاندې مسایلو ته پاملرنه نه کوي او هڅوي یې.

الف: د ژوند د سطحې لوړول، په اقتصادي او ټولنیز نظام کې د وړ کاري شرایطو رامنځ ته کول،

ب: د نړیوالو اقتصادي، ټولنیز او روغتیایي او اړونده مسایلو حل او د کلتوري او علمي همکاریو پراختیا؛

ج: له ژبني، مدهبي او نژادي توپیر پرته، د بشر حقونو او اساسي ازادیو ته درناوی.

شپږپنځوسمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې د ۵۵ مادې د اهدافو د تحقق له پاره، له ملګرو ملتونو سره فردي او ګډه همکاري کوي.

اووه پنځوسمه ماده:

۱ -- هغه بېلابېلې تخصصي موسسې چې د هېوادونو تر منځ د یوه هوکړه لیک له مخې جوړې شوې او له خپلې اساسنامې سره سم په اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، ښوونیز، روغتیایي او نورو برخو کې د یوه پراخ مسوولیت له پاره کار کوي؛ د کړنلارې د ٦٣ مادې له مخې په ملګرو ملتونو پورې اړه لري.

۲ -- داسې موسسې چې په ملګرو ملتونو پورې تړل کېږي، له دې وروسته د تخصصي موسساتو په نامه یادېږي.

اته پنځوسمه ماده:

ملګري ملتونه له د تخصصي موسساتو د فعالیتونو او تګلارو د همغږي کولو له پاره هغوی ته سپارښتنې وکړي.

نهه پنځوسمه ماده:

ملګري ملتونه د نویو تخصصي موسسو د جوړېدو په وخت کې، د ۵۵ مادې د اهدافو له مخې اړینې وي، د هېوادونو تر منځ د ناستې اسانتیاوې برابروي.

شپېتمه ماده:

د سازمان د ندې د اجرا مسوولیت چې په دېڅپرکي کې شوې، د عمومېټولنې په او د عمومي ټولنې تر نظر لاندې د اقتصادي او ټولنیزې شورى په غاړه دی چې مسوولیتونه یې په لسم څپرکي کې راغلي دي.

## لسم څپرکی

## اقتصادي او ټولنیزه شوری

یو شپېتمه ماده:

۱ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری د ملگرو ملتونو له ۵۴ غړو هېوادونوڅخه جوړه شوې چې د عمومي ټولنې له خوا ټاکل کېږي.

۲ -- د دې مادې د درېیمې فقرې په رعایت سره، د اقتصادي او ټولنیزې شوری اتلس غړي د درې کلونو له پاره ټاکل کېږي. هغه غړي چې وځي، د بیا ټاکنې حق لري.

۳ -- تر لومړي ځل ټاکنو وروسته له ۲۷ څخه ۵۴ ته د اقتصادي او ټولنیزې شوری د غړو ډېرول، په هغه نهه غړو سربېره چې د خدمت دوره یې پای ته رسېږي، نوي ۲۷ غړي ټاکل کېږي. د دغه ۲۷ اضافي غړو د خدمت دوره تر یوه کال او د نهه نورو غړو د خدمت دوره د دویم کال په وروستیوکې په داسې حال کې پای ته رسي، چې عمومي ټولنه یې پرېکړه وکړي.

دندې او واکونه

دوه شپېتمه ماده:

۱ -- اقتصاي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د نړیوالو اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، ښوونیزو، روغتیایي او نورو مسایلو په اړه مطالعات او راپورونه چمتو او یا لاره ورته اواره کړي. شوری همداراز کولای شي چې د یادو مسایلو په اړه عمومي ټولنې، د ملگرو ملتونو غړو او اړونده تخصصي موسساتو ته سپارښت وکړي،

۲ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د بشري حقونو د هڅونې او د بشر د اساسي ازادیو د تحقق له پاره سپارښتنې وکړي،

۳ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي د هغو چارو په اړه چې د تر سره کولو واک یې لري، طرحېیې عمومي اسامبلې ته وړاندې کړي.

۴ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د خپل واک په چوکاټ کې، د ملگرو ملتونو له مقرراتو سره سم نړیوال کنفرانسونه جوړ کړي.

درې شپېتمه ماده:

۱ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د ۵۷ مادې له مخې، له یادې هرې موسسې سره تړون لاسلیک کړي. هغه شرایط باید په ډاگه شي چې له مخې یې اړونده تخصصي موسسات، په ملگرو ملتونو پورې تړل کېږي. داسې تړونونه باید د عمومي ټولنې له خوا تصویب شي،

۲ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د دې راپورونو په اړه خپل ملاحظات عمومي ټولنې ته وړاندې کړي.

پنځه شپېتمه ماده:

اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې امنیت شوری ته ځینې اطلاعات ورکړي او د اړتیا په وخت کې له شوری سره مرسته وکړي.

شپږشپېتمه ماده:

۱ -- که د عمومي ټولنې په سپارښت کې داسې څه وي چې د اقتصادي او ټولنیزې شوری له واکونو شمېرل کېږي، شوری باید هغه ترسره کړي،

۲ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری د عمومي ټولنې په تایید کولای شي هغه خدمتونه ترسره کړي چې د ملګرو ملتونو غړویا تخصصي موسساتو غوښتنې وي،

۳ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری باید هغه مسوولیتونه او دندې چې په دې کړنلاره کې روښانه شوي یاښایي وروسته د عمومي ټولنې له خوا ورته وسپارل شي، ترسره کړي.

رایه اچونه

اووه شپېتمه ماده:

۱ -- د اقتصادي او ټولنیزې شوری هر غړی د یوې رایې حق لري،

۲ -- د اقتصادي او ټولنیزې شوری پرېکړې د حاضر اکثریت غړو په رایو کېږي.

کړنلاره

اته شپېتمه ماده:

اقتصادي او ټولنیزه شوری کولای شي چې د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو او د بشري حقونو د ترویج له پاره د اړتیا وړ کمېسیونونه جوړ کړي.

نهه شپېتمه ماده:

که د ملګرو ملتونو کوم غړی هېواد په یوه موضوع کې ځان شریک وبولي، اقتصادي او ټولنیزه شوری باید دې هېواد ته له رایې پرته د ګډون اجازه ورکړي.

اویایمه ماده:

اقتصادي او ټولنیزه شوری هغه استازي چې په غونډو او ناستو کې د څارونکو په توګه له رایې پرته برخه اخلي، د هغوی د ګډون له پاره باید لازم تدابیر ونیسي.

یو اویایمه ماده:

اقتصادي او ټولنیزه شوری باید له هغو غیرحکومتي ټولنو سره چې له دې شوری سره ګډ کار کوي، سلا مشورې لازم تدابیر ونیسي. دا تدابیر ښایي د ملګرو ملتونو له ذینفع غړو سره تر مشورې وروسته، د ملي او نړیوالو ټولنو په وړاندې عملي شي.

دوه اویایمه ماده:

۱ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری باید خپله داخلي کړنلاره جوړه او د هغې له مخې، د شوری د مشرتابه د ټاکلو څرنګوالی روښانه کړي،

۲ -- اقتصادي او ټولنیزه شوری د اړتیا په وخت کې د کړنلارې له مخې، خپلې غونډې جوړوي. په لایحه کې باید اکثریت غړو له خوا د غونډو د جوړېدو مقررات شامل وي.

## یوولسم څپرکی

## د ناخپلواکه سیمو په اړه اعلامیه

درې اویایمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړو هېوادونه د هغه سیمو د ادارې او سرپرستۍ په غاړه اخیستی او اخلي، چې خلک یې تر اوسه د خپلواک حکومت په جوړولو نه دي بریالي شوي. د ملګرو ملتونو غړي ژمنه کوي چې د داسې سیمو د خلکو ګټې په رسمیت پېژني، د هوساینې له پاره یې هڅه کوي او د یوه سپېڅلي امانت په توګه ژمنه کوي چې د دې کړنلارې د احکامو مطابق، د نړیوالې سولې او امنیت د اصولو په چوکاټ کې خپل ماموریت د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره پر مخ بیایي:

الف- د سیمې د خلکو فرهنګ ته په درناوي سره باید هغوی ته په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او ښوونیزو برخو کې د پرمختګ لارې اوارې شي. له خلکو سره چلند عادلانه وي او له هغوی څخه د ناوړه استفادې مخه ونیول شي،

ب- د خپلواک حکومت د پرمختګ له پاره باید هڅه وشي، د خلکو احساساتو ته باید درناوی وشي او د سیاسي بنسټونو د پیاوړتیا له پاره باید له حالاتو سره سم د هغوی ملاتړ او مرسته وشي،

ج- د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت له پاره باید هڅه وشي،

د- د پرمختګ له پاره باید رغنده او اغېزناک اقدامات ترسره شي او د دې له پاره چې د ټولنیزو، اقتصادي او علمي مقاصدو له پاره عملاً کار وشي، باید علمي څېړنې وهڅول شي او د اړتیا په وخت کې له تخصصي موسساتو سره په ګډه همکاري وشي،

هـ- کله چې امنیتي او د اساسي قانون نور ملحوظات دا ایجاب کړي، احصایه او نور معلومات چې تخنیکي وي او د خپلواکو سیمو په اقتصادي او ټولنیزو شرایطو پورې اړه ولري (د ۱۲ او ۱۳ څپرکیو کې له یادو شویو سیمو پرته)، په دې اړه باید د ملګرو ملتونو سرمنشي ته اطلاع ورکړل شي.

څلور اویایمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړي همدا راز ژمنه کوي چې تګلاره یې باید، په دې څپرکي کې د یادو سیمو او ځمکو په ګډون، د خپلې اصلي خاورې په قلمرو کې په اقتصادي، ټولنیزو او سوداګریزو برخو کې په ټوله نړۍ کې په ښه نیت ولاړه وي.

## دولسم څپرکی

## د قیمومیت نظام

پنځه اویایمه ماده:

د ملګرو ملتونو د هغو سیمو د اداري او سرپرستۍ له پاره چې ښايي د ساتنې مسوولیت یې وروسته د ځینو هوکړو له مخې په غاړه واخلي، د قیمومیت سیستم را منځ ته کوي. دا ځمکې یا سیمې له دې وروسته (تر قیمومیت لاندې سیمې) یادېږي.

شپږ اویایمه ماده:

د دې کړنلارې په لومړۍ ماده کې د ملګرو ملتونو د ذکر شویو اهدافو له مخې، د قیمومیت نظام اساسي هدفونه په لاندېډول دي:

الف- د نړیوالې سولې او امنیت ټینګښت،

ب- تر قیمومیت لاندې سیمو د خلکو له اقتصادي، سیاسي،ټولنیز او علمي پرمختګ سره مرسته او په تدریجي ډول د خپلواک حکومت جوړولو ته د هغوی چمتو کول او په توافقنامه کې د راغلو نورو حکمونو عملي کول؛

ج- له جنسي، توکمیز، مذهبي، او ژبنیو توپیرونو پرته، ټولو ته د یو شان ازادۍ ورکول او د بشري حقونو درناوی او هڅونه او خلک په دې پوهول چې د نړۍ ټول خلک او ملتونه یو بل ته اړتیا لري،

د- د مګرو ملتونو له ټولو غړو هېوادونو او د هغوی له خلکو سره په اقتصادي، ټولنیزو او سوداګریزو برخو کې یوډول چلند او د کړنلارې اتیایمې مادې ته په درناوي د ټولو خلکو تر منځ عدالت عملي کول؛

اووه اویایمه ماده:

۱ -- هغه سیمې چې د قیمومیت په نظام کې راځي، په دې ډول دي:

الف- هغه سیمې چې اوس تر وصایت لاندې دي،

ب- هغه سیمې چې په دویمه نړیواله جګړه کې له دښمن هېوادڅخه جلا شوي،

۲ -- هغه سیمې چې د مسوولو هېوادونو په خوښه د قیمومیت نظام ته سپارل کېږي،

۳ -- دا به وروسته د یو بل تړون له مخې روښانه شي چې کومې سیمې د یادو ردیفونو له مخې په کومو شرایطو کې د قیمومیت نظام تر واک لاندې راتلای شي.

اته اویایمه ماده:

هغه هېوادونه او سیمې چې د ملګرو ملتونو غړیتوب لري، د قیمومیت په نظام کې نه شي راتلای او د هغوی تر منځ اړیکې د حاکمیت د برابرۍ په اصولو ولاړې دي.

نهه اویایمه ماده:

تر قیمومیت لاندې سیمو په اړه شرایط او همدا راز د دې شرایطو اصلاح او بدلون په تړون کې د دواړو غاړو په هوکړه پورې اړه لري او د ۸۳ او ۸۵ مې مادې له مخې ټاکل کېږي.

اتیایمه ماده

۱ -- له هغه څه پرته چې د کړنلارې د ۷۷، ۷۹ او ۸۱ مادو له مخې، د قیمومیت تړونونه لاسلیک کېږي او په پایله کې یې یوه سیمه د قیمومیت تر نظام لاندې راځي، ښایي د تایید وړ وګرځي او د دې ډول تړونونو د لاسلیک تر وخته د دې څېرکي هېڅ حکم باید داسې تعبیر نه شي چې د کوم هېواد یا خلکو په حقوقو یا د موجوده نړیوالو اسنادو په حکمونو کې بدلون راولي، چې ښایي د ملګرو ملتونو غړي د هغه یو لوری وي،

۲ -- د دې مادې لومړی بند باید داسې تفسیر نه شي، چې د خبرو د ځنډ او د قیمومیت تړونونو او همدارنګه په ۷۷ مه ماده کې د یادو سیمو په وړاندې د خنډ او ځنډ دلیل شي.

یو اتیایمه ماده:

د قیمومیت تړونونه به د هغو شرایطو لرونکی وي، چې له مخې یې یوه سیمه تر قیمومیت لاندې راځي او هغه مقام چې د دې سیمې اداره په غاړه اخلي، له دې وروسته به د اداره کوونکي مقام په نوم یادېږي، دا مقام ښایي یو یا څو دولتونه او یا ټولنې وي.

دوه اتیایمه ماده:

د قیمومیت په هر تړون کې کېدای شي یو یا څو ستراتېژیکې سیمې وټاکل شي، دا سیمې پرته له دې چې د ۴۳ مادې له مخې ځانګړو هوکړه لیکونو ته کوم زیان ورسوي، د قیمومیت تړون موضوع ګڼل کېږي.

درې اتیایمه ماده:

۱ -- د قیمومیت د تړونونو د تصویب، اصلاح او بدلون په ګډون، د ستراتېژیکو یا سوق الجیشي سیمو ټولې چارې د امنیت شورى له لوري په مخ وړل کېږي،

۲ -- په ۷٦مه ماده کې راغلي اساسي اهداف د هرې ستراتېژیکې سیمې د اوسېدونکو په اړه باید رعایت شي،

۳ -- امنیت شورى د قیمومیت تړونونو ته په درناوي سره، پرته له دې چې امنیت ته زیان ورسي، کولای شي چې د هغو مسوولیتونو د اجرا په برخه کې چې په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او ښوونیزو برخو کې یې په ستراتېژیکو سیمو کې په غاړه لري، د قیمومیت شورى له مرستو ګټه واخلي.

څلور اتیایمه ماده:

اداره کوونکی مقام مکلفیت لري چې د نړیوالې سولې او امنیت په ساتلو کې خپله ونډه، د قیمومیت سیمو د څار او ساتنې له لارې سرته ورسوي. د همدې هدف له پاره اداره کوونکی مقام باید په تر قیمومیت لاندې سیمو کې د نظم او قانون د ساتلو او د خاورې دفاع مسوولیت، د امنیت شورى په وړاندې په سمه توګه اجرا کاندي.

پنځه اتیایمه ماده:

۱ -- د قیمومیت لاندې غیراستراتېژیکو سیمو ټول تړونونه باید د عمومي ټولنې له خوا تصویب، اصلاح او یا بدل شي،

۲ -- قیمومیت شورى چې د عمومي ټولنې تر څار لاندې فعالیت کوي، د دې دندو په اجرا کې به له عمومي ټولنې سره مرسته کوي.

## دیارلسم څپرکی

## د قیمومیت شوری

جوړښت

شپږ اتیایمه ماده:

۱ -- قیمومیت شوری د ملګرو ملتونو له غړو هېوادونو څخه جوړه شوې چې په لاندې ډول ده:

الف - تر قیمومیت لاندې سیمو اداره کوونکي غړي،

ب - هغه غړي چې په ۲۳ مه ماده کې یاد شوي او تر قیمومیت لاندې سیمو د اداره کولو مسوولیت په غاړه نه لري،

ج - هغه غړي چې د عمومي ټولنې له خوا د یوې درې کلنې دورې له پاره ټاکل کېږي،

۲ -- د قیمومیت شوری هر غړی باید په شرایطو برابر خپل یو با صلاحیه استازی شوری ته وپېژني.

دندې او واکونه

اووه اتیایمه ماده:

عمومي ټولنه او د دې تر څار لاندې قیمومیت شوری کولای شي چې:

الف- هغه راپورونه چې د اداره کوونکي مقام له خوا ورته راوړل کېږي، وګوري او وڅېړي،

ب- شکایتونه ترلاسه او له اداره کوونکې مقام سره په ګډه غور پرې وکړي،

ج – داسې ترتیبات ونیسي چې هر وخت د اداره کوونکي مقام په خوښه تر قیمومیت لاندې سیمې ووینې،

د- دا او نور اقدامات باید د قیمومیت ټرون سره سم ترسره کړي.

اته اتیایمه ماده:

قیمومیت شوری دنده لري چې د تر قیمومیت لاندې سیمو د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او ښوونیزو پرمختګونو په اړه پوښتنې طرحه کړي او د هرې سیمې اداره کوونکی مقام دنده لري چې هر کال د یادو پوښتنو په اړه عمومي ټولنې ته راپورونه وړاندې کړي.

رایه

نهه اتیایمه ماده:

۱ -- د قیمومیت شوری هر غړی د یوې رایې حق لري،

۲ -- د قیمومیت شوری پرېکړې د حاضرو غړو د رایو په اکثریت ترسره کېږي.

کړنلاره

نوییمه ماده:

۱ -- قیمومیت شوری د خپلو داخلي چارو لایه جوړوي او د شوری مشر ټاکل کېږي.

۲ -- د قیمومیت شوری د خپلې کړنلارې له مخې غونډې جوړوي. دا غونډې به د دې تګلارې له مخې د اکثریت غړو په خوښه جوړېږي.

یو نویمه ماده:

د قیمومیت شوری کولای شي چې د اقتصادي او ټولنیزې شوری او همدا راز د نورو تخصصي موسساتو له مرستو څخه استفاده وکړي.

## څوارلسم څپرکی

## د عدالت نړیواله محکمه

دوه نوي یمه ماده:

د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو خپلواکه قضایي ارګان دی چې خپلې چارې د اساسنامې له مخې په مخ بیایي او دا اساسنامه د ملګرو ملتونو د کړنلارې نه بېلېدونکې برخه ده.

درې نوي یمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي د عدالت نړیوالې محکمې اساسنامه مني،

۲ -- هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړي نه دي، کولای شي چې د هغو شرایطو په رعایت، چې د عمومي ټولنې او امنیت شورى له خوا ټاکل کېږي، د عدالت نړیوالې محکمې اساسنامه ومني.

څلور نوي یمه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې په هره قضایي دعوى کې به د محکمې پرېکړه مني،

۲ -- که د دعوى کوم لورى د محکمې له پرېکړې سروغړوي؛ زیانمن شوى لورى کولای شي چې امنیت شورى ته شکایت وکړي. که امنیت شورى مسله اړینه او جدي وبلله، کولای شي چې د محکمې د پرېکړې په اړه سپارښت وکړي.

پنځه نوي یمه ماده:

د دې کړنلارې هېڅ یوه ماده به د دې خنډ ونه ګرځي چې د ملګرو ملتونو یو غړى هېواد خپل اختلافي مسایل، د موجوده یا نورو راتلونکو هوکړه لیکونو له مخې نورو محاکمو ته وړاندې کوي.

شپږ نوي یمه ماده:

۱ -- عمومي ټولنه او امنیت شورى کولای شي چې په هره حقوقي مسله کې د عدالت له نړیوالې محکمې څخه حقوقي مشوره وغواړي،

۲ -- د ملګرو ملتونو نورې تخصصي موسسې او جوړښتونه هم، چې د عمومي ټولنې اجازه ولري، کولای شي چې خپلو چارو له پاره د حقوقي مسایلو په اړه له محکمې څخه مشوره واخلي.

## پنځلسم څپرکی

## دارالانشا

اووه نوي یمه ماده:

د ملګرو ملتونو دارالانشا له سرمنشي او د اړتیا وړ نورو کارکوونکو څخه جوړه شوې ده. د ملګرو ملتونو سرمنشي د امنیت شورى په وړاندیز د عمومي ټولنې له لوري ټاکل کېږي. سرمنشي د ملګرو ملتونو د ټولنې تر ټولو لوړ پوړی اداري مقام دی.

اته نوي یمه ماده:

سرمنشي به د عمومي ټولنې، امنیت شورى، اقتصادي او ټولنیزې شورى او قیمومیت په غونډو کې برخه اخلي او هغه چارې تر سره کوي چې ده ته سپارل کېږي. سرمنشي به هر کال خپل کلنی راپور عمومي ټولنې ته وړاندې کوي.

نهه نوي یمه ماده:

سرمنشي کولای شي چې د هرې هغه موضوع په اړه د امنیت شورى پاملرنه وغواړي چې نړیوالې سولې او امنیت ته خطر ګڼل کېږي.

سلمه ماده:

۱ -- سرمنشي او د ملګرو ملتونو نور نهه غړي نه شي کولای چې د دندې د اجرا په وخت کې، د ملګرو ملتونو د کوم مقام امر او سپارښتنې ته غاړه کېږدي. دوییوازې په ملګرو ملتونو کې د وسپارل شویو چارو د ترسره کولو مسوولیت لري. سرمنشي او کارکوونکي باید له داسې کار څخه ډده وکړي چې د نړیوالې ټولنې د کارکوونکي په توګه د دوی دریځ ته زیان رسوي،

۲ -- د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو او د سرمنشي ځانګړو نړیوالو مسوولیتونو ته درناوی کوي او له داسې کارونو څخه به ډډه وکړي چې د دندې په اجرا کې هغوی تر نفوذ یا فشار لاندې راولي.

یو سلو یومه ماده:

۱ -- د ملګرو ملتونو کارکوونکي د سرمنشي له خوا د هغو مقرراتو له مخې چې عمومي ټولنې ټاکلې دي، غوره کېږي،

۲ -- اقتصادي او ټولنیزې شورى، قیمومیت شورى او د اړتیا په وخت کې د ملګرو ملتونو نورو ارګانونو ته به ځینې کارکوونکي په دایمي توګه ګمارل کېږي. دا کارکوونکي به د دارالانشا یوه برخه وي.

۳ -- د کارکوونکو په ګمارنه کې به تر ټولو لوړه درجه تحصیل او وړتیا په پام کې نیول کېږي. د کارکوونکو په استخدام کې به جغرافیوي انډول هم په پام کې نیول کېږي.

## شپاړسم څپرکی

## متفرقه حکونه

یو سلو دوه یمه ماده:

هر هوکړه لیک یا نړیوال تړون چې د دې کړنلارې تر لاسلیک وروسته، د ملګرو ملتونو د غړو له خوا لاسلیک کېږي، ژر باید په دارالانشا کې ثبت شي.

یو سلو درېیمه ماده:

که له نورو تړونونو سره د ملګرو ملتونو د غړو ژمنې او پرېکړې د کړنلارې له ژمنو سره په ټکر کې وي، د کړنلارې ژمنو ته به لومړیتوب ورکول کېږي.

یو سلو څلورمه ماده:

۱ -- ملګري ملتونه د خپلو ضروري دندو او ماموریتونو د اجرا په وخت کې، د ټولو غړو هېوادونو په خاورو کې له حقوقي هویت څخه برخمن دی،

۲ -- د ملګرو ملتونو د استازي هم له همدې ډول امتیازاتو او مصونیتونوڅخه برخمن دي، تر څو خپلې اړونده چارې په خپلواکه توګه پرمخ بوځي.

۳ -- عمومي ټولنه کولای شي چې د دې مادې د لومړۍ او دویمې فقرې د نورو جزییاتو له پاره سپارښتنې وکړي یا غړو ته وړاندیزونه واستوي.

## اوولسم څپرکی

## د امنیت په اړه لنډمهاله تدابیر

یو سلو شپږمه ماده:

په ۴۳ مه ماده کې د ځانګړو تړونونو د عملي کېدو تر وخته، تر هغه چې امنیت شوری د خپلو مسوولیتونو پېژندلو ته چمتو کېږي، په ۴۲ مه ماده کې راغلي مسوولیتونه په خپل غاړه اخلي. د اعلامیې لاسلیکوونکي (د څلورو ملتونو اعلامیه) چې د کال ۱۹۴۳ د اکتوبر په ۳۰ مه په مسکو کې لاسلیک شوه. فرانسه د یادې اعلامیې د پنځمې فقرې د حکم له مخې، د ملګرو ملتونو تر نامه لاندې د ګډ اقدام له پاره د هر هغه اقدام چې د نړیوالې سولې او امنیت د خوندیتوب په برخه کې لازم وي، له یو بل سره او د اړتیا په وخت کې د ملګرو ملتونو له نورو غړو هېوادونو سره مشوره کوي.

یو سلو اوومه ماده:

د دې کړنلارې احکام به د هغه څه په وړاندې خنډ نه شي چې د دویمې نړیوالې جګړې په وخت کې، د هېوادونو تر منځ رامنځ ته شوي وو او اوس یې په ګډه دا کړنلاره لاسلیک کړی دی.

## اتلسم څپرکی

## تعدیلات

یو سلو اتمه ماده:

په کړنلاره کې سمونونه او تعدیلات هغه وخت د اجرا وړ کېږي چې د عمومي ټولنې له خوا په دوه ثلثه رایو تایید او د امنیت شورى د دایمي غړو په ګډون، د ملګرو ملتونو د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو تصویب شي.

یو سلو نهمه ماده:

۱ -- په دې کړنلاره د بیا کتنې عمومي کنفرانس باید د امنیت شورى د نهو غړو په ګډون، د ملګرو ملتونو د دوه ثلثه غړو له خوا راوبلل شي، په دغه کنفرانس کې په هر غړی د یوې رایې حق ولري،

۲ -- د دې کړنلارې د سمون او تعدیل په هکله د کنفرانس د دوه ثلثه غړو پرېکړه، باید هغه وخت د اجرا وړګرځېدای شي چې د امنیت شورى د نهو غړو په ګډون د ملګرو ملتونو دوه پر درېیمه برخه غړو له خوا تصویب شي.

۳ -- که د دې کړنلارې له لازم الاجراتوب او د عمومي ټولنې تر کلنۍ عمومي غونډې مخکې، دا ډول کنفرانس نه وي جوړ شوی، د کنفرانس جوړېدل باید د عمومي ټولنې د کلنۍ غونډې د اجنډا په سر کې ونیول شي. که د عمومي ټولنې غړي او د امنیت شورى نهه غړي په دې اړه مثبته رایه ورکړي، کنفرانس به په خپل وخت دایرېږي.

## نولسم څپرکی

## تصویب او لاسلیک

یو سلو لسمه ماده:

۱ -- دا کړنلاره د لاسلیک کوونکو هېوادونو له خوا د هغوی د اساسي قوانینو له احکامو سره سم تصویب کېږي،

۲ -- د کړنلارې د تصویب سندونه باید امریکا متحده ایالتونو دولت ته وسپارل شي. دا هېواد به د هر تصویب شوي سند د ترلاسه کولو په اړه د کړنلارې لاسلیک کوونکو هېوادونو او سرمنشي ته خبر ورکوي،

۳ -- دا کړنلاره هغه وخت د اجرا وړګرځي چې د چین جمهوریت، فرانسې، شوروي اتحاد، برتانیا او د امریکا متحده ایالات او د نورو لاسلیک کوونکو هېوادونه د تصویب سند ترلاسه کړي. د اسنادو د تسلمېدو چارې د امریکا د متحده ایالتونو له خوا تنظیم او یوه - یوه کاپي به یې ټولو لاسلیک کوونکو هېوادونو ته واستول شي،

۴ -- د دې کړنلارې لاسلیک کوونکي هېوادونه د کړنلارې د سند تر لازم الاجراتوب او تصویب وروسته، د ملګرو ملتونو اصلي غړی ګڼل کېږي،

یو سلو یوولسمه ماده:

دا کړنلاره چې په روسي، فرانسوي، چینایي، انګلیسي او اسپانوي ژبو لیکل شوی متون یې برابر اعتبار لري، د امریکا متحده ایالتونو په آرشیف کې ساتل کېږي او د امریکا حکومت به د دېیوه – یوه کاپي ټولو لاسلیک کوونکو هېوادونو ته استوي. په همدې اساس د ملګرو ملتونو استازو د کال ۱۹۴۵ د جون په ۲٦ مه دا کړنلاره په سانفرانسسکو کې لاسلیک کړه.

# د عدالت نړیوالې محکمې اساسنامه

لومړۍ ماده

د عدالت نړیواله محکمه د ملګروملتونو د کړنلاری له مخی، د ټولنی د یوې مهمې قضایي څانګې په توګه، د دې اساسنامې د مقرراتو سره سمه جوړه شوی او دنده به تر سره کوي .

## لومړی ځپرکی

## جوړښت ( تشکیل)

دویمه ماده

د عدالت نړیواله محکمه د خپلواکو قاضیانو هغه ډله ده چې د دوی ملیت ته له پام پرته، د هغو کسانو څخه ټاکل کېږي چې لوړ اخلاقي دریځ اوهغه شرایط ولری چې په خپلو هېوادونو کې یې د قضایی دندو له پاره الزامي وي او یا داسی حقوق پوهان وی چی په نړیوالو حقوقو کی ستر نوم ولری .

درېیمه ماده

۱ -- محکمه ۱۵ غړی لری چی دوه به د یو دولت تبعه نه وی،

۲ -- که څوک د څو دولتونو تابعیت ولری؛ د هغه هېواد تبعه به وګڼل شي چې هلته په معمولي توګه خپل سیاسي او مدني حقوق اعمالوي.

څلورمه ماده

۱ . د عدالت د نړیوالې محکمې غړي له هغو کسانو څخه چې نومونه یې د اړونده ملي ډلو لخوا د قضاوت دایمي محکمې (Permanent Court of Arbitration (PCA تـه وړاندې کېږي، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې او امنیت شوری له خوا د لاندې مقرراتو سره سم ټاکل کېږي:

۲. د ملګرو ملتونو د هغو غړو داوطلبان به چې په PCA کې استازی نه لري، د ملي ډلو له خوا معرفي شي چې دولتونو یې د دې له پاره او د هغو شرایطو سره سم، چې د لاهې د کال ۱۹۰۷ تړون ۴۴ مادې د نړیوالو شخړو د سوله ییز حل په هکله، د PCA دایمي غړو ته په پام کې نیولي، وټاکل شي.

۳. هغه هېواد چې د دې اساسنامې لوری دی؛ خو د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، کولای شي چې د محکمې د غړو په ټاکنه کې ګډون وکړي. که ځانګړی هوکړه لیک نه وي، موجود شرایط داسې دي چې عمومي ټولنې یې د امنیت شورا سپارښت ټاکلی شي.

پنځمه ماده

۱ . له ټاکنو څخه درې میاشتې مخکې، د ملګرو ملتونو سرمنشي د PCA غړي چې د دې اساسنامې د لاسلیک کوونکو هېوادونه اتباع دي او د ملي ډلو غړي چې د څلورمې مادې د دویمې فقرې له مخې ټاکل شوي، لیکلې

بلنه ورکوي چې په ټاکلې موده کې د هغو کسانو د معرفي اقدام وکړي، چې د عدالت نړیوالې محکمې غړیتوب ترلاسه کوي.

۲. هېڅ ډله نه شي کولای چې له څلورو ډېر کسان چې حد اکثر دوه یې د خپل ملیت وي، معرفي کړي او امکان نه لري چې د تشو څوکیو له دوه چنده ډېر کسان نوماند شي.

شپږمه ماده

هرې ملي ډلې ته سپارښت کېږي چې د داوطلبانو، له معرفۍ مخکې دې له لوړ قضایي ارګان، قضایي بنسټونو او د حقوقو پوهنځیو او د ملي-اکاډمیکو مرکزونو او نړیوالو-اکاډمیکو مرکزونو له ملي څانګو سره، چې د حقوقو د علم د مطالعې له پاره ځانګړي شوي دي، مشوره وکړي.

اوومه ماده

۱. سرمنشي د معرفي شوو کسانو نومونه په الفبایي ترتیب لیکي. که چېرته د ۱۲مې مادې په دویمه فقره کې بل څه نه وي، راغلي، یوازی ۱۴ کسان د ټاکلو وړ دي.

۲. سرمنشي دا لیست عمومي ټولنی او امنیت شوری ته وړاندې کوي.

اتمه ماده

عمومي ټولنه او امنیت شوری هر یو د محکمې غړی په خپلواکه توګه ټاکي.

نهمه ماده

ټاکونکي باید د خپلو ټاکنو په وخت کې، دا خبره په پام کې ونیسي چې د عدالت نړیوالې محکمې ته ټاکل کېدونکي کسان، نه یوازې دا چې پاسني شرایط ولري؛ بلکه باید د نړۍ د لویو تمدنونو او مهمو قضایي نظامونو استازي هم وي.

لسمه ماده

۱. هغه نوماندان ټاکل شوي ګڼل کېږي چې په عمومي ټولنه او امنیت شوری کې بشپړ اکثریت ترلاسه کړي.

۲. د قاضیانو یا د ۱۲ مادې د کمیسیون د غړو د ټاکنې له پاره، د امنیت شوری د دایمي او غیر دایمي غړو تر منځ هېڅ توپیر نشته.

۳. که عمومي ټولنه او امنیت شوری د یو دولت له یوه شخص څخه ډېرو نوماندانو ته رایه ورکړي، تر ټولو مشر ټاکل کېږي.

یوولسمه ماده

که د ټاکنو له لومړۍ پړاو وروسته څوکۍ تشې پاتې شي، په همدې ډول دویم ځل او د اړتیا په وخت کې دریېم ځل ټاکنې کېږي.

دولسمه ماده

۱. که د ټاکنو له درېیمې ناستې وروسته بیا هم څوکۍ تشې پاتې شي، هر وخت امکان لري چې د عمومي ټولنې یا امنیت شورى په غوښتنه، شپږ کسیزه ګډه جرګه ګۍ جوړه شي چې درې غړي به یې د عمومي ټولنې او درې د امنیت شورى په خوښه ټاکل کېږي، چې د هرې تشې څوکۍ له پاره په بشپړ اکثریت وړ کاندید ومومی او د ټاکنې له پاره یې عمومي ټولنې او امنیت شورى ته وپېژني.

۲. ګډه جرګه ګۍ کولای شي هر هغه څوک چې ټاکلي شرایط او د جرګه ګۍ د رایو اتفاق ولري، د نوماندانو په لېست کې ولیکي. که څه هم چې دا نوم په هغه لیست کې نه وي چې د ۷ مادې له مخې برابر شوي دي.

۳. که ګډه جرګه ګۍ په دې پوه شي چې څوک وټاکي، د عدالت نړیوالې محکمې هغه غړي چې مخکې ټاکل شوي دي، تشې څوکۍ د هغه مودې له پاره چې د امنیت شورى یې ټاکي، په هغه قاضیانو ډکوي چې په عمومي ټولنه او امنیت شورى کې رایې ولري.

۴. که د قاضیانو رایې مساوي شي، د تر ټولو مشر قاضي رایه قاطع وي.

دیارلسمه ماده

۱. د عدالت د نړیوالې محکمې غړي د نهه کلونو له پاره ټاکل کېږي او د بیا ټاکنې وړ هم دي. هغه پنځه قاضیان چې د محکمې په لومړنیو ټاکنو کې ټاکل کېږي، درې کاله کار کوي؛ خو پنځه نور د شپږو کلونو له پاره دي.

۲. د ملګرو ملتونو عمومي منشي د هغه قاضیانو په ځای، چې ماموریت یې د لومړني پړاو په درېیو کلونو او شپږو کلونو کې پای ته رسي، په سمدستي توګه له لومړنیو ټاکنو وروسته د پچې له مخې ټاکي.

۳. د محکمې غړي چې ځایناستي یې نه وي ټاکل شوي، په دنده کې پاتې کېږي او د ځایناستي له ټاکلو وروسته به هم هغه چارې سرته رسوي چې مخکې ورته سپارل شوي دي.

۴. د عدالت نړیوالې محکمې د غړي د استعفی په صورت کې استعفا لیک د محکمې رییس ته وړاندې کېږي چې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته یې ورسوي. د داسې استعفی په صورت کې څوکۍ تشه ګڼل کېږي.

څوارلسمه ماده

د تشو څوکیو ډکول د دې ترتیب په رعایت سره په هماغه طریقه کېږي چې لومړی ځل ټاکنو ته مقرر شوي دي. د ملګرو ملتونو سرمنشي باید د څوکیو په تشیدو سره د یوې میاشتې په بهیر کې، له ۵ مادې سره سم چلند وکړي او د ټاکنو نېټه به د امنیت شورى لخوا وټاکل شي.

پنځلسمه ماده

د نوي ټاکل شوي غړي د ماموریت موده، د مستعفی غړي په ځای چې تر اوسه یې د ماموریت موده نه ده بشپړه شوی، د همدې پاتې په اندازه ده.

شپاړسمه ماده

۱. د محکمې غړي نه شي کولای چې هېڅ سیاسي یا اداري ماموریت په غاړه واخلي او یا داسې دنده ترسره کړي چې مسلکي بڼه ولري.

۲. په دې اړه د شک او تردید په صورت کې د محکمې حکم قطعي (وروستی) دی.

اوولسمه ماده

۱. د محکمې غړي نه شي کولای په هېڅ کار کې استازیتوب، مشاوریت او یا هم وکالت وکړي.

۲. دوی نه شي کولای چې د هر هغه کار په برخه کې، چې پخوا یې د کوم لوري د استازي، مشاور، وکیل، یا د کومې ملي یا نړیوالې محکمې د غړي یا د کوم څېړنیز پلاوي په توګه برخه اخستي وي، ګډون وکړي.

۳. په دې اړوند د شک او تردید په صورت کې به د محکمې حکم وروستی وي.

اتلسمه ماده

۱. د محکمې غړي له خپلې دندې نه شي لیرې کېدای؛ خو که نور غړي په اتفاق رایه ورکړي چې دا قاضي نور د غړیتوب وړتیا نه لري.

۲ -- د محکمې د ثبت مسوول یاد مراتب په رسمي بڼه د ملګرو ملتونو سرمنشي ته وړاندې کوي.

۳ -- څنګه چې دا موضوع ابلاغ شوه. نوموړي څوکۍ تشه ګڼل کېږي.

نولسمه ماده

د محکمې غړي د دندو د اجرا په وخت کې سیاسي امتیازات او خوندیتوب لري.

شلمه ماده

د محکمې هر غړی باید د دندې له پیل مخکې، په علني غونډه کې په رسمي توګه ژمنه وکړي چې خپل کار به په بشپړ بې پلویتوب او وجدان ترسره کوي.

یوویشتمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه خپل رییس او مرستیال د درېیو کلونو له پاره ټاکي او بیا هم دا کسان ټاکل کېدای شي.

۲. محکمه د دفتر مسوول او بل هر لازمي کارکوونکی ټاکلی شي.

دوه ویشتمه ماده

۱. محکمه کولای شي خپل مقر بل هر ځای ته چې وغواړي، ولېږدوي او هلته کار وکړي.

۲. د محکمې رییس او د دفتر مسوول به د محکمې په مقر کې وي.

درویشتمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه به تل د کار په حالت کې وي؛ خو په هغه قضایي رخصتیو کې به به کار نه کوي چې وختونه یې خپله محکمه ټاکي.

۲. د محکمې غړي د رخصتیو حق لري، محکمه د دې رخصتیو وختونه او نېټې د قاضیانو د کورونو او لاهې ترمنځ واټن ته په کتو ټاکي.

۳. د عدالت نړیوالې محکمې غړي د رخصتیو، ناروغیو یا بل هر هغه دلیل له امله چې د محکمې رییس به یې تشخیص کوي، څخه پرته باید تل د محکمې به واک کې وي.

څلورویشتمه ماده

۱. که د محکمې کوم غړی په هر دلیل ونه غواړي چې د کوم کار په پرېکړه کې برخه واخلي، رییس ته به اطلاع ورکوي.

۲. که چېرته په دا ډول مواردو کې، د رییس او غړي تر منځ د نظر اختلاف وي، د محکمې رایه وروستۍ وي.

۳. د محکمې د غړو او رییس ترمنځ د نه تو افق په صورت کې د محکمې پرېکړه وروستی ده.

پنځه ویشتمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه باید خپل واکونه په علني غونډه کې عملي کړي؛ مگر دا چې په اساسنامه کې بل ډول تصریح شوې وي.

۲. د دې شرط په قیدولو سره چې د محکمې د جوړولو له پاره، باید دوولس قاضیان حضور ولري؛ خو د محکمې مقررات کولای شي دا ووایي چې یو یا څو قاضیان په وار او وضعیت ته په کتو په غونډو کې له گډون څخه معاف کړي.

۳. د دې له پاره چې محکمه دایره شي، د نصاب حد به په نهو غړو سره بشپړ وي.

شپږویشتمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه هر وخت کولای شي چې د اړتیا په صورت کې، یوه یا څو څانگې چې هر یوه لږ تر لږه درې غړي ولري ، جوړې کړي چې دعوی د مثال په توگه لکه کار، ټرانزیت او اړیکې وڅېړي.

۲. محکمه کولای شي چی هر وخت د یوې چارې د څېړنې له پاره یوه څانگه جوړه کړي. د دې څانگې قاضیان به په خپله محکمه د دعوی د لوریو په رضا ټاکی.

۳. د دې مادې ذکر شوې څانگې به هغه وخت حکم ورکړی شي چې د دعوی لوري یې وغواړي.

اووه ویشتمه ماده

که دا څانگې د اساسنامې د ۲٦ او ۲۷ موادو په رڼا کې پرېکړه وکړي، دا به د عدالت د نړیوالې محکمې د پرېکړې حیثیت ولري.

اته ویشتمه ماده

په ۲٦ او ۲۹ موادو کې ذکر شوې څانګې، کولای شي چې د لوریو په رضایت سره له لاهې څخه بهر کیني او دنده سره کړي.

نهه ویشتمه ماده

د عدالت نړیواله محکمه د چارو د چټکتیا له پاره، هر کال د پنځو قاضیانو یوه مرکزي څانګه جوړه کړي چې د لوریو د غوښتنې په صورت کې، دعواوې وځېړي. همدارنګه دوه نور قاضیان به هم وټاکل شي چې د هغه قاضیانو ځای ونیسي چې نه شي کولای په محاکمه کې ګډو ن وکړي.

دېرشمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه به د ځانګړې کړنلارې له مخې، د خپلو دندو او واکونو د تر سره کولو لارې چارې او همدارنګه محاکماتی اصول جوړ کړي.

۲. د محکمې یاده کړنلاره کولای شي داسې مرستیالان په پام کې ونیسي چې په محکمه یا یې په څانګو کې ګډون وکړي؛ خو د رایې حق به نه لري.

یو دېرشمه ماده

۱. هغه قاضیان چې د دعوې له کوم لوري سره د ګډ ملیت هویت ولري، حق لري چې د عدالت په نړیواله محکمه کې د روانې دعوې په څېړنه کې برخه واخلي.

۲. که په یاده محکمه کې کوم قاضي د دعوې د کوم لوري سره ګډ ملیت ولري، د دعوې بل لوری کولای شي بل څوک وټاکي چې په محاکمه کې د قاضي په توګه برخه واخلي. دا شخص باید د امکان تر بریده له هغه کسانو څخه وټاکل شي چې د ۴ او ۵ موادو سره سم معرفي شوي وي.

۳. که د محکمې د قاضیانو په ډله کې د دعوی د لوریو د ملیت نه وي، بیا هم هر یو لوری کولای شي له مخکېني ذکر شوي بند سره سم یو قاضي وټاکي.

۴. د دې مادې حکم به د ۲٦ او ۱۴ موادو په برخه کې هم رعایت شي. په داسې وخت کې د محکمې رییس د محکمې له غړو څخه چې څانګه جوړوي وغواړي چې خپل ځای هغه غړو ته پرېږدي چې د لوریو سره په ملیت کې شریکان دي او که د غړو کې د لوریو له ملیت څخه نه وي یا د شتوالي په صورت کې په محاکمه کې ګډون ونشي کولای؛ خو خپل ځای هغه قاضیانو ته ورکړي چې د دعوې لوریو ټاکل دي.

۵. که په یوه محاکمه کې څو لوري ګډې ګټې ولري، د پاسنیو مقرراتو د اجرا له پاره به ټول د یوه لوري حکم ولري او د شک او تردید په صورت کې د محکمې حکم وروستی دی.

٦. هغه قاضیان چې د دې مادې له ۲، ۳ او ۴ فقرې فقرې سره سم ټاکل کېږي، باید د ۲ مادې او د ۱۷ مادې د ۲ بند او همدارنګه د ۲۰ او ۲۴ موادو مقررات یې په اړه رعایت شي. دا قاضیان به له نورو قاضیانو سره په رایه کې په بشپړ مساویتوب ګډون وکړي.

دوه دېرشمه ماده

۱. د محکمې غړي به کلني حقوق تر لاسه کړي.

۲. د محکمې رییس ته به ځانګړې کلنۍ اجوره ورکړ شي.

۳. د محکمې د مرستیال رییس ته به د هرې هغې ورځې ځانګړې اجوره ورکړل شي چې د ریاست دنده په مخ وړي.

۴. د محکمې له غړو پرته، هغو قاضیانو ته چې د ۳۱ مادې سره سم ټاکل کېږي، د هرې ورځې دندې له پاره حق الزحمه ورکړ شي.

۵. د یادو حقوقو، اجورو او حق الزحمو اندازه د عمومي ټولنې لخوا ټاکل کېږي. دا مبالغ د قاضیانو د دندې د اجرا په حالت کې نه شو راکمولی.

٦ -- عمومي ټولنه د محکمې په وړاندیز د دفتر د مسوول حقوق ټاکی.

۷. هغه شرایط چې د عدالت نړیوالې محکمې د قاضیانو او د دفتر د مسوول مبالغ ټاکي او هغه شرایط چې د قاضیانو او د دفتر د مسوول د سفر لګښتونه ټاکي، په یو طرزالعمل کی راځي چې عمومي ټولنې تصویب کړی وي.

۸. حقوق، اجورې او حق الزحمې له هر ډول مالیاتو معاف دي.

دري دېرشمه ماده

د عدالت نړیوالې محکمې لګښتونه، د عمومي ټولنې لخوا ټاکل کېږي او ملګري ملتونه یې ورکوي.

## دویم څپرکی

## د عدالت نړیوالې محکمې واکونه

څلور دېرشمه ماده

۱. یوازی دولتونه د عدالت نړیوالې محکمې ته مراجعه کولای شي.

۲. محکمه کولای شي د خپلې (کړنلارې سره سم) له عمومي نړیوالو ټولنو څخه، د هغه دعوی ګانو په هکله چې محکمې ته وړاندې شوې، اطلاعات وغواړي او هم هغه اطلاعات چې نوموړی ټولنې یې په خپل نوښت محکمې ته ورکوي، ترلاسه کړي.

۳. که چېرته محکمې ته د یوې دعوی په وخت کې، د یوې نړیوالې ټولنې د جوړېدو د سند تفسیر یا د نړیوال تړون تفسیر، چې د هغې له مخې دا سند منل شوی او مطرح شي، د محکمې د دفتر مسوول باید د محاکمې د غونډو کتبي بهیر هغه ټولنې ته وړاندې کړي.

پنځه دېرشمه ماده

۱. د عدالت نړیوالې محکمې ته، د دې اساسنامې لاسلیک کوونکي هېوادونه د مراجعې حق لري.

۲. هغه شرایط چې په سبب یې نور دولتونه کولای شي، دې محکمې ته د ځانګړو نافذه میثاقونو د مقرراتو په رعایت سره مراجعه وکړي، د امنیت شوری لخوا به وټاکل شي، بې له دې چې د محکمې په وړاندې په دې شرایطو کې د دعوې یو لوري ته نامساویتوب جوړ شي.

۳. که کوم دولت چې د ملګرو ملتونو غړی نه وي؛ خو په دعوې کې طرف وي، د عدالت نړیواله محکمه به د نوموړي دولت د لګښتونو ونډه وټاکي. که داسې دولت د محکمې په لګښتونو کې برخه اخیستې وي، دا حکم نه تطبیق کېږي.

شپږ دېرشمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه ټولو هغه چارو د څېړلو واک لري چې د دعوې لوري ورته مراجعه کوي، یا هغو چارو ته چې د ملګرو ملتونو د کړنلارې یا د نافذه میثاقونو او تړونونو له مخې ور ته وړاندې شوي دي.

۲. د دې اساسنامې لاسلیک کوونکي دولتونه، هر وخت دا اعلامیه ور کولای شي چې د ټولو هغه اختلافي مسایلو په هکله چې قضایي اړخونه ولري او په لاندې مسایلو پورې اړه لري، د بل هر دولت په وړاندې، د عدالت د نړیوالې محکمې اجباري قضاوت، یې له کوم ځانګړی تړون څخه مني.

الف: د یوه تړون تفسیر،

ب: هره مسئله چې د نړیوالو حقوقو موضوع وي،

ج: د هرې هغه مسئلې حقیقت چې د ثبوت په صورت کې د یوې نړیوالې ژمنې ماتوونکی (نقض) وبلل شي،

د: د هغه غرامت ډول او اندازه چې د یوې نړیوالې ژمنې د ماتولو له پاره باید ته ورکړل شي،

۳. یادې اعلامیې کېدای شي هېڅ قید ونه لري یا د ټاکلي وخت له پاره د څو یا ځینو دولتونو سره د متقابلې معاملې په شرط ترسره شي.

۴. دا اعلامیې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته سپارل کېږي او هغه یې د دې اساسنامې لاسلیک کوونکو او د عدالت نړیوالې محکمې د دفتر مسوول ته استوي.

۵. هغه اعلامیې چې د عدالت د نړیوالې محکمې د اساسنامې له ۳٦ مادې سره سم صادرې شوې او اوس هم اعتبار لري. دې اساسنامې د لاسلیک کوونکو هېوادونه ترمنځ، په اړیکو کې به عدالت د هغه نړیوال اجباري قضاوت د منلو حکم ولري چې د اعلامیو په پاته موده یا د اعلامیو په مقرراتو کې منل شوي دي.

٦. د محکمې د واک په اړه د اختلاف په صورت کې د محکمې حکم وروستی دی.

اووه دېرشمه ماده

که د یوه تړون یا میثاق له مخې چې تر اوسه معتبر دی، د اختلاف ارجاع هغه قضایي پلاوي ته په پام کې نیول شوي دي چې د ولسونو ټولنې یا د نړیوال عدالت محکمه یې ټاکي نو هغه پلاوی به د دې اساسنامې د لاسلیک کوونکو لپاره همدا د عدالت نړیواله محکمه وي.

اته دېرشمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه چې دنده لري، راجع شوي اختلافات د نړیوالو حقوقو له مخې حل کړي، لاندې موازین به په پام کې نیسي:

الف: نړیوال عمومي او خصوصي تړونونه چې قواعد یې رامنځ ته کړي وي او د اختلاف لوریو دا قواعد په رسمیت پېژندلي دي.

ب: نړیوال عرف چې له عمومي رویې څخه سرچینه اخلي او د قانون په تو ګه منل شوی دی.

ج: د حقوقو عمومي اصول چې د متمدنو ملتونو منل دي.

د: د ۵۹ مادې د حکم په رعایت سره، د حقوقي قواعدو د ټاکلو لپاره د فرعي وسایلو په توګه قضایي پرېکړې او د نړۍ د بېلابېلو ملتونو د پیاوړو حقوقپوهانو عقاید او نظریات هم منلي دي.

۲. د دې مادې مقررات هغه حق ته خنډ نه شي کېدای چې د عدالت نړیواله محکمه یې لري او د هغې په سبب کولای شي د لوریو د غوښتنې په صورت کې، د هغه په اړه له قانون سره سم په مساوي ډول حکم ورکړي.

## درېیم څپرکی

## محاکماتي اصول

نهه دېرشمه ماده

۱. د عدالت نړیوالې محکمې رسمي ژبې فرانسوي او انګلیسي دي. که د دعوې لوري هوکړه وکړي چې ټول محاکماتي بهیر په فرانسوي ژبه ترسره شي، حکم به هم په فرانسوي ژبه لاسلیک شي. که لوري موافقه وکړي چې ټول محاکماتي بهیر په انګلیسي وي، حکم به هم په انګلیسي ژبه ورکړ شي.

۲. که د دعوې لوري د ژبې په اړه موافقې ته ونه رسي، لوري کولای شي په خپلو تقریراتو کې له هرې یوې ژبې چې غواړي، استفاده وکړي د محکمې حکم به په فرانسوي او انګلیسي ورکړ شي. په دې صورت کې به په خپله محکمه دا ووایي چې کوم یو نص معتبر دی.

۳. محکمه به هر لوري ته اجازه ورکړي چې که غواړي له انګلیسي او فرانسوي پرته بله ژبه وکاروي.

څلوېښتمه ماده

۱. دعواوې محکمې ته د یوه مورد په اقتضا یا د دعوې د لوریو د توافق د ابلاغ په وسیله، یا د هغې عریضې په وسیله راجع کېږي چې د دفتر مسوول ته ورکول کېږي. باید په هر حالت کې د اختلاف موضوع او د دعوې لوري مشخص شي.

۲. د محکمې د دفتر مسوول هر ذینفع ته فوراً اطلاع کوي.

۳. د دفتر مسوول د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وسیله، موضوع د ټولنې غړو ته او همدارنګه هغو دولتونو ته رسوي ورکوي چې محکمې ته د مراجعې حق لري.

یو څلوېښتمه ماده

۱. د عدالت نړیواله محکمه واک لري په هغه صورت کې چې تشخیص کړي چې اوضاع او احوال غوښتنه کوي چې د لوریو د حقوقو ساتنې ته په موقتي توګه اقدامات ترسره شي، ګام پورته کړي.

۲. دا اقداماتو باید فوراً د وروستۍ حکم تر صدور پوری ښکېلو لوریو او امنیت شوری ته ابلاغ شي.

دوه څلوېښتمه ماده

۱. په عدالت نړیواله محکمه کې د ښکېلو لوریو استازیتوب د هغه چا پر غاړه دی چې د دوی لخوا ټاکل شوي دي.

۲. ښکېل لوري کولای شي د محکمې په محضر کې له حقوقي مشاورینو او مدافع وکیلانو څخه مرسته وغواړي.

۳. د محکمې په محضر کې به د لوریو استازي، مشاورین او مدافع وکیلان د هغو امتیازاتو او خوندیتوبونو لرونکي وي چې په ازادانه ډول د دندې ترسره کولو لپاره لازم دي.

دري څلوېښتمه ماده

۱. د دعواوو د څېړلو اصولنامه دوه پړاوه لري. یو کتبي بل شفاهي.

۲. کتبي اصول د متقابلو لوایحو له ابلاغ او لوري، او قاضي ته د هغه د ځواب غوښتنې پر بنسټ او همدارنګه د دعوې اړوند اسنادو او مدارکو له ابلاغ څخه عبارت دي.

۳. ابلاغ د دفتر د مسوول په وسیله او د هغه مودې په ترتیب ترسره کېږي چې د محکمې لخوا وټاکل شي.

۴. د هر ډول سندونو تصدیق شوې بڼې، چې یو لوری یې ورکوي باید بل لوري ته ابلاغ شي.

۵. شفاهي اصول د دعوې د وکیلانو، حقوقي مشاورینو، استازو، کارپوهانو او د شاهدانو د اظهاراتو اوریدلو ته وایي.

څلور څلوېښتمه ماده

۱. د ابلاغ له پاره به د عدالت نړیوالې محکمې د لوریو د استازو، مشاورینو او مدافع وکیلانو پرته، په زغرده هغه دولت ته مراجعه کېږي چې د هغې په خاوره کې باید ابلاغ وشي.

۲. په دې توګه په هغو مواردو کې چې په هغه ځای کې مدارک ټول شي هم صدق کوي.

پنځه څلوېښتمه ماده

محاکماتي بهیر د رییس تر مشرتابه او د هغه په غیابت کې د مرستیال رییس په مخکې ترسره کېږي. د دواړو په غیابت کې، ریاست د قاضیانو په منځ کې تر ټولو مشر قاضي ته سپارل کېږي.

شپږ څلوېښتمه ماده

د محاکمې بهیر علني؛ خو که محکمه بل ډول تصمیم ونیسي، یا دا چې لوري غوښتنه وکړي چې د محاکمې په بهیر کې دی څوک نه وي، بیا داسې هم کېدای شي.

اووه څلوېښتمه ماده

۱. د هرې غونډې راپور به جوړ او د رییس او د دفتر د مسوول لخوا به لاسلیک شي.

۲. یوازې به د غونډې دا راپور د رسمي سند اعتبار ولري.

اته څلوېښتمه ماده

د عدالت نړیواله محکمه د دعوې د جریان مدیریت له پاره او د هغه ترتیباتو او مهلتونو په هکله چې د دعوې هر لوری یې له محکمې څخه غواړي، د هغې لپاره به قرار صادر او د ادلې د اقامې لپاره چې هر اقدام اړین وي، ترسره به یې کړي.

نهه څلوېښتمه ماده

د عدالت نړیواله محکمه کولای شي د غونډې له پیلېدو مخکې، د لوریو له استازو څخه وغواړي چې ټول اسناد ورته وړاندې او خپل ټول توضیحات ورته ورکړي. د امتناع په صورت کې به محکمه دا ټکی په پام کې ونیسي.

پنځوسمه ماده

محکمه کولای شي که لازمه وي یوه څېړنه یا یوه مشوره هر هغه شخص، پلاوي، کمېسیون او یا موسسې ته راجع کړي چې په خپله محکمې ټاکلې وي.

یو پنځوسمه ماده

د محاکمې په بهیر کې له کارپوهانو او شاهدانو ټولې پوښتنې، د هغو ترتیباتو له مخې کېږي چې د محکمې د دې اصولنامې، په دېرشمه ماده کې به وټاکل شي.

دوه پنځوسمه ماده

له هغې وروسته چې په ټاکلو نېټو اسناد او مدارک ترلاسه او د شاهدانو خبرې واورېدل شوې، محکمه کولای شي هر هغه نوی شهادت یا سند رد کړي، چې یو لوری وغواړي د بل لوري له رضایت پرته یې محکمې ته وړاندې کړي.

دري پنځوسمه ماده

۱. که د دعوی د څېړلو په بهیر کې کوم لوری حاضر نه شي یا د دلیل وړاندې کولو څخه ډډه وکړي، بل لوری کولای شي چې له محکمې وغواړي چې د ده له غوښتنو سره سم حکم صادر کړي.

۲. مخکې له دې چې محکمه دا غوښتنه ومني، باید ډاډه شي چې هم د ۳٦ او ۳۷ موادو پر بنسټ د دعوی د څېړلو واک لري؛ بلکه دا غوښتنې له حقوقي او عملي نظره هم سمې او پخې دي.

څلور پنځوسمه ماده

۱. کله چې د لوریو استازي، مشاورین او وکیلان ټول ګټور او اړین وسایل د محکمې تر نظر لاندې وکاروي. د محکمې رییس دمحاکمې پای اعلاموي.

۲. وروسته منصفه پلاوی د مشورې خونې ته ځي. دا مشوره باید پټه وي او خوندي پاتې شي.

پنځه پنځوسمه ماده

۱. پرېکړې د حاضرو قاضیانو په اکثریت کېږي.

۲. د رایو د تساوي په صورت کې د رییس یا د هغه د ځایناستي رایه قاطع ده.

شپږ پنځوسمه ماده

۱. حکم باید مؤجه وي.

۲. د هغو قاضیانو نومونه باید د حکم په پاڼه کې ذکر شي چې د حکم په صدور کې یې ګډون کړی دی.

اووه پنځوسمه ماده

که حکم په کلي یا جزوي ډول د ټولو قاضیانو د رایو په اتفاق نه وي صادر شوی، هر قاضي حق لري چې خپل شخصي نظر له حکم سره ضمیمه کړي.

اته پنځوسمه ماده

حکم باید د رییس او د دفتر مسوول لخوا لاسلیک شي او په علني غونډه کې چې هلته د لوریو استازي حضور لري، ولوستل شي.

نهه پنځوسمه ماده

د محکمې حکم یوازې د ښکېلو لوریو د ختلافي موضوع او د حکم موضوع په برخه کې عملي کېدونکی دی.

شپېتمه ماده

د محکمې حکمونه قطعي او د استیناف وړ نه دي. د اختلاف په صورت کې محکمه کولای شي چې د حکم د مانا او حدودو په اړه د هر لوري په غوښتنه تفسیر وکړي.

یو شپېتمه ماده

۱. له محکمې څخه د حکم بیا کتنه (تجدید نظر) نه شي غوښتل کېدای؛ خو که داسې څه وموندل شي چې په قضیه قطعي اغېز ولري او له حکم څخه مخکې پخپله محکمه، او هغه لوري چې د بیا کتنې غوښتنه کوي، اطلاعات ونه لري او لوري پرې مقصر نه وي.

۲. د بیا کتنې طرزالعمل د محکمې د ځانګړي حکم له صدور سره سم پېلېږي او په دې توګه نوې موندل شوي اسناد چې لازم کیفیات لري د بیا کتنې وړ اعلاموي.

۳. محکمه کولای شي د بیا کتنې بهیر د مخکېني حکم د تطبیق له پاره وځنډوي.

۴. د بیا کتنې غوښتنه باید د نوې مسئلې د موندلو له نېټې څخه، په شپږو میاشتو کې وشي.

۵. د حکم له صدور څخه لس کاله وروسته د بیا کتنې هېڅ ډول غوښتنلیک نه منل کېږي.

دوه شپېتمه ماده

۱. که کوم دولت دا تشخیص کړي چې تر سره شوی قضاوت، د دوی په حقوقي علایقو پورې اړه نیسي، کولای شي محکمې ته عارض شي.

۲. د دې غوښتنې په اړه د محکمې رایه قاطع ده.

دري شپېتمه ماده

۱. که دعوی مسئله د هغه تړون د تفسیر په اړه وي چې په ښکېلو لوریو سربېره په دولتونو پورې هم اړه ولري، د دفتر مسوول به له ځنډ پرته هغو دولتونو ته مراتب وړاندې کوي

۲. له دې دولتونو څخه هر یو حق لري چې محاکمې ته داخل شي، د دې حق د اعمال په صورت کې د محکمې لخوا ابلاغ شوی تفسیر به د دوی په اړه هم د تطبیق وړ وي.

څلور شپېتمه ماده

د دعوی هر لوری به د محاکمې لګښتونه په غاړه واخلي، مګر دا چې محکمه بل ډول ترتیب مقرر کړي.

## څلورم څپرکی

## مشورتي رایې

پنځه شپېتمه ماده

۱. محکمه کولای شي په هره قضایي مسئله کې کومې ټولنې یا موسسې ته چې دا غوښتنه یې د ملګرو ملتونو په کړنلاره کې مشروع وي، مشورتي رایه او نظر ورکړي.

۲. په هغو مسایلو کې چې د محکمې مشورتي رایه غوښتل کېږي، باید د کتبي عرض سره مل او صریح بیان شي او هر ډول اسناد چې د مسئلې وضاحت سره مرسته کوي، باید له عریضې سره ضمیمه شي.

شپږشپېتمه ماده

۱. د دفتر مسوول په فوري توګه ټولو دولتونو ته، چې په محکمه کې د دعوې د اقامې حق لري، هغه عرض ابلاغوي چې په سبب یې مشورتي نظر غوښتل شوی دی.

۲. سربېره پر دې د دفتر مسوول باید د ځانګړي او مستقیم ابلاغ ولاړې، هر دولت چې په محکمه کې د دعوې د اقامې حق لري یا یوه نړیواله ټولنه چې د محکمې په تشخیص، یا په هغه صورت کې چې محکمه د شخص په تشخیص سره د لازمو اطلاعاتو ورکولو وړتیا ولري، خبر ورکړي چې محکمه حاضره ده، د هغې مودې په اړه چې رییس یې ټاکي کتبي اظهار ترلاسه یا د هغوی شفاهي اظهارات په هغه علني غونډه کې چې په همدې موخه دایرېږي، واوروي.

۳. که د کوم دولت په اړه د همدې مادې د دویم بند ځانګړی ابلاغ نه وي ترسره شوی، او کتبي یا شفاهي اظهاراتو ته لېوالتیا وښیي؛ نو د دې غوښتنې په اړه د محکمې رایه قاطع ده.

۴. هغو دولتونو او موسساتو ته چې کتبي لایحې یا شفاهي توضیحات یې ورکړي، اجازه ورکول کېږي چې له نورو ټولنو سره د دولتونو لایحې او توضیحات په هغه طریقه او موده چې د رییس لخوا، د نه دایرېدو په صورت کې مشخص او تر بحث لاندې نیسي او په دې موخه د دفتر مسوول په ټاکلې غوښتل شوې موده کې، کتبي اظهارېې دولتونو او هغو موسساتو ته چې په خپله یې اظهار وړاندې کړی دی، استوي.

اووه شپېتمه ماده

محکمه په علني غونډه کې خپل مشورتي نظر اعلاموي او مراتب مخکې سرمنشي او ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو استازو، د نورو دولتونو او د نړیوالو موسساتو استازو ته چې مستقیماً ذینفع دي، خبر ورکول کېږي.

اته شپېتمه ماده

محکمه باید د مشورتي چارو د اجرا په وخت کې، د مطرح شویو اختلافاتو په اړه د امکان تر بریده د دې اساسنامې مقررات په پام کې ونیسي.

## پنځم څپرکی

## تعدیلات

نهه شپېتمه ماده

د دې اساسنامې تعدیلات د ملګرو ملتونو د کړنلاره د تعدیل په شان دي؛ خو په هغو پرېکړو به مشروط وي چې عمومي ټولنې د امنیت شورى د سپارښتنو له مخې د هغو دولتونو د ګډون له پاره کوي چې دا اساسنامه یې لاسلیک کړې؛ خو د ملګرو ملتونو غړي نه دي.

اویایمه ماده

محکمه کولای شي هغه تعدیلات چې په دې اساسنامه کې لازم بولي د ملګرو ملتونو سرمنشي لخوا وړاندیز کړي چې د ٦٩ مادې سره سم وڅېړل شي.

# د بشري حقونو نړیواله اعلامیه

۱۹۴۸د ډسمبر ۱۰

سریزه:

له هغه ځایه چې په نړۍ کې د بشري کورنۍ د ټولو غړو د ذاتي کرامت، او د دوی د برابرو او نه بېلیدونکو حقونو پېژندل د سولې، آزادۍ او عدالت بنسټ جوړوي.

چې د بشري حقونو له پامه غورځول او د هغوی سپکاوی د داسې ناوړه او وحشیانه اعمالو سبب ګرځي چې د انساني وجدان بې حرمتي ګڼل کېږي او هغې نړۍ ته رسیدل، چې انسانان پکې بې له ویرې او نیستۍ د بیان او عقیدې له آزادۍ ګټه واخلي، د بشر د خورا لوړو ارمانونو په توګه اعلام شوي دي.

له هغه ځایه چې د ظلم او جبر په مقابل کې د وروستۍ وسیلې توګه،یعنې بغاوت څخه د انسان د ژغورلو له پاره د بشري حقونو ساتل، د قانون د واکمنۍ له لارې اړین شمېرل شوي.

له هغه ځایه چې د ملتونو تر منځ د دوستانه اړیکو د ودې هڅول او پراخول اړین دي.

له هغه ځایه چې د خلکو او ملګرو ملتونو د ټولنې په کړنلارې کې، د بشر د بنسټیزو حقونو، د انسان په کرامت او ارزښت او د ښځې او نارینه د برابرو حقونو په اړه، خپل باور بیا تایید کړی او پرېکړه کړې چې ټولنیزې پراختیا او د ژوند غوره معیارونو ته په پراخه آزادۍ کې وده ورکوي.

له هغه ځایه چې د ملګرو ملتونو غړو هېوادونو ژمنه کړې چې د دې ټولنې په همکارۍ به، په نړیواله کچه، بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو ته په درنښت او د هغو څارنه کې،ډېروالی راولي.

له هغه ځایه چې د دې حقونو او آزادیو په وړاندې ګډ پوهاوی او پوهېدل د دې ژمنې د ترسره کولو له پاره د ډېر اهمیت لرونکي دی.

ځکه د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه، د بشري حقونو دا نړیواله اعلامیه د خلکو او هېوادونو له پاره د بریالیتوب د یوه ګډ معیار په توګه اعلانوي چې د هر فرد او ټولنې هر غړی باید په پرله پسې توګه، د دې اعلامیې په پام کې نیولو سره د ښوونې، روزنې او زده کړې له لارې هڅه وکړي چې دعوی د آزادیو او حقونو ته درناوی لوړ کړي او د تدریجي او مترقي ملي یا نړیوالو اقداماتو له لارې د غړیو هېوادونو او سیمو د خلکو په منځ کې د بشپړ او اغېزناکه پېژندنه او څارنه هم پخپله تامین او تضمین کړي، چې د دوی د قانوني صلاحیت په حدودو کې اوسي.

لومړۍ ماده

ټول انسانان ازاد پیدا کېږي او یوډول حقونه، عزت او کرامت لري انسانان عقل او وجدان لري او بایدیو له بل سره د ورورګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

دویمه ماده

هرڅوک پرته له دې چې هر ډول توپیر لکه نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي یا بله نظریه، ملي یاټولنیزه منشا، شتمني، د زېږېدنې نیټه یا بل دریځ په پام کې ونیول شي، د ټولو هغو حقونو وړ دي، چې په دې اعلامیه کې راغلي دي.

درېیمه ماده

هرڅوک د ژوند د ازادئ او ځاني خوندیتوب حق لري.

څلورمه ماده

هېڅوک په مرییتوب (غلامي) یا د مریه (غلام) په حیث نه شي ساتل کېدای، مرییتوب او د مرییو پېرودل او پلورل باید په ټولو بڼو کې منع شي.

پنځمه ماده

هېڅوک باید ونه ربړول شي، او نه په ظالمانه او ناانساني توګه سپک شي او یا سزا ووینې.

شپږمه ماده

هرڅوک حق لري، هر چېرته چې وي، د هغه حقوقي شخصیت د قانون له مخې د یوه انسان په څېر وپېژندل شي.

اوومه ماده

ټول خلک د قانون په وړاندې برابر دي او حق لري چې د هر ډول تبعیضځخه پرته، په برابره توګه د قانوني ملاتړ مستحق وي. دوی حق لري چې د هر هغه تبعیض په وړاندې چې اعلامیه نقضوي او یا د هغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعیض ته لمن وهي په برابره توګه وساتل شي.

اتمه ماده

که د هر چا په اساسي حقونو، چې د اساسي قانون یا د کوم بل قانون لخوا پېژندل شوي وي، تېری وشي، دی حق لري چې د صلاحیت لرونکو ملي محاکمو له لارې د تلف شویو حقونو مناسبه تلافي ترلاسه کړي.

نهمه ماده

هېڅوک په خپل سر توقیف، بندي یا تبعید کېدای نشي.

لسمه ماده

هرڅوک په مساویانه توګه حق لري چې دعوییې د یوې بې پلوه او خپلواکې محکمې لخوا، په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونیول شي او همداسې محکمه به د ده په حقونو او وجایبو او د هغه الزام په اړه پرېکړه کوي، چې په ده لګول شوي وي.

یوولسمه ماده

الف: په جرم هر تورن فرد حق لري تر هغې بېګناه وګڼل شي، چې جرم یې داسېیوه محاکمه کې ثابت شوي نه وي، چې تورن پکې د دفاع ټول اړین او رسمي تضمینونه،

ب: هېڅوک د داسې اعمالو په کولو او یا نه کولو محکوم کېدای نشي، چې د اجرا په وخت کې د ملي یا نړیوال قانون له مخې جرم نه شمېرل کېده، همداراز هېڅوک د یوه جرم له امله، له هغه سخته سزا نه ویني، چې د جرم د اجرا په وخت کې د هغه جرم له پاره نه وي ټاکل شوي.

دولسمه ماده

هېڅوک د چا په محرمیت، کورنۍ، کور یا لیکونو کې د خپلسرې مداخلې حق نه لري او نه یې په نامه او حیثیت تعرض کېدای شي. هر څوک داسې حملو یا مداخلې په مقابل کې د قانوني ملاتړ حق لري.

دیارلسمه ماده

الف: هر څوک حق لري چې په هر هېواد کې ازاد تګ – راتګ وکړي او د خپلې استوګنې ځای وټاکي.

ب: هر څوک حق لري چې د خپل هېواد په ګډون هر هېواد پرېږدي او یا بېرته خپل هېواد ته ستون شي.

څوارلسمه ماده

الف: هر څوک حق لري چې د ځور او تعقیب په وخت کې، په نورو هېوادونو کې د پناه اخیستو هڅه وکړي،

ب: له دې حق څخه هغه وخت کې ګټه نه شي اخیستل کېدای، که تعقیب د غیرسیاسي جرم او یا د داسې اعمالو له امله وي چې د ملګرو ملتونو له اهدافو او اصولو سره ټکر ولري.

پنځلسمه ماده

الف: هر څوک د تابعیت حق لري،

ب: هېڅوک باید له خپل تابعیت څخه محروم شي او نه یې باید دا حق باطل شي چې خپل تابعیت بدل کاندي.

شپاړلسمه ماده

الف: ټول بالغ نارینه او ښځینه، له هر راز محدودیت لکه نژاد، ملیت، تابعیت یا مذهب څخه پرته د واده حق لري او کورنۍ جوړه کړي. دوی د واده یا د واده د فسخ کولو یوډول حقونه لري،

ب: واده یوازې په هغه وخت کې کېدای شي، چې ښځه او نارینه خپله بشپړه خوښه او رضا څرګنده کړي،

ج: کورنۍ د ټولنې طبیعي او بنسټیز واحد دی او حق لري چې د دولت او ټولنې لخوا یې ملاتړ وشي.

اولسمه ماده

الف: هر څوک په ځانګړي یا ډله ییزه توګه د مالکیت حق لري،

ب: هېڅوک باید په خپلسري ډول د مالکیت له حق بې برخې نشي.

اتلسمه ماده

هرڅوک د فکر، وجدان او مذهب د ازادۍ حق لري. په دې حق کې هغه ازادي هم شامله ده، چې خپل مذهب یا عقیده بدله کړي او یا په یوازې توګه یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره یا خصوصي ډول خپله عقیده یا مذهب په زړه، عمل، عبادت او د دیني مراسمو په اجرا کې څرګند کړي،

نولسمه ماده

هرڅوک د بیان او نظر د ازادۍ حق لري. په دې حق کې هغه ازادي هم راځي چې یو څوک بې له وېرې څخه مفکورې او نظر یې ولري او په هره وسیله، پرته له دې چې سرحدونه په پام کې ونیسي. عقاید او معلومات وپلټي، ترلاسه یې کړي او خپاره یې کړي.

شلمه ماده

الف: هر څوک حق لري، چې په ازاد ډول سوله ییزېټولنې او ډلې جوړې کړي،

ب: هېڅوک باید په دې مجبور نه شي، چې په کومه ډله پورې وتړل شي.

یوویشتمه ماده

الف: هر څوک حق لري، چې په مستقیمیا ازاد ډول د ټاکلو استازو له لارې، د خپل هېواد په حکومتي چارو کې برخه واخلي.

ب: هر څوک حق لري، چې په برابره توګه په خپل هېواد کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.

ج: د خلکو اراده باید د حکومت د واک بنسټ جوړ کړي، دا اراده باید په نوبتي ډول په رښتینو ټاکنو کې څرګنده شي. ټاکنې باید د رایې د عمومي او برابر حق له مخې وشي او باید چې د پټې رایې ورکولو او یا د رایې ورکولو له برابرۍ او ازادې طریقې سره سم وشي.

دوه ویشتمه ماده

هرڅوک د ټولنې د یوه غړي په توګه حق لري، چېټولنیز امنیت ولري او د ملي هڅو او نړیوالې همکارۍ له لارې، د هر دولت د جوړښت او سرچینو سره سم هغه اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه تر لاسه کړي، چې د ده د حیثیت او شخصیت د ازادې ودې له پاره اړین وي.

درویشتمه ماده

الف: هر څوک حق لري چې کار وکړي، په ازاد ډولځان په کار وټاکي. د کار مناسب او عادلانه شرایط ولري او د وزګارتیا په ملاتړ وشي او وساتل شي.

ب: هر څوک یې له کوم تبعیض پرته حق لري، چې د برابر کار په مقابل کې برابره اجوره واخلي.

ج: هر څوک چې کار کوي، د مناسب معاش حق لري، چې د ده او د کورنۍ له پاره یې د بشري کرامت وړ ژوند تضمینوي او که ضروري وي حق لري چې د نورو ټولنیزو محافظتي وسایلو له لارې پیاوړي شي.

د: هر څوک حق لري چې د خپلو ګټو د ساتلو له پاره صنفي ټولنې جوړې کړي او یا له هغو سره یوځای شي.

څلورویشتمه ماده

هرڅوک د کار د ساعتونو د مناسب محدودیت او د بامعاشه نوبتي رخصتیو په تړون د استراحت او تفریح حق لري.

پنځه ویشتمه ماده

الف: هر څوک حق لري چې د ځان او خپلې کورنۍ د ژوند کچه د سلامتیا او سوکالۍ، خوړو، کور، روغتیاییڅارنو او ټولنیزو اړینو خدمتونو له پلوه تامین کړي او همدارنګه حق لري چې د وزګارتیا، ناروغۍ، معلولیت، کونډتوب، زړښت او په ټولو هغو مواردو چې د انسان له ارادې بهر دي، په وخت کې چې د خپل ژوند معیشت تامین نشي کړای، باید د پټمن ژوند له شرایطو برخمن شي.

ب: میندې او ماشومان د ځانګړي پاملرنې او مرستې مستحق دي ټول ماشومان که په نکاح یا بې نکاح پیدا شوي وي، د مساوي ټولنیز خوندیتوب حق لري.

شپږویشتمه ماده

الف: هر څوک د ښوونې او روزنې حق لري. ښوونه، روزنه باید لږ تر لږه په لومړنیو او اساسي زده کړو کې وړیا وي. لومړنۍ زده کړې باید اجباري وي. تخنیکي او مسلکي زده کړې باید عمومیت ومومي او لوړې زده کړې بایدټولو ته د استعداد او لیاقت له مخې پرانیستې وي.

ب: ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت د بشپړې ودې او بشري حقونو او اساسي ازادیو ته درناوی د ډېرولو په لوري سوق شي. ښوونه او روزنه باید د ټولو ملیتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي پیاوړې او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د ساتنې او پیاوړتیا له پاره غښتلې کړي.

ج: مېندې او پلرونه حق لري چې د ښوونې او روزنې هغه ډول وټاکي چې د دوی ماشومانو ته باید ورکړ شي.

اوه ویشتمه ماده

الف: هر څوک حق لري په ازاده توګه د خپلې ټولنې په کلتوري فعالیتونو کې برخه واخلي. له هنرونو څخه ګټه پورته کړي او په علمي پرمختګ کې شریک او له ګټوڅخه یې برخمن شي.

ب: هر څوک د خپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ حق لري چې د ده په زیار له هر ډول علمي، فرهنګي او یا هنري تخلیق څخه رامنځ ته شوې وي.

اته ویشتمه ماده

هرڅوک حق لري په داسې یوټولنیز او نړیوال نظم کې ژوند وکړي چې په دې اعلامیه کې راغلي او حقونه او ازادۍ یې په بشپړډول عملي شي.

نهه ویشتمه ماده

الف: هر څوک د هغې ټولنې په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري، چې د هغه د ازادې ودې او بشپړ شخصیت زمینه ور ته چمتو کوي.

ب: هر څوک باید د خپلو حقونو او ازادیو په عملي کولو کې، یوازې د هغو محدودیتونو تابع وي چې قانون کلي وي، چې د نورو د ازادیو او حقونو ته په مناسب ډول احترام وشي او وپېژندل شي او په یوه ولسواکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د مقتضیاتو، عامه نظم او هوسانې مراعات وشي.

ج: دغه حقونه او ازادۍ باید په هېڅ صورت د ملګرو ملتونو د اصولو او موضوعاتو په خالف عملي نه شي.

دېرشمه ماده

په دې اعلامیه کې هېڅ یوه فقره یا ماده باید داسې تعبیر نه شي، چې کوم دولت، ډلې یا شخص ته ددې حق ورکړي چې په داسې فعالیت لاس پوري کړي یا داسې کار وکړي چې هدف یې، په دې اعلامیه کې د ذکر شویو حقونو او ازادیو له منځه وړل وي.

# د بشري حقونه اسلامي اعلاميه

سريزه

د بشري حقونو نړيواله اسلامي اعلاميه په قاهره کې د اسلامي کنفرانس د تنظيم لخوا رامنځته شوې. په دې اعلاميه کې د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي دولتونه پر الله جل جلاله باندې په ايمان درلودلو سره د نړيوالو پروردګار او د کايناتو د پيداکوونکي او د نعمتونو ښښونکي، هغه خدای جل جلاله چې انسان يې په غوره بڼه پيدا کړی او هغه ته يې حيثيت ورکړی دی او هغه يې د ځمکې پر مخ خپل خليفه ګرځولی، هغه خدای جل جلاله چې د ځمکې ودانول او اصلاح يې د بشر دنده او د الهي تکاليفو امانت يې د هغه کار بللی، هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي د هغه په واک کې يې ورکړي دي او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د رسالت په تصديق سره چې خدای پاک هغه له يوه رښتيني دين سره د هدايت لپاره رالېږلی او هغه يې د نړيوالو لپاره رحمت، د غلامانو ازادوونکی د طاغوتيانو او مستکربانو ماتوونکی ګرځولی دی. هغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم چې د ټول بشريت تر منځ يې برابري اعلام کړه او له تقوا پرته د هېچا پر بل چا باندې په لومړيتوب قايل نه دی او د خلکو تر منځ يې واټنونه او کرکې له منځه يووړې او هغه انسانان چې له يوه واحد روح څخه يې پيدا کړي دي او د بې شانه توحيد په پام کې نيولو سره چې د اسلام جوړښت د هغه پر ستنه باندې درول شوی دی، هغه عقيده چې بشريت يې دې ته راوباله چې پرته له خدای جل جلاله نه د بل چا عبادت و نه کړي او له خدای پاک سره شريک پيدا نه کړي او د الله جل جلاله پر ځای هېڅوک د خدای پاک په نامه و نه مني، هغه عقيده چې د بشريت د واقعي ازادۍ او د هغه د حيثيت بنسټ يې اېښی او له غلامۍ څخه يې د انسان خلاصون اعلام کړی دی. او د هغه څه د تحقق لپاره چې په اسلامي شريعت کې راغلي دي د هغو له جملې څخه د دين، ځان، پوهې، ناموس، مال، نسل او نورو امتيازاتو لکه په ټولو دريځونو او احکامو کې منځلاري او عادل ساتل. دغه شريعت معنويات او ماده سره يوځای کړل، عقل او زړه يې سره ونښلول، د حقوقو او وجايبو ترمنځيې موازنه منځته راوړه او د فرد د حرمت او عمومي مصلحت تر منځ يې تلفيقات رامنځته کړل او د اړوندو اړخونو تر منځ يې د قسط معيارونه ټينګ کړل څو چې نه طغياني وي او نه زياني. او په بشري هلو ځلو کې د خپلې وندې د ترسره کولو په غرض چې د بشر په حقونو پورې اړه لري، هغه حقونو چې هدف يې د ګټې اخيستنې او ظلم په وړاندې د يو بل ملاتړ دی او د هغه په شرافتمندانه ژوند کې پر ازادۍ او حقونو تاکيد چې له اسلامي شريعت شره همغږي دي پر دې باندې په باور سره هغه بشر چې په مادي علم کې ډېرو لوړو درجو ته رسېدلی دی، په پرله پسې توګه او په هر وخت کې د خپل تمدن د ساتلو په غرض يوې ايماني تکيې او له خپلو حقونو څخه د ملاتړ عامل ته ضرورت لري، سره يو لاس شي او پر دې باندې په باور سره چې په اسلام کې اساسي حقونه او عمومي ازادۍ د مسلمانانو د دين يو جز دی، نو هېڅوک په اصولي توګه د الهي احکامو د کلي يا جزيي متوقف کولو، تر پښو لاندې کولو او سترګو پټولو حق نلري. هغه څه چې خدای جل جلاله په خپلو کتابونو کې نازل کړي او خاتم النبيين يې رالېږلی او د هغه په وسيله يې اسماني رسالت پای ته رسولی دی نو د هغو رعايتول، عبادت

دی او په هغو کې سستي کول او یا له هغو څخه تجاوز کول منکرات دي. هر انسان په یوازې توګه د هغو د ساتلو او اجرا کولو مسوولیت لري او امت په همغږه توګه په ګډ تضمین کې د هغه په وړاندې مسوول دی، له دې امله د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي په دې اساس د بشر اسلامي حقونه په ۲۵ مادو کې اعلاموي.

لومړۍ ماده

۱ .بشر په ټولیزه توګه یوه کورنۍ ده چې د خدای جل جلاله پر وړاندې بنده ګي او د حضرت آدم د زویتوب نسبت دوی سره یوځای کړي او ټول خلک د انساني شرافت په اصل او د نژاد، ژبې، جنس، دیني اعتقاد، سیاسي تړون او ټولنیز حالت له هر ډول توپیر او مسوولیت پرته یو برابر دي.

۲ .د پاک خدای جل جلاله ټول مخلوقات د یوې کورنۍ حیثیت لري او د خدای جل جلاله په وړاندې د دوی ډېر محبوب خپلو همنوعانو ته ډېره ګټه رسوونکی دی او هېڅوک پر نورو لوړتیا نه لري، خو په تقوی او ښو کارونو کې.

دویمه ماده

۱ .ژوند د خدای جل جالله نعمت او د ژوند کولو حق تضمین شوی دی، پر ټولو افرادو او حکومتونو واجب دي چې د دغه حق ننګه وکړي. د هر ډول تېري پر وړاندې دې ودرېږي او له شرعي جواز پرته د هېچا وژل جواز نه لري.

۲ .له هغې وسیلې څخه استفاده کول منع دي چې په کلي یا جزیي توګه د بشریت د سرچینې په له منځه وړ و تمامه شي.

۳ .د بشریت د ژوند د دوام ساتنه تر هغه ځایه چې پاک خدای جل جلاله فرمایلي دي شرعي دنده ده.

۴ .د انسان د جنازې حرمت باید وساتل شي او هغه ته بې احترامي جواز نه لري او همدارنګه د هغه لمس جایز نه دی، خو شرعي مجوز ته، دولت د هغه د ملاتړ مسوولیت لري.

درېیمه ماده

۱ .د زور یا وسله والو لانجو د کارولو په صورت کې باید هغه څوک و نه وژل شي چې په هغو کې برخه نه لري لکه بوډاګان، ښځې او ماشومان، هر زخمي او ناروغ د درملنې حق او اسیران د خوراک، پوښاک او ټاټوبي حق لري او د وژل شوو مثله کول منع دي، باید اسیران تبادله او د کورنۍ غړو ته یې د لیدو کتو اجازه ورکړل شي.

۲ .د دښمنۍ له امله د ونو غوڅول، د کروندو او باغونو له منځه وړل، د دولتي ودانیو او موسسو ړنګول جواز نلري.

څلورمه ماده

هر انسان حرمت لري او کولای شي په ژوند او یا تر مرګ وروسته خپل نوم او شهرت وساتي، دولت او ټولنه دنده لري چې د هغه مړی او مقربه له هر ډول توهینځخه وساتي.

پنځمه ماده

۱ .کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ دی او واده کول د هغې مهم رکن دی، نو نارینه او ښځې د واده حق لري او هېڅ هغه قید او بندیز نه شي کولای چې د نژاد، رنګ یا قومیت پر بنسټ ددې حق مخه ونیسي.

۲ .ټولنه او دولت وظیفه لري د واده په مخکې پراته خنډونه له منځه یوسي، لارې یې اسانې کړي او د کورنۍ ملاتړ وکړي.

شپږمه ماده

۱ .په انساني حیثیت کې ښځه او نارینه سره یو برابر دي، ښځې چې څومره دندې لري حقونه هم لري او مدني شخصیت، خپلواکه مالي ذمه او د خپل نامه او نسب د ساتلو حق لري.

۲ .د نفقې تامین او د هغو د ساتلو مسوولیت د نارینه له دندو څخه دي.

اوومه ماده

۱ .د ماشومانو د وړکتوب د وخت ساتنه، ښوونه او درملنه د مور، پلار او دولت په غاړه دي او د دې په ترڅ کې باید د جنین او مور ساتنه وشي او د هغوی د ځانګړې څارنې په نسبت باید هلې ځلې وشي.

۲ .پلرونه او هغه څوک چې د شریعت له نظره د پلار مقام لري، د هغوی د ګټو او راتلونکي په پام کې نیولو سره د روزنې د ډول د انتخاب حق د اخلاقي ارزښتونو او شرعي احکامو په رڼا کې په غاړه لري.

اتمه ماده

هر انسان د الزام له پلوه یو شرعي شخصیت لري او که چېرې دغه شخصیت له منځه ولاړ یا تر ګواښ لاندې راغی، قیم یې ځای نیسي.

نهمه ماده

۱ .د علم طلب یوه فریضه ده او تعلیم پر ټولنه او دولت یو واجب امر دی، پر دولت لازمه ده چې لارې چارې او وسایل یې برابر کړي او د هغه متنوع والی هغه شان چې د ټولنې مصلحت دی ترسره او تامین کړي او انسان ته وخت ورکړي چې د اسلام د دین او د کایناتو د حقایقو په اړه پوهه تر لاسه کړي او هغه د بشریت په ښېګڼه وکاروي.

۲ .دا د هر انسان حق دی چې له کورنۍ، مدرسې او پوهنتون نه نیولې تر تبلیغاتي دستګاوو او نورو پورې بېلابېلې روزنیزې او څېړنیزې موسسې چې د انسان د دنیوي او دیني زده کړو په غرض کوښښ کوي، د هغه د بشپړې او متوازنې روزنې لپاره هلېځلې وکړي او شخصیت یې وروزي، داسې چې پر خدای جل جلاله باندې یې ایمان او د هغه حقونو او وظایفو ته یې احترام برابر شي.

لسمه ماده

اسلام د فطرت دین دی او د انسان د هر ډول اکراه کارول یا پر بل دین یا ایجاد باندې د دغه دین د بدلولو په غرض د انسان له فقر یا ناپوهۍ څخه ګټه اخیستل جواز نه لري.

یوولسمه ماده

۱ .انسان ازاد پیدا کېږي او پرته له خدای جل جلاله نه هېڅوک حق نه لري چې هغه غلام او ذلیل کړي او یا یې وځپي یا له هغه څخه ناسمه ګټه واخلي.

۲ .ښکېلاک د هغه له بېلابېلو ډولونو سره او په دې باور چې د مریيتوب ډېر ناوړه ډول دی په کلکه تحرمیېږي او هغه ملتونه چې له هغه څخه کړېږي حق لري له هغه څخه خلاصون ومومي او خپل برخلیک په خپله وټاکي. ټول دولتونه او هېوادونه هم دنده لري له دغې ډلې سره د هر ډول ښکېلاک او اشغال د له منځه وړلو پر خلاف په مبارزو کې مرسته وکړي. ټول ملتونه هم د مستقل شخصیت د ساتلو او پر خپلو طبیعي منابعو او شتمنیو باندې د و اکمنۍ حق لري.

دولسمه ماده

هر انسان له شریعت سره مطابق په خپل هېواد او یا له خپل هېواد څخه بهر د استوګنې لپاره د ټاټوبي د انتقال او انتخاب حق لري او په هغه صورت کې چې د ظلم تر فشار لاندې راځي کوم بل هېواد ته کډه کولی شي. پر هغه هېواد چې کډوال ورځي، واجب ده چې له هغوی سره ښه چلند وکړي څو پناه ورکول ورته برابر شي، په دې شرط چې د شرعې مطابق د جرم د کولو له امله کډوالۍ ته نه وي اړ شوي.

دیارلسمه ماده

کار هغه حق دی چې باید دولت او ټولنه یې د هر هغه چا لپاره تضمین کړي چې د هغه د سر ته رسولو توان لري، او هر انسان د وړ کار د انتخاب ازادي لري. داسې چې هم د ده مصلحت او هم د ټولنې مصلحت ترسره شي، هر کارګر حق لري له امنیت، سلامت او نورو ټولنیزو تامیناتو څخه برخمن وي او هغه باید داسې کار ته اړ نه شي چې د کولو توان یې نه لري، او په زور کار ته باید اړ نه کړای شي او له هغه څخه ګټه وانه خیستل شي. هغه ته باید زیان ونه رسول شي، له توپیر پرته هر ښځینه او نارینه کارګر حق لري د هغه کار په مقابل کې عادلانه مزدوري ترلاسه کړي چې سر ته یې رسوي او له رخصتیو، بدلون، استحقاقي ترفیعاتو څخه د استفادې حق لري او په عین وخت کې وظیفه لري چې په خپل کار کې صادق او رښتینی وي. که چېرې کارګرانو له ګومارونکو سره اختلاف پیدا کړ دولت وظیفه لري د دغه اختلاف د حل، د ظلم د له منځه وړلو او د حق د اعادې او په عدل باندې د پابندۍ لپاره پرته له دې چې د کوم لوري په ګټه فیصله وکړي، دخالت وکړي.

څوارلسمه ماده

انسان حق لري له احتکار، فریب یا ځان او نورو ته له زیان رسولو پرته مشروع کار وکړي، او سود خوړل په کلکه منع دي.

پنځلسمه ماده

۱ .هر انسان له شرعي لارو څخه د مالک کېدلو حق لري او کولای شي د مالکیت له حق څخه په هغه ډول برخمن شي چې خپل ځان یا نورو او ټولنې ته زیان و نه رسوي، نه شو کولای له چا څخه مالکیت واخلو، که د عمومي ګټو د ساتلو ضرورت وي، نو بیا باید په مقابل کې فوري او عادلانه غرامت ورکړل شي.

۲ .د مالونو مصادره او د هغو ضبطول منع دي، خو له شرعي احکامو سره سم.

شپاړلسمه ماده

هر انسان حق لري د خپلو علمي، ادبي، هنري یا تکنولوژیکي بریاوو څخه ګټه ترلاسه کړي او حق لري د ترلاسه شوو ادبی او مالي ګټو ساتنه وکړي، په دې شرط چې هغه بریا (اثر) د شریعت د احکامو مخالف نه وي.

اولسمه ماده

۱ .هر انسان حق لري په داسې چاپېریال کې ژوند وکړي چې له مفاسدو او اخلاقي ناروغیو څخه پاک وي، څو وکړای شي چې خپل ځان له معنوي پلوه ډاډه کړي، ټولنه او دولت وظیفه لري چې دغه حق ورته برابر کړي.

۲ .دولت او ټولنه وظیفه لري د موجودو امکاناتو پر بنسټ د ضرورت وړ عمومي مرکزونو د ایجاد له لارې د هر انسان لپاره روغتیایي او ټولنیز خدمتونه تامین او برابر کړي.

۳ .دولت مکلف دی د هر انسان په شرافتمندانه ژوند کې چې وکړای شي د هغه له لارې خپل او د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کړي لکه خوراک، پوښاک، ټاټوبی، معارف، درملنه او نور اساسي ضرورتونه، تضمین کړي.

اتلسمه ماده

۱ .هر انسان حق لري چې د خپل ځان، دین، کورنۍ، ناموس او مال په اړه په آرامۍ ژوند وکړي.

۲ .هر انسان حق لري چې د خپل ځانګړي ژوند (په ټاټوبي، کورنۍ، مال او اړیکو) کې ازادي ولري او د هغه د حیثیت د ټیټولو لپاره د هغه په وړاندې جاسوسي او څارنه جواز نه لري او باید په دې برخو کې د هر ډول زورورو د لاسوهنې په وړاندې د هغه ملاتړ وشي.

۳ .ټاټوبی په هر حالت کې حرمت لري او باید د هغه د اوسېدونکو له اجازې پرته په غري مشروع ډول ور داخل نه شو او هم هغه باید ویجاړ او مصادره نه شي او اوسېدونکي یې تربنه ونه شړل شي.

نولسمه ماده

۱ .خلک د شرعې په وړاندې یو برابر دي، په دې کار کې حاکم او محکوم هم له یو بل سره برابر دي.

۲ .محکمې ته مراجعه او پناه وړل هغه حق دی چې د ټولو لپاره تضمین شوی دی.

۳ .مسوولیت په اصل کې شخصي دی.

۴ .هېڅ جرم او یا مجازات د شریعت له احکامو پرته نشته.

۵ .تورن تر هغې بې ګناه ګڼل کېږي چې محکومیت یې د عادلانه محاکمې په وسیله نه وي تثبیت شوی.

شلمه ماده

له شرعي غوښتنې پرته د هر انسان نیول، د هغه د ازادۍ محدودول یا تبعیدول یا مجازات جواز نه لري او باید هغه ته بدني یا روحي ربړونه ور نه کړل شي. او د انساني حیثیت پر خلاف ورسره له سپکاوي ډک او سخت چلند

باید و نه شي. همدارنګه په زور د روغتیایي یا علمي ازمایښتونو لپاره اجبار پر هر فرد باندې جواز نه لري، خو که هغه رضایت ولري او په دې شرط چې د هغه سلامتي او ژوند په خطر کې و نه لوېږي. همدارنګه د هغو استثنایي قوانینو تدوین چې مجرئیه قوې ته دغه شان اجازه ورکړ ي هم جواز نه لري.

یوویشتمه ماده

یرغمل نیول په هره بڼه او د هر هدف لپاره چې وي، منع دي.

دوه ویشتمه ماده

۱ .هر انسان حق لري خپل نظر په هره بڼه چې له شرعي اصولو سره مخالف نه وي، په ازاده توګه بیان کړي.

۲ .هر انسان حق لري داسلامي شریعت د ضوابطو پر بنسټ د خیر او له منکر څخه د منع لپاره دعوت وکړي.

۳ .تبلیغات د ټولنې لپاره یو حیاتي ضرورت دی، له هغو څخه ناوړه استفاده او ناوړه استعمال یې او د انبیاوو په کرامت او مقدساتو باندې حمله او یا د هغه څه کارول چې په ارزښتونو کې د اخلال سبب شي یا د ټولنې تر منځ ګډوډي یا اعتقاد ته د زیان رسولو یا سره د پاشلو سبب شي، منع دي.

۴ .د قومي یا مذهبي احساساتو راپارول او یا هر هغه څه چې د هر ډول توکمیز توپیر د را پارولو سبب شي، جواز نه لري.

درویشتمه ماده

۱ .ولایت هغه امانت دی چې استبداد یا له هغه څخه ناوړه استفاده په غوڅه توګه منع دي ځکه چې اساسي حقونه له دې لارې تضمینېږي.

۲ .هر انسان حق لري د خپل هېواد د عمومي چارو په اداره کې په مستقیمه یا غري مستقیمه توګه ګډون وکړي. همدارنګه هغه کولای شي د شریعت د احکامو مطابق عمومي څوکۍ ترلاسه کړي.

څلور ویشتمه ماده

په دې سند کې ټول حقوق او ازادۍ د اسلامي شریعت له احکامو سره د مطابقت شرط لري.

پنځمه ویشتمه ماده

اسلامي شریعت د دې اعلامیې د هرې مادې د بدلون یا توضیح لپاره یوازنۍ مرجعې ده.

## د سمندرونو په هکله د ملګرو ملتونو کنوانسیون

**United Nations Convention on the Law of the Sea (UNCLOS)**

UNCLOSیو نړیوال تړون دی چې د کال ۱۹۸۲ د دسمبر په ۱۰، په مونتګویی (جمیکا) کې، د سمندرونو د حقوقو په هکله د ملګرو ملتونو په درېیمه غونډه کې لاسلیک شو چې په نړۍ کې د سمندرونو د حقوقو اصلي اخځ (منبع) بلل کېږي او د سمندرونو د اساسي قانون په نامه هم یادېږي.

دا تړون چې د کال ۱۹۹۴ د نومبر په ۱٦ د ٦۰ هېوادونو په غړیتوب اجرایي شو، اوس ۱٦۸ غړي لري.

دا کنوانسیون چې د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو د ۹ کاله پرله پسې غونډو وروسته (۱۹۷۳ – ۱۹۸۲) لاسلیک شو، د ژنیو د کال ۱۹۵۸ د څلورو کنوانسیونونو ځای ونیو چې د نړۍ ۷۵% هېوادونو یې غړیتوب نه و اخستی. هغه څلور کنوانسیونونه ځکه نیمګړي بلل کېدل چې نړۍ‌ډېر پرمختګ کړی کړی و او نوی ټکنالوژي سمندر تل ته رسیدلی وه.

په دې کنوانسیون کې پلاروطنه اوبهTerritorial Water (۱۲سمندری میل یا km۲۲ )، د پلاروطنه اوبو د څنګ سیمه Archipelagic Water (له پلاروطنو اوبو څخه وروسته ۱۲ سمندري میل یاkm۲۲) انحصاري اقتصادي سیمه (۲۰۰سمندري میل یاkm۳٦۰) او Continental Shelf پېژندل شوي او د دې سیمو په برخه کې د دولتونو مسوولیتونه او حقوق، نړیوال معبرونو (تنګي) او په دې برخه کې د ساحلي دولتونو واک او د سمندرونو د آزادي رسمي پېژندنه ټول تعریف شوي دي.[۵۳۲]

د UNCLOS کنوانسیون ځینې مقررات د ژنیوله کنوانسیونو څخه اخستل شوي چې عرفي نړیوال حقوق Customary International Lawبیانوي او ځینې بیا د نړیوالو حقوقو له پرمختیاوو سره سم پرې زیات شوي دي.

د پلاروطنه اوبو په څنګ سیمو کې، ساحلي دولتونه په څلورو برخو کې خپل قوانین تطبیق کولای شي: ګمرک، مالیات، مهاجرت او د اوبو یا هوا کثافت[۵۳۳]

له دې وروسته اقتصادي انحصاري سیمه راځي چې د هر هېواد له سرحدي کرښې څخه ۲۰۰ سمندري میل یا km۳٦۰ واټن نیسي. هېوادونه په دې سیمه کې کبان نیسي او په دې وروستیو وختونو کې تیل باسي؛ خو نور هېوادونه هم حق لري چې دلته تر اوبو لاندې کیبلونه او نل لیکې تیر کاندي.

له اقتصادي انحصاري سیمې وروسته نړیوالې اوبه دي چې په ټولو خلکو او هېوادونو پورې اړه لري. د بېړۍ چلونې چاپېریال باید خوندي وي، علمي څېړنې کېدلای شي او د طبیعي شتمنیو د ایستلو اجاره او شرایط یې د ISA یا د نړیوالې سمندر تل اداره پورې اړه لري، په وچو پورې تړلي هېوادونه هم له دې اوبو څخه دا کار اخیستنې حق لري.[۵۳٤]

---

[532] Fa.wikipedia.org
[533] en.wikipedia.org
[534] en.wikipedia.org

UNCLOS د لومړي ځل له پاره د سمندرونو فضا معرفي کړه، د بېړۍ چلونې مناسب چاپېریال یې رامنځ ته کړ، سمندري څېړنې یې وهڅولې او د وړلو او راوړلو د تکنالوژۍ د پرمختګ او لېږد سره یې ډېره مرسته وکړه. UNCLOS د هېوادونو له انحصاري اقتصادي سیمو څخه بهر، د سمندرونو نورې ټولې طبیعي شتمنۍ ګډ انساني میراث بولي.[٥٣٥]

[535] itlos.org/the tribunal

## د لیکوال چاپ شوی اثار

۱: د مینې افسانه، د صمد بهرنگي د داستان ژبـاړه، د بیهقي خپرونو اداره، د اطلاعاتو او کلتور وزارت،۱۳۵۷ هـ - ش(1978م)، کابل.

۲: د ښـادۍ بدلې، فولکوري جونګ، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳٦۵ هـ ش (1986م)، کابل.

۳: شلیدلي تارونه، لنډې کیسې، د افغانستان د لیکوالو ټولنه، ۱۳٦۹ هـ ش (1990 م)، کابل.

۴: سیل، لنډې کیسې، د افغانستان د لیکوالو ټولنه، ۱۳۷۰ هـ.ش(1991 م)، کابل. دا کتاب له بده مرغه د کابل په کورنیو جګړو کې وسوځید او له منځه لاړ.

۵: د ادبیاتو هدف، د ماکسیم ګورکي داستانونه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۷۰ هـ ش (1991 م) کابل. دا کتاب هم د کابل په جګړو کې په دولتي مطبعه کې وسوځېد او له منځه لاړ.

٦: وړی مین، د عزیزنسین داستانونه، د خوشحال فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۳هـش (1994 م)، پېښور.

۷: د نړۍ هېنداره، لومړی ټوک، آسیا. د اسیایي هېوادونو طبیعي، بشري، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۷۹ هـ ش(2000 م)، پېښور. دویم چاپ۱۳۸۲ هـ ش (2003م)، پېښور. دریېم چاپ د الازهر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ هـ ش (۲۰۱۲م) او څلورم چاپ الازهر خپرندویه ټولنه ۱۳۹۱ هـ ش (۲۰۱۲م). کابل

۸: د نړۍ هېنداره، دویم ټوک، افریقا. د افریقایي هېوادونو طبیعي، بشري، سیاسی ، اقتصادي او تاریخي جغرافیه، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۰ هـ ش(2001 م)، پېښور. دویم چاپ۱۳۸۳ هـ ش (2004م)، پېښور. دریېم چاپ ۱۳۹۱ هـ ش (۲۰۱۳ م)، کابل، الازهر خپرندویه ټولنه.

۹: تندر، د لنډو کیسو ټولګه، د الازهـر خـپرندویه ټولنه، ۱۳۸۱ هـ ش (2002 م)، پېښور.

۱۰- د نړۍ هېنداره، دریېم ټوک، استرالیا. د اوقیانوسیه سیمې د هېوادونو طبیعي، بشري، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۲ هـ ش (2003 م)، پېښور. دوهم چاپ ۱۳۹۲ هـ.ش(2013 م)، الازهر خپرندویه ټولنه، کابل.

۱۱: د نړۍ هېنداره، څلورم ټوک، اروپا. د اروپایي هېوادونو طبیعي، بشري، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸۴ هـ ش (2006 م)، پېښور. دویم چاپ ۱۳۸۳هـ.ش (۲۰۱۴- دسمبر)، الازهر خپروندویه ټولنه، کابل.

۱۲- د نړۍ هېنداره، پنځم ټوک، امریکا، د امریکایي هېوادونو طبیعي، بشري، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۸٦ هـ ش (2006م)، پېښور .دویم چاپ1384 هـ.ش (2015- دسمبر)، الازهر خپروندویه ټولنه، کابل.

۱۳- تور غاټول، د الکساندر دوما لیکنه، د دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦ هـ ش (2007 م)، پېښور.

۱۴- د مینې افسانه، د صمد بهرنگی د څلورو داستانونو ټولګه، د دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ هـ ش (2007 م)، کابل.

۱۵- مور او زوی، د ماکسیم گورکی د داستانو ټولگه، د دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ هـ ش (2008 م)، کابل.

۱٦- وړی مین، د عزیز نسین داستانونه، له سریزې او نویو زیاتونو سره، درېیم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۸هـ، ش (2009 م)، کابل.

۱۷- ژوندي دې وي خلك، د نړۍ د گڼ شمېر لیکوالو لنډې کیسې، دانش خپروندویه ټولنه، ۱۳۸۸ هـ ش (2009م)، کابل.

۱۸- نښه، د آرینزی د ټولو لنډو کیسو مجموعه، الازهر خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹هـ. ش (2010 م)، کابل.

۱۹- د وردگو د واده دود او بدلې، الازهر خپرندویه ټولنه ۱۳۸۹ هـ، ش (2010 م)کابل.

۲۰- مطالعۀ امکانات خودکفافی افغانستان از تولیدات شکر، الازهر خپرندویه ټولنه ۱۳۹۰ هـ ش (۲۰۱۱ م)،کابل.

۲۱- د غازي محمد جان خان وردك سیمینار د مقالو ټولگه، الازهر خپرندویه ټولنه ۱۳۹۱ هـ ش (۲۰۱۲م)، کابل.

۲۲- وردگ، وردک، ویهارادک، ویاردک، د وردگ پېژندنی سیمنیار د مقالو ټولگه، شبیر مطبعه، ۱۳۹۵ هـ.ش (۲۰۱٦م)، کابل،

۲۳- د تاریخ په مشوانۍ کې د وینو رنگ، د مقالو او کالمونو ټولگه ، ۱۳۹٦ هـ. ش (2017م)، کابل،

۲۴- آسیا، جغرافیای طبیعي، بشري، سیاسي، اقتصادي و تاریخي کشور های اسبا، چاپ اول، موسسه انتشارات الازهر، ۱۳۹٦ هـ ش (2017)، کابل.

۲۵ - اروپا، جغرافیای طبیعي، بشري، سیاسي، اقتصادي و تاریخي کشور های اروپا، چاپ اول، موسسه انتشارات الازهر، 1398 هـ ش (2019)، کابل.

26- اقیانوسیه، جغرافیای طبیعي، بشري، سیاسي، اقتصادي و تاریخي کشور های اقیانوسیه، چاپ اول، موسسه انتشارات الازهر، 1399 هـ ش (2020)، کابل.

۲۷ -- نړېوالې ټولنې، د نړۍ د سیاسي، پوځي، اقتصادي او فرهنگي ټولنو پېژندگلوي، لومړی ټوک، د افغان ماشومانو د پاره د جرمنی د مرستو دفتر، ۱۴۰۰ هه ش( ۲۰۲۱)، کابل.

چاپ ته تیار اثار:

۱- د افغانستان هوایي ترانسپورټ، اقتصادي څېړنه،

۲- اروپا، جغرافیای طبیعی، بشري، سیاسي، اقتصادي و تاریخي،

۳- افریقا، جغرافیای طبیعی، بشري، سیاسي، اقتصادي و تاریخي،

۴- افغانستان، لنډه پېژندگلوي،

۵- اسلامي هېوادونه، لنډه پېژندگلوي،

٦- د پخواني شوروي اتحاد، خپلواکه هېوادونه، لنډه پېژندگلوي،

۷ -- د وردک ولایت د کلیو اطلس،

## د احسان الله ارینزي لنډه پیژندګلوی:

احسان الله آرینزی د ارواښاد حاجي محمد عمر وردګ زوی، د ارواښاد بابه جان لمسی، د ارواښاد ګلنورخان کړوسی، د ارواښاد الله داد خان کوسی، د ارواښاد مولاداد خان کودی، د ارواښاد زرین خان لخکی، د ارواښاد رحیم خان پردی، د ارواښاد سلطان خان ... او د ارواښاد سلیمان خان ... دی. اوس د آرینزی کورنۍ په سلطان خیلو کې رحیم خیل یادیږي چې دواړه نومونه (رحیم خان او سلطان خان) په پاسني لست کې شته.

آرینزی د کال ۱۳۳۳ د جدې په دېرشمه د کابل په مستورات روغتون (میوند واټ) کې زېږېدلی. د هغه کورنۍ له دې څخه، څلور کاله مخکې له وردګو څخه کابل ته کډه شوې او د زاړه ښار د شوربازار په یوه کرایي کور کې استوګنه وه.

آرینزی اصلاً د وردګو د سیداباد ولسوالۍ د شنیز درې د چهاردهي کلي اوسیدونکی دی چې د سلطان خیلو د لوی کلي له توابعو څخه ګڼل کیږي او داسې ښکاري چې د کلي یو څو کورنۍ د نویو ځمکو او امکاناتو د میندلو په تمه، له سینده ها خوا پورې وتې او دا نوی کمکی کلی یې جوړ کړی. اټکل کیږی چې دا کمکی مهاجرت د ارواښاد رحیم خان بابا په وخت کې شوی دی.

چهاردهي تر دېرش څلوېښت کلونو مخکې، څو داسې غټې کلاوې درلودې چې په هره یوه کې د اکا زامنو د وینې د شراکت له مخې، ژوند کاوه او هرې کلا خپل بیل جومات درلود.

آرینزی په ۱۳۳۹ هـ - ش چې لا شپږ کلن و، د کابل د ښځو بڼ ته نژدې د غازي محمد ایوب خان ښوونځي ته لاړ، او شپږ کاله یې هلته درس ولوست. دې ښوونځي هغه وخت د باغ زنانه له اوسنۍ څلور لارې څخه د پروان مینی خوا ته، د سړک ښي لاس ته په یوه تنګه کوڅه کې موقعیت درلود.

له غازي محمد ایوب خان وروسته د نادریې لیسې وار شو (۱۳۴۵ هـ - ش) چې دې هم شپږ کاله وخت ونیو. په هغه وخت کې په دې لیسه کې دومره نظم، دسپلین، انظباط او اخلاقي معیارونه په پام کې نیول کیدل چې د نړۍ له پرمختللو هېوادونو سره یی سیالی کوله!

آرینزی په کال ۱۳۵۰ هـ - ش کې له دې لیسې څخه په دویم نومره فارغ شو. هغه وخت کابل پوهنتون د ځوانانو او سیاسي کړیو د پرله پسې لاریونونو له امله تړلی و. آرینزی مجبوراً دولت ته مخه کړه او د کابل ښاروالۍ په دویمه ناحیه (نوی ښار) کې کاتب مقرر شو. په ۱۳۵۳ هـ - ش کې چې کابل پوهنتون بیرته پرانستل شو، آرینزی د کانکور له لارې د اقتصاد پوهنځي ته لاړ، هلته یې په څلورو کلونو کې د پیسو او بانکي خدماتو دیپارتمنت پای ته ورساوه او د لیسانس دیپلوم یې ترلاسه کړ (۱۳۵٦ هـ - ش).

کوم مونوګراف چې آرینزی په هغه وخت کې لیکلي او لارښود استاد ۹۸ نمرې ورکړې وې، پنځه دېرش کاله وروسته، له نویو معلوماتو، ارقامو او احصائیو سره د (مطالعه امکانات خودکفایی افغانستان از تولیدات شکر) تر نامه لاندې د الازهر خپرندویه ټولنې له خوا په کتابي بڼه خپور شوی.

آرینزي په کال ۱۳۵۷ هـ - ش د ننګرهار د خوګیانیو ولسوالۍ د وزیرو تعلیمي غنډ ته لاړ، د احتیاط دورې عسکر شو او د ټانک چلوونکي ترخیص یې ترلاسه کړ.

د کال ۱۳۵۷ هـ.ش په پنځمه میاشت کې د پلان وزارت د کارموندنې ریاست، ارینزی د کار له پاره پشتني تجارتي بانک ته وپیژاند چې له آزموینې وروسته د بهرینو اړیکو د څانګې د مامور په توګه ومنل شو. پنځه میاشتې وروسته آرینزی د افغانستان صنعتي پراختیا بانک ته تبدیل او لس کاله یې هلته کار وکړ. دی په لومړی سر کې د صنعتی پروژو د ګټورتوب او د پور د ورکړې د راپورونو د برابرولو د څانګې غړی؛ خو په پای کې درې کاله د همدې څانګې مشر و.

له دې وروسته آرینزي د کورنیو جګړو له امله پیښور ته مهاجر او لس کاله هلته پاته شو؛ خو کله چې په هیواد کې نوي بدلونونه راغلل او د حامد کرزي په مشرۍ لنډمهاله ادارې په کار پیل وکر، بیرته هیواد ته ستون شو او د افغان بیسیم مخابراتی شرکت د لومړني مامور په توګه یې، دا ویاړ ترلاسه کړ چې اوس دوه ویشت ملیونه خلک موبایل ټلفونونه او ډېر خلک انترنت او ټولنیزی رسنۍ لري.

آرینزی د خپل پلار اروابناد حاجی محمد عمر، استاد حبیب الله رفیع او استاد زلمي هیوادادمل په مرسته په ۱۳۵۳ – ۱۳۵۴ هـ - ش کلونو کې د مطبوعاتو همکار شو؛ خو ده مخکې لا له مطالعې او کتاب سره مینه درلوده او په کور کې یې داسې یو کتابتون درلود چې په سلګونو کتابونه، مجلی او نور مواد یی درلودل او پلار به یې هره ورځ نوي مواد پرې اضافه کول.

د آرینزي لومړنۍ لیکنې په ژوندون، کندهار، ننګرهار، پکتیا، عرفان، کمکیانو انیس او فولکلور مجلو او هیواد، اصلاح، انیس او ثور انقلاب ورځپاڼو کې خپرې شوي او اوس د ۲۸ چاپي کتابونو خاوند دی چې تاسو یې فهرست په دی کتاب کې لیدلی شي.

آرینزي په تیرو څه باندې شلو کلونو کې په ګڼ شمیر کورنیو او نړیوالو سیمینارونو او غونډو کې برخه اخیستې چې ځینې یې دا دي:

۱. ۱۹۷۷ جون، کابل. د حکیم سنایي غزنوي نړیوال سیمینار، ارینزی په دی سیمینار کی د حکیم سنایی غزنوی د استاد، خواجه اسمعیل شنیزی په هکله مقاله واورواله چی د سیداباد ولسوالی د تنګی په تګاب نومی کمکی کلی کی ښخ دی او د سنایی په دیوان کی یی ذکر شوی دی.

۲. ۱۹۹۱ جون – جولای. جورجیا، ارمینیا، آذربایجان، ترکمنستان، اربکستان او تاجکستان هېوادونه ته، د شوروی اتحاد د لیکوالو ټولنې په بلنه سفر او په ګڼو غونډو کې ګډون،

۳. ۱۹۹۲ اګست – سپتمبر، هندوستان، پونه. د هندوستان د بانکي منجمنت د ملي انستیتوت په بلنه، د بانکي زده کړو درې میاشتې نظري او عملي درس،

۴. ۲۰۰۸ دسمبر، جرمني، هامبورګ، بن. د DW له خوا د رسنیو د ادارې (منجمنت) یو میاشتنی کورس،

۵. ۲۰۰۹ مارچ، عربي متحده امارات، دوبۍ. د افغانستان د راتلونکی په هکله ملي کنفرانس. په دی غونډه کې په ګڼ شمېر افغاني شخصیتونو لکه ښاغلو زلمي خلیلزاد، علی احمد جلالي او احسان الله بیات سربېره، ښاغلو داکتر اشرف غني احمدزي او داکتر عبدالله عبدالله د ویدیو کنفرانس له لارې حضور درلود،

٦. ۲۰۰۹ جون، ترکیه، استانبول. د ترکیې د صنایعو او سوداګرو کنفدراسیون له خوا، ترکیه د نړېوالې سوداګرۍ پل – ۲۰۰۹ غونډه. په دې اته ورځنې سفر کې د کندهار او بلخ ۲۵ سوداګرو برخه درلوده،

۷. ۲۰۰۹ اکتوبر، اتریش، سالزبورګ. د فانوس Panos دفتر له خوا د هند، نیپال، افغانستان او پاکستان د رسنیو د مسوولینو او سیاسي کارپوهانو دوه ورځنۍ غونډه،

۸. ۲۰۰۹ فبروري، بنګله دېش، ډاکه. د SAFMA (South Asia Free Media Organization) لخوا په جنوبي آسیا کې د ولسواکی او اقتدار څېړنه. د افغانستان، پاکستان، هند، بنګله دېش، مالدیپ، سریلانکا، بوتان او نیپال د خبریالانو او سفما غړو په ګډون،

۹. ۲۰۰۹ مارچ، پاکستان – اسلام آباد. د سفما له خوا د افغانستان، پاکستان تر منځ د اوږدې ملګرتیا د جوړیدو غونډه،

۱۰. ۲۰۱۰ آپریل، بوتان، تیمپو. د سفما شپږمه کلنۍ غونډه. په همدې وخت کې په بوتان کې د سارک SARRK هېوادونو سرمشریزه هم وشوه چې د سفما غړو پکې ګډون وکړ.

۱۱. ۲۰۱۰ فبروري ۲۲ - ۲۳، جرمني، هامبورګ. د آریانا رادیو – تلویزیون دریمه کلنۍ هنري ننداره،

۱۲. ۲۰۱۱ فبروري ۲۲ - ۲۳، هالند، امستردام. د آریانا رادیو – تلویزیون څلورمه کلنۍ هنري ننداره،

۱۳. ۲۰۱۲ فبروري ۲۲ - ۲۳، عربی متحده امارات، دوبۍ. د آریانا رادیو – تلویزیون پنځمه کلنۍ هنري ننداره،

۱۴. ۲۰۱۳ جون ۵ – ۱۲، هندوستان (امرتسر - پنجاب) او پاکستان (لاهور - پنجاب). د فکرونه پرانیزي، پولي پرانیزي تر نامه لاندې سفما اتمه کلنۍ غونډه،

۱۵. ۲۰۱۳ فبروري ۲۳ – ۲۷، عربي متحده امارات، دوبۍ. د آریانا شپږمه کلنۍ هنري ننداره،

۱۶. ۲۰۱۳ فبروري ۲۱ - ۲۳، هندوستان، ډیلي (ګورګاون). د آریانا اوومه کلنۍ هنري ننداره،

۱۷. ۲۰۱۴ فبروري ۲۳ – ۲۱، هندوستان، ډیلي (ګورګاون). د آریانا اتمه کلنۍ هنري ننداره،

۱۸. ۲۰۱۴ جون ۱۸ - ۲۰، هنګري، بوداپست. د افغانستان له پاره د هنګري بنسټ له خوا، د افغانستان راتلونکې په اړه غونډه، په دې غونډه کې ۱۵ کسانو برخه اخستې وه،

۱۹. ۲۰۱۵ فبروري ۲۴ – ۲۰، مالیزیا، کوالالمپور. د آریانا رادیو – تلویزیون نهمه کلنۍ هنري ننداره،

۲۰. ۲۰۱۶ می ۵ – ۴، ترکیه، استانبول. د آریانا رادیو – تلویزیون لسمه کلنۍ هنري ننداره.

آرینزي تر اوسه د نړۍ ۵۰ هېوادونو ته سفرونه کړي؛ خو ګران افغانستان په ټولو افضل ګڼي او له لویه خدایه غواړي چې هر افغان ته دا وس او امکانات ورکړي چې د سولې او ورورولۍ په فضا کې ځان، خپل وطن او عالم بشریت ته خدمتګار واقع شي.

آرینزیي په تېرو دریو لسیزو کې دا جایزې ګټلي دي:

۱. د افغانستان د کارګرانو مرکزی اتحادیه، د ښو ژورنالیستکي فعالیتونو مډال، ۱۳۸۸ هـ - ش (۲۰۰۹م)،

۲. له بېوزلو سره د سمو مرستو یادګاری جایزه، بیات بنسټ، ۱۳۹۰ هـ - ش.

۳. د ښو فرهنګي خدماتو د درناوی ستاینلیک، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۸۲ هـ - ش (۲۰۰۳م)،

۴. د افغانستان د امن ورځې جایزه، مدني ټولنه، ۱۳۸٦ هـ - ش (۲۰۰۷م)،

۵. د لنډو کیسو ستاینلیک او نقدي جایزه، مدني ټولنه، ۱۳۸٦ هـ - ش (۲۰۰۷م)،

٦. د افغان بیسیم د لومړي کارکوونکي مډال، ۱۳۹۳ هـ - ش (۲۰۱۴م)،

۷. د غوره فرهنګي خدماتو په ویاړ، د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا د غازي میرمسجدی خان مډال، ۱۳۹٦ هـ.ش (۲۰۱۷).

په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان د پوهنتونو محصلینو په آرینزی لاندی مونوګرافونونه لیکلي دي:

۱ -- محمد زاهد امینی وردګ، د لیکوال احسان الله آرینزی ژوند او ادبي هڅې، د پوهیالی شفیق الله رحمانی تر پاملرنی لاندې، ننګرهار پوهنتون، د ښوونی او روزنی پوهنځي، د پښتو ادبیاتو څانګه، ۱۳۹۱ هـ - ش.

۲ -- محب الله محبوب، د لیکوال احسان الله آرینزی کار او ژوند، د استاد کمال الدین کمال تر لارښوونې لاندې، پکتیا پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي، پښتو ادب څانګه، ۱۳۹۳ هـ - ش،

۳ -- محب الله د شیر حسن زوی، احسان الله آرینزی ژوند او فرهنګي فعالیتونه، د استاد بریالي باجوړی تر پاملرنی لاندې، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګه، ۱۳۹۴ هـ - ش،

۴ -- مجیب الرحمن شهاب وردک، د احسان الله ارینزی داستانونه او داستانی ژباړی، د استاد بریالی باجوړی تر پاملرنه لاندی، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه،

۵ -- نصرت الله سمسور، د احسان الله ارینزی ژوند او فن، د استاد پوهیالی عبدالواحد ریحان تر نظر لاندی، کندهار پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د پښتو ژبی او ادبیاتو څانګه، ۱۳۹۸ هه ش،

٦ -- حشمت الله احدی، د احسان الله آرینزي په داستانونو کې د پیغامونو څیره، د استاد پوهنیار مصطفی صفا تر پاملرنی لاندی، د غزني پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه، ۱۳۹۸ هـ ش،

۷-- محمد عابد محتاج، د احسان الله ارینزی ژوندلیک، د استاد نعمت الله اسدی تر نظر لاندی، د غزني پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه، ۱۳۹۸ هـ ش،

آرینزي واده کړی او شپږ اولادونه لري. درې زامن او درې لورګانې چې ټولو لوړی زده کړی او په خپلو کارونو بوخت دي.

******

# دافغانستان دپوهنتونونو دانجنيري، زراعت، طبعي علوم، اقتصاد او ژورنالیزم چاپ شوو درسي کتابونو لست (ننګرهار، کابل، کابل پولی تخنیک، هرات، بلخ او خوست) ۲۰۱۵_۲۰۲۱

| شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عالي کلکولس رياضي A 534 I رياضي | حمیدالله یار | ننګرهار | ۲ | د عالی ریاضیاتو عمومی کورس | محب الرحمن جنتی | ننګرهار |
| ۳ | د نفوسو جغرافیه | پروفیسور لطف الله صافی | ننګرهار | ۴ | عالي کلکولسII | نظر محمد | ننګرهار |
| ۵ | فزیکی کیمیا III کیمیاوی کنتیک او کتلسس، کروماتوگرافی او اسپکتروسکوپی | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننګرهار | ٦ | فزیکی کیمیا II الکترولیتی محلولونه او الکترو کیمیا | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننګرهار |
| ۷ | د د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه، دسون تخنیک | داکتر غلام فاروق میر احمدی | ننګرهار | ۸ | د ژویو فزیولوژي | پروفیسور غنچه گل حبیب صافی | ننګرهار |
| ۹ | معیار های جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | ننګرهار | ۱۰ | د متیورولوژی مبادی | پروفیسور عبدالغیاث صافی | ننګرهار |
| ۱۱ | الجبر او د عددونو تیوری لومړی برخه | سطان احمد نیازمن | ننګرهار | ۱۲ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموری | ننګرهار |
| ۱۳ | د اوسپیز کانکرېټي عناصرو د لومړی صنفي کار متودیکي لارښود | پوهندوی دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننګرهار | ۱۴ | د ژوند چاپیریال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننګرهار |
| ۱۵ | عضوی کیمیا، کړیوال ترکیبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکیمی | ننګرهار | ۱٦ | جامداتو میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننګرهار |
| ۱۷ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننګرهار | ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننګرهار |
| ۱۹ | کیمیایي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاپی | ننګرهار | ۲۰ | کیمایي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاپی | ننګرهار |
| ۲۱ | عمومی ریاضیات | کل محمد جنت زی | خوست | ۲۲ | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انگلیسي-پښتو تشریحي قاموس) | پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین | ننګرهار |
| ۲۳ | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننګرهار | ۲۴ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعهٔ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| ۲۵ | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولی محمد فائز | بلخ | ۲٦ | اساسات هندسه ترسیمی مسطح | پوهنوال سید یوسف مانووال | بلخ |
| ۲۷ | تأسیسات و تجهیزات تخنیکی ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | کابل پولی تخنیک | ۲۸ | د رادیویي خپرونو تولید | پوهنوال دوکتور ماستر واحدي | خوست |
| ۲۹ | د خاورې تخریب او د چاپیریال ککړتیا | پوهنیار محمد حنیف هاشمي | خوست | ۳۰ | تیوری و سیاست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سید محمد ټینگار | کابل |
| ۳۱ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علی آقا نحیف | هرات | ۳۲ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیتروسیکلیک برخه | پوهنوال ډاکتر گل حسن ولیزی | کابل |
| ۳۳ | د پروژې تحلیل او مدیریت | پوهاند محمد بشیر دویال | ننګرهار | ۳۴ | د انجنیری میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننګرهار |
| ۳۵ | کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننګرهار | ۳٦ | کلکولس او تحلیلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننګرهار |
| ۳۷ | د کرنیزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طیب | ننګرهار | ۳۸ | کارتو گرافی با اساسات توپوگرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت | ننګرهار |
| ۳۹ | انرژي سمپا کوونکي ودانۍ | اسد الله ملکزی | ننګرهار | ۴۰ | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام امیری | خوست |
| ۴۱ | فزیکی کیمیا گازونه او کیمیاوی ترمودینامیک | پوهاند خیر محمد ماموند | ننګرهار | ۴۲ | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کړوخیل | ننګرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | حیاتی جغرافیه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | ۴۴ | د فاضله اوبو انجنیري | زلمی خالقی | ننگرهار |
| ۴۵ | د ریاضي په هلکه خبرې اترې | سلاطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵٦ | اقتصادي جیولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شریف الله سهاک | ننگرهار |
| ۴۷ | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سیر مهجور | کابل پوهنتون | ۴۸ | گرم شدن کره زمین | محمد نعیم نسین | بلخ |
| ۴۹ | الجبر او د عددونو تیوري دوهمه برخه | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۰ | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سیستم ها) | پوهندوی دیپلوم انجنیر امان الله فقیری | کابل پولیتخنیک |
| ۵۱ | په سیول انجنیري کې د اټوکډ استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | ۵۲ | وترنری عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| ۵۳ | انجنیري جیودوزی (سرو) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | ۵۴ | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| ۵۵ | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | ۵٦ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۵۷ | زولوجی فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | ۵۸ | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۹ | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | ٦۰ | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| ٦۱ | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | ٦۲ | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| ٦۳ | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول (پشتو) | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ٦۴ | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| ٦۵ | آلمانی برای افغانها به دری | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ٦٦ | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| ٦۷ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ٦۸ | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| ٦۹ | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | ۷۰ | د ساختمانونو تحلیل (لومړی برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۷۱ | د ساختمانونو تحلیل (دویمه برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار | ۷۲ | د مهندسانو د پاره ساختماني ستاتیک زده کړه | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ۷۳ | د ساختمان د جوړلو طریقې (لومړی برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار | ۷۴ | د ساختمان د جوړلو طریقې (دوهمه برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۷۵ | سیټونه او هرڅه د هغوی په هکله | لیف بوکوفسکی/ سلطان احمد نیاز من | ننگرهار | ۷٦ | د لوبو لارو د هندسي عناصرو ډیزاین | پوهنیار انجنیر محمد شاکر فاروقي | ننگرهار |
| ۷۷ | د سرخلاصو کانالونو هایدرولیک | پوهنوال میاپاچا میاخیل | ننگرهار | ۷۸ | د جوړښتونو تحلیل (لومړی برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| ۷۹ | د جوړښتونو تحلیل (دوهمه برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست | ۸۰ | د ریاضي منطق | سطان احمد نیازمن | ننگرهار |
| ۸۱ | ۴۵ انجنیري درسي کتابونه | ټول پوهنتونونه | ننگرهار | ۸۲ | د اوبو رسولو انجنیري | پروفیسور انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۸۳ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، لومړی ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ۸۴ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، دوهم ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۸۵ | د تحلیلی هندسه لومړی برخه | سید شیر اقا سیدی | ننگرهار | ۸٦ | د اقتصاد د علم اساسات | شبر خان حساس | ننگرهار |
| ۸۷ | د انجنیری اساسی ریاضی (لومړی برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار | ۸۸ | د انجنیری اساسی ریاضی (دوهمه برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار |
| ۸۹ | عمومي تخنیکي رسم | پوهیالی فضل اکبر | ننگرهار | ۹۰ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار |
| ۹۱ | اقلیم پوهنه | پوهاند عزت الله سایل | ننگرهار | ۹۲ | کید او گرافیک | پوهنوال دیپلوم انجنیر بهاوالدین جلالي | ننگرهار |
| ۹۳ | پیداگوژي | پوهنیار راز محمد فیضي | ننگرهار | ۹۴ | نړیوالې ټولنې | احسان الله آرینزی | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹۵ | د طبیعي علومو انګلیسي-پښتو قاموس | پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی ځدران | ننګرهار | | د جوړښتونو تحلیل (دریم برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| | د اقتصاد د علم اساسات | شېرخان حساس | | | | | |


ټول کتابونه له دې ویبپاڼې څخه ډونلوډولای شی : www.ecampus-afghanistan.org

**مرسته کوونکی**: د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټی، د آلماني او افغانی پوهنتونونو ټولنې، د آلمان د فدرالی جمهوریت جنرال کنسولګري، کانراد ادناور بنسټ، میخایل کلپت، سلواک اید، په جرمنی کې د اناسیس کمپنۍ او افغانیک

**تطبیق کوونکی**: ډاکټر یحیی وردګ د لوړو زده کړو وزارت، څلورمه کارته، کابل افغانستان، مې ۲۰۲۱

دفتر:075601640، ایمیل: textbooks@afghanic.de

## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine.

For this reason, we have published 342 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism and Agriculture from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. Out of the total, 96 medical textbooks funded by German Academic Exchange Service, 210 medical and non-medical textbooks funded by Kinderhilfe-Afghanistan, 7 textbooks funded by German-Afghan University Society, 2 textbooks funded by Consulate General of the Federal Republic of Germany, Mazar-e Sharif, 4 textbooks funded by Afghanistan-Schulen, 2 textbooks funded by SlovakAid, and 8 textbooks funded by Konrad Adenauer Stiftung. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org & www.kitabona.com.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:

*"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit."*

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 210 medical and non-medical textbooks so far.

I am especially grateful to **GIZ** (German Society for International Cooperation) and **CIM** (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me from 2010 to 2016 in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Academic Deputy Minister Abdul Tawab Balakarzai, Financial & Administrative Deputy Minister Noor Ahmad Darwish, Advisor at Ministry of Higher Education Dr. Gul Rahim Safi, Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project.

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally, I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr. Yahya Wardak
Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul, Afghanistan, May, 2021
Mobile: 0706320844, 0780232310
Email: textbooks@afghanic.org

## Message from the Ministry of Higher Education

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and knowledge transfer process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally, I am very grateful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing textbooks of our lecturers and authors.

I am hopeful that this initiative should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,

Abdul Tawab Balakarzai

Academic Deputy Minister of Higher Education

Kabul, 2021

Book Name International Organizations
Author Ehsanullah Aryanzai
Publisher Shaikh Zayed University, Khost, law Faculty
Website www.szu.edu.af
Published 2021, First Edition
Copies 1000
Serial No 341
Download www.ecampus-afghanistan.org
www.kitabona.com

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it.

Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks, please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul
Office 0780232310, 0706320844
Email textbooks@afghanic.org

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2021

ISBN 978-9936-620-78-0